(١١٨٣) کمخ کی تر(١١٨٧)مخ پوری را غلی دی،اوهم شیخ عطا رپخپله تذکره کی دی د اسی ستا یلی دی : „ آن جوان مرد راه ، آن پا کباز درگاه ، آن متصرف طریقت آن متوکل بحقیقت ،آن صاحب فتوت شیخی احمد خضرویهٔ بلخی رحمة الله علیه از معتبران مشایخ خراسان بودو از کاملان طریقت بود واز مشهوران فتوت بودواز سلطانان ولایت واز مقبولان جمله فرقت بود وبود در ریاضت مشهور بود ودر کلمات عالی مذکور بود ،وصاحب تصنیف بودوهزار مرید داشت که هر هزار برآب می رفتند وبرهوا می پرید ند،ودر ابتدا مرید حاتم اصم بود وبا ابو طراب صحبت داشته بود وابوحفص را دیده بود . ابوحفص را پرسیدند که ازین طایفه کرادیدی گفت : «هیچ کس راند یدم بلند همت تر وصادق احوالتر که احمد خضرویه »وهم ابو حفص گفت : «اگر احمدنبودی فتوت ومروت پیدانگشتی» واحمدجامه برسم لشکریان پوشیدی وفاطمه که عیال اوبود اندرطریقت آیتی بود واز دختران امیر بلخ بود ...» د(فاطمه خاتون بلخی) نامه ته دی د (ف) په ردیف کی رجوع وسی)

دمولاناجلال الدین بلخی دمثنوی خوبیته دادی :

بود شیخی دائماً او وامدار	ازجوا نمردی که بود آن نامدار
ده هزاران وام کردی از مهان	خرج کردی بر فقیران جهان
هم بوام او خانقاهی ساخته	خان ومال و خانقه درباخته
احمد خضرویه بودی نام او	خدمت عشاق بودی کام او
وام اورا حق زهرجا میگذارد	گرد حق بهرخلیل ازریك آرد
......	ترپایه پوری)

داوینااوی هم داحمد خضرو یه دی :

١-صبرد مضطر انو توبته ده او رضادعارفانو درجه ده ،

٢-دمعرفت حقیقت دادی چی په زړه کی،مینه ورسره ولری اوپه ژ به ئی یاد کړی

فروشگاه کتاب شاه ...
چارامی
۰۸۸۲

او له غیر څخه علاقه پرې کړي .

۳-خدای ته ډیر نژدې هغه څوک دی چې ښه خوی ولري .

۴- دغفلت تر خوب هیڅ خوب دروندنه دی او تر شهوت هیڅ سالک قوی نه دی -نو که دغفلت خوب دروندنه وی شهوت هیڅکله برینه سی موند لای .

۵-دبندگی بشپړتوب په آزادی کی دی او دبندگی په تحقیق کی آزا دی بشپړیږی.

۶-لاره څرگنده ده او حق روښانه دی او بلو نکی هم او ر ید ونکی ،نو تردی وروسته تحیر بی له ړوندوالی بل څه نه دی .

وایی چې دنزع په حال کی دده پور وړی چی او وه سوه د ینار ه ئی له هغو څخه اخیستی او بې وزلانو او مسافرانو ته ئی ور کړی وو ، پوراخپل وواوخپل پورئی څینی غوښت ده داسی منا جات و کړی :

(الهی ته سا بیایې ،اوزما ځا ن ددې خلگو گرودی ،نو ته چی د دوی گرو اخلې یو څوک وگماره چې ددوی حق ور کړی) .

وایی چی په همدی وخت کی وروټکیده اوږ غ وسو چې د شیخ پور وړی دی دباند ی راسی چې خپل پوروا خلی ،ټول وروو تل او یو چاد دوی ټو لو پورور کی او شیخ خپل روح خدای ته وسپاره .

ماخذونه : ۱-ددهخدا لغتنامه -۱۱۸۳ مخ

۲-صفته الصفوة -۴/۱۳۸ رر

۳-نفحات الانس-۳۷ رر

۱۰۸۴-احمد خطابی بستی : دمحمدزوی اودابراهیم نمسی اودخطابی کروسی مکنی په ابو سلیمان یا ابی سلیمان دعمر ابن الخطاب دورو رزید ابن الخطاب له اولادې څخه لوی عالم اونومیالی محدث و(چی ددې کتاب دلو مړی ټو ک په ۲۷۴ مخ کی د« ابو سلیمان احمد خطابی بستی »ترنامه لاندی ئی د ژوند لنډ ی پیښی راغلی دی) خوهلته ئې دزیږیدونیټه نه ده لیکلی سوې ،او هم یې د عربی

شعرنمونه نه ده راغلی، نو دلته هغه پر زیاتو و چی : دی د (۳۱۹ ه) د رجب په میاشت زیږیدلی او په (۳۸۸ ه) کال د بست په رباط کی د هلمند پرغاړه مړ دی خو یا قوت لیکی چی : «ما دابو سمعانی په خط ولید ه چی هغه بیاله شیخ ابن عمر څخه نقل کړی وایی چی امام ابو سلیمان خطابی د (۳۸۶) کال ددوهمی خو ر (ربیع الاخر) په ۱۶ مړ دی .

وایی چی ډیر و مصنیفونو دده نوم «حمد» لیکلی او ابو سعد سمعانی په خپل کتاب مروکی راوړی چی له ابوسلیمان څخه یی دده د نامه پوښتنه وکړه هغه وویل : «هغه نوم چی پلار اونیکه پرما ایښی دی «حمد» دی خو خلکو «احمد» لیکه او ما هم مخالفت ونه کی »

دده عربی اشعارو څو نمونی دد هخدا دلغتنامی په (۱۲۷۶) مخ کی راغلی چی دوی نمونی ئی دلته راوړو :

ابوسعد الخلیل د محمد الخطیب زوی ویلی دی چی یووخت د ابوسلیمان خطابی سره وم او د هغه ستر گی پر یوه مرغه ولگیدلی چی پر یوه ونه ناست و ، یو گړی ئی د هغه آواز ته غوږ نیولی و ، او بیائې داشعر ووایه :

یالیتنی کنت ذاک الطائر الغردا
من البریة منحازاً و منفردا

فی غصن بان دهته الریح تخفضه
طوراً وتعرفعه افنا نه صعدا

خلوا لهموم سوی حب تلمسه
فی الترب او نغبة یروی بها کبدا

ما آن یورقه فکر لرزق غدا
و لا علیه حساب فی المعاد غدا

طوبا ک من طائرطوبا ک و یحک طب
من کا ن مثلك فی الد نیا فقد سعد ا

داشعر هم دده د ی :

و ماعزبة الا نسا ن فی شقةالنوی
و لکنها وا لله فی عد م ا لشکل

و انی غر یب بین بست وا هلها
وان کان فیها اسر تی و بها اهلی

مآخذ : ددهخدا لغتنامه – ۱۲۷۵مخ .

۱۰۸۵-احمد خطیب پوشنگی : د حسن زوی د هرات دپوشنگ د کراة له فا ضلانو او خوشنو یسانو څخه و، چی په دری او عر بی ژ بوئې شعرهم وا یه.
دی دسیستان داسیر خلف(۳۷۳ ھ)په وختو کی ژو ندی او د هغه اسیر ددربار له علما ؤ څخه و.

مأخذ : تا ریخ سیستان – ۳۴۲ مخ

۱۰۸۶-احمدرضا خان بریخ: علا مه احمد رضاخان دنقلی خان زوی او درضا علی خان نمسی په ختة بریخ پښتون دخپل وخت له خو را لو یو مصنفینو څخه و، چی دده مفصله سوانح په یوه کتاب کی چی داعلیحضرت بریلوی په نامه چاپ سوی دی راغلی ده او استاد عبدالشکو ر رشاد هم په دوو سو و مخو کی په پښتو دده دژوند پیښی لیکلی دی چی دلته دا لنډه یادونه هم داستاد رشادله یاددا ښتو څخه را اخیستلی سوې ده – دی لیکی چی:

علامه احمدرضاخان په ۱۲۷۲ هـ ق کال دروهیلکنډ په بریلی کی زیږ یدلی او د ۱۳۴۰ هق دصفری په ۲۵ په بریلی کی مړاو ښخ دی

دده ذاتی استعداد اونبوغ له د ې څخه ښرگندیږی چی په ۱۶ کلنی کی ئې د ا ستادی بگړې پر سره کړه او له ز ده کړی څخه فارغ سو.

د ه په سو و کتابونه تصنیف کړی دی چی دلته د نمونې دپاره دده د د پر شو کتابو نو سونه داستاد رشاد له یاد ابنتو ښخه راخلو، هیله ده چی داستاد رشاد کتاب ژر چاپ سی او دعلامه احمد رضاخا ن دژوند مفصل حالات اودده دنورو کتا بونو نوسونه هلته ولو لو. دادی دده دځینو کتابونو سونه:

۱- تجلی الیقین بان نبنا سید المرسلین (۱۳۰۵ھ)

۲- اقامة القیامه علی طاعن القیام لنبی تهامه (۱۲۹۹ھ)

۳- سلطنة المطفی فی کل الو رای (۱۲۹۷ھ)

۴- نافی الفی عمو بنوره انار کل شئی سلقب به قمر التمام فی نقل الظل عن الانام (۱۲۹۱ھ)

۵- هدی الحیر ان فی نفی الفی عن شمس الا کوان (۱۲۹۹ھ)

۶- سمع وطاعة لاحادیث شفاعه (۱۳۰۲ھ)

۷- تلا لؤ الا فلا ک لجلال حدیث لولا ک (۱۳۰۵ھ)

۸- القیام المسود بتنقیح المقام المحمود (۱۳۰۴ھ)

۹- جلال جبر ئیل لجعله خادم المحب الحلیل (۱۲۹۸ھ)

۱۰- اسماع الا ربعین فی شفا عة سید المحو بین (۱۳۰۵ھ)

۱۱- الحبث الفاحص عن طریق حدیث الخصایص .

۱۲- منتهی التفصیل المحث التفصیل .

۱۳- مطلع القمرین فی ابانته سبقة العمرین (۱۲۹۷ھ)

۱۴- الز لال الانقی فی بحر سبقته الاتقی (۱۳۰۰ھ

۱۵- وجد المشوق بجلوة اسما الصد یق والفاروق (۱۲۹۷ھ)

۱۶- احیاء القلب المیت بنشر مناقب ا هل البیت .

۱۷- الا هلال بفیض الا ولیا بعد الو صال

۱۸- حیاة الموا ة فی سماع الاسوات (۱۳۰۵)

۱۹- سنیر ا لعین فی حکم تقبیل بلا بهامین (۱۳۰۱ ه)

۲۰- ا لنجو م الثو اقب فی تخریج احادیث الکوا کب .

۲۱- انهار الانوار من یم صلوة الا سرار (۱۳۰۴ ه).

۲۲- عبقرتی ؤ حسان فی اجابته الا ذان (۱۳۰۴ ه) .

۲۳ - مقامع الحدید فی خدا المنطق الجدیه .

۲۴- الرو ض البهیج فی آد ا ب التخر یج

۲۵- الکلا م البهی فی تشبه الصدیق بالنبی (۱۲۹۷ ه)

۲۶- اظلال السحابه فی اجلا ل الصحابه

۲۷- رفع العروش الخاویه فی ادب الامیر معاویه .

۲۸- الا حادیث الراویه لمناقب صحابی المعاویه (۱۳۰۴ ه)

۲۹- البارقه الشارقه علی مارقة المشا رقه .

ماخذ: د استا د رشاد خطی یادا ښتونه

۱۰۸۷- احمدزا بلی: دمحمد زوی چه کنیه ئی «ابوثنا» وه دلسمی هجری پیړی له پو هانوڅخه و ، او په (۹۶۵ ه ق) کال ئی د« اعراب القرآن » کتاب تألیف کړی، اود مړینی کال ئی معلوم نه‌سو .

مأ خذ: ریحانة الا دب - ۲/ ۳۰۱ مخ

۱۰۸۸ احمدزاهد اندرابی: دابی عمر المقری زوی‌معر وف په «احمد زاهد» اوسکنی په«ابی عبدالله اندرابی» د خپل وخت نو میالی شیخ، زا هد او عا بد عالم‌و، په تیره ئی بیا د قرا آ تو په علم کی ښه تصنیفونه درلودل، او مد یثونه ئی له خپل ملگری سید ابوالمعا لی جعفر د حیدر عاوی مر وی له زوی څخه اروېد لی‌وو، او دیحیی له زوی محمد څخه ئی روا یت کا وه ، چی بیا له ده څخه

ابو الحسن حافظ روایت کړی دی. د (۴۷۰ ھ) کال ددوهمی خور (ربیع الا خر) په شلمه مړ دی .

مأ خذ : دد هخه الغتنا سه - ۱۱۲۴ مخ

۱۰۸۹ احمدسراج سبزواری : ملا احمدسراج د سبزوار اغزویو نکی د دری ژبی شاعرو، ښه طبع ئی درلودله او د میرعلیشیر په وختو کی ژوندی و. د «شمع» دالغزدده دی:

آن چیست که در انجمنش جا با شد

خور شید عذار وسر و با لا با شد

جا نش نبود و لی بمیرد هر روز

این طر فه که بنشسته و بر پا با شد

مأ خذ : مجالس النفا أس -۱۶۳ مخ

۱۰۹۰-احمد سر ماری بلخی : د عبدا لله‌زوی او د ابی قا سم‌نمسی د خپل وخت له پوهانو څخه و، او د« تأ سیس النظائر فی الفروع » په نا مه ئی یو کتاب لیکلی دی؛ خو ځینی ددې کتاب نسبت ابی اللیث نصرد محمد سمر قندی زوی‌ته کوی .

مأ خذ : دد هخدالغتنا سه - ۱۲۰۴ مخ

۱۰۹۱- احمد سعید مجددی : د شیخ احمد مجد د الف ثانی زوی او په« خازن الر حمه» ملقب او دحال او قال خاوندو. په طر یقت کی ئی له‌خپل پلار څخه پوره فیض ا خیستی، او په کو چینوالی احمد یه مقا ما تو ته ر سیدلی‌و. په (۱۰۷۰ ھ ق) کال‌په اتیا کلنی کی‌مړدی،او دمړینی نیټه‌ئی له دی‌جملو: «گلشن بیخزان»، «خلوت دل» او«فر خنده لقا» څخه ر اوزی، او د زیږیدنی نیټه ئی د«فیض صبح » او « مست ا لست» له‌جملو څخه ا ستخرا جیږی. قبر ئی د پلارد مزار تر څنگ دی.

مأخذ : اسکتة الفضلا - ۲۷ مخ

۱۰۹۲- احمد سیستانی : د سمن زوی د صفار یا نو د وخت له نومیالیو سالارانو څخه و، چې لو مړی د عمرو بن لیث اوتر هغه وروسته د طاهر بن محمد بن عمرولیث سالار و .

په (۲۸۳ ه) کال چې عمرولیث د رافع بن هرثمه جګړې ته لښکر لیږه احمد بن سمن او علي شروین دلښکر مشران وو، بیا چې رافع ماته وکړه عمرولیث همدا احمد بن سمن د هغه په تعقیب پسې وګماره او دی د خوارزم تربیابانه پورې په رافع پسې ولاړ، څو چې رافع د محمد بن عمر وخوارزمي په لاس ووژل سو. بیا د المقتدر بالله د خلافت په وخت کې هم چې طاهر بن محمد عمر و بن اللیث د سیستان امیر سو احمد بن سمن ئې سالار و ، او بیا چې طاهر په (۲۹۶ ه) کال له لیث بن علي مشهو ر په «شیرلباده» څخه ماته وکړه او لیث بن علي د سیستان د امارت پر مسند کښېنوست احمد بن سمن زمیندا ورته و لاړ، او بیا د لوی لښکر سره د لیث بن علي له خوا غزني ته راغی او د هغه ځای د خلګو سره تر روغې وروسته په (۲۹۷ ه) کال کې بیرته سیستان ته ولاړ، او له هغه ځایه شیراز ته د محمد بن زهیر د سلاتړ د پاره د لیث علي له خوا واستول سو .

په (۲۹۸ ه) کال چې لیث بن علي د سبکری په لاس کښېنیوتی او بندي ئې بغداد ته واستاوه احمد بن سمن سبکری ته ور غی او د هغه سره اوسېد .

مأخذ : تاریخ سیستان له ۲۵۲ څخه تر ۲۸۹ مخ پورې

۱۰۹۳- احمد شاد شمس الدین غزنوی : د محمود سلجوقي د زوی سلطان محمد د وخت له نومیالو او ستر وپوهانو څخه و .

مأخذ : د دهخد الغتنا مه - ۱۴۳۳ مخ

۱۰۹۴- احمد شارکی هروی : د محمد شارکي هروي زوی شافعي عالم او کنیت ئې ابی حامد و .

په (۳۵۵ ه) کال کی مړ دی ، اویو کتاب ئې د«تخریج » په نامه پر«صحیح مسلم» باندی لیکلی دی .

مأخذ: د دهخدا لغتنامه - ۱۳۵۱ مخ

۱۰۹۵-احمدشاه بابا: د لوی افغانستان هغه لوی او نومیالی پاچاو، چی افغان ولس خپل پلار بللی، اود «بابا» ستر لقب یې ورکړی دی، او دا هغه لقب دی چی افغان ولس یې خپلو هغو سترو مشرانو ته ور کوی چی د دې و لس د خلکو په زړو کی یې د پلار گلوی ځای موندلی وی .

احمد شاه بابا په (۱۱۳۵ ه ق=۱۱۰۲ هش=۱۷۲۲ م) کال کی زیږ یدلی، اود (۱۱۶۰ ه ق=۱۱۲۶ ه ش=۱۷۴۷ م) کال د رجب د میاشتی تر اتلسمی نیټې پخوا په کندهار کی د افغانستان په پاچهۍ تاکلی سوی ، اود (۱۱۸۶ ه ق=۱۱۵۱ هش =۱۷۷۲ م) کال د لومړی خور (ربیع الاول) په دوهمه د پنجشنبې په ورځ ځانښت د کندهار د توبې د غره په لمنه کی مړ، اود کندهار دښار په هغه «روضه باغ» کی ښخ دی چی ده په خپله د اسلام د پیغمبر د خرقې ترځنگه جوړ کړی و .

د زیږیدنې ځای: د احمدشاه بابا د زیږیدو د ځای په باب کی دوه روایته دی:

یو د«سراج التواریخ» د مؤلف فیض محمد روایت دی چی د«تاریخ احمدی» په حواله د احمدشاه بابا د زیږیدو ځای «سولتان» گڼی (۱)

---

(۱) تاریخ احمدی د منشی عبدالکریم تألیف دی چی د شاه شجاع معاصرو، او د هغه په حواله د سراج التواریخ د لومړی ټوك په نهم مخ کی داسی لیکلی سوی دی:

«نیاکان احمد خان متوطن و متمکن سلتان بوده، و ولادت وی در آنجا رونموده و از سبب بعضی حوادث در کودکی با پدرش محمد زمان خان در قندهار و از آنجا وارد هرات گردیده مسکن گزیده . . . »

او بل د « احمدشاه بابای افغان » د فاضل مؤلف ښاغلی میرغلام محمدغبار روایت دی چی د احمدشاه بابا د زیږیدنی ځای « هرات » بولی (۱) چی پوهاند عبدالحی حبیبی بیا په خپلو لیکنو کی د واړه روایتو نه را وړی دی (۲)

---

(۱) پوهاند حبیبی د احمدشاه بابا د دیوان په پیل لیکی چی :

« له تاریخی پلټونو ښخه ښکاریږی چی احمدشاه بابا په (۱۱۳۵ هـ) په هرات کی زوکړی » مگرد تاریخ نوای معارك په تعلیقاتو کی بیا لیکی چی: « از بطن زرغونه در ملتان بدنیا آمد - ۹۶۷ مخ » ماچی توضیح ځینی وغوښتله دوی وویل چی: « په ملتان کی یوځای یوځلی ماولید چی د احمدشاه بابا د زیږیدوځای ور باندی لیکلی سوی و » خودائی هم زیاته کړه چی: « په هرات کی هم یو کور د احمدشاه بابا د زیږنتون په نامه شهرت لری »

(۲) خوښاغلی غبار تاریخی د لیلونه هم راوړی او لیکی: « قصه آنکه احمدشاه در ملتان » بدنیا آمده ظاهراً سهویست که از طرف بعضی نو یسند گان هند وستانی نشئت نموده ، و احیا ناً مورد تقلید برخی دیگر بدون آنکه سندی نشان دهد میگوید:

« احمد شاه خطهٔ ملتان سین پیدا هوا »

یعنی احمدشاه در خطهٔ ملتان پیدا شده ، واین دوبیت را نیز در تاریخ جلوس اومیسراید:

فیض محمد هم این افسانه را بنقل از کتاب « تاریخ احمدی » می نو یسد که :

« نیا کان احمد شاه متوطن ملتان بوده ، ولادت وی درآنجا رونموده ... » ولی ما میدانیم که این روایات بی اساس است و تاریخ احمدی مثل « مرآت الا شباه » تالیف محمدحسن (معاصراحمدشاه) خاندان احمدشاه رابا خاندان عبدالله خان و حیات سلطان رئیس سابق ابدالی های قندهار وسها جرد ر ملتان خلط نموده است وچون حیات سلطان بعداز موقوفی خانی ابدالی های قندهار درقرن یازده هجری بملتان سفر کرده وبعد از مدتی پسر او عبدالله خان بسال (۱۱۲۲ هـ) بقندهار عودت ومجدداً بعنوان (خان) ابدالی ها بهرات عزیمت نموده است ، *

دی تول تا ته غوږ ی وی

کم وخت چی انسان اګنی ته اوږ بلوی باید زړه ئې له سرود او نغمې څخه ډک وی

سا او روحا تیو نو ددې دپاره اوربل کړی دی»

مأخذ: پښتني میرمنی -۱۸ مخ

۱۰۱۰ اتائی بلخی (۱): مولانا اتائی د ترکی ژبې شاعر، د اسماعیل اتاله اولادې څخه و. په بلخ کی اوسید. ښه خوش طبع، درویش مشرب او آزاده سړی و. شعرئی دده دوخت په ترکانو کی شهرت درلود. په بلخ کی ښخ دی او دا یی د بو ترکی غزلی مطلع اول صنم کیم سو قراغنداپری دیک والتو زور غایت ناز ک لو کیدین سو پیله یو تسه بلور

مأخذ مجالس النفائس - ۵۰ مخ

۱۰۱۱-اجری بلخی: اجری چی به «دیوانهٔ بلخی» ئې شهرت درلود، د دری ژبی شاعر و. د جهانګر باچا په وخت کی هندوستان ته تللی او هلته ئې آزاد انه ژوند درلود. دا بیت د ده دی:

نتوشت یا که نامه بسویم روان نکرد

قاصد نیافت یا رقم از من دریغ داشت

مأخذ: تذکرهٔ روز روشن - ۲۹ مخ

۱۰۱۲-احداد (روښانی): د شیخ عمرزوی او د پیرروښان نګیالی او نومیالی نمسی و، چی د خپل تره او خسر «جلال الدین» تر مړینې وروسته ئې د هند د مغولی حکومت د متجاوزینو په مقابل کی د آزادی ساتنی بیرغ په لاس کی واخست او په ډېره میړانه یی په تیري کوونکو سره مقابله او مبارزه کوله.

قانی کشمیری لیکی: «... مردی بود عادل و ضابطو بر آئین اجداد رفیع المقدارش

---

(۱) په ځینو نسخو کی «اتالی» راغلی دی.

(مجالس النفائس-م ۲ ۲ مخ)

داحمدشاه بابا کورنی اوټبر: دا حمد شاه بابا مور به ختیه الکوزی او «زرغونه» نومیدله چی ډیره سپېره سخې او سد پرهېزمن وه، او تل به ئې د هیواد په مهمو چارو کی خپل زوی احمد شاه بابا ته ګټوري مشوري ور کولې (د دې نومیالی پېرمنی د ژوند د پېښو تفصیل دی، د دې کتاب د «ز» په ردیف کی د «زرغونه انا» تر نامه و لو ستل شی.)

۲- داحمدشاه بابا پلار «زمان خان» نومېد، نیکه ئې «دولت خان» او ورنیکه ئې «سرمست خان» و، چې هغه بیا د «شیرخان» زوی، د «خضر خان» لمسی او د «سدو خان» کړوسی و، او دا سدو خان د سدوزو د ټبر لوسړی نیکه دی چې د سدوز وطایفه ورته منسوبه ده، او د سدوزو طایفه بیا د پوپلزو پوه پښه ده

---

*عبدالکریم وغیره احمدشاه را نواسه عبدالله خان سدوزی فرض کرده، و چنین نتیجه گرفته اند که احمد شاه درخطهٔ ملتان تولد شده درحالیکه این خاندانها از هم جدا ورقیب یکدیگر و خاندان احمد شاه از بسیار زمانه ها دربین عشیره ابدالی در موضع (شهر صفا) طرف شرقی شهر حالیه قندهار ساکن بوده اند (تاریخ سلطانی -ص ۹۲ و ۹۶) تنها زمان خان پدر احمد شاه چنانچه قبلا تصریح شده چندسالی در کرمان بسر برده است پس مسئلهٔ تولد احمد شاه در ملتان در کمال وضوح باطل است، و بطوریکه در ذیل خواهید خواند مسقط الراس احمدشاه شهر هرات و هم تاریخ تولد او بظن قوی سال (۱۱۳۵ هـ) است...)

ښاغلی غبار تر پورتنی لیکنی وروسته د احمدشاه بابا د سن په باب خپله نظریه څرګنده وی او په پای کی داسی نتیجه اخلی: (پس باید گفت احمدشاه در وقت مرگ خود در حدود پنجاه سال عمر داشته است، و در هر حال چون پدر او را از (۱۱۲۳ — ه ق) به بعد زمان فوت در سال (۱۱۳۵) در مدت دوازده سال در هرات می یابیم، میتوان حکم نمود که احمدشاه خواه پنجاه سال خواه زیادتر عمر کرده در هر صورت مسقط الراس او ولایت هرات و بظن قوی شهر هرات بوده است، و انسائیکلوپیډیا آف اسلام این نظر را تائید میکند و میگوید*

چې په لاندې توګه داود الیو پښتنو د «سړه بن» پښت ته رسیږي :

«سدو د عمرزوی، عمر د معروف زوی، معروف د بهلول زوی، بهلول د کاني زوی، کاني د بامي زوی، بامي د حبیب زوي، حبیب د پوپل زوی، پوپل (د پوپلزو لوسړي نیکه) د زیرک زوی، زیرک د عیسی زوی، عیسی داودل (ابدال) زوی او دل د ترین زوی ترین د شر خبون زوی او شر خبون د سړه بن زوی ئ»

۳ـ د احمد شاه بابا نیکه «دولت خان» د دوولسمې هجري پیړۍ په سر کې د کندهار داود الیو پښتونو میالي مشرو، خو شنګه چې ئې په پښیني خاوره کې د پردو حکومت نه ساته او د صفوي حکومت د عصبي او ارمني حکمران «ګرګین» اسرته ئې غاړه نه ایښووله نو ځکه ارمني ګرګین تر یوه نا څاپه یرغل وروسته دولت خان د کندهار ختیز ی

---

*«این خاندان (خاندان احمدشاه) در سنهٔ ۱۷۲۲ خراسان راگرفته بمشهد پیشقدمی کردند، احمد شاه هم درین زمانه تولد شده»

(احمدشاه بابای افغان ـ له ۵۰ مخ څخه تر ۳۱ مخ پورې)

***

د احمدشاه بابا د دربار منشي محمود الحسیني هم په یوه نظم کې هرات د احمد شاه بابا آبائي ملک ګڼي، چې د احمدشاه بابا له خولې وايي.

برآنم که من هم درین نو بهار | روانه شوم سوئی ایزان دیار
نخستین ز اعدا بگیرم هرات | زنم کوس اقبال برشش جهات
که آن ملک میراث آبائی ماست | تصرف در وغیرما کی رواست

(تاریخ احمدشاهي ـ مسکو چاپ ـ ۱/ ۲۲۷ مخ)

***

ښاغلی علي احمد جلالي هم په خپل کتاب «مطالعهٔ تاریخ افغانستان ازنگاه عسکری» کې د ګنداسنګه د کتاب «احمدشاه دراني» د ۱۵ مخ په حواله لیکي چې احمد شاه بابا په هرات کې زیږیدلی ـ ۲/ ۲۴۷ مخ .

خوا ته د«بیارصفا» په سیمه کی دهغه دزوی نظر محمد خان سره و واژه، کلا او
ښتمن ئې ور تالا کړه.

دې پېښې دهغه ځای پښتانه سخت وپارول په تیره بیاد ارغسان پښتانه ټول
په یوه سلاګرګین ته پورته سول، ګرګین ئې وارخطا کی، مجبور سو د روغې له لاری
ورته راوړاندی سو، اود دولت خان دمشر زوی رستم خان مشر توب ئې ومانه، خو
ددې دپارهچې د پښتنو له پرغله په امان پاته سی ددولت خان کشرزوی زمان خان
(داحمد شاه بابا پلار) ئې دپرغمل په توګه دخان سره پخپل د ربار کی وسا ته،
خوچې بیایې کرمان ته ولېږه اود (۱۱۲۲ هق) کال ترشاوخوا پوری هلته نظربند و،
او هغه وخت چې دمیرو یس نیکه په لاس په کندهار کی دصفوی حکومت کمبله
ټوله سوه اوګرګین ئې وواژه، نوزمان خان هرات ته راغی او هلته د پښتنو په مشرتوب
اوپاچهی ونا کل سو، خوچې په (۱۱۳۵ هـ) کال ئې ددی جهان له ژونده سترګی
پټی کړلی (ددې کتاب د «ز» په ردیف کی د ی د«زمان خان اودالی» نامه ته رجوع
وسی).

۳- داحمد شاه بابا یونوسیالی وروره ذوالفقار خان» نوسید چې تردده مشر،او
هرات کی) په «بی تاجه پاچا مشهور و (۱).

ذوالفقار خان دهرات دملی حکومت مشراو زړه ور جنګیالی پښتون و، دنادر
افشار وړبر ابراهیم خان ته ئې سخته ماته و رکړې وه (چې تفصیل ئې ددی کتا ب
د«ذ» په ردیف) کی د (ذوالفقار خان اودالی تر نامه لاندی لوستلای سی) او د لته
یوازی داحمدشاه بابا ددربار دمنشی محمود الحسینی هغه لنډه یکنه راوړو چې په
هغه ئې دذولفقار خان ستاینه کړی ده، هغه داسی لیکلی دی.

«ذولفقار خا ن فر زند اکبر آنحضرت (مطلب زمان خان داحمد شاه با با
پلاردی) که برادر بزرگتر این پادشاه سهر افسر بود، باشدمدت چندین سال د ر کمال

(۱) احمدشاه بابای افغان-۳۱ مخ.

عظمت واستقلال رایات سلطنت و کامرانی در هرات وفراه افراخته وبارها چپاول برسر مشهد وسبزوار ونشاپور انداخته چنانچه درتاریخ نادری مذکوراست،وابراهیم خان برادر نادر را شکست فاحش داده،و توپخانه ونقاره خانه وتمامی اسباب و اثاثیه اوردی او را متصرف گشته ... (۱).

۵ - داحمدشاه بابا اکا رستم خان نوسید چی داحمد شاه بابا دپلار (زمان خان) ترتبعید وروسته د کندهار ارمني حکمران گرگین پهچل اودروه هغه د کندهار ښارته وروغوښت اوبندي ئې کیء ،څه موده پس ووواژه،او د هغه کورنی اوخپلوان ئې چی د علی آباد په کاریز کی اوسیدل دښوراوک او ښکوا دښتوته فراره کړه ،اوجایدادونه ئې چور اوچپاو سول .

***

ددراني نوم: داحمد شاه باباتېرته «دراني» هم ویلیسوی دی څکه ئې نوده ته «در دران» هم ویل .

په دې کی چی د انوم یالقب څنګه منځ ته را غلی دی مختلف روایتونه سته :داحمدشاه بابا درباري منشي محمود الحسیني ئې د «ملهم غیبي» دالهام په اثربولی (۲)

---

(۱) تاریخ احمد شاهی - ۳۲ مخ

(۲) محمود الحسیني پخپل کتاب تاریخ احمد شاهی کی لیکی: «اصل آنحضرت ازبزرگان طوایف ایل جلیل درانی ازتیرهٔ سدوزی اند که که ریاست وسروری این طایفه همیشه از تیرهٔ مزبور بدستور توره که درمیان سلاطین ترک وآل عثمان وهندوستان وغیره معمول است از ابای عظام واجداد کرام خود میراث دارند وبعد ازآن که آنحضرت بعنایت الهی برتخت فیروز بخت سلطنت وصاحب کلاهی تکیه زدند بالهام ملهم غیبی ذات بابرکات آنحضرت شاه «در دران» وعموم این طایفه که در رکاب نصرت انتساب اشرف مصدر خدمات نمایان گردیده بودند ملقب و مشهور بایل جلیل «درانی» شدند وازقدیم الایام ایل جلیل مزبوردر دارالقرار قندهار وزمینداور وطوبا(توبه) وکوهستانات سمت قراباغ وغزنین الی خطهٔ دلکشای کابل ییلاق مشی وقشلاق مشی می داشتند...»

(تاریخ احمد شاهی-دمسکو چاپ- ۱/ ۳۰ مخ)

چې ښايي د «سرپرسي سايکس» خار جي سورخ داخبره چې احمدشاه ديوه خوب دليدو په نتيجه کې خپل «ابدالي» لقب په «دراني» اړولی (۱) د محمود الحسيني له پورتني روايت څخه راوتلې وي .

بل روايت د محمد حيات خان دی چې پخپل کتاب «حيات افغاني» کې ليکي: «هغه وخت احمد شاه دا افغانستان په پاچهي و تما کل سو، صابر شاه ملنګ د «دوران» لقب ور کي، چې بيا احمدشاه د خپل تبر په لحاظ هغه په «دردران» واړاوه (۲)» خو مرحوم قاضي عطاالله خان پخپل کتاب «د پښتنو تاريخ» کې پورتني روايت داسې راوړی دی: «ځني خلق وايي چې احمد شاه د شوکتو د ميان صاحب مريد و، دباد شاه کېدو نه څه موده پس ميان صاحب په احمد شاه باندې حضور شو، اوورته ئې وو يلې چې ته د خپلې تولي قبيلې نوم د خپلې شاهي درجې مناسب بدل کړه، او خپل ځان له «دردران» (سرغلرو کښې به سرغلره) اوخپلې اوقبيلې له «دراني» نوم کيده، له دی کبله هغه د ابدالي قبيلې نوم «دراني» کېښودو، او ځان له ئې «دردران» لقب اختيار کړو، د غه شان ددرانو قبيله جوړه شوه، او د پښتنو دقوم په تاريخ کښې راووتله (۳)».

قاضي عطاءالله خان دايلفنستين له خولې داهم زياتوي چې: «احمد شاه به يوسفزو، تر کلانو، ګيګيانړو، اتمانخيلو، برمهمند، د هشتنګر محمد زو، خليلو، مهمندو، افريدو، شنو ارو، اورکزو، داود زو، ختکو، بنګښو ته «بردراني» ويل، اوهم دوسره به نه به ئې هغوی سره کوله لکه څرنګه چې به ئې خپلې قبيلې سره کوله. (۴)»

---

(۱) تاريخ مختصر ايران - د سرپرسي سايکس د کتاب ترجمه - داصفهان چاپ - ۷۸ مخ

(۲) حيات افغاني - په اردو ژبه - ۱۲۹ مخ

(۳) د پښتنو تاريخ - ۱ / ۱۰۱ مخ

(۴) رر ۱۰۴/ رر

نوټ: د کندهار داحمد شاهي ښار يوه څيتره دروازه او بازار اوس هم د «بردرانو» په نامه نومړی دی.

فیض محمد بیاد «سراج التواریخ» په لومړی توک کې دا خبره داسې لیکلې ده:

«باستصواب آرای بزرگان طوایف ابدالی خصوصاً حاجی جمال خان بارکزائی که بقوت و مکنت از همه برتری داشت کلاه سروری برسر نهاد و دراین حال صابر شاه نام فقیری گیاه سبزی را بعمامه اش نصب کرده گفت: « این جیغهٔ تست وتو پادشاه دورانی» وازینجا اعلیحضرت احمدشاه اقوامش راکه معروف با بدالی بودند به «درانی» موسوم ساخت ... (۱) »

احمدشاه بابا پخپل مهر کې هم چې د طلوس شکل ئې درلود، او صراحی غوندې ښکارېده داعبارت کیندلې و: «الحکم لله یافتاح — احمد شاه دردرانی» (۲)

تر پاچهي دمخه: لکه دمخه چې مو ولیکل احمدشاه بابا په (۱۱۳۵ هق) کال وزیږېد، او په همغه کال دده پلار زمان خان چې دهرات دحکومت واگې ئې په لاس کې وې مړ سو، ځکه چې دزمان خان تر مړینې وروسته دهرات دخلکو اولسی جرگې له خوا دهرات حکومت داو دالی عبدالله خان زوی محمد خان ته وسپارل سو، نو داحمد شاه بابا مور دخپل زوی سره له هراته دفراه ولایت ته ولاړله، اوهم داحمد شاه بابا مشر ورور ذوالفقار خان دبورا وک سیمې ته وکوچید (۱) بیا چې (۱۱۳۶ ه ق) کال ذوالفقار خان بېرته دهرات په حکمرانۍ وټاکل سو، اوله بورا وکه دفراه له لارې هرات ته ستون سو، معلومه نه ده چې احمد شاه بابا ئې هم ورسره بېولی و، که نه؟ او هم دوه کاله وروسته په (۱۱۳۸ ه ق) کال چې دهرات داولسی جرگې له خوا د«باخرز» حکومت ذوالفقارخان ته وسپارل سو، بیا هم داحمد شاه بابا دژوند دپېښو څرک نسته، یوازې ښاغلی غبار داسې اټکل کړی دی چې په (۱۱۳۸ هق) کال چې الله یارخان داو دالی محمد خان

---

(۱) سراج التواریخ — ۱/ ۱۰مخ

(۲) 〃 〃/ ۱۱

(۳) احمد شاه بابای افغان — ۶۷، ۶۸ مخونه

ورور دفراه حکمران وتاکل سو، ښتگه چې داحمد شاه بابا د کورنی سره ئې تربور ګلوی او رقابت درلود نو په دې کال به د احمد شاه بابا سور دخپل زوی سره ګرو مرو له فراه څخه وتلی وي (۱)

عمد اشان له (۱۱۳۹ هق) کاله تر (۱۱۴۱ هق) کال پورې چې د هرات پر خپلو اکی مینو خلکو دالله یار خان په مشری د نادرشاه سره جګړې کولې او ذوالفقار خان هم له فراه څخه دالله یار خان مرستې ته ورغلی و، بیاهم داحمدشاه بابا نوم نه دی اخیستلی سوی، ځکه چې په هغو کلو کې دی پنځه شپږ کلن هلک و، پوازې د (۱۱۴۲ هق) کال له پېښو څخه ځرګند یږي چې احمد شاه بابا دخپل مشرورور ذوالفقار خان سره په هرات کې اوسېد، او دا هغه کال و، چې ذوالفقار خان د نادرشاه سره روغه ونه منله او بیا ئې له فراه څخه پرهرات یرغل وکی، دهرات خلکو دنادرشاه په غیاب کې دحکومت دمشر په حیثومانه، او الله یار خان ئې دمرو چاق حکومت ته واېږه.

د (۱۱۴۳ هق) کال په پای کې نادرشاه ددېرشو زرو جګړه نو سره پرهرات یرغل وکی او ذوالفقار خان پنځه میاشتې د هغه سره و جګنېد د خپل قوم بې اتفاقی و نیږد لــه نــو د دی د پــاره چــې د ده مشرتوب لانور هم د نفاق او رتازه نه کړي او د بې اتفاقی له شامته داو دالیود ولت ګله وونه سی له مشرتوبه ئې استعفا وکــړه، د خــپل وروراحمد خــان او خپلــی کو رنی سره له هــراتــه د فــراه خــواتــه و لاړ او پــه هرات کی الله یار خان دقوم مشر وټاکل سو. خوذوالفقار خان په فراه کی هم آرام نه کښېنوست اوله همهغه ځایه ئې دنادر د لښکر په مقابل کی ښتنو مدافعینو ته ملاتړ رساوه، څوچې له هراته ئې دالله یار خان دماتې او دنادر دبری خبر واورېده او په (۱۱۴۴ هـ ق) کال دخپل وروراحمدخان سره له فراه څخه کندهار ته راغی، داوخت

(۱) احمد شاه بابای افغان - ۶۸ ، ۶۷ مخونه

په کندهار کې دمیرویس نیکه‌زوی شاه حسین هوتک پاچا و، او هغه د پښتو نیو په سرغو رقابتو په‌سبب اویاداچې د ذوالفقار خان په‌مشری ئې داو دالهانو له‌خوا لحانته خطر حس کاوه، ذوالفقار خان او ورور ئې احمد خان دواړه بندیان کړه. سپږکا له بندیان وو، څوچې د(۱۱۵۰ ه ق) کال په پای کې نادر افشار کندهار و نیو، ذوالفقار خان او احمد خان ئې دنورو بندیانو په‌ډله کې ایله کړه او څنګه‌چې نادر افشار پر هندوستان د یرغل په‌نیت راوتلی و، او له‌بلې خوا د پښتنو زړور توب او مړانه ورڅرګند سوی‌وو، نو ددې دپاره چې د هندوستان په یرغل کې د پښتنو له‌ملاتړ څخه کار واخلي د پښتنو سره ئې نرمه رویه راواخسته. عبدالغني خان الکوزی ته یې چې په هرات کې ئې داو دالیو پښتنو مشرتیا کلې و، د کندهار دبیګلر بیګی منصب ور کې، او نورمحمد خان علیزی‌ملقب په «میر افغان» ئې د ټول پښتني لښکر چې دوولس زره او دالی او څلور زره غلجي‌وو، لوی قوماندان او سر لښکر وټاکه، او د احمد شاه بابا د دربار دمنشي په‌قول شپږ او وه زره پښتانه ځلمیان په‌ټل د نادرشاه په اردو کې‌وو ـ دي داسې لیکي:

«. . . همیشه‌شش‌هفت هزار کس از جوانان کارآمد اہل جلیل را در اردوی خود ملازم و در رتبه و قدر منزلت زیاده برقزلباش‌وافشار خود مراعات ایشان می نمود، واہل‌جلیل مزبور نیز بمقتضای صافدلی وصدق نیت‌خود در جمیع معارک ممالک روم وهندوستان وترکستان چنانچه‌در تاریخ نادری‌مذکور است کوششهای مردانه وسعیهای دلیرانه کرده وممالک‌بسیار را مفتوح ساخته وقشونهای‌بیشمار را بعنایت آلهی منهزم و سلک جمعیت آنها را از هم انداخته‌مصدر آبروی‌اردوی‌اومی بودند . . . (۱)»

له‌دې‌لیکنې څخه‌څرګندیږي چې‌نادرشاه تر قزلباشو او افشارو په‌پښتنو زیات‌باور درلود، ځینې مورخان ددې باور سبب داګڼي چه‌نادرشاه په‌اصل کې دخراسان و،

---

(۱) تاریخ احمد شاهي - ۱ / ۳۵، ۳٦ مخونه

اودسیمتانی افغان ملک محمود خان سره لوی سوی اوپه مذهب داسی تینګکستی و، چی دفارس سلطنت ئې په دې شرط وسانه چی دتشیع پرځای به حنفی مذهب منل کیږی.

ابن محمد امین لیکی چی : دفارسی منصبدارانو له خوا دنادرشاه دو ژ لو یو سبب هم د ا دنادر په دربار کی دفارسیانو رقابت د پښتنو سره و ، نادرشاه خیال در لود چی هغه فارسی سرداران چی دده دنظریې سره مخالفان وو، له منځه وباسی او په دې باب کی ئې د پښتنو سره مشورې کولې، اوچی دافشارو سشران او فارسی سرداران په دې خبرسول نودنادرشاه وژلو ته ئې ملا وتړله «(مجمل التواریخ - ۱۳ ، ۰ ۱ مخونه

احمدشاه بابا او نادرشاه : دنورو پښتنوسالارانوپه ډله کی نادرشاه ذوالفقار خان او احمدخان ته هم په درنه سترګه وکتل اودمازندران حکومت اوسالیات ئې وروسپارل ـخودلته دوه روایته دی :

یو دا چی نادرشاه هغه وخت احمدخان دخپل یساول (نوکریوال ضابط) په حیث دځان سره وساته چی حتی وایی دهند په سفر کی هم ورسره ملګری و(۱) ددی روایت سره داحمدشاه بابا د دربار دمنشی محمود الحسینی لیکنه هم لږاوډېرسرخوری چی دنادرشاه په باب کی لیکی :«بعدازتصرف دارالسلطنة هرات و قندهار را بل جلیل درانی را ازمحال هرات بالکاء نیشاپوروطایفهٔ غلجائې رابمحال ورامین وخار وطهران کوچانیده خانه کوچ بزرگان را برسم گرو ویورقه مال بارض اقدس آورده سکنا وآنحضرت را (مقصد احمدشاه شاه بابا دی) که هنوز دران اوقات درسن ده دوا زده سالگی بود نداز راه احتیاط با برادر واعمام کرام اکرث وان در اردوی خود میداشت(۲)»

بل روایت دادی چی احمدخان دخپل ورور ذوالفقار سره د(۱۱۵۱ ه) کال په سر کی مازندران ته ولاړ، او په(۱۱۵۳ ه) کال چی نادرشاه دهند تر فتح وروسته خراسان

---

(۱) مطالعهٔ تاریخ افغانستان ازنګاه عسکری ـ دتورن ارکانحرب غلام جیلانی تألیف - ۲ / ۲۴۸ مخ .

(۲) تاریخ احمد شاهی - ۱ / ۳۵ مخ

ته راوګرځيد د هیواد د نورو مشرانو په ډله کې احمدخان هم له سازندرانه د نادرشاه «په راغلې» ته راغي(۱) اوځنګه چې نادرشاه د هند اوبخارا او خوارزم په جګړو کې د پښتنو مړانه لیدلې وه، نود دې دپاره چې پښتنو ته خپله خاصه توجه وښيي احمدخان ئې په خپلو منصبدارانو کې واخيست اوترلږي مودې وروسته چې د احمدخان لياقت، قابليت کفايت اوجرئت ورڅرګند سو، نوپرهغه ئې لازيات باور راغئ او ورځ په ورځ ور باندې ګرانېدئ اوتل به د نادرشاه په حضور کې و، اونادرشاه به په زياتر و مجلسو کې خپلو اميرا نو او نديمانو ته ويل :

« - د ر ا یر ا ن و تو ر ان و هند وستان مردی چون احمد خان حمیده خصال و پسنديده افعال نديدم(۲) » حتى وا يې چې نا د ر شاه يوه شپه له خوبه را پا څېد ، احمد خان ئې خپل حضور ته وبا له او هغه ته ئې وو يل :

«بعدازمرګ من رتبه سروری بتو خواهد رسيد لازم که ازمن فرا موش نکر ده باولاد من احسا نات نمای (۳) »

په دې توګه احمدخان د نادرشاه د په نظراو زيات باور په اثرد پسا ولګری څخه د اودالیو د بوې تولی فوماندانی ته ورسېد، خوبيا هم ځنګه چې د نادر شاه د افغاني لښکرستر قوماندان

---

(۱) لوی احمد شاه بابای افغا ن – ۷۸ ، ۷۹ مخو نه .

(۲) سراج التواریخ – ۱ / ۹ مخ .

(۳) تا ریخ سلطا نی – ۱۲۱ مخ .

ثابت (۱)».

هغه وخت چې احدا د د آزادي ساتنې دگرته راووت د اکبر باچا د د وروی پاې او د جهانگیر باچا د دورې سرو احداد د پرپښتانه پرڅان را غونډ کړه او په (۱۰۳۰ ه) کال ئې ځان کابل ته ورساوه اودته په ښارکې ئې دستجاوزینو سره سختې جگړې وکړې اوپه هغوجگړو کې دده یو غښتلی تنکیالی سلگری چې «بارکې» نومید ووژل سو. جهانگیر باچاخپل بونوسیالی سالار «قلیچ خان» داحداد سره د مقابلې دپاره وټاکه او پخپله جهانگیر دهغې جگړې شرح چې دلوگر په «څرخ» کې ئې داحداد سره کړې وه پخپل قلم داسې لیکې: «... احداد افغان که از دیرباز در کوهستان کابل در مقام سرکشی وفتنه انگیزیست وبسیاری ازافغانان آن سرحد بروجمع شده اند و از زمان والد بزرگوارم (اکبر) تاحال که سال دهم جلوس من است، افواج همیشه برسراو تعیین بوده اند ... (۱)»

په یوه جگړه کې چې دجهانگیر دلښکرواواحداد ترمنځ وسوه قریباً دری زرو پښتنو د احداد ترسشری لاندی د خپلې خاورې او خپلې آزادي دساتلو په لاره کې ځانونه قربان کړه، اوپخپله احداد کندهار ته ولاړ.

په (۱۰۳۲ ه) کال بیا احداد دهند گورګانې حکومت دتیری په مقابل کې پاڅېد اود سهادت خان دزوی امان الله سره ئې چې د هند دگورکانې حکومت دلښکر سالارو، سخته جگړه وکړه ـ خوسو په ئې په برخه نه سوه له هغه ځایه تیراته ولاړ، اوپه (۱۰۳۵ ه) کال ئې بیا پښتانه تورزن راغونډ کړه او پرمتجاوزینو ئې یرغل وکې، خوداپلاجهانگیر باچاخورالوی لښکرد کابل دحاکم دخواجه ابوالحسن دزوی ظفرخان په مشرې داحداد مقابلې ته ولېږل هغه وه چې تر ډېرې سختې جگړې وروسته دپښتنو دا تنکیالی مشر (احداد) د «نواغر» یا «اواغر» په سیمه کې دستجاوزو لښکرو له خوا

---

(۱) دبستان مذاهب ۲۵۲ مخ

(۲) تزک جهانگیر ـ لومړی توک ۹۷ـ۱۰۳ مخونه

نورمحمد خان علیزی و(۱) تو احمد خان د نادرشاه په لښکر کې دیو منصبدار په حیث پېژندل کېده، څو چې په لړه موده کې ئې دښه خوی او ښو کارو او پېر زړورتیا په سبب د ټولو افغانی لښکرو په تېره بیا د ابدالیو پښتنو سپاهیانو پښېړ باور پر ځان پیدا کې. البته په دې باور پیدا کولو کې ددهٔ د تېر شهرت او د پلار او ورورنوم هم اغېزه درلوده .

پر هغه سربېره احمد خان د نادرشاه سره د داغستان او ایروان په جګړو کې هم زیاته مېړانه وښووله(۲) ځکه نو د نادرشاه په دربار کې د ده اعتبار لا زیات سو، او په نادری لښکر کې تر نورمحمد خان علی زی را وروسته لومړی سړی ګڼل کېده .

هغه و، چې احمد خان له (۱۱۵۴ ه ق) کال څخه تر(۱۱۶۰ ه ق) کال پورې شپږ کاله په سفر او حضر کې د نادرشاه سره و، او په هغو شپږو کالو کې ئې د دولت په سلکی او لښکری چارو کې دېری ګټوری تجربې وموندلې چې ددهٔ د وروستیو بریالیتوبونو بنسټ باید و ګڼل سی .

د نادرشاه وژل کېدل: څنګه چې نادرشاه د خپل ژوند په پای کې سخت سودا یی سوی او له طبیعی حالته وتلی و، نو پر ټولو قزلباشا نو او افشارو بې اعتماده و، په تېره بیا د خپل زوی رضاقلی میرزا تر ړندولو وروسته ئې په زیات ظلم او ستم او د خپلو حاکما نو په

---

(۱) نورمحمد خان ملقب په «میر افغان» په خټه «علی زی» و، چې تراوسه هم ددهٔ اولاده په زمینداور کې سته او ددهٔ قبر هم د کندهار د ارغنداو پر غاړه دسنځری د علیزو په کلی کې دی. داچې ځینو اوسنیو لیکوالو «غلزای» لیکلی دی اشتباه ده، ځکه چې د احمد شاه بابا د دربار منشی محمود الحسینی چې په هغه وخت کې حاضر او ناظر و، په خپل کتاب «تاریخ احمد شاهی» کې نورمحمد خان «علی زی» لیکلی او هم لکه پورته چې وویل سوه د زمینداور په علیزو کې تراوسه «د میر افغان اولاده» سته (د دې کتاب د «ن» په ردیف کې دی نورمحمد خان «میر افغان» و کتل سی)

(۲) خورشید جهان– ۱۶۸ مخ

وژلولاس پوری کی، چی دده دی پر ظلم او وینو تو یولو په سبب د ده د دربار دیر معتمد درباریان هم تحیٰ نیز ارواو پرده بدګمانه سول.

د احمدشاه بابا دربارمنشی محمود الحسینی چی د هغه وخت حال ئی په ستر ګو لیدلی و، د نادرشاه د ژوند د پای حالت داسی لیکلی:

„... اختلال زیادی در دماغش راه یافته روز بروز ساده بود و اما لیخولیا شدت می نمود و قوت واهمه او بحدی رسیده بود که اعتماد او از همه کس سلب شده بهر ولایت که عمال تعیین می نمود بعضی را شش ماه و انتهاتا یکسال زیاده در محال فرصت نداده بجهت تفریغ محاسبه با ردوی خود طلب و بضرب چوب و بریدن ګوش و بینی و کندن چشم مبلغهای خطیر که حصر آن از اندازه قیاس و شمار بیرون است اخذ و عمل برا ولازم آورده جمعی تحویلدار و جمعی صراف و جمع کشیری قشون بجهت محصلی وجه با آن ولایت فرستاده آن عامل نیز از خوف جان خود باسم هر کس که معرفتی داشت نوشته یا بمهر مصحوب محصل می سپرد که رفته وجه را بوصول رسانیده انفاذ خزانه کلات نمایند تا کار بجا ئی رسید که مردم از دست جبروستم بجان آمده بهر وسیله و تقریبی که ممکن بود از اردوی او فرار و هیچ آفریده از امرا وارکان دولت و نزدیکان او را جرات نبود که حقیقت اختلال ممالك و احوال مردم را حالی او نمایند .

بحدی سودا در سرش خوش کرد که فرزند ارشد اکبرش رضاقلی میرزا که نایب السلطنه ایران و چشم چراغ دولتش بود بتوهم اینکه دو سال قبل از بن در بیشه ما زندران تفنګ اندازی که تیری بقصد او انداخته بود شاید بتحریك او باشد از طهران بحضور طلبیده و از نور دیده عاطل ساخت و طهماسپ قلیخان جلایر را که از روز اول شریك الدوله و امین السطنه و دولت خواه بلااشتباه بود و زیاده برابراهیم خان برادرش در باره او اعتماد داشت و دران اوقات حون علیقلیخان برادر زاده اش را بسرداری سیستا ن مامور ساخته بود برسم اتالیقی د ر معسکر او رفیق و صاحب اختیا ر امور بود از قوت واهمه رو ګردان شده علیقلیخان را نیز تزلزل در اساس آرام و قرارش راه یافته هر دو بنای مخالفت ګذاشتند ، و در

هنگام مراجعت از عراق از راه کرمان سودایش بحر تبه بالا گرفت که عمال و کدخدایان هر ولایت را که باردو برای تفریغ حساب می طلبید دیگر رخصت انصراف نداده در همان اردو کله منار ساخته قشونها بمحصلی باجمعی کشیر صراف و تحویلدار و قطارهای شتر و قاطر برای حمل و نقل خزانه آن ولایت میفرستاد من الجمله اکو اد خبوشان سراز خدمت باززده علی قلی خان نیز به هرات آمده لوای مخالفت افراشت ... (۱)»

سربیره پردې نادرشاه غوښته خپل ټول مخالفان بیخي له منځه یوسي، او په دې باب کې نې د خپلو نږدې او باوري کسانو او د پښتنو مشرانو سره چې د دې ښې لاس گېډل کېدل خصوصي مشورې او ... کولې، او دې خصوصي مشورو او جرگو د دې مخالفان لاوپارول او د ځانو د وژلو له یرې نې د نادرشاه وژلو ته ملاوې وتړلې۔ څوچې د (۱۱۶۰ هـ ق) کال د څلرمې خور (جمادی الاخری) په یوولسمه د یکشنبې په شپه نې د مشهد له خبوشان څخه نیم فرسخ یا دوه فرسنگه لیرې «فتح آباد» کې نادرشاه وواژه.

مرحوم فیض محمد د سراج التواریخ لیکونکی او غلام محمد غبار د نادرشاه قاتلان محمدخان قاجار ایروانی او موسی بیگ ایرلوی افشار اورمی، د صالح خان قرقلوی ابیوردی او محمدقلی خان افشار اورمی کشیکچی باشی او نورو دایمي کشکچیانو او ساتونکو په سلاگنې چې شمېرنې اویاتنو منصبدارانو ته رسیده (۱) خو د احمدشاه بابا د دربار منشي محمود الحسیني د دې پېښې تفصیل داسې لیکي:

«بعد از ورود به نیم فرسخی خبوشان وقت عصر که قشونها جابجا قرار گرفته نصب خیام اقامت نمودند جارچیان قدغن اورا بگوش تمام اهل اردو رسانیدند که فردا تا پادشاه سوار نشود و تیپ آرائی نکند، بنهٔ قشون باید که از جاو مکان خود حرکت ننماید از ینمعنی جماعتی که از جبر و ستم نادرشاه و اخذ سترداو بتنگ آمده

(۱) تاریخ احمد شاهی - ۳۶، ۳۷، ۳۸، ۳۹ مخونه

(۲) سراج التواریخ - ۱/۱۰ مخ، احمدشاه بابای افغان - ۸۳ مخ

شب و روز در کمین فرصت بودند که اورا بطرف نمایند خوشوقت ومسرورشدند که شاید امشب فرصت یافته کار اورا بسازیم ازآنجمله محمدقلی خان افشاراروسی که بمنصب کشیکچی باشیگری دردولتخانه سرافراز ودرین تمهیدباجمعی دیگرهمداستان و دمساز بود، چون خسرو زرین قبای سهر از تخت‌عاج سپهر بزیر آمده قامت روزگار بقبای مخمل مشکی شب آرایش یافت محمد قلی خان سیزده نفر دیگر ازمعتمدان‌را با خود رفیق ساخته مکمل و مسلح داخل سراپردهٔاو گردیدندویك نفر ازتوابین خود را بمیان کشیکچیان فرستاده اعلام نمود که دستهای کشیك جابجا شلنك نمایند بعد از انکه قدم بسراپردهٔ گذاشتند، خواجه سرای سیاه مهیبی که باعتماد خان موسوم بود سرسیمه از خواب جسته بمحمدقلیخان‌زبان فحش واعتراض کشود که: «توکیستی و تراچه نسبت و جرأت است که درینوقت شب پای جسارت بسرا پردهٔ شاهنشاهی گذاری مگر از حیات درآزاری و از جان خود بیزار »

محمدقلیخان ازسخن درخنده شد نوك شمشیر راحوالهٔاو کرده شانه‌اش شگافته خواجه سرا از اثر آن زخم افتاده مدهوش گردید، درین‌وقت پادشاه سراسیمه ... از خیمه بیرون آمده‌ر و بمحمدقلی‌خان آورده از روی هیبت بانگ‌بروی زد که: «ای‌نمك حرام ! توچه میخواهی ؟»

محمدقلی خان گفت : «من ملك‌الموتم وبقبض روح توآمده، زبان‌ازگفتن بر بند وگردن بتیغ تسلیم بند که روزعمرت سرآمد» وباوصف اینکه نادرشاه کلاه‌سموری در سر داشت که پنج شش لای‌ازسقرلاط دوخته بودندوهیچ شمشیرالماس دمی‌بران کار نمی‌کرد، اما بمضمون چون قضای آلهی‌جاري شود هیچ سری‌حمایت از تیغ‌بلا نمی‌تواند کرد ...

محمدقلیخان‌این بگفت و شمشیربفرقش‌نواخت که کلاه‌سزبور شگافته‌یکوجب درمغزش نشت و بمحض همین بیکضربت‌چون دیو بر زمین افتاد، امازخمش‌چندان کاری نبود محمدقلی‌خان برروی سینه‌اش‌نشست باتمام کارش پرداخت وگنبدسرش

را از قلعهٔ بدن جداساخته از سرپرده بیرون آمدو رفیق محمدقلی خان‌صالح بیگ مین باشی سرکشك خاله‌زادهٔ نادرشاه بود واز پنممنی‌چهاردهنفر مطلع بودند و کسی‌دیگر خبر نداشت تاصبح روشن شد وا‌ینخبر در میان قشونهای اردوی‌او انتشاریافت(۱)»

خودمخه تر هغه چې دنادرشاه ټولی لښکری د ناد رشاه په وژلو خبری سی د نادرشاه د حرم پو خادم «احمدخان» ته‌راغی اوپه نیمه شپه ئې هغه له هغی پیښی څخه خبر کی ،احمدخان دستی سلاوتړ له او د درو زرو اودالیو او زبکو سپرو سره ئې تر سهاره دنادرشاه د حرم ساتنه پرغاړه واخیستله.،اوسهارچې دافشارو اوقزلباشو لښکرو چې شپیته تو‌ېونو او اووه‌سوه زنبورکه هم‌ورسره وو، په‌چوراوچپا و لاس پوری کی، احمد خان دافغانی‌لښکروپه‌سلاتړ د هغوسخته‌مقابله وکړه،دیرئې ووژل، اوزیات ئې بندیان کړه او ټوله توپخانه ئې په لاس کښېوتله ،اودنادرشاه حرم ئې په دیره سړانه له چوراو چپاو څخه وژغوره، اودنادرشاه هغه هیله‌ئې پر ځای کړه چی‌له ده څخه ئې یوه شپه کړی‌وه‌چې: «زماتر مړینې وروسته به وا کمنی‌تاته ورسیږی‌نولازمه ده چې ساهیرنه کړې‌اوزما او لا د سره احسان وکړه !»

او هم دهغې سړانې په جایزه کی دنادرشاه میرمنی د «کوه‌نور» دالماس‌ټوټه‌د بوې دانې بې ساری«فخراج » سره احمد خان ته وبخښله (۱)

(۱) تاریخ احمدشاهی — ۳۹ مخ تر ۴۳ مخ پورې

(۱) کوه‌نور - د دنیا له پنځلسو مشهورو الماسو څخه‌ګڼلی سوی‌دی. داالماس په (۹۰۷ هـ) کال د هند افغان پا چا علاءالدین خلجی‌چی د «مالوه» سیمه ونیوله د هغه ځای په خزانو کی لاس ته ورغی او تر لسمې هجری پېړی پورې د هند د افغـانـي پـا چهـانـو سره و ، بیـا چـې بـا بر پـر هنـد مسلـط سـو

احمد خان چې د خپل هیواد دافغانستان دسمون په فکر کې و، په پارس کې ئې نور څند او ا وسیه‌ل لازم نه بلل دافغانی لښکرو سره دافغانستان پر لور را رهي سو، او په‌لوسړی پړاو «سلطان میدان» کې ئې دقزلباشوا وا فشار و بندیان دزنبور کوداوښانوسره ابله کړه‌چې خپلو کورته‌ولاړ سی، او پخپله دخراسان «ترشیز» ته راوسید، څنګه چې دته شیز کوټ ددووجګو غرو په‌منځ کې پروت و، او په هغه کوټ کې څینې او باش اواشرار خلګ اوسېدل چې تل به ئې د هغې سیمې څخه تیرید و نکو لارو یو ته لاره نیوله او شکول به ئې، نوله هغه کوټه ئې پرافغانی لښکرهم په‌دی‌نیت دتوپکو تکان شروع کړه چې‌ګوندی‌څه ولجه‌په‌لاس ورسي -خوافغانی لښکر هغه کوټ کلابند کی‌اود کوټ دننه خلګ مجبور سوه چې

---

*دا الماس‌ئې دلودی‌پښتنوپاچهانو په خزانه کې‌وموند، بابرخپل زوی‌همایون ته وبا خښه، څوپر هند باندی دنادرشاه دیرغل په‌وخت‌کې نادرشاه‌ته په‌لاس ورغی اوبیا دنادرشاه تر وژلووروسته دنادرشاه میرمنې احمدشاه بابا ته‌وبا خښه، خو احمدشاه بابا چندانې مینه ورسره نه درلودله‌هغه ئې د ولتي خزائنې ته‌وسپاره، مګر تر احمد‌شاه باباوروسته د هغه زوی تیمورشاه‌هغه‌له دولتي‌خزانې راویوست‌اوتر خپل مې‌سوټ‌ئې وتاړه. هغه‌وخت‌چې اعلیحضرت‌زمانشاه دکوه‌نورالماس‌خپل جانشین ته‌بسپاره دهغه‌وزن ۸/۳،۹۳ ۷ قیراطه‌و، بیاشاه‌شجاع دیوارویاڼئې‌سرې په‌واسطه هغه‌وتراشه‌اوچې

دافغانستان دپاچهی له‌تخته ولویده پنجاب ته ولاړ هم دا الماس ورسره و، چې بیا دپنجاب حکمران رنجیت سنګه‌د(۱۲۲۸ ه)کال دجمادی‌الثانی په او له په‌دیره ناوړه توګه له‌شاه شجاع څخه واخیست خودهغه کورنی ته‌هم پاته‌نه‌سو، دهند ګورنر لارد دالهوزی څینې واخیست او په (۱۲۶۳ ه) کال ئې په‌لندن کې ملکه ویکتوریاته ورواندې‌سوه‌چې په‌لندن کې تردوهم تراش و روسته ئې‌وزن ۱۰۶/۱۶ قیراطوته‌ورسید، او اوس هم دانګلستان دسلطنتي کورنی په‌خزانه کی‌پروت‌دی

(احمدشاه‌بابا ی‌افغان-۸۴مخ)

افغاني لښکرته ننوتي راولېږي اوعفو وغواړي، احمدخان هم د هغو عذر ومانه ونې
بخښل، اوتر هو ی شپې تېرېدو وروسته بیادخپل هیواد خواته راو خوځېدل او په لار
کې ئې درې نوری تېنګې کلاوې خانته ایلې کړلې ، څوچې د (تربت حیدریه) په لوته
را ورسېدل اوهلته ئې واورول چې دخپل لښکر انتظام سم کړي، په دی وخت
کې ناڅاپه د هرات له لورې یولښکر چې لس دوولس زره جګړن وو، را ښکاره سول
چې د نادرشاه وراره علي قلي خان سپهسالار له هراته د افغاني لښکر د سخ نیوی په غرض
رالېږلی وو، خوځنګه چې ئې د افغاني لښکر برم واید د تېرې جرئت ئې و نه کړای سو،
او افغاني لښکر له تربته د تون خواته وخوځېد، او په لاری کې ئې واورېدل چې د هغه
ځای په شاوخوا کلاو کې ز یات اشرار سته چې ښايي د افغاني لښکر لاره و نیسي،
نو احمد خان دخپل لښکر یوه ډله سرتیری د مخه ورولېږل ، د کلا وا وسېد ونکو چې
د افغاني لښکر سرتیر ی وليدل ټول قرآنونه پر سر نیولي اوشااونه په غاړو کې ا چولي په
زاریو د احمدخان حضورته راغلل او د خپلې بې وزلی او عاجزی عرض ئې وړاندی کې،
احمدخان هم د افغانیت او پښتنوالی د دود او دستور سره سم هغه ټول و بخښل، او
بې له دې چې زیان ورورسو ی تر را تېرسو، تر هغه وروسته دری څلو ر زره بختیاری او
شاهسیون کورنۍ د خورا ډېر ومالو او څاروېو سره په مخه ورغلي چې د نادرشاه د وژل
کېدو د خبر په اورېدو سره له هراته راوتلي او د عراق او آذربایجان خواته تلې ، خو بیا
هم افغاني لښکر د احمد خان په لار بسوونه هیڅ غرض په ونه کې، او ترا تېرسو .

د تاریخ احمدشاهی مؤلف محمود الحسیني د احمدخان دا مروت داسې لیکي .

(قریب سه چهار هزار خانوار ایلات شاهسیون وبختیاری بااموال ودواب زیاده ازحد
وحصر از هرات بمحض استماع قضیهٔ نادرشاه کوچیده بقصد اماکن و او طان قدیم
خویش عازم ولایات عراق وآذربایجان بودند که دران حدود دچار موکب نصرت مدار
گردیده وبا زهمت بلند پرواز خاقان سرفراز ازشکار این صیدهای بپای خود آمده سردانه
وار درگذشته بخوانین عظام وسران اردوی نصرت احتشام امیر فرمودند که متعرض

حال احدی ازان جماعت نگردند.(۱)

ترهغه وروسته احمد خان دخپل لښکرسره له هراته بې برغ اوپوغه وفراه خواته را تېر سو، خو په فراه کې دعلي قلي خان هغه اردوچې پروت و، دفراه تر کلا پهدې نيت را ووت چې افغاني لښکر ته لاس واچوي .مگر احمد خان چورت په خراب نه کې، بوازې دوه درې سوه پښتانه جگړن يې دهغو مقابلې ته ورو لېږل اوپه وسرې مقابله کې دعلي قلي خان گمارل سوي سپاهيان ځينې ووژل سول ،ځينې بند يا ن سول،او پا ته وتښتېد ل ، خو احمد خان هغه بنديان سوي سپاهيان وبخښل او رخصت يې کړه اوپخپله دگرشک خواته وخوځېده له گرشک څخه يې خوتنه استازي کند هار ته ترخان دمخه واستول چې په کند هار کې د پښتنو مشران دنادرشاه په وژلو خبر کړي او په تېره بيا نور محمد خا ن علي زی ته ووايي چې هغه خزانه چې د پېښور او کابل دخو کاله ما ليه بکېږي ده چې د سراج التواريخ په قول شپږ ويشت کرورو روپو ته رسيد ه،سر ه د فيلخالې چې د کابل او پېښور دصوبه دار ناصر خا ن اوتقي خان شير ازي په واسطه خراسان ته وړل کېږي په کند هار کې و نيول سي او د هغو سا تنه د ی پښتنو سپا هيانو ته وسپاري.

داداسې وخت و، چې نورمحمد خان عليزی دخپل پښتنې لښکرسره دکند هار دښار راوتلې او د کندها رد لمر لوېد و خوا ته له ښا ر ه يو فرسخ ليری د«سنځری» دکلي په چمن کې پې اړ ولي ولې و (۲) او د کـا بـل او پېـښو ر

(۱) تاريخ احمدشاهي- دمسکو چاپ-۲۸مخ .

(۲) ښاغلي غبار پخپل کتاب «احمد شاه بابا» کې ليکي چې نور محمد خان غلزی د احمد خان سره يو ځای له خراسانه کند هار ته راغی ، خو داحمدشاه بابا دِد ربا رمنشي محمود الحسيني پخپل کتاب تاريخ ا حمد شا هي کې ليکي چې داحمدخان دراتک په وخت کې نور محمد خان عليزی دنادر شاهله خواد کند ها ر د د رانيو سر کرده او دلښکر مشرو ،اوعبارتئي داسې دي: «نور محمد خان عليزی *

صوبه دار ناصر خان اوتقي خان شيرازي هم دخزانې او فيلخانې سره چې دخراسان خواته روان وه، د نور محمد خان سره يو ځاي سوي وه پيشخانه يې دسخه ليږلي وه او دوى غوښته چې سبا سهار د پښتنو دلشکر سره خراسان ته وخوځېږي؛ چې د احمد خان استازي او چاپاران ورته را ورسېدل، او د پښتنو مشران يې د نادرشاه په وژلو خبر کړه، او په دې خبر د پښتنو په لښکر کې شور ما شور جوړ سو، او د تقي خان او ناصر خان او دغو دلګرو څخه چې هر څه وه، هغه يې ټول ځيني واخيستل خو په درانى اوشاهي مالو چا غرض ونه کې او د احمد خان تر را تګه پورې خوندي وساتل، او تقي خان او ناصر خان د عبد الرحمن خان بارکزي تل پچى باشي کورته پناه وروړه.

کندهار ته رسيدل او لويه جرګه غوښتل:

احمد خان د ۱۱۶۰ ه ق کال د رجب په مياشت د ټولو افغاني قواو سره کندهار ته را ورسېد او سمدلاسه يې ولسي مشران راغونډ کړه او دهغو سره يې دهيواد د راتلونکي په باب کې مشورې شروع کړې په دې لويه جرګه کې د ابدالي او غلجيانو د مشرانو سربېره د بلوڅو، هزاره او قزلباشو مشران هم شامل وو. دې لويې جرګې تر هر څه دمخه ټولو په اتفاق

---

* از جانب نادر سردار ملک قندهار و سرکرده ايل جليل دراني بوده و حسب الامر نادر شاه قشونهاى دراني جمع کرده و از قندهار حرکت نموده در چمن سنځري يکفرسخي شهر قندهار توقف داشت و تقي خان شيرازي و ناصر خان صوبه دار کابل و پيشاور هم بموجب حکم شاه مذکور همراه خزانه و فيل و فرمايش ممالک موضوعه قبل از وقت آمده عازم اردو شده و به نور محمد خان ملحق گرديده اراده داشتند که همراه لشکر دراني متوجه اردو شوند و کليهم اجمعين در منزل سنجري فراهم آمده و صبح فردا در صدد کوچ بمنزل پيش بودند که در آن اثنا چاپاران از خدمت ارفع اعلى با خبر قتل نادر شاه و حکم خسرو دين پناه آمده در خلوت حقايق احوال و دقايق اقوال بندگان درگاه خاقاني بخوانين دراني ظاهر نمودند (...سخ)

دا فیصله وکړه چې د ایران د حکومت سره په هرصورت تعلق پرېکول په کار دی، ځکه چې ایرانیان او پښتانه پر یوبل باندې حکومت نه شي کولای (۱) ترهغه وروسته یې دا فیصله وکړه چې له خپله منځه خان ته یو پاچا وټاکي، خو د پښتنو په داسې قبیلو کې چې یوبل ته تن نه سره ورکوي د یوه پاچا ټاکنه څه اسانه کار و، ځکه چې د هرې قبیلې مشر دا غوښته چې د ولس د مشرتابه واګې په خپل لاس کې واخلي، په تېره بیا نور محمد خان علي زی چې د نادرشاه په وخت کې د ټولو پښتنو لښکر وستر قوماندان و، او ورپسې حاجي جمال خان بارکزی، او محبت خان پوپلزی او موسی خان ساګزی، او نصرالله نورزی او د نورو قبیلو مشرانو پرخانو باندې یو د بل پاچهي او حکم نه منو منلای، ځکه نو لکه څنګه چې مورخان لیکي اته جرګې ناکامه شوې، خو احمد خان چې په عفوتو او جرګو کې د هرقبیلې د مشرو ینا اروېدله چې ځانو د پاره یې د مشر توب حق ثابتول غوښته، دې ښه خوله ناست و، او د ځان په باب کې یې هیڅ نه ویله، خو چې په نهمه جرګه کې د حاجي جمال خان نوم منځ ته راغی او د جرګې زیات خلک یې پرخوا شوه، خو د ځینو نورو غیبتلیو قبیلو مشرانو ور سره مخالفت وکړ (۲) او عمدا شان د نور محمد خان علي زي د نامه پېشنهاد په دې سبب چې ډېر عصبي دی ونه منل شو، که څه هم د پاچهي د مقام د پاره وړګنل کېده (۳)

د احمد خان پاچا کېدل : په نهمه جرګه کې چې د «شیرسرخ» په زیارت کې روانه وه د پاچاه انتخاب خبري زیاتي تودې شوې، خو احمد خان همهغسې

---

(۱) د پښتنو تاریخ د قاضي عطاالله تألیف - ۱/۱۰۰ مخ

(۲) د پښتنو تاریخ - ۱/۱۰۰ مخ

(۳) احمد شاه بابا - ۸۷ مخ

شهید سو. وایي چي دده تر شهادت وروسته د دښمن لښکر دده په کلاو رننوتل ، علته بل څوك ژوندي پاتـه نه وو، یوازې داحداد بوه پیغله لور گرځیدله، څوځنګه چي د دښمن کم سپاهي غوښته لاس ورواچوي هغې تنګیالې پیغلې خپل سرگ د مینځیتوب ترژوند ندبنه وباله سخ ئې پټ کی، اود کلالهٔ دیواله ئې ځان د راندی واچاوه اوخپل ژوند ته ئې خاتمه ورکړه.

وایي چي ستجاوزینو داحداد سر له تنه جلا کی جهانګیر ته ئې واستاوه او جهانګیر په هغه مناسبت مجلل جشن جوړ کی.

مأخذونه: ۱- پښتونستان — ۲۰۳ مخ

۲— دبستان مذاهب — ۲۵۲ «

۳— منتخب اللباب ۳۵۸ مخ

۴— تزك جهانګیر ۱/۹۷، ۱۵۳ مخونه

۱۰۱۴- احراري غزنوي: عبدالله غلام خواجه احرار غزنوي د حضرت قلندر شاه زوی او د مقري میا فتح محمد نصي په ختم اندي د پښتو ژبي شاعر، د ۱۲۹۲ هـ ق کال د برات د میاشتي په نهمه نیټه د دوشنبي په ورځ د غابښتسهال د غزني په «برجګي» نومي کلي کي زیږیدلی دی، د علم زده کړه ئې د کندهار په خاکریز کي د خپل ملا محمدعلي آخندزاده څخه کړي ده او دا متداوله علوم ئې ولوستل: د شریعت اصول، فقه، حدیث، تفسیر، فرایض، صرف، نحو، بیان، معاني، بدیع، عروض، فلسفه، ریاضي، ادب، بلاغت، منطق، کلام او عقاید - او په رمل او جفر کي هم مطالعه وکړه. د ظاهري علومو تر زده کړې وروسته د باطن تزکیې (تصوف) ته متوجه سو. او د خپل تره او استاذ څخه ئې رخصت واخیست او دامام رباني د زیارت د پاره هند ته ولاړ، او په «کهنه» کي ئې د حبیب الله کهنوي سره وکتل او د هغه لاس نیوی ئې وکی اوبیرته وطن ته راغی، واده ئې وکی - او تألیفو ته ئې ملا وتړله دده د ځینو کتابونو نومونه دادي:

پته خوله ناست و، په دغه شوربا شور کې یو «صابر شاه» نومی ملنګ (۱) د جرګې منځ ته راووت او ګل او د غنمو یو وږی یې د «احمد خان» په ځګړي کې وټومبه او وې ویل:

«دا ستا جیغه ده، او ته د دوران پاچا یې» او د جرګې غړو ته یې وویل: «د خدای د پاره دا جرګې نورې بسې کړئ، جګړې مه کوئ.

خدای تعالی احمد خان په تاسو کې یو ډیر لوی او د روند سړی او د عزت خاوند پیدا کړی دی. دغه په ټولو پښتنو کې په اصل هم ښه دی او قابل هم دی، نو د خدای کار به ورانوئ. که نه وي، نو د خدای تعالی قهر به درباندې نازل شي» (۲)

دغه و، چې د صابر شاه ملنګ انتخاب د ټولو قبیلو مشرانو ومانه او په ټیره بیا چې د حاجي جمال خان له خوا هم تائید سو. او په دې توګه احمد خان «احمد شاه» سو، او د (۱۱۶۰ هـ ق) کال د شوال او د (۱۷۴۷ م) کال د اکتوبر په میاشت د کندهار په ښار کې په پنځه ویشت کلنۍ د پښتنو د پاچهۍ پر تخت کښېنوست او د افغانستان د پاچا په حیث اعلان او وېژندل سو (۳)

---

(۱) د صابر شاه ملنګ د ژوند پېښې به د دې کتاب د (ص) په ردیف کې د ده تر نامه لاندې راوړه سي. خو دلته دا د یادولو وړ ده چې د نادر شاه تر وژلو د مخه هم دې ملنګ «احمد شاه بابا» ته پیشګویي کړې وه چې تر نادر وروسته به دی پاچا کیږي.

(د تاریخ احمد شاهي ۲۵ مخ ته دې رجوع وسي)

(۲) د پښتنو تاریخ - قاضي عطاالله تالیف - ۱۰۰/۱ مخ

(۳) تاریخ سلطاني - ۲۲، مخ - احمد شاه بابا - ۸۹ زر

تاریخ احمد شاهي - ۵۱ مخ - او نور

په څنګه وخت کې پاچا سو؟: احمدشاه بابا په داسې وخت کې پاچا سو چې په افغانستان کې د ملي وحدت څه خلل چې د پښتنو د ملي قائد میر ویس نیکه په لاس ودان سوی و، د خارجي دښمنانو د تېري او یرغل له امله نړېدلی و، او د افغاني قبیلو دیوو الی نقشه چې میرویس نیکه طرح کړې وه نیمګړې پاته سوې وه، او د هېواد په هره سیمه کې بیا د خانخاني او ځانځاني زړه کمبله غوړېدلې وه، هرې قبیلې د خپل قومي مشرتر مشرۍ لاندې ځانګړې قبیلوي ژوند کاوه، او د افغاني قبیلو تر منځ د ملي او قومي وحدت رسۍ هر شلېدلې وه.

له بلې خوا د افغانستان د لمر لوېدو خواته په ایران کې د نادرشاه تر مړینې وروسته داخلي هرج ومرج پېښ و، او یوه ملوك الطوایفي دوره راغلې وه، چې غلجي پښتون آزادخان د ښځلسو زرو سرتېرو سره په آذربایجان، او حسن خان قاجار په استرآباد او کریم خان زند په عراق کې حکومت کاوه.

د افغانستان شمال ته چنګېزي دولت په بخارا او ماوراالنهر کې د انحطاط پر لور رهي و، او د افغانستان د لمر ختو خواته په هند کې د ګورګاني امپراتورۍ ربړې سستې سوې وې او په تېره بیا په جنوبي هند کې د مرهټو حکومت دومره زور اخیستی و، چې ګورګاني دولت ته ئې لوی خطر پېښ کړی و.

په داسې وخت کې احمدشاه بابا په افغانستان کې د یوه خپلواك او متحد دولت تشکیلولو ته ملا و تړله.

د داخلي چارو سمون: احمدشاه بابا چې خپل تېټ او پرك ولس لا ده نو تر هر څه د مخه ئې د دوی یووالي ته توجه وکړه، چې په دوی کې بیا د ملي او سیاسي وحدت روح راوېښ کړي او افغانستان بیا په ملي او سیاسي لحاظ سره یو موټی سي، په ملي لحاظ داسې چې ټول قبایل د یوه ولس او ملت په شکل پر یوه مرکز راغونډ کړي، او په

سیاسی لحاظ دافغانستان دخاوری ټولی مختلفی ټوټې دیوه ځپلواك او آزاد هیواد په څیر پیاد ټری دنورو ژوند یوهیوادو په قطار کی ودروی، خودې کارخوراتینګ پولادی عزم، روښانه فکراومعقول تدبیرتهاړه درلوده چی هغه ناحمدشاه بابا په وجود کی یو ځای سوی وو .

احمد شاه بابا سرپیره پردې چې ښه تکړه او آزموینی سوی مجرب عسکرو، دخپل ولس په خوی او بوی، دود او دستور هم ښه خبرو، اودا ورمعلومه وه چی دولس مشران دواړی په لاربښوونه کی ډیره اغیزه لری نوځکه ئې دیوه ولسی مشر په توګه دپاچهی واګی په لاس کی واخیستلی ، اودی دافغانستان لومړی پاچا دی چی تاج ئې پرسر نه ایښود لنګوټه ئې تړله، چپنه بې اغوستله او موزې ئې په پښو کولې او پر فرش شوې ځکه باندی دخلکو سره کښیناسته (۱) اوپه ټولو مهمو دولتی چارو کی ئې دولس دمشرانو سره مشوره کوله.

مرحوم قاضی عطاالله خان ېځیل کتاب «دپښتنو تاریخ» کی لیکی چی :

«هغه دپښتنو دخوی بوی اودهغوی درواجونو اودقاعدونه ښه واقف وو ، او خدای تعالی ورله یوډیر صاف دماغ ورکړی وو - هغه دخپل حکومت داسی طریقه اختیار کړه چی دټولو قبیلو سرداران ئې دحکومت په تمامی معاملاتو کی ځان سره شامل کړل ، هغه ته دا معلومه وه چی ترڅو پوری دپښتنو هره یوه قبیله دآزادی اوخودمختاری په خوږو کی ماسره شریکه نه شی ،اوترڅو پوری چی دحکومت په هره یوه شعبه کی زه هغوی له برخه ورنکړم ترهغې پوری په هغوی کی دتاموللی جذبه اودقومی ژوندون پیدا کول مشکل کار دی - پدی سبب هغه دحکومت ټول اختیارات ځان له قبضه نکړل بلکه د هری قبیلی حکومت ئې هم هغه

---

(۱) افغانستان در مسیر تاریخ - ۳۵۷ مخ

قبیلې ته ورکړه- او هغوی ته ئې دخپلو مشرانو مقرره ولو واک اختیار حواله کړ و په لویو لویو معاملو کې لکه دنورو قومونوسره جنګ یاصلح یا په ټول ملک کې د یوخاص نظام حکومت یا دآئین جاری کول یا دملک په خلقو باندې ټیکسو نه لګول— په دې ټولو معاملو کې به هغه دقبایلو دمشرانو نه سلا اخیسته- په هره قبیله باندې هغه دجنګ دپاره شاهي فوځ ته دلښکر ورکولو تعداد مقرر کړی وو- احمد شاه لوی قابلیت داوو، چې هغه خپل هر کار له قومي رنګ ورکولو- هغه ځان ته «پښتون» بادشاه ویل اوو بل به ئې چې: «زه دپښتنو قومیت او زور مضبوطوم او په ملک کې دپښتنو خیالات، طریقې او تهذیب خوروم» په هر کار کې به هغه پښتنو ته دپښتو دجذباتو پېل کولو- او په دې سبب هغه داسې یوې معاملې ته هم لاس نه اچولو چې دټولو پښتنو مشترکه فایده ئې مدنظر نه وه ساتلې .

ددې اصولو دلاندې هغه دپښتنو دلویو لویو قبیلو دنهو مشرانو یووزارت قایم کړو- او په ټولو معاملو کې به ئې دهغوی په جرګه فیصله کوله- دجمهوریت هم دغه اصول وو، چې په هغو باندې هغه ترآخره پورې عمل کولو، او هم په دې سبب هغه کامیاب وو، دټول قوم اود سردارانو ژبه په جرګو کې او باهر پښتووه فیصلې به دپښتو په رواج کیدې، او هیڅ کار به هم دقبائلو دمشرانو د منظورۍ نه بغیر نه کیدلو (۱) »

په دې توګه نو احمدشاه بابا زیار یوست چې دولس د مشرانو زړونه لاس ته راولي، څو کسې په وزارت د ټاکل اچا ته یې نور دولتي لوړ مامور یتونه وسپارل، ځینو ته ئې اعزازي القاب ورکړه اوچا ته ئې مستمرې تنخاګانې وټاکلې، خوسره له دې هم دده دپاچهۍ په لومړیو ورځو کې ځینو

---

(۱) د پښتنو تاریخ ۲/۱۰۱ مخ

مشرانو په پته داحمد شاه بابا د پاچهي دمانۍ دړ ولو د ها ره نغمو نه کينل چي د بوې ناوړي او ناکامۍ پېښي سبب سول.

ناوړه پېښه : هغه وخت چي احمد شاه بابا په پاچهي وټاکل سو نود ده په نامه بيعتونه پيل سوه، له ليري او نژدې به بيعتونه راتلل ، او هري خواته دخوښۍ دمامې ږغېدلې ، پوازې کرم خان ترين او مقصود خان بړيڅ چي د خپلو قبيلو مشران وو، له اطاعته سرونه وغړول او بيعتونه ئې رانه ليږل، او احمد شاه باباته پوره تله سول - هغه و، چي احمدشاه بابا د کرم خان ترين د اپلولو د پاره سپه سالار محبت خان دراني د څه عسکرو سره پښين (فوشنج) ته ولېږه ، او سردار مانو خان ئې د يو بل پوځ په سالاري دمقصود خان بړيڅ د اپلولو د پاره ښوراوک ته واستاوه - خو دا دوه سالاران (يعني محبت خان او مانو خان) که څه هم د احمد شاه بابا کهاله ته منسوب وو، خو دوی هم په پته د نور محمد خان عليزي (چي د نادر شاه په وخت کي د کندهار واکمن او د افغاني لښکرو ستر قوماندان و د «مير افغان» لقب ئې درلود او د ميان داد خان ساگزي او د محبو نورو درانيو مشرانو په سلاد با غيانو سره لاس يو کی ، او د پښين او ښوراک د باغيانو ترمنځ ئې ارتباط ټينګ کی او هغو ئې لا نور مخالفت ته ولمسول خو په ښکاره ئې د هغو سره ژر گړی جنگ شروع کی او د دې د پاره چي ځانونه لا نه قوي کړي له مرکز څخه ئې نوره نظامي مرسته وغوښتله ، احمد شاه بابا هم د دوی غوښتنه و منله يو زيات شمير رکابي پوځ ئې د لسو او پنځلسو تو پو او زنبورک او ښاو سره د عبدل خان ما کو په مشري چي هغه وخت د «شفقت خان» په خطاب سرلوړي سوی و ، د محبت خان او مانو خان د سلاتړ د پاره ولېږل . عبدل خان ما کو چي د هغو زور وليدلکه دا چي د محبت د هغو سره په سلا کي شريک وه ، دی هم د هغو خوا نه وواوښت او د هغو

سره په سازش کې ملګري سو — په دې وخت کې نواب خان الکوزی او څو تنه نور د محبت خان او مانوخان له چوني څخه پټه راووتل او ځانونه ئې د احمدشاه بابا حضورته ورسول ، او هغه ته ئې د محبت خان او مانو خان سازش برملا کې او ورته ئې وویل چې نور محمد خان علي زی او میان داد خان ساګزی او عبدالرحمن خان بارګزی توپچي باشي د کندهار په ښار کې دی هم د محبت خان او ما نو خا ن سره په مسلا کې شریک دی هغه و، چې احمدشاه بابا نور محمد خان او عبدالرحمن خان او میان داد خان ورو غوښتل او پوښتنه ئې ځیني وکړه ، هغوی ناګاره او منکر سول خو نواب خان الکوزی او د هغه نورو ملګرو شاهدي پر ادا کړه ، نو احمد شاه بابا امر وکې چې د دوی لاسونه او پښې دې وتړل سي او د پیلانو تر پښو لاندې دې واچول سي چې د پیلا نو تر پښو لا ندې مړه سي ، امر د شاه اجرا سو ، نور محمد خان او میان داد خان د پیلانو تر پښو لاندې ووژل سول ، خو عبدالرحمن خان با رګزی یو پیل په شونډک کې پورته کې او د احمد شاه بابا د تخت په وړاندې ئې وغورځاوه ، ځکه نو احمدشاه بابا هغه وباخښه او تر څه مودې وروسته یې بیرته د توپ چي باشي په رتبه سرلوړی کې — د نور محمد خان او میان داد خان د وژلو خبر چې محبت خان او مانوخان ته ورسید هغوی د کسات او انتقام اخیستلو په غرض خپل لښکري د کندهار خوا ته راوبهولي او د کندهار د ښار په څلورفرسخي کې د «زنه خان» په کلي کې چې اوس ئې «زلخان» بولي کښته سول ، د احمدشاه بابا له خوا عبدالحمید خان درانی د نومیالیو مبارزانو سره مقابلې ته ورووتل ، په لومړي جګړه کې عبدالحمید خان ماته وکړه ، او د مخالفینو لښکر د پرښت او د شاهي لښکر د لېږوالي خبر ئې احمدشاه بابا ته پوره ، سبا ورځ احمدشاه بابا پخپله د هغو مقابلې ته ور ووت ، تر سختې جګړې وروسته ئې مخالفین پرشا تللو ته مجبور کړه او سخته ماته ئې ور کړه ، محبت خان او مانوخان او کدو خان د سابرشاه ملنګ په واسطه

پرې په غاړه د احمدشاه بابا حضور ته راوستل سول، او احمدشاه بابا پر هغو بندحکم وکی او نور نو معلومه نه سوه چې په محبس کی د دوی کار کم ځای ته ورسید(۱)

د دې ناوړه پېښې د پېښېدو سره سره بیا هم احمدشاه بابا د ولس مشران پر ځان راټولول او په مهمو ولسي چارو کی ئې ور سره مشوره کوله، بلکه د ولس د مشرانو یوه دایمي «جرگه» ئې هم په مرکز کی جوړه کړې وه چې د هغې په واسطه ئې د مختلفو افغاني قبیلو نظریې ځانته معلومولې او د هغو نظریو سره سم ئې خپله مترقي د تگلاره تیاکله.

احمدشاه بابا له اوله د ولسي نظریاتو او دود او دستور ډیر مراعات کاوه او د هیڅ افغان ملي غرور ته ئې صدمه نه رسوله. ده په خپل دربار کی د مریتوب ژاړه خوبو نه لکه پاچانو ته د تعظیم د پاره سر ټیټول او په رکوع کیدل او یا مځکه سجول او نور منع کړه او د احترام د پاره ئې یوازې پر تندي لاس ایښوول کافي و باله او همدارنګه ئې په اداري چارو کی سمون راووست.

د اداري چارو سمون: احمد شاه بابا د ولسي مشرانو سره تر مفاهمې

---

(۱) د دې پېښې تفصیل د محمود الحسیني د «تاریخ احمدشاهي» په ۵۷ مخ کی تر ۷۸ مخ پوري راغلی دی. خو دمخه تر دغه چې «تاریخ احمد شاهي» کتاب چاپ سي زیاترو مورخینو لکه فیض محمد «په سراج التواریخ» کی، او د «خزانه عامره» مولف او قاضي عطاالله خان د پښتنو په تاریخ کی، او ښاغلي غبار په «احمد شاه بابا» کی او نورو د اناقره پېښه په ۱۱۶۳ ه ق، او ۱۷۴۹ م کال کی بللې وه چې احمد شاه بابا د پنجاب او سرهند تر فتح وروسته کندهار ته راګرځیدلی و، خو څنګه چې محمود الحسیني د احمدشاه بابا د دربار منشي او د هغه وخت د پېښو په لیکلو کمار لي سوی و، نو ځکه په دې کتاب کی دده لیکني ته ترجیح ورکړه سوه (مولف)

وروسته دخپل دولت‌دا داری چارو په سمون لاس پوری کی ، او په مرکز کی ئې
داکه غونډه چې مرحوم قاضی عطاءالله‌خان لیکی :

«غونډه دپښتنو دلویولویو قبیله‌دنهو مشرانو یو وزارت (یعنی‌صدارت)قایم کړو
(۱) » او ورپسی ئې یو «دیوان اعلی» یعنی دعالیی وزارت ،او« دفتر ضبط بیگی»
یعنی امنیه او کوتوالی ،او «خزانه داری» او «نسقچی باشی‌گری» یعنی دسجا زانو
تطبقوونکی اداره، او «داروغه کی» او «د اخبار دفتر » او هر کاری باشی » یعنی
یعنی ضبط احوالات او استخبارات ،او «میر خور باشی» یعنی‌پرغارو یو باندی
دوړو راوړلو داره ،اوځونوری کوچنی دایرې د « باجگیر» او «میراب » او«خالصه
جات» او «دښار کلانتری» اونور تشکیل کړه ،'و هم ئې په ولایا تو کی‌دالاندی
ماموړین سخ ته راوستل :

«حاکم ..، پیشکار(سرمنتیال) ،امیر لشکر ، مستوفی ،قاضی ،قلعه‌دار، باجگیر،
ماموړثاناثات ، میرآخور ، میراب او کلانتر » اوهم ئې په دربارکی دا د فتروته
جوړ کړه :

«دیوان انشاء (د ارا لحتریرشاهی) ، عرض بیگی، مهماندار باشی،
پیشخانه چی باشی ، د ډوډی ناظر کارخانه » او هم ئې په اردو کی
دا دفترونه برا نیستل : « لشکر نو یس (د نظام دفتر)؛ارد وباشی،جارچی
باشی،سیورسات چی،او قسورخانه»او همدا رازئې په مرکز او ولایاتو کی شرعی
محکمی جوړی کړلې(۲)خو ددې ټولو ادارو په سر کی‌همغه ولسی جرگه وه چې
دقبیلو له مشرانو،لویو افسرانو او د لوړو رتبو له ماموړینو څخه وخت په وخت

---

(۱) د پښتنو تاریخ — ۱/ ۱۰۲ مخ

(۲)افغانستان درمسیر تاریخ - ۳۵۸ مخ

جوړېدله او په مهمو سیاسي او نظامي او اداري چارو کې به ئې نظریه او مشوره ورکوله، کهڅه هم په ټولو اجرائي او قضائي او نظامي تشکیلاتو کې پاچا د ټول واک خاوند و، خو سره له هغه هم احمد شاه بابا په مهمو اداري، سیاسي او نظامي چارو کې د دولت جرګې غړي په مسئولیت کې د ځان سره شریکول. له بلې خوا که څه هم په دغه وخت کې احمد شاه بابا پنځه ویشت کلن ځلمی و، خو د یوه آزموېل سوي او جنګي لیډر، عسکر او پوه مجرب سیاسي سړي په حیث ئې د واکمنۍ واګې په لاس کې نیولې وې نو ځکه ئې تر ولسي جرګه وروسته خپله زیاته توجه د یوه منظم اردو چمتو کولو ته واړوله چې په لومړي سر کې ئې شپاړس زره منظم پلي او سپاره عسکر د درنې او سپکې توپخانې سره چمتو کړه او د هغو د وروزلو د پاره ئې آسان، غاتري اوښان او پیلان پیدا کړه، او دده په منظم اردو کې دا افسران وو: لس باشي (د لګي مشر) سل باشي، (تو یمشر)، مینګباشي، قلار اقاسي، کشیک چي باشي، (د محافظ ګارد د قوماندان)، جزایر چي باشي (شمخک چي، یا زنبورچي) توپچي باشي، امیر لشکر او سپهسالار،

چې وروسته بیا هر ددې منظمو عسکرو سربېره د یرش زره غیر منظم یعني قومي لښکر په پایتخت او ولایاتو او سرحداتو کې هم چمتو کړه سول او د جګړې په وخت کې به د مختلفو قبیلو له خوا لیږي عسکر هم پر زیاتیدل؛ د مثال په توګه د هیواد د لمرختیزې د د یوې کوچنۍ سیمې «مروتوله قبیلې» څخه به دوه سوه سپاره بې تنخا او دیو لوی ولایت «بلوچستان» څخه به شپږ زره جمازه سوار (یعنې اوښانو ارونکي) میاره د احمد شاه بابا په اردو کې داخلیدل، خو چې وروسته وروسته د احمد شاه بابا د لښکرو شمېر څلور پنځو زرو ته، او بیا اتیا زرو ته او حتی د ځینو مؤرخینو په قول یوه-

لکه او شلو زرو تنو ته ورسیدچی اتیا زره ئې غیر منظم او څلویښت زره ئې منظم عسکر وو
د سپرو لکه ښاغلی فاضل غبار چه لیکی د منظمو عسکرو (۱)
تنخا دا تیکل له مخی د میاشتی دوه اس روپۍ او د پلیو تنخا د میاشتی شپږ روپۍ نقدی او
جنسی وه، او هم زیاتوی چی دا حمدشاه بابا په وخت کی د افغانستان نقدی او جنسی مالیه د
کاله د یو ویشتو میلیونو روپو په شاخوا کی وه چی له دروبرخو څخه ئې دوی برخی په
نظامی او ملکی چارو مصرفیدلې او دریمه برخه ئې د دولت په خزانه کی ذخیره
کیدله (۲)

په دی توگه نو احمدشاه بابا د خپل دولت د اداری چارو د سمون بنسټ کیښود، او د دی سمون د پرمخ بیولو پاره ئې ځینی قومی مشران وټاکل لکه:

۱ـ بگی خان بامیزی — د هیواد داومړی وزیر په حیث او د «شاه ولی خان» او «اشرف الوزرآ» په القابو.

۲ـ جهان خان پوپلزی — د وزیر حربیه په حیث او د «میر بزن» او «خانخانان» او «سپه سالار» په القابو.

۳ـ شاه پسند خان ساگزی — د پایتخت د نظامی قوماندان په حیث او د «امیر لشکر» په عنوان.

۴ـ ملا ادریس خان — داردو قاضی د «شیخ الاسلام» په لقب او د پاچا ندیم

۱ـ احمدشاه بابای افغان ـ ۱۵۵ مخ د ښاغلی غبار تألیف.

۲ـ افغانستان در مسیر تاریخ ـ ۳۵۸ مخ

۱- رفعة الغواشي شرح تتمة الحواشي .

۲- پر خيالي باندې شرح .

۳- پر تفسير بيضاوي باندې حاشيه .

۴- ازالة الاوهام .

۵- تحفه الاخيار .

۶- شريعت الاظهر شرح فقه الاکبر .

۷- مثنوي رنگين .

۸- فيض قلندري .

۹- انوار فتح محمدي .

۱۰- گلشن اسرار و بيان الاسرار .

دده له پورتنيو کتابو څخه د «مثنوي رنگين» کتاب امير حبيب خان ته وړاندې سوی و، او هغه پاچا خوښ کړی و، او وېونکی ئې خپل حضور ته غوښتی و، دی له غزني څخه کابل ته راغی، او له کابله ننگرهار ته ولاړ، او علته ئې په «چارباغ صفا» کې د معين السلطنه (عنايت الله خان) سره وکتل، او امير حبيب الله خان) سره وکتل، او امير حبيب الله خان ورته د کاله پنځه زره روپۍ معاش وټاکه، خو دده ونه مانه، له ننگرهاره بيا د ډهلي او سر هند خواته وخوځېد، بيا بېرته وطن ته راغی او د ۱۳۵۷ ه ق کال د مارسي خور په پنځمه د چارشنبې په شپه دوباد ناروغي په اثر د کندهار په «شاه جوی» کې مړ سو.

دده ټول ژوند د خدای په عبادت، د خلکو په روحاني تربيت، تاليفاتو او علمي مباحثو کې تېر سوی او ورسره ورسره ئې پښتو شعرونه هم ويلي دي.

دده د پښتو شعرونو دوه کتابونه لاس ته راغلي، يو دده ديوان دی چې «سرآت الاسرار» نوميږي او او بل ئې مجموعة المناجات » دی.

په حیث اونورداسې مشران ئې دملکي اونظامي چارودسمون اوچلولودپاره مقرر کړل.

دولتي نښان: احمدشاه بابادادارې چارو دسمون په ترڅ کې دافغانستان دولتي نښان هم وټاکه، ددې نښان یوه نښه څولا له هغې لومړۍ ورځې څخه چې احمدشاه بابا دولسي مشرانوله خوا په پاچهۍ وټاکل شو، اوصابرشاه ملنګ دتاج پر ځای دغنمو وږی دده په سرکې وتومبه معلومه وه، اوهغه پخپله «دغنمووږی» و، چې دافغانستان دکرهڼې او سمسورتیا نښه هم ګڼله کېدله، اودهغه وخت اوبې جرګې تړنأمتلې وه، خواحمدشاه بابادهغې نښې دڅنګ سره د«توري» شکل هم پرزیات کې چې دافغان ملت دتاریخي زړورتوب نښه بلله کېدله، نوداحمدشاه بابا دپاچهۍ په سر کې دافغانستان دولتي نښان «دغنمووږی» او«توره» تصویب شوه، اوځه لږ موده وروسته دایمخرد پانې په څېردیوه «ستوري» شکل هم پرزیات شو.

سکه او مهر: همدارنګه احمدشاه بابا دخپلې پاچهۍ په لومړیو ورځو کې د ادارې چارو دسمون او چلن په غرض په خپل نامه سکه ووهله چې دابیت پر کښېنلی شوی و:

«حکم شد ازقادر بیچون به احمد پادشاه»

سکه زن بر سیم وزراز پشت ماهی تابماه

اوهم ئې ځانته یو مهروکښه چې داعبارت

پر کښېنلی شوی و:

«الحکم لله یا فتاح ـ احمد شاه دردرانی» او مهرئې په طاؤسي شکل ګردی او د

صراحي د غازي غونډي اوبډو (۱)

بیا وروسته احمدشاه بابا نوري سکې هم په نورو عیاراتوو و هلې چې هر یوه مخ په ئې «فلوس احمد شاهي» او هر بل مخ به ئې یوه «افقي توره» وه چې دا توره په عموداً په «قرابین» یا «توپک» پرېکړه سوې وه، او نوري داسي سکې د عبارتو په لړ اختلاف، چې دا وروستي سکې په مختلفو ځایو کې د هرات، کندهار، کابل، مشهد، اټک، نوله (روهیلکنډ) او بریلي، بهکر او پېښور، تته (سند) کشمیر، لاهور او آگره او ملتان په ښارو کې وهلې سوي وې (۲) .

د هیواد سیاسي یو والي تامینه. احمد شاه بابا د خپل دولت د هیئت ترڅنګ کلو او د اردو تر تنظیم او د اد اړي چارو تر ابتدایي سمون وروسته د خپل هیواد د بېلو بېلو سیمو سیاسي یووالي تامینه کړه. او وي غوښته چې د افغانستان ټیټ او پرکې سیمې او هغه برخې چې د پردیو تیري ګوونکو له خوا له خپل اصلي وجود څخه پرېکړي سوي وې بېرته توان په مرکزي افغاني دولت پوري وتړي او له هغو څخه یولو ی ، متحد او خپلواک هیواد جوړ کړي ، نو د دې مقدس مالي مرام د تحقق د پاره تر هرڅه د مخه لکه څنګه چې دده ثابت اصول وو ، د اولس د مشرانو مشوره او سلا ضرور ولازمي ګڼله ، ځکه یې نو د ولس د مشرانو یوه لویه جرګه راوبلله

(۱) سراج التواریخ-۱/ ۱مخ

(۲) رساله سکوکات افغانستان درعصر اسلام — تالیف ښا غلی احمد علی کهزاد -د ۱۳۱۹ کال چاپ .

چې په دې باب کې ور سره سلا او مشوره وکړي ، او دده د پاچهۍ لاندې سیاستي، ور نه وې چې جرګه راغونډه سوه او احمد شاه بابا هغو ته د افغاني دولت د مرکز سره د ټولو افغاني سیمو او بیلو بیلو برخو د یو کولو او د یوه متحد او خپلواک افغانستان د جوړولو تجویز وړاندې کې، تر خبرو اترو وروسته د جرګې ټولو غړو په یو اتفاق هغه ملي تجویز و مانه خو احمدشاه بابا ته ئې د اسلا او مشوره ورکړه چې لومړی دې د غزني، کابل، او پېښور خواته هغه و کړي او تر هغه وروسته دې په یوه مناسب وخت کې د هرات خواته وخوځېږي (۱) .

لومړی سفر : هغه و چې د ۱۱۶۰ هجري قمري کال په پای کې یا د ۱۱۶۱ هجري قمري کال په سر کې (۲) احمد شاه بابا هم

---

(۱) د پښتنو تاریخ ــ ۱/۱۰۲ مخ

(۲) ځینو مورخینو لکه فیض محمد د سراج التواریخ د لومړي ټوک په ۱۱ مخ کې او عبدالکریم د تاریخ احمدي په ۶ مخ کې دا سفر ردوو برخو ویشلی دی او دا یې ښیي چې احمدشاه بابا یو وار په ۱۱۶۰ هق کال تر پېښاوره تللی، بیا بېرته کندهار ته راغلی او په ۱۱۶۱ هـ ق کال بیا له کندهاره د لاهور خواته خوځېدلی دی، خو نورو مورخینو لکه سلطان محمد د تاریخ سلطاني په ۱۲۳ مخ کې او میر غلام علي آزاد بلګرامي د خزانه عامره په ۹۷ مخ کې او قاضي عطاالله خان د پښتنو تاریخ د لومړي ټوک په ۱۰۳ مخ کې او نورو خارجي مورخینو لکه الفنستون د کابل سلطنت د دوهم ټوک په ۲۸۵ مخ کې او ګنډا سنګهه د احمدشاه دراني په ۶۳ مخ کې چې د مطالعه تاریخ *

د هیواد لەرختیزی خواته د هغی د پاره خان چمتو کی؛ سردار جانخان سپه سالار ني دخپل مخکښ په توګه ولیږه او پخپله د درنی تو پخانې او تولو احتیاطی وسایلو سره وروسته رهی شو .

دا چی په دې سفر کی د احمد شاه بابا د لښکر شمیر څو تنه و، د سور خینو اختلاف دی، الفنستون د وولس زره تنه درانی او بلوڅ بللی دی، فیض محمد او نورو

---

*: افغانستان از نگاه عسکری » مؤلف هم دا ښاغلي جلالی هم دا به و رکړې ده، د احمد شاه بابا دا سفر یو پولی او د ۱۱۶۰ ه ق په پای او او د ۱۱۶۱ ه ق په سر کی ني ګڼی. د دوښاغلی عبارتی پخپل کتاب «احمد شاه بابا» کی لیکو :

«بعضی مورخین در تعیین تاریخ و اعداد سفر بریهای احمد شاه اشتباه کرده اند، مثلا فیض محمد سفر اول احمد شاه وعودت او را از پشاور بقندهار در سال ۱۱۶۰ (سال اول جلوس) میداند (سراج ص ۱۰) در حالیکه ما میدانیم قتل نادرشاه در منتصف سال ۱۱۶۰ ه جمادی الاخر، اتفاق افتاده، و احمد شاه چهار ماه بعد از ان تاریخ در (شوال) بپادشاهی افغانستان انتخاب گردیده است و البته مسافرت احمد شاه از خراسان بقندهار و اجتماع رؤسا با تشکیل جرگه وتعیین پادشاه اینقدر زمانه بکار داشت، پس واضح است جلوس احمد شاه دو ماه بانجام سال ۱۱۶۰ مانده واقع شد، در دو ماه تشکیل یک حکومت مرکزی و انتظام قندهار با ترتیب عسکر و تا پشاور سفر نمودن و عودت ظاهراً از ممتنعات است - احمد شاه در سال ۱۱۶۱ بحرکات سفریه آغاز نمود...(۹۲ مخ)

آباد شده است آبی با فراط از سنگ جوشیده که چشمها در اندرون قلعه ازو روان و بر دور و اطراف حصار نیز از همین آب سرشار آبشار ها جاری و خروشان می رود و مز روعات گرد تپه و اراضی ما بین شهر و آن قطعهٔ مرتفعه و اطراف دیگر از همین آب سرسبز وشاداب می شود بلکه زمینهای چند فرسخ دور و باغات گرد ونواح هم از همین نهر فیض بهر طراوت اندوز وسیراب می باشد وقلعهٔ مذکور بحدي قوی بنیاد و محکم اساس بود که مصور خیال در صورت استعمال نقش تسخیر آنرا بچندین سال برلوح ضمیر تصویر نمی توانست نمود :

بکوه قلعه بل کوه افلاک بود — اساس وی از سنگ بر خاک بود
عجب قلعه برده دست از فلک — فرازش سماک و نشیبش سمک
سر کنگرش خنجر فرق مهر — زده رخنها بر حصار سپهر
زبس کز فلک تا باوراه بود — از و فتنه را دست کوتاه بود
زنظاره آن هر اسان سپاه — چو نادار از دیدن قرضخواه (۱)

هغه وخت د کلات د کلا کوتوال او واکوال اشرف خان توخی و ، هغه چې داحمدشاه بابا په ورتگ خبر سو، خان ئي په کلا کې کلابند او مقابلې ته چمتو کی، خو احمد شاه بابا ددې دپاره چې دچاو ینې توی نه سی ، خپل فاضل او عالم ندیم ملا ادریس خان شیخ الاسلام دنصیحت دپاره اشرف خان توخی ته ورولیږه، او هغه د هر وعظ او نصیحت ورته وکی ، مگر اشرف خان له خپلې هوډې څخه وانه ووښت ، نوځکه احمد شاه بابا د کلات د کلا دنیولو امر وکی ، او احمد شاهي لښکر پر کلا شاوخوا راو گرځېدل او د کلا ددیوال به نړولو او حصارته په ورختو ئې پیل وکی ، اشرف خان چې ځان کلابند اوبې وزلی ولید نو خپل یو معتمد

---

(۱) تاریخ احمد شاهی — ۱/۷۹ مخ

ئې صابرشاه ملنګ ته دننواتي په توګه ورولیږه او صابر شاه هم احمد شاه بابا په اجازه کلات ته ورغی ، او اشرف خان د صابر شاه ملنګ په داړ ینه داحمد شاه بابا حضور ته ورغی او هغه نه یوازی داچې اشرف خان ئې وباخښه بلکه د کلات حکومت ئې هم بیرته هغه ته وسپاره، خواشرف خان ئې د ځان سره واخیست او د کلات د ننواتي او واکوالي چارئ ئې دهغه زوی ته وسپارلې ،او دغزني خواته رهي سو. داحمد شاه بابا دافکرو ، چې اشرف خان به سوده ځان سره وساتی او هغه خپل سلی مسئولیت ته ملتفت کړی او په سلی روزله ئې ور وزی او ترهغه وروسته ئې بیر ته کلات ته واستوی ، خو څنګه چې د هغه خان بخت ګرځید لی و، په پټه ئې خپل زوی ته د پاره او پیغا موله لیږل او هغه ئې بغاوت ته لساوه، احمدشاه بابا چې دهغه په پیغاموخبرسو، نوهم ئې هغه د زوی برځای بل کوتوال وټاکه او هم ئې څه موده وروسته دی هم د خپل عمل په سزا ورساوه(۱)

په غزني کی د کابل د صوبه دار ناصرخان دلاس سړی حاکم و(۲) چې د احمد شاه بابا په مقابل کی ئې ځان جګړی ته چمتو کی، خو ترلږ مقاومت و روسته تسلیم سوا وله لمنځه ولاړ، او د غزني خلګو هم داحمد شاه بابا سره بیعت وکی.

د کابل صوبه دار ناصرخان چې دغزني د خلګو په بیعت خبر سو، پخپله ئې داحمد شاه بابا په مقابل کمی د جنګ تیاری ونیوله

---

(۱)تاریخ احمد شاهی-۱ ر. ۸ مخ

(۲)بابی چې د هغه حاکم نوم «جان محمد خان»و، څکه چې محمود الحسیني دغزني د تسلیمد و په وخت کی لیکی:

«جان محمد خان و کلانتران و کدخدایان ورعیزه و اعیان وشیخ الاسلام وقاضی و دیگر علمای آن مقام بدرگاه عالم پناه آمدند بعد از توبه و استغفار... درتاریخ احمدشاهی-۳۰ ۸ مخ

۱

په ۱۱۶۱ هـ ق کال د لاهور خواته د حرکت په کې د دېرش زره تنه لښکې، او گنډا سنگهه یادلاهور خواله پېښوره څخه د احمد شاه بابا د لښکر شمیر د ۱۸۴۷ میلادي کال د دیسمبر په میاشت کې اتلس زره تنه ښېلي او دننه رام مخلص د لیکنې سره سم پنځه و پشت زره تنه، او د عبد الکریم د یادونې په اساس دوولس زره تنه پلي او سپاره وو (۱)

خو لکه څنګه چې مو د مخه ووېل احمد شاه بابا د خپلې پاچهۍ په سر کې شپاړس زره منظم عسکر چمتو کړي درلودل نو په دې سفر کې باید څه نور غیرمنظم جګړن (یعني قومي لښکر هم پر زیات سوي وي، په تېره بیا له غزنۍ څخه تر پېښاوره پورې ډېر پښتانه د احمد شاه بابا په لښکر کې د اخل سوي وو، چې په دې حساب په دې سفر کې د احمد شاه بابا منظم عسکر دوولس زره او غیر منظم قومي لښکر لس زره اټکل کېدای سي.

د کلات کلا بندي: احمد شاه بابا د خپل لښکر سره د غزنۍ، کابل او پېښور په نیت د کلات خواته (چې اوس ئې زابل بولي) وخوځید، او لکه څنګه چې محمود الحسیني د احمد شاه بابا د دربار منشي په خپل کتاب «تاریخ احمد شاهي» کې لیکي احمد شاه بابا تر کلاته پورې درې پړاوه (درې منزله) ووهل او څلرمه ورځ د کلات د کلانیم فرسخي ته ورسید، او هلته ئې واړول.

د کلات کلا (لکه اوس چې هم ښکاري) پر یوه لوړه غونډۍ ودانه، او هغه وخت ډېره ټېنګه کلا وه، چې محمود الحسیني ئې په خپل کتاب کې داسې یادونه کوي: «قلعهٔ قلات برفراز تپهٔ رفیع و زیر پشتهٔ منیع واقع و از موضعی که شهر بر سر آن

---

(۱) مطالعه تاریخ افغانستان از نگاه عسکری - ۲ / ۲۴۱ مخ د ښاغلي جلالي تالیف

دناصر خان اصلي نوم ناصري خان او د پلار نوم ئې ناصرخان محمد امان و، چې د اورنګ زیب په وخت و د کابل والي و، هغه وخت چې پلار ئې مړ سو، نو دی په ۱۱۳۰ هـ ق- ۱۷۱۷ م کال کې د ډهلي له دربار و د پلار پرځای د کابل صوبه دار وټاکل سو او د «ناصرخان» لقب ئې وموند، او د نادرشاه د حملې تر وخته د ډهلي د ګورګاني د ربار تر لاس لاندې و، خو چې نادرشاه پر کابل یرغل وکړی، ناصرخان پښاور ته وتښتېد، او بیا چې نادرشاه هغه په پښاور کې هم مات کې نو د نادرشاه تابع سو، او نادرشاه بیا له خپلې خوا بیرته د کابل، غزني او پښاور والي وټاکه، او هغه وخت چې احمدشاه بابا د نادرشاه تر وژل کېدو وروسته له خراسانه د کندهار خواته روان و، ناصرخان او محمد تقي خان شیرازي د کابل او پښاور د څو کالو مالیه چې شپږ ویشت کروړه روپۍ کېدلې د کندهار له لارې خراسان ته وړلې او په کندهار کې د پښتنو لښکر و په لاس کښېوتلې او د محمدتقي خان او ناصرخان سره ئې د احمدشاه بابا حضور ته وړاندې کړلې، خو احمدشاه بابا محمدتقي خان او ناصرخان دواړه په ونازول او پر قیمتي خلعتو سربیره ئې سل تبریزي تومانه هم نغدور وبخښل، او ناصرخان ئې بیرته کابل ته و استاوه چې د هغه ځای خلګ د احمدشاه بابا په پاچا کېدو خبر کړي او له هغو څخه بیعت واخلي، ناصر خان هم د احمدشاه بابا اطاعت ومانه او هم ئې د احمدشاهي دولت مرکز (کندهار) ته د کاله پنځه لکه روپۍ مالیه پرځان قبوله کړه، خو هغه په زړه کوږچي کابل ته ورسید د احمدشاه بابا (احسانونه ئې هېر کړه، او د هغه مخالفت ته ئې ملا وتړله او د احمدشاه بابا استازو ته ئې ځواب ورکی او په دې فکر کې سو، چې بیا د هند ګورګاني پاچا محمد شاه ته رجوع وکړي او د هغه په مرسته بیا د افغانستان د دې سیمو صوبه داري ځانته واخلي، نو ځکه هغه وخت چې احمد شاه بابا د ده ته حال ولیده چې غزني او کابل او پښاور د پښتنو سیمې دي باید پښتنو ته پرېښولې سي ناصر خان انکار وکی.

مرحوم قاضي عطا الله خان لیکي چې:

«دا وخت د کابل په بالاحصار کې دوولس زره قزلباش چې نادرشاه د ځان سره راوستي وو، پراته وو. دا قزلباش په حقیقت کې د هغو اوونو کوقبانلو اولادوو، چې شاه اسمعیل سره (چې په ایران کې د صفوي خاندان د پادشاهانو باني و) شیعه مذهب قبول کړی وو، دې بادشاه صفوي له دنورو ایرانیانو نه د پېژندګلو دپاره سرې ټوپۍ ورکړې وې له دې کبله د صفوي نوم قزل باش یعنی د سروسرونو خاوندان مشهور سو، دا قزلباش ناصرخان د جنګ د پاره تیار کړل ـ او دنورو هزارو او داوزبکو د قوتونو د پورتې کولو کوشش ئې وکړ ـ مګر هزاره او اوزبکو د احمدشاه برخلاف د جنګ کولو نه انکار وکړو (۱)»

کابل او جلال آباد: احمدشاه بابا د خپل لښکر سره له غزنی څخه د کابل خواته وخوځید، ناصرخان مقابلې ته چمتو سو، خو د مقابلې توان ئې ونه سو د زلو د لاې د خپل باراوښې سره د پېښاور لورې ته وتښتید، او په کابل کې د مکوست د زیاتر و چارو واګې د «سید درکاهی کابلی» نومی سید په لاس کې پاته سولې، چې د «محمود الحسینی په عبارت» در آنوقت رائق و فائق مهمات کابل و ضابط خراجات جزو کل بود(۱)»

هغه سید چې د احمدشاه بابا له زوره خبرسو، نو له کابله درې مراوه د غزنی خواته د احمدشاه بابا مخې ته د هرکلې د پاره ورووت، او احمدشاه بابا هم د پرونازاوه، او بیانو د کابل خلګو په ډېره خوښې د احمدشاه بابا سره بیعت وکې.

احمد شاه بابا لس دوولس ورځې په کابل کې تیرې کړې او د کابل وسله تون (جبه خانه) ئې د تیموری با چهانو د وخت د هغو کلو وسلې پکښې وې پراتې سته، وسلې ئې پر خپلو جګړنو وویشلې، او چې د کابل د کلا او ښار ساتنه ئې «سید در کاهی کابلی» ته وسپاره له نو پخپله د جلال آباد خوا ته رهی سو څلویښت ورځې په جلال آباد کې و.

---

(۱) د پښتنو تاریخ - ۱/۱۰۳ مخ

(۱) تاریخ احمد شاهی - ۱/۸۶ مخ

خو څنګه چې ناصر خان بیا په پېښاور وکې غوښته د جنګ تیاري ونیسي، او لومړنی ئې د «هشنغر» د پښتنو پر یو نومیالي مشر عبد الصمد خان باندې چې د احمدشاه بابا د لښکرو د هر کلي د پاره ئې ځان چمتو کاوه یرغل وکې، عبد الصمد خان تر لږ مقاومت وروسته د جلال آباد خواته راغی او د لعلپورې په شاوخوا کې د احمدشاه بابا د سپه سالار سره یو ځای سو، خو ناصر خان د هغه پر خپلوان وو ژل — ځکه نو احمد شاه بابا چې په خپله د ننګرهار د پښتنو د مشرانو سره په ولسي مرکو اخته و، خپل سپه سالار سردار جانخان د هغه لښکر سره ترځان د مخه پېښاور ته ولېږه، ناصرخان مقاومت ونه سو کولای د اټک خواته وتښتېد، تر اټک پوري یووت او هرڅه کښتۍ چې هلته وې هغه ئې د ځانه سره د سیند پوري غاړې ته پوري یستلې، او د دې د پاره چې له هغو څخه د احمد شاه بابا لښکري استفاده ونه کړی تولې ئې ډوبې کړلې او پخپله «چچ هزاره» ته ولاړ.

د اوخت احمد شاه بابا هم پېښاور ته ورسېد او بې له کوم ماتعه یې د پېښاور پښتنو د هر کلي و وایه مرحوم قاضي عطا الله خان ليکي چې: «د ناصر خان دا یستلو نه پس بیا هغه هر ځای کې چې پښتانه قبائل اوسېدل هغه تولي علاقې ئې په خپل حکومت کې شاملې کړې، او تولو ته ئې هم هغه کور نۍ خود مختاري ورکړه چې کوم هغه نورو قبیلو ته د دې نه اول ورکړې وه، په دې شان په پښتنو کې هم احمد شاه اول هغه سړی و، چې ټول قام ئې د عزیزولۍ په رنګ کې متحد او متفق کړو — د دې کې شک نشته چې تر دې هم د پښتنو ځینو ځینو قبیلو د افغانستان په بعضي حصو او په هندوستان باندې هم حکومت کړی و، مګر هغه د پښتون قام د عزیزولۍ حکومت نه و، د قام ولۍ کوم خیال چې احمد شاه د پښتنو په تولو قبیلو کې سر اسر پیدا کړو، او په کومه طریقه چې هغه د پښتنو ټبې په یو مشترک خیال باندې را یوځای کړې هغه لا تر اوسه پوري بل یو پښتون بادشاه هم نه و کړی — د دې کې شک

نشته چې میرویس غلجي په پښتنو کې د آزادۍ او خود مختارۍ خیال پیدا کړی و مګر هغه په خپل ژوندون کې د ټولو پښتنو په را ټولولو کې او په یوه شترک نظام عمل باندې د هغوی په راجمع کولو کې کامیاب شوی نه وو ، مګر احمدشاه د راني د یوسفزو او هشتنګر د محمد زو او د مهمند ونه چې راو اخلې نو د سیستان د پښتې او کاکړو پښتنو پورې ټولې قبیلې په یو غرض او یو مقصد باندې را ټولې کړې غرض دا چې د پښتنو د دې خورو ورکو کډه کې په شپون کېدلو کې صرف یو هغه کامیاب شوی وو (۱) » په دې توګه احمد شاه بابا په پېښاور کې د هغه ځای دلیرې او نژدې پښتنو قبیلو مشران پر ځان راغونډ کړه او د هغو تکړه زلمیان ئې په خپل اردو کې واخیستل ، او لکه چې الفنستن لیکي : احمد شاه بابا یوسفزو ، تر کلا نو ، ګیګیانو ، انما نخېلو ، بر مهمند و ، د هشتنګر محمد زو ، خلیلو ، مهمند و ، اپریدو ، شینوارو ، او رکزو ، داود زو ، ختکو او بنګښو ته لا پر « دراني » وویل او هم دو مره مینه به ئې د هغوی سره کوله ، لکه څرنګه چې به ئې د خپلې قبیلې سره کوله (۲) له پېښاوره د اټک خواته د احمد شاه بابا د خوځېدو په باره کې دوه روایته دي یو د فیض محمد روایت دی چې لیکي : « احمد شاه بابا د پېښاور د چارو د سمون په ترڅ کې سردار جهانخان سپهسالار د کابلي لښکر سره په ناصرخان پسې د چچ هزاره خواته ولېږه ، هغه تر اټک ور پورې ووت او ناصرخان د لاهور خواته وتښتېد ، مال او منال ئې د احمد شاهي لښکر په لاس کښېوتل او سردار جهانخان په همدې اکتفا وکړه بېرته پېښاورته راغی او اعلیحضرت احمد شاه هم د هغو ولایاتو په نیولو اکتفا وکړه چې اعلیحضرت نادر شاه د هند له هېواده بېل کړي او په خپلو مقبوضه هېوادو پورې ئې نښلولي وو ، ټول ولایات ئې منظم کړه او په هر ځای کې سر یو اعتمادي سړی د څه لښکر سره کېښینا وه او په خپله د پاته اردو سره له پېښاوره کندهار ته رهي سو ، او دلیرو او نژدو چارو ترسمون وروسته په ۱۱۶۱ ه ق کال

---

(۱) (۲) د پښتنو تاریخ - ۱۰۳/۱ ، ۱۰۴ مخونه

له کندهاره دیرشو زرو چټکو سپرو او پلو سره د کابل او پیښاور له لاری بیا د لاهور خواته وخوځید (۱)»

ګویا د فیض محمد په قول لاهورته د احمد شاه بابا سفر له کندهار د دوهم سفر، خو بل روایت د محمود الحسینی د احمد شاه بابا د دربار د منشي روایت دی چې په خپل کتاب «تاریخ احمد شاهي» کې لیکي چې: «احمد شاه بابا (په همغه لومړی سفر کې) خپله زباتي بار او بنه د پیښاور په ښارکې پرېښوول او د همغه ځای د تو ما لیو خانانو او د خپلو زړورانو په خپل مقصد پسې رهی سو، په یوه شپه ئې دیرش فرسخه لاروو هله او سهار وختي ئې ځان د سیند غاړې ته ورساوه با خبره قراولان ئې د ګودر پلټلو د پاره وګمارل ځکه چې په همغو ورځو کې سیند طوفاني و، تو قراولان د سیند پرغاړه هری اړخ ته تیت سول، همغه و، چې لږ ګړی وروسته یوه قراول یو ځای ته ورسید چې سیند پر پنځو څانګو ویشلی سوی او اوبه ئې تیتي سوي او له طوفانه لوېدلي وې، دا خبر چې قراول احمد شاه بابا ته ور ووړ، همغه یو چټک سپور وګماره چې پر تاکلي ځای له سینده پوربوزي، همغه سپاره هم خپل آس او بوټه راچاوه او په ډېری آسانۍ ترسینده پورېووت خو احمد شاه بابا د احتیاط د پاره خو تنه نور سپاره همغه کارته وګمارل او هغوی هم د لومړی سپاره خبره تائید کړه نو احمد شاه بابا همغه یوه غیبي مرسته وبلله او خپل لښکر ته ئې د تېرېدو امر ورکی او ټول په آسانۍ د اټک ترسینده پوری وتل، خو په همدغه وخت

---

(۱) سراج التواریخ - ۱/ ۱۱ مخ

دده د عشقي کلام نمونې دادی:

چې دی زلفو لره ورکړ پيچ وتاب

زما زړه دی کړ مدام په اضطراب

شکر دادی چې له هری بلا خلاص شوم

چې بندی دی کړم د زلفو په تناب

اوس ژوندی شوم پخل ځان باندی پوهېږم

چې دی ذبح کړم د سترګو په قصاب

حاصل دادی چې دعشق په توره مړشی

نو به هلته له ژوند پوشی حساب

مرګ خو دادی چې په دې ژوند کې به ومری

په لاس ورشی دلوی ژوند در نایاب

که د عشق په خرابی دی ځان آباد کړ

عمارت به وی هرګزنه شی خراب

عشق د هر مرض دا رودی که پوهېږې

راشه نوش کړه له دې جامه می ناب

د عشق هر کلام شیرین دی تر شکرو

که داخل یې کړې د زړه د غوږ په باب

دبلبل په حال وقال کې سرد عشق دی

په عالم کې ځکه دی لکه آفتاب

«احراری» دې له دا خپله عقله خلاص کړ

چې ئې نوش کړل ستاد مینې مست شراب

کې د احمد شاه بابا تر لښکرو روسته یو تاجر د آسانو د ګلې او د پسو د رمې او نورو ډېرو قیمتو مالو سره د هغه سیند غاړې ته ورسېد، او چې د احمد شاه بابا د لښکر پوره بوتلل ئې ولیدل ده جرئت وکې او په سیند ورګډ سو، خو (د محمود الحسیني په قول) همغه په اوبو کې ډوب او د ټولو غارو یو او مال سره ډوبېدل وو، احمد شاه بابا چې د هغه د ځالګو څخه د پېښې پوښتنه وکړه هغو ورته وویل چې دا سیند په دې وخت کې تل طوفاني وي، او ستاسې د لښکر تر راتګ د مخه ئې هم ګودرونه درلود، او نه په دې وخت کې د هېڅ دې ګودر په یاد نه دی، خو ناڅاپه ئې په ناڅاپي توګه ګودر پیدا کې او چې ستاسې لښکر راپوري یو وخت بېرته طوفاني سو.

محمود الحسیني لیکي چې: «احمد شاه بابا د سیند تر پوري یو تورو ستم مخلص خان او بستان خان یو پاڅې دیوه لښکر په قراولۍ په ناصر خان پسې وګمارل او په خپله هم ور پسې وخوځېد، تو سوړي قراولان د غر بېزه په پراو کې په ناصر خان پسې ورسېدل د جګړې اور بل سو، خو ناصر خان د جګړې په ډګر کې د بر مقاومت ونه سو کولای خپله ماندینه چې د زبردست خان لور او د علي مردان خان لمسۍ وه او نور اولاد او اطفال او اموال ئې پرېښول (۱) او پخپله دا سیر یو ګڼ خان نایب او یو شمېر نورو ملګرو سره د جګړې له ډګره وتښتېد او په یوه ځنګله ننوتل او پټ سول او د احمد شاه بابا قراولو چې هر څو ولټول و ئې نه موندل، خو په پای کې ئې د تو سوړي زوی «خان بهادر» د هغه د نورو کوچنیانو او مالو سره په «حسن ابدال» کې د احمد شاه بابا حضور ته وړاندې سول، او اعلیحضرت احمد شاه بابا له حسن ابدال څخه د پېښاور خوا ته

---

(۱) ښاغلی غبار لیکي چې: «ناصر خان ماندینه لا هغه وخت د احمد شاه بابا د لښکر په لاس بندي کښېوتلې وه چې ناصر خان له پېښاوره د اټک خوا ته تښتېدلی وه (احمد شاه بابا – ۹۰ مخ)

راوګراوځيد بيا څه موده وروسته له پيښاوره د پنجاب خواته ولاړ(۱)»

دمحمودالحسيني له پورتني ليکني څخه ځرګنديږي چې احمد شاه بابا دناصرخان تر تيښتي وروسته کند هار ته نه دی تللی بلکه له پيښاوره پنجاب ته تللی دی.

د مرحوم قاضي عطاالله خان له ليکني څخه هم دا مطلب ښکار يږي چې ليکي:

«د پيښاور او داتک دا خيستونه پس هغه په خپل فوځ کی د پيښاور دعلاقې د پر پښتانه بهرتی کړل او په هندوستان باندی ئې دحملې کولو تياری وکړه -دچهچهه دا خيستونه پس احمد شاه په ۱۷۴۷ م کال د د سمبر په منځ کی د پيښاور نه دلاهور په طرف روان شو (۲)»

دلاهور وضعيت : په دغه وخت کی په لاهوراو نورپنجاب کی شهنوازخان والي و، دده اصلي نوم حيات الله خان او د پلار نوم ئې زکريا خان و، هغه وخت چې پلار ئې مړ سو دده مشرورور يحيی خان د پنجاب والي سو، خو ده په زور هغه دولايت له چوکی څخه پا څاوه او پخپله والي سو، او چې نادرشاه پرلاهور حمله وکړه ده دهغه اطاعت ومانه او نادر شاه هم ده ته د«شهنواز خان» خطاب ورکي او په شهنواز خان معروف سو، بيا د نادر شاه تر مړيني وروسته ئې بيرته د هند دګورګاني حکومت اطاعت ومانه، خو په زړه کی د دهلي له حکومته د پر ناراض و، نو ځکه ئې احمد شاه بابا ته د پنجاب خواته دورتګ بلنه ورکړه او د هند د حکومت پرخلاف ئې د مرستی وعده ورسره وکړه (۳) او احمد شاه بابا هم

---

(۱) تاريخ احمد شاهی- ۱/ ل-۸۹ مخ څخه تر ۹۷ مخ پوري.

(۱) د پښتو تاريخ - ۱/ ۱۰۴ مخ

(۳) دپښتنو تاريخ- ۱/ ۱۰۴ مخ

یو لیکلی ترون ورواستاوه (۱) خوشینګه چی له یوې خوا ناصرخان په د پر بد حال د لاهور حکومت ته پناه وروړه، چی له هغه ځایه بیا د هلی ته ولاړ اوله بلی خوادهند وزیر اعظم قمرالدین خان چی دشهنواز خان ماما هم و، د پر له خوشامندو او غوړه مالیو ډک خطو نه خپل خوریی ته ورولیږل او هغه ئې د احمد شاه بابا مخالفت ته پر غیرت را ووست او مقابلې ته ئې وپارا وه نو شهنواز خان پر خپله پخوانی بلنه پښیمانه سو او د احمد شاه بابا مخالفت ته ئې ملا و تړله.

له بل پلوه د ډهلی شهنشاه «محمد شاه» ملقب په «ابو الفتح ناصرالدین محمد شاه خجسته اختر پاد شاه غازی شاه جهان» چی له د پرشو کالو راهیسی ئې د هند دواکمنی واګی په لاس کې وې داحمدشاه بابا دورتګ له خبره د یروارخطا سو، اوخپل دربار دمشرانو سره تریوی میاشتی مشوري وروسته ئې د بابا غلی غبار دلیکنی په اساس ترسلو زرو زیات (۲) او دقاضی عطاالله خان په روایت د دو وسوو زرو (۳) او دمحمود الحسینی په قول نژدې د ځلورو سوو زرو سپرو او پلیو یولوی مجهز لښکر (۴) د خپل زوی شاهزاده احمد میرزا (پاشاهزاده احمدشاه) په مشری او د هندوستان دوزیر اعظم وزیر الممالک اعتمادالدوله قمرالدین خان په سپه سالاری، او د هند د توپ خانو ددا روغه او میرآتش (قوماندان) نواب ابو المنصور صفدر جنګ (یا منصور علی خان) اودسادات خان بخشی اودراجپوت دمهاراج سردار جی سنګه د زوی راجه ایشری سنګه، اود سرهند دحکمران جمال الدین تالپوری، اود پټیالی دوالی

---

(۱) سیر المتاخرین -۳/ ۸۶۱»

(۲) احمدشاه بابا — ۱۹۷ مخ

(۳) د پښتنو تاریخ — ۱ ر ۱۰۵

(۴) تاریخ احمد شاهي — ۱ ر ۱۰۱

سنګ جیت او د سید صلابت خان او نورو نومیا لیو امیرانو سره د لاهور خواته وخوځاوه .

د لاهور والی شهنواز خان چې د ډهلی د سلطنت په دې اقدام خبر سو ، ډېر و بیر یده او بیره ئې له دې جهته وه چې د ډهلی د لښکر په ورسیدو سره په لاهور کې د ده اقتدار ختمیده ځکه ئې نو د هند پاچا محمد شاه ته په دې مضمون عریضه و لیږله چې :

« د احمدشاه سره دومره زیات لښکر نسته او زما د لښکر و د ډیرو الی [له امله یقیناً هغه نه سی کولای چې د پنجاب په حدودو کې ګام کښیږدی او که د هغه لښکر تر اتک راپورې وزی زه د هغه د مدافعې له عهدې څخه په ډیره آسانی وتلای سم ، ځکه نو د پو دامې کار د پاره چې دا څوندی نوکران ئې کولای سی د با دشاه زاده راتګ لازم نه دی ، او بل دا چې او س د املک په ډېر زیار او کوشش و د ان سوی دی که دومره ډیری لښکري ورته راسی بیرته به ئې دورانی خواته مخه سی (۱) »

محمد شاه ته چې دا عریضه ورسیده له هغه هم د پنجاب چاری بیرته شهنواز ته وسپارلې او خپل زوی ته ئې احوال ور و لیږه چې په « سرهند » کې خپل لښکر تم کړی .

د سرهند والی علی محمد خان روهیله چې د پښتون قام سړی و ، او نه ئې غوښتله د خپل پښتون سشر احمد شاه بابا سره و جنګیږی نو د سرهند کلائې پریښوو له ، او ګورګانی فوجونو هغه خپل جنګی مرکز و ګرځاوه او هر څومره قالتو وسله چې ئې وه هغه ئې د سرهند په کلا کې خوندی کړه او پوزر سپاره او پلی ئې د هغې کلا د ساتنې د پاره وګمارل .

لاهور ته سفر : احمد شاه بابا په پښاور کې و روسته تر هغه چه د پېښاور د شاو خوا پښتنو ډیر زلمیان ئې په خپل لښکر کې واخستل نو د مخه تر هغه چې د لاهور خواته وخوځیږی پوه له عسکر ئې د ډیره جاتو او سند خواته ولیږل ، د هغه ځای خلکو په خپله خوښه د احمدشاه بابا

---

(۱) تاریخ احمد شاهی ۱ ر ۱۰۲ مخ .

اطاعت وسانه اوپه‌دې‌توگه دسند دسیند ښي غاړه هم داحمد شاه بابا د پاچهی په قلمرو کې شامله کړه سوه .

بیا نو احمد شاه بابا د ۱۷۴۷ م کال دد یسمبر د میا شتی په نیمایی کی له پښاوره د لاهور خواته وخوځید(۱) اودسند پرسیند ئې داټک په‌شاوخوا کی جسر جوړ کښی اوپرهغه پور یووت ، په‌دې ځای کې‌د یوسفز یو جنگیا لی زلمیان هم ور سره یو ځای سوه اوهم په‌دې ځای کی خبر سو، چی شهنواز خان پر خپله هغه بلنه چی‌احمد شاه بابا ته‌ئې ور کړې وه پښیمانه سوی دی ، خوشنکه چی‌احمدشاه بابا دلاهورعزم کړی‌و، دجهلم خواته پرسخ ولاړ ، درهتاس کلا ئې‌بې مقا ومته ونیوله ، اود(سو هدرې)په‌سیمه کی د«چناب» ترسیندپور یو وت، د ۱۱۶۱ هـ ق کال دمحرمی په‌اتلسمه چی‌د۱۷۴۸ م کال دجنوری‌اتمه کید له«شا هدرې»ته‌چی د«راوی»دسیند پرښی غاړه پرته‌ده ور سید.

احمد شاه بابا پرلارې‌دپنجاب دیری سیمی‌او کلی اوځایو نه لکه‌سیا لکوټ ، امن آباد، پسرور ، گجرات، وزیر آبادا و لاهور ته‌نژدې نو رځایونه ونیول‌او په هر ځای کی‌ئې خپل حاکم و تاکه .

شهنوا ز خان چی‌داحمد شاه بابا په‌ورتگ خبرسو، نودلاهور دښار سا تنی ا و استحکام ته‌ئې ملاوتړله اوپه‌دې چوړت کی و، چی‌احمدشاه بابا خودر نه توپخانه نه‌لری‌اودلاهور درنه‌توپخانه په‌آسانی کولای‌سی‌داحمد شاه بابا لښکر مغلوب کړی.

محمودالحسینی داحمدشاه‌بابادربار منشی لیکی:(شاه نوازخانا ز ودودمسعود جنود نا معدود باین دبدبه هیبت آمود که باعث تزلزل ارکان وجود او بودمتزلزل شده‌بدیدن‌موجودات‌لشکرخود پرداخته‌نود هزار سوارسوای‌پیاده های‌جرارو ودوا زده هزار عراده توپ‌آتش بار بحیطهٔ شمار درآورده و ا ز ا نجمله چها ر پنجهزا ر نفر را

---

(۱) د پښتنو تا ریخ — ۱ ر ۱۰۳ مخ

بمحافظت شهر گماشته وقدری توپ خانه وقور خانه نیز موافق ضرورت وذوسه هزار عراده توپ را دربروج وباره واطراف شهر پناه گذاشته دروب قلعه وحصار وکوچه های محلات را مسدود ساخت وخود باتمامی افواج وسامان از شهر برآمده وگذر های دریای راوي را که در یکفرسخی شهر واقع است بچیدن ادوات توپ خانه تکرک بارو نشانیدن مردان کار زار باقتضای رای سست وتقاضای اندیشهٔ نادرست راه عبور وطریق مرور بر روی مواکب منصور بسته (۱)

نو که دمحمود الحسيني دا پورتنی ليکنه مبالغه ونه گڼله سي گوياشهنواز - خا ن له نوی ز رو (۹۰۰۰۰) سپرو او زياتو پلیو او دد و والسو ز رو تو پو سره داحمد شاه بابا دلښکر دمخنوي دپاره چمتو سوی و ، خو سره له هغه هم احمدشاه بابا د « ر ا وی » دسیند پر غــا ړه د نــا څــا پی بر غل گو د وغا ر ه ، څو چی د۱۱۶۱ ه ق کال دمحرمي په شلمه چی د۱۷۴۸م کال دجنوری اسمه کيد له دسهارتر سپيدو چاودلو دمخه د پيشلمي پروخت پخپله احمدشاه بابا دلسوزرو چونږ لو سپرو سره ددشمن دلښکرترموقعيت څو کيلومتره کښته د« راوی »ترسيند پوري ووت اوپه ناڅاپی توگه دشمال له خوادلاهور پر ښار ورغی اود دشمن له اردو څخه نیم فرسخ ليری په شالامار باغ » کی ئی واړول ، خوبيا هم څنگه چی احمدشاه بابانه غوښته چی بيگناهو انسانانو وينی توی سی نوصابر شاه ملنگ ئی دشهنواز خان دپوهولواوهغه ته دنصيحت کولو دپا ره ورولیږ ه ، خو شهنواز خان سربيره پرهغه چی دصابر شاه ملنگ نصيحت ته ئی غوږ ونه نيو، هغه ملنگ ئی په سا حری ا وجا دوگری توسیتی

---

(۱) تا ریخ ا حمد شا هی — ۱ ر ۱۰۲ مخ .

کې او وئې واژه (۱) دی پېښې د احمدشاه بابا خېشم وپاراوه اود جنوری په یوو اسمه چې د مرسی دمیاشتې یوویشتمه کیدله احمدشاهي لښکرچې هغه پاته برخه ئې هم د «راوی» ترسیند راپور یوتلي او ورسره یوځای سوی ود لاهور د ښار خواته پر مخ لاړ، له هغې خو شهنوازخان لومړی «دقصور» پوپښتون سشر جمعه خان خشکی (۲) داحمد شاه بابامقابلې ته وگمار، ځنگه هغې رشتین پښتون و دخپلوتولو نظامی قو او او

(۱) دادمحمد الحسینی قول دی، خود «سیرالمتاخرین» مؤلف منشی غلام حسین خان طباطبائی بیالیکی چې: «هغه وخت چې احمدشاه بابا لا په پېښا و ر کې و، شاه صابر چې دابد الي پیراو معتقد الیه اود لاهور له پخوانیواو سید ونکو څخه و؛ یوازی لاهورته راغی اود مفتی عبدالله په کورکی کښته شو، شهنو ا ز خان چې دد ه له راتگه واوریدل نوآدینه بیگ خان اوراجه کوړامل ئې د پوښتنې د پاره ورولیږل، ده ورته وویل چې: «زماستا سې سره څه کارنسته، خوددی ښار چې ز ماد ز پیرید واو ودی ځای دی اوددی ښاردخلگواوحکاموچې ورسره اوسید لی یم حقو ق زماپرغاړه سته ځکه نووایم چې بدعهدی دخالق اومخلوق په وړاندی ښه کار نه دی او ستاسی تیغ داحمدابدالی دتیغ سره برابر نه دی، بوچاورته وویل: و لی صاحب! زمونږ تیغ له لرگی دی اود هغه تیغ له اوسپنې وییویل: په دواړه تیغونه له اوسپنې دی، خود هغه اقبال په عروج کې دی اوستاسی اقبال د هغه داقبال سرمسم نه دی» آدینه بیگ خان چې شهنواز خان ته داخبری وروړی هغه ورته دساحر نسبت و کی او بخشی ته ئې وسپاره چې نظر بند ئې وساتي - نواحمدابدالی ناچاره سوله پېښاوره را خوځید» (۳ توک ۸۶۲ مخ) او بیاد وژ لو په باب کې لیکی چې: «بخشی آمد شاهنوازخان احوال شاه صابر پرسید او عرض کرد که در غلو هنگا مه و ازد حا م فقیر ر ا کشتیم، شاه نو از خان بر آشفته سنگ فرش برداشته وسینه اوزد وگفت که الحان ر وی ملاقات هم نماند (۸۶۳ مخ)

(۲) ځینو بی نوم جالهی خان لیکلی دی مطالعه تاریخ افغا نستان، ۲-۲۴۷ مخ

تجهیزاتو سره بې له مقابلې داحمدشاه بابا خدمت ته ورغی او د هغه سره ملګری شو ، بیانو چې داحمدشاه بابا لښکر «درګاه شاه بلوال » او درګاه شاه حسین » ته ورسید دشمنو از خان له لوری خواجه عصمت الله خان بخشی د لسوزرو سپرو او پنځوزرو توپکوالو سره ، اولا چین بیګ »د پنځوزرو سپرو او یوزیات شمیر برق اندازو سره له خپلو تدافعی ځایو څخه داحمدشاه بابا مقابلې ته راووتل او دجګړې اورئې بل که ، سخته جګړه ونښته (۱) اود جګړې په پای کې شهنوازخان ماته وکړه اودشپې په پټه د ډهلې خوا ته وتښتید، او احمدشاه بابا د ۱۱۶۱ ه ق کال دمحرمې د دوه ویشتمې او د ۱۷۴۸ م کال دجنوری دوولسمې په سهار دلاهور کمپ و نیو ، اود لاهور ښار ا نو دلاهور ښار د دیر شو لکورو پو سره ده ته وسپاره ، او هم په لاهورکې یوزیات شمیر توپونه ، زنبورک ، بان، خزاني او نور دیرجنګی سامان داحمد شاهی لښکرپه لاس ورغلل اوداحمدشاهی لښکرفوجی طاقت نورهم زیات سو ، یوازی اسان او اوښان ئې دومره په غنیمت ونیول چې د ښتنو شپږزره پلې سپاره سول، او هم ئې بوه تیزه اودنقل ورتوپخانه په لاس کښیوتله . په همدې وخت داحمد شاه بابا له حضور عبدل خان ساکو د رانی د سرکار خاصه ناظر چې د « شفقت خانی »په خطاب سرلوړی و ، د«دیوان اعلی» په وزارت و ټاکل سو، او دده پر ځای ئې ورور مکن خان دسرکار دنظارت په خدمت سرلوړی سو (۲)

دسرهندخوا ته تګ : احمدشاه بابا دلاهو راداری چاری له سره تنظیم

---

(۱) ددی جګړې دحربې تاکتیک تفصیل د«مطالعه تاریخ افغان ازنګاه عسکری دد وهم توک په ۳۴۹، ۳۵۰ مخو کی لوستلای سی .

(۲) تاریخ احمدشاهی - ۱ / ۱۰۸ مخ

کړی اود «قصور» پښتون مشر «خیشکی جمعه خان» ئی دلاهوروالی و تاکه (۱) .
ښاغلی غبار لیکی چی احمدشاه بابا دپنجاب تر الحاق و روسته غوښته بیر ته افغانستان ته راوګرځی خود پنجات دساتنی دپاره مجبور سو د هند دولت پرخپل ځای کښینوی (۲)
ځکه نو احمد شاه بابا په لاهور کی تر پنځو هفتو تیرولو وروسته د ۱۱۶۱ ه کال دلوسړی خور په لوسړی ورځ اود ۱۷۴۸ م کال دفروری د میاشتی په ۱۹ د سر هند خواته رهی سو ، له هغی خوادفروری په ۲۵ دهلی داسپراتوری خور الوی لښکر چی په یوه روایت دوه سوه زره تنه او په او په بل روایت نژدی څلور سوه زره تنه وو ، د سر هند شاوخواته راورسید چی مشرئی شهزاده احمد اوسپه سالارئی و زیر اعظم قمر الدین خان و، اودوه سوه او پنځوس تنه نور امیران اوسالاران و رسره وو .
دهلی دامپراطوری دالوی لښکر دسرهند له سیند «ستلج» څخه دلو دهیانی دګودر پرځای د «ساچی واړی» دګودر پوریوتل او دلود هیانی ګودر ئې خوشی پر یښود اود وآبه خواته ئی مخه کړه .
ددی په مقابل کی احمدشاه باباد خپل لښکر حرکت او بدلول را بدلول په داسی هوښیارتیا سره تنظیمول چی دښمن ته دهغه د مقصد معلو مولو موقع په لاس نه ورتله ، اود «پهلور» په سیمه کی احمدشاه بابا خبرسو ، چی ګورګانی لښکر خپلی خزانی او ذرو ندبار دسرهند په کلا کی پری ښی او هم دلود هیانی ګود ر پرانیتی دی ، ځکه نو احمد شاه

---

(۱) ښاغلی جلالی په خپل کتاب «مطالعه تاریخ افغانستان از نګاه عسکری کی ددی مشر نوم «جالهی خان» لیکلی (۱/۳۵۰مخ) خو قاضی عطاالله خان پخپل کتاب «د پښتو تاریخ» کی «جمعه خان» راوړی دی (۱/۵۰۱ مخ) او بهادرشاه ظفر کاکاخیل بیا په «پښتانه د تاریخ په رڼا کی» جمعه خان خیشکی ضبط کړی دی (۸۶۱) مخ

(۲) احمد شاه بابا-۹۷ ۱ مخ .

بابا د ۱۱۶۱ ه کال دلومړی خورپه دوولسمه چی د ۱۷۴۸ م کال د مارچ لومړی نیټه کیدله د دښمن دلښکر دشاله خوابی له کوم مانع دلود هیانی پر گود ر چی د دښمن له عسکری چونی څخه دری فرسخه دستلج د سیند کښتنی غاړی ته لیری پر وت و ، پوریووت ،او څلور پړاوه (څلویښت میله) واټن ئی په یوه شپه وواهه او د همغه کال دلومړی خور ددیارلسمی او دمارچ ددوهمی ور ځی په سهار چی د د ښمن لښکر لا په په «ماچی واړه»

کی پر و ت و ، ناڅاپه پر سرهند حمله وکړه او د پرسرهند کلا ئی د ټولو خزانو او د لښکر د ټول دروند باره سره و نیوله .

دا ناڅاپی خبر چی د هند لښکرته ورسېد هغه لښکرټول سالاران ئی سره واړزول ، په تېره بیاچی وروسې دا خبر هم ورسېد چی اجمد شاه بابا له هغه ځایه پر دهلی هم یرغل کوی ، ځکه نو مجبورسو ل چی بیرته پرشاوگرځی او د ۱۱۶۱ ه ق کال دلو مړی خور په څوار لسمه د سرهندخو اته وخوځېدل ،او داحمد شا ه با با لښکر له چرنی څخه لس میله لیری د «مانو پوره» په کلی ئې واړول . احمد شاه بابا هم دخپل لښکر سره مخی ته ورووت ، او پنځه میله «مانو پوره» ته نژدې ئې تدافعی خند قونه وکیندل او دواړه لښکر جگړې ته چمتو و د رېد ل ، د هند لښکر پر پنځو بر خو ویشل سوه چی مخکښو قطعات دوزیر اعظم قمر الدین خان دمشر زوې میر معین الدین (مشهور په منوچی و روسته ئې دمعین لقب واخیست) تر قوماندې لاندی وو ،او دښی لاس سالاری دابوا لمنصور صفد ر جنگ وه ، او د لښکر ز ړه پخپله شهزاده ا حمد په لاس کی نیولی و، کینې لاس دجیپو ر راجا ایشری سنگهه اداره کاوه ، او شاه سلاتړوا کوال ناصر خا ن د پیښاور او کابل تښتېدلی والی و .

دا حمد شاه بابا دلښکر ښی خوا د سردار جهان خان سپه سالا ر په لا س کی وه ، او د کینې خوا واک دشاه پسند خان ا میر لښکر سره ، او پخپله احمدشاه بابا

لمر د اهسې شان ځلېږي ته ستا مخ؟

دا قمر راته ښکارېږي که ستا ؟مخ

چې بې عقل و صبر و خواب راځخه يووړ

دغه نور دی چې تابېږی که ستا مخ؟

چې دا هسې دلبرې دلربايي کړي

دا اوس نوی گل غوړېږی که ستا مخ

په شغلو چې يې روښان تمام عالم کړ

نه پوهېږم لمر راخېژي که ستا مخ

دا يوگل يې دی ليدلی په بوستان کې

زما زړه چې تل نولېږی که ستا مخ؟

دا آينه د سکندر که جام جم دی

چې احوال ترې معلومېږی که ستا مخ؟

دغه گل،سنبل،نرگس سره يوځای دی.

چې«احرار»ترې قربانېږی که ستا مخ؟

دده د شعر ديوان په ۱۳۳۱ ه ق کال په لوديانه کې چاپ سوی دی.

د ده د ژوند پېښو په باب کې دده زوی غلام احمد صاحبزاده يوه رساله د «تاريخ وصال»په نامه ليکلې چې په ۱۳۰۷ ه ش کال د لوديانې په «اصلاح» نومی مطبعه کې چاپ سوې . ده

مأخذونه: ۱- پښتانه شعرا- ۳/۸۹۹ مخ

۲- تاريخ وصال .

۱۰۱۴- احسن خان افغاني: د دری ژبې شاعر و،او د هند په شاهجهان آباد کې اوسېد.

مأخذونه: ۱- نين تذکری - د نثار احمد فاروقي تأليف -- ۱۸۵ مخ.

۲- د هند په تاريخ او مدنيت کې د افغانانو برخه - خطي - ۱۱٦ مخ.

دلوی قوماندان په توگه دلښکر په زړه او مرکز کې عمومي قومانده په لاس کې اخیستې وه ، او دمخکښو قطعاتو قوماندان محمد تقي خان شیرازی و؛ چې دمیرمنو د مخکښو قطعاتو سره مخامخ کېده ، او یوه برخه احتیاطي قوه ئې هم شاته ساتلې وه .

داحمد شاه بابا دلښکر سره او و مسوه زنبورک توپونه ، او اووه منځنی توپونه او یو درو ند توپ و .

سرېېره پر دې احمد شاه بابا څو تولی سپاره هم هرې خواته وگمارل چې دگورگانی پر لښکرو دا ذوقي لاری وتړی او دې تولیو ریښتیا هم ډیر فعالیت وکی او پرگورگانی لښکر وئې دا عاشې دنه ورسېدلو له املمه سخته تنگسیا راوستلې وه ، په تېره بیا د اوبو لبرو الی ډیر په تنگ کړی و و . په دې توگه نو تر یو ې هفتې پورې ددوارولښکروتر منځ محلي اوموضعي نښتې او جگړې جاري وې او دواړو خوا و خپل بریا لیتوب په دې گانه چې لویه جگړه وځنډ یږي او دمخالف لوري دزغم توان کمزوری سي ، څو چې د ۱۱۶۱ هق کال دلومړی خور په شلمه او د ۱۷۴۸ م کال دمارچ په نهمه داحمد شاه بابا په امر هغه یواز ینی دروند توپ چې د احمد شا هی لښکر سره و، پریووهلو ره وخېژول سو، او ددهلی دشهزاده او نوروسردارانو او سالارانو خېمې ئې په نښه کړې او ددې توپ ویشتل دوسره کاری وه چې د «اوده» دنواب ابوالمنصور صفدر جنگ په اصراروزیر قمر الدین خان مجبور سو د پښتنو پرلښکر باندی دلوی یرغل امرورکړی هغه و، چې دهمهغه کال دلومړی خور په دوه ویشتمه او دمارچ په یوه لسمه دجمعې دسهار پر اتو بجو دسپکو توپو په اوربل جگړه پیل سوه ، اوپه دې وخت کې دافغانی توپ لومړی گولی دهندد لښکرودلوی سپهسالار قمرالدین خان پرخیمه ولگېدله او هغه ئې سخت ټپی کی، او هغه خپل زوی معین الملک (مشهور په میرمنو) ته بوغ کړه او ورته و یویل : زما زویه! زه ختم سوم، او زما کار خلاص سو ، خو دشهنشاه کار لانمیگړی پروت

دی ـ لوټو هغه دمغه چې زما دمرګ خبر خپور سی، سمدستي پرآس سپور سه، او حمله وکړه ـ تر هغه وروسته نو بيا زما فکر کوه (۱) «دائي وو يل او مړ سو، د هغه زوی د دی دپسارره چې د پلار د مړينی خبر ئې خپور نه سی خپل پلار ئې په همغه خيمه کی ښخ کی او بيا نو د پلار پر پيل سپور سو او دحملي امر ئې ور کی .

دوزير اعظم قمرالدين خان په مړينه يوازې پنځه تنه خبرو، چې هغه مير منو دوزير زوی ، او شهزاده احمد ، او ابوالمنصور صفدر جنګ، او سعادت خان ذوالفقار جنګ او ناصر خان وو ، او نورلښکر ته ئې اعلان کړه چې دعمومي قوماندان سر خوږ يږی خپل زوی ئې پرخپل ځای ټاکلی دی ،خو د احمدشاه بابا د لښکر مشران دخپلو پټو وسيلو په واسطه دهغه په مړينه خبروو . په هر حال مير منو د عمومي قوماندان په حيث دسخکښو قطعو په مخ کی ښکاره سو، خود افغانی اردو سخکښو قوماندان محمد تقي خان شيرازی له ښي خوا دميرمنو پر قطعو راوګرځيداو پرله پسي حملي ئې پرو کړی ، احمد شاه بابا هم دهغه د ملاتړ د پاره بله د له جګړن وروليږله خوسره له هغه هم ميرمنو خپلی ليکی ټينګی کړي وي اومقاومت ئې کاوه . ښی پلوته چې د سردار جهان خان تر قوماندی لاندی و، د افغاني لښکر لوبه سو بنه په برخه سوه . دوی د هندی لښکر د کيڼی خوا په مقابل کی جنګيدل چې هغوی راجپوتان وو ، او مشرتوپ ئې د راجا ايشری سنګه پرغاړه و، راجپوتان دتوری په جګړه کی ډير تکړه وو ، اوپه دغه ورځ ئې ژيړ زعفرانی کالی اغوستي و ، چې دوی [د کسری بانا Kesribana په نامه يادول او معنا ئې داوه چې تروروستی سا پوری به جنګيږی يا به بری مومی اويا به په دی لاره کی مري، احمد شاه بابا ته دتوری په جګړه کی دهغوغښتلوالی معلوم و ،

---

(۱) دپښتنو تاريخ ـ ۱/ ۱۰۶ مخ

نو څکه د هغو سره په داسې ترتیب جګړه کوله چې هغو ته د توري د جګړې موقع په لاس ورنه سي، خپل قوت ئې چې دري زره سپاره او دوه سوه زنبورک وو، پر دوو ډلو وویشل: یوې ډلې به په ډېر شدت پر راجپوتانو حمله کوله او هغه به ئې تر خپل اور بل لاندې نیول، بیا به هغه ډله په ډېره تېزۍ پرشا تله او هغه بله هوسا ډلې به په هم هغه شدت پر دښمن یرغل کاوه، دا کار چې څو واره پر له پسې تکرار سو، د راجپوتانو اعصاب ئې ور خراب کړه او ډېر سر تیري ئې ووژل سول، افغانانو چې د راجپوتانو اعصاب خراب ولیدل نو له شي خوائي ناڅاپه یرغل پر وکی، د راجپوتانو د مشرانو یوشمېر زړه ور چې د ګېرې او د څان ژغورلو د پاره ئې د تېښتې لاره غوره کړه، و تښتېدل او نور راجپوتان هم په داسې تېزۍ پسې وتښتېدل چې ډېرې وسلې او درنې بنګي او بار و دونکي څاروي څینې پاته سول (۱)

احمد شاه بابا چې د راجپوتانو تېښته ولیده نو کیڼې خواته ئې مخه کړه او د میرمنو د خند قو د شا له خوائي حمله وکړه او د شهزاده احمد مرکزي لښکر ئې تر اور بل لاندې و نیو، او د لښکر و په زړه کې ئې لاس په لستوني سخته جګړه و نښته، د میر منو بدن په ګولې وتو پل سو، و رو رئې پر پښه تپ واخیست او د جالند ر دوآب پر فوجدار آدینه بیګ باندې دوه خاپه ګولې لګېدلې وه، جاني خان دارو غه او شهاب الدین اوزوي ئې بهروز خان او داسې نور د هندي لښکر ډېر افسران ووژل سول خو هم هغه وخت په افغاني لښکر کې یوه ډېره ناوړه پېښه واقع سوه او هغه دا وه چې د وي یوشمېر کراچې په راکټو (بان) باروې، او دا هغه راکټونه وه چې په لاهور کې د وي ته په لاس ور غلي وه، یوې کراچې ته داور پخر کې وغورځېد یورا کټ و چاودا و د هغه په اثر څو زرو راکټو اور واخیست و چاودل او د ي چاودونو په زرا فغاني سرتېري ووژل او د پاته سرتیر و زړونه ئې داسې سخت و دردول چې د دوی د پرمخ تګ چټکتیائي سسته کړه، او د بري په وخت

---

(۱) ملمعه تاریخ افغانستان از نگاه عسکری - ۲ / ۳۰۷ مخ

کې ئې له تیرې څخه لاسونه واخیستل . له بلې خوا د هندي لښکر د بنې خوا قوماندان ابوالمنصور صفدرجنګ د خپل اردو د زړه مرستې ته راورسید، او د ړنو توپو او اوو سوه زنبورکونې یو ځای پر افغاني لښکر چې زړونه ئې دردیدلي وو، سخت پر غل وکښی، د دې ناڅاپي پر غل هم د پښتنو پر سختګ وځنډاوه، ځکه نو احمدشاه بابا اراده وکړه چې سرهند ته وګرځي، نو د شپې چې ګړه له دواړو خواوو ځنډېده احمدشاه بابا سرهند ته مخه وکړه څو چې له یوې خوا خپل د روندبار او خزانې لاهور ته ولیږي او له بلې خوا د هندي لښکر سره د نوي مقابلې د پاره تدبیر وسنجوي. خو په دې وخت کې علي قلي خان از کي چې له ډیرې سودې راهیسې په هندوستان کې د توپ خانې د داروغه ابوالمنصور خان سره د شهزاده په کور کې آشنا او ملګری و، د احمدشاه بابا حضور ته ورغی او عرض ئې وکې «چې: د هند شاهزاده او نور امیران روغه غواړي او ستاسې د رضا غوښتو نکي دي او پردې خبره اقرار کوي چې د هندوستان موضوعه ممالک دې د نادر شاه د زمانې د دستور په شان ستاسې په سر کارپوري اړه ولري او هغه مالیې چې د لاهور د دار السلطنه د څلور و محالو څخه نادرشاه ته ورکولې کیدلې په همغه د ستور متعهد کیږي چې د معمول سره سم ئې ستاسې خزانه عامره ته ورکړي، او له دې ترون او میثاق څخه به نه ګرځي او نه به د وفاق له لویې لارې څخه اوړي»(۱) څنګه چې احمدشاه بابا ته معلومه وه چې شهزاده ته د وزیر اعظم قمرالدین خان وژل کیدلو او د راجا ایشري سنګه د راجپوتانو د سردار بیلیدلو، او له بلې خوا د هغه د پلار «محمدشاه» د ناروغۍ د زیاتیدلو خبر ډیر تشویش او اضطراب پیدا کړی، او ابوالمنصور صفدر جنګ غوښته چې ژر ډهلي ته ورسیږي څو چې د وزیر اعظم قمرالدین خان مقتول منصب واخلي نو ځکه احمد شاه بابا د خپل فطري خوی سره سم په دې موضوع کې د خپل لښکر د مشرانو او د دربار د غړو مشوره او سلا وغوښتله او د شهزاده احمد پورتنې تشویشونه ئې ورته

---

(۱) تاریخ احمدشاهی - ۱/۱۲۷ مخ

ځرګند کړه، ترڅو پوخبر واترووروسته د ابشکرمشرانو او ددربارغړو احمدشاه بابا ته دا مشوره ورکړه چې دروغې غوبښتنه وسنې، ځکه چې دوی پوهیدل که د هند شهزاده ته تشویشونه وه افغاني خواهم بې تشویشه نه وه، دوی احمدشاه بابا ته وویل چې : «د دولت صلاح اود وخت تقاضا داده چې . هندوستان تسخیربل وخت ته پریښوول سی، ځکه چې له بوې خواله خراسانه پرله پسې خبرونه را رسیږي چې دناد رشاه وراره علی قلی خان سراخیستی او پر هغه سیمه کی ئې لویه هنګامه جوړه کړې ده. اود کندهار دنیو لوا راده لري، او له بل پلوه د هند وستان هو اهم ورځ په ورځ تود یږي او ستاسی مزاج سره سمون نه خوري »

نو د دې دلایلو په موجب احمد شاه بابا د هند د شهزاده احمد د روغې غوښتنه ومنله او علی قلیخان ئې د دیرو شاهانه عنایتو سره رخصت کی ، او د دوا ړو پاچهیو ترمنځ د سند سیندویش او سرحد و منل سو(۱) او د واړی خواوی د خپلو سرکز په لور رهی سولې .

او احمدشا با با په لاهور کی تر لږ تم کیدو وروسته د ملتان او دیره جاتو او هزاره جات او بنګښو له لاری کابل ته وخوځید. پر لاری د ملتان کورګا نی حاکم « زاهد خان» ابدالی د ملی احسا ساتو په اغیزه کی د خپل زوی شجاع خان سره د احمدشاه بابا حضور ته راغی آسان ، اوبیان او نورسوغاتونه ئې د خپل اطاعت ور واندی کړه، احمد شاه با با هم هغه بیر ته د افغانستان د دولت له خوا د ملتان په حکومت وټاکه، چې وروسته ئې بیا زوی شجاع د احمدشاه بابا له خوا د پلار پرځای کښېنول سو(۲) د لاری بله دیادولوپیښه دا وه چې له اټک څخه د احمدشاه بابا د لښکر د پوریو تلو په وخت کی «شفقت خان» د سرکار خاصه وزیرځلن او بوتهوا چاوه او انتحارئې وکی د دې پیښې علت دا و ، احمدشاه بابا پر شفقت خان باندی د هغه د خیانتو په سبب په قهر

---

(۱) سراج التواریخ - ۱ / ۱۳ مخ

(۲) احمدشاه بابا - ۲۰۵ مخ او «رنجیت ظفر نامه» ۱۱۲ مخ

سوی و، او هغهٔ ئې د دولت له نوکرۍ څخه طرد او په حبس محکوم کړی و، او غوښته ئې چې د هغه وخت د پاره ئې متنبه کړي او بیا ئې بیرته وبخښي، خو له ده څخه تللوا روسو او لیوار خطاې ئې ځان ووژه (۱)

د پسرلي وخت و، چې احمدشاه بابا د پېښاور له لارې کابل ته راروان سو، خو په کابل کې «سیدد رکاهی کابلی» چې د احمدشاه بابا له خوا د کابل د کلا او ښار ساتنه ورسپارلې سوې وه په دې گمان چې گواکې احمدشاه بابا له کمزورۍ څخه له هندوستانه راگرځیدلی دی سر له اطاعته وغړاوه او د کابل د حصار و رونه ئې د احمدشاه بابا لښکر پرمخ وترل، خو د احمدشاه بابا لښکر د هغه سره مقاومت مات کې او د کابل په ښار او کلاور ننه وتل، او احمدشاه بابا پوه تولی شاهی سپاهیان په «سیدد رکاهی» پسې کړه چې بې له ځنډه ئې د آل او عیال سره له کابله د کندهار خواته وکوچاو او د کندهار په ښار کې ئې میشته کړي (۲)

په دې وخت احمدشاه بابا ته له پېښاوره احوال راورسید چې سردار جانخان چې د پېښاور خواته د ناصر خان د زوی «خان بهادر» سر کوټولوته گمار لې سوی و، د حضرت میان محمدعمر او د هغه د مریدانو په مرسته بریالی سوی او خان بهادر ئې د ملکرو سره نیولی دی.

دوهم سفر (۳) : له لاهور او پنجابه احمدشاه بابا ته راپور راورسید چې د

---

(۱) تاریخ احمد شاهی-۱-۱۲۹ مخ

(۲) تاریخ احمدشاهی - ۱/۱۳۲ مخ

(۳) د دې سفر د شروع کیدو په ځای کې اختلاف دی، د سراج التواریخ او احمدشاه بابا مؤلفان ئې له «کندهاره» بولي، خو د تاریخ احمدشاهی د مؤلف له لیکنې څخه داسې ښکاریږي چې احمدشاه بابا د مخه تر هغه چې لومړی سفر څخه له کابله کندهار ته ولاړ سي، له کابله بیرته لاهور ته تللی دی (تاریخ احمدشاهی -لومړی ټوک- ۱۳۳،۱۳۴ مخونه).

د ډهلي پاچا محمد شاه گورگاني د ۱۱۶۱ م کال د اپريل په پنځه ويشتمه مړ سو، او دهغه پرځای ئې زوی شهزاده احمد ميرزا « د احمد شاه گورگاني» په نامه پاچا سو، او هغه بيا نواب ابوالمنصور صفدرجنگ خپل وزير وټاکه، او معين الملک (مشهور په ميرمنو) ئې د پنجاب والي مکرر کی.

په را پورکی احمد شاه بابا ته دا هم ليکلي سوی و، چې معين الملک (ميرمنو) وروسته تر هغه چې لاهور ته راغی د هغه ځای په چارو کی ځان بيخي خپلواک او مطلق العنان گڼي او د پنجاب د هغو ځاور و سيمو (سيالکوټ، اورنگ آباد، گجرات او پسرور) د محصولاتو او ماليات و ورکولو څخه سرغړوی چې ورکول ئې د احمد شاه بابا سره تړون سوی و، ځکه نو احمد شاه بابا د ميرمنو د غوږو پيچلو د پاره بيا د پېښاور له لاري د لاهور نيت وکی، او په ۱۱۶۲ هق کال هغې خواته رهي سو، او د لاهور ښارته څلور فرسخه نژدې ئې وار ول.

ميرمنو چې د احمد شاه بابا په ورتګ خبر سو، نو د غفلت له خوبه پاڅېد او د مولوي عبدالله (چې د هغه ځای ناستو او مخورعالم و) او ځو نورو مخورو په لاس ئې د خپل عجز او صميميت مراتب او عريضه د احمد شاه بابا حضور ته ورانده کړه، او بيائې ټينګ تړون او تعهد وکی چې د پنجاب څلور نوموړې سيمې په افغانستان پوري مربوطې بولي او د هغو سيمو محاصل او ماليې به د نادر شاه د وخت د دستور سره سم فصل په فصل او کال په کال بې له ځنډه احمد شا هي خزانې ته ورکوی او له دې تړونه به هيڅکله نه اوړي.

دا عريضه ئې د هغو سيمو د يو کال ماليې او د ډېرو سوغاتو او تحفو سره احمد شا بابا ته ورانده کړه، ځکه چې احمد شاه بابا د عجز او عذر په مقابل ډېر په زړه نرم انسان و، او د ده لوړ همت د چا عجز او عذر ته په سختۍ جواب نه سوور کولای، نو ئې د ميرمنو د ننواتې مرکه ومنله او د هغه د سر کښي ترجرم ورتېرسو، او په خپله بيرته

دکابل خواته راوخوځیداوپه کابل کي ترڅوور ځوتیږولو وروسته کندهارته رهي سو(۱)
د کندهار پر لارد بلوڅو لوی مشر محبت خان له بلوچستانه داحمدشاه بابا حضورته راغی اود خپل تبرله خوائی د هغه اطاعت وما نه اوداحمدشاهی لښکر ملگری سو،

احمد شاه بابا هم هغه ډیر ونازاوه، او زیات خلعت او عزت ئی ورکی، اودځانه سره ئی کندهارته بوت، په کندهار کی هم محبت خان بلوڅ داحمد شاه باباسره دومره اخلاص او اطاعت او خدمت څرگند اوه چی د دربار نژدی غړی به و رته هیښ حیران پاته وو او هره ورځ به ئی دمحبت خان دښه ارادت او اخلاص خبری احمدشاه باباتـه کولی، خو احمدشاه بابا به ددوی خبروته سوسکی کیده، څوچی یوه ورځ ئی په یوه پټه او خصو صی جرگه کی خپلو د رباری مشرا نو ته و ویل چی : د محبت خان دا اخـلا ص د زړه نـه دی او پـه زړه کـی نـور څـه دی ، اوپه نژدی وخت کی به ئی بدنیت درته څرگند سی » نو د ربا ریانو ور ته و ویل : «چی داسی ده نوبایدددې بدی ونی ریښی لااوس له بېخه و یستلی سی »خو احمد شاه بابا جواب ورکی چی :«که څه هم ساته دده بدنیت څرگند دی خوتر د ده ترا قدام

---

(۱)په دی ځای کی فیض محمد په «سراج التواریخ »او مرحو م قاضی عطاالله خان «د پښتنو په تاریخ » او استاد غبارپه«احمدشاه بابا » کی د هغی ناوری پیښی یادونه کوی چی داحمدشاه بابا پرضد دمحبت خان، کدوخان نورمحمدخان سیرافغان او نوروله خوا منځ ته راغی وه، خوځنگه چی محمودالحسینی هغه پیښه داحمدشاه بابا دپاچهی په لومړیو ورځو کی لیکلی و، نودلته په دی کتاب کي هم دمحمودالحسیني په ترتیب هلته راوړه سوه.

۱

دمخه سزا ورکول عدالت نه دی(۱) ځکه ئې نومحبت خان ته د تول بلوچستان سرداری، وسپارله ، اوله کندهاره ئې بلوچستان ته ولیږه ،خو چې بلوچستان ته ورسید یاغې سو، لوړی ئې دکاکړانو مشران په مکراو دروغ خان ته وبلل ، غوښته ئې هغه مشران داحمدشاه بابا پر خلاف وپاروی،مګر ځکه چې هغوی د احمد شاه بابا پرضدونه پاریدل نوځینی ئې ووژل اوځینی ئې له وطنه وایستل او کورونه ئې وروران کړه ، دا خبرچې احمدشاه بابا ته راورسید دیوالښکر سره بلوچستان ته وخوځید ،دمحبت خان سلګری قایم خان بلوڅ اوملا حیات او نور مشران ئې د«مستنګ» په کلا کی کلا بند کړه اوترلږ مقابلی وروسته له هغی کلا څخه د«نارین کلا» ته وتښتیدل هلته ئې هم مقابله ونه سوه کولای قایم خان او ملا حیات د احمدشاه بابا له حضوره امان وغوښت تسلیم سول، احمد شاه بابا هم فرمان ورکی چې د بلوڅانو مشران دې دخپلو کډو سره کندهار ته وکوچیږی، محبت خان چې د کلات په کلا کی و، دقایم خان او ملاحیات د تسلیمید و په خبر وارخطا سو ، ځوتنه مخورسپین ږیری ئې د نزواته په توګه احمدشاه بابا ته ولیږل او هیله ئې وکړه چې دی وبخښی او هغه بند یان په مستنګ کی نیولی سوی دی ایله کړی، احمدشاه بابا هم هغه ننواته ومنله ، بندیان ئې ورایله کړه او محبت خان ئې په دی شرط وباخښه خپل عیال او کوچنیان دیر غمل

---

(۱) محمود الحسینی داحمدشاه بابا جواب په دامی عبارت لیکنی :« اګر چه فساد باطن آن فتنه کیش بردل الهام منزل ماسکشوف واشکار است لیکن در بارګاه ایزد علام الغیوب که دانای سرایر و عیوب است پیش از اقدام معصیت حکم بتعذیب احدی نمی رود وقلم کرام الکاتبین که ـ ـ ـ :وفیان دفترا عمال خلا یق اند پیش از صدور ګناه جاری بااستکتان سیات نمی شود ماګروه سلاطین که خلیفه آن بارګاه معدلت پناهیم چګونه ازین منهج قویم و صراط مستقیم تجاوز نمائیم و بدون ظهور آثار جرم وعصیان به عقوبت کسي حکم فرما ئیم » (۱۴۲ مخ)

په توګه کندهار ته واستوی ، محبت خان هغه شرط ومانه ، پخپله لاس تړلی د احمد شاه بابا حضور ته ورغی او له هغه ځایه د آل او عیال او بلوڅو د نورو مشرانو سره کندهار ته واستول سو (۱)

دریم سفر د خراسان خواته : احمدشاه باباچې د و همه پلاله پنجابه راوګرځیداو د هیواد له ختیځی خوائی لپاره ډېر زړه ډاډه سو ، نود هیواد لویدیځی خواته ئې مخ وګرځاوه چې د هیواد د هغې خوا سیاسي وحدت هم بشپړ کړي ، او تر هر څه د مخه ئې د هرات موضوع مخې ته ودریدله .

په هغه وخت کې د هرات حکومت د امیرخان توپچی باشي په لاس کې و ، او په مشهد کې هم د نادرشاه نمسی شاهرخ له ۱۱۶۱ هـ ق کال څخه د نادرشاه پر ځای متلي سوی و . که څه هم په ۱۱۶۳ هـ ق کال کې د هغه ځای د مشرانو د خود خواهۍ په اثر شاهرخ په ستر ګو ړوند او څه موده بندی کړه سو ، او د هغه پر ځای د امام رضا د روضې امام سید محمد توسی د «سلیمانشاه» په عنوان پر تخت کښینو ست ، خو هغه هم څو ورځې وروسته د یوسف علی خان جلایر له خوا چې د لشکر سالار و ، ړوند او بندي کړه سو ، او بیائې شاهرخ تش په نامه پاچا اعلان کی .

په داسې وخت کې نو احمدشاه بابا د هرات خواته د تګ نیت و کی ، خو تر تګ د مخه لکه څنګه چې د ده خوې و ، د خپل دربار د ولسی مشرانو سره د مشورې او سلا جرګه جوړه کړه ، ټولو احمد شاه بابا ته د تګ سلا او مشوره ورکړه او د ده هم د ولسی لښکر د راغونډیدلو فرمانونه د ولس مشرانو ته ولیږل چې د ۱۱۶۳ هـ ق کال تر نوروز د مخه د خپلو لښکرو سره کندهار ته راسي ، هغه و ، چې ټول ولسی مشران پر ټاکلی وخت د خپلو لښکرو سره د احمدشاه بابا خدمت ته حاضر سول . محمود الحسینی

---

(۱) تاریخ احمدشاهی - ۱ / له ۲۱۳ مخ څخه تر ۲۱۸ مخ پورې .

۱۰۱۵-احمد: دپښتو ژبې شاعر او د (۱۲۵۰ هـ) په شاو خوا کې ژوندی و. دده یوه چاربیته «دار مسترد» ختیز پوهاند نقل کړې ده چې دسربیت ئې دادی: لاندې تر آسمانه ولاړېږي اوبو دریاب دی ډو بېږي کل ښکښی لیدلی مې داباب دی او دپای بندئي دادی:

لا ندې تر آسمانه په یو باب کې داصیغه ده کتاب دی دابجد و قصه لیکه ښکښې د غه ده وهم پرې راقضیان چړ بس نحما قوره تېره ده احمده ! اسنا دشعر کله کړې چا جواب دی

لید لی می داباب دی.

پوره چار بیته ئې په «پښتانه شعراء» کې راغلې ده.

مأخذ: پښتانه شعرا-۲/ ۵۵۵ مخ

۱۰۱٦-احمد: دامیر عبد الرحمن خان دوختو ددري ژبې شاعر و، دهمدې امیر په ستاینه کې قصیده لرې چې دسربیت ئې دا دی: بلبل از نطق کشا عقد پذ کرداور باز در مدح شهنشاه عدالت گستر

مأخذ: دبناغلی میرغلام محمد غبار یادداښت

۱۰۱۷-احمد: پو هاند صدیق الله رښتین لیکي چې: «سجزن په یوه نسخه کې د دې سړی شعرونه هم لیدل سوي دي-د (۱۱۴۴ هـ) په حدود وکې داحمد په نامه موږ ته کوم چل شاعر معلوم نه دی، نوځکه دی داخون درویزه له پیروانو اوشاگر دانو څخه، ددوواسمې پېړی داولې برخې شاعر بولو-دی دجنت په بیان کې دقصیدې په رنگ یو اوږد شعر لری-»

دهغه شعرڅو بیته دادی:

جنت بې جو ږ کړه زیړ گلو نه
چې ښکښې نامتې د جنت جو نه
ککرې بې رو غې کړې د سروز رو
شهد وشکر دی ښکښې اورو نه

هغه منظر اود احمدشاه بابا نظر په يوه مثنوي کې داسې تمثيلوي:

که جنبيد شاه، کوا کب زجای
بهار است و نور روز عشرت فزای

بطبل و علم آمد از ماه و مهر
بميدان کين شهسوار سپهر

ز برق درخشان و برا رنده ميغ
فضای فلك شد پر از تير و تيغ

فرو ريخت تير تگرگ آسمان
ز قوس قزح کرده بر زه کمان

فرو کوفت رعد از افق کوس جنگ
بجنبش در آمد سپهر دو رنگ

بر آنم که من هم درين نو بهار
روانه شوم سوئی ايران ديار

نخستين ز اعدا بگيرم هرات
زنم کوس اقبال بر شش جهات

که آن ملك ميراث آبائی ماست
تصرف درو غير را کی رو است

ازان پس سوئی ارض اقدس روم
مشرف بفيض زيارت شوم

نشانم ز نو شاهرخ را بتخت
شود تادل دشمنان لخت لخت

کنم بر سرير ش دگر مستقل
که گردند بدخواه او منفعل

ز اعدای آتشه بر آرم دمار
نشانم فرو فتنهٔ روزگار

عطايش کنم جمله ايران زمين
بفرقش نهم تاج و بخشم نگين (۱)

د خوځيدو وخت د «توبره انداز» وخت چې اوربشې وريې وکړي و تاکل شو، څو چې د حاصلاتو پروخت په خراسان کې وي خود مخه ترخوځيدو د افغاني لښکرو هره ډله د خپل مشر سره د احمدشاه بابا په مخ کې تيره سوه او احمدشاه بابا د هغو چمتوالي وکوت او بيائې امر وکې چې هره ډله بايد د اتو مياشتو آذوقه د ځان سره واخلي لکه محمود الحسيني چې وايي:

وزان پس چنين يافت فرمان صدور
که لشکر کند ساز آن راه دور

بنوعی که تا هشت ماه درست
نبايد کسی راز کس توشه جست

---

(۱) تاريخ احمد شاهي ۱/۲۲٦ مخ

او بیائې د لښکر وهرې ډلې ته له دولتي خزانې څخه معاش ورکاوه، او هرڅه کلي وخت د پنځه ویشتو زروتنو جګړنو سره له کندهاره د هرات خوا ته وخوځید، او په کندهار کې ئې د حکومت واګې خپل وراره «لقمان خان» د «ذوالفقار خان» زوی ته وسپارلې چې څه موده د مخه له خراسانه کندهار ته راغلی و، او د احمدشاه بابا له خوا «مرصعه جیغه» او د «خان خانان» خطاب ورکړه سوی و (۱)

احمد شاه بابا چې د کندهار له ښاره ووت دری ورځې ئې د لښکر او نورو چارو د انتظام د پاره په لومړی پړاو «سنځری» کې تیری کړې او څارمه ورځ له هغه ځایه وکوچیده، برابر پر برابر اوښې منزل و واهه، خو چې فراه ته ورسید .

د هرات حاکم امیرخان پېش مست چې فراه ته د احمدشاه بابا په رسید وخبر سو د هرات د ښار دروازې ئې ټینګې وتړلې او د کلا پر دیوالو ئې د دفاع د پاره توپونه وخیژول، له شاهرخه ئې مرسته وغوښتله ، او د هغې مرستې په هیله ئې په کلا کې ځان کلابند کی .

هغه و، چې احمدشاه بابا د هرات ښار ته یو فرسخ نژدې د «سالان» پله ته ورسید، او امیر خان یو چمتو فوج د حسن علي خان اقشا ربیګلر بیګی په مشرۍ د خپلو ځینو نورو معتمد انو سره د احمدشاه بابا د لښکر مقابلې ته ولیږه، خو تر لږ جګړې وروسته حسن علیخان د خپل لښکر سره ماته وکړه او د احمد شاه بابا لښکرد

---

(۱) تاریخ احمدشاهی - ۱/۲۰۷، ۲۱۰، ۲۳ مخونه خو استاد غبار پخپل کتاب «احمدشاه بابا» کې د «لقمان خان» دا وکالت په ۱۱۶۱ ه کال هغه وخت بولي چې احمد شاه بابا د پنجاب په لومړي سفر تللی و . (۱۹۳ مخ)

مګر د محمود الحسیني له ایکنې څخه ښرګندیږي چې په ۱۱۶۱ ه کال «لقمان خان» په کندهار کې نه و، او د لقمان خان بې لارې کیدل او سر اخیستل هم په ۱۱۶۱ ه کې نه و بلکه په ۱۱۶۵ ه کال کې و، چې وروسته به یاسي .

هرات پر کلا شاوخوا را وگرځید، خو دمخه تر هغه چې پر کلا یا ندې د توپو گولی واوروي د خپل یو معتمد په لاس ئې امیرخان او د هغه ملگر و ته یو لیک ولیږه او په هغه کې ئې دوی ته داسي پیغام واستاوه چې: « نواب همایون ما را خیروفلاح حال کافهٔ انام خصوصاً اهل اسلام بهمه جهت مقصود ومنظور است ، متحصنان غفلت نشان اگر چشم بمآل کار کشوده ازدر التجا واستیمان درآیند و دست از تمرد و طغیان کوتاه ساخته ابواب عافیت برروی خود کشایند در یای عفو و مکرمت در جوش است وعنا یات بادشا هی با مراحم نامتناهی دوش بدوش . واگر شومی بخت زبون وطالع نگو ن ازدا یرهٔ معصیت برنیایند واصرار بر جهل و نافرمانی نمایند قهرو غضب بادشا هی را که نمونه سخط الهی است آماده و مهیا باشند (۱) »

خو امیرخان چې د کلا په دیوالو او د شاهرخ د کوسك په ورسیدو ډاډه و، د احمد شاه بابا پر نصیحت ئې غوږ و نه نیو ، او پر خپلې نافرمانی ټینګ سو، ځکه نو احمد شاه بابا تر څو راسو ورځو انتظار و روسته خپل لښکر ته دیرغل امرور کې او سخته جګړه شروع سوه د جزایر او زنبورك او توپو او توپکو گولی د پلی په شان د هرات پر کلا په اوریدو پیل سوې . امیرخان چې هر څه خطو نه د کمك د پاره د شاهرخ دربا رته ولیږل کمك و ر ته رانه رسید ، بلکه په خپله د شاهرخ خزانه داسې له زرو تشه وه چې شاهرخ مجبور سو هغه قیمت بها «طاوسی تخت» چې نادرشاه له هنده راوړی و ، مات او ټوټې ټوټې کړی ، نایا به جواهر ئې په شا هی جواهر خانه کې کښیږدي اوله طلاو څخه د اشر فیو سکه ووهی چې له هغو څخه خپل ارد و ته تنخاو رکړی .

له بلې خوا افغانی لښکرو د هرات د ښار د کلا تر برجانو لاندې نقبونه و کیندل او تر ځلورو میاشتو کلابندی و ر وسته ئې د کلا د ختیځې خوا دوه برجو نه و نړول او افغانی سرتیری پر کلا ورو ختل .

---

(۱) تاریخ احمدشاهی - ۲۳۵ مخ

امیرخان چې دا حال ولیدنو د نورو ملګرو سره د عفو غوښتنې په عریضه د احمد شاه بابا حضور ته ولیږله او امان ئې وغوښت چې محمود الحسیني د دوی عذر په داسې الفاظو ذکر کړیدی.

چو دیدند آن قوم بر گشته روز — که شد آتش اژدها پشه سوز
شتابان بدرگاه شا آمدند — امان جوی وزنهار خواه آمدند
کشادند لب را بتقصیر خویش — که ای لطف عامت ز اندازه بیش
بد بیها ز نابخردی کرده ایم — تو نیکی کن ار ما بدی کرده ایم
بد خو بجز نیک خوئي مکن — بجای بدی جز نکوئی مکن
مده تا توانی نکوئی ز دست — که آید بد از دست هر کس که هست

احمدشاه بابا هم د دوی عفو کړه او امیر خان په خپل لاس د هرات د ښار د کلا کلی احمدشاه بابا ته وړاندې کړې احمد شاه بابا هم هغه ونازاوه او په خلعت ئې سرلوړی کی (۱) او هرات ئې و نیو.

د هرات تر نیولو وروسته احمد شاه بابا پنځه زره سپاره د سردار جانخان پوپلزي په مشرۍ پر هغه لښکر باندې د شبخون په غرض واستاوه چې له خراسانه دا احمد- شاه بابا د لښکر سره د جګړې د پاره را خوځېدلی و، خو خراسانیانو په تربت جام«

(۱) دا د محمود الحسیني د احمد شاه بابا د دربار د منشي قول دی نور مؤرخین لیکي چې: احمد شاه بابا امیر خان اعدام کړئ (احمد شاه بابا - ۱۰۲ مخ د غبار لیکنه) او یا په جګړه کې وو وژل شو (سراج التواریخ - ۱ ز ۱۳ مخ د پښتنو تاریخ - ۱ ز ۱۰۷ مخ) خو محمود الحسیني، نه یوازې د امیرخان د وژنې په باب کې څه نه لیکي بلکه په وروسته پېښو کې د خراسان د یو فعال سپه سالار په توګه ئې د اشرف الوزراء شاه ولي خان په اړخ کې یادوي (د تاریخ احمد شاهي د لومړي ټوک ۲۹۸، ۲۹۹، ۳۰۱ مخو ته دې رجوع وشي)

کي وارويدل چې د هرات ښار له لاسه وتلي او امير خان و ژلي سوی دی نو ځکه له همغه ځا يه بېر ته وگرځېدل، يو ازې دلښکرسا قه ئې دسردار جانخان دلښکر په لاس ورغله هغه ئې واو تړله او بېرته هرات ته راو گر ځيد .

په دې وخت کې دترکستان دخلگو هغه عريضه چې دميمنې دحاکم حاجي بې او دبلخ دمخورو او آق سقا لانو په لاس داحمد شاه بابا حضور ته ور ا ندې سوې وه او په هغه کې درحيم خان بخا رائي اتاليق ترکستان دظلم او تيری له لاسه عرض سوی و، اواحمد شاه بابا د هرات دښار تر نيولو پورې ځنله ولې وه بيا دتر کستان دمشرانو له خوا احمد شاه بابا ته وړاندې سوه اوهيله ئې وکړه چې احمد شاه بابا دې خپل يو باوری سردار ديو لښکر په مشرې د دوی سره ترکستان ته ولېږی چې د هغه ځا ی دخلگو له سره د ظلم او ستم لاسونه لېری کړی‌اود هغه ځای دا شرارو او سر کښا نو سر و نه و کوتې .

احمد شاه بابا هم د دوی عرض واروید او د دوی هيله ئې و منله ، نو سوړی حا جي بې ته ئې د«خانی» لقب‌او دبلخ دوا ليگرې رتبه او د ترکستان دمالياتو صاحب اختياری ورکړه اوعطاالله خان ترکمان ئې دهغو ولا يا تو په‌سپه‌سالاری سر لوړی کې اودځان له‌خوائې مخلص خان درانه پوپلزی‌له يوی‌دلې رکابي او او قز لباشي فوج سره وتاکه اولارښوونه ئې‌ورته وکړه چې دهغو ولايتودا شرا رو مخه ونيسي او مفسدانو ته سزا ورکړی اومتمردان له‌منځه يوسي او د هغو سيمو مفصل حالات دې‌داحمدشاه باباحضو رته راولېږی، په‌دې‌توگه‌دتر کستان‌مشران دمخلص خان سره رخصت سول اودتر کستان خواته وخو ځېدل .

دمشهد خوا ته هڅه : دترکستان دمشرانو سره دمخلص خان تر لېږ لو وروسته‌احمد شاه با باته‌دخو اف دحاکم اسماعيل خان دکومک غوښتلو هيله وړاندې‌سوه چې په«قعلهٔ رود» کې دشاهرخي عسکرو له‌خوا کلابند و، احمدشاه‌باباهم د هغه هيله‌ومنله او انزل‌خان پوپلزی ئې دخه‌جگړنوسره‌دخو اف‌خواته‌ولېږه، اوخو اف

ته د ثغه په رسیدو شاهرخي عسکر تیت او پرک شول، او اسماعیل خان د ثغه په مرسته له کلابندی څخه خلاص سو، او د ازل خان سره یوځای په شاهرخي عسکرو ئې د «تربت حیدریه» پر لوري ور ځغلېدل، خو د تربت حیدریه خلکو شاهرخ ته د تم کېدو موقع ورنه کړه او شاهرخ د خپل تیت او پرک ابېکر سره په ډېر زحمت ځان مشهد ته ورساو او بیوه ورځ وروسته د کلات د کلا خوا ته چې دده تابوي وه، سره سم ځان د شاهرخ ته ورسوی او ثغه ته د احمد شاه بابا له خوا هدایت ورکړی، و لاو. ازل خان غوښتنه چې د احمدشاه بابا له هدایت خو شاهرخ د خپلو امیرانو د لاسو ګوډاګی سوی و، او هغوی د خپلو اغراضو د پاره په ده لوبې کولې.

دا وخت احمد شاه بابا د هرات د حکومت واګې «درویش علي خان هزاره» ته وسپارلې او په خپله د مشهد خوا ته د زیارت په نیت رهي سو. مشهد ته چې ورسېد د ثغه ځای امیرانو دا فکر وکښی چې د مشهد ښار نیسي نو ځکه د ښار دروازې ورته وتړلې او جګړې ته چمتو شول.

احمدشاه بابا د ښار لویدیځې خوا ته یو فرسخ لیرې د «کوه سنګین» سر ته و اړول، او د شاهرخ په نامه ئې داسې لیک ورولېږه چې: «آمدن نواب همایون ما بارض اقدس محض بشوق وآرزوی زیارت آستانه مقدسه منورهٔ عرش درجه حضرت امام رضا علیه التحیه والثنا وتجدید رونق دولت و سلطنت آن نتیجه سلاطین عظام اتفاق شده آن غرهٔ ناصیه هوشمندی بحرف وصوت امرای سخن تراش ومصاحبان تنک قماش چرا سالک مسالک مغایرت گردیده وطریق بیگانگی و مباینت گزیده اند؟ می باید تسویلات ارباب غرض را گوش ننموده ابواب محبت ویکدلی کشوده خاطر شوق ماثر ما را بملاقات خود مبتهج ومسرور سازند تا بکمال سرور وحضور بسعادت زیارت روضه علیه رضویه مشرف شده وآن والاجاه را بر تخت سلطنت تمکن داده بسمتی که رای صواب نما اقتضا فرماید متوجه شویم ـــ بصوبها رفاه خلایق وخیر تمت

فرخنده بخت آ نکه بسمع رضا شنید (۱) »

په همدې مضمون ئې نورليکونه دميرزا امين کلانتر اوميرزا ابراهيم دآستانه متولي اودمشهد دښارنورومخوروته وليږل ، خو څنګه چې شاهرخ په سترګو ړوندو ، اوځان واك ئې نه درلود ، اونورمخور هم په خپلو غرضو کې ډوب وو ، نودهغو دوستانه ليکونوجواب ئې دتوپو اوتوپکو په ټکانو احمدشاه بابا ته ورکې ، احمد شاه بابا هم مجبور سو ، چې دتوپو جواب په توپو ورکړي اوجګړې ته چمتو سي . جګړه دونښته ، او څنګه چې احمدشاه بابا ته څرګنده سوه چې ښارته له « کوناباده » د کردانو د مشر « جعفر خان » له خوا سرسته رارسيږي نو ځکه ئې ينځه شپږ زره جګړن د کو نا باد کلي ته وليږل ، جعفرخان له کلا څخه راووت په جګړه ئې لاس پورې کې ، خو د مقابلې توان ئې ونه درلود وتښتيد اود کوناباد کلاد احمدشاهي لښکر په لاس کښيوتله اوله کردانو څخه ئې دوه زره نيزې اونور سامان لاس ته وروغلل او بيرته د احمد شاه بابا دلښکرسره يو ځای سول .

دمشهد دښار کلابندې او جګړه څلو يښت ورځې اوږده سوه . لوی اختر نژدې سو ، اودمشهد دښار دخلګو زارې او کوکارې داحمدشاه بابا غوږ وته ورسيدلې ، اوهغه ستراوزړه سواند انسان نورونه غوښته چې دلوی اختر په شپو کې د پسو پر ځای دمشهد انسانان قرباني سي نود عرفې په شپه ئې له جنګه لاس واخيست ، اود اختر ترلمانځه وروسته دخبوشان خواته رهی سو ، اودمشهد دښار نيول ئې بل وخت ته پريښوول . دخبوشان خلګو چې داحمدشاه بابا دورتګ خبر وارويد زياتره له ښاره وتښتيدل يوازې ښځې او عاجز خلك په ښار کې پاته سول ، نو داحمد شاه بابا لوړ همت اوپښتنوالي اجازه ورنه کړه چې هغوښځو اوعاجزو خلګو ته ضررورسيږي ، دهغو ښار الحاج محمدحسين ئې چې نوروسپين ږيروسره په ننواته راغلی و ښه ونازاوه او

---

(۱) تاريخ احمد شاهي -۱/۲۷۹مخ .

شاهانه مهربانی ئې ورسره وکړه ،او ترهغه ځای دنیشاپور خواته ورتیرسو . دنیشاپور کلا ډیره ټینګه وه، اوشاوخوا ئې ژورخندقونه درلودل او دحکومت واګی ئې دحاجی سیف الدین خان اود هغه دورار ه عباس قلی خان بیات په لاس کی وی، هغوی د کلا ورونه د احمدشاه بابا پرمخ وتړل او مقابلی ته چمتو سول .

احمدشاه بابا هم خپل لښکر پر کلاشاوخوار او ګرځول او توپو نه ئې ور ته سم کړل چګړه پیل سوه او دښار د کلا پر او سیدونکو ژوند تریخ سو، نو دنیشاپور مشرانو په دی الفاظو له احمدشاه بابا څخه دعفو غوښتنه وکړه چی: «ماګروه مساکین تاب مجاد له با بندګان درګاه سپهر ترین نداریم اما بسبب خوف که از سطوت و عظمت خاقان ممالک ستان بر ما مستولی شده است قدم از در قلعه بیرون نمی ګذاریم استدعاآنکه یکی از سر داران درانی بقلعه آمده باعث تسلی ورفع پریشانی ګردد، تاعباسقلیخان وحاجی سیف الدین خان باطمینان خاطر عازم تقبیل آستان آفتاب مظاهر شوند (۱) »

احمد شاه بابا د دوی غوښتنه ومنله او کریم خان درانی چاوش باشی ئې کلا ته ورولیږی هغه چی کلا ته ورورسیدنو حاجی سیف الدین بیات چی ډیر مکار او حیله ګر سړی و عباس قلی خان ته وویل چی: «من مدتها در خدمت پادشاهان بوده وعمرخود را در کار های دنیوی صرف نموده ام روزګار ها بعیش و کامرانی ګزرانده وآرزوی در دل و هوس در خاطرم نمانده است توکل بخدا کرده پیش پادشاه میروم اګر بتدابیری که مرکوز ضمیرمن است توانستم مزاج اشرف اعلی را برسر ملایمت آورده واین ابرآتشبار غضب را از سروا کرد مقضی المرام بازمی آیم و بسعی خیر نیکنامی درمیان خلایق حاصل می نمایم . والاتو درمیان قلعه پای ثبات افشرده قلعه را زینهار از دست ندهی و چیزی را که من از راه ظاهر داری ګفته یا نوشته بفرستم هرګز ګوش برآن ننهی (۲)

---

(۱) تاریخ احمدشاهی -۱/ ۲۹۶ مخ .

(۲) تاریخ احمدشاهی - ۱ / ۲۹۷ مخ

هغه و، چې کریم خان درانی دېرغمل په توګه دعباس قلي خان سره په کلا کې پاته سو او حاجي سیف الدین خان بیات دڅېل دوره اوفریب سره د احمدشاه بابا حضورته راغی ، احمدشاه بابا هغه عفو کې ، ډېر خلعتونه او بخششونه ئې ورکړه .

په دې وخت کې احمدشاه بابا ، اشرف الوزرا شاولي خان بامیزی د دیوان اعلی کشکچي باشي د امیرخان میش مست سره چې پخواد هرات حاکم و ، اودهرات ترنیولو وروسته داحمدشاه بابا له خوا دخراسان دټولو سیمو سپه سالار ټاکلی سوی و ، دسبزوار خواته ولیږل چې هغه ښار ونیسي ، هغه دواړه هم ولاړل ، سبزوار ئې ونیو اودهغه ځای دخلکو سره ئې ډېر ښه رویه څرګنده کړه او ځو ورځې نورهم هلته پاته سول .

په نیشاپور کې چې سخت ژمی پیل سوی و، اوبې سابقې واوره اوریدله حاجي سیف الدین خان په مکر او حیله غوښته چې د احمد شاه بابا حمله وځنډ وي څو چې د احمد شاهي لښکر د ېیر ته تګ لارې بنې وتړلی سي ، نو ئې احمد شاه بابا ته پیشنهاد وکې چې هوا ډېره سړه ده ، او واوره هم سخته اوریږي نو ښه به داوي چې عباس قلي خان ته حال ورولیږوچې دنیشاپور نیمه کلا ستا سې دلښکر د اوسیدو دپاره تشه کړي ، نو دژمې ځلې چې تیرې سي بیا به پخپلو فتوحاتو لاس پورې کې ، له بلې خوائې په پټه عباس قلي خان ته حال لیږه چې :
«هرڅه چې زما له خوا حال درځي هغه ټول له ظاهرداری ده اعتبار ورمه په کوه او پام کوه چې کلا خالي نه کړې او ښې ټینګې کړه چې د پاچا لښکر به دیخني له زیاتوالي اود آذوقې له لږوالي له منځه ولاړسي »

په دې توګه ډېرې ورځې تیرې سوې اود حاجي د پیغامو به هیڅ اثرونه ښکاریده څو چې احمدشاه بابا دحاجي سیف الدین خان په دوره او مکر وپوهیده، شاولي خان او امیر خان ئې له سبزواره را وغوښتل اولښکرئې دنیشاپور د کلاد اوسیدونکو سرکوټلو ته وګماره ، حمله په ډېر شدت پیل سوه اود کلا دختیځې خوا څو برجونه ونړول سول ، افغاني سرتیري پر برجو ورو ختل دښار په کوڅو او بازار وکې ئې په یرغل لاس پورې کې ، او دنیشاپور دښار پر خلکو ئې دقیامت ورځ وروستله ، څو چې دنیشاپور سپین ږیرو

او روحانیونو قرآنونه پرسر نیولی له احمدشاه بابا د عفو په غوښتو سره او د کلا د خالی کولو په باب کې ئې مهلت وغوښت . احمدشاه بابا چې د هغو سپین ږیرو او روحانیونو ننواتی او د خلکو بلغا کې فارویدلې زړه ئې پروسو، او لښکر ئې له یرغل څخه منع کې ، په دې وخت کې اشرف الوزرا شاولی خان او امیرخان سپه سالار هم له سبزواره راورسیدل ، خو څنګه چې خوراډیر یخ و، او واوره هم په ډیر شدت اوریده نو احمد شاه بابا د دې د پاره چې له یوې خوا ئې لښکر د ډیر یخ او واورو له امله هلاک نه سي او له بل پلوه د ده مخالفین د ده د لښکر لاری د افغانستان خواته ونه تړي او په منځ کې ئې ګیر نه کړي نو دائې بهه وبلله چې ژمی په تودو سیمو کې تیر کړي او د خراسان د چارو سمون بل وخت ته پرېږدی ځکه نو له نیشاپور څخه د کندهار خواته راوکوچید، او حاجی سیف الدین خان ئې د هغه د دروه او مکر او د رواغو په سبب په نیشاپور کې پرې نه ښود، او دخان سره ئې په خپل لښکر کې وساته.

په دې وخت کې د مخلص خان درانی له خوا له ترکستانه لیک راورسید چې هغه د بلخ او اند خوی او شبرغان ولایات نیولی او د احمد شاهی دولت سره ئې یو ځای کړي دي. احمد شاه بابا کندهار ته راورسید، خو پرلاری د ډیر یخ او طوفانی واوری اوریدو له امله د سړاو سال ډیر زیان او تاوان ورورسید، زیاتره دراته توپونه او ساماونه ئې چې راوړل ئې مشکل وو، پرلاری په کاریزو کې واچول ، او د سراج التواریخ د لیکنې په اساس په «کافر کلا» کې (چې اوس ئې اسلام کلا بولی) ساړه دومره زیات او شدید سوه چې د احمد شاه بابا د لښکر اته زره تنه له یخه مړه سول، او ځینې هم د «کوهسان» خواته تر هریرود پورې یو تلو په حال کې یخ ووژل، او پاته کسانو د اوښانو نسونه څیرل او په هغو ننوتل او چې هغه نسونه به ساړه سول، نو د نورو اوښانو نسونه به ئې څیری کړه او په دې ډول ئې ځانونه له

زلمی یه واړه تول د پرش کلن وی

جونې به کمې تل شل کلونه

جونه به ناستې پر زر لیچووی

ځنګو نه اینې پر با اپښتونه

نه به زړې شي نه بد بد رنګه

هسې به تل وی دجنت جونه

جنت ګلزار دی جونه بلبلې

زلمی توتیان دی پر چغار ونه

«احمده» زاړه دیدار یې غواړه

دیدار بهتر دی تر جنتونه

مأخذ: دپښتو دادبیاتو تاریخ ۳۳۳ مخ

۱۰۱۸-احمد ابو احمد جوزجاني: د موسی جوزجاني زوی د خپل وخت محدث و، چې دعبد العزیز له زوی سوید څخه ئې روایت کړی او بیا له ده څخه ده ډېرو خلګو روایت کاوه.

مأخذ: معجم البلدان - ۳/۱۶۷ مخ

۱۰۱۹-احمد ابو بکر پوشنګی: دمحمد زوی، د اسماعیل نسفی، دمحمد کرمسی، د ابراهیم کوسی او دمسلم بن بشار کودی دخپل وخت فاضل امام او متلی فقیه او نومیالی محدث و.

فقه ئې ابو سری په هرات کې پرابی بکر شاشی او بیا پر ابی المظفر سمعانی لوستلې وه، او حدیثونه ئې په هرات کې دعلی شاشی له زوی ابا بکر محمد، او د علی عنبری له زوی ابا عبدالله محمد څخه، او په مرو کې له ابا المظفر سمعانی او دحسین له زوی ابا نصر اسماعیل، او داحمد له زوی ابا الفرج عبدالرحمن سرخسی، او دمحمد له زوی ابا القاسم اسماعیل زند قانی څخه، او په سرخس کې دمحمد له

سړ يني څخه وژ غورل (۱)

څلرم سفر د پنجاب خوا ته: احمد شاه بابا د ۱۱۶۳ ه ق کال دژمي په پاي کي کندهارته راورسيد او په همدې وخت کي له پنجابه ورته خبرراورسيد چي دلاهور صوبه دار معين الملک (مشهور په ميرمنو) د پرلښکرچمتو کړي، ډير توپونه ئې يو ځاي کړي او ډيرې خزانې ئې د کي کړي دي او غواړي چي داحمدشاهي دولت له اطاعته سرو غړوي، اود احمد شاهي دولت هغه استازي ئې ځندولي دي چي د ماليود اخيستلود پاره ورغلي دي، او د ماليو په ورکولو کي تعلل کوي، ځکه نواحمد شاه بابا د ۱۱۶۴ ه ق کال په پسرلي کي له کندهاره د کابل خواته وخوځيد، دوې ئې په کابل کي تير کې، او بيا له دې ځايه پيښاورته ولاړ، څو ورځي چي ئې په پيښاور کي تيرې کړې، نو له هغه ځايه ئې سردار جا نخان د يو څه لښکر سره د پنجاب خواته وليږه، او پخپله درې ورځي وروسته ورپسې ر هی سو، تر اټک پورې ووت اودگجرات امن اباد ته ورسيد، ميرمنو چي داحمد شاه بابا دورتګ خبروارويد، نو دسلوزرو نيزه لرونکو سپرو اودوسو و زروتو پکوالوپليواوډوو زرو توپو، اوزښورکو او نورو اور غور ځوونکو جنګي آلا تو سره دلاهور له ښاره راووت اوله ښار څخه يو فرسخ ليرې په «شاهدره» کي کښېنته سو، هلته ئې دګجرات او دګجرات د شاو خوا سيمو خلګ دتيښتي په حال کي وليدل، دتيښتي سبب ئې وپوښته، هغوورته وويل چي: «احمدشاه ګجرات ته راورسيد» ميرمنو باور ونه کي، اوو يې ويل چي: «ماته نن زما جاسوسانو داتګ له سيند څخه د هغه د راپو ر يو تلو خبر راکي، ګجرات چيرې او اټګ چيرې؟ د ير سره ليرې دي، تا سې درواغ وا يي (۲)» شپه ئې په همدې وسواس تيره سوه، سهار وختي ناڅا په سر دار جانخان د پنځو شپږو زرو سپرو سره دسير منو دلښکر پر يوه

---

(۱) سراج التواريخ - ۱/ ۱۵ مخ

(۲) تاريخ احمد شا هي - ۱ / ۳۰۶ مخ

ځنله‌یرغل وروور، ځه‌ئې ووژل ،ځه ئې تېښتې کړه اوځه ئې دځان سره بندیان بوتلل،
سېرمنوچې خبرسو ، نوپه‌وسوچې قرار یا نورشتیاویل، اود کوړامل په‌مشری‌ئې شل زره
سپاره په افغانی‌سپر ویسی ولېږل، خودافغانی سپروهیڅ پته ئې ونه موندله، د ساز دیگر
پروخت‌بیا د «شاه دوله» دپله‌سره پښتنودسیر منوله‌لښکرځخه ترلږ جنګ وروسته پوځو
اسان‌په‌برستنه‌بوتلل. په‌دی‌توګه یکه‌په‌حملی اوجګړی ترڅو رڅو پوری‌جاری وي
څوچې‌سیر منو هغه مولوی‌عبد الله‌چې لومړی وارئې په‌ننواتورا لېږلی‌و بیاد احمد شاه
باباحضورته راولېږه، اودمکراو تزویرله‌لاری ئې عرض وکی ، چې‌تیر کال‌ا وسږ کال
دسماوی‌آپتو په‌سبب‌محصولات ښه‌نه‌و، ځکه نوپه مالیه‌ورکولو کی‌ځنله راغلی‌دی
اوهیله‌ئې وکړه‌چې د تیرکال مالیه‌دي په‌آپتو کې مجراسی‌او دسږ کال مالیه‌دي په
دری‌قسطه واخیستله سی، چې لومړی‌قسطه به‌ئې اوسد ستی‌تحویل سی‌اودوهم‌قسطه
به‌هغه‌وخت ورانډی‌سی چې‌احمد شاه‌بابا پېښاورته‌و رسېږی‌او دریم‌قسطه به‌ئې کابل
ته‌بې له‌عذره‌او بې‌له ځنډه دروا‌ستو ل سی.

احمدشاه باباد‌مولوی عبدالله‌سره‌ملاجلال درانی‌او حاجی‌محراب‌خان‌درانی‌ولېږل
چې‌سیر منو ته‌ووا یی چې: « تاسی چې‌داخلګ دجګړې دپاره چمتو کړی دی داټول
مسلمانان دی، نوولی‌په ناحقه‌ددي ټولو‌مسلما نانوخون‌په غاړه‌اخلی ښه‌داده چې د
تړون‌سره سم‌خپلی مالیې‌ادا کړی» حاجی محراب خان‌چې‌دا پیغام سیرمنو ته‌یووړ ،
سیرمنوووېل چې: «زه‌هم‌مسلمان یم‌اونه‌غواړم‌چې‌دمسلما نانوو ینې‌توی‌سی، خو ځه
وکم‌چې‌د محصولاتودنشتوالی په‌سبب زر راسره‌نسته‌اوله‌بلی خوا سل‌زره سپاره‌اواتیا
زره‌پلی‌عسکر راځخه‌تنخا ګانی‌غواړی، نوستاسی‌د مالیوغوښتولو په باب کی همهغه
بوه‌لاړسته چې مولوی عبد الله تاسی ته عرض کړي ده» داوخت‌احمد شاه باباته
اطلاع‌ورسېدله‌چې سیرمنو داخبری‌ځکه‌ځنډ وی‌چې‌ده د هندوستان‌له‌پاچا احمدشاه
ځخه‌مرسته غوښتې‌ده اوغواړی چې دهغې مرستی‌تر رارسېدوپو ری‌په لطائف الحیل
وخت‌تیر کړی، ځکه‌نو احمدشاه بابا‌یې له‌جګړی پله چاره‌ونه‌لیدله . «او دراوی» تر

سیندوریور یووت د لاهور ښارته نژدې په شالامار کې واړول، بله ورځ جګړه پیل سوه او د محمود الحسیني په قول تر ماښامه پورې جاري وه (۱) خو چې د مېړنو لښکر د آنوقي دلېر والي او د جګړې د فشار له امله ډېر په تنګ سو، او ماته یې له پښو ولوېدله او پرېشانه یې په جګړه کې وژل سول .

دلته دا خبره د یادوني وړ ده سي د لاهور په دې جګړه کې د احمدشاه بابا په لښکر کې داوسني افغانستان د زیاتو سیمو او زیاتو قبیلو او ټکو سو خلکو برخه اخیستې وه چې محمودالحسیني یې په یوه مثنوي کې داسې یاد وي :

زآهن قبایان خنجر گذار — ستاده بهرسو هزاران هزار
تفنگچی جگویم بطرفی چه بود — زجان مخالف برآرنده دود
درخشیدن تیغ خارا شگاف — ربوده سیاهی شب از مصاف
زنیزه گذاران دران دشت جنگ — نشان داده ازنیستان و پلنگ
دهل سهخر وشید برسان شیر — یلان را به پیکار کرده دلیر
زآوازطبل وصدای یلان — برقص آمده اسپ در زیر ران
گروهی ز درانیان از هرات — همه رزمجوی و شجاعت صفات
گروهی ز افغان بارو جاه — همه نامداران زرین کلاه
همه بود از ملك احمد شهی — که سازند میدان ز دشمن تهی
ز مهمند و ردك بسی نامدار — که بودند هر یك چو اسفندیار
گروهی قزلباش والو زبك هم — زده از شجاعت چو شمشیر دم
گروهی ز بلخ و سمرقندودشت — که پیکان شان از حجر میگذشت
بسی سیستانی و هم زابلی — ز افغان غلجائی و کابلی

(۱) د دې جګړو تفصیل او جزئیات د «تاریخ احمدشاهي» په ۳۱۰ مخ کې تر ۳۲۷ مخ پورې لوستلای سی .

گروهی ز تاجیک تا روزوم　　　گروهی دلاور زهرسو زو بوم

دلاهور وروستی جګړه د ۱۷۵۲ میلادی کال د مارچ په پنځمه نیټه ونښته چې میرمنو د لاهور له ښاره را ووت او پر احمد شاهی لښکر ئې لوېه حمله وکړه. په دې جګړه کې د ملتان د سیمې حاکم «کوړامل» چې د میر منو خورا زړور او صمیمی ملګری و، ووژل شو، چې د هغه وژل کېدل د میر منو په لښکر زیاته وارخطائی او کمزوری پیدا کړه او هرځوک هری خواته وتښتېدل چې په خپله میر منو هم په خورا بدحال ځان دلاهور کلا ته ورساوه، تو له توپخانه او پیل خانه او خزانه او جواهر خانه او زنبورک لرونکی او ښان او بې شمېر با نونه (راکټونه) او سل زره تو پکان او د ترکی او عربی اسانو طویلې او نور ډېر جنګی سامان د احمد شاه بابا د لښکر په لاس کښېوتل.

بله ورځ احمدشاه بابا سردار جانخان سپه سالار ته امر وکړی چې د لاهور ښار له مخالفینو خالی کړی، په دې امرچې معین الملک (میر منو) خبر سو بې له تسلیمېدو ئې بله چاره ونه لیدله، د محمود الحسینی په قول دیوولسو تنو سره او د قاضی عطاءالله خان په روایت د دو ونوکرانو سره د ښار د دروازې د موری له لاری و وت پټ کی په غاړه د عفو په هیله ناڅاپه د احمدشاه بابا لښکر ته راغئی او د شاولی خان او سردار جانخان په کیمپ ورننه ووت، او د عفو په واسطه ئې د «حالی» دا بیت احمد شاه بابا ته ولېږه:

با ز آمد بندهٔ بگسر یخته
آبروی خود ز عصیان ریخته

احمد شاه بابا امر وکی چې تر لښکر د باندی یوه خیمه ورته ووهی، او څو معتمدین د هغه د سا تنی د پاره وګماری:

په دوهمه ورځ د سردار جانخان په واسطه د احمد شاه بابا په خدمت مشرف سو، احمد شاه بابا چې د ده زړور تیا لیدلې وه او اوس ئې د ده ښکلې څېره هم ولیدله نو هغه

ئې په غير کې ونيو، اود«فرزندی» په خطاب ئې سر لوړی کی او«فر زند خا ن بها در رستم هند »ئې وباله، ډير خلعتونه ئې ور کړه (۱)

اودهغه په غوښتنه ئې ټول بنديان ور ايله کړه اوهم احمدشاه با با د هغه ځای دخلګو دسرو اومالو دساتنې دپاره ټکره ساتندويان وټاکل چې هيڅوک له اشکر څخه پرې نه ږدی چې ښارته ننه وزی اوياچا ته ديوه دوېښته آز ار اوتا وان ورسوی.

ميرمنو هم تعهد وکی چې ترهغه و روسته به هر کال يو کرو ړ رو پۍ چې پنځه سوه زره تېريزی تومانه کيږدل دپنجاب دڅلورو سيمو دما ليو په توګه به ئې له ځنډه اوبې له کم او کاسته احمد شاهی عامره خز انې ته رسوی .

له بلې خوا څنګه چې دهندوستان پاچا احمدشاه بابا ته دلاهور د څلو رو ميا شتو د کلا بندی په دوره کی نه کم ليک اونه کم استازی راليږلی و، اوهم په هندوستان پر مسلمانانو با ندی دتيری اوظلمو خبرونه پرله پسې احمد شاو باباته را رسيدل، او هغه ئې خپلی مر سته با له نوا حمد شا ه با با د هند و ستا ن د شا هجهان آبا د پر خوا لاتلو نيت وکی ،خود هندو ستان پا چا لا د مخه معين الملک (مير منو) ته په تا کيد سره څو واره ليکلی و ، چې په هر تد بير چې کيږی د ا حمد شا ه با با نيت د هندوښتان له تګه واړوی، له دی امله نومير منو ډيرزيار و يوسف چې احمدشاه بابا اوس دستې په دی راضی کړی چې همدلته داحمدشاه بابا اودهند ددولت تر منځ يو تړون وسی اودلاسليك د پاره ئې هند ته ولېږی. په هغه تړون کې لاهوراو ملتان دواړه په مستقل ډول په افغانستان پوری وتړل سول او يو کرو ړ رو پۍ نو ری د ماليو پرروپو سربېره احمدشاه بابا ته ومنلی سوی اوهم دپيسو دادا ينې تروخته د کشمير و لا يت احمدشاه بابا ته ور کړ ه سو، اوهم په هندوستان کی داسلامی شر يعت داحکا مو پښېړ څارنه دهندوستان پاچا پر غاړ ه واخسته . هغه و ، چې داتړو ن دا حمد شاه بابا داستازی (سفير) قلندر خان درانی په لاس دهند پاچاته وليږل سو ، اود ۱۷۵۲ م

(۱) د پښتو تا ريخ - ۱ ج ۱۱۷ مخ .

کال داپریل په دیارلسمه هغه افغانی سفیرد هند دپاچا سره و کتل اوهند پا چا په ډیري خوشی پر هغه تړون سهرولگاوه او هم ئې په خو له افغانی سفیر ته ځا ن داحمد شاه بابا مخاص اوسل وښود (۱) .

احمدشاه بابا د هغه تړون تر رارسیدو وروسته د پنجاب صوبه د ارې د یوه طلایی ځین لرونکی عراقی آس او یوی سرصع توري سره معین الملك (میرمنو) ته ولیږه، او هغه ئې بیا د پنجاب صوبه دار او والي وټا که او نصیحت ئې ور ته وکی چې د پنجاب دسیمو ضبط اوربط ښه سم وساتی او له هغه وروسته پر خپل عهد او تړون ټینګ ودریږي .

تر هغه وروسته ئې د خپل لښکر یوه برخه چې شمیر ئې لسو زرو اتنو ته رسیده دعبدالله خان شاغاسی (ایشک آقاسی) په مشری د کشمیرخو اته ولیږ له، چې بی له کمی خاصی مقابلی ئې کشمیر ونیو اود هند حا کم ئې له هغه ځا یه ویوست ،او بیا احمدشاه بابا دیوان سکهه جیون مل په کشمیر کی حا کم اوعبدالله خان ئې د هغه نایب وټاکه ـ او پخپله احمدشاه بابا له لاهوره د کابل خواته رهی سو .

په کابل کی به ئې دورځی دخپل دربارورد عامو خلکو پرمخ پرانیستی و، او په خپله دمظلومانو په داد رسیده او هم به ئې د خزانو دروازی د بې وزلا نو او بینوا یا نو پرمخ پرانیستلی وي. اودشپی به ئې د هغه وخت دلویو پوها نو او ستر وفقها ؤ سره ددی مسئلو په باب خبری اتری کولی .

په دی وخت کی له خراسانه اوتر کستا نه د احمدشا هی لښکرو دوو برخو زیري احمدشاه بابا ته راورسید ، یوبری په قلعه رود کی د میرعالم خان په مقابل کی و ، چې هغه بیا دخواف پرحاکم اسماعیل خان یرغل کړی و، اوله هغه ځایه ئې غوښته

---

(۱) دپښتو تاریخ -۱/ ۱۱۲ مخ

تاریخ احمدشاهي -۱/ له ۳۳۱ څخه تر ۳۳۵ مخ پوري ،

پر هرات حمله وکړی ، خوانزل خان پوپلزی د هرات سردار ، د درویش علی خان
هزاره د هرات د بیګلربېګی په ملګری د اسماعیل خان سلاتړ ته ور غی ، د میر علم خان
سره ئی سخته جګړه وکړه ؛ میرعلم خان مات سو ، د «تون» خواته وتښتید پنځه شپږ زره
پلی اولویه توپخانه او ډېر جنګی سامانونه د احمدشاهی لښکر ته په لاس ورغلل ؛ او
دوهم بری په ترکستان کی د مخلص خان پوپلزی په برخه و ؛ چی یوې ډلی قزلباشیه
جګړنو چی د مخلص خان سره وو ، د «ارکنج» دوالی په لمسون چه د ایلبارس زوی و ،
د مخلص خان له ملګری څخه مخ وګرځاوه او پر احمدشاهی لښکر ئی یرغل وکی
خو پښتنو او کابلی اردو د هغو سره جګړه او د توری په زور ئی پر هغو بری وموند .

پېښور ته تګ : احمد شاه بابا د ۱۱٦۵ ه ق
کال په ژمی کی له کابله پېښاور ته ولاړ او هلته ئی په ځینو ودانیو لاس پوری
کی ، یو عالیشان عمارت ئی ودان کی چی په منځ کی داوږو لوی حوض و ، او
بیا د خلګو د راکړی ورکړی او سوداګری د آسانتیا د پاره مسجد ته نژدی یو آرت
ښج جوړ کی چی په ډېر و دکانو ښایسته سوی و ، او هر راز جنسونه او مالونه
پکښې خرڅیدل او رانیول کیدل ، او هم ئی د مسجد بلی خواته یو لوی ښکلی باغ
تیار کی چی هر رازونی او ګلونه پکښې کښېنول سول .

کندهار ته راګرځېدل : چی ژمی تېر سو ، نو احمد شاه بابا له
له پېښاوره را وخوځېد ، او چی خیبر ته راورسېد خبر سو چی په کندهار خانخانان
لقمان خان (د احمدشاه بابا وراره) د ځینو بې لارو په لمسون بې لاری سوی او شاهزاده
تیمور شاه یې د هغه د حرم سره په کندهار کی بندی کړی ، خزانو او جواهر خانو
او نورو کارخانو ته ئی لاس اچولی دی ، او زیات عسکر ئی د پیسو په زور پر ځان
راټول کړی او د احمد شاه بابا پر خلاف ئی سلاتړ لی ده ، او هم ئی د اشرف الوزرا
خپش حاجی حسین درانی باسیری او د برخودار خان ورور روښندل خان اڅکزی له
بېری وژلی دی .

ددې خبر په اروېد و احمد شاه بابا له همغه ځایه شاه پسند خان میرا خور باشي دیوه لښکر سره دلقمان خان دتنبیه دپاره ترځان دمخه کندهار ته ولېږه. خوشنګه چې څرګنده سوه چې مستوفي الممالک بستان خان پوپلزی»چې داحمد شاه بابا په حضور کې و، هم پټ پټ خطونه «خان خانان» اوخپل ورور «مقرب خان» ته لېږل او هغوی ئې داحمد شاه بابا پرضد پارول ، نو احمد شاه بابا هغه هم بندي کی ، او پخپله هم د کندهار خواته رهی سو.

شاه‌پسند خان چې کندهار ته ورسېد خانخانان ئې مقابلې ته وروت ، خو تر سختې جګړې وروسته ئې ماته وکړه د کندهار په ښار کی بې ځان کلابند کی ، مګر شاه پسند خان په ښار ورننه ووت او خانخانان ئې ونیو ، او محبت خان بلوڅ هم چې د خانخانان پرخوا و ، په جګړه کی ووژل سو ، او داحمدشاه‌بابا تررسید وروسته» بستان‌مستوفي‌الممالک چې دخانخانان لوی پاروونکی او محرک و ، اعدام کړه سو ،او پخپله خا نخانا ن هم په خپله سزا ورسید (۱)

پنځم سفر سند ته: ۱۱۶۶ ه ق کال په ژمی احمدشاه بابا پېښاور ته

(۱) استاد غبار لیکه : «اما لقمان خان در کندهار بمحض استماع مراجعت احمد شاه ازطرف رفقای فتنه انگیز خود تنها مانده بنا چارشفیع انگیخت و ندامت اظهار کرد ، احمد شاه او راعفو و محبوس نمود ولی مشار الیه بزودی در محبس درگذشت (احمدشاه بابا ـ ص ۲۰۰) خو محمود الحسیني بيالیکی چې:«ازآنجا که آرایش وپیرایش نخلستان جهان بدست اختیار با غبان تقدیر است شاخ هستی خانخانان را که چون شعبهٔ مغیل از درخت نخیل سر برآورده میخواست باعث ایرا و اضرار خلایق گردد به تیشهٔ سیاست قطع نموده بچمن پیرائی بوستان معدلت پرداخت» (تاریخ احمد شاهی -۱/ ۳۰۱ مخ)

و لاړ، دژمي په پای کې ده ته احوال ورسېد چې دسند دصوبې صوبه دارشاهنواز خان چې په پټه ئې د « لقمان خان نخانخانان » سره لاره د رلوده له لاتراوسه پسه هغه نشه کسې دي او دشاهي مالیې لسه ورکولو څخه ئې سرغړولی دی او د دولت مخالفت ته ئې ملا تړلې ده .
نو احمد شاه بابا سند ته دتګ اراده وکړه اوهغې خواته وخوځېد ، شاهنواز خان چې داحمد شاه باباد ور خوځېد و خبر وارویېد نو دریګستان د راجه ګانو خوا ته وتښتېد ، او دخپل دیوان مشر«ګدومل» نو مي هند وئې داحمدشاه باباحضورولېږه او دهغه په لاس دخپل عجز او عذر عريضه ورلندې کړه ، په هغه هند و پسې څو ورځې وروسته دشاهنواز خان ددوروزامنو(خدايار خان او عطرخان عريضې داحمدشاه حضورته وراندې سوې چې دخپل پلار دمړ نې خبر ئې پکښې لیکلی و، او هم ئې هیله کړې وه چې : « ما بیکسان جزسایهٔ خدا و ند بندهٔ دیگر بر سر نداریم امیدوار ازعنایات باد شاهانه ایم که ایالت ملك سند بدستور سابق باخانه زادان بحال وبرقرارماند (۱) هغه و، چې احمدشاه بابا هم د خپل مهربان اوسخي طبیعت په اثر دهغو هیله ومنله، د سنددسیمی والئ ئې «خدايارخان» ته ورکی ، او په خپله د ۱۱۶۷ ﻫ کال د دوهمې خور (ربیع الثانی) پهدوه ویشتمه د سند له نوشهره څخه د کندهارپه نیت راوخوځید، اوچې د«بهاك»دکلي پراوته راورسید دلته عبدالله خان (ایشك اقاسی باشی) د کشمیر د خزانو ، او بې سارو او مهمو سوغاتو سره دده حضورته راغی ، اوهم پهدغه پړاوکی دهندوستان د پاچا عالمګیر شاه استازی رضا قلی خان جامی داحمدشاه بابا حضـو رته را ورسید،او د عالمګیر پاچا د جلوس خبر ئې ورته راورساوه اود عالمګیر پاچا خوائې یو دوستانه لیك احمدشاه بابا ته د ډېريرو سوغاتو او هديو سره وراندې کی چې پههغه لیك کې د دوستي دډیا ټینګښت هیله سوی وه .احمدشاه باباهم دهغه په جواب کې یودوستانه

لیمك د رضاقلی خان جاسې په لاس عالمگیر پاچا ته ولیږه او رضا قلی خان په ډیره خوښۍ دشاه جهان آباد خواته رخصت سو.

په همدې کال سردارخان جان خان له هندوستان څخه درا بیلو سویوایالتو سردار له دولت څخه د پیښاور او اټك او ډیره جاتو مالیات په اجاره واخیستل او هم د احمدشاه بابا له حضوره د «ایازبارگاه ظل سبحانی» خطاب ورکړه سو ، اوبیا نو د د ډیره جاتو اوسلتان او د خپلې سرداری دنورو سیمو خواته ولاړ (۱) اوبیا په خپله احمد شاه‌بابا د همدې کال د وروستي خور (جمادی‌الثانی) په‌څلرمه‌نیټه د کندهار ښار ته ورسید (۲).

شپږم سفر خراسان ته : احمد شاه بابا چې کندهار ته را ورسیدنو د خراسان اوایران خواته ئې دسفر نیت وکی ، شهزاده تیمورئې دسلطنت‌نائب وټاکه او د کابل خواته ئې واستاوه او شهزاده سلیمان ئې د کندهار په‌سارکی پریښود، اوپه‌خپله‌د ۱۱۶۷ ه کال‌د رجب د میاشتی په اتمه له کندهاره د خراسان خواته رهی سو. فراه ته چې‌ور سیدو‌ې ورځی ئې‌د فوج باندی‌دراتولو سوېو غلو دویشلو دپاره تیری کړې،او هم له هغه ځایه‌ئې نواب خان جزایر چی باشی دمیرهزارخان الکوزی په ملگری‌د مقدمة الجیش په توگه دیوڅه فوج سره ترخان‌څو ورا‌وه دمځه واستاوه چې«قاین»ته ورسیږی خو داناکیدیې ووکی‌چې د هغه ځای داو سېدو نکو سرو او مالوته باید تاوان ونه رسیږی او هیڅوك باید پرې نه ښوول سی چې‌لاس ورواچوی بلکه د هغه ځای خلك باید د دلاساله لاری د پاچا په مهربانی‌خبر کړی او خدمت ته ئې راوبولی.

بیانو احمد شاه بابا په‌خپله دبرات(شعبان) د میاشتی‌په‌نهمه له فراه څخه‌وخوځید او‌عبدالله خان درانی دديوان اعلی قورچی باشی ئې د لښکر په مشری سرلوړی

---

(۱) (۲) تاریخ احمد شاهی - ۱/۲۳۱، ۲۳۲ مخونه

زویه ابا العباس زاهر څخه، اوپه نیشاپور کی د یوسف مراغی له زویه ابو تراب عبدالباقی څخه، او د عبدالله واسطه زویه محمد څخه، او له ابا الحسن مبارك او د محمد له زویه ابا الحسن علی مدینی، او د عبدالواحد تاجر له زویه ابا العباس مفضل څخه، او په جرجان کی د محمد ثقفی له زویه ابا الغیث المغیرة څخه او د ابراهیم خلالی له زویه ابا عمرو ظفر او د عبدالقاهر له زویه آبا عمر عبدالقادر او نورو ډیرو پوهانو څخه اوریدلی دی، او د په ۳۶۳ هـ، کال زیږیدلی، او (۵۴۳ هـ) کال د روژې په اوومه په نیشاپور کی مړ دی.

ماخذ معجم البلدان ـ ۵/۳۱۷ مخ

۱۰۳۰-احمد ابو بکر خواشتي بلخي! د محمد زوی، د عبدالله لمسی او د علی خواشتی کړوسی د خپل وخت نومیالی فقیه او محدث و، چی د حدیثو روایت ئې د عبدالعزیز بغوی له زوی علی، او د مفضل له زوی عبدالصمد څخه کړی دی.

مأخذ: معجم البلدان ـ ۵/۳۷۹ مخ

۱۰۳۱-احمد ابو بکر کوفانی هروی: د ابی نصر کوفانی زوی د هرات له صوفیانو او شیخانو څخه و، عراق، حجاز او مصر ته تللی، او هلته ئې د عمر نحاس له زویه عبدالرحمن څخه سمع کړي ده، چی بیاله ده څخه ابوالوقت ساگزی حدیثونه لوستلی دی. ابو اسماعیل انصاری هم د ده یادونه کړې ده. د ښه خوی خاوند او سپیځلی شیخ و.

د (۳۶۳ هـ) کال دلومړی خور (ربیع الاول) په میاشت په هرات کی مړ دی.

مأخذ: معجم البلدان ـ ۶/۲۹۵ مخ

۱۰۳۳-احمد ابو حامد او بري بلخي: د یحیی زوی او د هشام اوبری لمسی د خپل وخت نومیالی عالم و، چی د بلخ په «اوبر» کلی کی او سید، او د (۵۰۳ هـ ق) کال د شوال په میاشت په څلورلسم کلنی مړ دی.

مأخذ: معجم البلدان ـ ۱/۳۶۷ مخ

۱۰۳۳-احمد ابو حامد غوزمي هروی: د محمد زوی او د حسنویه غوزمی لمسی د خپل وخت نومیالی محدث و، حدیثونه ئې د ادریس له زوی حسین او نورو

کیء،او په نواب خان پسی ئې ولېږه،او په یو فرمان کی ئې نواب خان او میرهزار خان او نورو سالارانو ته ولیکل چی د نوموړی قورچی باشی په سلادی کار کوی.

قاین او طبس نیول: هغه و، چی احمد شا هی لښکر قاین او طبس ته ورسېدل او د هغو ځایو خلکو چی د مقاومت توان په ځان کی نه لیده تول تسلیم سول او هغه ټول جنګی سامان لکه توپونه، جزایر، او نوری وسلې او یراقونه چی د میر علم له خوا د طبس په کلا کی ذخیره سوی وو، د احمد شاهی لښکر په لاس کښېوتل او د احمد شاه بابا له خوا سلیمان کیانی د قاین حاکم او خدابخش خان نخی کلانتر وټاکل سو.

د ہرات د میاشتی په نولسمه شاه پسند خان د سرکار خاصه میراخور باشی هم چی د خراسان د ټولو سیمو د عسکرو سالار او سردار و، د خپل لښکر او د هرات د توپخانې سره د احمدشاه بابا په امر د احمدشاه بابا خدمت ور ورسید او د احمد شاه بابا له حضوره محمد تقی خان شیرازی چی د ایران له لویو مخوور کسانو څخه د احمدشاه بابا په خدمت کی و، د ایران د ولایتو د کالخواې او صاحب اختیار په رتبه سر لوړي سو.

همدا شان د هرات پخوانی سردار، انزل خان او تاېمنی عناب خان د یوې دلی ایماقو سره او د خواف حاکم اسماعیل خان د احمد شاه بابا خدمت ته ورسېدل او د احمد شاه بابا له حضوره فاخره خلعتونه وانعامونه او لوړ منصبونه ور کړه سوه.

تون نیول: احمد شاه بابا چی د قاین او طبس له نیولو او تنظیم څخه فارغ سو، د «تون» د کلا نیولو ته ئې هڅه وکړه، قورچی باشی ئې د هغه د نورو ملګرو خانانو سره تر خپل لښکر دوه پړاوه د مخه ولېږه چی د تون پر کلا شاوخوا خیمې و وهی او د احمد شاه بابا ورتګ ته سترګی په لاری واوسی، قورچی باشی ولاړ او پخپله احمد شاه بابا د برات د میاشتی په دوه ویشتمه له قا یه څخه وکوچېد، او د روژې د میاشتی په اوله د تون شاوخوا ته ورسېد. محمد تقی خان شیرازی د احمد شاه بابا په امر د تون کوټوال (قلعه دار) میر شفیع خان ته چی د میرعلم خان له خوا

هلته گډارلی شوی و، اود هغه ځای نورومشرانواومخور وته‌سپری ولیږه، اوهغوی‌ بی داحمد شاه‌بابادربارته‌وروبلل خو هغوی دروغی دابلنه‌ونه‌منله، او په دې‌امیدچی دشاهرخ دنائب میرعلم‌خان له‌خوابه‌ورته کومك‌راورسیږی‌سرله‌اطاعته‌وغړاوه، څنگه‌چی داحمدشاه‌بابا عادت وچی‌خپلومخالفینوته‌ئی‌ترخبرولودمخه‌سزانه‌ورکوله‌نوئی‌بیا پخپله محمدتقی‌خان ورولیږه، او هغه ورته وویل: «نمی بینید که سران‌وسرکشان هردیار و رو ساوسلاطین والا مقدار چاره جز سلوك راه انکسار ندیده همه سر بـر خط اطاعت و انقیاد ایـن فرازندۀ لوای دولت خداداد نهاده اند، شماراچه خیال خام درسر پیچیده وچه‌سودای نافرجام تیره سازجوهرخردگردیده که‌تارو پودخیالات‌باطله برخودمی‌تنید واز فرط‌جهالت ونادانی تیشه برپا نخل عافیت‌میزنید. نهایت سخن آنکه تاسه روزمهلت‌است درین عزض سه روزاگربمقام تنقیط وآگاهی آمدیدگوی سلامت ازمیدان‌فرصت ربودن‌مفت‌شما ست‌واگر بمقتضای واژون طالعی اصرار برمعصیت ورزیدقهرو طیش پادشاهی که‌نمونه سخطو غضب آلهی‌است‌آماده و مهیا با شید (۱)»

خوهغوی دده پرنصیحت‌هم غوږ ونه نیو، او دکلا تینگولو ته‌ئی ملا وتړله؛ څکه نواحمدشاه‌بابا خپل لښکر او توپونه‌پرکلا باندی‌دیرغل امرورکی، او پرکلا باندی‌دتوپو اواورغور ځوونکوتښبا رواورونه پیل‌سوه. میرعلم‌خان دلس‌دوو لسوزرو پرواو ځلوېښتو توپواوپنځه سوه‌زنبورك لرونکی او ښا نوسره دنیشاپور په‌محاصره بوخت‌و، د تون‌دکلا دکلابندی په‌خبرارویدو دیراوارخطا اوپریشانه سو، دنیشاپور محاصره‌ئی پریښووه په‌ډیری چټکی‌مشهد ته‌ولاړ، اوهلته د خپلو لښکری سردارانو سره‌مشوره وکړه‌خو ټولووویل چی: که‌پخپله پاچاپه‌دی لښکرکی‌وي دهغه مقابله ډیره‌سخته‌ده »میرعلم خان‌هم چی‌احمد شاه‌باباله نژدی پیژنده ددوی خبره تصدیق کړه، خوسره له هغه‌ئی‌هم دخراسان‌شاه‌وخوا سیموته‌خطونه ولیږل‌او دخاکو مرستة

---

(۱) تاریخ احمد شاهی — ۱/ ۳۴۰ مخ

ئې وغوښتله ، اوهم ئې یو څوک ولېږلو اوهم ئې یو څوک واستاوه چې دافغاني لښکر معلومات و کړي چې احمدشاه بابا پکښې دی که نه ؟ تلرسه ورځ هغه سړی راغی او وي ویل چې پخپله باچا دخپل لښکرسره پرتون راګرځیدلی د ی-دا خبره چې میرعلم خان واروېدله نود خپلې ښځې سره دشپې دسېږوار خواته وتښتید اوټول لښکر ئې تیت او پرک سو .

د تون د کلاخلک چې دمیرعلم په تېښته خبرسول نوغړی ئې و تښتیدل اود استقامت ملائې ماته سوه . هغه و، چې داحمدشاهي لښکرسرتېري په کلاور ننه و تل ، میرشفیع خان اونورټول کلا بند کسان وارخطا سول، توری ئې په غاړو کې اچول کړی اوا شرف الوزرا؟ شاه ولیخان ددیوان اعلی کشکچي باشي ته ننوا توراغله ،چې د دوی عجزاو زاري احمد شاه باباته وراند کړي ،اشرف الوزرا، هم د دوی توبه اوپښیما نی احمدشاه باباته عرض کړه- هغه و، چې په دابله ورځ احمدشاه باباميرشفیع خان اودهغه نورملګري خپل حضورته وسېل او وئې بخښل ، اود«اور بنید» امر ئې صادر کې، اوهم ئې لښکر ته په ډیرتا کیدوویل چې«: په هیڅ توګه د هیچا په سراومال غرض و نه کړي،اود لښکر هیڅ سړ ی دې دچا په کورنه ننه وزی» یوازې د میرعلم خان داموالود ضبطو اود پاره ئې یو هیئت وټا که چې غړی ئې دا و .

۱-برخوردارخان ا څکزی .

۲-ګل محمدخان امین الملك .

۳- محمدتقی خان شیرازی .

د اهیئت د تو ن د کلا ارګ ته ورغی ټول هغه پادشاهي سامان چې میرعلم خان له مشهده دانقلاب په وخت کې تون ته راوړی و، احمدشاهي خزانې ته نقل کې، په دې سامانو کې دسپینواو سروزرواوښې، قیمتي سر غاړې، لعل اوالماس، نفیس توکران اونورډیر نایاب اوګران بهاشیا ن پکښې وو، اوهم پخپله دمیرعلم خان آس، غاتره، خیمه توره، سپر اوجوشن ،لا س ته ورغلل . دمیرعلم خان حرم چې په هغه ارګ کې و ، په ډیر درنا م په شا هي حرېم کې خوندی وساتل سو.

او هم د جعفرخان کرد ورور نقد علیخان دخپل اکا د زوی محمد تقی خان سره د احمد شاه بابا د دربار ته راغی، په ډیرو خلعتو سرلوړی سو، او مرصعه جیغه ئې ورکړه سوه، اوهم احمدشاه بابا نواب خان درانی جزایرچی باشی د پنځوسوو ټنوسره وګماروچې د کردانو مشر جعفرخان چې دشاهرخ دنایب میرعلم خان له خوا روند کړی سوی او دخپلې کورنۍ سره دطبس په کلاکې بندي دی را خلاص کړی او مشهد کې دی داحمدشاه بابا حضورته راولی —نواب خان دجعفرخان ورور هم دهغه سره واخیست او دطبس پرخوارهی سو.

دمشهد کلا بندي: دتون ترکلانیولو وروسته احمد شاه بابا په هغه سیمه کې هرې خواته خپل حاکمان وټاکل او بیائې دمشهدخواته هڅه وکړه، دامحکه چې دهته وویل سوه، چې: «دنادرشاه تروژل کیدو وروسته بیاتر دغه وخته چې نژدې اووه کاله تیر سوی، په مشهد کې یو خپلواک پاچا نه دی کښینستلی او د مشهد حکومت داوباشانو په لاس کې پورته کښته کیده، او دهغه ځای او سیدونکو دا شرارو له لاسه آرام ژوندنه دی لیدلی، بلکه دروضی[1] خادمانوته هم ډیر اذیتونه او ضرونه رسیدلی دی اوهرکال چې په دایالت هرمشر زورور سو، هغه به له خلکو څخه په زور محصولات اخیستل، لکه چې په دې دوو کالوکې میرعلم خان پر مسلط سوی و، اوبه راز راز پلموئې دخلکو مالونه مصادره کول، د مشهد خلک له دغو ظلمو اوستمو څخه ډیر په تنګ سوی دی»

احمد شاه بابا چې په دې حال خبرسو، نواراده ئې وکړه چې د مشهد خلک له هغو مظالمو څخه وژغوري.

لومړی ئې ترځان دمخه کریمخان درانی چاوش باشی چې په مشهد کې ئې څه موده تیره کړې وه، اود هغه ځای دخلکو سره ښه بلدو مشهد ته ولیږه چې د تون د کلا په نیولو اود احمد شاه بابا په ورتللو د هغه ځای خلک خبر کړی، او هم ئې دده په

لاس دمشهد حاکم میرزا امین اود هغه ځای نورومشرانو اومخو روته داسی فرمان واستاوه:

«درین آوان معروض آستان عظمت بنیان گردیده که بعد فرار مهر علم هریکی دران مقام محترم ببلوکی از بلوکات ومحلهٔ از محلات رقم اختصاص بنام خود کشیده مسندآرای حکومت گردیده است وخلایق از تحکمات بموجب آنها بجان رسیده بناءعلی هذاموکب معدلت لوا برای ترفیه احوال رعایا وضعفا و پرداخت حال مجاورین آستانهٔ معلی وارد الکا خراسان گشته روبانطرف کمهر اشرف داریم باید که متعدیان کوته نظر چشم افاقه بمال این وقاحه باز نموده وبعد ازین مجوزا یذاء عباد نبوده احکام سطاعهٔ پادشاهی را تعویز بازوی دل وهیکل گلوی جان ساخته چند نفر از روساء درسر راه موکب والا آمده تقبیل رکاب سعادت نمایند تا برای نظم ونسق آنولایت وآسودگی وآرامش خلق ورعیت بنای گذاشته عنان عزیمت ماا لک پیرا بسمت دیگر منعطف شود. (۱)»

اوپخپله احمدشاه بابا د روژی دمیاشتی په خورلسمه له «تون» څخه د مشهدخواته وخوځیداوچی له تون څخه دري پړاوه لیری دفتح آباد کلی ته وز سیدنوشاه پسندخان درانی میراخور باشی ئي دخو تنو خانانو او شپږو زرو تکړه جگړنو سره دمیر علم خان نیولو ته وگمارل چی د سبزوار خواته ولاړ سی او په هرصورت چی کیږی په روغه یا په جگړه میر علم خان ونیسی اود احمدشاه بابا حضورته ئي راولی. شاه پسندخان او ملگری ئي دایلغار په دول د سبزوار خواته رهی سول، او احمد شاه بابادترشیز لورته وگوځید. کریمخان چی مشهد ته ورسید میرزا امین دهغه دسرعو بولو دپاچاهانه مجلس جوړ کړی او پنځه شپږ زره تو پک والائي شاوخوا د رولی وو. کریمخان چی د احمد شاه بابافرمان ورکی نوهغه کریم خان دخپل ورور میرزا حسن په کورکی وساته

(۱) تاریخ احمد شاهي - ۱ ر ۳۵۴ مخ

او شاو خوائې بهرې پرو درولې چې د چا سره ونه ګوري، اوبیائې د خپل دربار د مشرانو په سلا د احمد شاه بابا د فرمان جواب ولیکه او په هغه کې ئې د مشهد د ولایت د خرابې احوال او د محصولاتو د تلفیدو او دخلکو د پر یشانۍ عذرونه ولیکل او هغه جواب ئې کریمخان ته په لاس ورکې، احمد شاه بابالا د ترشیز د کندر په کلي کې و، چې کریمخان ورورسید، او احمد شاه بابا له هغه جوابه پوه سو، چې میرزا امین دروغي لاره نه خوښوي، نو له هغه ځایه د ترشیز د منځ کلي سلطان آباد ته وکوچید او هلته ئې دوې ورځې دغلې او آذوقې برابرولو د پاره تیرې کړې او بیا د از غند کلي ته ورسید او د هغو سیمو زیاترو خلکو او حاکما نو د احمد شاه بابا اطاعت ته غاړې کښېښولې، او ده هم هغوی په شاها نه مهر بانیو سر لوړي کړه اوله هغه ځایه ئې حاجي نواب خان الکوزی د سر کار د صندوقخانې صاحب جمع، اودتون اوتربت اوزاوه د سیمو سردار امیرخان قرایي، او د ترشیز حاکم خلیل خان پیش مست او د خواف واکدار او حاکم اسماعیل خان د پنځو شپږو زرو جګړنو سره د مشهد د ښار خواته ترځان د مخه وا ستول چې د هغه ښار کلاداسې کلابنده کړي چې حتی یو پرنده هم د ننه وتوا و وتومجال ونه لري، او ور پسې ئې عظمت خان علي زی دیوې دلې سره تیرو سره دشاو خوا محصولاتو او غلو تولو لوټه و ګماره او هم ئې ښار ته د آذوقې رسولو لاري وتړلې ـ او بیا نـو پخپله احمد شاه بابا د روژې د میا شتې پر پنځه و یشتمه ځان مشهد ته ور ساوه او مشهد ته دوه فرسخه نژدې ئې د طرق په کلي کې واړول. بله ورځ ئې د سنګرنیولو د پاره د ښار ختیځې خواته یوفرسخ لیرې «حلوه» نومې ځای خوښ کې، اوهلته ئې دیوې لویې و دانۍ او کلاپه جوړولو لاس پورې کې، چې په لږوور ځو کې ئې هلته یوه لوړه او ښکلې ودانۍ د یوه ښار په شکل ودانه کړه. اوهم د شاوخوا کلاګانو خلکو خپله ګټه په دې کې وبلله چې د احمد شاه بابا اطاعت ومنې او د محلې حکامو له ظلمه ځانونه وژغوري، چې په دغو خلکو کې یو هم سلیم طلابوز باشي شانديزی کوتوال و، چې د احمد شاه بابا

له خوادد«ارجمند خانی»لقب اوجیغه ورکړه دکوه پایه حکومت ئې وروسپاره .

په دغه وخت کې نواب خان جزایر چي باشي چي دجعفر خان د کرد انو دمشر دراخلاصولو دپاره دطبس کلاته تللی دجعفر خان اود هغه د کوچ سره راو رسېد ،او داحمدشاه بابا له خواجعفر خان اودهغه ورور نقد علی خان اوقوم ئې ډیر و نازول سول اوجعفر خان په غوښتنه دزعفرانلو ټول ایل د«درانی بامیزئی» په خطاب سر لوړل سو(۱) پیانو دواړه وړونه داحمدشاه بابا له حضو ره دخپل وطن «خبوشان» خواته رخصت سول داحمد شا ه بابا په دی کا ر دکردا نو ټول خوانین دزړه خوشاله سول ، اود هغه احسان په عوض کې ئې ترون وکی ،چي دچمشکرك ټول مشران به داحمدشاه بابا اطاعت ته رابولي نوځکه ئې اسدالله خان دا یشك آقا با شی نائب هم دخان سره خبوشان ته بوت، اود هغه ځای ټولو مشرانو داحمدشاه باباسره دسلاتي ترون سهر کی ،اوداوعده ئې وکړه چي دده ددوستانو سره به دوستان او ددښمنانو سره به ئې دښمنان وی ،اونسلا بعد نسل به له دغه ترونه نه اوړي -هغه وچي دکردانوله خوادآذوقی قافلی داحمدشاه بابا دلښکرخواته راچالانی سوې، اوهم د تر کستا ن له پلوه دار تیا ټول شیان ورته رار سیدل .

په دی وخت کی له سبزواره دشاه پسندخان میراخور باشي چي په میرعلم خان پسی تللی و ،احوال راغی چي میرعلم خان ئې دسبزوار په کلا کی کلا بند کړي دی اوپر کلا ئې دیرغل اجازه غوښتې وه ؛خواحمدشابابا له دی امله چي دبیگناهو انسانا نو وینی تویی نه سی دیرغل اجازه ورنه کړه ؛اودمیرعلم خان دنیولو دپاره ئې یوه بله لاره وسنجوله او هغه داچي دجعفرخان دورو ر نقد علی خان په واسطه ئې د سبزوار دکلاخلک دی ته وپارو ل چي میر علم خان دنقدعلی خان په لاس و رکړي او ځانو نه

---

(۱) تاریخ احمد شاهی -۱/۳۶۸ مخ

له عذا به وژ غوری ، او نقد علی خان هم میرعلم لاس تړلی په یوه سترگه ړوند کی ، او پر خره ئې سپور«خبوشان» ته ولیږه ، او هلته دټول کرد ستان نارینه او ښځې جارچیان دډول او دربې سره په پسې په ملنډ واو سپکاوی ئې جعفر خان ته ورو وستاو دهغه په مخ کې ئې سرځینې پرې کې ، او بیا ئې هغه سر دځوتنو کردانو په لاس داسد الله خان په ملگری د احمد شاه باباحضو رته واستاوه .

دشاهرخ ننوا ته (التجا) ! دمشهد کلا بندی شپږ میاشتې اوږده سوه ، په دې شپږ و میاشتو کې ځو واره دتقی خان شیرازی په واسطه داحمد شاه بابا او دمشهد دحاکم میر زا امین تر منځ سر کې و سوې ، که څه هم د مشهد ښا ر خلک روغی او داحمد شاه بابا اطاعت ته حاضرو خو میرزا امین دځان د ډیری خلگو دسر کو رشتیانې حال نه وا په(۱) ځو چې دخلگو استغاثې او بد حالی داسې حد ته ورسېدلې چې په‌خپله ړوند شاهرخ ئې مجبور کی چې داحمدشاه باباحضورته په ننوا تو ورسي، او دصفری دمیاشتې په‌شپاړ سمه دمشهد له ښا ر ه په دغه نیت و ووت ، احمد شاه بابا چې دشا هر خ دورتگ خبر واورېد نو ئې له خپلې لښکرگاه څخه بیاد ښار تر دروازې پورې دخپل شاهی گارډ سپاهیان ودرول ،او ددهٔد دربار تو لـو غـړ و د شـا هـرخ احـترام پـر ځـا ی کـی ، ا و پـه ډیر عزت احمد شاهی چو نې ته بوتله سو ، هغه ورځ ئې استراحت وکی ،اوبله ورځ د احمد شاه بابا حضورته وروستل سو، احمد شاه با با په ډیری مهربانی «ښه راغلی» ورته وویله ،او د «فرزند» په خطاب ئې سرلوړی کی. شا هر خ داحمدشاه با با د مهربا نی شکریه ادا کړه او هیله ئې وکړه چې هغه بد مر غه کسا ن عفوه کړی چې داحمد شاه بابا د لښکر سره جنگېدلی دی ، احمد شاه بابا هم د مشهد

---

(۱) ددې سر کو تفصیل د«تاریخ احمد شا هی» د لو مړی ټوک په ۲۷۹ مخ کې تر ۲۰۹ مخ پورې راغلی دی.

دښار د اوسېدونکو په نامه دعفو فرمان ولیکه.

شاهرخ درې ورځې په ډېر عزت د احمد شاه بابا په اردو کې تېرې کړې او شلرمه ورځ د خاصو خلعتو او پوزو تبریزي تومانو نغدو او ډېرو ورېجو او پسو او غوړو او نورو غلو سره چې دمشهد د ښار خلکو ورته ضرورت درلود په ښه عزت رخصت سو، او هم هو دیندارو علما او فضلا د احمدشاه بابا په نامه دخطبې ویلو او د پو ضراب د احمدشاه بابا په نامه د سکې وهلو دپاره ورسره واستول سول، او د صفري دمیاشتې په نولسمه د جمعې په ورځ د مشهد دښار په جامع مسجدو کې دخطیبا نو له خوا په لوړ آواز د احمدشاه بابا په نامه خطبه وویله سوه او بیا په ښار کې دخوشحالي نغارې او ډمامې ووهلی سوې، او د احمدشاه بابا په نامه سکې وویشلې سوې.

بیا شاهرخ میرزا دمشهد حاکم میرزا محمد امین ډېر ملامت کی او دصفري په شلمه ئې د احمدشاه بابا حضور ته واېږه او دهغه د تقصیر اتو عفوئې وغوښتله، احمد شاه بابا هم عفو کی او وئې نا زاوه خو څنگه چې میرزا امین د شپې د یوه غله له خوا ووژل سو، نو احمدشاه بابا د هغه پر ځای دمشهد حکومت «آقاشریف ملا باشي» ته چې د هغه ځای پومنلی مشر و، وسپاره، او په دې توگه دمشهد د خلکو زړونه د احمدشابابا په مهرباني ډاډه سول، او ټولو د احمدشاه بابا اطاعت ومانه، او احمدشا بابا هم د امام رضا زیارت ته ورغی، ډېر نذرونه ئې ورکړه او هم ئې د روضې د هغو ځایو د تر سیم امر ورکی چې د میرعلم خان په وختو کی سو ځلي سوي او یا وران سوي وو

د **نیشاپور خوا ته هڅه**: احمدشاه بابا په ۱۱۶۸ ه کال کی چې دمشهد شخړه پای ته ورسېدله نو د نیشاپور د نیولو اراده ئې وکړه، او د دې د پاره چې دو رنگ لاره صافه کړي نو لومړی ئې عبدالله خان درانی قورچه باشي د یوی دلی سرتیر وسره هغې خواته واېږه چې د هغه ځای دشاو خوا ستمردین چې د احمد شاهي لښکر په لار کې ئې د خنډ پدلو نیت درلود له منځه یوسي او بیا بیرته راسي عبدالله خان هم ولاړ، ستمردین ئې یا له منځه یوړل او یا ئې بندیان د احمدشاه بابا حضور ته راوستل، بیا نو احمدشاه بابا امیر

خان قرایی سردار، او خلیل خان میش مست د ترشیز حاکم او اسماعیل خان د خواف ناظم د پوځ له لښکر سره د نیشاپور ښار محاصری ته ورګډ سول، او هم ئې د دوی په لاس د نیشاپور د والي عباس قلي خان بیلت په نامه یو لیک واستاوه، او هغه ئې د دروغو له لاري خپل اطاعت ته راوباله، او ورته وئې ویل چې: «که عباس قلي خان بې له جنګه تسلیم سو د ښار په خلکو هیڅ غرض ونه کړی» او که تسلیم نه سو ښار ور باندي کلابند کړی» هغوی رخصت سول، او په خپله احمد شاه بابا په مشهد کي ړوند شاهرخ (د نادرشاه نمسی) په دي شرط بیرته پر تخت کښیناوه چي خطبه به د احمد شاه بابا په نامه وایی او هم به سکه د احمد شاه بابا په نامه وهله کیږی، او نور فرمانونه او احکام به د شاهرخ په نامه وي، شاهرخ به ډیری خوښی ومنله او په خپل مهر کی ئې دا بیت وکینده :

یافت از الطاف احمد پادشاه   شاهرخ بر تخت شاهی تکیه گاه

او بیائی هغه سیمه چي د هرات او مشهد تر منځ پرتې وی لکه جام، باخرز، تربت حیدریه، خواف او ترشیز له شاهرخي ولایاتو څخه بیلی کړی او په افغانستان پوری ئې ونښلولې (۱) بیا نو احمد شاه بابا د مشهد حکومت ئې د شاهرخ دا ګازوی محمد کاظم خان ته، او د وزارت منصب ئې جعفر خان کرد ته وسپاره، او هم یې له خپلی خوا نور محمد خان خوګیانی د دوزروسر تیروسره به ظاهره د شاهرخ د ساتني او د هغه د خدمت د پاره او په باطن د افغانانی استازی په څیر وټاکه، او یو عربی نژاده آس یې د مرصع ځین او د پروفاخره خلعتو سره شاهرخ ته وباخښه، و بیا نو د خپل لښکر سره، د نیشاپور خوا ته رهی سو. پر لاری خبر ورته راورسید چي د نیشاپور ځینی مشران لکه میرزا محسن او نور د احمد شاه بابا له ییری د استراباد خوا ته تښتی، ځکه نو احمد شاه بابا د خراسان د ممالکو سردار شاه پسند خان د یوې ډلی سرتېروسره تر ځان د مخه ورواږه چې هم د هغو مشرانو د تعقیبتی

---

(۱) سراج التواریخ — ۱/۱۶ مخ

څخه اوسیدلی وو- چې بیا له ده څخه ابوبکر برقاني او نورو څخه روایت کړی دی .

مأخذ: معجم البلدان - ۶/۳۱۳ مخ

۱۰۲۴- احمد ابوذر اندرابي: دعبدالله زوی او دمالك نمسی د حدیثو عالم او داندراب قاضي و، پلار ئې دترمذی، خودی په اندراب کې اوسېد، او حدیثو نه ئې د مثنی له زوی محمد څخه اورېدلي وو .

مأخذ: معجم البلدان - ۱/۳۳۵ مخ

۱۰۲۵ احمد ابوسعد مالیني هروي: د محمد زوی، د احمد نمسی، او دعبدالله انصاري مالیني کړوسی د خپل وخت له نومیالیو صوفیانو او محدثینو څخه و. د حدیثو په طلب پسې د شاش او سکندریې ترمنځ گرځېدلی، او له ډېرو ډېرو هانو څخه ئې حدیثونه اورېدلي وو- چې بیا له ده څخه د نجید سلمي زوی ابي عمرو، او ابي بکر اسماعیلي، او د عدی زوی ابي احمد او نورو روایت کړی دی، او په (۴۱۲ هـ) کال په مصر کې مړ دی .

مأخذ: معجم البلدان - ۶/۳۶۸ مخ

۱۰۲۶- احمد ابوطاهر سفیاني هروي: د محمد زوی، د اسماعیل نمسی او د صباح کړوسی د هرات د سفیان د کلي نومیالی محدث و.

حدیثونه ئې د ادریس انصاري له زوی حسین څخه اوریدلي وو، او بیا له ده څخه ابي بکر برقاني د حدیثو زده کړه کړې وه، دی په (۲۸۱ هـ) کال کې زېږېدلی، او په (۳۸۰ هـ) کال کې مړ دی .

مأخذونه: ۱- دد هخدا لغتنامه- ۱۳۹۳ مخ

۲- معجم البلدان - ۵/۹۰ مخ

۱۰۲۷- احمد ابوالعباس ثعلب خراساني :

د یحیی زوی، د زید نمسی او د یسار کړوسی په نحو او لغت کې د کوفیانو امام او نومیالی نحوي او لغوي عالم و .

دافغانستان نومیالی دریم ټوک

۱۰۰۳ ابوالوحد هروی (۱)

شیخ ابوالواحد دوجیه الدین هروی زوی‌ځپل عصر یو نومیالی فاضل و، له هراته کندهار ته راغلی او له کندهاره هند ته ولاړ، او هلته د بابر پاچا سره اوسېد. په دری ژبه‌ئی شعرهم وایه ،دا بیت دده دی :

چو تیر خود کشي از سینه ام بگذار پیکانرا
سرا دل ده که تا سردانه در راحت دهم جانرا

په (۹۳۰ ه ق) کال دهند په آگره کی مړ، اودشیخ زین الدین خوافی په مدرسه کی ښخ دی .

مأخذ

نزهة الخواطر – ۴ / ۱۶۱ مخ .

۱۰۰۴ – ابوالوفاً

ملاابوالوفاً داحمد شاه بابا دوخت لوی نومیالی عالم او داحمد شاه بابا لخوا په کشمیر کی مفتی و .

د ۱۱۷۹ ه ق کال د محرم دمیاشتی په ۹ نېټه‌ په کشمیر کی مړ او هلته ښخ دی. ده تألیفات هم درلودل ،چی یو کتاب ئې د «انوارالنبوة» په نامهٔ تألیف کړی، او

---

(۱) له دې نامه څخه د ((ا پا لا)) تر نامه پوری نومیالی باید په دوهم ټوک کی راوړه سوی وای ،خو سهواً له هغه ځایه پاته سوی ، نوله دې امله چې ښخی پاته نه سی دلته راوړه سوه ــ مؤلف .

مخه ونیسی او هم لښکر ته غله تووله کړی.

هغه وخت چی احمد شاه بابا د ۱۱٦۸ کال د روژې د میاشتی پر اوومه دنیشاپور د ښار یو فرسخی ته ورسېد. په دې وخت کی د نیشاپور والی عباس قلی خان خپل ورور محمد علی خان او خپل دا کا زوی باقر خان ئې د احمد شاه بابا حضور ته راواستول او هغو ئې د عباس قلی خان له خوا احمد شاه بابا ته عرض وکې چی:

«پیش ازین بسه سال تقصر عظیم نسبت بملا زمان آستان جاه و جلال بصدور پیوسته و در محارباتی که حسب التقدیر در ان آوان بوقوع آمده جمعی ازبهادران اردوی معلی بدرجهٔ شهادت رسیده اند، ایل افغان و عموم لشکریان ا زینجهة برمن در مقام ستیز ومهیای انتقام وخونریز اند، در صورت احرام کعبهٔ حضور توقع نجات از دست آنجماعهٔ پرزور ندارم- اعلی حضرت قدر قدرت اگر بر جریدهٔ اعمال این سراپا معصیت رقم عفو کشیده مامون و مطمئن فرمایند که اذیتی ازان مردم نخواهد رسید وتقصیرات گذشته مقرون بعفووبخشایش خواهد گردید حلقهٔ غلامی در گوش کشیده بدر بار جهان مدار حاضر و از جرایم و ما تقدم ماضی تایب و مستغفر بالتزام لوازم دولتخواهی مقر و مستقر توانم شد که گاهی سرتابی نکنم و در طریق بندگی و انقیاد نعل بازگون نزنم (۱)

احمد شاه بابا ورته وویل چی: «د عباس قلی خان خیر او نجات په دې کی دی چی توره په غاړه وځروی او د یوه گنهگار او ملامت په توگه د لته لنواتی راسی، نو په دې دول به دده تقصیرات عفوسی او امان به ومومی»

عباس قلی خان هم خپل ورور او دا کا زوی په چارکی خپل تا ئبان پرېښوول او پخپله همغه شان چی احمد شاه بابا ویلی و، احمد شاهی دربار ته راغی، احمد شاه بابا هم د نیشاپور حکومت هغه ته پرېښود، خو هغه ئې د ځان سره په ډېر

---

(۱) تاریخ احمد شاهی - ۱/۱۳۴ مخ

عزت او احترام وساته او بیرته ئې ښار ته ونه لیږه.

په دې وخت کې له سبزواره احمد شاه بابا ته خبر راورسېد چې د محمد حسن خان قاجاراو په سبزوار کې داحمد شاهي لښکر تر منځ جګړه نښتې ده او هم حسن خان قاجار د نیشاپور د ښار خلګوته حال ورلیږلی دی چې د احمد شاه بابا د لښکر په مقابل کې پاڅیږي، احمد شاه بابا چې معلومات وکړه رشتیاهم د نیشاپور د ښار اوسېدونکو د ښار دروازې تړلې وې ځکه نو احمد شاه بابا له خپلې خوا عظمت‌خان علیزی او یو ډله نور خاصه شاهیان ؤګمارل چې شاه پسندخان ته ورسي او دسترا باد د لارې په ساتنه کې د هغه سره مرسته وکړي او که څوك دسبزوار له خوا دنیشاپور کومك ته راتله د هغو مخه ونیسي، او له بلې خوائې د نیشاپور دښار کلا نیولو دپاره هغه لوی توپونه چې د تبریز په وزن ئې هره ګولۍ پنځه ویشت منه وه پرجګو ځایو اوړول ته سم کړه، او هم ئې نقب کېندونکي نقب کیند لوته وګمارل، او په یوه هفته کې ئې د نیشاپور د کلا برجونه دخاورو سره برابر کړه، او د روژې د میاشتې په څورلسمه د چارشنبې په ورځ باغیانو خپلې توری په غاړه ځړولې او قرآنونه ئې پرسر د احمد شاه بابا حضور ته راغلل او کلائې احمد شاهي لښکر ته وسپارله، او دنیشاپور ښار فتح سو.

په دې وخت احمد خان درانی بیات چې د عباس قلیخان سره ښه نه و، او د نیشاپور تر ښار د باندې د حاجي آباد په کلا کې اوسېد د احمد شاه بابا حضور ته راغی او احمد شاه بابا هغه ته د نیشاپور حکومت او د کوه میش او سبزوار او جوین او اسفراین سرداري ورکړه، او هم ئې هغه تول بند یان چې د نیشاپور د ښار دنیولو پر وخت داحمد شاهي لښکر په لاس کښېوتلي وو، ددې دپاره هغه ته وسپارل چې خپلو خپلو قبیلو او ځایوته ئې ورسوي، او هم ئې د نیشاپور د ښار کلا ددې دپاره ورانه کړه چې بیا متمردین د هغې کلا په ټینګښت مغروره نه سي.

په دې وخت کې احمد شاه بابا ته خبر ورسېد چې د خواف حاکم اسماعیل

خان چې د شاه پسند خان سره د سبزوار خواته تللی و، له شاه پسند خان څخه بېل سوی، د احمد شاهي دولت د مخالفانو سره ئې لاس يو کړی دی، او د احمد شاه بابا هغه ټول کومکونه او احسانونه ئې هېر کړي دي چې دده سره ئې د مير علم خان په مقابل کې کړي و، او دده موجوديت ئې ساتلی و.

ددې خبر په ورسېدو سره احمد شاه بابا د هرات پښتو انې سردار، انزله خان د څه فوج سره خواف ته ولېږه، چې لومړی د نصيحت او زوغې له مخې اسماعيل خان سمې لارې ته راوبولي، او که ئې ونه منله نو کلابند ئې کړي، او په خپله احمد شاه بابا د قاجاري طايفې د تنبيه د پاره له نيشاپوره د سبزوار خواته وخوځېد، او د کوه ميش له لارې داسترآباد د ښار ته ورسېد، او ورته معلومه سوه چې دهغه ځای اشرارو ټول ځايونه پرېښي، کښتونه ئې سو ځلي او کاريزونه ئې له ډبرو او خاورو څخه ډک کړي، دښتونه تښتېدلي او يا په ځنګلو ننوتلي دي، نو ځکه له هغه ځايه د ترشيز او خواف خواته وکوچېد، او په خواف کې ئې پر اسماعيل خان باندې محاصره تنګه کړه، خو چې اسماعيل خان مجبور سو، خپل زوی ئې برخوردار خان اڅکزي ته چې په احمد شاهي لښکر کې ورسره آشنا و، ولېږه او هغه خان ئې احمد شاه بابا ته شفيع کې، چې دده تقصيرات ورو بښي، برخوردار خان هم داسماعيل خان زوی داحمد شاه بابا حضور ته ورووست، او احمد شاه بابا د برخوردار خان په لحاظ چې د ده له خاصو فدايانو څخه و، د اسماعيل خان ننواته ومنله او اسماعيل خان هم لسه کلا راووت، د احمد شاه بابا حضور ته د توبې او زاربو سره راغی، احمد شاه بابا دخواف حکومت ميرزا اسحاق خفا چه ته، او د مـالياتو وکالت ئې حاجي عباس خوافي ته وسپاره او پخپله اسماعيل خان ئې د هغه د کهي او تبر سره يـو ځای د ځان سره رهي کې، او بيا نو د هرات خواته وخوځېد.

دلته دا خبره ديادولو وړ ده، چې دنيشاپور د ښار ننولو وروسته د احمد شاه بابا

ئیت و ، چې دعراق خواته ولاړسي ، خو څنګه چې له یوې خوا ددہ لښکر یا ن دوه کاله له خپلو کوروا و وطن څخه لیری وو، اوله بلې خوا دآذوقې دکموالی سره مخامخ کیده نو ځکه ئې دعراق خواته عزم پریښود، او خپل هیوادته راستون سو.

احمد شاه بابا چې هرات ته راورسید نو خپلو ځینو اداری تشکیلا توته ئې نوی نظر وکی ، شاه ولی خان درانی بامیزی کشك چی باشی د دیوان اعلی د وزارت په رتبه سرلوړی کی، آقایا قوت خواجه سراته د «یاقوت خانی» خطاب اودد ارو ځکی منصب ورکی ، او پر ځخوا نیو مستوفیانو (میرزا محمد خان او میرزا شکر الله خان) سربیره ئې میرزا علی رضا خان او میرزا هاشم خان خفیه نویس د کندهار د مالیاتو د وکیل عبدالله خان زوی په مستوفیانو کی داخل کړه، بیائې نو ذ یحجة الحرام د میاشت په اووه ویشتمه د هرات زیارتونه وکړه چې په هغو کی یود احمدشاه بابا د پلار محمد زمان خان زیارت و، چې د هرات ښار په دوه فرسخی کی پروت دی، اوتر هغو ورځو وروسته د محرم الحرام په اوله نیټه د پنجشنبې په ورځ له هراته د کندهار خواته رهی سو، او چې کندهار ته ورسید د توبو په ډزوئې «هرکلی» وسو، او دصفری د میاشتې په شلمه شهزاده تیمور چې له کابله ئې راغوښتی و ، هم کندهار ته راورسید، او بله ورځ خان جانخان درانی د هندوستان د موضوعه ایالتو سردار، اومراد خان جارچی باشی اونور خانان اومشران د شهزاده سره د احمدشاه بابا دربارته ورغلل، او په همدې وخت کی محمود خان خواجه د قوللر اقاسی په رتبه سرلوړی سو، دی د کرد انو د بلیارس له طایفې څخه و ، او هغه وخت چې احمد شاه بابا د سیستان دوالی سلیمانخان لور وغوښتله همدا محمود خان ئې ورلیږلی و، او هغه ئې راوستله، اوهم حمزه خان خواجه سراته چې هغه هم د بلیارس له ټبره و، د «خانۍ» خطاب ورکړه سو .

او په همدې کال کی احمدشاه بابا د میرصنعت الله خان کابلی تر عزل وروسته د لاهور د ګجرات او سیالکوټ او اورنګ آباد او پرسرور دسیمو حکومت د بنګښا تو

حاکم باز جنګ خان ؤ او د پېښاور حکومت او د مالیاو واک عبدالصمدخان افغان محمود زي ته وسپارل سو.

د کندهار د نوي ښار ودانول: هغه چې د کندهار زوړ ښار د غره پر سر، له اوبو څخه لېرې، او په دوبي ډېر تود و، او هم ئې زیاته برخه د نادر افشار سره په جګړو کې نړېدلې وه، او اوسېدونکي ئې هغه نوي ښار ته چې د نادر افشار له خوا د «نادرآباد» په نامه ودان کړې و لېږل دول سوي وو او له بلې خوا د نادرآباد ښار هم د یوې نظامي کلا او چوني شکل درلود، او هم ډېر کوچنی، او د باراني او بود سېلاب په مخ کې و، نو ځکه احمد شاه بابا د یوه نوي لوی ښار د ودانولو تکل وکی او دوا سي مشرانو او د په کار پوهو درباریانو سره تر مشورې وروسته ئې د «ده خواجه» د کلي سره یوه ارته سیمه چې د «پاتاوه» لویه واله هم پکښې بهېدله د نوي ښار د پاره خوښه کړه (۱) او د ۱۱۶۸ هـ ق کال د دوهمې خور (ربیع الثاني) د میاشتې په اوله دیکشنبې په ورځ ئې د نوي ښار لومړۍ خښته تر قاتحې او خیراتو وروسته کښېښووله، او هغه ئې «د مقصود ښار» وباله، چې وروسته ئې

---

(۱) د سراج التواریخ مؤلف لیکي چې: احمد شاه بابا لومړی غوښته د ارغندې او درود لویدیځې خواته ښار ودان کړي او په دې فکر ئې دد ښت خواته د بوې والې په کیند لو هم لاس پوری کی، خو ځنګه چې هغه ځمکې د الکوزو د ټبروې هغو نه پرېښود، بیائې مرو کلاته نژدې غوښته ښار جوړ کړي هغه ځمکې بیا د بارکزو د ټبروې هغو هم نه پرېښود، خو په پای کې د پوپلزو ټبر دوواس قلبې خپله ځمکه (چې دا اوسنی ښار پکښې ودان دی) احمد شاه بابا ته ور کړه، چې د شپږو سوو جریبو معادل کېږي (۱/۲۵ مخ)

بیا دا نوم په «احمد شاهي ښار» واووښت ، او د «اشرف البلاد» صفت پرزیات سو(۱) په دې ښار کې د «پاتاو» واله له پخواڅخه بهیدا نه خو احمد شاه بابا د لا زیا تی سمسو ر تیا دپاره دارغنداوله روده یوه بله واله وکیندله چې اوس ئې «شاه واله» بولې. خوپه سراج التواریخ کې ددې نوی ښار دود انو لو کال (۱۱۷۳ هق) لیکلی سوی دی(۱/۲۶ مخ) اوددی ښار دهغه وخت نقشه دښاغلی عزیزالدین پو پلزی له خوا د «تیمورشاه درانی» په کتاب چاپ سوې ده

اووم سفر ـ هندوستان ته : د ۱۱۶۹ هـ ق کال په سر کی له هند وستانه احمد شاه بابا ته خبر راورسید چې د هندوستان وز یر غازی الدین خان د هند وستان د پاچا محمد عزیز الدین (دوهم عالمگیر) څخه دپاچهی واک په خپل لاس کی اخیستی دی اوهغه پاچا ته هیڅ اهمیت نه ور کوی اونه ئې دپاچهی په چارو کی لا س پریږ دی، پر «شاهجهان آباد» او دهغه پرشاو خوائی بشپړ تسلط مو ندلی دی او د کفار و سره ئې لا س یو کړی او دمسلمانانو اذیت ته ئې ملا تړ لې ده، او هم مسلما نان دمنکراتو او منهیاتو خواته لمسوی او که ئې څو ک خبره ونه منی هغه تر تی او شپکوی ئې او داسلامی شر یعت مخالفت کوی ، ځکه نو د هند و ستا ن مسلما نان پرخپل اسلام اوپر خپلو ځانو او مالو او نامو سو با ندی بیرېږی اوټول داحمد شاه بابا حمایت او کو مک ته سترگی په انتظار ناست دی، حتی ترټولولوړی پخپله د هندوستان پاچا دخپل وزیر په پټه داحمد شاه بابا دور تگ په انتظار د ی. له بلی خوا دپنجاب دحاکم باز جنگ خان لیک هم احمدشاه با با ته راورسید چی لیکلی ئې و. چی :غازی الدین خان د هندوستان وزیر ترخپلی کمبلی پښې غځولی او دلوی لښکر سره دسرهند خواته راخوځیدلی دی .جمیل الد ین خان نوسی ئې د لاهور دناظم په توگه رالیږلی اوصدیق بیگ خان ئې دهغه ځای دځاو رو سیمو په حکومت

---

(۱) تا ریخ احمد شا هی - ۱/ ۲۴۷، ۲۴۹ مخونه.

تړکاې ، او د کشمیر د سردود او سطرو د حاکم سکهه جیون سره ئې لاس یو کړی او دهغه ئې له کشمیر ورغوښتی دی.

اوهغه هم د پنجاب یرغل کړی او باز جنګ خان ئې د سیالکوټ په کلا کې کلابند کړی دی، او هم غازي الدین خان د معین الملک (میر منو) ماندینه او نوره کورنۍ ئې د هغه د مالو او پیسو او جواهرو او کالو سره د خپلو ملګرو په واسطه په زوره له لاهوره بیولې ده او دې کار د پنجاب په ولایت کې لوی خلل پیدا کړی دی .

احمد شاه بابا ته چې دا خبرونه راورسیدل نو دستي ئې د ولس مشران او د دربار غړي چې په سر کې ئې فتح الله خان سدوزی او ملا ادریس د اردو قاضي وو، راوغوښتل او د خپل خوی سره سم ئې د هغو سلا او مشوره وغوښتله، هغو ټولو په یوه خوله او اتفاق هندوستان ته د احمدشاه بابا تګ منظور کی، او د خپل هر راز فداکاري او سلا تیا اعلان ئې وکړی .

هغه وخت چې احمد شاه بابا هم فوري د هندوستان د تګ نیت وکړی ، او لښکرو ته ئې د چمتو کیدو امر ورکړی ، او د برات د میاشتې په دوه ویشتمه له احمد شاهي ښار څخه وخوځید پنځه ورځې ئې په «منزل باغ» کې تیرې کړې او د برات په اووه ویشتمه د شنبې په ورځ د کابل خواته رهي سو، او چې غزني ته ورسید د هندوستان د پاچا عالمګیر ثاني او د هغه د وزیر غازي الدین سفیر ابرج خان د خپل زوی سره د دوی دربار ته راغئ دوه پیلان ئې د خورا ډیرو نفیسو سوغاتو سره د هندوستان د پاچا له خوا د احمد شاه بابا دربار ته وړاندې کړه. سفیر د هندوستان د پاچا یو لیک په لاس کې نیولی و، او د خپل زوی په لاس کې قرآن مجید ورکړی و، او غوښته ئې چې هغه لیک په خپل لاس د احمدشاه بابا حضور ته وړاندې کړي، خو څنګه چې هغه غوښتنه د هغه سفیر تر رتبې او درجې لوړه نو د برخوردار خان (چې د ایلچیانو او تشریفاتو کار په هغه اړه درلوده) او نجیبو نورو خانانو له خوا د سفیر هغه غوښتنه و نه منله سو، او ورته وویل سوه چې لیک دې وزیر اعظم ته ور کړه سي او یا دې سفیر له ځانه سره وساتي هغه وخت چې د احمد شاه بابا

حضور ته ورغئی پخپله دی په شاهی خلوتخانه کی کېږدی، نوموړی سفیر همږمانه لیک ئې وزیر ته ورکی او قران مجید ئې د خپل زوی له لاسه واخیست او په ډیر عجز ئې وویل چی: دعلیم خدای قدیم کلام می په شفاعت راوړی چی د هندوستان د پاچا او وزیر ملتمسات او مامولات د جهانکشاد همت په ورانندی مقبول او منظور سی(۱)» او دا بیت ئې وو ایه:

ما برین د رنه پی عزت و جاه آمده ایم

از بد حادثه اینجا به پناه آمده ایم

احمد شاه بابا دسفیر ترعجز او زاری وروسته هغه په خپله خلوتخی کی وسانه او خپل حضور ته ئې وروغوښت اود هند دپاچا په هیلو ئې غاړه کښې - بیاله هغه ځایه د کابل لورته روان سو، څوچی د کابل په درې فرسخی کی قلعهٔ قاضی ته ورسید، له دغه ځایه ئې سردار خان جا نخان سپهسالار دقطغن خواته وګماره چی د «قطغانیه» طایفې د هغې دلې سرونه وګوتي چی سرونه ئې له اطاعته غړولي وو.

او پخپله د کوچنی اختر دمیاشتی په نیمه په ډیر برم او جلال د کابل ښارته ننوت

د هند د سفیر رخصتول: د هند دعالمګیر ثانی پاچا سفیر ایرج خان چی په غزنی کی داحمدشاه بابا حضورته ورغلی اوبیاتر کابله پوری داحمد شاه بابا سره ملګری و، له کابل څخه د ډیرو فاخره خلعتو او انعامو اوسوغاتو سره دهغه کال دذیقعده دمیاشتی په پای کی داحمد شاه بابا له حضوره رخصت سو، او د هغه سره قلندر خان یو پلزی داحمد شاهی دولت دسفر په توګه هندوستان ته ورستول سو، چی داحمدشاه بابا له خوا د هندوستان د پاچا دلیک جواب هغه پاچاته و روړي، او د هغه لیک متن چی دسعادت خان منشی باشی داحمد شاه بابا له خوا لیکلی و، دا سی و:

«تبا ادهم ملک دوار بحکم قادر کردګار د رتیز ګاهی با د رفتار است ګلشن خاطر اتحاد ماثر سلطنت و شوکت پناه ابهت و حشمت

---

(۱) تاریخ احمد شاهي - ۱ ر ۵۶۹ مخ:

دستگاه وفارس مضمار شهامت مصدر آثار خرامت ثمرهٔ شجرهٔ ایالت ووجه حدیقهٔ بسالت مشید ارکان شجاعت ومؤسس بنیان جلادت عنوان صحیفهٔ نامداری دیباچهٔ نسخهٔ کامگاری قرهٔ باصره دولت واقبال غره ناصیهٔ سطوت وت اجلال ازفیض جو یبار مرحمت ایزد متعال وچشمه سار مکرمت دادار سرسبز و شاداب باد. بعد ابلاغ تحف دعوات وتزئین بساط یکتادلی وموالات مرفوع ضمیر منیر مهرتنویر میگرداند که: نامهٔ دوستی علامه که مشتمل برمراتب یگانگی واتحاد دولتین علیین و کیفیت بعضی مطالب قلمی وبصحابت عالیجاه رفیعجا یگاه عمدة الخوانین العظام ایرج خان مرسول گردیده بود درا سعد ساعات واحسن اوقات رسیدچون مبنی ومشعربرصحتمندی ذات قدسی صفات بود ابواب مسرت وشادمانی برروی محب مفتوح گردانید و اشارهٔ حسن البشاره که بخصوص صفا فات طرفین وموا خات دولتین علیین درمتن صحیفهٔ الموده تحریر یافته بود — الحق مابین هردو دولت علیه مبا ینت ومغایرت نمی باشد اما ایلچی آن سمت که بعد مراجعت عالیجاه رفیع جایگاه عمدة الخوانین العظام عقیدت واخلاص فرجام قلندر خان درانی ایلچی این دولت خداداد درالکای سند ازجانب پادشاه سابق هندوستان وارد گردید لسانا ظاهر نموده بود که از جانب هندوستان خاطر ملکوت ناظر جمع باشد که درازد یا درواج دین متین حسب المرضی قدسی از جان ودل ساعی هستم وتمامی ممالک وسیع الفضای هندوستان از راه یگانگی تعلق بدولت خدا داد روز افزون دارد، سوای آن آنچه خواهش بوده باشد مضایقه نیست وا منای هردو دولت که عبارت از خیرخواهان دولتین علیین باشد باهم برادروار بوده بسر خواهند برد — چون ما ثر محبت و مراتب مودت ملاحظه شدوهم از خصوص دین پروری واسلام شعاری خاطر جمعی حاصل و هم اینجانب را بامسلمانان نزاع نیست و بهر دیار که شرف ورود واقع می شود سوای سیر نمودن واسم نیک یادگار گذشتن خواهش دیگر نمی باشد بنا بران عنان عزیمت رابسمت ایران زمین معطوف ساختیم — بعد ورود ارض اقدس وباقی حوالی خراسان که تماماً بتصرف این خدا

و

داد در آمده معلوم گردید که خاندان نادریه را جهال آنسر زمین از اوضاع انداخته اند، از انجا که همت والا نهمت باد شاهان ذوالاقتدار د را مثال این احوال پر اختلال دستگیر افتادگا نست بنا بران سلطنت وشوکت پناه ابهت و شهامت دستگاه فارس مضمار شجاعت ثمرهٔ شجرهٔ ایالت صحیفهٔ نامداری دیباچه نسخه کامگاری نتیجهٔ دوده ستودهٔ علیهٔ نادریه فرزند عزیزالقدر شاهرخ شاهٔ طول الله عمره را بلقب فرزندی معزز و سلطنت وشهر یاری آن دیار را باوار زانی وسهام او را نظام بخشیده عنان عزیمت وا بسمت اشرف البلاد احمد شاهی منصرف و بانقضای ایام زمستان از آنجا حرکت بتار یخ شوال المکرم در دارالسلطنته کابل شرف نزول ارزانی داشتیم و عزم وجزم بسمر ممالک ترکستان است که دران مملکت نیز مهام خلایق را انتظام بخشیده گلبانگ نیکنامی را با طراف وجوانب شایع گردانیم که صیت مکارم اخلاق این دولت ابدقرین الی انقراض عالم بر صفحه روزگار یادگار بماند اینجانب را از ین جها نگیری و کشورکشایی سوای تحصیل نیکنامی و سیرجهان و نشرمآثر شریعت سامی خواهشی دیگری نیست و همه اوقات رای صواب نمای اقدس برآنست که چراغ دین متین در ربع مسکون با ضات روزافزون روشن و منورباشد ونقش اهل بدعت ومخالفان مذهب ازلوح زمانه محو گردد بنا بران توجه باطراف و جوانب اقالیم اتفاق می افتد در ینمعنی که با اولیای آنجا یگانگی و اتحاد باشد اگرورود موکب مسعود دران حوالی اتفاق افتد مانعی ندارد و هرگاه آنجماعه موافق مرضی اینجانب بخصوص دینداری راست ودرست باشد بان سمت حاجت عبورو مروریم نیست — ثمره شجره حیات وزندگانی اینجها نی آنست که در دینداری کمربسته خورشیدانور دین اظهر را روشن ومنور داشته آید.

غم دین خور که غم غم دین است   همه غمها فروتر از این است

بخصوص انتقال باد شاه ماضی قلمی نموده اند که بسبب وزارت شخص متغایرالمذهب مرتکب امور نامشروع گردیده بود و از ینجهت از سریر سلطنت بیجا و خود بر مسند سلطنت اجلاس نموده مهام خلایق را انتظام دادند و وزیر سابق را که مخالف ملت اطهر سنت و

په (۲۰۰ھ) کال زیږیدلی او د (۲۹۱ھ) کال د دریمی خور (جمادی الاولی) په دیر-
لسمه شپه د مکتفی ابن المعتضد په وخت و کی مړ دی. ده یو واړی خلیفه گان لیدلی وو،
چی لومړی ئې مأمون او وروستی ئې مکتفی و. د ژوند په پای کی په غوږو د روند سوی
و. د ده قبر د باب الشام په هدیره کی مشهور دی.

ده ډیره قوی حافظه در لوده، او د ادب له ډیرو لویو پوهانو څخه ئې سمع کړې
وه چی مشهوره ئې د سلام جمجی زوی محمد، او د زیاد اعرابی زوی محمد، او د سغیرة
الاثرم زوی علی، او د منذر حرانی زوی ابراهیم، او د عاصم زوی سلمة، او د عمر قواریری
زوی، عبیدالله، او د بکار زوی زبیر وو. بیا له ده څخه ډیرو نورو لکه د عباس یزیدی
زوی، او د سلیمان اخفش زوی علی، او د محمد زوی ابراهیم، او د مقسم زوی ابوالحسن
او د کامل زوی قاضی احمد او نورو روایت کړی دی.

ثعلب وایه چی له قوار یری څخه ئې سل زره حدیثونه اوریدلی دی، او هم
ابوالعباس احمد ویلی دي چی په شپاړس کلنی ئې په عربیت او شعر او لغت کی په
ځیرنه خوله پوري کړې ده، او هم دی وایی چی:

«د فراء ټول کتابونه می په یاد کړه چی یو توری ئې لا هم را څخه پاته نه سو، او
هغه وخت چی زه پنځه ویشت کلن وم تر نورو علمو می نحو ته زیاته توجه درلوده،
او چی نحوی بشپړه کړه نو د شعر او معانی خواته می مخه کړه، او لس کاله می د ابو-
عبدالله ابن الاعرابی خدمت و کیء، او په یاد می دی چی یوه ورځ دی د احمد ابن
سعید ابن سلیم سره و، او زه هم ورسره وم، او یوه ډله نور پوهان لکه سدری او ابو-
العالیة هم هلته وو، او چی د شعر په باب کی خبری منځ ته راغلې او په هغه
کی پوښتنی پیدا سوې، او سادهری پوښتنی جواب وایه او ابن اعرابی غوږ ورته نیولی
و، د بحث په پای کی ئې د اعجاب په نظر احمد ته و کتل او زه ئې په ستر گو کی
ورو ښو ولم...»

په عربیت او د عربی ژبی په ادب او لغت کی د ده مخنی مناظری د د هغه د لغتناسی

جماعت بود ازخدمت وزارت معزول و عالیجاه رفیع جایگاه حشمت وزارت دستگاه عمده الخوانین العظام اسوه الکبرای الفخام جمده الملک مدار المهام وزیر صاحب تدبیر غازی الدین خان بهادر را برتبهٔ عظیم المنزله وزارت اعظم معزز و سرفراز گردانیدند ـ بهر تقدیر امور پادشاهی در ید قدرت کامله الهی است و هر کس را که پروردگار عالم شایسته چنین امر عظیم الاقتدار کرده باوشفقت و ارزانی می شود کار پردازان قضا وقدر پادشاه ماضی را قابل این منصب سترگ ندیده بودند که لباس سلطنت ازو خلع کرده خلعت خلافت را بان اخوی پوشانیدند و حق بمرکز قرار یافت ـ خلاصه مدعا اینکه عهد و حالی که در ایام قبل ما بین هردو دولت علیه قرار یافته نقصانی دران بهم نرسیده است، چراکه عهدی که ما بین سلاطین نامدار متحقق میگردد بحکم «اوفوا بعهدی و اوف بعهدکم» نسلا الی نسل و بطنا الی بطن برقرار و استوار می باشد، عالیجاه غازی الدین خان بهادر وزیر اعظم آن سرکار نیز مرد آگاه و دیندار و صحیح النسب است و وزارت هندوستان قبل ازین هم بسلسله او منسوب بوده و حال هم که مشار الیه برتبه وزارت سرافراز گردیده بسیار بجا ست ـ نظر بصفایی طینت وزیر مذکور و علو همت و سمو فطرت آن زبده دودمان جلالت این اجتماع از قبیل قران سعدین منصور است انشاالله تعالی تمامی امورات بحسب خواهش نظام خواهد یافت و دوستی و یکرنگی این دولت علیه نیز بسر اکثر مطالب که موجب استحکام برادری و نظام یکجهتی است ازو زیر مشیر مذکور بعمل خواهد آمد عالیجاه رفیع جایگاه امیر الامرای العظام عقیدت و اخلاص فرجام قلندر خان درانی نو فلزی را بطریق ایلچی گری با نسمت مامور کرده شد بعونه تعالی بخیریت وارد میگردد و چگونگی عهد و پیمان که قبل ازین با پادشاه ماضی مقرر شده بود با سایر مواد لساناً اظهار می نماید در جواب آنچه صلاح دولتین علیتین بوده باشد ازان قرار قلمی سازند که باعث مزید دوستی و استحکام یکتا دلی و انتظام سر رشته یکجهتی خواهد بود ـ باقی ایام سلطنت و شوکت و ابهت و بسالت

مدام و مستدام یاد برب العبا د (۱)

د هندوستان دسفیر تر رخصتولو وروسته احمدشاه بابا هند وستان ته خپل تګ د خپل سفیرقلندر خان تر بیرته راتګ پوری وځند اوه ، اوپه داخل کی دود انیو او باغو اولاروپه جوړولوبوخت سو ، اوهم ئی تردوو کالو پوری تول بیګارو نه اوحوالی خلکو ته معاف کړی اودمعافی فرمانونه ئی د هیوا د هری سیمی ته ولیږ ل ، او هم ټولو والیانو اوحا کمانوته فرمانونه واستول چی دلویولاروپه څنګ کی دمسا فرانو او دسوداګرانو دقافلو د هوسایی دپاره پړاونه جوړ کړی ، اودپرا وو شاو خوا باغونه ودان کړی چی په هرباغ کی یوسل اویودیرش زره او پنځه سوه اوا تیا میوه لرونکی نهالونه ګښینوی .

په دی وخت کی له قطغنه دخانجان خان دبری زیری احمدشاه بابا ته راورسید چی دقطغانیه طایفی مشر (مضراب بی) د (سهراب بی) زوی ترسختی جګړی وروسته په کندوزکی ځان احمدشاهی لښکرته تسلیم کی اوهم نورمتمردین یاووژ ل سول اویا وتښتیدل اویابندیان سول ، چی دوژلی سویو کسانو له سروڅخه ئی د حاجی علیخا ن مستوفی پرقبرباندی کله منار جوړ کی ، اوبندیان ئی بیرته اپله اور خصت کړل ، روئی هغو څخه یې دیراسان اوپیسونه اومالونه ولجه نیول چی یوازی ئی داحمدشاه بابا حضورته پنځوس زره پسو نه د هغه بری د زیری اومبارکی دلیك سره راولیږل .

هغه و، چی داحمدشاه بابا له خوادمضراب بی او دقطغنانیه طایفی دنو رومشرانو په نامه دمهربانی اوشفقت اودادینی فرمانونه واستول سو ل اوسرد ار خا نجان خا ن ئی بیرته خپل حضور ته ر اوغوښت .

سرد ارخانجان خان په همغه کال د(نارین) د کلا په ارګ کی یوه خورا ښکلی

---

(۱) تارتخ احمدشاهی - ۱/ له ۵۸۰ مخ څخه تر ۵۸۶ مخ پوری .

اولورمانی ودانه کړه، چې پرهغې ئې (درانیه) نوم کښېښود (۱)

د پېښاور خوا ته اتګ: څنګه چې د هندوستان حکومت د احمد شاه بابا سفیر اود لیك جواب ورځنډاوه او له هغه ځنډځخه ئې مطلب داو، چې ګوندی احمدشاه بابا د هندوستان ته ورتګ څخه مخ واړوی او یا په هندوستان ته د تګ وخت او موسم وربا ندی تیرسی، خو احمدشاه بابا چې د هندوستان د حکومت په دروه پوهیده او په تیره بیا د غازی الدین خان وزیر د ګېدړی چمونه ور معلوم و، نو نور ځنډ ئې بې ځایه وباله، لومړی ئې عبد الصمد خان درانی محمود زی د پېښاور حاکم د کشمیر دسیمې په سرداری وټاکه او ورته ئې امروکې د پېښاور او مومندو او یوسفزو او د هغه ځای د غرنیو سیمو د قبیلو د لښکرو سره د «سیکهه جیون» د سر کوټلو د پاره د لاهور سیمو ته وخوځیږی، او د هغه ځای د څلورو سیمو د حاکم بازجنګ خان، او د لاهور د ناظم خواجه عبدالله خان، او د نوموړی ناظم د نایب خواجه میرزا په ملګری دی پر لاهور یرغل وکړی، او هغه سیمه دی د متجاوزینو له لاسه وباسی او د هغې صوبې افغانی صوبه دار او د ښار حاکم ته دی وسپاری او بیا دی د کشمیر خواته مخه وکړی.

ددې امر د فرمان تر لېږلو وروسته د هغه کال د دوبی په پای او د منی په سر کی د حج د میاشتی په دوه ویشتمه د شنبې په ورځ احمدشاه بابا هم له کابله وخوځید او په لومړی پړاو «بتخاک» کی ئې د تر تیبا تو د نیولو د پاوه پنځه ورځې تیری کړې او بیا د جلال آباد خواته رهی سو، او محرم د میاشتې په اتمه د جلال آباد د «چارباغ» ته ورسید، هلته ئې لس ورځې تېرې کړې او د محمود الحسینی په قول

۱- تاریخ احمدشاهی ۱ ر. ۹۰ مخ

احمد شاه بابا په چارباغ کي یو تورمار سړ کي چي دیر ش گزه او ږدو (۱) اوله هغه ځایه د پیښاور پرلور روان سو، او پر لاری د باز جنګ خان او عبد الصمد خان چاپار اورسید او احمدشاه بابا ته ئې دلاهور دنیولو او دسکهه جیون دتښتید لو خبر راوړ، چي دمحرم دمیاشتي په لسمه دجمعې په ورځ عبدالصمد خان او باز جنګ خان او ددوی نور ملګری او لښکر په لاهور وروننه وتل، او ستمر دین د «شاهجهان آباد» خواته وتښتید ل (۲) احمد شاه بابا عبدالصمد خان ته وایل چي د کشمیر خواته تګ دی. تر هغو وځنډ وی څو چي په خپله احمدشاه بابا وررسیږی، او دصفری دمیاشتي په سرکی پیښاورته ورسید. په پیښاور کی ئې د خپل زوی شهزاده «دیان» دمړینې خبر واوریدّ، او زړه ئې ډیر ودز دید.

په دې وخت کی سردار خانجان خان د خپل لښکر سره دافغانستان له شمالی سیمو څخه پیښاور ته ورسید، او د احمد شاه بابا د لښکر سره یو ځای سو او احمد شاه بابا هغه د صفری د میاشتي په دوهم ویشتمه د شهزاده تیمور سره دمقدمة الجیش په توګه ترخان دو منزله د سخه د لاهور خواته ولیږه او په خپله دصفری په درویشتمه له پیښاوره و ر پسې وخوځید، او چي د اټک ترسیند پوری پووت دلاهور دپخوانی چالاک والی ادینه بیګ خان ایلچی احمدشاهی اردوته راورسید او د آد ینه بیګ خان دمکره د ګ یو لیک ئې د

---

(۱) دی لیکی: «بادشاه کامران متوجه سیر وګلګشت آن مکان بود — مار سیاسی که قدش سی زرع بی کم وزیاد ودم آتشینش آتش افروز کورهٔ حداد ودم درازش چون اختر دنباله دار مولد بلا و فساد وبر درختی پیچیده بود بنظر انور در آمد خسرو شیر شکار فوراً کمان هلال نشان در کف قضا آثار گرفته بیک ضربت تیر قدر تاثیر کار آن موذی بانجام و اختتام رسانید ند (۶۰۰ مخ)

(۲) دلاهور دنیولو تفصیل د «تاریخ احمد شاهی په ۶۰۲ مخ تر ۶۰۶ مخ پوری راغلی دی.

احمدشاه شاه بابا حضورته وراندی کی ، خوځنګه چی احمدبابا د هغه په چالاکی او دروه خبرو ، د هغه‌لیک ته ئې څه اعتنا ونه کړه، دوئی ئې ایلچی ته‌وویل چی: « دخان‌خیر په دې کی دی‌چی پلمې او بهانې شاته وغورځوی او بې له بیړی‌اوو سواسه دی راسی‌او داړ دی اوسی چی زموږ له خوا به شا هانه مهربانی ووینی» مګر څنګه چی دآدینه بیګ خان زړه پاک نه و، داحمد شاه‌بابا پیغام‌ته ئې هیڅ جواب ورنه کی‌بلکه هغه وخت چی احمد شابابا‌تر«جهیلم» پوری‌ورت معلومه سوه چی آدینه بیګ خان ددیرش څلو یښت زرو سپرو او زیاتی‌توپخانې‌سره جګړی ته چمتو ناست و، نو احمد شاه بابا سردارجهان خان د یو څه نوج‌سره د هغه خواته وګماره ، او هغه‌سر دار دایشک اقاسی باشی د نایب اسدالله‌خان‌اواخلاص فلی خان هوتکی ، او ولی محمد خان جوانشیر او محمد صالح خان او محمدحسین خان خوشانی اوچراغ خان کردانو ر و نو میالبو خانانو او آزمویلو سویو قراولا نو په ملګری د پنځلسو ورځو مزل په دوو ورځو وواهه او په«ساکووال»نومی ځای کی ئې د آدینه بیګ د لښکر سره جګړه و نښتله که څه هم افغانی سرتیری د آدینه‌بیګ‌تر لښکر ډیر لږوو،خو د آدینه بیګ‌لښکر ماته وکړه.او د هغو ډیر پیلان او لویه توپخانه او مالونه د افغانی لښکر په لاس کښیوتل او پخپله آدینه بیګ له نور لښکر سره د هغه ځای ځنګلوته و تښتیده،او وریسې ئې د «جمون»راجه چی هغه هم له اطاعته سرغړولی‌و،اېل کی‌ړ،او دافغانی دولت باج‌او خراج‌ئې‌ومانه،او دریمه‌ورځ احمد شاهی‌لښکر د«جمون»په یوفرسخی کی وارول، او بیاله هغه ځایه د پنجاب تر سیندو نو پوری تل د سرهند خواته وخوځیدل،او داحمد شاه بابا په‌حکم سردار خان جانخان دیو څو زرو سپرو تیرو سره د سرهند د اوسپدونکو د داړ او تسلی دپاره هغه ښار ته ور غی‌ء او د هغه ځای خلک ئې اطاعت ته راوبلل او تولو د احمد شاه بابا اطاعت ته غاړی کښېښوولې، او نوموړی سردار د احمد شاه بابا ورتګ ته په انتظار کښېنوست،او هغه وخت‌چی

د احمد شاه بابا لښکر د ستلج د سيند په غاړه د«بهلولپور» کلی ته نژدې و رسېد نو خبر سو چې د هندوستان پاچا عالمګير او د هغه وزير غازی الدين خان د احمد شاه بابا د لښکر په راتګ ډېر وار خطا سوی دی او د مقابلې د پاره ئې بې شمېر لښکر راغونډ کړی دی .

احمد شاه بابا د سر هند ساتنې ته د ديرهٔ غازيخان د مالياتو وا کدار او حاکم جان نثار خان اميرالامرا وګماره چې هلته پاته سی،او سردار خان جا نخان بې د شاه پسند خان ميراخور با شی په ملګرى د شاهجهان آباد خواته ولېږه چې لوړى د هندوستان د هغه لښکر کارو وکړى چې په«کرنال» کې پراته دی او بيا له هغه ځايه د شاهجان آباد لورته پر مخ ولاړ سی اوشاهجان آباد ونيسی .

د هند د بل سفير او ليک راسيدل : د مخه سو وليکل چې د هندوستان د پاچا لوړى سفير ايرج خان په ښه احترام د احمد شاه بابا د سفير قلندر خان په ملګرى د هندوستان د پاچا دربار ته واپېول سو،او د اتـأ کيد سوى و ،چې افغانی سفير دی ډېر ژر د احمد شاه بابا د ليک دجواب سره بېرته راو استول سی،خو د هندوستان دولت افغانی سفير او د ليک جواب تر ډ غه وخته ځنډولی و،خو چې احمد شاه بابا سرهند ته ورسېد،او د ا وخت نو غا زی الدين خان د غفلت له خوبه ويښ سو،او وپوهيده چې د احمد شاه با با د لښکر سره مقابله نه سی کولای نوقلندر خان ئې د هند دپاچا له له خوا د يوه نوى سفير رضاقلی خان او يوه ليک سره د احمد شاه بابا حضور ته راولېږه،او هم ئې د ځان له خوا د وز ير اعظم شاه ولی خان په نامه ليک راواستاه او په هغو ليکونوکې ئې له احمد شاه با با او شاه ولی خان څخه هيلی کړې وې چې بېرته وګرځی.د هندوستان د پاچا د ليک متن د اسی و:

«تاابلق خوش عنان ليالی وايام واشهب عنبر فام شهور وعو ام درکرم جولانی وسبک عنانی بې اختيار است و قطب آسياى فلک درسکون اضطبار ناچار ست آن

اورنگ آرای سلطنت وسریر پیرای دولت مظهر تائیدات الهی مورد برکات نامتناهی زبدهٔ دودمان عزو علا خاصه خاندان مجدواعتلا دهر سپهر بختیاری سپهر مهر کامگاری شمع فروغ افزای بزم مخالصت ومصادقت چراغ شبستان موالفت و موافقت گوهر تاج دولت وقبال خورشید مشرق عزوجلال مروج قوانین دین متین قامع بنیان کفرهٔ ضلالت آئین از تصاریف دهر ناهنجار وتقالیب سپهر بیمدار در حفظ پروردگار مصون و محروس بوده جالس سریر خلافت ابدی و قاعد اورنگ سلطنت سرمدی باد بعد طی تکلفات عرفیه وتصلفات رسمیه وشرح مراتب صدق و صفا و اظهار مراسم مودت وولا منکشف ضمیر بیضا نظیر میگردد، نامهٔ نامی وصحیفهٔ گرامی که لخلخهٔ سامی مشام اتحاد و عطر پیرای دماغ محبت وو دادبود در حینی که نسایم بهارستان افضال واهب متعال طراوت بخشی ریاض خاطر یکجهتی ماثر داشت بصحابت عالیجاه لایق المرحمت والاحسان قلندر خان درانی پرتو وصول انداخته بروایح فوایح ودادوو لا سرور افزای باطن مخالصت مواطن گردید :

کجا نسبت برنگ لعل یا آب گهر دارد
عطوفت نامهٔ صافی دلان قدری دگردارد

برضمایر سرائر نظایر روشندلان آینه خاطر پیداست که درعالم امکان و جهان کون و مکان هیچ امری ازامور شریف‌تر ازمحبت و مودت ولطیف تر ازاتحادوموالفت نیست وهرگا مظهور این لطیفه شریفه درعامه خلق الله مثمر خیر کثیر باشدچون فیما بین دو بزرگ گروه الهی که بارجهان وجهانیان بر دوش وشاهد مرادات عالیه در آغوش دارند تحقق این مرابطت صورت گیرد بطریق اولی منتج بدایع نتایج والا واصل الاصول مطالب دلکشا خواهد بود الحمدالله والمنته که این بنای عالی واساس متعالی در شهرستان جان وخیابان این نیازمندد گاه ایزد منان وآن مهدمهاد عدالت و احسان معمار قدرت الهی و مهندس صنعت نامتناهی برنگی میشدومستحکم ساخته که تاانقراض عالم وبقای نوع بنی آدم ازپا ننشیند وازجا نرود آنچه درخصوص انتشار ماثر دین مبین وهدم بنیان کفرهٔ

ضلالت آئین زیب نسطیر پذیرفتند در ایام ماضیه و ازمنهٔ سابقه از بی اعتنایی پسر محمدشاه که برحسب اتفاق نه برسبیل استحقاق بپادشاهی هندوستان سرغرور بر افراخته وزیر شرانهاد وزراو که بنا بر غلو تشیع تارک سنت و جماعت بوده دستیاری ضلالت منشان دکن می نمودند از روزی که او رنگ سلطنت بجلوس ابد مانوس این نیازمند جناب قدوس مزین و دیباچه خلافت ابدقرین بنام این بر نواخته لطف رحمانی معنون گذشته رایات کفر و ضلال منکوس گردیده و بخاک بی اعتباری خوابیده و اعلام دین متین باستقامت تمام سربعیوق کشیده بجای شور ناقوس زمزمهٔ تکبیر برپا ست و در عوض ترانه یاصنم غلغله یااحمد بلند آوا ست و این سجیه رضیه روزافزونست و تمام دیار هند از برکات رواج شریعت غرا مشحون الحمدالله علی ذلک العطیه البهیته مرقوم قلم مشکین رقم گردیده که برای اعلای اعلام شریعت بیضا و ملت غرا سیر و گلگشت اقالیم و امصار مطمح نظر حق نگر نمیباشد والا غیر از مهر و وفاق و محبت و اشفاق با بنی نوع انسان امر دیگر مخطور خاطر حقیقت مظاهر نیست از آنجا که محبت و اتحاد و یکجهتی و وداد فیما بین از قرار واقع و اینمعنی در تمام عالم بشیوع عام شایع است لهذا دل محبت منزل بدریافت مواصلت صوری اشتیاق بدرجه کمال دارد و تحصیل این امر برکت اثر را بر جمیع مهام راجح و اقدام می شمارد الحق جای که ملتقای دو بادشاه معدلت دستگاه میگردد بر سپهر برین و فلک علیین تفوق میجوید و بهم رسیدن دو سرافراز گروه الهی از عالم اجتماع بحرین و اقتران یزین متصور است و آثار برکات و فیوضات آن بهمگی ذرات کاینات واصل و متواصل میگردد لیکن درین ایام میمنت انتظام که جیوش رعد خروش و افواج عمان امواج بشمار اوراق اشجار و عدد ذرات خورشید نور بار از اطراف و جوانب بلاد و امصار بعزیمت استیصال کفار فجار در رکاب همایون ما فراهم آمده بجانسپاری و جانفشانی دامن سعی بر کمر بسته اند درصورت ورود مسعود آن فارس مضمار سلطنت باین حدود اگر از عامه لشکریان که اکثر آن مجاهیل و نادانند در هنگام التقای جنودین مسعودین جمعی را باهم آویزشی رود هدر رفته رفته بخلاف رضای طرفین کار دگرگون گردد و امور منافی

خلوص محبت بظهور پیوندد و مرغوبات بمتنافرات می انجامد. لهذا درین هنگام اگر این عزیمت درحیز تاخیر افتد و تا وصول وقت معهود و زمان مرصود درگر وتوقف باشد احسن و بالفعل سرا پرخما پر جانبین بوسیلهٔ اسفار و سفیر مکشوف خاطر دولتین علیتین شود اصلح وابین می نماید والا خاطر ملکوت ناظر ماجرا زمسرت ملاقات جهت آیات مشتاق و آرزومند است ومسیر این امر سرو راثر خیلی دلپسند و المنة لله تعالی که بنای پابرجای عهد و پیمان مشیده مستحکمه دولتین مقدستین درکمال تشید و استحکام است وترحیص این بنیان محبت افزان موجب سرور باطن مودت مقام باقی ایام سلطنت و خلافت جاوید بکام و مستدام باد (۱)

دالیك خو په ظاهره د هندوستان د پاله خوا لیکلی سوی و، مگر په حقیقت کی غازی الدین خان وزیر پر پاچا تحمیل کړی و، ځکه چې د هندلیك ترور سپارلو وروسته عالمگیر ثانی د هندوستان پاچا په پټه قلندر خان ته دخپل یو باوری محرم خواجه سرا په لاس داسی پیغام ورولیږه چی: «شوقمندی دریافت صحبت کثیرالمسرت جهاندار کشور ستان کشوردل را بدانسان احاطه نموده که شرح آن در دفا ترگنجان نیست ونامهٔ که ازینجانب غازی الدین خان قلمی ساخته خاطرما اصلاً بمضامین مندرجهٔ آن رضا نیست الویه ظفر طراز البته بسیر شاهجهان آباد اهتزار یابد وجنود نصرت آئین بی توقف باین صوب شتابد که اینمعنی مقوی دین متین و تخلیص این محب از چنگ شر یر عنید خیانت آگین خواهد بود، اصلاً بتوجیهات وتاویلات غازی الدین خان مذموم الصفات مراجعت بعمل نیاید که درصورت معاوت الویه ظفر آیت اساس دولت کورگانیه متخلل وبنای قصر شریعت درین مملکت متزلزل خواهد شد (۲)»

---

(۱) تاریخ احمد شاهی -۱-۶۲۵ مخ

(۲) تاریخ احمد شاهی — ۱/ ۶۳۰ مخ

محکه نو احمد شاه بابا دهندوستان د پاچاد خلا صون دپاره هم ملاو تړله، او دهندوستان دپا چادهغه‌لیک په جواب کی چی دغازی الدین‌خان له خوا احمدشاه بابا ته را استولی سوی و، د سعاد تخان منشی با شی په قلم یو لیک ولیکه او د هندوستان د سفیر رضا قلی خان په لاس ئې ورو ایږه چی متن ئې دا سی و.

«تاادهم فلک دوار بحکم پروردگار سر یع رفتار است گلشن خا طر اتحاد مآ ثر سلطنت وشوکت پناه حشمت وا بهت د ستگاه فارس مضمار شهامت مصدرآثارضرامت ووجه حدیقهٔ بسالت مشیدارکان شجاعت موسس‌بنیان جلالت عنوان صحیفهٔ نامداری دیبا چه نسخهٔ کا مگا ری قرهٔ باصرهٔ دولت وا قبال غرهٔ نا صیهٔ سطوت وا جلال ا زفیض جو یبار رحمت‌ایزد متعال‌وچشمه سار مکرمت دادار بیهمال سر سبز وشاداب وریان وسیراب باد – بعد ابلاغ تحف دعوات وارسال تحایف یکتادلی وموالات‌مرفوع ضمیر منیرمهر تنویر میگرداند که در ینولا عنبر ین شما مه مشروح با ینکه انتظام مهام مما لک دکن وبنگاله وغیره از قرار دلخواه منتظم وسا یرا مورا قلیم هند منصرم گردیده قلمی و مرسول شده بود بصحابت سفیرآن دولت علیه رسیدوچون مشعربرخبر صحت‌آن زبدهٔ دودمان سلطنت بود ابواب مسرت وشادمانی را برروی‌خاطر هما یون کشود درحینیکه عا لیجاه قلندرخان درانی باتفاق ایرج خان ایلچی‌آن والا دستگاه ما مور و مرخص شده مقرر گشته بودکه ایلچی مذکور بعد اطلاع برا موری که بتجد ید دران مملکت حادث گردیده بسرعت مرا جعت نموده مقد مات را کماً وکیفاً بعرض والا برساند، اگردر معاودت سفیر صادق التقر یروارجاع جواب نامهٔ محبت شمامه مکث ودرنگ واقع شدرا یات فتح بنیاد بجانب شا هجها ن آباد نهضت و حرکت خواهد نمود. در ین

په (۱۳۷۹، ۱۳۸۰، ۱۳۸۱ مخو کی تر ۱۳۸۳ مخ پوری) مفصلی راغلی دی، که بناغلی لوستو نکی ورسره علاقه لری علته ئې لو ستلای سی.

یاقوت حموی د محمد ابن عبدالملك له کتابه د نحو پینو په یادونه کی لیکی چی ابو العباس احمد د یحیی زوی، د زید نمسی او د ثعلب کړوسې د کوفې او بصرې تر ټولو نحو یانو او لغویانو په ډله کی رشتین په شان او منزلت کی ستر، او په ناسه او قدر کی هسک او په علم کی سم، او په حلم کی دارنی سیښې خاوند، او په حفظ او یاد کی تکړه، او په دین او دنیا کی د ښې بر خې څښتن و .

یاقوت د ابو الحصین بجلی له قوله لیکی چی د کوفې خلکو به ویل چی: «سو ږ لکه په فقه کی چی درې ستر پوهان (ابو حنیفه، ابو یوسف او محمد ابن الحسن) لرو، په نحو کی هم دا درې ستر پوهان دی: ابو زکریا یحیی ابن زیاد الفرا، ابو الحسن علی ابن حمزه کسائی او ابو العباس احمد ابن یحیی ثعلب»

دده مشهوره تالیفات دا دی :

۱ _ کتاب المصون _ په نحو کی .

۲ _ کتاب اختلاف النحویین .

۳ _ کتاب معانی القرآن

۴ _ کتا ب مختصر _ په نحو کی .

۵ _ کتاب القراآت .

۶ _ کتاب معانی الشعر .

۷ _ کتاب التصغیر .

۸ _ کتاب ماینصرف و ما لا ینصرف .

۹ _ کتا ب مایجزی و ما لا یجزی.

۱۰ _ کتاب الشواذ .

۱۱ _ کتا ب الوقف والابتدا ،

بین تجدد وقوع امور پر شور و شین دوان سلک مکرر بعرض رسید وایلچی نیز معاود نگردید ودر موسم سفر هندوستان مهلتی قلیل باقی ماند لابد عنان خیول نصرت شمول بان سمت معطوف گشت در منزل خانپور از توابع سر هند سفیر دولت ابد پیوند باتفاق رضا قلیخان ایلچی آن پادشاه ارجمند وارد شده مطالب ومقاصد را لسانا معروض نمودند چون انصراف زمام جنود ظفر فرار تسام ازین منازل موجب توهمات بیجای ظاهر بینان جاهل وشیوع اراجیف باطل بود الویه ظفر طراز بجانب مقصد نهضت فرمود ان شاء الله تعالی درا قرب ایام ملاقات صوری حاصل می شود وصدق و کذب نقار یر اهل تزویر به تنقیح می رسد و سراج وهاج دین حق امتزاج در ظلمت سرای هند از سر نو روشن و منور میگردد، نواب همایون مارا از قبول سلطنت غیر از افراختن اعلام شریعت سیدالانام و تنویر چراغ ملت واجب الاحترام امری دیگر منظور و ملحوظ نیست بعونه تعالی بتجدید قصر متین مذهب مبین درین ارض کفر آئین استحکام تمام می یابد پیداست که تائید و تقویت اسلام و دین بر ذمه سلاطین شریعت آئین نقش وجوب دارد لهذا همگی همت علیا در ترمیم کاخ این امر خیر منحصر می باشد تا بقتضای کلکم راع و کلکم مسئول عنه در روز جزا بد یوان عدالت خدا مأخوذ نباشیم :

غم دین خور که غم غم دین است   همه غمها فرو تر از ین است

باقی ایام دولت مستدام باد (۱)

د هندوستان دپاچا د سفیر تر رخصتو لو وروسته سردار خانجان خان سپه سالار او شاه پسند خان میراخور باشی د خپلو زړورو سرتیرو سره په «کرنال» کی د هند پر دولتی لښکر یرغل وکی او هغه لښکرئي وتښتاوه، لویه توپخانه اونورډیر جنګی سامانونه

(۱) تاریخ احمد شاهی - ۱/ ۶۳۱ مخ

په لاس ورغلل اود پرمختګ لاره ئې د احمدشاه هې لښکر پرېیخ پرانیستله. ددې برې زیرې ئې احمدشاه بابا ته ولیکه او پخپله د «شاجهان آبادی خواته پرېیخ ولاړ. هغه و، چې د ۱۱۶۹ هـ ق کال د دوهمې خور (ربیع الثانی) په میاشت احمدشاهی لښکر د «سون پت» پراوته ورسید ، اوپه دې ځای کې خبرسوچې غازی الدین خان د هندوستان وزیر ددکن د مرېټهه سردارانو سره لاس یو کړی او یو خورالوی لښکر ئې د احمد شاه بابا د مقابلې د پاره جمتو کړی دی اوهم ئې ښښتون نجیب خان (چې وروسته د نجیب الدوله په لقب یاد سوی) د پنځه شپېتو زو رښښتنو جنګیالیو سره د احمد شاه بابا د لښکر دمخنیوی دپاره دخورا درنې توپخانې او ډیر و جنګی پیلانو سره را ایستلی دی. ځکه نو احمد شاه بابا لومړی دسون پت په تینګه کلا کې خپله درنه بنه واچوله او مرادخان درانی جارچی باشی ئې دهغې ساتنې ته و ګماره ، او بیائې خپل لښکر دسلطان محمود غزنوی اوسلطان مسعودغزنوی په څیر پر قلب او جناح او میسره او میمنه باندې وویشه اومقابلې ته ئې چمتو کې، اوهم ئې توپونه پر خپل خپل ځای اوربل ته سم کړه ، اوپخپله ئې د لښکرپه زړه کې ځای ونیو. له بلې خوا سردار خا نجان خان له کرنال څخه د شاهجهان آباد کیڅې خوا ته د جمنا تروا و بوبور یووت اوپه ډیر جوش اوخروش، په ډو لو او نغارو «شاهدرې»او «پترګنج »ته ورسید ، اوهم شاپسند خان میراخور باشی پر«پهاو ګنج» باندې افغانی بیرغ پورته کې.

له بلې خوا دغازی الد ینخان لښکر و او ددکن مرېټهانو په ډیرغرور او نخوت خود نمایی شروع کړه، او خورا سخته جګړه ونښتله ، د غازی الدینخان لښکر او مرېټهانو ماته وکړه ، اونجیب خان روهیله ښښتون چې په رګو کې ئې پښتنې وینو غور ځنګم واهـه د سردارخان جانخـان سـره و لیـدل او د خپـل تـو ل لښکـر

او ملگرو سره داحمد شاهي لښکرته ورغي او ورسره يوځای سو، او خورا ډير جنګي سامان، توپونه او پيلان دا حمد شاه بابا دلښکر په لاس کښيوتل. خوځنګه چې د «سون پت» سيمې دځارو يودپاره کافي وابنه نه درلودل نواحمد شاه بابا اشرف الوزرأ شاه ولي خان د«شاهجهان آباد» خواته ولیږه چې د افغاني لښکرد پاره مناسبه سيمه ولټوی او هغه شاهجهان آبادته نژدې په «نرېله» نومې ځای کی دوښوډ که سيمه وموندله. په دې وخت کی د هندوستان وزير غازی الدينخان بيادا شرف الوزرأ شاه ولي خان په نامه د مينې او دوستۍ ليکونه شروع کړه ،شاه ولي خان هم چې د شاهجهان آباد شپږ فرسخۍ ته رسيدلی و، وزيرغازی الدينخان ته دخيراندېشی او ددوارو خواو، ترمنځ دروغي په باب کی يوليک واستاوه اوغازی الدينخان ته ئې دملاقات دپاره بلنه ورکړه. غازی الدين خان خپل څوباوری ايلچيان شاه ولي خان ته ولیږل او پيغام ئې ورواستاوه چې:

«زه ستاسی دزمريانو غوندی سرتيروڅخه ترحدزيات ډير يم، که تاسی ددوستۍ له لاری دشاهجهان آباد ښارته راسی نو زما زړه به دډيری اوهراس له ګردابه ووزی»

شاه ولي خان دغازی الدين خان دا پيغام د احمد شاه بابا حضورته ولیږه او احمد شاه بابا چې له« سون پت» څخه د«نريله» خواته کوچيدلی و، نود سپرلی په حال کی ئې پخپل خاص خط شاه ولي خان ته دا سی لارښوونه وکړه چې: «دننه ښارته هغه فدوی ورتګ دحزم او احتياط له سخي ورنه دی، ځکه چې غازی الدين خان ترپوروړولاندی او به بيايي مبادا چې کم چل او خديعت به ئې سنجولی وی، ښه دا ده چې غازی الدين خان ځانته راو بولی، که نو موږی دافغاني بريالي لښکرله ډيری افغاني چوني ته راته سی، هغه فدوی دی په ډير احتياط او هوښياری ښارته نژدې ورسی، هغه دی راو بولی او ورسره ودی ګوری»

ددې لارښوونی تر رسيدو وروسته شاه ولي خان ، غازی الدين خان ته احوال ولیږه چې : « اوس دستي ښارته په درتلو ساسورنه يم ، که ستاسی په زړه کی

بیره اورعب وی نو ستاسی دگمان او وسوا س درفع او دبیری ا و هراس ددفع د پاره ښارته نژ دې درځم ، تاسی هم له ښاره را وزی او راسره وګوری ، له بیحا صلو تو هماتو او لاطایلو وسو سو څخه زړه پاک کی » هغه و، چی غازی الدین خان له دا چار یه راضی سو، له ښاره ور ووت او ښارته نژ دې دېره سو ،ا و ه هغه ځا یه ئې ئې شا ه ولی خا ن ته داسی پیغام ولیږه چی : اوس لا هم بیره او هراس پر ما سرتر پایه مستولی ده ، که څوګامه پر سخ راسې او دا مضطرب د هول اوبیری له ښنده وژ غوری عین محبت به وی»

شاه ولی خان خپل لښکر پرځای پریښود او ددوو سو وچتکوو سره تیرسره ورتګ ته چمتو سو ، که څه هم ور سره مشرانو اوخانانو ورته وو یل چی:«دغازی الدین خان سره شپږ او وه زره سپاره دی نوددونه ډیر و دښمنانو منځ ته ور تګ دحز م او احتیاط له مقتضا څخه لیر ی ښکاری» خو شاه ولی خان جوا ب ور کی چی : « ز ړ و نه له وسواسو خالی کی او بیځایه تو همات پر بږ دی «نو چی سپریدی ملګروته ئې سپار ښتنه وکړه چی لښکر د ی لا ری څاری ، که غازی الدین خان غو ښته چی بیر ته وګرزی نه دی پریږ دی چی ښارته ولاړسی. بیانو ور غی او غازی الد ینخا ن هم ورته راغی ، دواړه له آسانو راکښته سول او په یوه پالکی کی سره کېښناستل ، تر روغبړ وروسته شاه ولی خان غازی الدین خان ته ډاډ ور کی ، او بلنه ئې ورکړه چی د احمد شاه بابا حضورته ورسی، خو هغه له بې زړه تو ب څخه عذرونه وړاندی کول ، په دې وخت دغازی الدین خان ملګر و چی له ښاره را تلل دغازی الدین خان غو ښته په شاو خوا دښتو کی دانغانی لښکر دخپرید وخبر ورساوه ، نوغا زی الدین خان وپو هیده چی دتیښتی لاره نسته او دشاه ولي خان خبر ه ئې و منله ا و دهغه سره یو ځای داحمدشاه بابا حضورته ور رهی سول او د ا و رځ پنجشنبی د دو همی خور د (ربیع ا لثا نی) ا و وه یشتمه واه . غا زی ا لد ینخا ن پسو خوا ن جوا هرا و ښلرویشت خوان ترمه شا لو نه ا و ځلو رغت پیلا ن .

له ډیرو نورو نفیسو سوغاتو سره د نذر په توګه ورانډې کړه او د شاولي په واسطه د احمد شاه بابا په حضور مشرف سو. هغه ورځ د غازي الدین خان سره د قمر الدین خان زوی خان خانان او ناصر خان او جمیل الدین خان او د هندوستان نور امیران هم ورسره وو. نوخطیبان او عالمان د احمد شاه بابا په نامه د خطبو ویلو او ضرابان د احمدشاه بابا په نامه د سکو وهلو د پاره وګمارل سول او دپار خواته رخصت سول او پخپله احمد شاه بابا له «نریله» څخه د شاهجهان آباد «شاله مار باغ» ته راوکوچید، او د دریمې خور (جمادی الاول) په اوومه پنجشنبې په ورځ د هندوستان پاچا عالمګیر ثانی د احمد شاه بابا حضور ته راغی احمدشاه بابا خپل وزیر او نور امیران د ده د «هرکلي» د پاره وسخ ته ورلیستلي وو، او پخپله ئې هم په ډیر احترام هغه ته «ښه راغلی» وویل، او په همغه لوړی مجلس کی تاج بخښونکی افغان پاچا جو مرصع تاج له خپلي خاصي جواهر خانې څخه راوغوښت او د هندوستان ارته ولویه پاچهی ئې بیرته له پښو لویدلی او مغلوب پاچا عالمګیر ثانی ته و بخښله او عالمګیر پاچا په داسې حال کی چی له و یاړه پخپلو کالو کی نه ځائیده خپله بګړی له سره لیری کړه او د احمدشاه بابا له حضوره ئې هیله وکړه چی د تبرك په توګه په خپله مبارك لاسو هغه مرصع تاج د هغه پر سر کښیږدي او افتخار وروبخښي احمدشاه بابا هم د هندوستان د پاچا هیله ومنله او هغه تاج ئې پر ور کښیښو د او عالمګیر پاچا ته ئې نوی ژوند او نوی روح ورو باخښه، او د خپل وزیر غازي الدین له بد طینتی څخه ئې شکوه وکړه او د هغه عزل ئې وغوښت او د هغه پر ځای ئې د خان خانان د قمرالدین خان د زوی د تیا کلو هیله خرګنده کړه، احمدشاه بابا ئې غوښتنه او هیله ومنله او خان خانان ئې د عالمګیر پاچا وزیر و ټاکه او غازي الدین خان ئې عزل کی او نجیب خان روهیله ته ئې د امیر والامر خطاب ورکی بیا نو د هندوستان پاچا له احمد شاه بابا څخه په ډیر الماس وغوښتل چی د شاهجهان آباد ښار ته ورسر ملا ر سي، هغه و، چی

په دا سبا ورځ احمد شاه بابا دعالمگیر پاچا سره یو ځای د شاهجهان آباد درالخلافه ته رهی سو، چې دډهلی ارګ ته ورننه ووت او احمد شاه بابا دډهلی پرتخت کښېنوست یوه اوږخ ته ئې دهندوستان پاچا عالمگیر او بل اړخ ته ئې شهزاده تیمور کښېناوه د مېلمستیا مراسم چې تیر سول دهندوستان پاچا داتیک لو ید یځی سمی لکه دیره - جات، کوهات، بنګښات، هغه غرونه چې پښتانه پکښې اوسېدل، هزاره او پېښاور، او د سند سکر او بکراو سیوی، د تهته صوبه او جوګیه او بلوچیه او سند او د مدین قصبه او د سند نوری سیمی او دښکار پور تولی سیمی ترترو و اوبو پوری چې د هند دپخوانی پاچا محمد شاه د زوی احمد شاه له خوا د جلوس په لومړ یوه وختو کی د نادر شاه د وختو د دستور په اساس د احمد شاه بابا دولت ته پریښو لي، او سر بیره پر هغه ئې د ملتان او کشمیر او سرهند ولا یتونه د تیو لو مضافا تو سره او دلاهور دارالسلطنه او د پنجاب جلال آباد او سو د هره ګجرات او جیلم او چناب او د پنجاب نوری سمی د احمد شاه بابا د ابشکر د نعل بها په نامه(١) احمد شاه بابا ته وړاندی کړې. کډ څه هم احمد شاه رغبت ورته نه درلود خو د هندوستان د پاچا په اصرار ئې هغه ومنل او هغه سیمی ئې په افغانستان پوری وتړلې، او دعالمګیر پا چا په غوښتنه ئې هغه سیمی شهزاده تیمور ته وسپارلې، او بیا نو د هندوستان پاچا عالمګیر یو تړون د احمد شاه سره مهر کی، د دې تړون مسوده د سعادت خان منشی با شی په قلم وه، چې اصل ئې د احمد شاه بابا په رکیب خانه کی د خرم خان رکیب دار سره ضبط وه او متن ئې محمود الحسینی په خپل کتاب کی داسی را نقل کړی دی:

«بسم الله الرحمن الرحیم - الحمدالله رب العالمین، الصلوة والسلام علی رسوله محمد و آله و اصحابه اجمعین - اما بعد: باعث تحریر این نمیقه وتسطیر این وثیقه

(١) برسم نعل بهای ملتزمان موکب والا پیشکش بندگان اشرف اعلا ساخت تاریخ احمد شاهی ٢٧٠/٢

آنست که چون درینولا از گردش فلک دوار و حوادث لیل و نها ر حدیقهٔ دولت علیهٔ کورگانیه از باد خزان معاندان روزگار بی طراوت و خوان این دولت ابد مدت از جـهالت فـتنه انـگیزان بـی جـلا دت وازیـن حـرکـات نـا هنجا ر نمک نا شنا سان تسلط سلطنت ممالک وسیع الفضای هندوستان ازهم ریخته وپاشیده بود وازین جهته تسلط کفرهٔ فجره بمرتبهٔ رسیده بود که اکثرصوبجات ومتعلقات سلطنت مز بور را متصرف ورخنه در دولت علیهٔ کورگا نیه ا نداخته منشأ فتنه و فساد گردیده بودند وبعضی نمک بحرامان آن دولت از راه نادانی در سر او علانیه ملحق بجما عهٔ ضا لهٔ کفره گر دیده کا ر را بجای رسانیده بودند که در اکثر متعلقات وحـدود ا ت مما لک وسیع ا لفضا ي هند وستا ن مسلما نا ن از خوف کفارنا بکار دست از اذان وصلواة برداشته وبه کنج عزلت بسرمی بردند:

مهر درخشنده چو پنهان شود

شب پره بازی گر میدان شود

و چون دولت علیه کورگانیه که منسوب با ین خیر اند یش می باشد وازقدیم پرورش وقوت رونق دین مبین نبوی صلی الله علیه وآ له وسلم درین د یارفرخنده آثار از انسان بعمل می آید و بندهٔ درگاه خلا یق امید گاه چون از اولاد آ ن ا و جاق کیوان رواق ودرین عصری که فتن بخلا فت ا ین سلطنت منسوب و یارای آن ندا شت که خود سردفع ورفع نمک بحرامان این او جاق کیوان روا ق وکفرهٔ وفجره نمایدوهم بسکوت نزدخالق الخلق بری الذمه نمي توانست بشودبناًعلیه چگونگی احوالات این ممالک رابپایهٔ سریرعرش نظرشاهنشاه گیتی پناه دررّان خلدالله ملکه وسلطانه وافاض علی العا لمین بره واحسانه قلمی ومرسول نمود که اعانت بپا د شا ه پا د شاه می تواند وهم رفع ودفع کفرهٔ فجره بر جمیع اهل اسلام فر ض عین می باشد بمجر د رسیدن احوالات این دیارشاهنشاه گیتی پناه از راه غیرت وحمیت دینداری باافواج دریا امواج وسپاه نصرت دستگاه عنان عزیمت را با ین سمت معطوف و کانها کوکب

دری مشعله افر و زاین دیارتشریف ار زانی فرموده بورود این منزل مسعو د معاندان ونمک بحراسان این دولت ابد طراز بغضب شا هنشاهي معد وم و نا بو د فر مو د ه تاج سروری و سلطنت ممالک وسیع الفضای هند و ستان را از عنا یا ت خدیوانه به محب ار زانی فرموده اند :

خد ا یا تو ا ین شا ه عالی تبا ر
که با شد فلک ر ا با و ا فتخا ر

بر ا و ر نک شاهی بدارش مد ام
بحق محمد علیه ا لسلا م

چون رموز نهان خانهٔ غیبی وکنوز گنجینهٔ لا ر یبی بروفق آیه کر یمه: (وعنده مفا تیح الغیب یعلمها ا لاهو) نچنان ا ستحکام پذ یر فته که فهم ا نسان بسر حد این تو اند رسید :

نه ز ین ر شته سر سی توان تا فتن
نه سر ر شته را می توا ن یا فتن

بهرتقدیر ازین غمام بنده معاندان و کفار نا بکا ر بقدوم میمنت لز وم شاهنشاه گیتی پناه ساخت این مملکت را روشن ونورانی گردیده وازالطاف واعطاف شاهنشا هی حق بمر کز خود قرار یافت :

شکر خدا که هر چه طلب کردم از خدا
بر منتهای همت خو د کا مران شد م

ما نیز درازای این احسان بی اندازه وانتظام مهام تاره چکلهٔ سرهند رامع توابع وصو بهٔ دارالسطنة لاهور مع توابع وصوبهٔ دارالامان ملتا ن ر ا مع توابع و صو بهٔ کشمیر رامع توابع بانضمام ممالک مو ضوعهٔ هندوستان که قبل ازین مو افق دستور نا دریه باین دولت خدا داد روز افزون منسوب بود بصیغهٔ پیشکش دولت خداداد گذ رانیده بعد از آن مستدعی گردیدم باین معنی که یعنی خاطر مبارک شا هنشاه

گیتی پناه را غب سیر جهان وهرساله باقلیم دیگر تشریف شریف ارزانی میفرمایند، وولایات مفصلهٔ فوق راکه بانضمام تهتا وسند وتوابع وديره جات الی اتک بپادشاه ذیجاه معلی جایگاه تیمور پادشاه طول العمره شفقت شود که متوجه امور سلطنت خود گردیده در هر امور به محب معاون ومدد باشد که من بعد از همدگر مطلع و مستحضر بوده بکومک وامداد همدگر ساعی باشیم که رخنه در امور مملکت ودر انتظام مهام سلطنت بهم نرسد ـ موافق استدعای محب شاهنشاه گیتی پناه سوال محب را مقرون بانجاح فرموده پادشاهی دارالسلطنهٔ لاهور وملتان وکشمیر و تهتهاوچکلهٔ سر هند مع توابع الی اتک بفرزند عزیز خود که تیمور پادشاه است طول الله عمره ارزانی فرمودند :

شب قدر است طی شد نامهٔ هجر

سلام فیه حتی مطلع الفجر

وچنین قرار یافت که انشاءالله تعالی عهدو میثاق که بخصوص یگانگت ووثاق دولتین علیتین بجهة تعین حدود که عبارت از چکله سر هند و دارالسلطنة لاهور و کشمیر و ملتان مع توابع بانضمام ممالك موضوعه هندوستان که از تاریخ هفدهم شهر جمیدالاول سنه ۱۱۷۰ بصیغهٔ پیشکش دربار عرش مدار اقدس قرار یافته است الی انقراض عالم چنانچه نسلاً بعدنسلاً وبطناً بعدبطناً برهمین منوال خواهد بود ودشمن را هم دشمن و دوست را هم دوست تصور نموده هرگاه کومک و اعانت محب را در کار بود پادشاه ذیجاه معلی جایگاه تیمور پادشاه طول الله عمره اعانت فرمایند که رفع تعدی معاندان و اهل فساد بعمل آید و هرگاه پادشاه معلی جایگاه تیمور پادشاه را امری اتفاق افتد و مددی درکار شود این محب بلاتوقف اعانت نموده رفع هنگامهٔ فتنه جوی راخواهد نمود وبحکم «اوفوابعهدی اوف بعهدکم» چنین عهدو پیمان دستور با دستور برقرار و استوار خواهد بود و هر کس که از اکابر و اصاغر دولتین علیین از راه ضالت ناقص عهد کرد و بلعنت خدا و نفرین رسول الله گرفتار

شود ـ این چند کلمه بطریق عهد نامه قلمی گردید که الی انقراض عالم استوار بماند(۱)»

تر دې تړون وروسته احمد شاه بابا خپل زوی شهزاده تیمور ته د «تیمورشاه» خطاب ورکی او هندوستان د مفتوحه ولایاتو د سلطنت خول ئې پخپل لاس پر سر ورکښېښود. او هم د هندوستان پاچا دوهم عالمګیر خپله لور شهزاده «تیمورشاه» ته د لاهور نژدې د یوالی د پاره ورکړه او څو ورځو شانداره جشن ئې جوړ کړی، تر جشن وروسته احمد شاه بابا ته خبر ورسید چې د «متهرا» ډبو د تون په شاوخوا کې دیر ستمردین سره یوځای سوی دی او «سورجمل» جات خورا لوی لښکر د هغو مرستی ته ورامتولی دی چې د احمد شاهی لښکر سره وجنګیږي، ځکه نو احمد شاه بابا سردار خان جانخان ډیوړی دلی چتکو سرتېرو سره هغې خواته وګمارل سو، هغه دېر متهډان ولاړل او یا ئې بندیان د نیول او ډېری ولجې په لاس ورغلې، او هم ئې ډیری بتخانې ورانی کړلې، خو سورجمل جات ئې په لاس نه کښېووت، او د هغه د سرکوټلو د پاره پخپله احمد شاه بابا هغې خواته و خوځید، په لاره کې ئې د متمر دیئو څو نېږدې کلاوې ونیولې، څو چې «متهرا» ته ورسید او د توری په زور ئې د اسلام دین هلته خپور کی، او څنګه چې په هغو ورځو کې احمد شاه بابا خان خانان ته د وکیل السلطنه منصب ورکی او د هندوستان وزارت ئې بېرته غازی الدین خان ته چې پر خپلو تېرو ناوړو اعمالو پېښمانه او توبه کارسوی و، وسپاره ـ نو غازی الدین خان د سورجمل جات سرکوټل پر غاړه واخیسته، احمد شاه بابا هم د دوهم عالمګیر خلف هدایت بخش او د هغه د وراره میرزا بابر په ملګری غازی الدین خان د هندوستان ختیځو ولایاتو ته ولیږه، او پخپله د شاه جهان آباد د پاره ته را وګرځید او هلته ئې د هندوستان د پخوانی پاچا محمد شاه لور د هغه پاچا د ورئې په خوښتنه او ترغیب ځانته په نکاح کړه

---

(۱) تاریخ احمد شاهی ـ ۲/ ۶۷۱ مخ

۱۲ - کتاب الهجاء .

۱۳ - کتاب استخراج الالفاظ من الاخبار .

۱۴ - کتاب الاوسط .

۱۵ - کتاب غریب القرآن

۱۶ - کتاب المسائل .

۱۷ - کتاب حد النحو .

۱۸ - کتاب تفسیر کلام ابنة الخس .

۱۹ - کتاب الفصیح .

مأخذونه : ۱ - معجم الادبا - ۲ / ۱۳۳ مخ

۲ - ابن خلکان - ۱ / ۳۱ مخ

۳ - د هخدا ---۱۳۷۹ ,, ,,

۴ - روضات الجنات- ۵۶ ,, ,,

۱۰۲۸ - احمد ابو عبدالله اشغر : د اشنغر د تنګی د کلي اوسېدونکی مشهور په مولوي صاحب د خپل وخت نوميالی عالم او د پښتو ژبې ناظم د ۱۸۴۵ م (= ۱۲۶۱ ه) کال په مارچ کې زېږېدلی او د ۱۸۸۳ م (= ۱۳۰۱ ه) کال د اپریل په اوله مړ دی.

ده تراتلس کلنۍ پورې بزګری کوله او تر هغه وروسته ئې د دینی علومو په زده کړه پیل وکی ، ښوونکی ئې زیاتره د پلار سلګری او دوستان وو . وایې چې ده په ډېره لږه موده کې صرف ، نحو ، فقه ، حدیث او تفسیر ولوستل ، د ښې حافظې او ستردماغ خاوند و تردې ځایه چې مولانا عبدالحی لکنهوی غوندی یوه شخصیت د خپلې کورنۍ تصانیف او تالیفات ورته وایل ، په لوستلو کې دومره چالاک و ، چې ئې بخاری شریف په یوه شپه ولوست او فهرست ئې هم ورته ترتیب کې .

مولوي صاحب بر سېره پر داخلي اصلاحي او علمي تبلیغاتو خارجي شاګردان هم درلودل لکه حکیم ، برق او نور ...

او دد واړودولتواتجا دئې لا پسی تینګ کی، او په ۱۱۷۱ ه ق کال د هند د ښخوانی پاچا محمد شاه دماند ینوسره چی له احمد شاه بابا څخه د خپلو ییو لوهیله کړی وه احمد شاه بابا له شاهجهان آباد څخه دافغانستان خواته را رهی سو، پر لاری ئې هر ځای د کلو د خلکو سره زیاته مهربانی کوله، څو چی سرهند ته ورسید د سرهند او سیدونکی ئې په عدل او احسان و نازول او هغه ځای حکومت او اختیار یی ا میرالامرا عبدالصمد خان ته و سپاره، او د لاهور خواته وخوځید او د برات د میاشتی په منځ کی لاهور ته و رسید څنګه چی د لاهور په ښا و خوا کی ځینی اشرا را و سیدل، چی د خلکو سرونه او مالونه د هغو د لاسه په امان نه وو، تل به ئې د عامه خلکو کورونه چورول او ضررونه به ئې ورسول، او د هغه ځای نارینه او ښځی، واړه او زاړه د هغو د ناوړو کارو څخه ډیر په تنګ سوی وو، ځکه نو احمد شاه بابا هغه اشرار ټول ووژل او د لاهور په چارسو کی ئې د هغو له سرو څخه کله منار جوړ کی، او د هغه ځای خلک د هغو له شره وژغورل، بیا نو د کابل خواته وکوچید، او د پنجاب د حکومت ټولی چاری ئې خپل زوی تیمور شاه ته وسپارلې او سردار خان جانخان ئې د هغه وزیر و ټاکه.

احمد شاه بابا په کابل کی دری میاشتی پاته سو، او له همدې ځایه ئې د عسکرو د قاضی او دده د نمانځه امام ملا ادریس خان ورور ملا فیض الله خان د خپل زوی تیمور شاه د معلم او ښوونکی په توګه لاهور ته ولیږه، تر ده د مخه ئې حاجی جهان پوپلزی چی یو عابد او متقی سړی ښکاریده د تیمور شاه د معلمی د پاره ټاکلی او په لاهور کی ورسره و، خو هغه په لاهور کی د یوی فاحشی ښځی سره جوړ سو (۱) نو ځکه تیمور شاه د هغه د بی لاری خبر ملا رته ولیږه او احمد شاه هم دستی حاجی جهان عزل کی، او پر ځای ئې له کابله ملا فیض الله وروا ستاوه، او حاجی جهان د مخه تر عزل له لاهور څخه په پټه کندهار ته وتښتید.

---

(۱) تاریخ تیمور شاهی - ۲/۷۱۱ مخ

ملا فیض الله خان په فقه او حدیثو کی بی ساری عالم او په تقوی او زهد ډیر مشهور و، او محمود الحسینی دده په باب کی لیکی: «الحق آن جناب فاضلی است بی مثال وعدیم النظیر وسخن سنجیست صاحب کمال و روشن ضمیر سعادت مندیست که ازچنین بنیش انوار خداشناسی و پرهیزگاری باهر وارجمندیست که از اسم فیض طلسمش فیض نامتناهی الهی ظاهر است:

از ان روی فیض اللهش نا م شد

که فیضش برای جهان عام شد

چو او هست ینبوع فیض الـه

بـرای هـمین گشت استا د شا ه

چو بود او خدا ترس و پرهیزگار

مـقرب نـمودش شد کـا مگا ر

مـقرب نـبا شد چـرا پـیش شا ه

که در یای علم استوفیض اله»

په همدې (۱۱۷۰ ه ق) کال د احمد شاه بابا په امر په مکه معظمه کی یو کاروان سرای دافغانی حاجیانو د اوسیدلو د پاره دحاجی محراب دیند ار خان نورزی او حاجی عبدالکریم خان بارکزي تر څارنی لاندی ودان سو، چی د هغه کاروان سرای دډبر لیك متن د کندهار د «طلوع افغان» د ورځپاڼی د ۱۰ کال، ۲۰ گڼی په لومړی مخ کی د ۱۳۱۱ ه ش کال د چنگاښ په اوله چاپ سوی دی.

په دې وخت کی چی احمد شاه بابا غوښته له کابله کندهار ته ولاړ سی د ترکستان د سردار او والی حاجی خان د ظلم او ستم دلاسه د ترکستان دخلکو د شکایت یوه عریضه دده حضور ته راورسیدله، چکه نو احمد شاه بابا د څېړنی او تحقیق دپاره سید عطا الله خان دترکستان د عدالت د داروغه په توگه وټاکه،

او په هغه پسې ئې نواب خان الکوزی د ترکستان دار دو د مشر په حیث هغې خواته ولیږه چې د عطا الله خان سره مرسته وکړي .

د ترکستان سردار حاجي خان په ظاهر یو خوږماشتی له ظلم او ستمه لاپروانه خو په پټه ئې د آزار تخم کاره ځکه نو دی او د نواب خان ترمنځ زړه بدی پیدا سو ، او نتیجه ئې دا سوه چې په هغو سیمو کې ځینې کوچنې فتنې را په ویښیدو سولې ،چې یوه له هغو څخه دشبرغان دحاکم« ایزبا سر» یاغی کیدل و، احمدشاه بابا یو محمد لښکر د ولي محمد خان څوانشیر په مشری د ترکستان د اتالیق الله نظر خان سره هغې خواته ولیږه ـ خوله بده مرغه جو انشیرد شبرغان کلا ته نژدې د متمر د ینو سره په یوه جګړه کې تپی او یوه ورځ وروسته مړ سو ، نو ځکه چې احمد شاه بابا د هغی فتنې اسا سي باعث د هغه ځای د مشر انو او ځینو مامور ینو ترمنځ شخصي اختلافات ګڼل نو ټولو ته ئې د اخطار فرمانونه و لیږل او ټولو ته ئې امر وکی چې په بلخ کې سره یو ځای سی او ټول د نواب خان تر مشری لاندی دفتنې دریښو په ایستلو لاس پوری کړی ، او بخپله د هغه کال په منی کې دژمی تیرولو دپاره له کابله کندهار ته ولاړ.

په هند کې فساد او دعالمګیر پاچا وژل : ددوهم عالمګیر پاچا بدطینته وزیر غازی الدین خان چې داحمدشاه بابا په وراندی، ئې پر خپلو تیرو ناوړو اعمالو پښیمانی ځرګنده کړې او په آینده کې ئې له فتنه انګیزی څخه توبه کړې وه، او د هغې پښیمانی او توبې په اثر احمد شاه بابا بیرته د هندوستان وزارت ورته ور کې او د هند دختیځې خواآرا مولو ته ئې وګماره ـ خو وروسته تر هغه چې احمدشاه بابا له هنده دافغانستان خو اته راغی ،دې بد طینته وز یر د دې د پاره چې بیا د هندو ستان د پاچهی دټول اقتدار واګی په لاس کې ونیسی نو بیائې دعالمګیر پاچا په مقابل کې فتنه انګیزی ته ملاوتړله، او دد کن دولایت دسر ټپته طایفه ئې د هند دپاچا پرخلاف ولمسو له ،خو ځنګه چې دلاهور پاچا تیمورشاه دعالمګیر پاچا

زوم و، او په ښکاره ئې ددوو پاچهانو مخالفت له لاسه پوره نه‌و، نو د دسيسې او دروه له لارې ئې عالمګير پاچا وواژه او له د کنه ئې مر يهټيا ن را و بلل او د نجيب خان روهيله پښتون سره ئې چې د احمدشاه بابا مخاص و، په جنګ واچول او څنګه چې د نجيب خان لښکر ډير لږ و، د سرهند له صوبه دار عبدالصمد خان څخه ئې سرسته وغوښتله او هم ئې تيمورشاه ته دغازي الدينخان او د مر يهټيانو دفتنه انګيزي خبرو ليکه، او تيمور شاه هم مراد خان مير بخشي ډير لس زر و مر تير و او دعبد الصمد خان دلښکر سره د نجيب خان ملا تړ ته ور وليږل، خو نجيب خان دهغه ملاتړ تر رسيد و دمخه دآذوقې د نه درلرولو او د کومک د نه و رسيد لو له اسله مجبور سوی و، چې روغې ته غاړه کېږدي، که څه هم مرادخان مير بخشي د شاهجهان آباد ڼڅه دبرش فرسخې د«تهانې سر» پر او ته رسيدلی و، خو څنګه ئې چې د نجيب خان داجباري روغې خبرو اور يد بير ته دلاهور خواته راوګرځيد، او پر لارې ئې د آدينه بيګ خان سره چې له ډيرې مودې څخه ئې سراخيستی و، جګړه ونښتله، څنګه چې له يوې خوا د هند د پاچا دوژلو او د نجيب خان د روغې کولو خبر دمراد خان دلښکر دځينو جګړونو روحيات کمز وری کړی و، او له بلې خوا د پيسو په طمع دمراد خان دلښکر ځينې جګړن د آدينه بيګ خواته و تښتيدل نو مراد خان ئې د ناکامۍ سره مخامخ کی، او دجالندر خواته پر شا سو، تيمورشاه چې دا خبر و اوريد نو سرافراز خان خټک ئې د شپږ و زرو چټکو سپرو سره کومک ته ور وليږ و چې په جالندر کې د مراد خان سره يوځای سو، او بيائې دآدينه بيګ مقابلې ته ملاوتړله خو آدينه بيګ خان دوولس زره خپل چټک سپاره او دېرش زره د هندوانو لښکر ورته راو يوست او د پهکواره کلي ته نژدې جګړه ونښتله، تر سختې جګړې وروسته څنګه چې دد ښمن لښکر خوراډير، اوزيات غښتلی و، نو لومړی د سرافرازخټک او وروسته دمرادخان دلښکرانتظام سره وشليد. آدينه بيګ خان چې برې وموند نود مر يهټيا نو د مشرانو «راکهو» او «ملهار زاو»

سره ئې چې دغازي الدينخان په لمسون ئې په سرهندکې پرعبدالصمدخان يرغل کړی و، لاس يوکی او پر سر هندئې حمله وکړه، عبدالصمدخان دجګړې په ډګرکی پښې ټينګی کړې، خود تيری کوونکو په قسم اوعهدو غوايد، چې دی ئې دروغی او صلح په نامه په لوړه اوقسم اوعهد دکلادباندیورو غوښت اوهلته ئې بندی کی، اوآدينه بيګ خان دمر بهټيا نومشران دپنجاب نيولوته ولمسول. تيمورشاه ته چې داخبر ورسيدنوهغه خپلوز ير سردارخان جانخان ددوولسو زروچټکو سپرو سره هغې خواته واستاوه اودلاهور په جلال آبادکې د مرادخان مير بخشي سره يوځای سو. په دې ځای کې خبر سول چې دهندوسان ټولو متمردينو پر«راګهو» او «ملهار راو» او «آدينه بيګ» اتفاق کړی او تقريباً دوه سوه او پنځوس زره سپاره او پلي لښکرئې را غونډ کړی دی چې د سردارخان جانخان لښکر ورته هيڅ ښکاريده ځکه نو سردار خان جانخان داوړاو صلاح وبلله چې دلاهورخواته بيرته وګرځی، لاهورته چې ورسيد او داټول حال ئې تيمورشاه ته ووايه نو تيمورشاه اراده وکړه چې خپل شاهی حرم او دنورو افغانی مشرانوکډی او درنه بنه کابل ته و ليږی او په خپله په مجرده توګه دخپل لښکرسره د متمردينو مقابلې ته په لاهورکې پاته سی، خو ځنګه چې سردار خان جانخان يو تجربه کار او آزمويلی سوی سالار او وزيرو، نوهغه د تيمور شاه اوسيدل په لاهورکی ورونه بلل او تيمورشاه ئې په دې راضی کی چې پيښاورته وکوچيږی او له هغه ځايه داحمد شاه بابا په اجازه او مشوره دنوی لوی لښکرسره دمتمردينو سرکوبلو دپاره بيرته پنجاب ته راوګرځی. هغه و، چې تيمورشاه هم ومنله او دخپل لښکر سره له لاهوره پيښاورته راوکوچيد، دلښکر هره خوا ئې يوه مشرته وسپارله اودلښکر چنداولی ئې مير هزارالکوزی ته ورکړه چې دافغانی اردو شاوساتی او چې دوز پر آباد پراوته ورسيد نو د شاه خوا دمتمردينو دوه سوه زره سپاره اوپلي ورپسې راورسيدل، مير هزارخان ورسره په جګړه بوخت سو خوځنګه چې ددښمنانولښکر خوراډېر او زيات و ، نومير هزارخان اوغاجي يا سين د متمردينو په لاس کښېيوتل،

او الله یا رخان دصندو تخاني دار و غه او امیدخان قا بوچي او حاتم خان شاه سیون په جگړه کی شهیدان سول او د میرهزارنو راردو دتیمورشاه داردو سره یوځای سو. تیمور شاه غوښته بیرته وروګرځی خوله یوې خو امتمردین له همغه ځایه دلاهورخواته وګرځیدل اوله بلې خوادتیمورشاه ددربار مشرانوتیمور شاه ته د اسلاماو مشوره ورکړه چی دالانتقام اخیستل دی بل مساعدوخت ته پریږدی- هغه ، چی تیمورشاه پیښاورته را ورسیداو هغه ټول حالات ئې خپل پلارته و لیکل .

اتم سفر- هندوستان ته : څنګه چی له یوې خوادد هلی اوپنجاب دفسادو خبرونه او حالات د تیمورشاه له لوری احمدشاه باباته را رسیدلی وو ، اوله بلې خواد هند وستان پاچادوهم عالمګیرد مخه تر هغه چی ووژل سی دامیر الا مرانجیب الدوله رو هیله په واسطه یوبلن لیک احمد شاه باباته رالیږلی، اواحمدشاه بابائې د اسلام او ځان د بچولود پاره هند وستان ته بللی و(۱) اوهم غالبا په دغه وخت کې و، چی دهندوستان مشهورعالم او روحانی شخصیت «شاه ولی الله دهلوی» د هندو ستان دمسلما نا نو په نمایندګی یواوږد بلن لیک داحمدشاه بابا په نامه راولیږه چی په هغه کې ئې لیکلی و.

«... حاصل کلام آنکه در ملک هندو ستان غلبهٔ کفار باین صورت است که بیان آمد وضعف مسلمانان باین صفت درین زمانه پاد شاهی که صاحب اقتدار و شوکت باشد وقادر بر شکست لشکر کفار ودو راندیش، جنگ آزمائی غیر ازملازمان آنحضرت موجود نیست- لاجرم بر آن حضرت فرض عین است قصد هندوستان کردن و تسلط کفار مرهته برهم زدن وضعفاي مسلمین را که دردست کفار اسیر اند خلاص فرمودن، اگر غلبه کفار معاذ الله بهمین مرتبه ماند، مسلما نان اسلام فرا موش کنند، واند کی اززمان نگذرد که قومی شوند که نه اسلام رادانند نه کفررا- این نیز بلای عظیم است که قدرت بردفع آن بفضل ایزدمنان غیر آن حضرت رامیسر نیست. ما بندگان بندگان الهی رسول

---

(۱) شاه ولی الله دهلوی کی سیاسی مکتوبات ۲۲۸ مخ

خداراصلی الله علیه وسلم شفیع می آریم، و بنام خدای عزوجل سوال می نمایم که همت بانهمت را بجانب جهاد کفار این نواحی مصروف فرمایند تا درپیش خدای عز و جل ثواب جمیل درنامه اعمال آن حضرت ثبت شود، ودردیوان مجاهدین فی سبیل الله نام نامی نوشته شود، ودر دنیا غنایم به حساب بدست غازیان اسلام افتد ومسلمانان ازدست کفار نجات یابند— بخدامی پناهم از انکه بدستور نادرشاه بعمل آید که مسلمانان را زیروزبر ساخت و مرهته وجت را سالم وغانم گذاشته رفت، ازان بازدولت کفار قوت یافت و جنوداسلام ازهم پاشید و سلطنت دهلی بمنزله ولعب صبیان گشت —معاذالله— اگر آن قوم کفار مسلم مانند، ومسلمانان ضعیف— نام اسلام هم جائی نخواهدماند— الله الله لاحول ولا قوة الابالله(۱)»

همدارنگه د «سیرالمتاخرین» دمولف طباطبائی په قول د هندوستان راجه گانو چې دمرهټه اوعمادالملک ویرد ظلمونو دلاسه پزوته رسیدلي وو ، احمد شاه بابا ته بلنه ورکړې وه چې هندوستان ته ورسي اود هندوستان هیواد دهغو ظلمونوله بربادیو خخه وژغوري. دی داسي لیکي :

«نجیب الد وله ورا جهای هندوستان ازدست مرهته و عمادالملک بجان آمده، زوال دولت و ملک خودازدست برد مرهته به رای العین مشاهده نمود عرائض استدعابخدمت احمد شاه ابدالی نگاشته خواهان ورود اودرهندوستان شدند (۲)»

مخکه نو احمد شاه بابا په ۱۱۷۱ ه ق کال کې بیا هندوستان ته دتګ اراده وکړه په دې توګه چې دوبې په کابل کې تیر کړې اوپه منې کې له کابله د هندوستان

---

(۱) دشاه ولی الله دهلوی دد ې «بلن لیك» بشپړ متن د «شاه ولی الله دهلوي کې سیاسی مکتوبات» په شپږم مخ کې تر ۱۷ مخ پورې دفارسي لیکونود «مکتوب دوم» ترعنوان لاندې راغلی دی ـدا کتاب په اردوژبه دخلیق احمد صاحب نظامي تألیف دی اوپه ۱۳۸۸ ه ق ـ۱۹۶۹ م کال په دهلي کې چاپ سوی.

(۲) سیرالمتاخرین ـ۳/ ۹۰۹مخ

خواته ولاړسی. لهدی ارادې څخه ئې دبلوڅستان حاکم محمد نصیر خان بلوڅ او دولاياتو دلښکرونو سالاران او ولسی مشران خبر کړه چې په کابل کې په سره یوځای کیږی- اوپه خپله دبرات دسیاشتی په دوولسمه دکندهار لهښاره ووت، اودروژی دمیاشتی په او ولسمه کابل ته ورسید. په دې وخت کې دجموا و دکشمیر دکوهستاناتو دراجه گانو ایکونه احمد شاه بابا ته راورسیدل او ایکلی ئې وو، چې دسیر هتانو لښکر چې داحمد شاه بابا دراخوځیدو خبرواروید تول لهلاهوره ددکن خواته وکوچیدل، خولهبلی خوا احمد شاهباباته احوال راورسیدچې دبلوڅستان حاکم نصیر خان بلوڅ داحمد شاه بابا لهاطاعته سر غړولی دی، ځکه نو احمد شاه بابا د هندوستان تګ وځنډاوه اودنصیر خان ابلولوته ئې مخه کړه.

د نصیر خان مخالفت: دمخه مووایکل چې هغه وخت چې احمدشاه بابا په کندهار کې دهندوستان دتګ اراده وکړه نود بلوڅستان حاکم نصیر خان بلوڅ ته ئې احوال ولیږه چې دخپل لښکر سره را وخوځیږی او په کابل کې داحمدشاه دلښکر سره یوځای سی، خو داحمد شاه بابا ترخوځیدو وروسته نصیر خان وځنډید، وروسته ځرګنده سوه چې نصیر خان بلوڅ له شال او مستنګ او کلات او کچی او مکران څخه شپیته اویا زره جګړن راغونډه کړی، دخپلواکی دماسه ئې دنګولې او پر کندهار باندی دیرغل په تکل دی، ځکه نو احمد شاه بابا د هندوستان تګ وځنډاوه، شهزادهِ تیمور شاه ئې لهپېښاوره کابل ته راوغوښت، چې هغه کابل ته راورسید نو احمد شاه بابا کندهار ته دګرځیدو تیاری ونیوله، لوړی ئې دوست محمدخان بریڅ او زین خان وردګ اوخضر خان هزاره اودلیل خان او عنایت خان برکی دیو څه لښکر سره ترځان دمخه ولیږل چې دښور او کډ کلاته ځانونه ورسوی او هم ئې دبریڅواوترینو او کاکړ واونورو قبیله دمشرانو پهنوم فرمانونه و لیږل چې خپلی کلاوی دنصیر خان بلوڅ پهمقابل کې ټینګی کړی اوداهئې ورکئی چې ژر تر ژره بهشاهی لښکر دهغو مرستی ته وررسیږی، بیانوپهخپله له کابله دکندهار خواته

وکوچید اود ذیحجه دمیاشتی په اتمه «ښار صفا» ته ورسیده او څنګه چې ذې اختر کندهار ته نه سورسو لای نو د ښار صفا دحصار ترڅنګ ئې دلوی اختر جشن جوړ کئی او تر اختر وروسته د کندهار ښار ته ولاړ، او دلوی اختر دمیاشتی په څورلسمه د کندهار ښار ته ورسیداو دهغی میاشتی په اتلسمه دچارشنبی په ورځ د کندهار له ښاره ووت او د «ذاکر» او «رباط» له لاری دنصیر خان دتادیب او تنبیه د پاره وررهی سو.

دنصیر خان بلوڅ او احمد شاه بابا د لښکرو تر منځ خور اسختی او لاس په لستونی جګړې وسوې (چې د هغو جګړو جزئیات او تفصیلات د «تاریخ احمد شاهی» د دوهم ټوک په ۷۰۶ مخ کی تر ۷۹۶ مخ پوری راغلی دی چې داته ئې راوړل د مطلب داوږدوالی سبب کیږی).

لنډه ئې دا چې د ډ یـر و سـخـتـو جـګـړ و پـه پـای کی نصیر خان دخپل لښکر سره دبلوڅستان د کلات په ټینګه کلا کی کلابند سوا و په پای کی مجبور سو چې دبلوڅو څو مخور مشران توری او کفنونه په غاړه، او قرآنونه په لاسو کی دنصیرخان دسپین سری مورسره د کلات له حصاره راکښته سی او په ننواتو داحمدشاه بابا حضور ته ورسی، احمد شاه بابا هم چې بلوڅان د خپلی پاچهی غښتلی مرووندونه ګڼل او حتی دنصیرخان په مقابل کی د بلوڅو ډیرنو میالی مشران لکه میرجهانی خان، میرجنګی خان، میرچاکرخان، میرآدمخان د قایمخان بلوڅ ورونه او فاضل خان دقایمخان زوی او نور داحمدشاه بابا په لښکر کی وو، او دنصیرخان سره جنګیدل نو دنصیرخان ننواته ومنله او دهغه مور ته ئې دنصیر خان دبخښلو ډاډ ورکی، هغه وو چې نصیرخان دخپلو ملګر و سره داحمدشاه بابا حضور ته ورغی خپله پښیمانی داسی څرګنده کړه :

«که څه هم ما دتنګ حوصلګی او ناپوهی څخه دنافرمانی او مخالفت جرئت کړی دی خوزما دا بی ادبی اختیاری نه وه، بلکه لوېړی شیطانی فریب او دوهم دبرخوردار خان اغوا او لمسون او دریم داڅکزو دطایفی بد سلوک، بی حسابی او

تاخت‌وتازو، چې ما سرله اطا عت او انقياده وغړ اوه او ز ماد نمکحر امی او فسا د باعث سو – په هرتقديراوس ز مله‌خپلو کړوڅخه پښيمانه‌يم اوتعهد کوم چې‌تردی وروسته د هيڅ‌ چا په‌خبره دداسی تقصير مرتکب‌نه‌سم او سر به له اطاعته ونه رغړوم اوانحراف به‌ونه کړم‌او څوچی ژوندی يم جان‌نثاری او خدمت‌گذاری به نه پريږدم خودشاهانه فضل‌او کرم څخه هيله‌لرم چې دعفاالله عما سلف‌په‌فحوا ددې کمترين بنده اودبلوڅو دمشرانو ترجرايمو اوگنا هونو تيرسی – ربنالا تواخذ نا آ ن نسينا او اخطانا(۱)»

احمدشاه‌بابا چې دنصيرخان دپښيمانی داخبری وارويدلی نوډ‌يوازی دا چې هغه ئې وياخښه بلکه دټول بلوڅستان والی او حکومت‌ئې هم بير ته ده ته وسپاره اويوه جواهرنشانه‌جيغه‌ ئې هم‌وراوسر کړه ؛اوداسی تړون ددوی ترمنځ وتاړ ه سو:

۱–بلوڅستان به‌هم دپخوا په شان‌داحمدشاه‌بابا چهی يو برخه وی.

۲–هروخت‌چی احمدشاه‌تر خپلی‌پاچهی‌دباندی جنگ‌ته وزی ، نونصيرخان‌به‌هم دخپل‌فوج يوه دسته‌داحمدشاهی‌فوج د مرستی دپاره استوی .

۳–ددی‌امدادی فوج خرڅ ،خوراك ،گولی‌او باروت او نور جنگی سا مان به احمدشاه له خپلی خز انی څخه‌و رکوی .

۴– احمد شاه‌بابا هم ورسره قول‌وکی چی دبلوڅوامدادی فوج به دهيواد په دننه‌جگړ ونه‌استعما لوی .

۵–احمدشاه‌بابا دهغه‌امدادي فوج دخدماتو په‌عوض کی نصيرخان‌ته کا لنی خراج هم و رمعا ف کی (۲)

اودراتلو نکو دوستانه مناسبا تودلانور ټينگست دپاره احمدشاه‌بابا دنصير خان

---

(۱) تاريخ احمدشاهی ـ۲/۷۹۴ مخ .

(۲) دپښتنو تاريخ ـ۱ /۱۱۷ مخ .

د ده دغه کار د پادري هیوز له دوستۍ څخه شروع او لوستونکي پلا دیو ریپنو د پښتو ښوونکي سو، او د (کلید افغاني) یوه برخه گنج پښتو، مولوي صاحب د پادري هیوز په خوله لیکلي ده. دا گنج پښتو په ۱۸۸۲ م کښې د لاهور په (مفید عام پریس) کې په ډېرین چاپ جلا هم طبع سوی او په پای کې مولوي صاحب دا سې وایي:

په هردم په هر زمان په کار ده ژبه
د همه واړه جهان په کار ده ژبه

تا آشنا آشنا کوي سره خبري
په خبرو نږدې کیږي خلق لري

چې د چا خوله کې خوږه ژبه غړېږي
د هغو په شان خلق پري بو ندېږي

د تور زن به په کار نه وي هره توره
لگه ژبه چې هر ځای کې وي ستطوره

کار و بار د مصلحت په ژبه کیږي
مصلحت د سلطنت په ژبه کیږي

که کاتب دی که کاغذ دی که قلم
ټول د ژبې خدمتگار دي دم په دم

په مرغانو کې طوطي دی عزتمند
دا په دا چې ښې خبري کړي د خوند

مگر دوه شرطه په ژبه کې ضرور دی
د غه دواړه ضروري په ښه دستور دی

اول دا چې ښې صحیح کوي خبري
چې خبري شي په مثل مرغلري

بل په بدود دې خوله له خوځوي خپله
تل دې سم په انداز وي لکه تله

دتره لور (۱) او یا دنصیرخان‌وریره (۲) په‌خپله نکاح کړه .

دبلوچستان په‌دې جګړو کې داحمدشاه‌بابا سره داسالاران‌اومشران ملګري‌وو:

۱- اشرف‌الوزرا شاولی خان با میزی وزیر اعظم .

۲-خان‌جانخان درانی پخوانی سپه سالار- او په‌هغه وخت کی دشهزاده تیمورشاه وزیر .

۳- دوست محمد خان بریڅ

۴ - زین خان وردګ

۵ - خضر خان هزاره

۶- وکیل خان برکی

۷ - عنایت خان برکی

۸ - میر جهانی خان بلوڅ

۹ - میرجنګی خان بلوڅ

۱۰ -میر چاکر خان بلوڅ

۱۱ - میرآدم خان بلوڅ

۱۲- فاضل خان دقایم خان بلوڅ‌زوی

۱۳ - دلاور خان بریڅ

۱۴ - صاحب خان بریڅ

۱۵- عبدالوهاب خان بریڅ

۱۶- دلیل خان

۱۷ - باورخان عمله باشی

---

(۱) » » » ۱۱۸/

(۲) یادګار تاجپوشی قلات -دمولوی دین‌محمدتالیف -۲۳ مخ

۱۸ - شاه پسند خان

۱۹ - برخورد ارخان اڅکزی

۲۰ - عبدالله خان د یوان بیګی

۲۱ - محبت خان ضبط بیګی

۲۲ -جعفر خان قو للر اقاسی

۲۳ - علی بیګ خان جز ایر چی باشی

۲۴ -ګل محمد خان بابړ امین الملك

۲۵- انز له خان نسقچی باشی

۲۶ - بارو خان نورزي

۲۷ - امیر خان چند اول با شی

۲۸ - حاجی جمال خان بارکزی

۲۹ - خو شحا ل خان با میزی

۳۰- قبول خان رر

۳۱ - ندا خان رر

۳۲ - عبدالرحمان خان بارکزی - اونور . .

هندو ستان ته ټګ : احمد شاه بابا چی د نصیر خان بلوڅ له شخړی وز ګار سو، نوله بلو څستانه کندهار ته راغی ، ژ می ئې په کندهار کي تیر کی او د ۱۱۷۲ ه کال په پسرلی کی کابل ته ولاړ ، څلور میاشتی په کابل کی و او په هغو څلور و میاشتو کی ئې د هندوستان دتګ تر تیبات ونیول ، او یو سل او دېرش زره تنه جنګیا لیان ئې راغوند کړه ، بیادپتخا ک له لاری پیښاور ته ولاړاو له پیښاوره تر اټک او جهیلم او چهناب پور یووت په لاهور کی ئې واړ ول ، د ملتان صو به دار چی د ملهاراو راکوله خوا هلته ګمارلی سوی و ، او «سرمته » نومید څنځیر او زولانه دا حمدشاه بابا حضورته وا ستل سو ، خو دغه زره سواند پاچا هغه وبا خښه ،

ابله ئې کې او خپل وطن ته ئې واستاوه بیا نو له لاهوره «دوآبه» ته رهي سو، دهغه ځای حاکم آدینه بیگ خان چې د احمدشاه بابا له ورتگه خبر سو، نو دخپلو پخوا نیونا وړو اعمالو دجواب ورکولو له بېري ناروغه سو، زړه ئې وا چاو، زهره ئې وچاود له او سړ سو، او زوی ئې هم دپلار دمدار المهام ملگری صدیق بیگ خان سره له هغه ځایه و تښتید.

په دې وخت کې، احمدشاه بابا ته خبر ورسید چې دمر یهټانو یو دیرغښتلی سردارد «جنکو» په نامه پورته سوې دی او دهند وستان زیا تره نو سیالی را جه گان ئې مغلوب کړي دي، دراجپو تانو هیواد ئې نیولی او دهند وستان پر دار الخلا فه شاهجهان آباد ئې یرغل کړی دي او دټول هندوستان دوا کداری ادعالری، او دآدینه بیگ خان تر مړینې و روسته دماوزرو سپر واوترشمیرزیاتوپلیوسره دپنجاب دماليو اخستلو په نیت دسر هند خواته را غلی، دآد ینه بیگ خا ن زوی او صدیق بیگ خان دهغه ځای دمالیو متکفل او متعهد سوی، او جنکو هم دوآبه دآ دینه بیگ خان زوی ته پریښې ده، شل زره مر یهټه سپاره ئې دلاهو ر خوا ته گما رلي او پخپله د«سها رنپور» لورته تللی او دنجیب خان رو هیله (مشهور په نجیب الدوله) سره په «سکرتال» کې په جگړه اخته دی او نجیب خان روهیله چې داحمدشاه بابا ټینگ ملگری و، په سکرتال کې پنځه میاشتې کیږي چې له زیاتو پښتنو سر ه کلابند او داحمد شاه بابا دمرستې رسیدوته په انتظار دی.

احمد شاه بابا چې دا خبر وا رو یـد نـو تـر هـر څـه د مخـه د نجیب خان روهیله اودهغه ځای دنور و پښتنو دخلاصون په تکل کې سو، دروهیله پښتنو مشرانوته ئې دډاډلیکونه ولیکل او هغوی ئې د مقاومت ټینگارته زړور کړه، او ورپسی پخپله دخپل لښکر سره هغې خواته وخوځید، پر لاری دنجابت خان کاکړ لیك ورته راورسید چې پکښې لیکلي ئې و، چې: «جنکو د نجیب خان له کلا بندی څخه لاس واخیست اودلوی لښکر سره له سکرتاله وکو چید اود یرش زره سپاره ئې

د«صاحباجي پټيل »په مشرۍ د«جمنا»دسيند «گنج پوره » گودر ته مخامخ ليږلی چي د احمدشاهي لښکر مخه ونيسي » او ورپسې ئې ملليك راغي چي: «متمردين په ډير برم زما كور ته نژدې تيرسول او د گنجپور پرگودر پورې تل، زما كور د دوی له تاړاکه وژغورل سو، او زه ستاسي خدمت ته په انتظار يم» وروسته احمدشاه بابا ته خبر راغی چي د دښمن لښكر لس فرسخي ته راورسيد. خو احمدشاه بابا لكه څنگه چي د ده عادت و، دمخه تر هغه چي په جگړه لاس پورې كړي او په هغه كي گناهكاران او بې گناهان ووژل سي د نصيحت يو ليك هغوته وليږه چي د تمرد فاسد خيالات له خپلو مغزو څخه وباسي، د عفو او امان ورهرانيستي دي .

متمردينو د احمد شاه بابا نصيحت او د روغې پيغام وانه وريد، نو ځكه احمدشاه بابا هم خپل لښكر ته د«تيارسۍ» امر وركی، او د خپل لښكر مشرانو لكه شهزاده تيمورشاه، شاه وليخان عبدالله خان ديوان بيگی، سردارجانجان خان، محبت خان ضبط بيگي جعفرخان قوللر اغاسي، شاه پسند خان ميراخور باشي، اخلاص قلي خان هوتك، سليمان خان دراني، گل محمدخان بابرامين الملك، اختيارخان باميزي، علي بيگ خان جزايرچي، الله يارخان ايشك آقاسي باشي، حاجي نواب خان الكوزي، عظمت خان علي زی، فتح الله خان سدوزي، صمدخان محمودزي، حبيب الله خان مومند، رحيم داد خان باركزي، قبول خان نورزی، انزله خان پوپلزی نسقچي باشي، امير خان جوانشيراو نورو ته ئې جنگي لارښووني وكړې او هر يوه ته ئې خپله خپله وظيفه وټاكله (ددې وظيفو تفصيل د «تاريخ احمدشاهي» د دوهم ټوك په ۸۲۱، ۸۲۲ مخو كي تر ۸۲۸ مخ پورې راغلي دي) تر هغه وروسته د جمنادسيند پر غاړه د بوريا په سيمه كي د«داتا چي پټيل» د ديرشو زرو سپرو او خورا زياتو پليو او د افغاني لښكر تر منځ سخته خونړۍ جگړه وسوه، چي د جگړې په پای كي افغاني لښكر بريالی سو، پنځه زره متمردين ووژل سوه او پنځه زره اسان او نور ډير جنگي سامان او بنديان د افغاني لښكر په لاس كښيوتل، دا پېښه د ۱۱۷۲ ه ق كال د دريمې خور (جمادي الاول)

د میاشتې په نهمه د یکشنبې په ورځ د افغانانو په برخه سو (۱)

تر دې بری وروسته احمدشاه بابا د جمنا ترسیند پورې ووت او د سهارنپور له لاری د شاهجهان آباد خواته رهی سو او د لاری په لومړۍ پړاو کی نجیب خان او روهیله او په دوهم پړاو کی حافظ رحمت خان او سعدالله خان او دوندیا خان د روهیله زیاتو پښتنو سره د احمد شاه بابا خدمت ته راورسیدل او د خپل پښتون او مجاهد پاچا په حضور مشرف سول.

په دې وخت کی احمدشاه بابا ته خبر راورسید چی مټمر دینود «بوریا» د میمې تر ماتی وروسته د شاهجهان آباد د ښار په شاوخوا کی او د جمنا د سیند پر غاړه سره راغونډ سوی او دفاعی سنگرونه ئې جوړ کړی دی، ځکه نو احمدشاه بابا د خپل لښکر سره د شاهجهان آباد دارالخلافې ته مخه و کړه، او ترشلو ورځو سفر وروسته د لونی قصبې ته چی د جمنا د سیند پرغاړه د شاهجهان آباد ښار ته مخامخ پرته ده ورسید او هلته ئې خیمې و نجتلی.

د دوی په مقابل کی د سیند پرهغه غاړه د ښار لوېدیځې خواته د لونی قصبی ته مخامخ په وزیرآباد کی «جنکو» چی د احمدشاه بابا له لښکر څخه پرله پسې ماتی خوړلی وې بیا د غازی الدین خان وزیر په لمسه او سرسته سنگرونه وهلی وو، د ښار پر کلا او سیند پر گودرو ئې هم بې شمیر توپونه ایښی وو، او د دکن او هندوستان له دوه سوه زرو سپرو او پلیو څخه ئې یو لوی لښکر جنگ ته چمتو کړی و.

هغه و، چی د دریمې خور (جمادی اولاول) د میاشتې په شلمه د پنجشنبې په ورځ نجیب خان د روهیله د نورو پښتنو مشرانو سره د صمد خان په ملگری د اوطلبانه د احمد شاه بابا له حضور څخه اجازه وغوښتله چی له سینده پورې وزی او گودرونه و نیسی، احمد شاه بابا هم یوه ډله سرتیری وگمارل چی د گودرو په مقابل کی ځانونه د ښمنانو

---

(۱) د دې جگړې د جنگی تکتیک او نورو جزئیاتو تفصیل د «تاریخ احمدشاهی» د ۲ ټوک په ۸۲۸ مخ کی تر ۸۴۳ مخ پورې راغلی دی.

ته وښی او د هغوی نظر ځانو ته جلب کړي، او بلی دلی ته ئي امر وکی چی دشاه دري له خوا ځانونه ښکاره او له هری خوا توپونه اوتو پک د متمر دینو لوری ته د«اوربل» د باره سم کړي، او په دې توګه ئي نو نجیب خان روهیله او صمدخان ته چی له سینده د تیریدو د اوطلبان سوی وو، اجازه ور کړه چی تر سیندپور یوزی اود سیندپر هغه غاړه سنګرونه جوړ کړي . لوس ي نجیب خان روهیله دخپلو زړه ورو ملګرو سره د«براری»د کلي پر ګودر پور یووت اودد ښمن د پیلانو او پیلوا نانو سره چی زړه پو ښی وو ، په جګړه اخته سو، احمد شاه بابا زنګی خان جارچی باشي ورو لیږه چی دروهیله پښتنو تیت او پرک جنګ تر جنګی نظام لاندی راولی صمدخان محمود زی هم دنجیب خان ترڅنګ ددښمنانو سره جنګیده، اودشاله خوا احمد شاه بابا اشرف الوزرأ شاه ولی خان دخپل لښکر دنورو مشرانو سره لکه ګل محمد خان بابړ امین الملک او اختیار خان درانی با میزي، او محبت خان پوپلزی ضبط بیګی، او محمد جعفرخان قوللراقاسی دخراسانی جزایر چیانو مشر، اوعلی بیګ خان جزا یرچی باشي دکابلی جزایرچیانو مشراونورو ته امر وکی چی ترسیندپور یوزی او دنجیب خان اوصمد خان مرستی ته ځانونه ور سوی اوهم ئي توپونه د«اوربل» امر وکی، خورا سخته جګړه ونښته ، چی په دې جګړه کی د«جنکو» آکا«داتا پټیل»چی د«جنکو» دلښکرسالار وو،وژل سو، او غازیانو د هغه سر احمد شاه بابا ته وراندی کی، جنکو چی دخپل آکاوژل وليدل په ډیر غضب او خرو ښ پخپله دهغه پرځای ودر ید،او ډیر سخت مقاومت ته ئي ملاوتړله، احمد شاه بابا چی دجنکوسخت مقاومت ولید نوپخپله ترسیندورپور یووت، او دده په ورتګ غازیان لازړور سوه او په یوه پښتنی حمله ئي دمتمرد ینو زړونه بیځایه کړه، جنکو په زنبورک تپی سو،لاس ئي مات له ډګره و تښتید او په «جی نګر» کی ئي «سلهار» ته پناه وروړه، اود هغه په تیښته د احمد شاه بابا خورالویه سو به په برخه سوه، عبدالله خان دیوان بیګی او حا جی نواب خان قوللرا غاسی او محمود خان او سردار جانخان او یوډله نور ننګیالی ئي په تښتید لو مریټانو پسی

وگمارل او پخپله بیرته ترسیند پور یووت او خپل اردو ته ورغی .

عبدالله خان دیوان بیگی اود هغه نور ننګیالی ملګری له ډهلی څخه ترشل کروه پوری په مر یهتانو پسی ولاړل، ډیرئې ووژل چی یو په هغو کی د بنګالی د ناظم وکیل هم و، او څو په سپینو زرو بار پیلان، اود اوښانو بار قطارونه، اوپه و سلو بار اسان، اونور سا مانونه په لاس ورغلل، او بیر ته خپل لښکرته را و ګرځیدل. له بلی خوا روهیله پښتنو د ډهلی دښار خواته یرغل وکی، د غازی الدین خان وزیرله خوا موسی خان نومی بلوڅ او سعادت خان نومی اپر یدی دښار د کلاساتنی ته ګمارل سوی وو، چی په توپ او توپک اودډېرو په زارغړولو ئې دفاع کوله، خورو هیله پښتنو او نوروغاز یانو د کلا ساتونکو دفاع شنډه کړه او پر کلاو رو ختل، په دی وخت کښی د ښار دننه او باشا نو او شرا رو هم وخت غنیمت وګاڼه د اسلام او کفر په نامه ئې چور او چپاو جوړ کړ، ګناهکار او بې ګناه ټول پکښی تالاوالاسول دی .

په دی حال چه احمد شاه بابا خبر سو که څه هم له یوې خوا د ښار په نیولوخوښ و، خو له بلې خوا د ښار په چوراو چپاو، د زړه غمجن سو، او د ستی ئې اشرف الوزرا شاه ولی خان وګماره چی د لښکر ا پهله جاری د خلکو له آزاره منع کړی او څوك چی منع نه سوه سخته سزاورکړی، د ښار په کوڅو کی څارند ویان ودروی، او د ښار اوسیدونکوته دامان ډاډورکړی. شاه ولی خان هم ښارته ورغی، لښکریان ئې له چور او چپاوڅخه منع کړه، په هر ځای کی ئې څارندویان وټاکل او احمد شاه بابا له خوائې د ښار خلکوته دامان زیری ورساوه شاه ولی خان چی بیرته له ښاره ووت نو محمود خان قوللر اغاسی چی په تقوی او دیانت ئې شهرت درلود او هم ئې په اداره او نظم او نسق کی لوی لاس درلود دښار د امنیت په ساتلو مامور سو، او تر هغه وخته چی احمد شاه بابا تر ښار دباندی اوسید نوموړی خان په ډیر ښه تدبیر د ښار امنیت وساته، او حتی پخپله د افغانی لښکر

افرادوته اجازه نه وه چي بې اجازې ښارته ننه وزي.

په دې وخت کې احمد شاه بابا ته خبر راورسيد چې «جنکو» او غازي الدين خان وزير چې «جې نګر» ته تښتيدلي وو، دراجه ملهار سره ئې لاس يو کړی اوله «جې نګر» څخه د لوی لښکر سره راخوځيدلي او پټلي کوټ ته را رسيد لي دي او غواړي چې راجپوت قبيله هم ولمسوي او د احمد شاباباً مقابلې ته ئې وپاروي.

له بلې خوا د «راجه مادهوسنګه» چې داحمد شاه بابا له مخلصانو څخه و، خط راورسيد چې د مربهټه سرداران غواړي دهغو راجه ګانو سره چې ددوی مخالفان وو روغه وکړی او ده ته ئې هم د روغې پيغام ور ليږلی دی خو دی د احمد شاه بابا د ورتګ په انتظار ناست دی ـ ځکه نو احمد شاه بابا دراجه ملهار دتنبه په غرض د خضرآباد له باغه وخوځيد او د شاهجهان آباد د ښار حکومت ئې يعقوب علي خان بامېزي ته وسپاره چې د عدل او انصاف په صفتو مشهور و، او محمود خان قوللر اغاسی د ښار ساتنې ته وګماره چې د يعقوب علي خان سلا تړوی، او پخپله دميوات له لارې د «جې نګر» خواته رهي سو. پر لارې ئې «تانتيا» نوسي د مرهټانو يو سردار چې د پنځلسو زرو سپرو سره ئې د روهيله پښتنو پر يوې ډلې يرغل کړی و، وتښتاوه سپاره ئې ياووژل سول، يا بنديان سول او يا وتښتيدل، او د احمد شاه بابا لښکر «نظام ـ ګړ» ته ورسيد، په هغه ځای کې خبر سو چې راجه ملهار او جنکو اوتانتيا درې سره، سره يو ځای سوي دي غواړي چې د «ريواری» له لارې پر شاهجان آباد (ډهلی) يرغل وکړی، ځکه نو احمد شاه بابا اراده وکړه چې پخپله د څو چټکو سپرو سره له خپل لښکر څخه بيل سي او دايلغار په توګه په هغو متمردينو پسې ولاړسي هغه و، چې تر يوې شپې او نيمې ورځې سزل وروسته د متمردينو تاتو بې ته ور سيد، خو دمتمردينو هغه درې مشران دده تر رسيدو د مخه خبر سوي او تښتيدلي وو. بيا هم د احمد شاه بابا قراولانو درې سوه متمردين ووژل، څلور سوه ئې بنديان و نيول او پنځه سوه اسان ئې په لاس ورغلل، او احمد شاه بابا بيرته خپل لښکرته راوګرځيد.

متمردانـو د شاهجهان آباد خواته مخه کړه چې د جمناله سینده پورې وزي و
دجاټانو ملك ته ولاړ سي، احمد شاه بابا هم دخپل لښکر سره په دوی پسې دشاهجهان
آباد خواته ورسید متمردان چې پوه سوه چې احمدشاهی لښکر په پسې دی نـو د
شاهجهان آباد هر ښار ئې لاس ونه سوند او د احمد شاه بابا تـرورتګ درې ورځې
دمخه تر اوبو پورې پوتل، خو معلومه نه وه چې کمې خواته ولاړل ځکه نو احمدشاه
بابا حاجی نواب خان الکوزی قوللر اقاسی پسې ولیږه، هغه بیر ته احمد شاه بابا ته
احوال راولیږه چې راجه ملهار او نور ملګری یې دخورا زیات لښکر سره د غازیانو
سره مقابلی ته ځان چمتو کـوی، احمد شاه بابا د هغه د سـلا تړ دپاره شاه پسند
خان میراخور باشي او سلیمان خان قراول باشي او اخلاص قلي خان هوتك دقراولانو
مشر د نور لښکر سره په ډېر تلوار ورواستاوه او سخته جګړه و نښته، احمد شاه بابا
پخپله هم ځان د جګړې ډګرته ورساوه، پنځلس زره متمردان ئې ووژل او پاته ئې
یا ټپیان سول او یا هری خواته سره و تښتیدل، او احمد شاه بابا د خپل لښکر سره
د رجب د میاشتی په شپاړسمه «متهرا» ته مخامخ چې هلته دمتمردانو لوی بودتون
(معبد) و، د جمنا د سیند غاړې ته ورسید، او دا وخت د۱۱۷۳ ه ق کال نوی سو.
په دې کال کی احمدشاه بابا د باخبرو کسانو په مشوره د «کول» په سیمه کی چې ډیر
واښه او اوبه ئې درلودله دخپل لښکر دمشرانو دپاره دهستوګنی کورونه،
حمامونه، مسجدونه او داورادو دپاره رباطونه ودان کړه، ددرو ځلورمیاشتو دپاره
غله اوآذوقه را غونډه کړه او دبرات دمیاشتی په دوولسمه هغی سیمی ته دهستوګنی
دپاره وکوچید او هلته ئې واړول، او وروسته ئې «دثابت خان کلا» هم و نیوله. دا
کلا د هندوستان دپاچا محمد شاه په وختو کی دهغه پاچا یوفوجدار ثابت خان جوړه
کړي وه چې بیا ورڅخه سورج مل جات نیولي وه او ډیره توپخانه او نور جنګی
سامانونه پکښې چې دشپږزرو توپك والاوله خوا ساتله کیدله، او ډیره ټینګه کلاوه،
او شاوخوائی درې حصاریوه په بل پسې درلودل او هر دیوال ئې دونه لوړ و، چې په

کتونې خولې لهسره لویدله اوهر دیوال ئې دونه پسرورو چې دوې عرادې په در نو وسلوباره هتک پرهتک سره تیریدلې، اودهرحصارپرشاوخوا ئې ژور خندقونه کیندلې سوي وو .

دهغې کلا ترنیولو وروسته احمد شاه بابا دمر پهټانو دیو مشر (گوبند) نو سی دنیولو دپاره چې د«اتاوه» په سیمه کې ئې خلک محو رول سردا رخا نجا نخان او نجیب الدوله عمرخیل یوسفزی میربخشي دیوه لښکرسره هغې خواته واستول چې دهغې سیمې خلک د«گوبند» له ظلم او زوروژغوری هغه و، چې هغو خانانو هم هغه سیمه له هغه ظالمه وژغوره او داکبر آبا (اگری) ښار ئې و نیو.

په دې وخت کې احمد خان بنگښ چې د «کوبند» له لاسه ئې ډیر ظلمونه، ستمونه او تیری گاللی وو، په ډیر شوق او آرزو د احمدشاه بابا دلښکر سره یوځای او داحمد شاه بابا په حضور مشرف سو.

دمرهټانو مشرانو «ملهار» او «جنکو» او «تانتیا» او نورو چې پر له پسې ئې له افغاني لښکرو هخه ساتی خوړلې ددکن له لوی مشر «ناناجی راو» څخه مرسته وغوښتله هغه وخت په دکن کې د هرې فرقې او قبیلې ډیر نومیالې سرداران وو، هندوان، مسلمانان، مرهټه، راجپوت، برهمن، دهندوستان شیخان او سیدان، دروم او فرنگ او حبش او زنگ او ایران او ترکستان دسپاهی گری په فنونو ډیر پوه کسان هلته اوسیدل چې له خپلو هیوادو څخه هند وستان ته تللي وو. ناناجی راو دوه سوه زره سپاره، درې سوه زره توپک واله پلی، ددوه زرو توپوا و پنځه سوه زرو راکټو (بان) سره دخپل اکا دزوی «سداشیو راو» معروف په «باهو» یا «بهاوراو» په مشری داحمدشاه بابا مقابلې ته چمتو کړه او خپل شپاړس کلن زوی «بسواس راو» یا «بشواس راو» ئې هم ورسره ولیږه چې که د دوی لښکر پر احمد شاهی لښکر بری ومومند «بسواس راو» دهندوستان پر تحت کښینوی اود تیموریه نسل شجره بیخی له بیخه وباسی. دوه کروړه د زرو نغدې ئې پر عرادو بار کړې،

بده ژبه د سړی په ځان بلا شی
خوږه ژبه له سړی چا پېر قلا شی

هرسړی دسړیتوب دعوی چی کاندی
ځان دی پوه کاندی په دېرو ژبو باندی

په یوه ژبه مطلب نه پوره کیږی
که هوښار وی هم له سره نه پوهیږی

که حاکم وی غور هیڅ نه‌نبی کوای
که‌عالم وی طالب ته شی لولولی

په سفر کی لکه نقش د دیوال
ګنګ ولاړ وی بی طاقته بی مجال

خصوصاً چی پښتو ژبی ته حاجت
پیښیږی و ډیر زیاتی له حده دا ساعت

(احمد) وکړ په داشان آسان کلام
چی پوهیږی پری کل واړه خاص وعام

وایی چی مولوی صاحب دستری کتابخانی خاوندو، چی څه نه څه کتابونه ئی
اوس هم د کشر زوی سره سته .

دده دیوبل نظم چی داختر په خطبه کی ئې ویلی‌خوبیتونه د ادی :

دا چی نن خلک اختر اختر کوینه
نا دا نان دی دوی اختر پیژ نینه

دا اختر نه دی چی سپورسی په‌آس باندی
اختر هغه دی چی نیک عمل و کاندی

او پنځه کروړه نوراُهم چې پر«مالوه» اونورو سیمو سالیه پاته وه حواله ور کړه. ددې تول ساز او سامان اوبرم سره دمتمرد ینو لښکر د احمدشاهي لښکر مقابلې ته راوخوځید اوچې اکبر آباد ته ورسید، نو«باهو» یا «بهاور او» دځان په وکالت «کنوجی» نومی استازی احمدشاه بابا ته ولیږه او دروغی داسی مشروط پیشنهاد ئې ورته وړاندی کی چې: «له شاهجهان آباده ترد کنه پوری دی مریهتا نو ته پرېښوول سی او احمدشاهی موکب دې بیر ته د دولت مرکز ته وگرځی اود هغو سیمو واگی دی په لاس کی ونیسی چې د هندوستان پاچا محمد شاه، نادرشاه ته ورکړی وې، او پردې دې روغه وسی» احمدشاه بابا ته چې د«باهو» هغه پیشنهاد وړاندی سو، نو ئې له خپلی خوا حافظ رحمت خان بریخ د داسی جواب سره ورولیږه چې: «نادرشاه په هغه وخت کی مختاره و، چه هرڅه ئې غوښته هغه ئې وکړه، خوزه دچا تابع او مقلد نه یم، او هندوستان سی دتوري په زور نیولی دی، نو که ستاسی منظور داطاعت دورېرانستل او دا سلام دلښکر وله آسیب څخه ځا نونه ساتل وی باید د«نربدا» دسیند له دې خوا سیمو څخه چې تاسی په زور نیولی دی لاس واخلی اوپه خپل اصلی وطن قا نع اوسئی اوپس له دې دهندوستان دې سیمی ته پښې راونه غځوی، سو پوهیږو اوزموږ هیوا د، تا ســی څـــو کـــ ـــ ــ ـــت چـی د دی هیو اد د تشخیص او تعیین خبره کوي او تر خپلی کمبلی د با ندی او پر دي پښې غځوی؟ (۱)».

بسو اس راو او دهغه حربی اوسیاسی مشاور «باهو» اود سریهته نورو مشرانو داحمد شاه با با خبری ته غوږ و نه نیو او حافظ رحمت خان ئې دناوړو او سپکو خبرو سره را جواب کی. حافظ رحمت خان هم هرڅه چې اروېدلی اولیدلی و، هغه ئې احمد شاه با با ته عرض کړه، نو احمدشاه بابا هم دهغو متمردینودسر کوتلو

---

(۱) تاریخ احمدشاهی - ۲ / ۱۴۹ مخ.

د پاره د «کول» له سیمې وکوچیدا او د «گنگ» د سیند پرغاړه ئې په «انوپ شهر» کې واړول.
ځکه چې د «جمنا» سیند ډېر طوفاني و، او تر هغه د احمد شاهي لښکر پوريوتل په
هغه وخت کې ممکن نه و، نو دمر یږنه سردار «باهو» هغه فرصت غنیمت وگاڼه اود
سیند څپلې خواته سیمې ئې ترڅو چې وکولای سوې ترڅپل لاس لاندې کړې، او
بیائې «جنکو» او «ملهار» د ډیرشو ځلو ښتوز ر و سړو سره تر ځان د مخه شاهجهان آباد
ته ولیږل او هغوی چې «متهرا» ته ورسیدل نو د غازي الدین وزیر او سورج مل جات
سره ئې هم لاسونه یو کړه او تړون ئې ورسره وکې چې په یوه سلا به د احمد شاه بابا
په مقابل کې جنگیږي، بیائې نود شاهجهان آباد خواته مخه وکړه او هغه ښارچې
تراوسه د یعقوب علي خان تر سشرتابه لاندې آرام و، او اوسیدونکوئې د هغه افغان
سشر د عدل او انصاف له برکته هوسا ژوندون کاوه، اوس د «باهو» او «جنکو» او «ملهار»
او «غازي الدین خان» او «سورج مل» د خود خواهي او چوراوچپاو ښکار کیږي.

یعقوب علي خان چې د ښار د ساتنې د پاره یو لږ شمېر چگړن د ولودل ترڅپله
وسه ئې ډیرزیار و یوست چې د شاهجهان آباد ښار د هغو ستمر دیډوله تاړا که وژغوري،
خوله یوې خوا د تیري کوونکو دلښکر ز یاتوالي او له بلې خوا د غازي الدین خان
فتنه انگیزي هغه مجبور کې چې په ښار کې ځان کلا بند کړي، اود څپلې دفاع
ښتې په دننه کلا کې تینگې کړي — «باهو» چې د شاهجهان آباد په کلا بندي او
نه تسلیمیدو خبر سو نو هغه هم د څپل بې شمیره لښکر او لویې توپخانې سره چې پنځه
سوه غټې او کوچنیې قنبارې هم ورسره وې د شاهجهان آباد دورانولو په نیت راو
خوځید، احمد شاه بابا چې په هغه یرغل خبر سو نوشاه پسند خان میراخورباشي ئې
د هغه د ورسره سرتیرو سره د شجاع الدوله نیشاپوري او نجیب الدوله میر بخشي په
ملگري د یعقوب علي خان د کومک اود ستمرد ینو دسر کوبلود پاره و لیږه، خو ځکه
چې «انوپ شهر» تر شاهجهان آباد پوري شپېته اویا کروه واټن و، او هغه هم د برسات
په موسم کې چې هری خواته د او یو او سیلابو طوفانو جاري وو، نو شاه پسند خان په

ډېر زحمت او مشقت خپل لښکر شاه درې ته ورساوه، چې دشاهجهان آباد له ښاره دوه کروهه لېرې پر تهده، مګر دلته بیاهغه لوی مانع چې داحمد شاه‌بابا دلښکرمخه ئې نیولې وه یعنې دجمنا طوفاني سیند موجودو، په تېره بیاچې ستمردینو ټولې کښتۍ خپلې خواته بیولې اوترخپل تصرف لاندې کړې وې ؛نوځکه شاه پسندخان په هېڅ توګه یعقوب علي‌خان ته مرسته نه سوای رسولای، اوله بلې خوا دباهواونورو متمردینو دشاردشا هجهان آباد پرښا رورځ پهورځ زیا تېده او دتوپو دګولېو او خمپارو باران پراوریده، ځکه نو یعقوب علي خان بې له دې چې تسلیم سي دخپلو افغاني سر تېرو او نورو متعلقینو سره دښار له کلا څخه ووت اودجمناد سیندپرغاړه‌د علي مردان‌خان په کورکې ئې واړول او ورو ورو ئې خپل درانه بارونه په کښتیو کې دخپلو سرتېرو سره روغ رمټ پورې ایستل او څو ورځې وروسته چې احمد شاه بابا دخپل لښکر سره «لونۍ» ته‌ورسید، یعقوب علي‌خان هم ورغی.

له هغه ځایه احمد شاه بابادخپل زوی تیمورشاه عرض بیګي حاجي کریمدادخان بامیزئي ، او حاجي عطائي خان‌بامیزئي، او زین خان مومندوهم بخشي تمیچه په لاهورکې وو ، ولیکن چې د خپلو لښکرو سره سرهند ته ولاړسی اوله هغه ځایه د سردارصمد خان اودپا ني پت او سون پت او نریله دحاکم قطب خان روهیله په ملګرې ټول ځانونه‌ګنج پور ته ور سوی او په هغه ځای کې دهغه سیمې دحاکم نجابت خان کاکړپه اتفاق تېنګ سنګرونه جوړ کړې چې که متمردین هغې خواته مخه‌وکړي دهغو مخه‌ونیسي . خوصمد خان دمخه ترهغه‌چې‌هغه نورخانان‌له پنجابه ورته‌ر اور سیږي‌دقطب خان روهیله سره «ګنج پوره» ته ولاړ، متمردینوهم چې‌دافغاني لښکر په ‌راوالي خبر سول، نو«باهو»یو لوی لښکردهغو مقابلې ته ولیږه، صمدخان په‌ډېره مړانه مدافعه‌وکړه، اومتمردین ئې شاته‌وشړل، باهوچې له‌هغې کلکې‌مدافعې خبر سو ، نو پخپله د دوو سوو او پنځو سو زرو سپرو او پلو سره دګنج پوره دنیولو دپاره هغې خواته‌وروخوځېد، خو افغاني مجاهدینو بیاهم‌ښې‌تینګې کړې ، څوچې

صمد خان او قطب خان له ډېر و نورو تور یالیو ملګرو سره د جګړې په میدان کې شهیدان سول او د ګنج پوره کلا د نجابت خان کا کړ سره د متمرد ینو په لاس کښېوتله ، او نجابت خان د د ښمنانو بې سو جبه سواخته او اسارت ونه زغملای سو ، او په و رین تندی ئې سرېنی ته غاړه کښېښوله .

احمد شاه بابا چې د نګیالیو پښتنو د شهادت او د متمردینو په لاس د ګنج پوره د کلا کښېوتلو خبر واورېد نو عزم ئې وکی چې په هره توګه کېږي د جمنا تر سیند پو رېوزي ، د لښکر مشرانو ته ئې « د تیارۍ » امر وکی ، او هم ئې پېش ګوئي وکړه چې د میاشتې په څلور لسمه به د جمنا طوفا نی او به ګودر پیدا کړي ، همهغسې وسوه چې د میاشتې په څورلسمه او بو ګودر پیدا کی ، او د احمد شاه بابا لښکر د باکپت پر ګودر روغ رمټ او په آسانۍ ترجمنا پورېووت او لیدونکو داد احمد شاه بابا یو خرق عادت وګاڼه .

د پا نی پت جګړه : د ګنج پوره تر نیولو وروسته د سر پهتانو مشر «باهو» یا «بهاوره» د پا نی پت خواته و لاړ او هلته ئې د احمدشاه بابا په مقابل کې د رې فرسخه اوږده او درې فرسخه پسر ور خورا ټینګه سنګرونه جوړ کړه ، او څلور پنځه زره قراولان ئې هم د غارنۍ د پاره وټاکل ، احمد شاه بابا هم د خپل لښکر سره د پا نی پت خوا ته و خوځېد ، چې څلور کروه د متمردینو سنګروته نژدې ورغی نو هلته ئې واړول ، او ده هم د غارنۍ د پاره قراولان وټاکل — هغه و ، چې د افغاني قراو لانو او د متمردو قرا و لانو ترمنځ نښته وسوه ، د متمر دینو ډېر قراو لان یا وو ژل سول ، یا بند یان سول او یا وتښتېدل او غا ز یان د ډېري سرهخپلی چو نی ته را وګرځېد ل ، د دې لو مړی نښتی ځای « کهرونده » نو مېده ، چې په در یمه ورځ د احمد شاه بابا لښکر « کهرونده » ته داخل سو ، بله ورځ ئې تر پانی پت پو رې درې پړاوه ووهل او د «چار برجه کلا» ته ورسېد چې د «باهو» له چو نۍ څخه یو فرسخ لیرې وه ، هلته ئې خپله درنه پنه واړوله او د لښکر په صف آرائۍ بو خت سو ، او د دواړو خوا و

ټر منځ سخته جګړه و نښتله تر لسو و رځو پو ري د احمد شاه بابا لښکرپه همهغه ځاي کې په جګړه اخته و، څو چې د هغې سيمې غلې او واښه بيخي تمام سول، نوځکه احمد شاه بابا له هغه ځايه دستمردينو دچو ني شما لي سيمې ته وکوچېد ، تريوې سياشتې پورې ئې له هغې سيمې څخه پر متمردينو دتوپو ګولې اورولې، اوبياچې خبر سو چې دشاهجهان آباد لاره متمرد ينو ته پرانيستې ده او له هغې لارې آذوقه او پيسې و رته ورځې نوله هغه سيمې هم وکوچېد ا و په يو د اسې ځاي کې ئې واړول چې دشاهجهان آبادلا ره له هغه ځايه تېرېد له او هغه ئې بنده کړه او له بلې خوائې حاجي نواب خان قوللر اقاسي او حاجي عطابې خان بامېزئې او حاجي کريم داد خان بامېزی او حسن خان الکوزي د «ګوبند» دستمردينو ديوبل نامتو مشر «ګوبند» دمخ نيوی دپاره ولېږل چې دسا لوه او اکبر آباد دسيمو خزانه او ماليه ئې د«باهو» دپاره دشاهجهان آباددښارساتندوی او حاکم ته سپارلې وه او غوښته ئې پرروهيله باندې يرغل وکړي او دآذوقې لاره داحمد شاه بابا پرلښکر وتړي، حاجي نواب خان په ډېر تلوار هغې خواته ولاړاود «ګوبند» سره ئې سخته جګړه وکړه او په جګړه کې ئې د«ګوبند» او دري زرو نورو متمردينو سرونه پرې کړه اوبيرته داحمد شاه بابا لښکر ته سالم او غانم ورغی.

پر«باهو» يا بهاورا و» چې له هرې خوا لارې وتړلې سوې نو د خپلو لښکر و د مشرانو په سلا ئې د اسې نيت وکې چې دپاني پت له سنګر وووزی او پر ميدان د احمد شاه سره جګړه وکړي، احمد شاه بابا هم چې د دوی له هغه نيته خبر سو ، نو لښکر ئې د هغې اسويې مقابلې د پاره چمتو کې شهزاده تيمورشاه ته ئې مقدمة الجيش وسپاره، وروسته ئې دعبدالرحمان خان توپچي باشي په مشرې توپخانه دمخه کړه، اوبيائې دتوپخانې ښي خواته برخوردارخان د پليو سر تير و سره او د توپخانې کيڼې خواته وزير شاه وليخان د پليوه سر تيرو سره وټاکل او دانش خان زنبورکچي باشي د هغه د زنبور کو سره دشاه ولي خان کيڼې خواته موظف سو ،

حافظ رحمت خان اوندیا خان اواحمدخان بنګښ او فیض‌الله خان بړیڅ درو هیله لښکر سره په ښې خوا (میمنه) کې ،او داوداه‌صوبه‌دار شجاع الدوله او نجیب‌الدوله میربخشی ئې په کیڼې‌خوا (میسره) کې ودرول، شاه پسند خان میراخور باشی ئې د نجیب‌الدوله‌شا ته‌ملاتړو تاکه‌اوسردا رخان‌جانخان دشجاع الله‌وله‌شاته‌ملاتړ سو، او پخپله‌احمدشاه باباد‌شهزاده تیمورشاه‌او د‌وزیر شاه‌ولی‌خان د‌مسافې ترمنځ‌ودرید.

د متمردینو له خوا تر اووه سوو زرو سپرو او پلیوئې زیات لښکر مقا بلې ته چمتو کړه سوی و ،چی‌نومیالی سالاران ئې«باهو»یا بهاوراو » او«جنکو» او«سلهار»او«داماجی» او«تانتیا» اومشرئې «بسواس راو» یا «پشواس راو» وه.

د ۱۷۶۰ م کال د نومبر په اوله چی احمد شاه بابا پانی پت ته‌رسیدلی و ، بیا د ۱۷۶۱م کال دجنوری تر څورلسمی پوری دوه نیمی میاشتی د پا نی پت‌لویه او خونړی جګړه‌جاری وه (۱) چی داحمدشاه بابا تر‌ټولو جګړو سخته او شد یده وه (چی د هغی جګړي خونړی صحنې د«تاریخ احمدشاهی» دکتاب د دوهم ټوك په ۹۳۷ مخ کی تر ۱۰۲۵ مخ پوری دډیرو جزئیاتو سره په ډیر تفصیل‌تمثیل‌سوی دی)د پانی پت دجګړې وروستنی صحنه او پیښه د څلر می خور (جمادی‌الثانی) د میاشتی په او ومه ورځ د چارشنبی په ورځ‌وه، چی په هغه کی‌دمتمردینو پنځه ډیرش‌سالاران‌لکه جنکو ، داتاچی ، تانکیا (یاتانتیا) اونور،اونامتومشر«بسواس‌راو» او نومیالی سر دار«باهو» یا «بهاور او»د قر یب سلو زرو جګړ نو سره ووژل سول او دوولس زره ځینی بند یا ن ونیـول سـول ، او دری زره تو پو نه د یولك با نو (را کتو) او سلو ز رو توپکو اوپنځو زرو پیلا نو اونورو خورا ډیرو جنګی‌سامانو او نفوسو کالوسره داحمد شا هی لښکر په‌لاس کښیوتل ، او په تاریخ کی دالویه سوبه د افغان شهنشاه‌احمدشاه بابا په نامه ولیکله سوه.

---

(۱) شاه‌ولي الله دهلوی کې سیاسي مکتوباب - ۴۴ مخ

په دې جګړه کې د احمدشاه بابا ځیني نو میا لی ملګري دا وو:

۱- اشرف الوزرا شاه ولی خان

۲- برخوردارخان اڅکزی- چې په دغه جګړه کې ټپي هم سو.

۳- شهزاده تیمور د احمد شاه بابا زوی.

۴- حاجي نواب خان الکوزی قوللر آقاسی

۵- حافظ رحمت خان بړیڅ

۶- نجیب خان (مشهور په نجیب الدوله)

۷- شجاع الدوله د «اوده» صوبه دار

۸- الله یار خان ایشک اقاسی باشی

۹- رحمت خان توخی

۱۰- انزله خان پوپلزی نسقچی باشي

۱۱- عبدالرحمان خان توپچی باشی

۱۲- د انش زنبور کچی باشي

۱۳- د ندیا خان (ښایی د رندی یا خوندی وی.)

۱۴- احمد خان بنګښ

۱۵- فیض الله خان بړیڅ

۱۶- شاه پسند خان میراخور باشی

۱۷- حاجی عطایی خان بامیزی

۱۸- حاجی کریم داد خان با میزی

۱۹- حسن خان الکوزی

۲۰- سردار خانجان خان

۲۱- قاضی ملاادریس خان د احمدشاه بابا د نمانځه امام او د لښکر قاضی.

۲۲- فتح الله خان سدوزی د احمد شاه بابا ندیم او مصاحب

۲۳- رسول خان قوللر آقاسی تیمورشاه

۲۴- محمود خان قوللر آقاسی

۲۵- باروخان عمله باشی (داستخباراتو مامور)

۲۶- امیرخان چنداول باشی - د جوانشیر داپل مشر.

۲۷- عبدالله خان دیوان بیگی او نور...

محمود الحسینی د پانی پت دجگړې د تفصیل په باب کی لیکی چی:

«از روی تواریخ معتبرو کتب مبسوطهٔ اخبار وسیر بظهور سی پیوندد کی بعد از بعثت حضرت پیغمبر آخر الزمان علیه الصلوة والسلام سن العزیز الرحمن تااین زمان هیچ یک ازسلاطین نامدار وخواقین والامقدار اسلام چنین جنگ با کفار تیره انجام نکرده ودر قلع وقمع ار باب ظلام اینقدر سعی وکوشش بظهور نیاورده خصوصا متجندهٔ پر فتن دکن که در کثرت و عدت از مور وملخ بسیار ودر جلادت وسپاهیگیری ضرب المثل اهل روزگار اند و پادشاهان ذی شوکت هندوستان مثل جلال الدین اکبر وجهانگیر وشاه جهان و سلطان اورنگزیب عالمگیر باقشونهای بیشمار سالها در دکن روزگار بسر برده و خزانه های بسیار صرف کرده نتوانستند که آنطایفه رامغلوب ومخذول سازند از عهده نتوانستند بر آمد با آنکه اشقیار ادر ان اوان اینقدر قوت وسامان واسباب نخوت وطغیان مهیا نبود درین وقت که در عدت و کثرت هزار درجه افزون و توپخانه وخزانه ازحد شمار بیرون بهم سانده جمیع اقطاع وقلاع و محالات دورو نزدیک را متصرف شده وبر سلاطین هندوستان مسلط گشته اموال واسباب پادشاهی وپایتخت آن بلاد یعنی شهر شاهجهان آباد دراسخر کرده مساکن و اماکن اهالی شهر راطویله ومساجدو معابد مسلمانان را مزبله قرار دادند وبعد ازان بتحریک بادغرور وبسیاری قوت وزورو بمقابله غازیان منصور نهادند نوعی از اقبال خد یو بیهمال ضرب دستی عظیم از نیروی بازوی مجاهدان دین قویم خوردند که تمامی سرداران آنطایفه باجمعی از حد احصا بیرون مقتول وبقیته السیف منهزم ومخذول گشته پاره درراه طعمهٔ تیغ مجاهدان اسلام ماسوربتعاقب آن فتنهٔ نافرجام شده

بودند و پاره که مجروح ونیم جان رفتند دردشت وصحرالقمهٔ ددو دام گشتند(۱)»

تاج بخښنه: څنګه چې احمدشاه باباد هندوستان د مسلمانانو اود کورګانیه شاهانو د کورنۍ په بلنه له متمر دینو څخه د اسلام دد ین او د کورګانی کهول د ژغورلو د پاره هندوستان ته تللی و، نو څکه دمتمردینو ترسرکو تلووروسته ئې د هندوستان تاج اوتخت ددوهم عالمګیر پاچازوی «عالی ګهر دوهم شاه عالم» ته وباخښه، او د بابانی پت ترجګړی وروسته چې دشاهجهان آباددارا لخلافه ته ولاړ نو په ۱۱۷۵ هـ ق کال ئې دوهم شاه عالم له بهاره ډهلی ته راوغوښت اوچې هغه ابرو څنډ یدنو احمد شاه بابا هغه سورنواب ز ینت محل ته ورټیل چې یو ایک ورواستوی او ژرئې ر اوغواړی د نواب ز ینت محل دایک دیوې بزخې مضمون چې خپل زوی دوهم شاه عالم ته ئې لیکلی داسی و:

«شاهنشاه (احمدشاه) کلا ته راغی او ترنن ور ځی پوری‌سی چې درجب شلمه ده‌ئو وارد و رسره لیدلی دی ـ هغه ستاراتګ ته بې حده منتظر دی. . . .

زما زویه! ته یقین ولره چې ستا په راتګ تول معا ملات طی کیږی . . . .

تیمورشاه ما ته د خلوص او مینی تحفی رالیږ ی ـ ستا بدخوا هان د بد ګما نیو پیدا کولو زیار باسی ، د هغو په خوله مه کوه.

زمازویه! ژرراسه ، که خدای دی نه کوی پاچاولاړسی نو تا ته بیا نوی مصیبتونه پیدا کیږی . (۲)»

او داسی ښکاری چې احمدشاه بابا انګریزانو ته هم لیکلی و ، چې ډهلی ته د شاه عالم د لیږ لود پا ره سهو لت ا و آسانی پیدا کړی څکه چې «ونیسی تارت» احمدشاه بابا ته لیکلی و ، چې:

"If it should be shahenshah (Abdalis) Pleasure (shah alam) will be Eescortedby some (British) Troops to Delhi" (1).

---

(۱) تاریخ احمدشاهی- ۲/۱۰۲۷ مخ

(۲) «دشاه ولی الله دهلوی کې سیاسی مکتوبات» د مقدمې ۵۸ مخ

یعنې: که دا (دابدالي)شهنشاه خوښه وي (شاه‌عالم) به تر دهلي پوري دخو انګریزي عسکرو او له خو اوساتل‌سي »

خلیق احمد نظامي لیکي چې: «دشاه‌عالم دراېللو کوشش ددي دپاره و، چې هغه د انګریزانو له‌اثره زاووزي، دهلي‌ته ورسي‌او داحمدشاه په‌موجودګی کی‌خپل‌طاقت ته استحکام ور کړي (۱)»

هغه‌و ، چې احمد شاه بابا دد ې دپاره چې کورګانی کورنی بیا پرپښو ودروی نو د هندوستان‌تاج‌او تخت ئې شاه عالم ته و باخښه او د ابوالمنصور زوی شجاع الدوله ئې دهغه‌وز یروتیا که ، او د میر بخشي ګری منصب ئې نجیب خان رو هیله (نجیب الدوله) ته و سپا ره ، بیا لـه د هلي څخه د خپل لښکر سره د کابل پر لو ر رهي سو ، او د هغه کال ددوبي په سر کي کابل ته ورسید .

دځینو اشتباهاتو دفع : ځینې کسان دا سې اشتباه کوي چې احمدشاه بابا دیوه افغان شهنشاه په حیث هندو ستان ته خوواره ولاړ ،غزا ګانی او جګړی‌ئې وکړې،خو چې هروارئې هندوستان په‌ډیروجګړو اوژوبلونیو لی دی بیرته ئې دهغه ځای پاچها نوته پر یښې دی اودی پخپله بیر ته افغانستان ته‌راغلی دی په سرسري قضاوت د ا اشتباه یا پوښتنه هرحساس افغان ته پیدا کیږي خو که‌لږ له حوصلي او دقت څخه کار واخیستل سي او داحمدشاه‌بابا دسفروا صلي هدف ته‌ځیرسو، نودا اشتباه پخپله‌دفع کیږي،داځکه‌چې داحمد شاه باباد‌ومړی‌سفرونه که‌دلمر ختوخواته وو،او یادلمرلویدولوری ته دافغانستان دهیواد دسیاسي او ملي وحدت،او په‌افغاني مرکز پوری دټولو هغو افغاني سیمو چې تر احمد شاه‌بابا دمخه

Islamic Cuture Vol XI P. 503 (1)

(۱) شاه‌ولي الله دهلوي کې سیاسي مکتوبات ـ ٦٣ مخ .

چې دشاه‌ولي‌الله‌د هلوي کې سیاسي‌مکتوبات»سولف‌حواله‌ور کړي‌د مـ دمقدمې ـ ٦٣ مخ

دا اختر نه دی چی جمع کړی اسباب خوک
اختر هغه دی چی سم ور کړي حساب خوك

دا اختر نه دی چی عیش وعشرت و کړی
اختر هغه دی چی خدای ته عبادت و کړی

ماخذونه. ۱-پښتانه شعرا -۳/۸۶۰ مخ
۲-گنج پښتو -۱۲۷

۱۰۲۹ احمد ابو عبدالله مالانی هروی : د عبدالرحمن زوی او د نصر نسبی د هرات له ستر و مشایخو څخه و، چی لنډه پیژندنه ئې د دې کتاب د لومړی ټوك په (۳۶۱) مخ کی د «ابوعبدالله احمد مالانی » ترنامه لاندی راغلې ده، خو هغه څه چی دلته باید پر زیات سی دادی چی دده ژوند دسلطان محمود غزنوی تر وختو هم رارسېدلی دی، په تقوی او ورع کی ئې ساری نه درلود، او دی هم له هغو عارفانو څخه و، چی د ظاهری او باطنی علومو یو ځای کوونکی اوجامع بللی سوی دی، او د شیخ همو له خپلوانو څخه و، چی د هغه سره حج ته تللی او د حرم د پر مجاوران شیخان ئې لیدلی او صحبتونه ئې ورسره کړی وو. ده په وعظ او نصیحت کی هم خوږه ژبه او زړه وړونکې وینا درلوده، او د هر چا پر زړه ئې اغېزه کوله .

وایی چی د کراماتو او ولایت خاوند هم و، چی د کراماتو څو نمونې ئې د دهخدا د لغتنامې په (۱۲۰۱) مخ کی رانقل سوی دی.

مأخذونه: ۱- د دهخدا لغتنامه - ۱۲۰۰ مخ
۲- نامهٔ دانشوران- ۵۷/۳ مخ

۱۰۳۰ احمد ابو محمد هغلی هروی : دعبدالله هروی زوی د خراسانو نامام وه او د دولت په چارو کی ئې هم لاس درلود، او د هغه وخت وزیرانو به مشوره ورسره کوله ,او دده درایی احترام کاوه او منله ئې ،

په (۳۰۶ ه) کال کی مړ دی .

له افغاني خاورې څخه بيلې کړه سوي وې پيرته په افغانستان پورې ونښلول د پاره وه. نه د نورو هيوادو د نيولو او جهانګيرۍ د پاره او د احمد شاه بابا ور وستي سفر و نه د هندوستان د اسلامي پاچهانو، علماو، روحانيوا و مشرانو په بلنه وه، چې هغوی ځان ژغورلو او د اسلام د دين د ساتلو د پاره د خدای او رسول په نامه قسمونه احمدشاه بابا ته را ليږل او دی ئې هندوستان ته بلاله (لکه د مخه چې ئې څوشاله راوړسوه او د ده ورتګ ئې هندوستان ته په هندوستان کې د اسلام د دين د بقا د پاره ضروري ګڼله او پرا احمدشاه بابا ئې د اورتګ د اسلام د دين له نظره فرض عين باله (۱) نو ځکه احمدشاه بابا د هندوستان د اسلامي پاچهانو او مسلمانانو د مرستي په نيت هندوستان ته ئې او د ائي خپله اسلامي وظيفه بله، او چې خپله اسلامي وظيفه به ئې تر سره کړه نو پاچهي به ئې هم هغو خلکو ته سپارله چې دی ئې د مرستي د پاره ورغوښتي و، او دا ئې د خپلو انساني اخلاقو او اسلامي فرايضو او افغانۍ عنعنې او پښتنۍ لوړ همتې څخه ليرې بلله چې د هندوستان د اسلامي پاچهانو او نورو مسلمانانو سره د ده خدائي خدمتګاري او اسلامي مرسته د هندوستان د استملاک او مالکيت د ادعا بڼه ومومي . او بل دا چې احمدشاه بابا د افغانسان سره د زړه مينه درلوده، او ده نه غوښته چې د افغانستان تخت د ډهلي په تخت اليش کړي لکه دی چې پخپله وايي :

ډهلي تخت هير ومه چې را ياد کړم
زما دښکلي پښتو نخوا د غرو سرونه

ځکه چې احمدشاه بابا پوهيده چې که د هندوستان د پاچهي پر تخت کښينې او هغه ځای د ځان تو بې په توګه تينګ کړي نو بيا د غوريانو او سوريانو او نورو ځينو افغاني نوميا ليو شاهانو او مشرانو په څير ئې وروروله افغانستانه د زړه علاقه شليږي

---

(۱) د شاه ولي الله دهلوی مکتوب چې يوه برخه ئې د مخه په دې کتاب کې راوړه سوه — له شاه ولي الله دهلوی کې سياسي مکتوبات -۱۲ مخ .

اود ستر شیر شاه سوری غوندی‌به ئې دفکراو عمل‌تولی‌شهکاری په‌پردی خاوره کی خاوری سی .

احمد شاه بابا پاچهی غوښته ، خوپه خپل هیواد کی‌د خپل‌ولس پا چهی، ځکه نودده افغانی‌اوپښتنی احساسا تو اجازه نه‌ورکوله چی‌د افغانستان د سینی پر ځای‌د پردی خاوری سینی ته په زړه کی ځای ور کړی .

د ا چی ځینی کسا ن ا شتبا ه کوی چی ا حمد شاه بابا په خپل و ر تګ سره د انګریزانو په مقا بل د هند یانو (یعنی سرهټانو) لوی قوت کمزوری کی‌ دا هم‌یوه ظا هری اوسرسری اشتباه ده ، حال دا چی احمد شاه بابا غوښته چی‌په هندوستان د هندو ستان سر کزی دولت پر پښو ودروی، ټینګ ئې کړی څو چی‌د انګریز ا نو دتجاوز په مقا بل کی لا ښه مقاومت وکړی، خوله بده سرغه‌چی د هند و ستا ن په مرکزی کور ګا نی‌دولت کی‌دوسری سپک اوتوان پاته‌نه‌و، چی‌پر پښو ودریدلای سی اوکه احمد شاه بابا له سره هندوستان ته ورغلی هم نه وای په هندو ستان کی یو داسی متحد او منظم اوغښتلی قوت‌نه‌و، چی‌دانګریزانو دنفوذ مخه ئې‌نیولې‌وای.

ښاغلی خلیق احمد نظامی په‌خپل کتاب «شاه ولی الله د هلوی کې سیا سی مکتوبات» کی لیکی چې: «داخبره غلطه ده چی شاه و لی‌الله یا احمد شاه ابد ا لی دانګریزانو له خطره بې خبره و، بلکه حقیقت دادی چی‌دوی پردې بیر ید ل چی د مغلی پاچا له تسا هله انګر یزانو ته دخپل اقتدار دقا ئمو لو مو قع په‌لا س و رنه سی (۱) » .

په‌خر اسا ن کی خر پړ تیا : دغه وخت چی احمد شاه با با له‌هندوستانه کابل ته را ورسید خبرسو چی په خر ا سا ن کی ځینو فسا د ا ند یښو کسا نو خر پړ تیا پیدا کړې ده، او هغه‌وخت چی احمد شاه بابا په هندوستان کی په‌غزا

---

(۱) دشاه و لی الله‌دهلوی د سیا سی مکتو با تو ۸۸ مخ .

بوخت و، هغو نسا د اند یشو کسانو نورمحمدخان خوګیانی چی داحمد شاه بابالخوا په مشهد کی واکوال سردار تیا کلی سوی و ، له مشهده ایستلی و ، او د حکومت واګی ئی پخپل لاس کی نیولی وې، اوهم په هرات کی درویش علی - خان بغی ئې کړې وه اوپر خپل سرسوی و، ځکه نواحمد شاه بابا له کابله خپل زوی شهزاده تیمور هغی خواته وګماره او دخراسان ولایت ئې تر هیلمنده پوری هغه ته وسپاره ، اوهم ئې د هغو سیمو د ما لیاتو ، د حاکمانو د عزل او نصب او تیولونو او د ولتی چا رو د اداری واک او اختیار تیمورشاه ته ورکئی ، اویوه ډله با کفایته میرزا یان او په کارپوه کسان ئې ورسره وټاکل، او ډیر قوت سره ئې هغی خواته ولیږه.

تیمورشاه هم د هرات ښاردخپل حکومت مرکز وټاکه او په ډیر عاملانه تدبیر ئې دخراسان خړ پړ تیاله منځه لیری کړه او په خراسان کی ئې بیا دعدالت کمبله وغوړوله او دفساد تغر ئې تول کی .

نهم سفر - هندوستان ته : تیمور شاه له کابله خراسان ته ولاړ، اود هندوستان د مشرانوا ستازی کابل ته راغلل، او ورسره ورسره د پنجاب د صوبه دارانو راپورونه هم داحمد شاه بابا حضورته راورسیدل اوڅرګنده ئې کړه چی په هندوستان کی د « سنګ» یا « سیکه » طا یفی پرمسلمانانو او نورو هندیانو ظلم او زور شروع کړی دی، او د هندوستان مظلومان بیاد شهنشاه احمد شاه مرستی ته سترګی په لاری دی - ځکه نواحمدشاه بابا د هغه کال دمنی په موسم کی له کابله د پیښاورله لاری د هندوستان په لور و خوځیداو په «رهتاس» کی خبر سو، چی دلاهور په سیمه کی تقریباً دیرش زره سیکان په «چک ګرو» نو می ځای کی چی هلته تخمیناً پنځلس جریبه داوبو یو ډند سته او سیکان ورته مذهبی عقیده لری راغونډ سوی دی(۱) ځکه نواحمدشاه بابا

---

(۱) تاریخ احمد شاهی - ۲/ ۱۰۳۸ مخ

دخپل لښکر مخه هغې خواته کړه او په یوه سخت برغل ئې د سیکا نو هغه غونډه ماته کړه، لس زره تنه ئې ځینې بندیان یا سره کړل او نورو تښتیدل، بیا نو احمدشاه بابا لاهورته ولاړ.

په دې وخت کې دسرهند دصوبه دار زین خان راپور راورسید چې هلته متمردینو د آلا - جټ او هربسنګه او کوجومنګه او جسه کلال په مشرۍ ترسلو زرو زیات سپاره اوپلي جګړن راټول کړي او پرسرهند ئې حمله کړې ده.

هغه و، چې احمد شاه بابا هم د خپلو پښتو زرو جرارو سپرو سره دزین خان سلاتړ ته له لاهوره وررهی سو، سرهند ته ورسید، اودمتمردینو سره ئې سخته جګړه ونښته، شاه پسند خان ساګزی میر آخور باشي او چرخچي باشي دخپلو نورو ملګرو سره د قراولی په توګه تراحمد شاه بابا د مخه و، چې د ښی خوا واګه ئې د محبت خان ضبط بیګی په لاس کې و، او کیڼی خواته ئې اشرف الوزراً شاه ولیخان و ؛دشاسلاتړ عبدالله خان د یوان بیګی ته سپارلی سوی و، چې د هغه ښی خواته بیا حاجی نواب خان الکوزی اوعظمت خان علیزی، او کیڼ پلوته ئې رحیم دادخان بارکزی او نصرالله خان نورزی و.

ددې جګړې صحنه دتاریخ احمدشاهی د دوهم توک په ۱۰۵۵ مخ کې تر ۱۰۷۳ مخ پورې په نثر اونظم په تفصیل سره تمثیل سوی ده چې د یوی برخی څو بیتونه ئې دادي:

شهنګ چې چنان آتشی برو فروخت
که هندو در آن رزمګه زنده سوخت

ګلوله چو ژاله بفصل بهار
بپارید در عرصهٔ کارزار

بغرش درآمد نهنگ شهنگ
خروشید با ژاژدهای تفنگ

شد از آتش قهر اهل ستیز
زمین شعله خیز وهوا شعله ریز

محیط تلاطم درآمد بجوش
بیفتاددرهردو لشکر خروش

چنان آتش فتنه گردید تیز
که‌شد عرصهٔ رزمگه رستخیز

زغوغای جنگ‌آوران دلیر
بلرزید بر خویش چرخ اسیر

دو لشکر نمودند روسوی هم
کشیدند شمشیر برروی هم

زفرط تهور درآن رزمگاه
بسی سر فگندند بر خاک راه

چو شمشیر ها شد بمیدان علم
کشیدی بسی سر بجیب عدم

سپاه شهنشه به تیغ دورو
نمودند یکروی کار عدو

درین رزم شمشیر ها کند شد
بقتل مخالف ز بس تند شد

باقبال خاقان نصرت پناه
سرافشان شده تیغ های سپاه

بگرز و بهشت و بسنگ و تبر
شکستند دست و سر یك دگر

بضرب تبر زین آهن شکن
شده استخوان ریزه ریزه به تن

چنان گشت نیران کین مشتعل
که شد هندوی تند خوی زحل

بفکرو تحیر ازان ما جرا
بر آمد بسر دود حیرت ورا

زمین و زمان شد چنان پرفتور
که گفتی همین است یوم النشور

پەدی توگه د ویری سختی جگری په نتیجه کی متمردین مات سول ،
ووژل سول او وتښتیدل لکه چی محمود الحسینی وایی :

هنود سیه بخت نکبت مآب
رمیدند چون سایه از آفتاب

باقبال شاه سلیمان شکوه
فتادند بر خاك وخون آن گروه

بر آوردن نقد جان زا نمکان
غنیمت شمر دند قوم سکان

ولیکن زبس کشته افتاده بود
ره رفتن دشمنان بسته بود

درین رزمگه سی هزار از هنود
بکشتند افواج نصرت نمود

به نیروی اقبال سلطان دین
بشد منهزم لشکر مشرکین

چو کفار مغلوب و خسته شدند
بقیه زد هشت دو دسته شدند

گروهی بجنگل نموده فرار
گروهی برفتند در کوهسار

قراول سواران روئین تن
وزیرو دگر دستهٔ صف شکن

ز دنبال کفار نکبت نشان
بگشتند در سمت جنگل روان

خدیو جهان خود بفر و شکوه
تعاقب بفرمود در سمت کوه

بیفگند در قلهٔ کوه شور
توگفتی که موسی برآمد بطور

ببالای آن کوه شاه جهان
نمود چو خورشید بر آسمان

جبل شد فروزان زملک رکاب
توگفتی برون شد زکوه آفتاب

دسکانو دستمردینو ترماتی وروسته احمدشاه بابا امروکی چی دستمردینو دټولو وژلیو سویو کسانو سرونه که دجګړې په ډګرکی وژلی سوی وو، او یاد تیښتی پرحال په ځنګلو اوغروکی وژلی سوی وو، ودی، شمیرل سی هغه چی ئې وشمیرل نو شپږ شپیته زرو سروته ئې شمیر ورسید، بیانو احمدشاه بابا د«آلا - جټ» دکلا نیولوته څه لښکرو ګماره چی تر دروورڅو جګړو وروسته ئې «آلا - جټ» دآل اوعیال سره ولیو، او بندی ئې دسرهند دولایت صوبه دار زین خان ته وسپارۀ، اوپخپله احمد شاه بابا لاهورته رلوګرځید، او دا وخت نود احمد شاه بابا دپاچهی شپاړسم کال و.

د کشمیر خوا ته ځغله: احمد شاه بابا چې د سکانو له شخړې څخه بریالی وزګار سونود کشمیر خواته ئې مخ واړاوه، او په کشمیر کې «سکجیون» نومی هند ووالي و، که څه هم داسې داحمدشاه بابا وزیر شاه ولي خان روزلی و، اود احمد شاه بابا له خوا د کشمیر والي ټاکلی سوی و، خو تر هغه موده و روسته ئې چې ډیرې پیسې پیدا کړې دهندوستان دوز یر غازي الدین خان په لمسون ئې د احمد شاه بابا مخالفت ته ملا وتړ له اوځنګه چې احمد شاه بابا په نور و مهمو دولتي چارو بوخت و، نو سکجیون ا ته ګا له په کشمیر کې پر خپل سر حکومت وکړ، او د هند د وزیر غازي الدین سره ئې لاره وساتله او داحمد شاه باباسره ئې مخالفت ته ادامه ورکړه تر هغو چې دا وخت احمد شاه بابا د سکانو تر لاسه ورو سته فرصت وسوند چې د«سکجیون» د سر کوټلو د پاره دشاه ولي خان وزیر دا کازوی نور الدین خان بامیزی د څه لښکر سره له لاهوره کشمیر ته ولیږي، او نورالدین خان هم په ډیره مړانه دسکجیون لښکر تار و مار کی ء، او پخپله سکجیون او د هغه وراره ئې بند یان ونیول، سترګې ئې ځینې و کښلې او احمدشاه بابا ته ئې و استول چې هلته هم دیپل تر بخبولاندې ووژل سول او دخپلې نمکحرامی سزائې ولیدله. بیا نو احمدشاه بابا د کشمیر دولایت صوبه داری(۱) بلند خان سدوزي ته وسپارله او پخپله احمدشاه باباورو سته تر هغه چې دسکانو دیو بل متمرد دسرداړ «چړته سنګ» دسر کوټلو د پاره ئې خوا وړه لښکر ولیږه خو چګړې وړسره و کړې او چړته سنګ سلطان ته و تښتید (۱) بیا نو احمدشاه بابا د ۱۱۷۷ ه ق کال په پسر اوډ می په پای کې له لاهوره د کابل خواته را وخوځید سخو د مخه تر راخوځیدو ئې د لاهور دولایت صوبه داري «سکرم خان ککهړ»

---

(۱) دهغه وخت «صوبه داري» داوس وخت د «والي ګرۍ» سره مساوي وه.

(۱) ددې جګړې و تفصیل د «تاریخ احمدشاهي» دوهم ټوک په ۱۰۸۹ مخ کې تر ۱۱۰۲ مخ پورې راغلې دي.

ته وسپارله او یوه مرصعه جیغه ئې هم وروبخښله، اوپه پسر لی کې کابل ته ر اورسید خو څوورځې لا تیری نه وې چې لاهوره د «مکرم خان ککهړ» دوژلو اودسرهنددصوبه دار زین خان سو مند سره د متمرد ینو د جګړې خبر احمد شاه بابا ته ورسید، او احمد شاه بابا هم دستې سردار خانجان خان دقزلباشوا و جوان شمرو اوپیښاو ر یو او بر درا نیو دلښکر سره دمتمرد ینود سر کوتلو دپاره دپنجاب خواته ولیږه او په خپله دهغه کال دمنې په موسم کې د کندهار احمدشا هي ښارته ولاړ.

اسم سفر ـ هندوستان ته: دسرار خانجان خان چې په دېر تلوارد پنجاب خواته رهي سو تر سیالکو ته بر یالی و رسید خو څنګه چې په خپل زړو ر توب دیر مغر ور و، نو دد ښمنانو په مقابل کې لې له هغه احتیاط څخه کارنه اخیستی چې د یوه ازمویلی سوی او مجرب سپه سالار سره لازم و، او متمردینو سره ددې چې ماته ئې کړې وه او له میدانه تښتیدلی وو، د افغانی لښکر دسپه سالارله هغې بی احتیاطی څخه ګټه واخیستله او په داسې حال کې چې افغانی لښکر تیت او پرک وو، دمتمر دینو داتوزرو جراوسپرو دافغانی لښکر پر چوتې یوه ناڅاپه سخته حمله وکړه، چې د هغه لښکر یوه زیاته برخه ئې تالا والا کړه، او تخمیناد یو کرور رو پوتاوان ئې افغانی لښکرته ورساوه، څکه نود افغانی لښکر دمقاومت پښې سستې سوې او سر دار خانجان خان دماته لښکر سره د پیښاور خواته راپر شا سو. دا خبر چې احمد شاه باباته را ورسید نو سمد ستی ئې د لښکرسا لارانو ته چې یو هم پکښې دبلو چستان والی نصیر خان بلوڅ و، د «تیاری» امر ورکړی، اوله بلې خوائې شاه ولی خان ته دسپهسا لاری رتبه ورکړه او د هغه دوز ارت ټولی ملکی اومالی چاری ئې خپل د لمانځه امام اودعسکرو قاضی، ملا ادریس خان ته وسپارلې (۱)

---

(۱) ددې تبدیلی دلایل او موجبات د «تاریخ احمد شاهي» د دوهم توک په ۱۱۷۲ مخ کې تر ۱۱۴۸ مخ پورې مفصل راوړه سوي دي.

بیانو د ۱۱۷۸ هـ ق کال په منی کی د کابل او پیښاور له لاری هندوستان ته رهی سو دخیبر په دره کی ئې سردار خانجان خان سخی ته راغی او د خپلی بې احتیاطی او ساتی عذر ئې ورا ندی کی، افغان شهنشاه هم هغه و باخښه او د خان سره ئې ملګری کی، تراټك پوری ووت او چی د پټیالی و یش (سرحد) ته ورسید خبر سو چی د سرهند افغانی صوبه دار زین خان سوسند هم د سکهو د ډنوله خوا ووژل سو، د دې خبر د احمد شاه بابا خشم او غضب لا وپاراوه، او د سرهند خواته وخوځید، پر لاری چی هر څه سکهو دین په مخه ورتلل هغه ئې له منځه وړل او یا چی به سکهو دینو د ده دور تګ یرغ اروید ه تښتیدل ، نو په دې توګه د سکهو دینو لښکر چی شمر ئې دوه سوه زرو تنو ته رسیده ټول په ځنګلو ننوتل او یا غروته وختل او میدان ته د راتللو جرئت ئې نه درلود، خو چې «انباله» ته ورسید ، او هلته د ۱۱۷۹ هـ ق کال د روژی د میاشتی په پنځه و یشتمه د پنجشنبی په ورځ ستر عالم او قاضی ملا ادریس خان وفات سو او احمد شاه بابا ئې ډیر خواشینی کی.

بیا «چنداله» ته ولاړ او هلته د سکهو دینو سره یوه تو ده لو یه جګړه وسوه چی په هغه جګړه کی د احمد شاه بابا سره دانو میالی مشر ان ملګری وو :

۱ ـ مرحوم ستر عالم او د احمدشاه بابا د نمانځه امام او د عسکرو قاضی ملاداد ریس خان چی دو زارت د چارو واکی ئې هم په لاس کی وی .

۲ ـ محمدنصیرخان بلوچ د بلوچستان د ولایت سرداراو د اختیار خاوند .

۳ ـ حاجی نواب خان الکو زی قوللر آقاسی .

٤ ـ شاه پسند خان چرخچی باشی .

٥ ـ عظمت خان علی زی مخاطب په حاضرخان .

٦ ـ رحیم دادخان بار کزی .

۷ ـ نصرالله خان نور زی.

۸ ـ انزله خان نسقچی باشی او نور .

مأخذ: دد هخدالغتنامه - ۱۲۱۰ مخ

۱۰۳۱ احمد ابو نصر جوزجانی: ابونصر احمد دابوالحارث محمد زوی، او داحمد بن فریغون نمسی دجوزجان له نومیالیو امیرانو څخه و، چې د پلار تر مړینې وروسته سلطان محمود غزنوی دهغه ولایت د امارت چارې ده ته وسپارلې .

دی د سلطان محمود غزنوی د خور میړه او هم ئې اخښی ،او هم دزوی خسرو، د الحکمه چې سلطان محمود بیا دده خورپه نکاح کړې وه او هم ئې دده لور خپل زوی محمد ته غوښتې وه .

ابونصر احمد دالعتبی او گرد یزی په قول دگوزگا نان (جوزجان) والی و، او په (۳۹۸هـ - ۱۰۰۷ع) کال ئې دپل چرخیان په جگړه کې چې د قراخانیانو او د سلطان محمود دوروور تر منځ پیښه شوله دمحمودی لښکر زړه (قلب) دده په لاس کې و، او هم په (۳۹۹هـ - ۱۰۰۸ع) کال د هند دبهیم نگر په جگړه کې دسلطان محمود سره سلگری و، او په (۴۱۰هـ - ۱۰۱۰ع) کال کې مړ دی .

مأخذ: آریانا دائرة المعارف - ۵۰۱۲ مخ

۱۰۳۲ - احمد ابی بکر غورجی هروی: د عبدالصمد هروی زوی د خپل وخت محدث و، اوله جرجانی څخه ئې دجامع ترمذی روایت کړی او په (۴۸۱هـ) کال کې مړ دی ، او کنیت ئې «ابی بکر غورجی» و .

مأخذ: دد هخدالغتنامه - ۱۲۰۲ مخ

۱۰۳۳ - احمد بی سعد منشوری: د محمد زوی د غزنویانو په دوره کې د سلطان محمود غزنوی د دربار له شاعرانو څخه و .

رشید وطواط په حدائق السحر کې لیکلی دی چې: «منشوری د رصنعت تلون ازصنایع لفظیه بدیع شعری که ممکن باشد د ر دو بحر یا زیاده خوانده شود مختصری ساخته است و خورشیدی آنرا شرح کرده»

مأخذونه: ۱ - حدائق السحر - ۱۲۹ مخ

اووه ورځې پرله پسې جګړه جاري وه، اوپه اتمه ورځ چې دمتمردينو له سرو څخه پښتې جوړې سوې او نورې پاته په تېښته په ځنګلونو تلل او دجګړې له ډګره وتښتېدل. دغو احمدشاه بابا دخپل لښکر سره لاهورته راوګرځېد. خو په هغه جګړه کې داحمدشاه بابا دلښکر دوه نوميالي اونګيالي مشران هم شهيدان سول چې يو عظمت خان علي زي ودعليزو جنګيالو مشر، اوبل رحيم خان لشکر نويس د کاکړانو جنګيالو سردار و.

احمدشاه بابا دشهيد عظمت خان د«حاضرخاني» خطاب دهغه ورور قاسم خان ته ورکې اودعليزو دجنګياليو مشر ئې وټاکه، اود کاکړ انود جنګياليو سرداري ئې دشهيدرحيم خان زوي بهادرخان ته ورکړه ، اود هغه شهيد ورور رحيمداد خان ئې د«لشکرنويسي» په منصب سرلوړي کې. بيانو احمد شاه بابا د کابل له لارې د کندهار احمدشاهي ښارته راغې، اوتيمورشاه ئې له هراته راوغوښت چې د کندهار ښارته نژدې دشاهزاده سکندر اوشاهزاده سليمان اوشاهزاده پرويز اوشاهزاده شهاب اوشاهزاده سنجر اوشاهزاده داراب اودربار دنور واميرانو اوسپه سالارانو او مشرانو له خوائې تودهرکلي وسو ، اوترڅو ورځو وروسته احمدشاه بابا د حاجي جمال خان بارکزي دزوي عبدالحبيب خان لور درجب دمياشتې په دوولسمه تيمورشاه ته واده کړه ، اوهم ئې دشاه ولي خان باميزي لورد شاهزاده سليمان په نکاح کړه.

ترهغه وروسته نواحمدشاه بابا خانجان خان دکندوز، حضرت امام، بغلان، بلخ او بدخشان دماليو تولولو اودهغو سيمو دځينو متمردينو د سرکو تلو دپاره هغې خواته وګماره اوپه خپله دهغه دژمې تيرولو دپاره په احمدشاهي ښارکې پاته سو، او دا کال دد ه دجلوس نو لسم کال و.

د(۱۱۸۰ ه ق، کال په پسرلي کې ئې تيمورشاه د هرات خواته رخصت کې اوپخپله دکابل لورته رارهی سو.

يوولسم سفر - پنجاب ته : احمدشاه بابا ته خبرراورسيد چې دسکانو متمرد ينو

بیا په هندوستان کې د فساد هنگامه توده کړې ده او پنجاب ئې نیولی دی، نو ځکه د (۱۱۸۰ هـ ق) په سني کې د مشردینو د آرامولو د پاره د لوی لښکر سره د پېښاور له لاری هندوستان ته وخوځېد، او د حسن ابدال په سیمه خانجان خان چې د افغانستان شمالي سیمو ته تللی و، هم د اوزبکو د لښکر سره د احمدشاه بابا په لښکر پسې ورورسید، او یو ځای د لاهور خواته رهي سول. مشردانو چې د احمدشاه بابا د ورتگ خبر واورید وارخطا سول او د مقابلې جرئت ئې سلب سو، او د مقاومت پښې ئې سستې سوې، له پنجابه د روهیله پښتنو خواته وتښتیدل او هلته ئې د نجیب خان روهیله مشهور په (نجیب الدوله) سره شخړه ونښلوله، په شرقي پنجاب کې نجیب خان د احمد شاه بابا حضور ته راغی او لښکري سرسته ئې ځني وغوښتله، احمد شاه بابا هم سردار خان جان خان د ضابطه خان په ملگري یو څه لښکر د مشردینو سرکوبولو د پاره وگماره، چې هغه لښکر روهیله ته ور ورسید او وروسته پر مشردانو بری وموند او د مشردانو خوراوه پر سرونه ئې د احمد شاه بابا حضور ته پر عرادو بار ولیږل، او د «روهیله» سیمه ئې له مشردینو څخه وژغورله، ضابطه خان ته ئې وسپارله او سردار خانجان خان بیرته د احمد شاه بابا خدمت ته ورغی. احمدشاه بابا غوښته د (۱۱۸۱ هـ ق) کال دوبی په هندوستان کې تیر کړي خو له یوې خوا د ده ځینی استراحت غوښتونکی ملگري لکه میرخوش خان دراني او د هغه ځینې نور ملگري د خپلو ښځو په مینه او د اولاد او خپل ټاټوبي د لیدلو په هوس د احمد شاه بابا له لښکر څخه په پټه د وطن خواته وتښتیدل، او غوښتل ئې چې دلته په وطن کې د ناآرامی مسبب سي، او له بلې خوا په بنگښاتو کې یو کوږ گردرویش پیدا سوی و، چې د پاچهۍ دعوه ئې کړې، او په بنگښو کې ئې په خپل نامه سکه وهلې وه او ځینې خلک ئې په ځان پسې بې لاري کړي او د ده په نامه ئې خطبه ویله نو ځکه احمد شاه بابا د افغانستان خواته راهي سو — خو میر خوشخان په کندهار کې شهزاده سلیمان ونیو او د خپل عمل په سزائې ورساوه، او هغه کوږ گردرویش بیا د احمد

شاه بابا دهوا خواهانوله خواوږل سو، او پخپله احمدشاه بابا کابل ته راغی.

د احمد شاه بابا دپزی ناروغی: احمدشاه باباچی کابل ته راو رسید؛ په کابل کی ئې هغه دپزی هغی ناروغی چی له پخوا څخه ئې درلودله بیاشدت وموند، او محمود الحسینی داحمدشاه بابا دپزی دناروغی دعلت په باب کی داسی لیکی چی: څوکاله پخوا چی احمد شاه بابا دهندوستان له سفره کابل ته راغی نویوه ورځ د تفریح دپاره «استالف» ته ولاړ، او دراگرځید وپر وخت له هغه آسه ولوید چی مخلص خان و رته له ترکستانه رالیږلی و، او دهغه رالو یدو په اثر دده د پزی هغه طبیعی خال چی له پخوا څخه ئې پر پزه درلود تپ واخیست اوهغه تپ پریدو واوښت څو چی د«ناسور ناروغی» سوه (۱) او دا پلا چی دهندوستان له‌سفره کابل ته راغی‌هغی ناروغی بیا شدت پیدا کی، او تبی هم ونیو خو بیائې هم د دولتی‌چار وځار نه کوله او ددر بار امیران او سرداران او خوا نین به ئې کله کله خپل حضورته راغوښتل، مگر هره ورځ بی له فتح الله خان سد وزی چی داحمد شاه بابا د اسرا رو محرم و، بل څوک خلوت ته ورتلای نه سو.

دا حمد شاه بابا ددې ناروغی علاج میرزا علی رضا، او سلامحمد موسی او راجه سلامت رای حکیم چی دهغه وخت‌نو سیالی طبیبان وو، کاوه. اوزیاتره ئې د دې ناروغی د علاج دپاره له «چوپ چینی» څخه کار اخیست چی هغه معالجه وروورو گټوره ثابته سوه، اوبی‌له نقاهته نوره ناروغی پاته‌نه سوه.

کندهار ته‌دخرقې شریفې وړل: په۱۱۸۲ ه کال‌چی احمدشاه بابا په کابل کی و، دده په امر شهزاده سلیمان له کندهاره کابل ته‌راغی، اود همهغه کال‌دمحرم دمیاشتی په دیارلسمه شاه ولی خان‌دیو لوی لښکر سره له «چاریکاره» داحمد شاه بابا له حضوره دبدخشان دوالی سلطان‌شاه‌دتأدیب اوتنبهه

---

(۱) تاریخ احمد شاهی -۲/ ۱۲۰۱ مخ

د پاره وګمارل سو، چې د بدخشان سیمه د سلطان شاه له فساد او تمرده وژغوري او د حضرت رسول (ص) خرقه چې په بدخشان کې وه له ځانه سره راوړي شاه ولي خان هم بدخشان و نیوا وخرقه شریفه ئې د کابل له لاري کندهار ته یووړه(۱)

دوو لسم سفر - پنجاب ته: د ۱۱۸۲ ه ق کال په منی کې بیا احمدشاه بابا د پنجاب خواته رهي سو، پېښاور ته چې ورسید خانجان خان چې د مخه له کابله د کوهاټ او بنګښات څخه لښکر راغونډ ولو ته ګمارلی و، د هغه د خزانو سره په پېښاور کې د احمدشاه بابا حضور ته راغی، او له هغه ځایه بیا د «پکلي» او «دم تور» د غرنیو سیمو په آرامولو مامور سو، او پخپله احمدشاه بابا د اټک خواته وخوځید او چې تراټک پورېووت نو د پنجاب خواته ئې مخه کړه، اوچې د جهلم د سیند غاړې ته ورسید نو بوه میاشت ئې هلته تېره کړه په هغه ځای کې خانجان خان هم د خپل لښکر سره ورته راورسید، اوهم په هغه ځای کې احمدشاه بابا بلند خان سدوزی د شهزاده سکندر په وکالت سرلوړی کې ، او د صمد خان زوی فیض طلب خان محموزی ئې د اټک د حاکم سرفرازخان خټک سره د نوموړي شهزاده د سرداری منصب ور کې او دادرې سره کسان ئې د نواز جنګ قلی خان په سلګری د «رهتاس» د ټینګې کلا ساتنې ته وګمارل ، او خانجاخان ئې د «دین کلا» په نیولو ماموركی، او پخپله هم د کوچنی اختر د میاشتی په دوهمه د وزیر آباد خواته وکوچید ، د «چیناب» تر رود پورېووت ، ژمی او پسرلی ئې هلته تیر کړه او د ۱۱۸۳ ه ق کال په دوبی کې بېر ته کابل ته راغی ، او پر لاري چې د اټک ترسیند راپورېووت نو د يره جا تو

---

(۱) د خرقې شریفې مفصله پېژندنه اوله فیض اباده تر کند هاره د کابل له لاري د هغې دوړلو حالات او تاریخ د «سراج التواریخ» دلومړی ټوک په ۲۷ مخ کی ، او د ۱۳۵۵ ه ش کال د «کندهار» د مجلې د زمری د میاشتی د پنځمی ګڼې په ۱۱م مخ کې راوړه سوی دی ، علاقه لرونکی دی هلته رجوع وکړی.

د صوبه دار نصرت خان لور ته شهزاده پرویز ته وغوښتله، او د هغو سیمو صوبه داري ئې سردار خانجان خان ته ورکړه او هغه ئې هلته پرېښود.

احمد شاه بابا چې کابل ته راورسید د ده تر مخه د ستمو د ېنوبوه مشر «چرته سنګ» د «کوجر» په ملګرۍ د یوه لوی لښکر سره د «رهتاس» پر کلا یرغل راوړی او بلند خان سدوزی ئې کلا بند کړی، او جګړه ونښته، احمدشاه بابا چې خبر سو، نو «دانش خان» خواجه سرائي چې شهنګ چي باشي و، او پېښاور د سیمې حاکم و، د هغه ځای د یو سفزو او غلجو د لښکر سره د جناب میان محمد عمر صاحب د شاګرد ملا محمد اکرم په ملګرۍ د بلند خان کومک ته وګماره، خو هغه له پېښاوره خوځېدلی نه و، چې متمردینو د «رهتاس» کلا و نیوله او بلند خان چې په ستر ګوئي څه له لیدل د متمردینو په لاس کښېو وت.

احمدشاه بابا غوښته بیا د پنجاب خواته لښکر و باسی، خو په دغه وخت کی له هراته د تیمور شاه لیک راورسید چې په هغه کی ئې په خراسان کی د شاهرخ شاه د زوی نصرالله میرزا د بغی خبر لیکلی و، او دائې هم ز یاته کړې وه چې علیمردان خان زنګو ئې او د تر شیز حاکم عبد العلی خان عرب سیش مست هم له اطاعته سرونه غړولی دی او د هغې سیمې خراج او باج نه را استوی. ځکه نو احمدشاه بابا د پنجاب سفر بل وخت ته وځنډاوه او خراسان ته د تګ په تکل کی سو. خو د مخه تر هغو چې خراسان ته و خوځېږی د تیمورشاه په پیشنهاد ئې د وزارت منصب بیا شاه ولی خان بامیزی ته چې څه موده د مخه له وزارته لیری کړه سوی و، ورکی، او بیانو احمد شاه بابا د رجب د میاشتی په دوهمه دشنبې په ورځ له کابله د کندهار خوا ته رهی سو، او له هغې خوا تیمور شاه له هراته کندهار ته راغی چې د خراسان حالات خپل پلارته و وایي.

احمدشاه بابا چې کندهار ته ورسید نو سردار خانجان خان ئې له دیره جاتو او نصیر خان بلوخ ئې له بلوچستانه راوغوښتل او هم ئې دولس نور مشران راوبلل.

د بیار لسم سفر خراسان ته: د (۱۱۸۴ هـ ق) کال د محرم د میاشتی په اوله د جمعې په ورځ احمدشاه بابا د شهزاده تیمورشاه او شهزاده سکندر او شهزاده پرویز او شهزاده داراب سره له کندهاره د خراسان په نیت د هرات خواته وخوځید، او چې فراه ته ورسید نو تیمور شاه د احمدشاه بابا د استقبال او هر کلي د تیاری د پاره د احمدشاه بابا تر لښکر د مخه سو، او په هرات کې ئې د پیره لوړ شاهانه ترتیبات و نیول او تول ښار ئې ښه ښاښار کی، او چې احمد شاه بابا هرات ته ورسید نو تر اوو ورځو پوری د خوښی جشن و. بیا نو تر څو ورځو وروسته احمد شاه بابا شهزادگان په هرات کې پریښوول او د هرات ساتنه ئې حاجي کریم دادخان عرض بیگی ته وسپارله او پخپله د مشهد خواته رهی سو، د مشهد ښار ئې کلابند کی او د مخه تر هغه چې په جگړه لاس پوری کړی د وعظ او نصیحت له لاری ئې شهزاده نصرالله میرزا ته د زړه سوی پیغام ورو استاوه، خو څنگه چې نصرالله میرزا د غرور او جهالت پرخره سپور و، او د احمد شاه بابا د زړه سوی پیغام ته غوږ ونه نیو، او ځان ئې جگړی ته چمتو کی، نو احمدشاه بابا هم د نصرالله میرزا د غرور د ماتولو د پاره توپونه داوربل امر ورکی، جگړه ونښته او تر یو سل او شلو ورځو پوری اوږده سوه او څنگه چې نصرالله میرزا د علي مردان خان زنگويي د سرښتی په هیله د مقاومت ښی ټینگی کړی وی نو احمد شاه بابا سردار خانجان خان او نصیر خان بلوڅ د علي مردان خان سر کوبولو ته و گمارل او هغوی هم تر سختو جگړو وروسته د دریمی خور (جمادی الاول) د میاشتی په پنځمه د سه شنبی په ورځ علي مردان خان د دروزرو تنو جگړنو سره و واژه او د هغه سر ئې د نورو وژلیو سره د سرو سره احمد شاه بابا ته ولیږه ـ د اخبر چې نصرالله میرزا ته ورسید د مقاومت سرانډی ئې سستی سوی، نو خپل خیر ئې په دې کې و لید چې عفو وغواړي او د خپل پلار شاهرخ میرزا په واسطه خپل عذر احمد شاه بابا ته وړاندی کړی شاه رخ میرزا چې له اوله د خپل زوی د کړو سره مخالف و، نو خپل وزیر میرزا

مومن جا جر مې ئې داحمد شاه بابا حضورته واستاوه اودهغه په لاس ئې خپل عذر داسې وړاندې کې:

«من ازمدت های مدید آرزوی ملازمت و آستان بوسی دارم، لیکن از وقوع عصیان خلف نا خلف غرق عرق انفعال وتشویرم وجرأت بیرون آمدن نمی نمایم - امیدوارم که بآب لطف پادشاه مروت کیش، فتوت اندیش داسان رعب وهراس من بی گناه شست وشو یا بدو یک نفر از ارکان دولت جاوید عدت بجهته وثیقهٔ عهدو پیمان پابمیان گذاشته بعنایات خاقان مرادل جمع و مطمئن سازد، تا خاررعب و هراس از دل وحشت منزل برآید وآهنگ تقبیل بساط فیض انبساط نماید (۱)»

څنګه چې احمد شاه بابا هیڅکله د یوه هیله من او التجا کوونکي هیله پر ځمکه نه ده غورځولې نود میرزا مومن سره ئې مهرباني وکړه اودشاهرخ میرزا هیله ئې ومنله او وزیر شاه ولي خان ئې له خپلې خوا د شاهرخ دډاډاودلاسادپاره وتاکه، شاه ولي خان هم ورغی او شاهرخ ته ئې د احمد شاه بابا له خوا تسلی اوډاډینه ورکړه، او شاهرخ هم داحمدشاه باباحضورته راغی، دخپل زوی دلاسه دناوړو پېښو عفوئې وغوښتله او احمد شاه بابا هغه ونازاوه اودهغه دزوی ګناه ئې ورو بخښله، او شاهرخ هم خپل بل کشر زوی «یزدان بخش میرزا» داحمد شاه بابا درکاب په ملازمانو کې شامل کې، او هیله ئې وکړه چې احمد شاه بابا دشاهرخ لور «ګوهر شاده» شهزاده تیمورشاه ته په نکاح کړي، احمد شاه بابا هم هغه هیله ومنله، او وروسته تر هغه چې دشاهرخ سره ئې د دوستی نوی تړون وتاړه شاهرخ ئې بیاد «فرزندی» په خطاب سره لوړی کې، خوراډیر انعامونه ئې ورکړه، اوهم ئې دخراسان نورمشران او سرداران ونازول او دهریوه سره ئې دهغه دقدرپه اندازه مهرباني وکړه.

---

(۱) تاریخ احمد شاهي - ۲/ ۱۲۴۰ مخ

څنګه چې له یوې خوا د خراسان خړ پړتیا له منځه ولاړه او له بلې خوا هوا مخ پر سړ پدو سوه نو ځکه احمد شاه بابا هم له خراسانه د کندهار لورته را رهی سو، تیمور شاه ئې له سبز واره بېرته هرات ته رخصت کی او پخپله د ژمي په سر کې د کندهار احمد شاهي ښار ته راورسید، او په (۱۱۸۵ ه ق) کال ئې د عظمت خان علي زي سخا طب په حاضر خان لورئې خېل او اولس کان زوی شهزاده پرویز، او د میر داد خان الکوزي قوللر اقاسي د ورور حسن خان لورئې خپل بل زوی شهزاده شهاب ته وغوښتله، او د هغه کال د لومړي خور (ربیع الاول) د میاشتې په سر کې دا دوه ودونه په شاهانه مراسمو سول. بیائو احمدشاه بابا د شاهرخ زوی یزدان بخش میرزا دیو زرتېر یزي تومانو سره چې شل زره هندي روپۍ کېدلې بېر ته مشهد ته ولېږه، او هم ئې شهزاده پرویز ته د کابل حکومت او دولت و سپاره او د غلرمي خور (جمادي الثاني) په اوله نېټه ئې هغې خوا ته رخصت کی.

د احمدشاه بابا د پزې بیا ناروغي: د اوخت بیا د احمدشاه بابا د پزې هغه پخواني ناروغي رابرسېره سوه، او ورځ په ورځ ئې شدت موند، او هرڅه دارو درمل چې ئې کوله، څه ګټه ئې نه رسوله، بلکه د ده په وجود کې ئې نوری ناروغي هم راپاروله، او احمدشاه بابا پوه سو چې د ژوند وروستي ورځې رانژدې کېږي، ځکه ئې نو خپل زوی تیمورشاه د وروستي دیدن د پاره له هراته راوغوښت، او هغه هم بې له ځنډه د څه لښکر سره راو خوځېد، خو د تیمور شاه د راغوښتل او راتګ پر وزیر شاه ولي خان، چې غوښته ئې تر احمد شاه بابا وروسته د ده زوم شهزاده سلیمان پر احمد شاهي تخت کښېني درانه پرېوتل، نو له یوې خوا ئې دد ربار مخور په پټه د تیمورشاه مخالفت ته پاروول او له بلې خوا ئې زیار یوست چې د احمد شاه بابا نیت تیمو رشاه ته بد کړي او احمدشاه بابا ته ئې په غیر مستقیمه توګه داسې ښووله چې تیمورشاه چې د یولوی لښکر سره له هراته راروان خپل پلار ته په نیت نه لري او غواړي پلار له منځه یوسي او ځای ئې ونیسي ـ ځکه نو هغه وخت چې تیمورشاه د کندهار احمدشاهي ښار ته نژدې راورسېد شاه ولي خان احمد

شاه بابا په دې قانع کی، چې تیمور شاه ته هدایت ورکړی چې خپل لښکر ترڅارد پاندی پرېږدی او پخپله پوازې دخو تنو سره ښار ته د ننه د خپل پلار حضور ته ورسی، تیمور شاه همهغسې وکړه او حتی څوورځې وروسته خپل لښکر هرات ته ولېږه او په دې توګه ئې هغه پروګرام شنډ کې چې دده او دده د پلار ترمنځ د بدبینې پیدا کولو دپاره جوړ سوی و. د (۱۱۸۶) ه ق کال په سر کې احمدشاه بابا داسې فیصله وکړه چې شهزاده سکندر د پېښاور خواته په ماموریت واستوی او تیمورشاه بېرته هرات ته ولېږی او په خپله چې نورنود کشور کشایې اوسفرتوان نه لرې په احمدشاهی ښار کې پاته سې او خپل دار و درمل وکړی، نځکه ئې نوشهزاده سکندر د محرم د میاشتې په دوه و یشتمه د دوشنبې په ورځ د سردار رخا نجان خان ، او رحیمداد خان بار کزی ،او حاجی نواب خان سره د پېښاور لورې ته رخصت کې 'او تیمور شاه ئې وروسته تر هغه چې خپل یو خاصه آس ئې چې «غریب» نومیده، د اصیلومر غلرود بازوبند او په جواهرو مرصع کمر بند سره ورو باخښه، د نوموړې میاشتې په شپږ ویشتمه د پنجشنبې په ورځ د هرات خواته واستاوه (۱)

---

(۱) تاریخ احمد شاهی -۲ /۱۲۷۱ مخ-خو دسراج التواریخ مولف د۱۱۸۶ ه ق کال د پېښو په ترڅ کې لیکلي چې: «در ینوقت شهزاده تیمور فرزندش که ایالت هرات داشت بعزم عیادت راه قندهار بر گرفت و شاه ولیخان وزیر بتصور اینکه شهزاده سلیمان پسر دیگر اعلیحضرت احمدشاه راکه داماد ش بود بسلطنت بردارد حیلت انگیخته اعلیحضرت احمدشاه را بلطایف الحیل بدان سر آورد که نسقچیان مامور فرمود شهزاده را ز چهار کروهی شهر قندهار بجانب هرات معاودت دادند، و بقراربیان صاحب تاریخ سلطانی منشور معانعت از حضورشاه بنام شهزاده تیمور شرف صدوریافته در منزل «واشیر» واقع هشتاد کروهی قندهار بشهزاده رسیده از انجا جانب هرات مراجعت کرد» (۹۲ مخ) خوځنګه چې محمود الحسینی د احمدشاه بابا منشی و، نو د هغه لیکنی ته ترجیح ور کړه سوه .

د توبې غره ته تګ : څنګه چې د شهزادګانو تر تګ وروسته د کندهار مخ پر تودېدو وه او توده هوا د احمد شاه بابا د ناروغۍ دپاره ښه نه وه، نو ځکه احمد شاه بابا د همغه کال د صفرې د میاشتې په اوومه د کندهار د جنوبي لمرختو خواته ۵۰ میله لیرې د توبې غره ته وکوچېد او هلته ئې په «مرغه» نومي ځای کې د استراحت دپاره واړول، او په احمد شاهي ښار کې ئې شهزاده سلیمان پرېښود، او شهزاده داراب ئې د ځان سره بوت.

هړ یښه : په «توبه» کې هم د احمد شاه بابا ناروغي سپکه نه سوه، بلکه سخته تبه هم پر راغله او احمد شاه بابا پوه سو چې د ژوند وروستي ورځې ئې راغلې، نو ځکه ئې د کندهار له ښاره د دربار مشران راوغوښتل، او هغو ته ئې وصیت وکی چې:

«زه له دنیا ځم ـ تر ما وروسته زما د زوی تیمورشاه اطاعت وکړئ، زما د رعایاو سره جبر مه کوئ، او ستاسي تر لاس لاندې کسان په ظلم او ستم مه آزاروئ،

د اسلام د دین په تقویت او د کفر په دفع کې زیات زیار وباسئ، ما ته له لوی خدای څخه بخښنه غواړئ(۱) »

ځینو مشرانو په ډېر ادب له احمد شاه بابا څخه پوښتنه وکړه چې: «تاسي په هر مهم کار کې د دولت د مشرانو سره مشوره کوله، خو تر تا وروسته د تیمورشاه د ټاکلو په باب کې مو زموږ رایه و انه غوښتله، او شهزاده سلیمان چې ستاسي مشر زوی و ولي ولیعهد ونه ټاکل سو؟ »

احمد شاه بابا په جواب کې ورته وویل چې: « د تیمور په ټاکلو کې زما خپل ذاتي غرض هیڅ نسته ـ زما اصلي مطلب او غرض د افغانستان د خلکو ښېګڼه ده ـ په دې کې شک نسته چې تیمور تر سلیمان کشر دی، خو هغه د خپل ورور سلیمان

---

(۱) تاریخ احمد شاهي ـ ۱۲۷۶/۲ مخ

۲- د دهخدا لغتنامه - ۳۵۶ مخ

۳- چهار مقاله -

د لیدن چاپ - حاشیه - ۱۳۴ مخ

۱۰۳۴- احمد ابی سلیمان بستی: د محمد خطابی زوی د بست له نومیالیو فقهانو څخه و.

په (۳۸۸هـ) کال کی مړ دی او دا کتابونه ئې لیکلی دی:

۱- کتاب الجهاد.

۲- کتاب معرفة السنن و الاثار.

۳- کتاب اعجاز القرآن.

۴- کتاب اصلاح غلط المحدثین.

۵- کتاب شرح اسماء الله الحسنی.

۶- کتاب غریب الحدیث - دا کتاب او د ابو عبیده او ابن قتیبه کتاب په دی فن کی د کتابو امهات ګڼلی سوی دی.

مأخذ: د دهخدا لغتنامه - ۹۴۳ مخ.

۱۰۳۵- احمد ابی العباس سیستانی: د محمد زوی او د علویهٔ سیستانی لمسی ملقب په «ربیح» او معروف په «جراب الدولة» مکنی په داو «ابی العباس» یوتو کی او بدله ویونکی عالم و. تنبورئې هم ښه ږغاوه، او د عباسی خلیفهٔ المقتدر په وختو کی اوسید، او څنګه چی د دیالمه کورنی د خپلو القابو په پای کی د «دولة» کلمه راوړه او په هغه یې ویاړل نوده هم د ټوکو په دول ځان ته «جراب الدولة» و وایه - جراب د بنی او یا د بیضتینو (خوټو د پوښ) په معنا دی.

یو کتاب ئې د «ترویح الارواح و مفتاح السرور والافراح» په نامه لیکلی دی.

یاقوت لیکی چی دا کتاب د ټوکو او هزل په فن کی ساری نه لري، او د دی کتاب بل نوم «النوادر والمضاحك» دی.

په نسبت د حکومت چلولو زیات قابلیت ا ولیا قت لری ـ(۱)»

پښتو مشرانو چی دد, خبره دیوه ولی‌الله دخبری په څیر گڼله نو د تیمور شاه په باب کی ئې دده دا فیصله هم ومنله او بیانو د همهغه کال(۱۱۸۶ ه ق)د لو مړی خور (ربیع‌الاول)د میاشتی په دوهمه (۲) د پنجشنبی په ورځ د ماښت پر وخت د ستر پښتون شهنشاه احمد شاه بابا سپیڅلی روح د لوی خدای در بار تـه والـو وت،او د افغانستان په تاریخ کی ئې ابدی نوم پریښود ـ اناالله واناالیه راجعون.

د احمد شاه بابا مړی تر غسل او تکفین وروسته په ډېر احترام، برم او جلا ل د توبې له غره څخه د کندهار احمد شاهی‌ښار ته راوړه سو،او په هغه گنبد کی ښخ کړه سو،چی ده په خپل ژوند د ځان د قبر او د خرقې شر یفی دساتلو دپاره دوه بوربزه جوړه کړې وه، چی لوړ بوړ ئې د خرقې شریفی دایښوولو دپاره اولاندی دوهم‌بوړ ئې چی د سرد خانې او زیر زمینې شکل لری دخپل قبر دپاره ټا کلی و، دده مړی په همهغه ټا کلی ځای کی ښخ کړه سو، خو خرقه د هغه وخت‌د علماو په نظریه په همهغه پخوانی ځای کی‌د احمدشاه‌بابا دگنبدی‌ختیځ اړخ ته‌پاته‌سوه.

داحمدشاه بابا خویونه اوصفتونه:

احمد شاه بابا یو سپیڅلی مسلمان، غیرتی پښتون او عادل پاچاو د کمزورونې لاس نیوه او د زورورو ئې لاس پیچه، په دینی او امر و او نواهیو او ملی او پښتنی دود اودستور کلک پابندو،مجرمینو ته‌تر سز اورکولو زیاتره په عفو کولو خوښ‌و د عسکر و د افر ادو او منصبد ارانو تر منځ د هر یوه د قدر په اندازه په مساوا ت

---

(۱)مرحو م قا ضی عطاالله خا ن د ا حمد شاه بابا دا ټا کنه د کندهار په ښار کی د توبې تر ټنگ دمخه لیکلې ده

(دپښتنو تاریخ- ۱/۱۲۹ مخ)

(۲) په سر اج التوار یخ کی د«رجب»د میاشتی شلمه ورځ لیکلې سوې‌ده(۹ ۰۲مخ)

قایل وُ، د علماوُ او روحانو مجلسونه ئې ډېر خوښ وُ، او فقیرانو او درویشانو ته ئې عقیده درلوده، تل ئې علماً او روحانیون په مجلس کې خپل ښی لاس او د دربار اراکین ئې خپل کیڼ لاس ته کښېنول، علماؤ او سادا توته ئې د کفاف په اندازه معاشونه ټاکلې وُ، او هم علماؤ د احمدشاه بابا په مجلس کې په ډېر جرئت بې له څه بیرې خبرې کولې، او حقې ښځپله ئې د احمدشاه بابا ځینو کاروته گوتې نیولې او تنقید ئې وړباندې کاوه.

احمد شاه بابا دحق پرخوا او دباطل مخالف وُ، په ټول عمر کې که په سلا زړت کې وه او که په سلطنت کې په سلامې اوسناهي مرتکب سوی نه وُ، او په پاك طینتی کې ضرب المثل وه، دخلگو په ښواوبدو کارو، او دهیو ادو په حالاتو دخبر بدو د پاره ئې څارندویان ټاکلي وو (۱)

له هغو بدو کارو او عیاشیو څخه بیخي پاك وُ، چې هغه وخت ئې د مشرق د زیاترو پاچهانو تر منځ رواج درلود، په دنیاوي معاملو کې نهایت راست کاره او په لوز او قول باندې ټینگ ولاړ وُ، د هیڅ نشې عادي نه و له هرقسم مناهت، حرص، لالچ او ظلم څخه لیرې و، په قومي معاملو کې هغه پرخپل قوم او ولس باندې بیخي مین و، او هیڅ مهم کار ئې دولس د مشرانو بې سلا او مشورې نه کاوه، او د هغه د ټول ژوند مقصد دا وه چې پښتانه آزادوی او هغو ژوندیو قومو په صف کې ودروي مرحوم قاضي عطاالله خان د (فیریر) مورخ په حواله لیکي چې: احمدشاه به په خپل سلوك کې د پښتون لفظ نه صرف د هغه خلقو د پاره استعمالاوه چې په اصل به ئې ځانو ته پښتانه ویل، بلکه هغه په ایماق، بلوڅ او نورو قبایلو ته چې د چاړ په پښتو وه - هم پښتانه ویل (۲)

احمدشاه بابا خپل ولیعهد ته وصیت کاوه، په هغه کې یو خبره داوه چې (د هیڅ انسان پزه او غوږونه دې نه پریکیږي»

---

(۱) سراج التواریخ - ۱/ ۳۰ مخ

(۲) دپښتو تاریخ - ۱/ ۲۹ ۱ مخ

احمدشاه بابا په دربار کې «پاچاته تپيدل» او« يا ځکه مچول » ښځې منع کړه یواړې «لاس پرتندې نيول» ئې پاچاته داحترام اوسلام دپاره کافي و بلل، او هم ئې دیادار ځکه د هغه دسر بې دوژ لوواك وا خيست، احمدشاه بابا دحکومت دانتظام دپاره باقاعده قوانين جوړ کړه ، اونه تش دا چې خلك ئې دهغو قوانينو په تعميل مجبور و ل بلکه هغه خپل ځان او ټول امراء وزراء، خپل زامن او عزيزان د هغو قوا نينو په تعميل مکلف گڼل ، او د هغو قوانينو په انفاذ کې ئې سستي لوی جرم گاڼه ، احمد شاه بابا عسکر و ته په خپل لاس تنخا ورکوله، او د ملك له ماليې څخه يخپله ده يوه پيسه هم دخپلو شخصي اخراجاتو دپاره نه اخيستله صرف دجنگو په غنيمت سالو دده او دده د کورو الاو گذاره وه(۱)

احمد شاه بابا دومره په زړه مهربان پاچا و،چې تر څو پورې به‌چې سلطنت ته خطره نه وه ، ترهغو پورې به‌ئې دغتو غتو جر مو مجرمان نه وژل. قاضی عطأ الله‌خان ليکلي چې: « قبايلو په منځکښې په اندروني جنگو کې به هغه ديو معمولي پښتون په شان جرگې او روغې کولې، د رعايا د راي عامه نه به هغه هر وخت ځان پو ره واقف ساته، او د پښتنو د هرې قبيلې سره به ئې په ډېرې آزادۍ او بې کبرۍ سلوك او خبرې کولې» احمد شاه بابا دجنگ په ميدان کې ډېر زړو راو دحوصلې خاوندو، او په ژياترو ميدانو کې به ئې د خپل اشکر انتظام په خپله کاوه.

د احمد شاه بابا شخصي ژوندون هم ډېر ساده او له هر ډول تصنع او تجمل څخه سپيڅلی و. ده هيڅکله داعتدال له حده تيری نه کاوه، په تيره بيا دده اخلاقي ښېگڼو دده د شخصيت په تکامل کې لويه اغيزه درلودله، ځکه به نو نادرشاه افشار ويل چې: «در ایران وتوران و هندوستان سردی چون احمد خان حمیده‌خصال و پسندیده افعال ندیده ام(۱)»

---

(۱) د پښتنو تاريخ - ۱/ ۱۳۰ مخ

(۱) سراج التواريخ- ۱/ ۹ مخ

د یورپ مؤرخینو هم په خپلو لیکنو کی احمد شاه بابا ډېر ستا یلی دی:

فرانسوی فیریر په خپل کتاب «هسټری آف دی افغانـز» کی چی اصل ئې په فرانسوی لیکلی او بیا په انګریزی ترجمه سوی دي د احمد شاه بابا په باب کی داسی لیکلی:«داحمد شاه دوخت حکومت د هغو ښېګڼېو او خوشالیو په واسطه مشهور دی چی ده د خپل هیواد په شاوخوا کی پیدا کړی وې، په شاهی شان او برم کی د هغه سادګی د خلکو په زړو کی په قطعی توګه د هغه مینه پیدا کړې وه، چاچی به غوښته هغه ته نژدې سی په ډېره آسانی ورنژدې کېدلای سو، او هغه به بې له دې چی سختـی خـبری وکـړی پـه ډېـرو منصفانـه اصـولـو د خـلکو عدالت چلاوه، حتی د هغه چاسره به صلح او صفا بی او سیده چی د سختو خبرو به وړو. ده خلګ راضی ساتل، ځکه نو هیچا د هغه د فیصلې پرخلاف شکایت نه و کړی، هغه د خپل سلطنت حدود ډېر پراخه کړه، او د هغه د مړینی په وخت کی د هغه د حکومت قطعی حد د جیحون تر سینده او د کافرستان (نورستان) ترغرو رسیدلی و، د نیلاو حد ئې ترخلیج عما ن پوری و، لمرخاته ته د تبت غرونه، ستلج او د سند سیند د هغه د حکومت و یش و، او لمرلویدو خو اته خرا سان، ایران او تر کرمان پوری د هغه د پاچهی تګ رسیدلی و.

هغه نهه تنه سرداران چی د هغه سره د نادر په فوج کی یو ځای ملګری وو، د هغو یوه جرګه ئې جوړه کړه او په هره یوه معا مله کی به ئې د هغو څخه مشو ره اخیستله ـ د هغو بې منظوری ئې هیڅ یولوی کارته لاس نه اچاوه، او کوم اقرار او قول چی به ئې د هغو سره وکی، هغه به ئې بیا هیڅکله نه ساتاوه ـ لنډه داچی د هغه د حکومت طرز شخصی حکومت نه و، بلکه د متحده ایالاتی یو جمهوری نظام و، چی دی ئې مشر و (۱) »

---

(۱) ددې لیکنی انګریزی متن «د پښتنو تاریخ» دلو مړی ټوک په ۱۳۱ مخ کی راغلی دی.

همداراز یو انګریز مؤرخ کرنیل «میلسن رای» د احمد شاه بابا د قومي مفکورې په باره کې لیکي چې: «د احمد شاه تر ټولو زیات کوشش دا و، چې خپل هر کار ته ملي او قومي رنګ ورکړي، ده د دې دپاره خان پاچا باله چې د پښتنو پاچهي ټینګه کړي او د پښتنو ملیت او قومیت جوړ کړي، او په ټول هیواد کې پښتني خیالات رواج کړي. احمد شاه تل له پښتنو قبیلو څخه هم د قومیت په نامه ملګرتیا غوښتله او هم په دې سبب هغه تل له هغوی څخه په مرسته اخیستلو کې بریالی و...... د احمد شاه لوی قابلیت دا و، چې هغه د پښتنو قبائل پر یو ځای منظم کړي وو، او له هغو څخه یې یو قوم او ولس جوړ کړی و...

د هری یوې قبیلې د مشرانو یوه جرګه یې جوړه کړې وه، چې د هغو مره به ده ملا او مشوره کوله، او څنګه چې ده د هغو په ملا او مشوره عمل کاوه نو هغو هم د ده هر تجویز تائیداوه (۱) »

کرنل میلسن زیاتوي چې: احمدشاه فیاض، خوش خلقه او مستقل مزاج و، او په دې سبب د هغه د خپلو رعایا و سره مینه وه.

په هره سیمه کې چې بدنظمي وه ده هلته انتظام او امن ټینګ کې او پخپل ملکی انتظام یې د خپلې روښې د کتیبې د لاندې الفاظو صداقت ثابت کې:

«احمدشاه دراني یو لوی پاچا و، د پاچهي د چارو په قوانینو کې کسری ته ورته و، د ده په وخت کې د ده له برم او دبدبې څخه زمری هوسۍ په خپلو شیدو روزله — له هری خوا څخه د ده د بدخواهانو غوږونه د خنجر په ژبه مردم په زرو سر زنښو له رسیدل »

د هغې کتیبې د ری متن چې د احمدبابا د قبر په ګنبده کې په جلي خط لیکلی شوی دی د اسې دی:

---

(۱) د دې لیکنې انګریزي متن «د پښتنو تاریخ د لومړي ټوک په ۱۳۲، ۱۳۳ مخو کې راغلی دی.

شاه والاجاه احمد شاه درانی که بود در قوانین امور سلطنت کسری منش از نهیب قهرمان سطوتش در عهد او شیر آهو رابشیر خویش دادی پرورش میرسید از هر طرف در گوش بدخواهان او رز زبان خنجرش هر دم عزاران سرزنش چون رو ان شد جانب دارالبقا تاریخ بود سال هجري یکهزارو یکصدو عشتاد وشش مرحوم قاضی عطاالله خان ددې تولو سوَرخینو در ایونله یز داسې لیکلي : «احمد شاه په اصلی معنو کی پښتون و، او د پښتنو د قومیت بانی و، دهغه په زمانه کی غیرتا و عزیز ولی ته «پښتو» ویلی شوه ــ نیك چلنی او مهمان نوازي ، بهادری ته «پښتو» ویلی شوه ، او هر بونیك او ښه صفت ته د «پښتنو» تعریف او صفت ویلی سو ـ دهغه خپله ژبه او د ټولو سردارانو د قوم ژبه «پښتو» وه، او د هغوی ټول خویونه او عادتونه د «پښتنو» وو، د عزیز ولی تکی هم د هغه د زماني نه شروع شوی دی ، او هم د دی «عزیزولی» په نوم باندی هغه ټول قام د خان نه چارچاپیره راټول کړی وو ــ خو چی څه وخت «تیمور» د پښتنو عزیز ولی، د پښتو ژبه، د پښتنو خویونه ،عادتونه او خصلتونه پریښوول ، او خپل ځان یې د پښتنو د قبیلو نه جدا کړو، او د خپل سلطنت د قیام دارومدار یې د پښتنو په عزیز ولی نه بلکه د غیر خلقو امدادو گڼلو ـ نو د هغه ، وخت نه د پښتنو حکومت ورځ په ورځ کمزوری کیدل شروع شو» .

د احمد شاه بابا ادبی او علمی شخصیت :

احمدشاه بابا سربیره پر هغه چی د منځنی ایشیا یو نو میالی شهنشاه او بریالی فاتح و ، د توری سره یې قام هم درلود ، او پر علم هم مین و، د علماو مجلس یې تر هر مجلس خوښ و، او علماو هم د ی د خپل سرسیوری گاڼه، همدا سبب و، چی د هندستر علمي او روحانی شخصیت شاه ولی الله دهلوی ده ته بلنه ور کوله چی هندوستان ته ورسی او د هندوستان مسلمانان له جور او ستمه وژغوری او ورته لیکل یی: درین زمان پادشاهی که صاحب اقتدارو شوکت باشد و قادر بر شکست لشکر کفار و دوراند یش ، جنگ آزمائی غیر از

(د پښتو تاریخ -۱/ ۱۳۷ مخ)

ملا زمان آنحضرت موجود نیست - لا جرم بر آن حضرت فرض عین است قصد هندوستان کردن . (۱)

همداشان میان فقیرالله په خپلو مکتوبا تو کی غو مکتوبه د احمدشاه بابا په نامه په دری او عربی لری چی احمدشاه بابا په ډیر احترام یادوی او د پښتو نستان د سترستانه میان عمر پیروان د احمد شاه بابا په لښکر کی و و او هم د احمد شاه بابا په دربار کی ډیر علما پرده وا غو نه یل او بې له بیری بی احمد شاه بابا ته دحق په لاره کی سپینی سپینی خبری کولې چی بو له هغو څخه د کندهار مشهور عالم ملاشاهو اخوندو او دخپل لښکر لوی قاضی یی د هغه وخت ستر عالم ملا ادریس تا کلی او د هغه ورور قاضی فیض الله یی د خپل شهزاده تیمور معلم مقرر کړی و همدارنگه محمود الحسینی د احمدشاه بابا د وخت د پیښو منشي لیکی چی : «شبها موافق معمول سلاطین اسلام پرور وخواقین داد گستر جهته تدقیق مسایل دین مبین و ترویج ملت حضرت خیرالمرسلین صلوات الله علیه وعلی آله واصحابه اجمعین از اعاظم علمای زمان وبرخی ازاجله فقهای عصرو آوان بار یاب محفل حضور لامع النورو پرتواند وزفیوض انجمن معارف ظهور می شدند ومجموع آن اوقات بابرکات و آن ساعات سعادت سمات به تحقیق غوامض علوم شریعت غراوتنقیح دقایق ملت بیضا که احکام معدلت با کافه رعایا واجرای اوامر نصفت باعامه برایا بدون آن متصور نیست مصروف میگردید (۲)

دشاعرانو او ادب دخاوندانو سره یی هم مجلسونه کول او دشعر او شاعری څخه یی خوند اخیست په تیره یی بیاد پښتو ژبی دادب سره زیاته مینه درلودله او د پښتو ژبی په تاریخ کی داحمد شاه بابا دربار لو مړی دربار وو ، چی د پښتو ژبی لومړی تدریسی کتاب لیکل سوی دی .

---

(۱) شاه ولی الله دهلوی کی سیاسی مکتوبات — ۱۲ مخ

(۲) تاریخ احمد شاهی — ۱ ر ۳۳۷ مخ

احمدشاه بابا خپل ځان هم دپښتنوالۍ په روح روزلی ، نو ځکه یې د پښتو خوږې ژبې شاعر پیر محمد کاکړ دوی ته معلم ټاکلی وو ، او پیر محمد کاکړ د شاه په امر دشهزاده سلیمان دپاره د «معرفة الافغاني » په نامه د پښتو تدریسي کتاب ولیکه او دهغه له مخې یې شهزاده ته دپښتو ژبې قواعد ورښوول ، او دا کتاب د پښتو ژبې له لومړنیو تدریسي کتابو څخه ګڼل کیږي .

احمد شاه بابا پخپله هم شعرونه ویل چې دپښتو ژبې د اشعارو بشپړ دیوان یې په ۱۳۱۹ هـ ش کال دپښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی .

پوهاند حبیبي داحمد شاه بابا ددیوان په مقدمه کې لیکي چې : «داحمد شاه بابا په شعر کې دده لوړ فکر ، هسک همت ، دپښتنوالۍ جذبات ، دشاهنشاهي جګ افکار ، دبخښې او ښندنې هسک عواطف ، د توریالیتوب برجسته احساسات ، د جهانګیرۍ د شجاعت عزم ، دایمان او عقیدې ټینګار ، دعشق سوزان دردونه او د مینې د دنیا عجیب او غریب ګذارشات ښکاره دی - دتورې پر میدان یوبریالی او ننګیالی سر باز دی ، دپښتنوالۍ پرځګر یو بشپړ پښتون دی ، ددیانت او تصوف او ایمان په خوا کې لوی متدین او متشرع روحاني دی ، دسیاست او مشرتوب له پلوه دخپل عصر لوی سیاسي مشر او فاتح دی - د غه ټولې خوا وې د ده په وینا کې ښتیه ، او په اجتماعي د نیا کې تکړه مورالیست Moraliste دی ، دده وینا اخلاقي مزایا لري ، ویل یې ساده او دلکش او مؤثر دی ، شعري صنائع او بدیعي فنون هم دده پر وینا اثر لري ، دتصوف له دنیا څخه دی ډېر پېغیږي ځکه نو دده د کلام لویه برخه هم دتصوف له اصطلاحاتو ډکه ده . توریالیتوب ، شجاعت سربازي ، ښه اخلاق ، سخاوت ، تواضع اونور ښه خویونه ستایي او خپل ملت ورته تشویقوي ، حماسي احساسات یې هم خورا لوړ او تند دي ، کله دیوه بریالي حربي قوماندان په ډول د توریالیتوب په ستاینه او تشویق کې خوږه مضامین وایي ، کله دوطن دحب تبلیغ کوي او پښتانه ملي وحدت ته را بولي او کله دعلم وخواته په تشویقونه فرمایي .

د احمد شاه بابا وینا له تعقید او ابهامه تشدده، خپل لوړ افکار او د سوي زړه ږغ په ساده او خوږو الفاظو څرګندوي، ګران تشبیهونه نه لري، له دې بنا څخه یې د پښتونوالي بوی راځي، محبوبه هم د پښتون په دوستانې او د تصور او تخیل په دنیا کې هم د پښتونوالي تر حدود نه وزي (۱)

اوس به د احمد شاه له دیوان څخه څو شعرونه د نمونې په توګه راواخلو:

د وطن مینه

ستا د عشق له ویرونه سوه ځګرونه
ستا په لاره کې بایلي زلمي سرونه

تا ته راشمه زړګی زما فارغ شي
بې له تا مې اندېښنې د زړه مارونه

که هر څو مې د دنیا ملکونه ډېر شي
زما به هېر نه شي دا ستا ښکلي باغونه

د ډهلي تخت هېرومه چې راياد کړم
زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه

د رقیب د زړه ملک ستا به تار په تار کړم
چې په تورو پښتانه کا ګذارونه

د (فرید) او د (حمید) دوره به بیا شي (۲)
چې زه وکاندم پر هر لوري تاختونه

که تمامه دنیا یو خوا ته بل خوا یې
زما خو خوښ دي ستا خالي تش ډګرونه

(احمد شاه) به د غه ستا قدر هېر نه کا   که ونیسي د تمام جهان ملکونه

---

(۱) د لوی احمد شاه بابا د دیوان مقدمه — له ۹ مخ څخه تر ۱۱ مخ پورې.

(۲) فرید مشهور په شیرشاه سوري او شیخ حمید لودي د پښتنو نومیالي پاچهان وو.

د زړه فریاد سی له جدایی
او رسی ورك نه سی داشنایی

چی پر وطن وی زړه څه قرار وی
یم بې طاقته په پر د یسی

ملی وحدت

قافله دعشق راغلی له کوم خواده
پر زړګی باندی میشته کاڅه غوغا ده

ټوله یودی که غلجی که اودلی دی
ښه هغه چی یې د زړه ښیښه صفا ده

چی عمل یی د نیکی وی سړه هغه
که اغوستی یی ګدله که خمتا ده

پښتانه دی ټوله لاس سره یو کاندی
چی مومن غزاهر لوری شو خواده

بی زحمته راحت چیری مونده نه سی
د(احمد) څکه په هر لوری غزا ده

* * *

په توره او بری وياړ

نن بیا هسی د ګلزار په ننداره څم
چی له یاره سره خوښن همکناره څم

چی برکری می خدای لاس په رقیبانو
تو به زه د هند پر لور په تماشه څم

مأخذ: ددهخدا لغتنامه - ۱۳۲۵ مخ

۱۳۱۰۳٦ احمد ابی عبید پاشانی هروی: دمحمدزوی اودعبدالرحمن نمسی مکنی په «ابی عبید» او معروف په «مؤدب هروی» د «کتاب الغریبین» یعنی «غریب القرآن والحدیث» خاوند د خپل وخت نوسیالی عالم او ستر ادیب و.

یاقوت لیکی چی: «تر کمه «لهایه چی موږ خبریو، ترده پخوا چا غریب القرآن او غریب الحدیث راغونډ کړی نه و» ده له مشهورو لویو پوهانو لکه ابو سلیمان خطابی او ابو منصور محمد ابن احمد ازهری او ابن السراج څخه زده کړه کړی وه او دی پخپله د احمد ازهری په شاگردی ویاری او «فوایدجمه» ئی له هغهٔ څخه لوستلی او دابن درید سره ئې هم لیدلي و.

ده په کتاب الغریبین کی د غریب القرآن اونبوی حدیثود غریب تفسیر یو ځای کړی دی چی په اسلامی دنیا کی ئي ډېر شهرت موندلی او له ده څخه یې ابوعمر او عبدالواحد ابن احمد المحلیی او ابوبکر محمد ابن ابراهیم اردستانی روایت کړی دی.

د «الغریبین» پر کتاب سربېره ده بل کتاب په عربی لغة کی د «کتاب النافعه» په نامه تصنیف کسری، او د «طبقات النحاه» مؤلف د «تفصیل ولاة هرات» په نامه هم یو کتاب ده ته منسوب کړی دی.

ځینو ده ده کنیت ابو عبدالله او ځینو ابو القاسم لیکلی دی.

دی په (۴۰۱ ه) کال کی مړ دی.

مأخذونه: ۱ - معجم الادبا ۲/۸٦ مخ

۲ - ددهخدا لغتنامه - ۱۳۰۳، ۱۲۷۷، ۱۳۳٦ مخونه

۳- روضات الجنات - ٦۷ مخ

۴ - سلطنت غزنویان - ۳۵ - مخ

چی د هند د ملکو فتحه سی روزی سوه
نور ایران لره په توغ په نغاره ځم

پردا کړي داد دی خدا نه سی پښیمانه
ترنګین می ایران لاندی شاها نه ځم

معشوقی دایران ده یری ، ترکی‌شوخی
خدای‌چی راکه ترکی هندته‌دوباره ځم

●●●●●

زه تسخیر د ولایت د خدای په داد کرم
په مدد د حبیب هره خواته زه ځم
چی زما د ولایت فتحه روزی سوه
ترو به ځه د یار له نازه کناره ځم

●●●●●

که می برق د سپینی توری بیابربښنا کړه
ستا په مهر په هر لوري عالمګیریم

●●●●●

په احمد شخه لاس وا خله
دی د تـــــــــور رودی د رو ړ

●●●●●

په بربښنا د توری ژوند کوه احمده
د بري جولان په رلورد هرد پارکه

●●●●●

پښتنی ننګ

پر ننګ سړ خوشه مړ نه دی
د بې ننګه ژوند جفا ده
هر سړه چی سی بې ننګه
بلا ربې مې وی سور بې غواده

لاس به وانخلم له ننگه
که په ننگ پاته دنیا ده
چې سر پر پکړی احمد شاه ده!
د هغو مینه رشتیا دم

●●●●●

پښتنی پت او وفا

مرگی ښه دی په دنیا کی
نه چې څوک مې بې وفا
سر په تیغ پر پکړی ښه دی
تر بې پته په د نیا

●●●●●

ځان پېژندنه

زه که نن بادشاه یم
مغرور که له پخپل جاه یم
دغه ستا نظر پر ما دی
که نه خاوری ستا د راه یم

●●●●●

یاره زه خو هغه ستا د درگدای یم
څه سو نن که «احمد شاه درانی» یم

●●●●●

بل ایی هرگز پخپله لویی نه کړم
همیش ستا د قد سونو دا منگیر یم

●●●●●

یاری او همدردی

چې د یار په درد رضا که له اخلاصه
په دنیا کې دغه هسې کار د مرد دی

یو د بل په درداو غم چیری خبرپری
مگر هغه چی په درد یی بیا همدرد دی

یارهغه دی چی په غم دیارشریک وی
چی په غم یی غمجن نه، هغه نامرد دی

یار چی شه وایی له یاره هغه یارد ی
گله یاروی چی له یاره یی نبرد د ی

احمد شا هه بی پتی ننگ کړه یا را نو
چی په پت دیاری سرښندی اوس فرد دی

●●●●

د ستگیر ی

چی خدای لوی کړی ا حمد شا هه
تل د خوا ر و د ستگیری کړی

●●●●●

علم

که خلو ر و خوابه در در ته ځلیږی
که د علم رون څراغ ته درته بل کړی

روح له علمه رونا اخلی هلته زد ه کړه
احمدشاهه چی بدخوی په ښه بدل کړ ی

●●●●●

علم گوره څه څرگند ه لو ی دریا ب دی
بیا هم د ی را بهیدلی په څو با ب دی

داد غلم در یاب هر چیر ی محیط دی
علم زده کړه چی دعلم لوړ جناب دی

تصوف: یقین او گمان

په یقین به خپل یا رسومې نفس نو مید کړې لکه شندہ
معرفت څراغ بـل کـړی یقین و باسه لـه خندہ
احمد شـاه هه که یار غواړي لیری کړه د گمـان پلنده

* * *

داحمدشاه بابا دری شعر څو بیته :

چو بر من تیر مژگان میزند آن شوخ گلگو نم
چو لاله داغ بر دل تا سرا پا غرق در خونم
زسوز دل همی بارم شب و روز اشک حسرت را
زخون دل نشسته در کنار رود جیحونم
زسوز آتش عشقت که چون افروخت بر دلها
زبس سوزد دلم هرگز نمیدانم که من چو نم
نمی پرسی اگر از من ببین حال دل و جانم
که از غیرت فتاده بر زمین چون بید مجنونم

داحمدشاه بابا آثار: احمد شاه بابا په پښتو، عربی او دری ژبه اشعار ویلی او آثار لیکلی دی چی دا دری اثره یی دزمانی له حوادثو او آفاتو څخه خوندی پاته سوی دی :

۱- د احمدشاه بابا د پښتو ژبی د اشعارو بشپړ دیوان :

چی د لومړی ځل دپاره په ۱۳۱۹ هش کال په کابل کی دپښتو ټولنی له خوا د یوې اوږدې مقدمې سره چاپ سو، اوبیاد ۱۹۶۳ میلادی کال دنومبر په میاشت په پیښاورکی د پښتو اکیډیمی له خوا چی د دوو نورو خطی نسخو سره مقابله سوی و، چاپ او خپور سوی دی.

۲- علم گنج: دا داحمدشاه بابا دېل کتاب نوم دی چی اته بابه لری او په تصوف کی یی لیکلی دی.

د دې کتاب د شرح یوه قلمي نسخه د کابل د اطلاعاتو او کلتور د وزارت په خطي کتابتون کې سته چې سر او پای نه لري، او د کتاب پاته برخه پنځه پنځوس پاڼې دي چې هر مخ یې ۱۱ کرښې لري او کچه یې ۹ ۱×۱۳ کې ده د دې کتاب په ۲۱ مخ کې لومړی باب داسې پیل کیږي : ا

«باب اول قال المصنف خلدالله ملکه : آسمان شجر یعني الف سین میم نون ؟؟ قال الشارح عفی الله عنه : بدانکه قبل از شروع در علم واجب است تقدیم چندچیزي که موجب از دیاد بصیرت ستاره گر دد در آن علم که داب محصلین صناعات علوم حقیقت همین است ...»

پوهاند حبیبي لیکي چې : احمدشاه بابا په عربي ژبه ځینې کلمات لري چې محمد غوث ابن ترکمان ابن تاج خان په هندوستان کې په پارسي ژبه شرح پرلیکلې ده چې «شرح الشرح» نومیږي او دری سوه مخه لري» نو څرگنده نه ده چې د «علم گنج» داشرح همغه «شرح الشرح» ده او که دا شرح ده او پر دې شرح باندې بله شرح لیکلې سوې ده .

۳- د احمد شاه بابا عربي اشعار:

د «علم گنج» کتاب که څه هم دسر پاڼې نه لري خو په ۲۱ مخ کې یې داسې لیکلي سوي دي:

«هذا آخر الکلام فی شرح ابیات الملك الدرانی والسلطان الحقانی احمد شاه الغازی خلد الله تعالی ملکه وسلطانه و جعله مالك الا قالیم السبعة رحم الله عبدا قال امینا، وا ما شرح علم گنج پس مر تب گشت چون هشت بهشت ، بهشت باب . . .»

له پورته لیکنې څخه څرگندیږي چې د «علم گنج» د شرح تر شروع د مخه د احمدشاه بابا د عربي اشعارو شرح وه، او تر ۲۱ مخ وروسته د «علم گنج» شرح په اتو بابو کې پیل سوی ده .

اودا چې احمدشاه بابا په عربي ښه پوهیدی د مرحوم شاه فقیرالله جلال آبادي

ئم شکار پوری له هغو مکتوبو څخه هم ثابتیږي چې احمدشاه بابا ته یې په عربي ژبه لیکلی دی(۱)

مأخذونه: ۱- تاریخ احمد شاهي - د محمود الحسیني تألیف لومړی او دوهم ټوک د ماسکو فوتوکاپ چاپ - چې د لته له هغه کتابه خوراه یر استفاده سوې ده.

۲- سراج التواریخ: لومړی ټوک له ۹ مخ څخه تر ۳۱ مخ پوری.

۳- د پښتنو تاریخ: د قاضي عطاالله خان تألیف - لومړی ټوک له ۹۸ مخ څخه تر ۱۳۷ مخ پوری.

۴- افغانستان در مسیر تاریخ: له ۳۵۴ مخ څخه تر ۱۱۴ مخ پوری.

۵- پښتانه د تاریخ په رڼا کښې - له ۸۵۳ مخ څخه تر ۸۸۴ مخ پوری.

۶- واقعات درانی - د منشي عبدالکریم - په اردو - له ۱۱ مخ څخه تر ۶۰ مخ پوری.

۷- لوی احمدشاه بابا او د ده وینا وی - د مقدسي له پیل څخه د دیوان تر پیل پوری.

۸- سیرالمتأخرین - دریم ټوک له ۸۶۱ مخ څخه تر ۹۳۷ مخ پوری.

۹- مطالعهٔ تاریخ افغانستان از نگاه عسکری - دوهم ټوک - له ۲۴۴ مخ څخه تر ۴۵۶ مخ پوری.

۱۰- احمد شاه بابای افغان - د غلام غلي غبار لیکنه - د کابل چاپ.

۱۱- تاریخ سلطانی - ۱۶۷، ۱۲۱، ۱۲۲، ۱۲۳، ۱۴۷، او نور مخونه.

۱۲- خزانهٔ عامره - ۹۷ مخ.

۱۰۹۶- احمد شرف منیر بلخي: د شیخ بلخي زوی ملقب په «شرف الدین» او معروف په «شرف منیری» د خپل وخت له نومیالیو عارفانو او فاضلانو څخه و. په دری ژبه ئې شعر هم وایه، او یو کتاب ئې په لغت کې د «شرفنامه» په نامه تألیف کړی چې په «شرفنامهٔ منیری» مشهور دی، خود کتاب بشپړ نوم «شرفنامهٔ احمد منیری» دی، او دا د ده د اشعارو نمونه ده:

---

(۱) د میان نقیرالله مکتوبات.

گر سلسلهٔ زلفت در دور جنا ن پیچد
در پنج نمازخوددوزخ بدعاخوانم

●●●●●

روی سیه و موی سفید آو ردم
چشمی گریا ن ، قد چو بید آو ردم
گفتی چوخودت که ناامیدی کفر است
فرمان تو بردم و امید آو ردم

په کشف الظنون کی ئې «شرفنامه» دابوالبرکات عبدالمجید سلتانی چې په (۱۰۵۴ ه ق) کی سر ته رسولی دی بللی ده، خو ښایی چې دوه کتابه په یوه نامه وی .

مأخذ: ریحانة الادب - ۳/۲۰۱ مخ

۱۰۹۷-احمد صالقانی بلخی: د خلیل زوی ، او د منصور نمسی معروف په ابن خالو یه صالقانی دحدیثو عالم و - عراق او شام ته تللی ، اود سعید زوی، قتیبه، اوهم دعلی بلخی زوی محمد له د ه څخه روایت کړی دی .

(اصطخری و یلی دی چې صالقان د بست یو ښار دی)

مأخذ: معجم البلدا ن - ۵/ ۳۳۳ مخ

۱۰۹۸-احمد طشت دار: د سلطان مسعود غزنوی له نژ دې او خاصو معتمدانو څخه و، او هغه وخت چې سلطان مسعود خپل ورو ر امیر محمد کوهتیز په کلا کی بندی ساتلی و، نوپه ظاهره ئې د هغه دپاره ډېر یی او دلاسا دپاره خو په حقیقت کی ئې دهغه د دارایی اوخزانو دضبطولوپه غرض همدا معتمدله هرا ته کو هتیز ته لیږلی و، چې ابوالفضل ددغه را رسیدل داسی لیکلی دی :

«... ونماز پیشین آن معتمد در رسید، و او رااحمدطشت دار گفتندی ازنزدیکان وخاصگان سلطان مسعود ، ودر وقت حاجب بکتکین اورا بقلعه فرستاد ، تانمازشام بماندو باز بزیر آمد ، و پس از آن درست شد که پیغامهای نیکوبوداز سلطان مسعود

که «مارا مقرر گشت آنچه رفته است، تدبیر هر کاری اینک بواجبی فرموده می آید، اسیر برادر را دل قوی باید داشت وهیچ بد گمانی بخویشتن راه نباید داد که این زمستان ما ببلخ خواهیم بود وبهار گاه چون بغزنین آئیم تدبیر آوردن برادر ساخته آید. باید که نخست آنچه از خزانه بر داشته اند بفرمان وی، از زر نقد و جامه و جواهر، وهر جائی بنهاده ویا خویشتن دارد در سرای حرم، بجمله بحاجب بکتکین سپرده شود تا بخزانه باز رسد، ونسخت آنچه بحاجب دهند بدین معتمد سپارد تا بدان واقف شده آید..»

ماخذ: تاریخ بیهقی - ۷۲ مخ

۱۰۹۹- احمد عبدالجلیل ساگزی: د څلرمی هجری پیړۍ له خورا ستر و ریاضي پوهانو او منجمانو څخه و، په حساب او هندسه او نجوم او هیئت ډیر تالیفونه اری، چې یو له هغو څخه د «جامع شاهی» په نامه کتاب دی، چې د نجوم په علم کې د منځلسو رسالو مجموعه ده او یوه ډیره نفیسه نسخه یې د لندن په برتش موزیم کې سته.

دی په شیراز کې هم اوسېدلی او دخپل ځینې کتابونه یې د امیر عضدالدوله په نامه لیکلي دي.

۱۱۰۰- احمد عبدالصمد: خواجه احمد عبدالصمد دسلطان مسعود غزنوي نوسیالی وزیر و، چې د خواجه احمد بن حسن میوندی تر وزیر تر مړینې و روسته دسلطان مسعود له خوا د هغه پر ځای وزیر وټاکل سو.

لومړی په خوارزم کې د سلطان محمود غزنوي د نامتو سپه سالار آلتونتاش خوارزمشاه «کدخدای» و، چې ابوالفضل بیهقي ئې داسې یادوي: «وخواجه احمدعبدالصمد کدخدای خوارزمشاه در کاردانی و کفایت یار نداشت» (د تاریخ بیهقی ۳۱۷ مخ) خو چې آلتونتاش خوارزمشاه دعلی تگین د لښکر سره په یوه جگړه کې ټپي او

ماخذ: تاریخ دیالمه وغزنویان د ۸۸ مخ حاشیه.

بیاله هغه تپه سرسو خواجه احمد عبدالصمدو رسره وه،او د هغه ترسړ پنی وروسته ئې هم په ډېرښه تدبیر د علی تگین سره روغه وکړه او د خوارز مشاه لښکر ئې له تباهی خخه وژغوره (دا پیښه د تاریخ بیهقی په ۳۴۵ مخ کی تر ۳۵۵ مخ پوری په تفصیل لیکلې سوې ده)

بیا چی د(۴۲۳ ه)کال د جمادی الاولی په اتمه دپنجشنبی په ورځ دسلطان مسعود غزنوی له خوا د آلتونتاش خوارز مشاه زوی «هرون» ملقب په«خلیفه الدار خوارزمشاه»د خپل پلار پرځای دخوارزم والی وټاکل سو بیا هم خواجه احمد عبدالصمد د هغه د«کدخدای»په حیث پاته سو،خو چی په(۴۲۴ ه)کال سترو زیر خواجه احمد بن حسن میوندی په هرات کی وفات سو، او سلطان مسعود دابونصر مشکان سره تر مشورې وروسته خواجه احمد عبدالصمد د هغه پرځای د وزارت ور وباله،دا ځکه چی سلطان محمود غزنوی لا په خپل ژوند دی د خپل وزارت دپاره وړ بللی و،خو څنګه چی د خوارزم دچارو اداره ډېره مهمه وه نو دی ئې د التونتاش سره په«کدخدایی»پرېښود،له دې امله نو ابوالفضل بیهقی د سلطان مسعو د له خولې لیکلی دی :

دلم بر احمدعبدالصمد قرار میگیرد که لشکری بدان بزرگی و خوارزمشاه مرده را بآموی داند آورد و دبیری وشمار ومعاملات نیکو داند ومردی هوشیار است«(تاریخ بیهقی ۳٦۷ مخ)

هغه و،چی قلم او مشوانی ئې و غوښتله اوسلطان مسعود پخپل خط خواجه احمد عبدالصمدته وا یکل چی: «زما دخواجه سره دمملکت دشغل په باب کی یومهم کاردی د اخیلتاش په تلوارد رغنی او همغه وخت دالیک چی زموږ «په خط دی ولولی‌با ید دنساله لاری رار می سئی، په خوارزم کی ونه دریږی» بیائی هغه لیک ابونصر مشکان ته ورکی اوورته وویل چی د«شیخی ومعتمدی» خطاب ورته ولیکه اوته هم څه پرزیات کړه چی که دده په غیاب کی په خوارزم کی څه خلل پېښیږی خپل زوی عبدالجبار

دی پرځپل ځای معتمد وټاکی او چی دلته دده سره راسی دخلعت سره به بیرته خوارزم ته واستول سی،

ا بو نصر مشکان هم ورته جلالیک په دی مضمون ولیکه.

«زندگانی خواجه سید در ازباد ودر عزدو لتها لهای بسیار بز یا د و بدا ند که د رضمیرز مانه تقدیرها بوده است وبر آن سر خدای عزو جل واقف است که تقدیر کرده است ـ د یگر خداوند سلطان بزرگ ولی النعم که باختیار این دوست بو نصر مشکا ن را جایگاه آن سیر داشته است ونامه سلطان من نبشتم بفرمان عالی زاده الله علوا بخط خو یش،و بتوقیع سو گدگشت ، وبخط عالی ملطفهٔ درج آن است واین نامه ازخو یشتن هم بمثال عالی نبشتم ،چند در از باید کرد،سخت زود آید که صد ر وز ارت مشتاق ا ست تا آن کس که سزاوار آن گشته است وآن خواجه سیداست بزو دی اینجا رسد وچشم کهتران بلقای وی روشن گردد ـ والله تعالی بمده ببقائه عزیزاً مدیداً ویبلغه غایته همه و یبلغنی فیه ما تمنیت له بمنه »

د الیکونه د یوه چابک خیلتاش په لاس خواجه احمد عبدالصمد ته و لیږل سوه، خواجه احمدعبدالصمد ته چی دالیکونه ورسید هغه خیلتاش ته یو قیمتی آس ، شل جوړي کالی اوشل زره درمه وبخښل اودلیکونو جو اب ئی داسی ولیکه :

«فرمان عالی رسید بخط خواجه بونصرمشکان، آراسته بتوقیع ،ودرج آن ملطفهٔ بخط عالی وبنده آنرابر سروچشم نهاد، وبونصر مشکان نیز ملطفه نبشته بود بفرمان عالی وسخنی درگوش بنده افگنده که ازآن سخت بشکوهید بد ان سبب که چیزی شنو د که نه بابت اوست وهرگز بخاطر نگذشته است وخویشتن را محل آن نداند ، خیلتا ش را با زگردانید واین شغل را که بنده میراند ببونصر برغشی مفوض خو اهد کرد که مردی کافی وپسندیده است،وهرون سخت خردمندوخویشتن داراست ـ انشاالله تعالی که در غیبت بنده همچنین بماند، وعبدالجبار را باخو یشتن میارد بنده برحکم فر مان عالی تاپخته با زگردد وسعادت خدمت درگا ه عالی یافته . بند ه بر اثر خیلتاش بسه

۱۰۳۷ - احمد اخوند: یو ولسمی هجری پېړی د پښتو له مسجع نثرلیکونکو څخه و. څو دیني رسالې یې لیکلې دي او دلیکلو سبک یې د اخوند درویزه دپیروانو سبک ته ورته دی.

څو بشپړی رسالې او څو نظمونه یې د عبدالغني کاسي دجونګ په دوهم کې چې په ۱۱۳۲ ه ق کې لیکلی سوی را غلي دي چې دلته یې دنوسو په راوړو اکتفا کوو:

۱- حضرت محمد او ابو جهل کیسه .

۲ - شفاعت نامه .

۳- دبي بي خدیجه کیسه .

۴ - د حضرت داؤد کیسه.

۵ - دبي نمازانو بیان .

۶ - دابراهیم خلیل الله کیسه .

۷ - د مرګ په باب منظومه.

۸ - د حضرت یوسف کیسه.

۹ - د حضرت رسول (ص) تولد نامه .

ماخذ: د«زیری» جریده پرله پسې ۱۱۳۲ ګڼه دوهم مخ دبیاغلي رفیع لیکنه.

۱۰۳۸-احمد اخون خیل: دپښتو ژبې له قصه وبونکو ناظمانو څخه و اود (۱۲۶۱ ه ش) کال په شاوخوا کې یې په پښا ورکې ژوند کاوه. په خټه اخون خیل پښتون و، او د میر حمزه داستان یې په پښتو نظم کړی دی چې قاضي میر احمد شاه رضواني په خپل کتاب «شکرستان افغانی» کې د دغه داستان یوه برخه راوړې ده چې دلته یې څو بیته راوړو:

راوی وایي حکیم یوه شه په دا باندې نور خپل زوی یې طلب کړ ځان ته

وروړا ندې وې یې اې زویه اسرار ه ورځه ته په هرشان چې کیږی ژر یې را وله

په فقه کې ئې څلور ټوکه د «مسائل فرعيه» تحقيق ليکلی دی .

مأخذونه

۱ - دلوی احمدشاه بابا د دیوان مقدمه - د پوهاند حبیبي په قلم د مقدمې ۱۳۳ مخ

۲ - تحائف الابرار - ۳۰۲ مخ .

۱۰۰۵ - ابوالوفا افغاني

مولوي محمود د مبارکشاه اخونزاده زوی مشهور په «ابوالوفا افغاني» د اوسنی پېړۍ له مشهورو پوهانو او ادیبانو څخه و - د ۱۳۱۰ هـ ق کال د ذیحجې په میاشت د کندهار د ارغستان په سیمه کې زیږېدلی او د پنځه اتیا کالو په عمر د ۱۳۵۰ هـ ش کال د زمري په اوله د چارشنبې په ورځ د سهار په اوو بجو د هند د دکن په حیدرآباد کې وفات شوی دی .

مولوي صاحب خپله لومړنی زده کړه د خپل هیواد له پوهانو څخه کړې ده او بیا د نورو زده کړو د پاره د پکتیا د ولایت د ګومل له لارې د خروټو بو ونده و، سره د پښتونستان د داسان سیمې ته ولاړ، څه تحصیلات ئې هورې د ډېره جاتو او کوهاټ او پېښاور له پوهانو څخه وکړه بیا د عالي تحصیلاتو د پاره د هند د دکن حیدرآباد ته ولاړ، د هغه ځای او د هند د نورو سیمو له پوهانو او استادانو لکه مولینا محمود الحسن شیخ الهند، مولینا انور شاه کشمیري او نورو ئې زده کړې پای ته ورسولې او تر هغه وروسته د دکن حیدر آباد د نظامیه مدرسې د استادۍ چوکۍ ته ورسید .

دا افغان نومیالی پوهاند چې هلته ئې په «ابوالوفا افغاني» شهرت موندلی په ختیځو عربي علومو کې لکه فقه، اصول، تفاسیر، احادیث، صرف، نحو، معقول، پخواني فلسفه، ریاضي، ادبیات، پخواني هیئت او نورو رواجي علومو کې د ډېر مهارت څښتن و، پر پښتو سربېره ئې عربي، دري، او هندي ژبې هم ښه زده وې، د مصر، هند، استانبول او شام د زیاتو پوهانو سره ئې علمي روابط درلودل، او د هغو هیوادو مطبوعات د ده د نامه سره ښه اشنا وو، په افغانستان، پښتونستان او هند کې د ډېرو علماوو، پوهانو او دانشمندانو استادو چې بوله هغو څخه پوهاند

روز ازاینجا برود تا بزو دی بدر گاه عالی برسد »

دابونصرمشکان دلیك جواب ئې هم په ډیر تواضع لیکلی و، او هغه ئې د« الشیخ الجلیل السید ابی نصربن مشکان » په خطاب او ځان ئې «احمد عبدالصمد صغیره ووضیعه» یاد کړی و. بونصرمشکان چې هغه ولوست نوئی وویل : «تمام مردی است این مهتر، وی را شناخته بودم اما ندانستم که تا این جایگاه است » .

او هغه وخت چې خبرراورسیدچې احمد عبدالصمد نیشاپورته را نژدی سو، سلطان مسعود امرو کی چې ټول در باریان دی مخ ته ورووزی، هغه و، چې دجمادی الاولی په اوله دچهارشنبی په ورځ په ډیرعزت در بارته راور سیدچې ابوالفضل بیهقی هغه تشریفات په تفصیل سره دامی لیکی :

« چون خبرآمد که خواجه نزدیك نیشاپور رسید امیرفرمود تا همگان باستقبال وی روند ، همه بسیج رفتن کردند ، تا خبر یافتند وی بدرگاه آمده بود با پسرروز چهارشنبه غره ماه جمادی الاولی ، مردم که میرسیدندوی راسلام می گفتند، وامیر بار داد وآگاه کردند که خواجه احمدرسیده است فرمود که پیش باید آمد، دو سه جای زمین بوسه داد و برگن صفه بایستاد، امیرسوی بلگاتگین اشارتی کرد ، بلگاتگین حاجبی را اشارت کردوشال دادتاوی را بصفه آورد وسخت دور از تخت بنشاند و هزار دینار ا زجهته خواجه احمد نثار بنهادند ، وی عقدی گوهر گفتند هزار دینار قیمت آن بوداز آستین بیرون گرفت حاجب بلگاتگین از وی بستد وحاجب بونصررا داد تا پیش امیر بنهاد .

امیر احمدرا گفت: کار خوارزم وهرون ولشکر چون ماندی ؟ گفت : بفر دولت عالی بر مراد ، وهیچ خلل نیست امیر گفت : رنج دیدی بباید آسود . خدمت کردو بازگشت...

چون سه روز بگذشت امیر فرمود تا اورا بطارم نزدیك صفه بنشاندند وامیر نیز مجلس خویش خالی کردو بونصرمشکان وابوالحسن عقیلی و عبدوس در میان پیغام بودند وآن خالی بداشت تانماز پیشین وبسیار سخن رفت در معنی و زارت، تن درنمیداد وگفت . «بنده غریب است میان این قوم و رسم این خدمت نمی شناسد وی را همین

شاگردي و پایکاري صوابتر - و آن قصه اگر رانده آید دراز گردد - آخر قرار گرفت و وزارت قبول کرد و پیش امیر آوردند و دل گرمی و نواخت از مجلس عالی و لفظ مبارك یافت و باز گشت بدانکه مواضعه نویسد برسم و در و شرایط شغل درخواهد (۱) و اسبش هم بکنیت خواستند و مردمان را چون مقرر شد وزارت او تقرب نمودند و خدمت کردند، و مواضعه نبشت و نزدیك استادم فرستاد و امیر بخط خود جواب نبشت و هرچه خواسته بود و التماس نموده این شرایط اجابت فرمود و خلعتی سخت فاخر راست کرده بودند و شنبه ششم جمادي الاولی خلعت پوشانیدند کمر هزارگانی بود در ان، و حاجب بلکاتگین بازوی وی گرفت و نزدیك تخت امیر گفت: «مبارك باد خلعت بر ما و بر خواجه و بر لشکر و بر رعیت»

خواجه بر پای خواست و خدمت کرد و عقیدی گوهر بقیمت پنجهزار دینار پیش امیر بنهاد - امیر یك انگشتري پیروزه.

نام امیر نبشته برانجا بدست خواجه داد گفت: «این انگشتری مملکت است بخواجه دادیم و وی خلیفهٔ ماست، بدلی قوی و نشاطی تمام کار پیش باید گرفت که پس از فرمان ما فرمان وی است در هر کاری که بصلاح دولت و مملکت باز گردد»

خواجه گفت: «بنده فرمان بردار است و آنچه جهد باید کرد و بندگی است بکند تا حق نعمت خداوند را شناخته باشد» و زمین بوسه داد و باز گشت، و غلامی از آن وی را خلعت دادند برسم حاجبی و با وی برفت و چون بخانه فرود آمد همهٔ اولیا و حشم و اعیان حضرت بتهنیت رفتند و بسیار نثار کردند ....» (تاریخ بیهقی - ۳۷۲، ۳۷۳، ۳۷۴ مخونه)

په دې تشریفاتو خواجه احمد عبدالصمد د وزارت پرمسند کېښوست او په

---

(۱) هغه وخت داسې دود و، هغه سړی چې به په وزارت ټاکل کېده نو دغه سړي اویا چا ترمنځ به یو تړون لاسلیك کېده وزیر به خپل شرایط لیکل او پا چا به هغه منل او لاسلیك کول به ئې - دې تړون ته ئې (مواضعه) ویل .

دپرښه توګه ئې دوزارت چارې سمبالې کړې او د ابوالفضل په قول «شغل وزارت سخت نیکو پیش ګرفت وترتیبي ونظامې نهاد که سخت کافي وشا یسته وآهسته و ادیب و فاضل و معاملت دان بود، و با چند ین خصال ستوده مردی تمام، و کارهای نیکو بسیار کرد که مقرر ګشت که این محتشم چه تمام مردی بود ....

و با این کفایت دلیر و شجاع و باز هره که در روزګار مبارك این پادشاه لشکر ها کشید و کار های با نام کرد...»

دده د کارو یادونه په تاریخ بیهقي کې مفصله راغلې ده.

د هفت اقلیم مؤلف لیکي چې: خواجه احمد په فصاحت او کیاست کې ساری نه درلود، او په زړورتوب اوغشي ویشتلو کې هم بې سارې و، شل کاله د سلطان مسعود او دوه کاله د سلطان مسعود د زوی سلطان مودو د وزیر و.

په پای کې د سلطان مودود د ځینو امیرانو په نغوته قید او مسموم کړه سو.

ماخذونه: ۱- تاریخ بیهقي-۸۶،۱۵۴،۳۱۷،۳۴۵ تر ۳۵۶ پورې او ۳۷۳،۳۷۵ او نور مخونه

۲- هفت اقلیم -۲۲۰ مخ

۱۱۰۱- احمدعلي خان لودی: خان بهادر احمد علي خان دمحمد علي خان زوی، د قادر خان لودی نمسی په ۱۸۴۸ م-۱۲۶۷ ه ق کال په بدایون کې زیږېدلی او هلته اوسېدلی دی.

په ۱۸۹۴ م-۱۳۹۲ ه ق کال کې چې د انګریزانو له خوا یوه جرګه د بلوچستان او ایران دویش دپاره تاکلې سوې وه احمدعلي خان لودی هم پکښې غړی و.

ماخذونه: ۱- لودی پښتانه- دوهم ټوك، خطي نسخه- د استاد رشاد یا داښت

۲- صحیفهٔ زرین- د بوپې بر خه ۱۲۷ مخ

۱۱۰۳- احمدعلی نوشتکین غزنوی: د سلطان مسعود غزنوی د وخت له نوميالیو سالارانو او اميرانو څخه و، ابوالفضل بیهقی پخپل تاریخ کی دده داسی ستاینه کوی :

«احمد مردی بود مبارز و سالاری‌ها کرده، و در سواری و چوگان و طاب طاب یگانهٔ روزگار بود .. »

په (۴۲۲ هـ) کال چی سلطان مسعود وغوښته له هراته بلخ ته ولاړ سی نو یو لښکر ئې د« یارق تغمش» نومی جامه دار حاجب په مشري مکران ته ولیږه او څنګه چی د کرمان ولایت هم ارام نه وانو ترهغه وروسته چی بلخ ته راغی یو لښکر ئې د احمد علی نوشتکین په سپه‌سالاری چی په هغه وخت کی د ختلم او بدخشان او د هغه ولایت دشاوخوا سیمو سالارو، کرمان ته ولیږه، او کرمان ئې ونیو، او د هغه ځای والی او سپه سالار سو .

بیهقی هغه پیښه داسی لیکلی: « ... منهیان که بولایت کرمان بودند امیر را باز نمودند که حاکم اینجا امیر بغداد است ومفسدان فساد میکنند وبداد نمی‌رسد بعلت آنکه خود بخویشتن مشغول است و درمانده. امیر را همت بزرگ برآن داشت که آن ولایت را گرفته آید، چه کرمان بپایان سیستان پیوسته بود و دیگر روی ری و سپاهان تا همدان فرمان برادران وحشم این دولت داشتند، درین معنی ببلخ رای زدند باخواجهٔ بزرگ احمدحسن وچند روز درین حدیث بودند تاقرار گرفت که احمدعلی نوشتگین را نامزد کردند که والی وسپاه سالار باشد، و بوالفرج فارسی کد خدای لشکر واعمال ، ومنشورهای آن نبشته آمد و بتوقیع آراسته گشت وسخت نیکو خلعتی راست کردند والی را کمر و کلاه دوشاخ و کوس،علامت وپنج پیل وآنچه فراخور این باشد از آلات دیگر تمامی وکدخدای راساخت زروشمشیر حمایل، وخلعت بپوشید وکارها راست کردند و تجملی سخت نیکو بساختند وامیرج بدهٔ عرض بخواست

و عارض بیامد و چهار هزار سوار باوی نامزد کردند ودو هزار هندو وهزار ترک و هزار کردو عرب و پانصد پیاده ازهر دستی ، و بعامل سیستان نبشته آمد تادوهزار پیاده سگزی ساخته کندوبپیستگانی اینها و ازآن ایشان ازمال کرمان بوالفرج سپید هد چون این کارها راست شد امیر برنشست وبصحرا شد تااین لشکر بامقدمان زرین کمر بروی بگذشتند آراسته ، وبا ساز تمام بودند ، وبمشافهه مثالهای دیگر داد والی و کدخدای ومقدمان را ، ورسم خدمت بجای آوردند وبرفتند وکرمان بگرفتند ومشتی اوباش دیلم آنجابودند بگریختند وکارولی وکدخدای مستقیم شد ورعیت بیارامید ، ومال دادن گرفتند ، و امیر بغداد کەبا امیر ماضی صحبت داشت ومکاتبت و مراسلت ازین حدیث بیازرد ، ورسولی فرستاد و بعتاب سخن گفت و جواب رفت که آن ولایت از دو جانب بولایت ماپیوسته است و مهمل بود ورعایا ازمفسدان بفریاد آمدند و برما فریضه بود مسلمانان رافرج دادن ودیگر کەامیر المؤمنین مارا منشوری فرستاده است که چنین ولایت کەبی خداوند وتیمارکش ببینیم بیگریم » دکرمان تر نیولو دمخه هم چی طوسیانو او باورد یانو د سپەسالار سوری پەغیاب کی غوبنته نیشاپور له غزنویانو څخه ونیسی احمدعلی نوشتگین چی په نیشاپورکی و ، دهغو په مقابل کی ملا وتړله او سره له دی چی د دښمنا نو لښکر خورا زیات و ، خوده پخپل عسکری تدبیر هغه تول مات کړه او وئی تښتول (چی ددی پیښی تفصیل دتاریخ بیهقی په ۳۲۷ ، ۳۲۸ ، ۳۲۹ مخونو کی راغلی دی).

دانوشیالی سپەسالارد (۴۲۶ هـ) کال د رجب دمیاشتی په ۲۸ دیکشنبی په ورځ په نیشاپورکی سرشو ، او بیهقی دده برینه داسی اوبه ضابطه گڼی:

«وبگذشته شدن او توان گفت که سواری وچوگان وطاب طاب ودیگر آداب این کارمد روس شد »

مأخذونه: ۱-تاریخ بیهقي -۲۳۶،۲۳۱،۳۳۳،

۳۲۶ تر ۳۳۲،۳۳۳،۳۷ مخونه

۲- دد هخدالغتنامه -۱۳۵۵ مخ

۱۱۰۳- احمد عمرو تالقاني: دامیرسبکتگین پهوختو کې دتالقان له توسیالیو مخورو مشرانوڅخه و ، چې امیرسبکتگین ورباندې ډیر باوررلود اوددهٔ ان مصاحب کړی ئې و.

ابوالفضل بیهقي ئې په خپل تاریخ کې داسې یادوي:

«درسنه خمسین واربعمائه .. که امیرسبکتگین رضي الله عنه بست بگرفت و بایتوزیان (۱) برا فتادند ، زعیمی بود بنا حیت طالقان (۲) وی را احمد عمرو گفتند ،مرد پیر وسدیدو توانگر ، امیر سبکتگین وی راپسند ید ازجملهٔ مردم آن ناحیت وبنواخت و بخود نزدیک کرد، واعتمادش باوی بدان جایگاه بود که هر شبی مراورابخواندی و تادیری نزدیک امیر بودی، ونیز باوی خلوتها کردی، شادی وغم واسرار گفتی ...»

مأخذ: تاریخ بیهقي - ۲۰۳ مخ

۱۱۰۴- احمدغزنوي: دمحمد زوی، دمحمود نمسی او دسعد غزنوي کړوسی دحنفي مذهب له لویو اما مانوڅخه تیر سوی دی اود ابو بکر(دبدائع د کتاب د مؤلف) شاگرد و، او پوی ولی فقهاو پیاله ده څخه زده کړه کړې ده .ډیر تألیفات ئې دراودل چې مشهوره ئې دادي:

۱- کتاب الروضة في اختلاف العلماء.

---

(۱) بایتوزد بست دوالي نوم و ،چې سبکتگین ساته ور کړه .

(۲) دطالقان باید د هیلمند بست ته نژدې یو ځای وي، ځکه چې دجوزجان طالقان خوله بسته ډیر لیری دی یا بنایي چې دکندهار دپنجوائي دعلاقې تا قانوی چې اوس ئې «تلوکان» بولي .

۲- روضة المتکلمین فی اصول الدین.

چې دا کتاب ئې وروسته مختصر کی اود «منتقی» په نامه ئې و باله

۳- مقدمهٔ غزنویه - په فقه کې و.

۴- یو کتاب ئې هم دفقه په اصول کې لیکلی و.

په (۵۹۳ هـ) کال په حلب کې مړ او دحنفی فقهاو په هدیره کې ښخ دی.

مأخذونه: ۱- فوائد بهیه - دمصر چاپ - ۵۳ مخ

۲- د کابل مجله ۳ کال ۵ گڼه ۶۱ رر

۳- الاعلام - دزرکلی - ۱/۲۰۹ رر

۴ - الجواهر المضیة - ۱/۱۲۰ رر

۱۱۰۵ -احمد غزنوی: دمحمد غزنوی زوی حنفی عالم و. په (۵۰۳ هـ) کال مړ دی، او یو کتاب ئې د «المقدمة الغزنویة فی فروع الحنفیة» په نامه لیکلی دی.

مأخذ: ددهخدالغتنامه - ۱۳۵۵ مخ

۱۱۰۶-احمد غزنوی. استاد احمد غزنوی ثم لاهوری د خپل وخت له نومیالیو معمارانو څخه و، چې دآگرې د «تاج محل» په ښکلې ودانۍ کې ئې برخه اخیستې وه او دعیسی شیرازی ترنامه وروسته دده نوم یاد سوی دی.

مأخذ: داستادرشاد یادا ښت دعلیگړ د «تاج محل» در سالې په حواله.

۱۱۰۷-احمد فرید کافی: دمحمدایزدیار زوی دسلطان غیاث الدین محمد غوری ددربار نومیالی لیکوال، شاعراودهغه پاچا ددیوان منشی و. په فیروز کوه کې اوسید اوپه دری ژبه ئې خواږه اشعار ویل.

عوفی ئې په لباب الالباب کې داسې ستایي: «الصدر الاجل شرف الدولته والدین سیدالکتاب فریدالزمان احمدبن محمدایزد یار الکافی بود، وبافضلی وافروافی، بحری درهنر بی پایاب وقطبی دربزرگی سدار البباب - بیت:

اندر هرفن که باز جوئی او را   گوئی که بیامده است آن فن را»

دسلطان غیاث الدین غوري په ستاینه کې ئې یوه خوږه او پخه قصیده ویلې ده چې په لوړېږو شپږ وپښتو کې ئې دا التزام کړی دی چې په هر بیت کې «گل» او «مې» راوړي او وروسته په دسلطان غیاث الدین دستاینې په هر بیت کې ئې بیاد «سایه» او «آفتاب» د کلمو راوړل لازم بللي دي، قصیده د اده:

ای گل و مې رابر خسار ولب تو افتخار
چون گل میگون بهار آمد مې گلگون بیار

شکل گل چون شکل جام ورنگ مې چون رنگ گل
هست گویی هردورا ازهم صفتها مستعار

باغ رابی گل کجا باشد درین هنگا مقد ر
جام رابی مې کجا باشد در ین موسم قرا ر

گل بمطرب چون همی گوید که ازدستم منه
مې بساقی چون همی گو ید که بردستم مدار

گل زمې جوید شعاع ومې زگل گیرد فروغ
باگل ومې عیش کن بې زحمت خارو خمار

خاصه چون سلطان اعظم گل به پیش ومې بدست
مطربان را خوا ند پیش وبند گان راد ادبار

سایه یز دان غیاث د ین و دنیا کا فتا ب
زان بیا راید چمن کز را ی او دار شعا ر

شهر یا ری کا فتاب ا زسایه اقبال او
بر سپاه سعد و نحس ا ختران شد کا مکار

آفتاب سایه دار است اوجهان را گاه عد ل
سخت نادر باشد الحق آفتاب سا یه دار

سا یه پروردست خصمش ز آفتاب تیغ او
همچوسایه زآفتاب از بهر آن جوید قرار

ازبرای‌سایه او خاک را خد مت کنند
آفتاب اند رمسیروآسما ن ا ند رمدار

ازپی فخر آسمان هرد م و صیت میکند
کا فتا با سایه را یا ت او را سجد ه آر

ورمثل صد شهریارش باشداندر روز کین
زآفتاب اورا بسا یه کی گذا رد شهر یار

همچو سایه‌از هما آمد همایون‌بر جها ن
آفتاب دولتش کایمن بما ند ست از غبار

پیش‌رای آفتا ب آ ئینش خصم مملکت
سایهٔ‌سنگی‌ندارد زان‌چنان ماند ست‌خوار

ورهمی خواهی قیاس‌شاه وخصم‌شاه کر د
سایهٔ شب رابه پیش آفتا ب رو زدا ر

گربصورت آفتابی گرددآنکش‌د شمن‌است
سایه ا علام منصورش بر آ رد زود مار

تا بود تفسیر سا یه و آفتاب اندر سخن
طر هٔ گیسوی لیل و غرهٔ روي نها ر

زیوربزم توبا دو خاک روب مجلست
آفتاب روی چر خ و سا یه زلفین یار

ماخذ: الباب‌الالباب- ۱/۲۰ سخ .

۸۰۱۱- احمد قطب ا لدین آ هی هر و ی: د مو لانانو را لدین محمد زوی او دقاضی جلال الدین محمود آهی نمسی د خراسان د پوهانو اوغتا نو مرجع او دسعید میر زا دپاچهی په پای کی بیا دسلطان حسین‌میرزادسلطنت تروختو پو ری په هرات کی دقضا په چارو بو خت و، او دپیښو په فیصله کولو کی ئې د

خپل پلار او نیکه گانو په څېر په امانت او دیانت کار کاوه، او دغه شغل سره ئې تدریس هم نه و پرېښی، او دیني علومو په خپرولو او تبلیغ کې ئې زیار ویوست. د(۸۷۸ ه) کال د شوال په سر کې په هرات کې مړ او د مولانا فخرالدین رازي په هدیره کې ښخ دی.

ماخذ: د دهخدا لغتنامه = ۱۲۵۹ مخ

۱۱۰۹- احمد کندهاري: میرزا احمدخان مشهور په «خوشنویس» او متخلص په «احمد» د دري ژبې ښوخ شاعرو. په (۱۱۹۵ ه) کال په کندهار کې زېږېدلی او په (۱۲۸۰ ه) کال کې مړ دی.

دی سر بېره پر شاعري د خپل وخت لوي محاسب هم وه او د کندهار د سردارانو په دربار کې ئې (د۱۲۳۵ هق په شاوخوا کې) د «مختار کاري» منصب درلود، خو چې په (۱۲۳۶ ه) کال میرزا عطا محمد شکارپوري د کندهار د سردار شیردل خان په دربار کې دده پر ځای وټاکل شو، او هغه هم میرزا احمدخان داسې ستایي:

«عالیجاه شاه فرد دیوان مروت و انسانیت ومطلع قصیدهٔ مرحمت وعنایت پسندیدهٔ اخلاق، کریم الا شفاق میرزا احمد خان که سابق بعهدهٔ مختار کاري سردار موصوف (شیر دل خان) مامور بود، هرگاه عهدهٔ مختار کاري بوساطت نایب ممدوح تعلق بخاکسار گرفت، از انجا که دنیای بیوفا محز حسدوجای حقد می باشد لیکن عالیجاه میرزا احمد خان از روی نیک ذاتی ونجابت خود گاهی باخاکسار طور یقهٔ حسد را پیش نور زیده، بلکه طایر دل خاکسار فریفتهٔ دانه ودام مهربانی وشیرین زبانی خود نموده، تامدت دوسال، در ایام عمل مختار کاري باستمداد و مراعات و رضا جوئي خاکسار می پرداخت..

آفرین بر میرزای ممدوح ورحمت خدای براو وپدر بزرگوار او باد» (۱)

---

(۱) د تاریخ نوای معارک تعلیقات - ۸۶۷ مخ

ته سیاوش ووې چې ستا فرمان منمه ولی وایم چې امیر ته ورځمه می باید چې څه پیشکش ورله پیدا شی په خالی لاس به امیر څنګه رضا شی نورامیر تأمل دیر په د غی کار کړ بو بیرغ بی اژدها غوندی تیارکړ .... تر پایه

مأخذ: پښتانه شعرأ -۲/۳۰- مخ

۱۰۳۹-احمد ارسلان غزنوی: دسلطان محمود غزنوی دزوی امیر محمد ددربارله سخورواو دده له مقربانو څخه و. هغه وخت چې امیر محمد دکند هار په کوهتیز کی بندی کړه سو نودی هم ورسره و.

ابوالفضل بیهقی په خپل کتاب تاریخ بیهقی کی دامیر محمد تر بسند وروسته لیکی:

«... ازعبد الرحمن قوال شنیدم گفت:

امیر محمدروزی دوسه چون متحیری وغمناکی می بود، چون نان می بخوردی قوم را بازگردانیدی، سوم روز احمد ارسلان گفت زندگانی خداوند دراز باد، آنچه تقدیر است لا چار بپا شد، در غمنا کث بودن بس فایدهٔ نیست خداوند برسر شراب ونشاط باز شود که مابندگان می ترسیم که اورا سوداغلبه کند فالعیاذ بالله - و علتی آرد. امیر رضی الله عنه تشبط فرانشاند ودرمجلس چندقول آنروزبشنوداز من ...»

او بیا هغه وخت چې امیرمحمد دخپل ورور سلطان مسعود په امر د کوهتیزله کلا څخه د «مندیش» کلاته بندي بیول کېده احمد سالار بندی غزنی ته اوبیاله هغه ځایه ملتان ته واستول سو، بیهقی لیکی:

«روز سیم حاجب برنشست ونزدیکتر قلعه رفت وپیل باسهدآنجا برد ند و پیغام داد که فرمان چنان است که امیر را بقلعهٔ مندیش برده آید تا انجا نیکو داشته تر باشد .... امیران رابراندندوسواری سیصد و کوتوال قلعهٔ کوهتیز باپیاده سیصد تما سلاح با او .... احمد ارسلان را فرمودتا آنجا بند کرده و سوی غزنین برد تا سرهنگ کوتوال بوعلی او را بمولتان فرستد،

په کندهار کی دبابا ولی کوتل ته نژدې یو کلی «دمیرزا احمدخان کلاچه» بولی چې دده په نامه یاد یږی او تر اوسه هم دده یونمسی میرزا عبد الاحمد پکښې اوسی. میرزا احمد د مرحوم طرزی ملگری و، او دوی دواړو په گډه دچاپو په ستا ینه کی یوه قصیده ویلی وه. دده داشعار و دیوان ښاغلی طالب کندهاری تول کړی او تدوین کړی دی خولا چاپ سوی نه دی. دده دا غزله له لفظی صنعت څخه خالی نه ده چې وایی:

هر که دل را از کمال معرفت آراست رست
وزجهات آنکه عقبیٰ داد ودنیا خواست خست

از تصاریف خزان و د رتقا لمب ز مان
هر که چون سرو روان آزاد پابرجاست جست

بی گمان همچون سلیمان ست فردا سرفراز
آنکه چون مور ضعیف امروز زیر پاست پست

سرگران برخیزد از خواب عدم فردا کسی
جز اشارات دوا بروی شبیک ایما ست مست

از گرانجانان نیاید شهوهٔ جان باختن
دل بخوبان آنکه طبعش عالی وزیباست بست

غیر خال مهر کاندر عارضی ماه تو نیست
در سراپای وجودت آنچه خوبیها ست هست

گرنسازی چارهٔ درد وی امروز ای طبیب
احمد دلخسته را در دامنت فرداست دست.

داغزله هم دده ده:

هزار سال اگر درچمن نهال بر آید
نه همچو قد تو سروی باعتدال بر آید

وگر طلوع کند ماه ابرویت ز لب بام
زمرد وزن همه آوا ز الهلال برآید

هزار نقش بدیع ار کشد مصور قدرت
محال دان که جمالی بدین کمال برآید

رسم بجنت فردوس و آب چشمهٔ کوثر
گرم ز طاعت فرخندهٔ تو فال برآید

نشد اگر شد خاور سر از دریچهٔ مشرق
بدوالجلال قسم کر باین جلال برآید

رقیب اگر زدر دوست راندم چه توان کرد
که را مجال که با سگ یک جوال برآید

اگر نه وصف خط وخال دلفریب توگوید
کجا ز خاطر احمد چنین خیال برآید

مأخذونه: ۱- یادی از رفتگان - ۱۶۶ مخ

۲- مقدمهٔ منتخبات اشعار آزاد کابلی رز

۳- تاریخ نوای معارک تعلیقات - ۸۶۷ رز

۴- آریانا دائرة المعارف - ۳/ ۵۸۲ رز

۱۱۱۰- احمد گل: د آزادو قبائلو د «تا کرائی» اوسیدونکی او د پښتو ژبې شاعرو. د پښتنو او انگریزانو او سکانو د جگړو پیښې ئې په نظم کړې دي ، او په (۱۸۸۶ م) کال کې مړ دی.

مأخذ: پښتونستان - ۳۸۳ مخ

۱۱۱۱- احمد گل حسن خیل: د سمن گل زوئ په خټه حسن خیل موسند د پښتو ژبې نوسیالی شاعراو د خپل وخت په عالم و.

د (۱۲۵۸ ه ق) کال د روژې د میاشتې په ۲۲ د ننگرهار په «گلا ئي» کې

زیږیدلی او په (۱۳۰۸ هـ) کال د شینوارو د «کهی» په کلی کی مړ، او ده دو صیت سره سم د چپرهار د «للمه» په کلي کی ښخ کړه سوی دی.

په (۱۲۷۳ هـ) کال د خپلی علمی زده کړی د بشپړتیا د پاره پېښور ته ولاړ، او هلته ئې د پېښور په «میرو» خپل لومړنی تحصیلات وکړه، او داسی ښکاری چې له ننگرهاره دده د تگ یو بل علت دده د میری سخته رو په هم وه، لکه دی چې د پېښور په «میرو» کی پخپله وایی:

په «میرو» کی احمدگل امی طالب شو پوری ښې شوی سختی بدی د «میری».

تر هغه وروسته د نوری زده کړي د پاره چچ هزاره ته، او له هغه ځایه بیا د احاد یثو او تفاسیرو د زده کړی د پاره د لاهور اسلامی مدرسو ته ولاړ، بیا څه موده دهند په امرتسر کی و، او له هغه ځا په د لوړو تحصیلا تو د پاره مصرته ولاړ، او تقریبا اته کاله په مصر کی و، عربی ئې ښه زده کړه او په عربی ئې شعر وو وایه او په هغه کی ئې دخپل هیواد یادونه داسی وکړه:

بعدت عن ارض ولدت فیها
فبلغ سلامی یا نسیم السحر

فیها اخوانی الذین هجرت منهم
و فیها فحول شریک الحضر

اذا قلت السلام منی الیهم
فات عن حالهم الی الخبر

انی اطلب العلم و الفنون
والی اسکن فی بلد العصر

په (۱۲۸۹ هـ) کال له مصره بیرته لاهور ته راغی او د لاهور په اسلامی مدرسو کی د مدرس په حیث وتاکل سو. دی شپږ کاله په لاهور کی و، او په (۱۲۹۵ هـ) کال کی د پېښور له لاری خپل وطن ته راورسید. دلته ئې هم ډیر شاگردان پیدا

کړه او چوونی په ئې ورته کوئې، او ورسره ورسره ئې اغېزه ناك او پـاخه شعرونه ویل او څنګه چې دده داشعارو یوه برخهٔ پر ملی او ژا نو ویلې ویلی ئو تـر او سه دعوامو په خولو کی د متلو په ډول یادیږی .

د اروپا ختیز پیژندونکی هم احمد ګل پیژنی او فرانسوی دارمستتر دده ځینی حماسی اشعار په خپل مشهور کتاب «هاروبهار» کی لیکلی دی.

ده د ننګرهار په هغه کی دبوی لویی کورنۍ سره ځښتی و کړه، یو زوی او یوه لور ئې پیدا سوه .

دده له شعر څخه ښرګندیږی چی احمد ګل په د ری او اردو او عربی هم شعر وایه، خو لکه خوشحال ختک چی وایی :

پارسی شعر سې هم زده سلیقه لرم د دواړو پښتو شعر سی خو ښ شه هر خولـك

خپل ګنی ښاغلی احمد ګل هم وایی:

که زده می عربی، فارسی، اردو په زر کړته

پښتو ته پر اندته

دی د شعر په باب کی داسی نظر ری چی په یوه نظم کی وایی:

چسپانده چی پښتو په ښه ترتیب سره پیوند شی

ظاهر ترینه یو خوند شی

کمال د شعر دادی په خوله ژه وهمه شخوند په

رسیږی تانه خوندچه

انوستی دی مضمون وی د رنګین لفظ لباس

نه کوزوی نه وی پاس

نه ځان ته شاعر وایم نه د شعر دعوه کیږیم

اوس نه خلا صیږم کیږیم

را پاڅی هر سړی یو زه کړی تو ره چی هنګریم

استاد د خپل هنریم

چې کښنامتنه دوکان ته ورړه وسوځي مخ تورکا

اره په شان دلور کا

آخره زما نه شوه دور راغې دبې نیازو

مخې ځوا ړی اه بیازو

که‌زده سی‌عربی،فارسی،اردو په‌زورکړ نه

پښتو ده پر لذته

بل ځای دخپل شعر،په باب کې وایي:

زه هغه احمد ګل یم	چې د پښو ځوانانو خیل یم
څو خبری خوند وری	لکه لـړ کې ســر غـلری
یعنې وایـمه پښتو زه	پـه خـوږ وخوږو پیتو زه
زه دلال کوم غیرونه	چې واخلي‌دلک کړی غوږونه
شاعران په دنیا ډیر دی	له حساب ترشماره تیر دی
عربی او هم فارسی شته	په اوردو او په روسی‌شته
زما قوم چې پښتون دی	او په‌دوی کې‌می ژوندون دی
پـه پښتو ژبـه اشعار	ځکه وایـــم د دربـــار
په‌دنیا کې شاعران دی	زمـا شعر تـه حیران دی
شعر نه دی هسی خوشی	لکه ژرندی ته اوربشی
چې پـه شعر کې اوزان	بـرابـروی پـه میزان
خوندئي زیات وی‌له شکرو	بیا د هغه راز خـبرو
چې‌خوله بیرته‌په ویل کړم	لوی وارخان نه سایل کړم
اثـر اچوی په زړه کې	هم د لوی هم دواړه کې
چې ئې هر غوږ زما اثرشی	آبی ننه د کې ترشی
زما کسب احتیاط دی	نه تفریطه دی نه افراط دی

میانه رو لکه سمن یم — په میدان د خوږ سخن یم
نه ډیر نرم نه تغلیظ کړم — نه دچا هجو تقریظ کړم
د بلبل په شان آزادیم — په نا روا وپه فریاد یم
څه چې کاږمه له خولې — راولسي خولې ولې
ای ارمان چې څوک خو ږه وي — د ادب د لارې ګـرو ه وي
ولې دونـه مې اومـا ن شته — چې نه چېوي قدر دان شته
زمـا نـه شوه هسې مېکه — مـر غـلری ئې کـنجکه
احمد ګله اعتدال ګـړه
هم په فعل هم په قال کړه

اوس د احمد ګل یو بوخ او خوندور شعر د ده شعري ذوق د نمونې په توګه ولولئ:

چې قبول ئې په تندې کـړه ز رخشکه
د سرولبو وصال بیا مو ند ه جام څکه
چې تکر یڅوڅا ن سیده کړ په در غني
د محبو بې د ست ا و پا لره ورتله ګه
د یا قوت په څېر سوری د زړه پر سر شه
د ګلرخې په څو بو و نو کې ځای و ګه
د غوتې په شا ن پهر شه له سل څاره
پس له هغې بـه بلبل د رته کـا ته کـړه
د رباب په څېرفیح ګلګه شه ګلمی تشي
نندا ر ولـه بـه دی یـاو د رشي پیشکه
احمد ګل د جانان حسن ته حیران دی
چې په مخ ګې ئې پری دی ګه ملکه

احمدگل تالیفات هم درلودل چی مشهوره ئې داوو :

۱- دیوان احمدی: چی دده د اشعارو دیوان وءاو د امیر عبدالرحمن خان په نامه ئې لیکلی، او د امیر له خواصله هم ورکړه سوې وه- خوله بده مرغه اوس ئې درک نسته

۲- منظومی خطبې: چی په «مجموع الخطب» کی راغلی دی.

۳- د کوتوال قصه، چاپ سوی.

۴- د نیم بولا قصه. چاپ سوی،

۵- د مولانا بلخی دمثنوی پښتو ترجمه .

۶- د مدارک التنزیل ترجمه .

دده داشعارو نوری نمونې په پښتانه شعرأ کی راغلی دی.

ماخذ : پښتانه شعرأ - ۲/۵٦۳ مخ

۱۱۱۲- احمد گنډه پور : د پښتو ژبی شاعر وءاو په دیر لسمه هجری پېړی کی د اسماعیل خان ددیرې د کلا چی په ښار کی اوسېد. وایی چی داشعارو یو بشپړ دیوان ئې درلود - دده اشعار زیاتره پر ملې اوزانو لکه د پښتو رباعی،چار- بیته،غزل او بگتی باندی ویلی سوی دی.

دا شعر دده د اشعارو نمونه ده :

چی د زړونو آزار اخلی کوږئې خپور شه
چی یاران سره جدا کړی مخ ئې تور شه

یوزه غورږ د سپی رقیب پریکړی چه دی
په خوله گوزنگ په غابونو مات په ایمو کور شه

یو دی تل په غم ککړوی له لیستی نه
بل لازم ئې په گردن د ظالم پور ده

په دنیا دی مبتلا په سخت عذاب وی

په عقبی کی ئې نصیب ددوزخ او رشه

په ساعت د ښکنځلو دی خوار خسه وی

پس له مرګه تنګ تیاره ورباندی ګورشه

چی بیلتون ددوه یارانو ترمنځ کاندی

ورته ږی د خدای غضب یوپه څلورشه

مأخذ: پښتانه شعرا - ۳/۷۰۷ مخ

۱۱۱۳- احمدار هروی: دشاهرخ میرزا په وخت کی یوانقلابی سلنګ وه چی په هرات کی اوسید اوپه طریقت کی ئې د مولانا فضل‌الله استرا بادی لاس نیوی کړی و.

خواند میر په حبیب السیر کی لیکی چی:

«د ۸۳۰ ه کال دڅورمی خور (ربیع الاخر) په ۲۳ هغه وخت چی میرزاشاهرخ دهرات په جامع مسجد کی لمونځ وکی، له مصلی راووت او سپارلی ئې روانه سوه، په دی وخت کی احمداردداد غوښتونکی په توګه یو کاغذلاس کی پرلاری ولاړو. شاهرخ میرزا چاته وویل چی ددی سړی حال وپوښته چی څه غواړی؟

په دی وخت کی احمدار فرصت وموندئ څاړه ئې ورو دانګل اوشاهرخ میرزا ئې په نس کی په چاړه ووهه چی سخت ټپی سو، خومړنه سو، اوعلی سلطان قوچین دپاچا په اجازه هغه سلنګ ووژه، او پخپله د لغاری او د ماښی سره دبازارنه لاری «باغ زاغان» ته ولاړ، جراحانو او طبیبانوئې په علاج لاس پوری کی او ښه روغ سو - یوه شاعر دغی پیښی لپاره دا سی ویلی ده:

سال تاریخ هشتصد وسی بود	روز جمعه بر ازادای صلوة
قصهٔ بس عجب واقع شد	درخراسان، وای بشهر هراة
کج روی در بساط چون فرزین	خواست تاشهرخی زندشدماة

وایي چې تر دې پېښې وروسته میرزا بایسنقر او نوروا میرانو داحمدلر داحوال په څېړنه لاس پورې کې او دوی ته تر څېړنې وروسته دا سې معلومات په لاس ورغلل چې داحمد لر سره د هرات یوز یات شمیر مخورو نا سته ولاړه درلوده چې له هغې دلې څخه یو هم مولانا معروف خطاط و، او هغه دوني خود داره انسان و، چې د میرزا بایسنقر هغه خط ئې چې په هغه کې ئې دنظامي د خمسه دلیکلو غوښتنه له ده څخه کړې وه یو کال و ساته اوهغه کتاب ئې بېرته نالیکلی ورولیږه، ځکه نو میرزابا یسنقر ځینې خوا شینی سوی و، اوتردې پېښې وروسته ئې پلمه وموندله او هغه معروف هنرمند ئې داحمدلر ددوستي په تور څووار ه دغرغړې دارته بوت او په پای کې ئې داختیارالد ین د کلاه په یوه څاه کې بند کې، او داحمدلر نورملګرې ئې ووژل.

مأ خذونه : ۱- حبیب السیر -۲/۱۷۹ مخ

۲- دد ځخدالغتنا مه - ۱۳۶۲ رر

۱۱۱۴-احمد لنگر در یا- بلخي : شیخ المشایخ احمدلنګردر یاد شیخ حسین بلخي زوي، دابرا هیم ادهم بلخي له اولادی څخه نومیا لی شیخ ا و عارف و، وایي چې «لنګر در یا» ځکه بالـه چې یو وخت د ده په برکت یوه ما ته کښتۍ دنجات ساحل ته ر سیدلې وه او د کښتۍ سپرو نجات موند لی و .

مأ خذ: دد ځخدالغتنامه-۲ ۱۳۶ مخ

۱۱۱۵-احمدلودي : شیخ احمد د سمهد لودي زوی د مولتان د پښتنو لودیانو له تبر څخه یه عالم او محقق مؤرخ و .

په (۶۸۶ ه ق) کال ئې یو کتاب د «اعلام اللوذعي في اخبار الملودی» په نامه لیکلی و، چې په هغه کې ئې دمولتان دلودي باچهانو حالات پکښې راوړي دي. د پټې خزانې مؤلف محمد هوتك د «کلید کامراني» په حواله دلو د یانو باچهانو څو پښتوشعرونه له هغه کتاب څخه رانقل کړي دي .

مأخذ: پټه خزانه - ۶۷ مخ

۱۱۱۶-احمد لودی (شیخ): شیخ احمد لودی د سعیدزوی په خته لودی پښتون و، په ۶۸۶ ه کال ئې د «اعلام اللوذعی فی اخبار اللودی» په نامه یو کتاب کښلی دی چې کامران خان سدوزی بیا په خپل کتاب «کلید کامرانی» کې له هغه څخه اقتباسات کړی دی.

مأخذونه: ۱- پټه خزانه - ۶۷ مخ

۲- لودی پښتانه - ۲۴ «

۱۱۱۷-احمد لودی (دوهم شیخ): د هند د اکبر پاچا (۹۶۳ - ۱۰۱۴ ه) معاصر دی او په خپل وخت کې خوراستلی ستانه او متشرع سالک و. په ریاضت کې ئې ډېر زیار ایستلی او کرامات او خوارق محیټی څرګند بدل د ټټنې په حاجی پوره کې اوسید.

وايي کله چې اکبر پاچا پر پټنه برید کاوه شیخ په خوب کې هغه پیښه ایدلې وه، سهارنې خپلو مریدانو ته وویل چې داملک د پښتنو له لاسه ووت او اکبر ته ورکړه سو، خپلی کلی سره کوښه کوی. لېږی و رځی لاتیری سوی نه وی چې اکبر له آګرې څخه لښکری و روخوځولې، او پټنه ئې د پښتنو له لاسه و کښله.

مأخذونه: ۱- لودی پښتانه - داستان د رشا د لیکنه - ۳۰۰ مخ

۲- مخزن افغانی - ۳۲۷، ۳۲۸ مخونه

۱۱۱۸-احمد مسکه بدخشی: خواجه احمد مسکه د خواجه علاالدین عطار له مریدانو او د خپل وخت له نوميالو عارفانو او مرشدانو څخه و.

په بدخشان کې اوسید، او په (۸۵۶ ه) کال مړ او درستاق په ښار کې د وی چینې پر غاړه ښخ دی، چې خاص او عام ئې زیارت ته ورځی.

مأخذ: چراغ انجمن - ۱۰۰ مخ

چنانکه آنجا شهر بند باشد و دیگر خدمتگاران او را گفتند که هر کس پی شغل خویش روید ...»

مأخذ: تاریخ بیهقی - ۷۳'۷۳ مخونه

۱۰۴۰- احمد بادغیسی: د عمرو بادغیسی زوی د بادغیس قاضی و، او له ابن عیینه څخه ئې روایت کړی دی.

مأخذ: معجم البلدان - ۳۱/۲ مخ

۱۰۴۱- احمد بادغیسی: دعمرو بادغیسی زوی د خپل وخت نوميالی عالم او دبادغیس قاضی و. ده له ابن عیینة څخه روایت کړی دی.

مأخذ: معجم البدان- ۳۱/۲ مخ

۱۰۴۲ -احمد بشتی خراسانی

ابوحامد احمدبن‌محمد خارزنجی بشتی زوی پخپل‌وخت کې دخراسان ادیب و. دده دا دوه کتابونه په تذکرو کې را غلی دی:

۱ - تکملة کتاب العین.

۲ - شرح ابیات ادب الکاتب.

بشت دخراسان یوه ناحیه وه.

په (۳۳۸ ه) کال کې‌مړدی خوداللباب مؤلف دده‌مړینه په (۳۴۸ ه) کې گڼی

مأخذونه: ۱ - الاعلام - دزرکلی - ۱ / ۲۰۰ مخ.

۲ - انباه الرواة - ۱ / ۱۰۷ مخ

۳ - اللباب - ۱ / ۳۳۵ رر

۴ - بغیة الوعاة - ۱۷۹ رر

۱۰۴۳ احمد بغوی:

دمنیع زوی دعبدالرحمن ابوجعفر اصم بغوي نسبی په بغداد کې د مسند خاوند و، اود احادیثو روایت ئې له ابن مبارک څخه کړی و.

وا یی چې څلویښت کاله‌ئې په عمرو دري‌ورځو کې یوواردقرآن کریم‌ختم کاوه.

۱۱۱۹- احمد مشتاق : امیر شیخ احمد مشتاق د سلطان ابو سعید په وختو
کې د خپل ورور امیر شیخ ذوالنون په ګډون دانه خوی د سیمې مشر واکدار و. بیا سلطان
حسین میرزا د هغه زړورتوب په عوض کې د چکمن په جګړه کې ئې ښوولی او خوتپونه
ئې اخیستي وو، د قبة الاسلام بلخ ایالت ور کړی، ځو موده چې ئې د هغه ایالت امارت و
چلاوه، ونو د خپلواکۍ د اعلان په هڅه کې شو، او د سلطان احمد میرزا د خواخوا ځانو
په ډله کې ئې ځان شامل کې. د هرات دارالسلطنه ته چې دا خبر ورسید سلطان حسین
میرزا داسې ترتیب ونیو چې احمد مشتاق په یو ښه تدبیر له بلخه راوباسي نو امیر عبدالخا
لق ئې له ځینو نورو سردارانو سره قبة الاسلام بلخ ته ورواستاوه او ورته ئې وویل چې بلخ
ته ورسیږی نو باید داسې وښئې چې ګواکې د ماوراءالنهر د لښکر احتمالي یرغل د مخنیوی
او ددې سرحد د ساتنې د پاره رالیږل شوي دي، ځو چې احمد مشتاق دا چا ودوی سره
یو ځای شي ژر ئې ونیسئ او بندی ئې کړئ. خو امیر عبدالخالق چې بلخ ته ورسید
احمد مشتاق ئې په غرض پوه شو او ورته ویې ویل چې: په داسې چې له بلخه ووزې زه پخپله
د عالم پناه دربار ته ځم او د هغه څه چې مفسدانو زما په باب کې سلطان ته
ویلي دي د هغه د زړه څخه به ئې وباسم.

امیر عبدالخالق بیرته هرات ته ولاړ، مګر احمد مشتاق ورنغی او سلطان حسین میرزا
مجبور شو، چې هرات د بلخ خواته د احمد مشتاق د مقابلې د پاره وخوځیږي او د هرات په
دارالسلطنه کې ئې خپل زوی میرزا بدیع الزمان پرخپل ځای پریښوو. احمد مشتاق
چې د سلطان د راتګ خبر واوریده د بلخ د ښار برجونه ئې مضبوط او باري ئې ټینګې کړې
سلطان احمد میرزا او سلطان محمود میرزا ته ئې استازی واستول او د هغو مرستې ئې وغوښتلې
او هغو دوو امیرانو هم د بلخ د ښوا و ښت و کړ، سلطان احمد میرزا پخپله د آمو غاړې ته
راغی و سلطان محمود میرزا له سمرقنده و لښکر ئې خواته راولیږه. سلطان حسین میرزا
بلخ محاصره کې، پخپله سلطان برج ته مخامخ لښکر ونیوا او امیر علیشیر نوائی د شترخوار
دروازه خپل معسکر کې او نورو امیرانو او سالارانو ته هم خپل خپل ځایونه وټاکل شوه

، څنډقونه ئې له خاورو اوخسوډك اوهوار كړه اوهم ئې امير مظفر برلاس د آموغاړې ته دماوراء النهر دلښكر د مخنيوي د پاره ولېږه ، دری ځلور مياشتې سختې جګړې وسوې او دسلطان حسين ميرزا په لښكر كې سخته كاختې را غله چې أمير عليشير نوائي د همغې كاختې د لېرې كولو دپاره هرات ته واستول سو، اوله هغه ځايه ئې دوه دوې زره خرواره غله بلخ ته ولېږله ، او څنګه چې سلطان محمود ميرزا او احمد ميرزا داحمد مشتاق مرستې ته راونه رسېدلای سول نو احمد مشتاق له خپلو كړو پښېمانه سو، دتيغ او كفن سره د سلطان حسين ميرزا خدمت ته ورغی او هغه هم و بښه .

ماخذ : دد هخدا لغتنا مه - ۱۴۹۴ مخ

۱۱۳۰- احمد معشوق كندهاري : د محمد زوی مشهور په «احمد معشوق» د خپل وخت له نوساليو لويو مشايخو څخه و، چې په «نزهة الخواطر» كې د «الشيخ الكبير» په لقب ياد سوی دی.

په كندهار كې زېږېدلی او همهلته ئې وده موندلې ده ، بيا د تجارت د پاره ملتان ته تللی، او هلته د شيخ صدرالدين محمد ملتاني په خدمت كې و، او په طريقت كې ئې هم د هغه لاس نيوی كړی و .

په (۸۲۳ھ) كال كې مړی دی.

مأخذ : نزهة الخواطر- ۲/ ۱۲ مخ

۱۱۳۱- احمد منوفي هروي : د محمد زوی د شپږمې هجري پېړۍ لوی عالم و، او په (۵۹۶ ھ ق) كال يې د مؤيد الملك قوام الدين په غوښتنه د «فتوح ابن اعثم» (۱) د كتاب په ترجمه له عربي څخه په دري لاس پوری كړی

---

(۱) دا كتاب د خلفای راشدين او د مسلمانانو د فتوحاتو او معاويه تـه د خلافت د انتقال او هغه د زوی يزيد دحكومت د كيفيت او د كربلا د پېښې د تاريخ شرح ده چې ابومحمد احمد بن اعثم الكوفي (چې په ۳۱۴ ھ كې مړ دی) ليكلی دی.

او سره له دې چې په دغه وخت سپین ږیری او کمزوري وبیایې هم هغه کتاب
په ډېر خواږه او روان نثر چې ډېر پوخ او له تکلفه تش دی ترجمه کیء، چې په
دوارو ژبو کې دده د تبحر څرګند دلیل دی ـ دا کتاب په ۱۳۰۵ ه ق ـ ۱۸۸۸ میلادي
کال په بمبئ کې چاپ سوی دی.

مأخذ :- تاریخ ادبیات در ایران ـ/۹۹۳ مخ

۱۱۲۲ـ احمد (مولوی) اشنغری : مولوی احمد د پښتو نومیالی
لیکوال او شاعر دی، چې د «اشنغر» په «تنګی» نومی ځای کې اوسېد. دي پخپله وایي:

اشنغر زما وطن دی په تنګی کې می مسکن دی په نسب مسافر خېل یم
خصوصاً ابراهیم خېل یم

مولوی صاحب څو کتابونه په نثر او نظم لري چې مشهوره یې دادي:

۱ـ ګنج پښتو: چې په نثر ځینې لنډې کیسې په ۱۲۸ مخو کې دلاهور د «مفید
عام پریس» په مطبعه کې په ډېرین چاپ طبع سوي دی او د کتاب په پای یو خوږ
مثنوی د پښتو ژبې په باب کې لري .

دا اثر دپادري هیوز په «کلید افغانی» کې چې په (۱۸۷۲ م) کال تألیف سوی
هم راغلی دی.

۲ـ تاریخ محمود غزنوی: چې د ابوالقاسم استرابادی د «فرشته» تاریخ ترجمه
ده چې د «کلید افغانی» په مخ کې تر ۲۰۰ مخ پوري راغلی او هم ځانته په (۱۸۹۳ م)
کال کې چاپ سوی دی.

دا ترجمه په (۱۲۸۹ ه ق) کال کې بشپړه سوې ده .

۳ـ غل او قاضی: یوه فولکوري منظومه کیسه ده چې د مثنوی په لنډ وزن په
(۱۲۹۶ ه ق) کال کې ویلې سوې ده.

ددە د نظم نمونه: د«گنج پښتو» په پای کې داسې وايي:

په هر دم په هر زمان په کار ده ژبه
د همه واړه جهان په کار ده ژبه

تــا آشنا آشنا کوی سره خبری
په خبرو نز دې کېږي خلق لری

چې د چا خوله کې خوږه ژبه غړېږی
دهغو په شان خلق ورې بانېږی

د تور زن به پکار نه وی همره توره
لکه ژبه چې هرځای کې وی منظوره

کار و بار د مصلحت په ژبه کېږی
مصلحت د سلطنت په ژ به کېږی

که کاتب دی که کاغذدی که قلم
تول دژبې خدمتګار دی‌دم په‌دم

په مرغانو کې طوطی‌دی عزتمند
دا په دا چې ښې خبری کړی‌دخوند

مګر دوه‌شرطه په ژ به کې ضرور دی
دغه‌دواړه ضروری په‌ښه دستور دی

اول دا چې ښې صیح کوی خبری
چې خبری شی په مثل مـرغـلری

بل په بد ودی خوله نه خوځوی خپله
تل دې سم په اندازه وی لکه تله

بده ژبه دسړی په ځان بلا شي
خوره ژبه له سړی چا پير قلا شي

هر سړی دسړيتوب دعوی‌چی کاندی
ځان دی پوه کاندی په‌ډيروژبو باندی

په يوه ژبه مطلب نه پوره کيږی
که هوښياروی هم له سره نه پوهيږی

که‌حاکم‌وی غورهيځ نه شي کولی
که عالم وی طالب نه شي لو لو لی

په سفر کی لکه نقش د ديوال
گنگ ولاړ وی بی طاقته بی مجال

خصوصاً چی پښتو ژبی ته حاجت
پيش و، ډير زياتی له حده دا ساعت

«احمد» وکړ په‌د اشان آسان کلام
چی پوهيږی پری کل واړه خاص وعام

ماخذونه : ۱_گنج پښتو-۱۲۸ مخ
۲- کليد افغانی -۱۲۹ مخ
۳_غل او قاضي -
۴_تاريخ محمود غزنوی

۱۱۲۳- احمد (مولوی) کندهاری: مولوی احمد کندهاری دمولوی اسماعيل زوی دخپل وخت د کندهار دزياترو عالمانو استادو، په منقولاو معقولوعلوموکی ئی تبحر درلود . دده له‌مشهورو شاگردانو څخه يوهم مولوی حبيب‌الله (مشهوريه‌حبوآخون) اويل ملا کته آخون ترکی او دريم ملا عبدالحق آخون‌علیزی «ملقب په استاد کل» ددی کتاب دمؤلف (بينوا) نيکه و .

مولوی احمد صاحب دعلوم وزده کړه په کندهار او هندوستان کې کړې وه، او بیا اجازته تللی و، دیر تالیفات ئې درلودل چې دځینو تالیفاتو نومونه ئې دادي:

۱_ تعلیم السلوک (دمولانا نور محمد پر «مقاله عالیه» باندې شرح.

۲_ رساله کاشفه_ په دری ژبه.

۳_ رسالهٔ فارقه —په تصوف کې په عربي ژبه.

۴_ بیان وافی فی الطوایف الصوفیه په عربي ژبه.

۵_ دمیرزاقطبي پر قطبیه باندې شرح په— منطق کې.

۶_ پر میرزازاید هروی شرح په طریقت کې د کندهار دپوپلزیو دمیان صاحب مرید و، او د (۱۲۳۴ ه ق) کال په شاوخوا کې وفات سوی او د کندهار د عیدګاه دروازې دباندې په لویه هدیره کې ښخ دی.

ماخذ دلوی احمدشاه بابا د دیوان مقدمه— ۱۴۶ مخ

۱۲۴ احمد نظام الدین (خواجه): خواجه نظام الدین احمد مولانا نظام الدین شیخ محمود زوی دمیرزا بدیع الزمان ددربار نوماليي مستازوزیرو، چې دهمدې میرزا بدیع الزمان په توجه له وزارته امارت ته هم رسیدلی و.

دده پلار دیره سوده دقبة الاسلام بلخ دامیرانو وزیرانو مشیرو، اودهغه تر مړینې وروسته دده زوی خواجه نظام الدین احمد دسلطان بدیع الزمان میرزا له خوا په بلخ کې دهغه وزیر او نائب و، او په (۹۰۲ ه) کال چې بلخ دسلطان حسین میرزا په لاس کښیووت نو خواجه نظام الدین احمد دسلطان حسین میرزا له خوا جه نظام الدین هرات کې دد یوان اعلی غړی وتا کل سو، خو تر څو ورځو وروسته ئې استعفا وکړه بیرته بلخ ته ولاړ، او په (۹۰۴ ه) کال چې بلخ بیا د بدیع الزمان لاس ته ورغئ د هغه دوزارت د چارو واګې بیاده ته وسپارلې سولې او بشپړ واک او اختیار ورکړه سو، او تر وزارت پورته دد یوان دامارات منصب ته ورسید، پنځه شپږ کاله ئې په ډیرې ښېوا کې دامارات تولې چارې وچلولې، خو چې په (۹۰۹ ه) کال چې امیر عمر بیګ د بدیع الزمان

میرزا مخالف او د شبرغان په کلا کی بندی سو، څنګه چی د امیر عمر بیګ او خواجه نظام الدین احمد ترمنځ اتحاد و، نو د خواجه نظام الدین احمد مقام لږ ټیټ سو، په تیره بیا چی دده رقیب خواجه کمال الدین محمد د دیوان د اشراف د چارو واګی په لاس کی واخیستلې موقع پیدا کړه چی د بدیع الزمان میرزا زړه له ده څخه بد کړی او دی ئې تر مواخذې لاندی ونیو خو د امیر شجاع الدین او التون ارغون په حمایت د ده مواخذه د یرشو تومانو نو کچکی په ور کولو پای ته ورسیدله، او تر یوه کال وروسته بیرته مقرب او د شبرغان ولایت ور وسپارل سو، هلته و لاړ او د عدل او انصاف کمبله ئې وغوړوله، څو چی د ابو الفتح محمد شیبانی خان لښکر پر شبرغان یرغل وکئی، او خواجه نظام الدین احمد ئې په دیر مړانه د فاع کوله، مګر د (۹۱۲ ه) کال د ذیحجې په میاشت چی پخپله محمد شیبانی خان ترآمو را پوری ووت او په دیر قوت ئې یرغل وکئی، خواجه نظام الدین احمد مجبور سو چی د شبرغان کلا پریږدی او د کرزوان غر و ته وخیژی، او څه مو ده وروسته د قمبر میرزا په لاس ووژل سو.

ماخذ: د دهخدا لغتنامه -۱۳۶۸ مخ

۱۱۲۵-احمد هروی: سید احمد هروی د خپل وخت له نومیالیو فاضلانو او شیخانو څخه و، له هراته هند ته تللی او د یوسف عادل شاه بیجا پوری سره او سید، او بیا د هغه د زوی اسماعیل عادل شاه په وخت کی د بیجا پوری د بهارو الی سو، او په ۹۴۱ هق کال ژوندی و.

مأخذ: نزهته الخواطر— ۴-۱۳ مخ

۱۱۲۶-احمدی: د امیر عبد الرحمن خان په زمانه کی د دری ژبی شاعر و، د امیر په ستاینه کی ئې اشعار درلود چی یو بیت ئې دادی:

نکبت عالم تمام یافت زعدل انصرام

تا که بنام خوشت کلک ازل زد رقم

ماخذ: د بهاء غلی غبار یادښتونه

۱۱۲۷-احمدی هروی : د دری ژبې تو کی ملا او شاعرو، د «مذکر احباب» تذکره دده په باب کی لیکی:

«از خوش طبعان مشهور خراسانست، مزاح بر مزاج او غالب می نموده، و اعیای هری صحبتش را طالب بوده اند، و بایشان بمطایبه پیش می آمده»

دامیر علیشیر نوایی معاصرو، او هغه وخت چی امیر علیشیر دخوا جه عبدالله انصاری دمزار شیخی و منله نوده په هغه تقریب دانظم ووایه:

ای میر کم عنایت بسیار نازمن
گازرگهی شیخ علاقه درازمن

وایی چی دملا یو څوک خوښیده، او یو وخت چی هغه چا دچغوکی سره لوبی کولې او خپله ژبه ئې دچغوکی په خوله کی ورکوله ملا په هغه مناسبت دابیتونه وویل:

ای زبان تو در دهان چغوک
وز زبان تو، تازه جان چغوک

مرد مان وا لهٔ چغوک شدند
احمدی والهٔ جوان چغوک

دابیت هم دده دی:

آگه نهٔ از نالهٔ شبهای اسیران
فریاد از ین خواب گرانی که تو داری

دمذکر احباب مؤلف لیکی چی: «ملا بخوردنی میل بسیار داشته، سرد رسیر آن کرده و با متلا مرده.

مأخذ: مذکر احباب — خطی — ۸۳ مخ

۱۱۲۸-احمدیار خان روهیله (نواب) : دنواب ذوالفقارخان زوی او دحافظ رحمت خان روهیله نمسی دی چی دنواب شجاع الدوله سره په مبارزه کی ووژل سو.

نواب احمدیار خان دنواب تجمل حسین په ر یاست کې د قاضي ابوالحسن تر معزولیدو وروسته د ر یاست د چارو نیابت پرغاړه اخیستی و.

دښوخو یواو لوړ شخصیت خاوندو، په دري او اردو ژبه ئې څو کتابونه هم لیکلي دي. د «مولود شریف» په نامه ئې د کلام دري مجموعه چاپ سوې ده.

په (۱۲۸۳ ه) کال کې د کوچني اختر په ورځ مړدی او شپږ میاشتې وروسته ئې مړی له فرخ آباد څخه بر یلي ته یو وړه سو، او د حافظ رحمت خان روهیله په هدیره کې ښخ دی.

مأخذ: تاریخ بنګښ — د «خیال حافظ رحمت خان» په حواله، چې لومړی اثر د مفتي ولي الله او دو یم اثر د سیدا لطاف بر یلوی تألیف دی.

۱۱۲۹- احمدیارخان سدوزی: د محمد نواز خان سدوزی زوی او د اسماعیل خان دد یرې دنواب شیر محمد خان نمسی و.

په ۱۹۰۱ م = ه ق - ه ش کال چې د امیر عبدالرحمن خان تر مړینې وروسته انګریزانو یوه جرګه دفاتحې د پاره کابل ته رالیږلې وه، دی د هغې جرګې غړی و.

مأخذ: د استاد رشاد یادداښت — د صحیفهٔ زرین د ۱م مخ په حواله

۱۱۳۰- احمدیارخان عاشق: د امیر الملك نواب محمد امیر خان په هند کې د ټونك د پښتون والي زوی د دري او اردو ژبو د ر ویش مشرب شاعر و، او په شعر کې ئې «عاشق» تخلص کاوه، او په طریقت کې ئې د شاه الله نور صاحب لاس نیوی کړی و.

دائې د دري ژبې د اشعار و نمونه ده:

نګاه لطف زمن داشت آن نګار دریغ

هزار حیف وصد افسوس صد هزار دریغ

●●●●●●●●●●●●●

بلوح د ل چونو یسم کتاب خندهٔ گل

زخندهٔ تو کنم انتخاب خندهٔ گل

●●●●●●●●●●●●

گه طپم می د هد وگه جگرم می سوزد

عشق هرلحظه بطرز دیگرم می سوزد

مأخذ: گلشن همیشه بهار ر- ۲۳۴

۱۱۳۱- احمدینا لتگین غزنوی: دغزنوی دوری له نومیالیو سالار انو څخه و، ده‌ یه ویل چی «زه دمحمودزوی یم» اولکه ابوالفضل بیهقی چی لیکی په بنه اوشکل کی هم سلطان محمود ته ورته و، په کرو وړوا وخبرو کی هم سلطان ته ورته و (۱).

دی لومړی دسلطان محمودغزنوی خازن، اوپه ټولو سفرو کی ورسره و، او خدمتونه ئې کړی وه (۲).

بیا د (۴۲۲ ه) کال دبرات دمیاشتی په دوهمه د سلطان مسعود غزنوی له خوا دهندوستان په سالاری وټاکل سو، اوپه ډیر شان اوشوکت، برم او جلال

---

(۱) بیهقی لیکی: «این احمد مردی شهم بود و اورا عطسه امیر محمود گفتندی وبدونیك بمانستی، و درحدیث مادر وولادت وی وامیر محمو دسخنا ن گفتندی، بوده بودمیان آن پادشاه ومادرش حالی بدوستی، حقیقت خدای عزوجل داند. و این مرد احوال وعادت امیرمحمود نیك دریافته بود درنشستن و سخن گفتن...»

(دتاریخ بیهقی - ۴۰۱ مخ)

(۲) بیهقی د سلطان مسعود له خولی لیکی:

خازن پدرما بوده است، در همه سفرها خدمت کرده و احوال وعادات امیرماضی رابدیده و بدانسته.. «د تاریخ بیهقی ۲۶۷ مخ

په صحاح ستة کې له دئ، څخه هم دحديثو روايت سوي دی .
تذكرة الحفاظ ده ته «ثقه» حافظ» او حجة» ويلی دی .
په (۲۶۴ ه) يا په (۲۶۵ ه) کال کې مړ دی .
ماخذ : کابل مجله -۳ کال - لومړی گڼه - ۲۶ مخ

۱۰۴۴- احمد بغوی

دهارون بغوی شاطبی زوی دخپل وخت له محدثانو او اديبانو څخه و .
حديثونه ئې له خپل پلار او له ابن هذيل څخه اود مکې په سفر کې ئې له مسلفی
څخه اروېدلی وو .
دی په هغه جگړه کې چې د محمد ابن يعقوب او فرنگ ترمنځ پيښه سوله اود
«عقاب پيښه » ئې بولی و رک سو .
ماخذ : ددهخدا لغتنامه - ۱۳۷۵ مخ .

۱۰۴۵- احمد بلخی

دحسن زوي اودعلی ابو حامدفقيه نمسی دخپل وخت نوميالی وعالم .
دفقه زده کړه ئې په بلخ کې کړی وه، اوچه زده کړه یې بشپړه سوه دخراسان قاضي
القضاة و ټاکل سو، ثقه اوپرهيز گار حافظ هم و . ډېر تاليفونه ئې درلودل .
د(۳۷۶ ه يا ۳۷۷ ه) کال دصفری په مياشت مړ دی .
ماخذونه : ۱ - فوائد بهيه - ۱۸ مخ .
۲ - جواهر مضيه ۱ / ۶۶ مخ
۳ - کابل مجله ۳ کال ۵ گڼه - ۶۰ رر

۱۰۴۶ - احمد بلخی

دعبدالله ابو القاسم بلخی زوی عالم و « الفتاوی » ده تصنيف دی. په ۲۱۹ ه
کال کې وفات سوی .
ماخذ : هدية العارفين - ۱ / ۳۷ مخ

له غزني څخه د هندوستان خواته ولاړ، هلته ئې دلومړي محل د پاره د بنارس ښار ونيو، ډير دولت په لاس ورغی له يوې خواته غرور ورته پيدا سو، او له بل پلو قاضي ابوالحسن علي چې هغه وخت په هند کې دمالي چارو وا کدار و، دده په باب کې پټ پټ بد رپوټونه سلطان مسعود ته ليکل او د سلطان زړه ئې له ده څخه بد اوه (۱) اوله دريم لوری ستر خواجه احمد ميوندي هم په زړه کې د احمد ينالتگين سره ښه نه و، ځکه چې د خواجه احمد ميوندي د مرافعي او مواخذې په وخت کې ئې د خواجه سره ښه رويه نه وه کړې (۲).

نو د دې دروغو او ملو په نتيجه کې احمد ينالتگين د غزني له حکومته سر واخيست او د ترکمنانو سره ئې لا رپيدا کړه، او ډير فتنې ئې راپاڅولې، نو چې سلطان مسعود مجبور سو د ده له منځه وړلو د پاره ئې د خپل دربار يو هند وسالار چې « تلک » نوميد

(۲) د دې اختلاف تفصيل هم د تاريخ بيهقي ۲۶۷ مخ کې راوړه سوی دی.

ماسور کي او هغه د لا هور په سيمه کې ترډيرو جگړو وروسته دجټانو په مرسته احمد - ينالتگين ووژه، د هغه سراوزوی ئې سلطان مسعود ته وړاندې کړل (۱).

ابوالفضل بيهقي پخپل تاريخ کې دده نوم او د ده د ژوند پيښې ټولې ځايه په تفصيل سره راوړي دي- مثلا هغه وخت چې سلطان مسعود، احمد ينالتگين د هند وستا ن په سالاری ټاکه او د ستر خواجه احمد ميوندي سره ئې په دې باب کې مشوره کوله، بيهقي د اسې ليکي:

«و پس ازين بروزی چند امير خواجه را گفت: هندوستان بی سالاری راست نيايد، کد ام کس را بايد فرستاد ؟

---

(۱) د احمد ينالتگين او د قاضي ابوالحسن علي د اختلاف سرچينه او تفصيل د تاريخ بيهقي په ۲۶۷ مخ کې تر ۲۷۰ پوري او په ۳۰۰ تر ۳۰۴ مخ پوري راغلی دی.

(۱) د احمد ينالتگين د وژلو تفصيل د تاريخ بيهقي په ۴۳۳/۴۳۴ مخو کې راغلی دی

گفت: خداوند بندگان راشناسد، واندیشیده باشد بندهٔ که این شغل را بشاید، وشغل سخت بزرگ وبانام است، چون اریارقی آنجا بوده است وحشمت بزرگ افتاده کسی باید درپایهٔ او، هرچند کارها بحشمت خداوند پیش رود، آخرسالاری کاردان باید، مردي شاگردی کرده.

امیرگفت. دلم براحمد ینالتگین قرارگرفته است، هرچند که شاگردی سالاران نکرده است، خازن پدرما بوده است، درهمه سفرهاخدمت کرده و احوال و عادات امیرماضی رابدیده وبدانسته.

خواجه زمانی اندیشید....... گفت: زندگانی خداوند دراز باد، سخت نیکو اندیشیده است وجز احمدنشایدولکن بااحمداحکامهاباید بسوگند و پسررا باید که بگروگان اینجایله کند.

امیر گفت: همچنین است، تاخواجه وی را بخواند وآنچه واجب است درین باب بگویدو بکند...» بل ځای د احمد ینالتگین تگ له غزنی څخه هندته په ډیر تفصیل راوړی چی څو جملی ئې دادی:

«امیر فرمود تاخلعت احمد راست کردند طبل وعلم وکوس وآنچه باآن رود که سالاران رادهند، وروز یکشنبه دوم شعبان این سال امیر فرمود تا احمدینالتگین را بجامه خانه بردند وخلعت پوشانیدند خلعت سخت فاخرو پیش آمد کمرزرهزارگانی بسته وباکلاه دوشاخ وساختش هم هزارگانی بود، ورسم خدمت بجای آورد وامیر بنواختش وبازگشت باکرامتی نیکو بخانه رفت وسخت بسزا حقش گزاردند.......

چون کارها بتمامی راست کرد دستوری خواست تا برود ودستوری یافت وروز شنبه پنج روز مانده ازشعبان امیربرنشست وبدشت شابهار آمدبا بسیارمردم ودرمهد پیل بود وبرآن دکان بایستاد واحمد ینالتگین پیش آمد قبای لعل پوشیده وخدمت کرد، وموکبی سخت نیکوبا بسیارمردم آراسته باسلاح تمام بگذشت ازسرهنگان و دیلمان ودیگراصناف که باوی نامزد بودند و برااثر ایشان صد وسی غلام سلطانی

بیشتر خط آورده که امیر آزاد کرده بود وبدو سپرده بگذشتند با سه سرهنگ سرا ی و
سه علامت شیرو طرادها برسم غلامان سرای و براثر ایشان کوس وعلامت احمد دیبای
سرخ ومنجوق وهفتادو پنج غلام و بسیار جنیبت وجمازه امیر احمد را گفت:«بشادی
خرام، وهشیار باش، وقدر این نعمت را بشناس، وشخص ما را پیش چشم دار، وخدمت
پسندیده نمای تا مستحق زیادت نواخت گردی»
جواب داد که آنچه واجب است از بندگی بجای آرد، وخدمت کرد واسپ سالار
هندوستان بخواستند وبرنشست و برفت و کان آخرالعهد بلقائه که مرد را تباه کردند
تا از راه راست بگشت و راه کژ رفت...»

مأخذونه: ۱- دده دژوند دنورو پیښودتفصیل دپاره دتاریخ بیهقی دې
لاندې مخو ته مراجعه وکې: ۲۶۶، ۳۰۰ تر ۳۰۲، ۳۰۳، ۳۰۷، ۳۲۳، ۳۳۳،
۳۳۴، ۳۳۷، ۳۳۸، ۳۴۵، ۳۹۴، ۳۹۷.
۲- ددهخدا لغتنامه. ۱۳۷ مخ

۱۱۳۲-احمد یار خان «یکتا» غزنوی: دغزنی دتهانه دار الله یار
خان زوی اوخنجر خان نمسی ددری ژبې پوخ شاعرو، اود ادب د استادانو سره یې
مشاعرې کولې، غراقصایداو مثنویات لرې اودمیرزا بیدل په عرسو کې به زیاتره لیده
کیده. په پای کې په غوږو کوڼ سو، په لوړ بوغ یې خبرې اورو یدلې.
په شعر کې یې «یکتا» تخلص کاوه، او په لاهور کې یو بل شاعر محمد عاقل هم
«یکتا» تخلص کاوه شخړه ور سره ونښلوله، اوده ورته وو یل چې دلاهور یانو استاد
«آفرین» دی زما او ستا تر منځ حکم سی هر یوه چې به شعروا یه دا تخلص بی
دهغه، په پای کې «آفرین» داسې فیصله وکړه:

بر ین معنی گوا هم آفر ین من
که احمد یار خان یکتاست یکتا

دمحمد شاه پاچاه پاچهي په ورستیو وختو کې احمد یار خان دپلار پر ځای دغزنی

تهانه دارو تاکل سو، او په (۱۱۴۵ ه) کال په غزنی کی مړ دی.

داغزله یی دطرح په توګه ویلی ده چی دهغه وخت ز یا ترو شاعرانو یی اقتفا کړی ده:

تاخطش طرح جهان گیری طأوسی ریخت لشکر زنگ چوروسی بسر روسی ریخت
سرمه آلوده نگاهی که بیادم آمد که سر شک شفقتی ازمژه ام طوسی ریخت شمع از
رشک رخش بوقلمون سوخت ببزم جای اشکش همه خاکستر طأوسی ریخت بر در
بتکده از ناله زارم ناقوس همه تن آب شد وازلب ناقوسی ریخت بامید یکه شود
جلوه‌گرآن سروروان خاک شد جبهه ودر راه قد مبوسی ریخت

از بسکه سرا پا زغم عشق تو دا غم
چون کاغذ آتش زده لک شهر چراغم

مأ خذ: سفینهٔ خوشگو - ۱۹۰ مخ

۱۱۴۳-احمد ین طالب: دپښتو ژ بی بزمی او مجلسی شاعرو، چی اوس هم دپښتنو په ډیر ومجلسو کې دده چاربیتی اوغزلی پرمای اوزانو په‌لوړآوا زله سازه سره ویلی کیږی.

دده دغزلیاتواورباعیاتو دیوان دده شاګرد «صحبت‌خان» چی هغه‌هم‌مشهو ر مجلسی و، چاپ کړی دی، او دد یوان په سریزه کی یې لیکلی دی چی: «داستاد احمد ین دخپلی لاس تحریر شوې کتابونه ماسره موجود دی، او س‌ ېې د هغه د شعر ددفتر نه صرف‌درباعیاتو یو جلد کتاب چاپ کړ، او دچار بیتو، غزلیا تو او نیمکیو دوهم جلد کتاب به هم چاپ کړم»

اوهم لیکی چی: »احمدین ملاصاحب، عالم‌او شاعر په اصل فرید خیل او دا شنغرد اتما نزوو، مګر دی به زیاتره په سوات کي و، او مجردو، بال‌بچ یې نه و. زه وریسی‌سوات‌ته‌لاړم شاګردېې شوم، بیاسی دځانه سره را ووست، تقر یباً

شل کاله په «مردان» کې ماسره و، بیا پس د هغې نه زما په کور کې وفات شو ،
او مزار یې اوس په مردان کې دی »

دده اشعار زیاتره تغزلي او عشقي دي ، خو اخلاقي او اجتماعي شعرونه هم لري.
دا دده د دیوان د غزلو یوه نمونه ده :

دا گلرنگ او نوراني بشر دچادی ؟
داروان قدم بو سي له نمردچادی ؟
چې زما د سنگین زړه شیشه ئې پریکړه
دالماس غوندې تیره نظر دچا دی ؟
زه لا څه چې باچهان ور پسې ژ اړي
په چهره کې د اسې شوخ اثردچادی؟
ته چې ماوته د صبر نصیحت کړې
عاشقي کې صبوري هنر دچا دی ؟
چې یود م پکښې نه صبر و نه قرا رشته
دابې صبره بې قرار جگر دچادی؟
احمد ین به په فریاد آشنا له ور شي
چې جنت کې هغه خو ږ کو ثر دچادی؟

مأخذونه: ۱- پښتانه شعرا - ۲/ ۶۷۸ مخ
۲- پښتو نستان - ۸۲ ۳ »

۱۱۳۴ - احولي سیستاني: دا کبر گورگاني باچا په وختو کې له
سیستانه هندوستان ته تللی و، آزادانه ژوند ئې کاوه ، او ددرې ژبې شاعر و-
دا بیتونه دده دي:

صبح عیدی گزراندم بی تو	که به روز شب ماتم بگر یست
کار چون بادم تیغت ا فتا د	زخم زد خنده وسر هم بگریست

مأخذ: روز روش - ۳۶ مخ

۱۱۳۵- احمد ابوسعید بلخي: د سلیمان زوی او د مبارک نمسی د حدیثو عالم و، بغداد ته تللی اوهلته ئې حد یثونه د زیاد ابی تراب له زوی یزید زاهد څخه لوستلي وو، چې بیاله ده څخه دعلي زوی عبدالصمد طستي روایت کړي دي.

ماخذ: تاریخ بغداد - ۷/ ۵۰ مخ

۱۱۳۶- اخباري بلخي: ابو محمد عبدالله دابي شعید عمر و زوی او د عبدالرحمن نمسی او دبشر کروسي او د هلال انصاري وراق اخباري کومي د خپل وخت له نوميالیو محدثانو څخه و. په بغداد کی اوسید. حدیثونه ئې د محمد مروزي له زوی حسین، او دعمرو له زوی معویة، او دمسلم له زوی عفان، او دحرب له زوی سلیمان او دنعمان له زوی شریح، او دخلیفه له زوی هوذة، او دجعد له زوی علي څخه اوریدلي وه بیا له ده څخه د محمد زوی عبدالله او دخلف زوی محمد، اود عبدالرحمن زوی عبیدالله سکري او د قاسم کوکبي زوی حسن او قاضي ابو عبدالله محاملي او نورو روایت کړی دی.

دی په (۱۹۷ ه) کال زیږیدلی او د (۲۷۴ ه) کال په څلرمه خور (جمادی الاخره مړ دی.

ماخذ: ددهخدا لغتنامه: ۱۴۸۵ مخ

۱۱۳۷- اختر خان زمینداوري: اختر محمد خان دزمینداور یو نومیالی او نکیالی غازي او مجاهد و، په ۱۲۵۵ ه - ۱۸۳۹ م کال چې انګریزانو د شاه شجاع په نامه کندهار، غزني، کابل اوجلال آباد ونیول سره له دې چې په ظاهره دشاه شجاع زوی «فتح جنګ» په کندهار کی والي و، خو د کندهار سیاسي اداره د میجرلیچ انګریز په لاس کی وه، چې بیا د ې انګریزاو مکناټن (دانګریزانو مختار نماینده) ترمنځ د نظر داختلاف له امله میجرلیچ عزل او «راولینسن» ئې پر ځای وټاکل سو، او د (۱۸۴۰م) کال دجولائي په څلرمه یې د کندهار د سیاسي چارو اداره په لاس کی ونیوله.

په دې وخت کې له هرې خوا څخه پښتنو مجاهدینو د انګریز انو پر خلاف ملا وې وتړلې او د مبارزې میدان ته راووتل چې یو یې هم دا د زمیند او ر د علیز و مشـــر اختر خان و .

انګریزانو په خپلو کتابو کې لیکلي دي چې د انګریزانو او شاه شجاع پر خلاف د زمینداور د مجاهدینو په هڅو کې د وزیر یار محمد خان الکوزي لاس هم و، چې اختر خان او آدرم خان زمینداوري ته ئې له هراته لیکلي و، چې»: زه له هراته ستاسې مرستې ته در رسیږم ، او له مشهده به اس زره تنه دد وولسو توپو او دوو لکو روپو سره زموږ کومک ته راورسیږي، او زه د یر ژرد محرمې د میاشتې په پای کې بکواته درسم ، زیار وباسې چې د در انیانو مشر ان چې سره یو ځای سوي دي تیت نه سي »

څکه نو انګریزانو فیصله وکړه چې لومړی د اختر خان پر ضد زمینداور ته لښکر وباسي او بیاد هرات خواته مخه کړي، هغه و ، چې د راویلنسن مرستیال «الیوټ» د زمیند اور خو اته و خوځید ، خو نه د جنګ ا و وینو تویو لو د پاره بلکه د اختر خان د آرا مولو د پاره، په دې و خت کې د کلات غلځي د انګریزا نو پرضد پاڅیدل او انګریزان مجبور سول بېرته خپل لښکر د زمیند ا ور له خواد کلات خوا ته وګرځوي، څکه نو اختر خان بیاد انګریزانو پر خلاف خپل جهاد شروع کې مکتانن د پر په غضب سو،او راویلنسن ته ئې ولیکل چې: هر چا چې د اختر خا ن پرشو ره سررا وور هغه ته به لس زره رو پۍ جایزه ورکړه سي او مکنا تن د ا تصور کا وه چې د اختر خان هغه یوه انفرادي هڅه ده، خبرنه و،چې هغه هڅه د ملي ا نګېزې په ا ثر را پاریدلې وه او اختر خان د یوه ملي مجاهد په حیث د انګر یز انو سره مبا رزه کوله

مآخذ: رجال ورویدادهای تاریخی ـــ ۱۷۷ مخ

۱۱۴۸ـ اختر نیکه کاکړ: په ژوب کې د کا کړ و په تبر کې یـــو نومیالی روحاني سړی تېرسوی، او د هندو باغ په شاوخوا کې د تنګي دتاني سره څنګ دی ، او اوس ئې هم نړاو ښځې زیارت ته ورځي .

مآخذ: مزارات ـ د سیال کاکړ ـ ۳۴ مخ د کویټې چاپ

۱۱۳۹- اختیار خان پامیزی: د اعلیحضرت احمد شاه بابا مهردار و، چې د هندوستان په غزاگانو کې ئې عم د احمد شاه بابا سره د نورو لسی سشر انو په دله کې برخه اخیستې وه.

مأخذ: تاریخ احمد شاهی - ۲/۸۰۳، ۳۲۶ مخونه

۱۱۴۰- اختیار الدین غوری: د اولجا یتو په وخت کې د غور له نومیالیو اسیرانو څخه و.

ماخذونه: ۱- د دهخدا لغتنامه - ۱۵۰۳ مخ

۲- ذیل جامع التواریخ رشیدی د حافظ ابرو تألیف - ۲۵ =

۱۱۴۱- اختیار خان لودی: د محمود خان یوسف خیل لودی زوی د ۷۶۱ هـ کال په پای کې زیږېدلی دی.

په ۸۰۸ هـ کال کې چې اقبال خان لودی د خضر خان سره په جګړه کې ووژل شو نو د دهلی د لودی پښتنو امیرانو یوه جرګه وکړه چې په هغو کې اختیار خان لودی هم ګډون درلوده. دې جرګې سلطان محمود له قنوجه راوغوښت او په دهلی کې ئې پاچا کې (۸۰۸ هـ) کله چې سلطان محمود پاچا سو، نو اختیار خان لودی ته ئې د فیروز آباد حکومت ورکی.

په ۸۱۴ هـ کال چې سلطان محمود د ملتان د واکمن خضر خان له لاسه د «سیری» په کلا کې کلابند سو، اختیار خان د سلطان محمود په تندی کې قسور د بخت نخښې نه لیدلې نو د خضر خان مل سو، او خضر خان ته ئې د فیروز آباد په کلا کې (چې دده تر واک لاندې وه) ځای ورکی، او په ۸۱۷ هـ کال چې خضر خان دهلی ونیو اختیار خان ته ئې د دوآبې (چې پخوا الاختیار خان پخپله نیولې وه) واک وسپاره.

د ۸۲۱ هـ کال د میاني په میاشت چې خضر خان له دهلی څخه «بداون» ته وخوځېد «بیتالی» ته نژدې چې د ګنګا تر سیند ور پوری ووت مهابت خان (چې د سلطان

محمود له امراو څخه و)د «بداون» په کلاکې کلابند سو، دا کلابندي شپږمیاشتی اوږده سوه، په دغو وختوکې خضر خان ته خبر ورسید چې: «اختیار خان لودي قوام خان او څه نوروامراؤ ستا پرخلاف ترون سره کړی دی» خضرخان سمدستی کلابندي پریښووله، ډهلی ته ئې مخه وکړه او په لاره کې ئې د ۸۲۲ هـ کال د دریمی خور اتمه یا شلمه اختیار خان لودي او نورو سره ملگری امیران د گنگا د سیند پرغاړه په یوه مجلس کې ووژل.

ماخذونه: ۱- لودي پښتانه - داستاد رشاد لیکنه- ۴۴ مخ

۲- ماثر رحیمی- ۱ /۳۹۹ رر

۳- تاریخ فرشته-۱/۱۶۲ رر

۱۱۴۲-اختیار الدین هروی: دغیاث الدین حسینی هروی زوی د نهمی هجری پیړی دپای او د لسمی هجری پیړی د سر له نو میالیو پوهانو او د دری ژبی له شاعرانو څخه و.

په فقه او عربی علومو کې ئې لوی لاس درلود، او د سلطان حسین بایقرا په وختوکې د هرات قاضی و.

امیر علیشیر نوائي ئې په «مجالس النفائس کې» د اسی ستاینه کوی:

سید پر تمکین ووقارا ست و مد تی در مسند قضا بود، و هیچکس را قدرت اعتراض براو نبود، و سجلات خوب در غایت استحکام ونهایت فصاحت و بلاغت می نوشت، و در کمال تقوی و طهارت بود و کسی در شان اوسخنی نگفته غیر از اینکه مولانا بسیارزحمت می کشد تادستار خودرادانشمندانه می بند د وبارگران برسر می کشد (۱)» ده څو کتابونه لیکلی دی چې مشهوره ئې دا وو:

---

(۱) مجالس النفائس- ۹۵، ۲۷۱ مخونه

۱- اساس الاقتباس : چې د سلطان حسین بایقرا په غوښتنه ئې تالیف کړی او د کشف الظنون د مؤلف حاجي خلیفه په قول ئې د (۸۹۷ ه) کال درجب په پای کې پای ته رسولی دی چې په (۱۲۹۸ ه) کال په ۱۹۸ مخو کې په آستانه کې، او په (۱۳۲۳ ه) کال په ۱۷۳ مخو کې د مصر په مطبعه السعادة کې چاپ سوی دی.

۱- المقامات: چاپ سوی نه دی.

۳- مجالس الملوک

امیر علشیر لیکي : هغه وخت چې د پای حصار د حوض کار بشپړ سو، ده ئې داسې تاریخ په نظم کې :

حوضیست که خواهم از صفایش گویم
صد بار دهن باب حیوان شویم
هرچند که هست منبعش چشمهٔ خضر
تاریخ وی از «ساقی کوثر» جویم
(۸۹۷ ه)

په (۹۲۸ ه) کال مړ دی .

ماخذونه : ۱- مجالس النفائس -۹۵، ۲۷۱ ررر
۲- الاعلام - د زرکلي - ۲/ ۲۷۴ رر
۳ - هدیة العارفین- ۱ / ۳۱۷ رر
۴ - آداب اللغة - ۳/ ۱۳۰ رر
۵ - فهرس دار الکتب - ۱ رر
۶- کشف الظنون - ۱/ ۸۹ رر

۱۱۴۳-اخطب هروی: خواجه عبدالله اخطب د سلطان ابوسعید میرزا او بیا د سلطان حسین میرزا په وخت کې دخراسان نومیالی وزیرو. د هغه الیکلی

۱۰۴۷-احمد بن الحسن بلخي: شيخ احمد د حسن زوی او د حسين بن محمد او د سعزالدين بلخي کړوسی د خپل وخت د فقه لوی عالم و د ۸۲۹ هق کال د روژې د مياشتی په ۲۷ زېږيدلی او د ۸۹۱ ه ق کال د لومړي خور (ربيع الاول) په ۲۰ د هند په بهار کی مړ او ښخ دی.

دی د هند د بهار په ولايت کی اوسيد عقائد النسفيه ئې د عقه د شرح سره له خپل نيکه حسين څخه لوستی او نور کتابونه ئې له خپل پلار څخه زده کړی وو.

حج ته تللی او له حج څخه بيرته هند ته راغلی او د پلار د شيخی پر سجاده کښيناستلی و، او په لنگر دريا مشهورو.

مأخذ: نزهته الخواطر - ۶/۳ مخ

۱۰۴۸-احمد بن حسن ميوندی: ابولقاسم يا ابوالحسن خواجه احمد د حسن ميوندی زوی ملقب په «شمس الکفاة» او مشهور په «خواجه بزرگ» د کندهار د ميوند (۱) اوسيدونکی د سلطان محمود د غزنوي او د هغه د زوی سلطان مسعو د غزنوی د دربارو يو نوميالی ستر او مقتدر وزيرو.

دده پلار «حسن» د سبکتگين په وخت د هيله د بست د سيمی عامل (وا کوال) ؤ او پخپله احمد د سلطان محمود غزنوی

سره ديوه تی شيدې رودلی وې او د هغه رضاعی وررروه او په کوچنيوالی هم د محمود غزنوی سره يوځای روزلی شوي و.

په (۳۸۴ ه) کال چی محمود غزنوی ته د خراسان امارت وسپارل شوه نو احمد يې د ديوان رسائل مشرو ټاکه، او بيا د بست او رخج عامل (واکوال)، او وروسته د

(۱) ميوند د کندهار او هيلمند ترمنځ هغه مشهوره سيمه ده چی په (۱۲۹۷ ه = ۱۸۸۰ م) کال د افغان او انگريز مشهوره جگړه هلته پيښه شوې او انگريزانو له پښتنو څخه چی د غازی محمد ايوب په مشری ئې له خپلی خاوری څخه دفاع کوله ماته وکړه.

«او در اوایل حال بکسب فضایل وطلب علوم اشتغال می نمود وبالاخره بملازمت مایل شده میرزا سلطان ابو سعید شغل وزارت را بوی تفویض فرمود وخواجه درآن منصب بتمکن تمام و استظهار مالا کلام دخل کرد وباندک زمانی ریاض جاه وجلالش روی بحضرت ونضارت آورد . . » بیاچی سلطان سعید ولاړ او سلطان حسین میرزا په خراسان کی پاچا سو، نوهغه هم دوزارت چاری ده ته وسپارلې ـ خو هغه وخت چی سلطان حسین میرزا دمیرزایادگار دمخنیوی د پاره چناران ته ولاړ او خواجه عبدالله اخطب دهغه په امر دهرات په دارالسلطنه کی پاته سو، نوبیا خلکوئې په ظلم او تیری لاس پوری کی ، او دد ستور الوزرا دمؤلف په قول :

«ابواب ظلم وتعدی بروی رعایا بگشاد و آغاز سر شمار کرده بیچارگان را بطلاق وایمان مغلظه سوگند میداد که از نقد و جنس آنچه در تحت تملک دار بدمفصل نموده بدیوان آرید تا فرا خور آن زر تحمل کرده شود ـ لاجرم کار صغار وکبار با ضطرار انجامید وآه دل دردمندان باوج هفتم آسمان رسید ـ بیت :

زبس بالا گرفت افغان وفریاد

صدا در گنبد فیروزه افتاد »

هغه و، چی ځینو خلکو بلواوکړه ، اویو سهار چی خواجه عبدالله دمیرزا شاهرخ دارالعداله ته دظلم داور بلولو دپاره تی دبازار له شاو خوائې په ډبرو و پشتا و خواجه په لطایف الحیل ځان له هغی مهلکی څخه وژغوره اوپه یوه گوښه کی پټ سو، اوچی داخبر دسلطان حسین میرزا غوږ ته ورسید دخواجه دنیولواو قید فرمان ئې صادر کی ، او چی خواجه په هغه فرمان خبر سو فرارئې پرقرار غوره وباله دحصار شادمان خواته وتښتید او دهغه ځای امیر، میرزا سلطان محمود دخپلی وزارت چاری ورو سپارلې اوخواجه عبدالله بیادوزارت پرمسند کښېنوست او تراوږدې مودی پوری

هلته وزیرو. خودځوند په پای کې چې د تر سنددولایت د نیولود پاره تر آمو پورې ووت په آمو کې ډوب اوسړسو.

ماخذونه : ۱- دده خدا لغتنامه - ۱۸ ، ۵ مخ

۲- د ستور الوزرا - ۳۹۰ رر

۱۱۶۴- اخفش اوسط بلخي : ابوالحسن سعید د مسعده بلخي زوی مشهور په «اخفش اوسط» دنحو ستر امام او د لغة او ادب نومیالی پوهاند و. له بلخه د علومو درده کړی دپاره بصرې ته تللی ځکه نوله بصریانو څخه ګڼلی سوی دی. دنحو دستر پوهاند سیبویه ملګری او شاګرد و. او ځنګه چې تر سیبویه مشر و، نودهغه استادان ئې هم لیدلي او زده کړه ئې ځینی کړې ود.

اخفش تر لنډې سودې وروسته د نحو په علم کې دوئی عالم سو، چې دده استاد سیبویه به هیڅ یوه مسئله دده بې مشورې پخپل کتاب کې نه ثبتوله.

په لوړی سر کې ئې دی «اخفش اصغر» باله خو چې علي بن سلیمان اخفش منځ ته راغی، دی په «اخفش اوسط» مشهور سو او علي ئې «اخفش اصغر» وباله.

وایي چې دی د سیبویه د کتاب واسطه دی، ځکه سیبویه خپل کتاب چاته نه دی ویلی بلکه د سیبویه تر مړینې وروسته خلګو د سیبویه کتاب له «اخفش اوسط» څخه ولوست، چې له هغو څخه ابو عمر الجرمي او بل ابو عثمان المازني و.

اخفش د سیبویه کتاب ډېر ستایه، جرمي او مازني ته بیره پیدا سوه چې شایې داخفش د ستاېلو غرض داوچې د سیبویه کتاب ځانته منسوب کړي نوئې دا فیصله وکړه چې هغه کتاب پر اخفش و وایي او بیا دا ګډه کړي چې کتاب دسیبویه دی، نو هغه کتاب ئې پر اخفش ولوست چې ټول ئې ځینې زده کړ نو بیائې وو بل چې دا کتاب د سیبویه دی اخفش به ویل چې «سیبویه پخپل کتاب کې داسې څه نه دی لیکلي چې ماته ئې نه دی ویلي او زه پوهېدم چې هغه وخت دی تر ما اعلم و، خو نن په دغه علم کې تر ده اعلم یم»

اخفش وایي چي:«سیبویه د کسائي سره مناظره وکړه او راوګرځید، ماته ځیرسو او هغه پیښه ئې راته وویل بیانو دی اهواز ته ولاړ او زه بغداد ته ولاړم، په کسائي پسي می د سهار د نمانځه اقتدا وکړه، چی له نمانځه وزګار سوو، کښېنو ست، فرأ او احمر او ابن سعدان هم دده سره وو، ماسلام ورواچاوه، او سل مسئلې می لـه هغه وپوښتلې، د هری مسئلې جواب چی به ئې راکاوه ماتې ردوایه، د کسائي ملګرو غوښته پر ما حمله وکړی خو کسائي پرې نه ښوول او چی پوښتنی خلاصی سولې نوماته ئې وویل :

«ستادی په خدای قسم وی چی ابوالحسن سعید دمسعده زوی نه یې؟»

ماورته وویل:«هو، یم!»

نور اولاړ سو، او زه ئې په غیږ کی ونیولم او د ځنګ سره ئې کښېنولم، اوماته ئې وویل:«زه څو زامن لرم، خوښه می داده چی هغوی ستا څخه ادب زده کړی، نو زما څخه مه بېلېږه »

ما ورسره ومنل او بیامی دده په غوښتنه یو کتاب «معاني القرآن» تألیف کی،

او هم ئې په پته د سیبویه کتاب پرما ووایه»

اخفش په ادب کی هم تر دې حده لوی لاس درلود چی د خلیل پر عـروضي بحروئې یو بل د«خبب» یا«سجتث» په نامه بحر زیات کړي دی چی‌په دی حساب ئې د خلیل پنځلس بحره شپاړس بحره کړه .

دده د مړینې په نیټه کی اختلاف دی څوک ئې(۲۱۰ ﻫ) ځینې ئې (۲۱۱ ﻫ) او بعضی ئې(۲۱۵ ﻫ) او ځینې ئې(۲۲۱ ﻫ) کال ګڼي.

دده مشهور تالیفات دادی:

۱ـ کتاب الاوسط ـ په نحو کی.

۲ـ کتاب تفسیر معانی القرآن.

۳ـ کتاب المقاییس ـ په نحو کی .

۴- کتاب الاشتقاق.

۵- کتاب الاربعة.

۶- کتاب العروض.

۷- کتاب المسائل الکبیر.

۸- کتاب القوافی.

۹- کتاب الملوک.

۱۰- کتاب المسائل الصغیر.

۱۱- کتاب معانی الشعر.

۱۲- کتاب وقف التمام.

۱۳- کتاب الاصوات.

۱۴- کتاب الغنم والوانهاوعلاجها و اسبابها.

۱۵- کتاب اللامات - په قرآن کی.

۱۶- شرح ابیات المعانی.

مأخذونه: ۱- الاعلام- د زرکلی-۳/۱۵۴ مخ

۲- وفیات الاعیان - ۱/۲۰۸ رر

۳- مرآة الجنان - ۲/۱۶ رر

۴- ریحانة الادب _ ۱/۹۰ رر

۵- معجم الادبا - ۲/۲۴۲ رر

۶- روضات الجنات_ ۳۱۳ رر

۷- المعجم فی معاییر اشعار العجم - ۲۷ رر

۸- لغتنامه — ۱۵۲۰ رر

۹_ بغیة الوعاة سیوطی - ۲۵۸ رر

۱۰- کابل مجله-۳ کال -۱۲ گڼه ۶۲ رر

۱۱۴۵-اخلاص قلي خان هوتك: په ۱۱۷۲ هـ ق کال چې احمدشاه بابا د هندوستان غزاته تللی و، اخلاص قلي خان هوتك د احمدشاهي لښکر دقراولانو سر کرده او مشرو ، چې په جګړه کې د احمد شاه بابا پر ښی لاس ولاړ و .

مأخذ: تاريخ احمد شاهي - ۲/ ۱۴۴ مخ

۱۱۴۶-اخمشا دغزنوي: دعبدالسلام زوی او دمحمود ابوالمکارم غزنوي نمسی د خپل وخت له نوميالیو فقها و ، او وا عظانو څخه و .

له غزني څخه اصفهان ته ولاړ ، او هلته به ئې دهری چارشنبې په ورځ د وعظ مجلس جوړاوه . په (۵۵۲ هـ) کال کې مړ دی .

مأخذ: کابل مجله - ۳ کال — ۵ګڼه — ۶۲ مخ

۱۱۴۷-ادريس بلخي: د خالد زوی په بغداد کې او سید ، او هلته ئې حديثونه د نضرواسطي له زوی جعفر څخه لوستي، اود حدیثو نوميالی عالم و ، چې بیا له ده څخه د عمر زوی محمد جعفي روايت کړی دی .

دا لاندې حديث ده له جعفر څخه او جعفر له اسحاق ازرق څخه او هغه له مسعر څخه ، او هغه د عروة له زوی هشام څخه ، او هغه له خپله پلاره ،او هغه له عايشې څخه روايت کړی دی، هغې ويلي دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي دي چې: له چا څخه چې د جمعې لمونځ قضا سي، نيم د ينار دې صدقه و رکړي »

مأخذ: تاريخ بغداد - ۷ / ۱۵ مخ

۱۱۴۸-ادريس (ملا او قاضي) : ملا ادريس د احمدشاه بابا دو ختو خور ا ستر عالم اود هغه شهنشاه د زمانې امام اود احمدشاهي عسکرو قاضي و، چې د «تاريخ احمدشاهي » مؤ لف محمو د الحسيني د «شيخ الا سلام» په لقب ياد کړی دی او ده په ستاينه کې يې ويلي دي:

بفضل و بدانش ندارد نظير

بود طفل در مکتبش چرخ پير

ملا ادریس د احمدشاه بابا ندیم او مصاحب هم و، او داحمد شاه‌بابا سره په زیاترو سفرو کی ملگری و، او احمد شاه‌بابا تر دي اندازی‌ور باندی باور درلودچی په ۱۱۷۸ ه ق کال کی احمد شاه بابا وزیر شاه‌ولی خان له‌وزارته لیری کی‌دهغه وزارت ټول کارونه ئي ملاادریس ته وسپارل ، محمودالحسینی داحمدشاه‌باباسنشی هغه موضوع د اسی لیکی :

«چون قامت قابلیت واستعداد جناب فضیلت مآب ،رکن السلطنته القاهره، و عضدالدولته الباهره، خان والاشان شریعت پرور، سرحلقهٔ ارباب فضل‌وهنر ، منبع الجودو الاحسان ، مقرب الخاقان ملا ادریس خان قاضی عسکر فیروزی اثر ، بحلیهٔ خیراندیشی و کفایت رسانی آراسته وبحلهٔ امانت و د یانت پیراسته بود، زمام قبض وبسط مهمات‌ومهام رتق‌وفتق امورات‌را بکف کفایت آن مقرب پایهٔ‌سر یرخلافت‌سپرده برپایه‌قدرو منزلت‌او افزودند،و عالیجاه معظم‌الیه نیز باقتضای خلوص نیت‌وصفای طویت‌وتمشیت هرامری ازاموروسعی موفور بدر جه ظهور رسانیده وآسا یش وآرام‌را در شریعت‌بندگی وفدویت برخودحرام دانسته‌و سیما بوار درا نجام‌هر کار بیقرار بوده پروانه‌آسا درپای‌این شمع انجمن‌جهان‌افروزی جان‌نثاری ودل‌سوزی می‌نمود(۱)»

قاضی‌ملا ادریس د ۱۱۷۹ ه ق کال‌د روژې‌د میاشتی پر پنځه‌و یشتمهٔ د پنجشنبی په‌ورځ‌د هندپه‌انباله کي‌وفات‌سو،اوده په‌مړینه احمدشاه‌باباخو را زیات‌خوا شینی سو،او محمود الحسینی ئي په‌ویرنه کی‌دابیتونه وویل:

د ریغ آن سرا فرازوا لاگهر
نوا زندهٔ اهل فضل و هنر

د ریغ آن شریعت پنا هی که بود
د لش کان علم و کفش بحر جود

---

(۱) تاریخ احمد شاهی-۲-۷۰۵مخ

د ریغ آن که بود ی بهر صبح و شا م
بر آ ر نده حا جت خا ص و عا م

د ریغا ا زا ن خا ن اد ر یس علم
که بحر کر م بو د و هم کو ه حلم

د همدې سلا ادریس خان ورورقاضي فیض الله خان پیاد احمدشاه بابادزوی تیمورشاه پوونکی اوصاحب

ماخذ: تاریخ احمدشاهی -۲/۵۷۰، ۵۷۶ او نور مخونه

۱۱۴۹-ادی ببو. د کندهارپه ښارکی یومشهور مجذ و ب سړی و، چی د هغه ښارزیاتو خلگوورته عقیده درلودله ،اوپدغې کمیس به ئې اغوستې و ،سر تور سربه گرځید،او کله به ئې رخچپنه سر رله .له خان او جهانه خبرنه و،څه رنگه چی ده په شاکیدو سره ئې زیاته مینه درلودله نوزیاترو اخلاصمند انوبه په شاگرځاوه وایې چی د موسیقی داوریدو زیات شوقی و،حتی داوبوله شور هاری څخه ئې لاخوند اخیست .

دده د کرا متو په باب په کندهار کی ډیری خبری سوی، لوخبری ئې کولی خو وایی چی د کندهار د محینو صاحب حالو خلگوسره ئې خبری کولې او د هغوخبرو څخه ئې داسی اتکل وهلی سوی دی چی د ملا متیه له طبقې څخه و .

په ۱۳۲۶ ه ش کال په کندهار کی مړدی او د کابل دروازې د باندې د شهید انوسره ښخ د ی .

ماخذ: کندهار مشا هیر- ۳۲۰مخ

۱۱۵۰ -ادیب پیشاوری : ا حمد دسیدشهاب الدین (مدعوبه سیدشاه- بابازوی چی دسیر اوسلوک په لاره کی ئې د کورنی نسبت سهرور دی ته رسیږی د دری ژ بی نومیا لی ادیب اوشاعر و، اوپه عربی ژبه ئې هم شعر و ایه .

د(۱۲۶۰ ه ق) کال په شاوخوا کی په پیښور کی زیږیدلی، لومړنی زده کړه

ئې دخپل پلار ترپاملرنې لاندې بشپړ کړه لکه دې چې پخپله په قیصر نامه کې وایې:

بهنگام خرد یم فرخ پدر
که باداش روان شاد مینوي در

بیک پر هنر پارسا یم سپرد
چو مه گشت نوما هیا نه شمرد

که تا جان بدانش سرا فروزدم
ز هر گونه دانش بیاموزدم

سوی دانش آموز هر بامداد
روان گشتمی چست چون تندباد

خجسته دم آموزگاری مرا
بپرورد جان روزگاری مرا

ز خورشید دانش چو پرتو گرفت
هیولای جان صورت نو گرفت

چنان چونکه تن زنده گردد بجان
بدانش بود زنده جان و روان

پس آموزگارت مسیحای تست
دم پاکش افسون احیای تست

تر اومړنی زده کړې وروسته هغه وخت چې دپښتنو او انګریزانو په یوه جګړه کې دده پلار او داکا زامن او خپلوان ئې شهیدان سول نو ادیب د خپلې بو ړې مور سره چې «مهدعلیا» نومېږ له خدای په امانی وکړه ځان ئې کابل ته راورساوه، دوه کاله دلته په کابل کې پاته سو، اودآخوند ملامحمد آل ناصر څخه ئې خپله علمي زده کړه بشپړوله؛ بیاله کابله غزنې ته ولاړ اودسنائې دمزار په مجاورت او بیا دسلطان محمد غزنوی پر مزار دفیروزه په بڼ کې اوسیده اودوه نیم کاله ئې په

غزنی کی دملا سعد الدین څخه زده کړه وکړه، بیاله هغه ځایه هرات ته ولاړ او
څو واس میاشتی په هرات کی و، بیادشیخ جام مزار ته ولاړ اوڅه موده بالا یو کال
هلته پاته سو، اوپه ۲۲ کلنی کی مشهد ته ورسېد اوهلته ئې د حکمت او ریاضی
علوم له میرزا عبدالرحمن او فلسفه اوعقلیه علوم ئې له شیخ الاسلام آخوند
ملا غلام حسین څخه ولوستل په تیر ئې بیا په ادبیه علومو کی خورا زیار و یوست
اودخپل فطری ذوق اوذکا په اثر ئې په دې فن کی لوی لاس وموند اوپه (۱۲۸۷ ه ق)
کال په سبزوار کی داستاد الحکمأ حاج ملا هادی سبزواری د درس په حلقه کی
شامل سو، دهغه حکیم دژوند دوه وروستی کلونه ورسره و، اوبیا د هغه حکیم په
لاربوونه دهغه دزوی آخوند ملا محمد محضر ته ورغئی اوهم دآخوند ملا اسماعیل
له محضره مستفید سو، اودحاجی سبزواری تر مړینی وروسته بیرته مشهد ته ولاړ او
دمیرزا جعفر په مدرسه کی میشته سو. په دې وخت کی ئې نو په فضل شهرت
وموند اود «ادیب» په لقب یاد سو، اوپخپله ئې دافادې کمپله وغوړوله .

په (۱۳۰۰ ه ق کال تهران ته ولاړ او دژوند تر پایه هلته و، څو چی د
۱۳۴۹ ه ق کال دصفر په دریمه نېټه دیوی میاشتی د گوزڼ (فلج) تر نا روغی
وروسته وفات اود امامزاده عبدالله (حضرت عبدالعظیم) په هدیره کی ښخ کړ سو،
او دهغه وخت شاعرانو ده په وړ له کی ډیر اشعار وویل:

ادیب خپل نیوی (۹۰) کاله ژوند دفضائلو زده کړی اود نفس تزکیې ته داسی
وقف کړی و، چی حتی دژوند ترپایه مجرد اوسید اوښځه ئې ونه کړه .ددنیا له دارائی
څخه ئې بې له څو توکو کتابو بل څه نه درلودل، ده دابن سینا شفا او اشارات
پخپل قلم لیکلی اود اشارات ترجمه ئې په دری ژبه هم پیل کړې وه خو ژوند
ورسره وفا ونه کړه چی هغه بشپړ کړی .

دژوند په وروستیو کلو کی ئې په دری ادب کی خاقانی، ناصرخسرو، سنائی اوپه تیره ئې
بیا دمولوی بلخی مثنوی ته مخصوصه توجه درلود له .

دده دیوان (۲۰۰۰) دری بیتونه او (۳۷۰) عربی بیتونه درلو دل، اوهم ئې دوې رسالې یوه‌داوایه بدیهیاتو قضایاوپه بیان کې اوبله ئې دناصر خسرو دد یوان په تصحیح کې دديوان پایخوړوي‌چې‌داد یوان ئې په (۱۳۱۲ ه) کال په تهران کې دعبدالرسولي په همت چاپ سوی دی .

دده بل منظوم کتاب «قیصرنامه» په متقارب بحر دلو مړی جهانی جګړی دپیښو په‌باب کی ده‌چی تر(۱۴۰۰۰) زیات بیتونه لری خوچاپ سوی‌نه دی .

ادیب پرآزادی‌اووطن پالنی مین‌و،اودده‌په‌اشعاروکی‌دوطن‌او خپلوا کی مینه زیاته ښکاریږی .

دالاندی‌اشعار دده د کلام‌دنمونی په‌توګه راوړه کیږی :

یکی ګل در این نغزګلزار نیست
که چیننند وازان دو صد خار نیست

منه دل بر آوای نرم جهان
جهان را چوګفتار کردار نیست

مشو غره بر عهد و زنهار روی
که نزدیك وی عهدو زنهار نیست

زپیکان این بسته زه بر کمان
ندیدم یکی دل که افګار نیست

کدامین زدو ده دل ازغم کز و
سرانجام بر دلش زنګار نیست

فرو بند جنبنده لب از ګله
که این بد کنش رازکس‌عارنیست

مستوفی الممالك اود نظامی دیوان عرض (۱) دمشر په حیث و تاکل سوءخوچی په (۴۰۴ ه) یا په (۴۰۵ ه) کال ترابوالعباس فضل ابن احمد اسفراینی وروسته دسلطان محمود غزنوی له خوا د وزارت چاری وروسپارلی سوې اوتر (۴۱۶ ه) کال پوری د سلطان محمود په دربار کی د بشپړ واك خاوند وزیرو ، او په ډیرښه تد بیر او سیاست د وزارت چاری اداره کولې، اودده دښه تدبیراوپاخه سیاست په اثر و ، چی سلطان محمود غزنوی خوارزم تر خپلی اغیزې لاندی کی، اودده نوم هلته په خطبو کی جاری سوء چی ابوالفضل بیهقی هغه پیښه په خپل کتاب «تاریخ بیهقی» کی په تفصیل سره لیکلې ده، اوله هغی لیکنی څخه ځرګندیږی چی علامه ابوریحان بیرونی چی هغه وخت د خوارزم په دربار کی و ، هم داحمد بن حسن میوندی د هغه ښه تدبیر ستاینه کړې ده، اود بیهقی په قول هغه وخت چی ستر خواجه احمد میوندی امیرابوالعباس خوارزمشاه ته پیغام واستاوه چی ښه داده چی هلته دسلطان محمود په نامه خطبه وویله سی ، ابوریحان بیرونی امیرابوالعباس ته داسی وویل :

«... سخن و زیر (مقصود احمد میوندی دی) بغنیمت گیر که گفته است این بنبرع می گوید و بر راه نصیحت ... » (۱)

اونور داسی ډیر مهم کارونه یې وکړه، څرنګه چی ددولتی چارو په اداره کی خورا زیات ټینګ او کلک و، اودبیت المال له حقوقو څخه یې کلکه حمایه او ساتنه کوله ، او د هغه وخت دغزنوی دولت دمعمولو اصول برخلاف یې د دربار هیڅ مقتدر او واکمن سړي ته اجازه نه ورکوله چه له بیت المال له بده استفاده وکړی ، او نه په دولتی چارو کی په ناحقه د چا ترا غیزې

---

(۱) دیوان عرض : داوسنی وخت د جنګ دوزارت او یاد دفاع د وزارت حیثیت درلود.

(۱) د دې پیښې تفصیل دتاریخ بیهقی (د دکتور غنی د تهران چاپ) په ۶۷۰ مخ تر ۶۷۷ مخ پوری را وړه سوې دی.

کسی کو گله آرداز بد گهر هم از بد گهر کم بمقدار نیست
گهی قیرگون گه‌چو روشن چراغ
جز این دو جها نرا دگر کار نیست

ستوهی فزاید مکر رهمی
چرا دلت رنجه ز تکرار نیست

دراز است طومار گردون ولیك
نگارش بجز درد وتیمار نیست

قلم زن نزد خامه در آشتی
طرازش بجز جنگ و پیکار نیست

چو دیوانه آشفته تازد همی
مگر بر سرش میر و سالار نیست

چو رخش تهمتن گسسته مهار
چو شبدیز کش بر سر افسار نیست

ازین پرده بیرون سرا پرده ایست
مرا و ترا اندر آن بار نیست
رونده برفت و بمن اید ر بجای
که راهش درشت است وهموار نیست

چی بیدار چشم وچه‌خوابیده چشم
کسی کش‌دل از علم بیدار نیست

در این شهره بازار بر مشتری متاع مرا کس خریدار نیست

دده نوراشعار دی دده‌په‌دیوان کی واوسئل سی‌چی له هغو څخه‌ده لوړافکار
په هر گند یږی.

ماخذونه:- ۱-دده‌هخدالغننامه - ۱۵۸۱ مخ

۲-دادیب د دیوان مقدمه —

۱۱۵۱-اذاجا آخوند: ملا اذاجا آخوند د ملا جمعه خان زوی په ختیه باپړ، د کندهار د پنجوائی د پاشمول په کلی کی اوسیده، او د خپل وخت نو مخالی عالمو د یر شاگردان ئی درلودل. د امیر عبدالرحمن خان په وختو کی سړ او په کندهار کی ښخ دی.

ماخذ: خصوصی یادداښت.

۱۱۵۲-ارباب بدخشی: مولوی ارباب د بدخشان له نو میالیو شاعرانو او پوهانو څخه و. متداوله علوم ئې په بخارا کی لوستی او په دری ژبه ئې شعر وایه. په اشعارو کی ئې «محزون» تخلص کاوه او د شعرونو بشپړ د یوان ئې درلود. په (۱۲۷۷ ه ق) کال د بدخشان په کشم کی سړ او هلته ښخ دی.

مأخذ: ارمغان بدخشان - د مرحوم عبدالله بدخشی اثر.

۱۱۵۳-ارتگین سالار او حاجب: د سلطان مسعود د غزنوی له نو میالیو امیرانو څخه و، چی ابوالفضل بیهقی ئی په خپل کتاب «تاریخ بیهقی» کی ځو ځا یه د «سالار سرای» او «امیر» او «حاجب بزرگ» او «حاجب سرای» په القابو یادوی، او د (۴۳۰ ه) او (۴۳۱ ه) کلو د سلجوقیانو سره په جگړو کی ئې د سلطان مسعود په لښکر مهمه برخه اخیستی وه. بیهقی لیکی: «وارتگین را برساقه فرمود باسواری با نصد سرایی قوی تر وسواری پانصد هند و وگفت هشیار باش تا بنه را خللی نهفتد وراه نیک نگاه دار تا اگر کسی بینی از لشکر ما که از صف باز گردد. بر جای میان بدونیم کرده آید، گفت چنین کنم وبراند...» بل ځای لیکی: «وارتگین حاجب سرای خلعتی فرمود فاخر...» او بیا د ۴۳۱ ه کال په سړو کی د سلجوقیانو سره په جگړه کی لیکی: «... وارتگین حاجب با غلام پانصد سرایی برفتند بتاختنی سخت قوی..»

بل ځای د بکتغدی له خولې لیکی چی سلطان مسعود ته دده په باب کی وایی: «ارتگین سخت بخرد وبکار آمده است و جزوی نشاید که باشد..»

بیاد ۴۲۳ ه کال دذوالقعدې دمیاشتې په پېښو کې چې ارتگین ته دسرهنګ سالارۍ سپارله کېږي لیکي:

«و روز چهار شنبه پنج روز مانده بود از ذوالقعده، دو خلعت گرانمایه دادند یکی بزرگ حاجب را و ارتگین حاجب را، از آن بلکاتگین حاجب بزرگی و از آن ارتگین سالاری غلامان وبخانه ها باز رفتند وایشان را حقی نیکو گزاردند وهرروز بدرگاه آمدندی باحشمتی وعدتی تمام»

د(۴۲۳ه کال دمحرم دمیاشتې په لسمه دیکشنبې په ورځ چې سلطان مسعود بیا خلعتونه ورکول دارتگین په باب داسې لیکي: «روز یکشنبه دهم ماه محرم امیرمودود ووزیر وبدرحاجب بزرگ وارتگین سالار ودیگران را خلعتها دادند سخت فاخرچنانکه بهیچ روزگار مانند آن کس یاد نداشت»

نوټ: دتاریخ بیهقي په پای کې درجال په فهرست کې دوه ارتگینه یوه «ارتگین» اوبل د «لا ارتگین حاجب سرایي» په نوم راغلي دي، خوڅنګه چې پېښې او کلونه سره یو دي نو ښايي چې دا دواړه یو سړی وي چې کله سالار او کله حاجب سوی دی.

بیادې هم دتاریخ بیهقي دې مخو ته رجوع وسي:

۳۷۹، ۵۷۲، ۵۷۳، ۶۰۳، ۶۰۳، ۶۱۹ تر ۶۲۲، ۶۳۸، ۶۵۱، ۶۵۳، ۶۵۷ .

۱۱۵۴-ارجمند آزاد بدخشي

: دمیرزا عبدالغني بیګ قبول زوی او د ملا شاه بدخشاني له خپلوانو څخه و. درستاق دابل کا شان په کلي کې اوسېده خو په کشمیر کې زېږېدلی و.

ددرې ژبې شاعراو په شعرونو کې ئې «جنون» تخلص کاوه ـ دابیت دده دی:

با غبان گل نگرفتم زمن آزرده مشو

پاره های جگرخویش بدامان کردم

مأخذ: چراغ انجمن — ۸۳مخ

۱۱۵۵- اردوشاه غرجستانی: د سلطان حسین میرزا او شهزاده محمد زمان میرزا دوختولو نو بیالیو امیرانو څخه و، چی د شهزاده میرزا محمد زمان تر سیوری لاندی دخراسان دوالی زینل خان پرخلاف پاڅید، بیائې پرهر یرود و شاغلان یرغل وکی اوله هغه ځایه ئې د هزاره پر قبیلې حمله وکړه، ډیراسان او پسونه ئې ځینی اولجه کړه، بیائې پر غور یرغل وکی او د هغه ځای له حکمرانانو امیر درویش او امیرفخرالدین څخه ئې راهروه اسان او بارورونکې او ښان او نفیس کالی وا خیستل، او د خپل مخدومزاده (محمد زمان میرزا) سره په ډیر شان او شوکت د چغچران خوا ته ولاړ، هلته ئې واوریدل چی دبلخ حاکم دیو سلطان د بلخ ښار محمد بهارلو ته سپارلی دی څکه د (۹۲۱ ه) کال دروژې په بیاښت د محمد زمان میرزا سره دبلخ دنیواو په نیت له چغچرانه دلوی لښکرسره د سان و چاریک خواته و خوځید او د روژې په پای کی هغه کلی ته ورسید او اختر ئې هلته تیر کی، بیا د جز ددری له لاری بلخ ته ورسید، بلخ ئې کلابند کی او بیا ئې ونیواو امیر محمد بهارلو اطاعت ته غاړه کیښیښوو له.

امیر اردو شاه محمد زمان میرزا سره د وی نیمی میاشتی په بلخ کی و، بیانو امیر اردوشاه د قبته الاسلام بلخ حکومت خپل ورور قوام بیگ ته و سپاره او د شبرغان ولایت ئې خپل د اکازوی امین بیگ ته ور کی، او د سان و چاریک داروغگی ئې هم ورو سپارله. دی کار پر محمد زمان میرزا بده اغیزه وکړه ځکه چی هغه غوښته چی دبلخ حکومت په دیوان عالی پوری وتړل سی او شبرغان هم خپل یو خاصه امیر ته و سپاری خو امیراردو شاه د محمد زمان میرزا په نامه د حکومت ټولی چاری په خپل لاس کی اخستی وې او محمد زمان میرزا ته تش نوم پاته و، بیا ئې پر یکه اولنگ یرغل وکی، د هغه ځای خلک ئې چور او چپاو کړه نو د غرجستان خواته ئې مخه کړه، ځنگه چی محمد زمان میرزا ته څه واک او اختیار پاته نه و، نو هغه یوه ورځ د دېرشو تنو سره د ښکار په پلمه د اردو شاه له لښکره جلا سو،

او د خرم او سار باغ خوا ته ولاړ، اردوشاه چې خبر سو نو پر خوا شیخي سو، استانزي او لښکني ئې ورولېږلي چې پیرته وروګرځي خو هغه ونه منله، هغه و، چې اردوشاه د لښکر په مشرانو ماته ګډه سوه او یو بیا اردوشاه په پټه محمدزمان میرزا ته تښتېدل حتی د اردوشاه امتازي هم بیرته راونه ګرځېدل، خو چې خپل امیران اردوشاه ته پورته سول او اردوشاه له څوتنو سره شبرغان خواته وتښتېد او ټول سال ئې د محمدزمان میرزا په لاس کښېووت، اردوشاه له شبرغانه بلخ ته ولاړ، او محمدزمان میرزا وغوښتل د هغه سره روغه وکړي نو د حبیب السیر د کتاب د مولف خواندمیر په لاس ئې اردوشاه ته پیغام استاوه چې بلخ ده ته پرېږدي او دی دې خپلې سیمې غرجستان ته ولاړ سي، هغه ونه منله او بیا بلخ کلابند سو خو په پای کې سرکښ تر منځ وګرځېدلی او دواړو ئې په روغه راضي کړل، او د(۹۲۳ھ) کال د لومړي خور (ربیع الاول) د چارشنبې په ورځ د بلخ په دوه فرسخې کې په «توخته» نومي ځای کې دواړو سره ولیدل او اردوشاه د محمدزمان میرزا اطاعت ومانه، خو هغه وخت چې دواړه د بلخ د ښار خواته تلل او د اردوشاه سره یوزای علوبخت تنه ملګري وو، د محمد زمان میرزا لښکر پر اردوشاه حمله وکړه هغه ئې او نیواوونې واژه.

ماخذ: لغتنامه-۱۸۰۱ مخ

۱۱۵۶-ارزام هروي: د دریم د اریوش په زمانه کې د هرات نومیالی والي و.

ماخذونه: ۱-لغتنامه-۱۸۰۸ مخ

۲- ایران باستان-۱۷۲ مخ

۱۱۵۷-ارزانی روسانی: په پښتو ژبه کې د لسمې هجري پېړۍ له لومړنیو دیوانلرو تکوشاعرانو څخه دی چې بشپړ دیوان یې د زمانې له آفاتو څخه خوندي پاته سوی دی. د پلار نوم یې برهان خان او په ختهخېشکی دی چې د پنجاب په «قصور» نومي ښارکې اوسېد، او دده ژوندتر (۱۰۱۰ھ ق) کال پورې یقیني دی.

ارزاني ته «روښاني» ویل مناسب دي چې د بایزید روښان مخلص مرید او په ملي مبارزو کې ټینګ سلګری و، او په خپل دیوان کې یې خو ځایه بایزید روښان د «پیر» او «کامل پیر» په نامه یاد کړی دی، او د هغه د افکارو د تبلیغ د پاره یې بر زیارایستلی او حتی هند ته یې سفرونه کړي دي. لکه څنګه چې اخوند درویزه په «تذکرة الابرار و الاشرار» کې لیکلي دي: ارزاني په څلورو ژبو (پښتو، پارسو، هندي او عربي) شعرونه ویلي دي، او هم زیاتوي چې: «شاعر تیز فهم و فصیح زبان بود (۱)»

دی په خپله هم وایي،

دفقیر پښتو دیوان دی · داد یوان حقاني خوان دی

دی ریخته په څلور ژبو · دی بیان په خوالوان دی

استاد اسلا نوف د شوروي مشهور پښتو پېژندونکی په خپله رساله «د روښانیانو ملي نهضت» کې لیکي چې: «دا د بیاتو په کار کې د بایزید سره تر ټولو زیات کومک ملا

(۱) تذکرة الابرار والاشرار- ۱۳۹ مخ

ارزاني کړی دی ...

ملا ارزاني په خپل کتاب کې د بایزید تعلیمات او تبلیغات په شعر سره بیان کړي، او دا بالبداهه شاعر د روښانیانو د ډلې د شعر او ادب علمبردار ګڼل شوی دی (۱)

همدا راز میجر راورټي نامتو انګریز ختیځ پوهاند (۱۸۲۵-۱۹۰۶م) او جیمز دار مستتر فرانسوي ختیځ پوهاند (۱۸۳۹_۱۸۹۴م) او پروفیسور بېلو مشهور انګریز، او ګیرسن د شوروي ځوان معاصر پښتو پېژندونکي په خپلو لیکنو کې د ارزاني یادونې کړي دي او د ده شعري استعداد یې ستایلی دی.

---

(۱) د روښانیانو ملي نهضت-۳۲مخ

پخوانیو پښتنو شاعرانو هم دارزانی د ادبی مقام یادونه کړي ده، مثلاً دولت وایی:

بې میرزا بې ارزانی، بې مخلص یاره
بـل شاعر برابر نه دی پښتون ستا

رحمان بابا وایی:

د میرزا د ارزانی دعوه به پرېکا
قدردان دشاعر انو رحمان راغی

اشرف خان هجری وایی:

ارزانی دولت د خپل دور بلبل و
نن یې وللی زمانې د شعر فرددی

د پښتو پلار خوشحال خان وایی:

د میرزا دیوان یې ومانده په گوډی
مسخره یې ارزانی خپشکی محمد کړ

د ارزانی آثار: ددوو پښتنی زلمیو څېړونکو ښاغلی حبیب الله رفیع او ښاغلی زلمی هیوادمل د زیار او څېړنو له برکته د ارزانی دا لاندی لس اثره تراوسه ترگند سوی دی:

۱- د پښتو دیوان: چی یوه قلمی نسخه یې د «بینوا» په کتابتون کی سته، او دا نسخه دوې برخی لری، په ۱۰٦ مخو کی اصلی دیوان ختمېږی او ور پسی بله رساله د څلوریځو (رباعیاتو) په قالب کی پیل کېږی.

۲- د ارزانی بې نومه مجموعه: دا د دیوان په پورتنی نسخه کی تر ۱۰٦ مخ وروسته یوه مجموعه ده چی په «بسم الله الرحمن الرحیم» پیل کېږی او بېل بېل مطالب او عناوین لری او تر ۳۱۸ مخ پوری رسېږی او څلوریزی دی.

۳- د حضرت رسول خوب: د ارزانی یوه منظومه رساله ده چی د یوې اې نومی

خطي مجموعې په وسیله خوندي ساتلې سوې ده او لوړی محل یې په «پښتوښخوالی تذکرې کې یادونه سوې ده.

۴- د ارزاني نثر: د ارزاني د هغې بشپړې خطي نسخې په پای کې چې ښاغلي حبیبي د پېښور د بالاماني د سید فضل صمداني په کتابتون کې لیدلې وه د ارزاني د نثر یوه رساله ده، چې څه برخه یې استاد حبیبي را نقل کړې ده.

۵- چهاررساله: دا هم د ارزاني یو مستقل اثر دی چې اخوند درویزه یې په خپله تذکره کې یادونه کړې ده- او راوړتې «چار رساله» بللې ده.

۶،۷،۸- هندي، عربي او پارسي دیوانونه:

زیاتره څېړونکي دا تائیدوي چې ارزاني تر پښتو سربېره په هندي، عربي او پارسي ژبو هم شعرونه ویلي دي چې تر ټولو لوړی د ارزاني خپله وینا په دلیل دې چې وایي:

د فقیر پښتو دیوان دی دا دیوان حقاني خوان دی‌دی ریخته په څلور ژبو

دی بیان په څوالوان دی بل ځای وایي:

په څلور ژبو او بدلي د ارزاني افغان گفتار دی

اخوند درویزه هم لیکلي دي چې: «شعر افغانی و فارسی وهندی و عربی بیان کرده ...»

مولانا محمد عبدالقدوس قاسمي لیکي چې: «د ارزاني، په فارسي، هند او پښتو دریو ژبو کې شاعري کوله، او په هره ژبه کې یې یو یو دیوان درلود(۱)»

ښاغلی همیش لیکي چې: «ارزاني د خپلې د ورې یو فصیح او بلیغ شاعر و، چې د پښتو نه پې علاوه په فارسي، عربي او هندي کې اشعار ویلي دي بلکه په دغه دریــــــــوواړو ژبــــــــو کــــــــې، لــــــــکه د پــــــــښتو

---

(۱) پښتو مجله- د پېښور د پښتوا کېډېمۍ ۱۰۵ مخ

دیوانونه بریښې دي (۱)

۹- د ارزاني مکوبات : ښاغلی زلمی هیواد مل او ښاغلی حبیب الله رفیع د ارزاني د دې رباعۍ په استناد چې وايي :

دال- ددې دیوان خبری	گل د زړه دی مرغلری
واره گوی‌پې د ی بیلی	گل مکوی شوی‌څینې لری

داسې اټکل کوي چې‌ارزاني ددې موجوده دیوان پراشعارو-ربیره څني‌داسې نوراشعار هم‌رلودل‌چې دراورلونه‌وه ، ځکه نو دی‌پرهغو اشعار ود «مکوبات»نوم‌ایښې دی- داچې دا «مکوبات» په رښتیا دومره اشعارو وچې یو «اثر» و بلل‌سی که نه ؟ ښه هرگند ، نه ده

۱۰- مراة المحققین : دا داستاد صدیق‌الله رښتین دهغې‌مقالې له مخې بیژنوچې د ښتو پیژندنې د ښتو ټولنې په بین المللی سیمنار کې لوستلې سوې وه - نور څه توضحات لاس ته‌را نغلل .

مأخذونه : ۱- د «عرفان» د مجلې د ۱۳۵۴ کال ۳، ۴، ۵، ۸، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲ گڼې دښاغلی زلمی هیواد مل څیړ نما و لیکنه .

۲- ورکه خزانه- ۲۰۸/۱ مخ

۳- دارزاني خطي دیوان

۴- تذکرة‌الابرار‌والا شرار- ۱۳۹ =

۵- حالنامه- د پېښور چاپ د خیرالبیان ددیبا چې د۲۶ مخ په حواله

۶- د دولت لواني دیوان- ۲۱۸ مخ

۷- درحمان بابا دیوان- ۱۹۴ =

---

(۱) ورکه خزانه- ۲۹۰/۱ مخ

۸- دخوشحال خان -- ۶۰۰ -

۹- د هجری --۲۳۸-

۱۰- د راورټي د پښتو ګرامر مقدمه - ۳۸-

۱۱- د پښتونخوا د شعر هار و بهار

۱۲- د روښانیانو ملی نهضت -- ۲۳-

۱۳- د افغانستان ادبیات - ۳۴ -

۱۴ - پښتونستان - ۳۸۴-

۱۱۵۸- ارسلاخان کاموی: د پښتوژبی شاعرو' اود(۱۳۰۰ ه ق) په شاوخوا کی د ننګرهار په کامه کی اوسید. دجوګی او پیر صاحب افسانه ئې په ملی وزن په پښتو نظم کړی ده .

ماخذ: د ننګر هار شاعران- خطی تذکره- ۹۷ مخ

۱۱۵۹- ارسلا سواتی: د پښتوژبی عوامی شاعرو، شعرونه ئې پرملی اوزانو ویل، په سوات کی اوسید، او دا رمستترمشهور ختیز پوهان ئې په خپل کتاب „هار و بهار" کی یادونه کړی ده .

دده یوی چاربیتی سرداادی .

په تورو خټوورته لارم نتوانی

یارسی د کن له ته پخپله سی کی ها تی

ماخذ: پښتانه شعرا - ۲- ۱۹۵ مخ

۱۱۶۰- ارسلان جاذب: د سلطان محمود د غزنوی دو حت له نو سپالیو حاجبانو او سالارانو څخه و، چی ابوالفضل بیهقی پخپل کتاب تاریخ بیهقی کی څو ځایه یاد کړی دی او په بلخ کی دده په نامه دیوه سرای یادونه هم کوی .

ابونصر مشکان دده په باب کی و یلی دی چی: «ارسلان جاذب ګربزی بود که چنو بی یاد نداشتند با چندان عدت و آلت و لشکر ...»

لاندې نۀ ، بلکه تل يې د خپل فکر خپلواکي ساتلې نو د محمودي دولت او دربار ځينو خودغرضو او بدو استفاده کوونکو ارکانو او د قدرت خاوندانو او مخورو د ستر خواجه احمد ميمندي سره رخه او حسد پيدا کې او سلطان محمود ته يې په پټه ددۀ په بد و بدو خولې پورې کړلې ، او په مختلفو وختو کې به ئې په مختلفو عباراتو او په مختلفو خولو څخه په داسې ترتيب ددۀ په باب کې سلطان ته خبرې رسولې چې د سلطان په زړه کې به يې ددۀ له خوا تشويش پيدا کاوه ، په تيره بيا د ستر خواجه د مزاج او فکر استقلال د سلطان په دماغ کې يو راز بيره پيدا کوله ، د ا ځکه چې په شرقي درباروکې خصوصاً د دربار دارکانو د فکر خپلواکي ته په ښه نظر نه کتل کېدل ، او نه درباروا کمنانو په خپلو درباروکې د دربار يانو فکري استقلال خوښا وه ، په تيره بيا سلطان محمود چې د نظامي عروضي په قول طې ابوريحان بيروني غوندې علامه ته ويل چې:

«يا ابوريحان ! اگر خواهي که از من برخوردار باشي سخن برمراد من گوي نه بر سلطنت علم خويش»

او هم يې په خپله ستر خواجه احمد ميمندي ته د علامه ابوريحان بيروني په باب کې ويلي وه چې:

«مي گويند اين مردرا در عالم نظير نيست مگر بوعلي سينا — ليکن هردو حکمتش بر خلاف راي من بود ، و پادشاهان چون کودکان خورد باشند سخن بر وفق راي ايشان بايد گفت تا از ايشان بهرمند باشد »(۱) خود ستر خواجه فکري استقلال او علو همت دا نه منله چې د سلطان په خاطر سپين ته تور او يا تور ته سپين ووايي ، ځکه ئې نو د نظامي عروضي په قول د سلطان محمود هغه امر عملي نه کې چې د ابوريحان بيروني د وژلو په باب کې ئې کړی و ، او د ابوريحان د علم احترام ئې ساتلی و ، چې بيا

---

(۱) چهارمقالۀ عروضي سمرقندي - د ليدن چاپ ۶۳ مخ

د بیهقي له لیکنې څخه څرګندیږي چې ارسلان جاذب په مهمو پېښو کښې سلطان محمود ته مشورې ورکولې او دا وینا دده ده چې سلطان ته ئې کړې وه:
«دشمن هرگز دوست نگردد شمشیر بایدایشان را»

د نور توضیح د پاره دې د تاریخ بیهقي دې مخونه رجوع وشي:
٦٨، ٩٢، ١٣٩، ١٤٠، ٢٣٣، ٢٦٦، ٤٨١، ٥٣٠، ٥٣٧، ٦٤٣، ٦٧٩ .

١١٦١-ارسلان شاه غزنوی: د مسعود زوی، د ابراهیم نمسی، د سلطان مسعود کړوسی او د سلطان محمود غزنوي کوسی ملقب په سلطان الدوله» او «ابوالملوک» د غزني له پاچهانو څخه و، چې په (٥٠٩ ﻫ) کال د خپل ورور «کماله الدوله شیرزاد» تر وژلو وروسته دغزني د پاچهي پر تخت کښېنوست. خو مځینې مورخان د کمال الدوله شیرزاد نوم نه اخلي لیکي چې د خپل پلار «مسعود» تر پاچهي وروسته ارسلان شاه پاچا سوی دی .

ده خپل و زارت د احمد زوی عبدالحمید ته وسپاره او خپل ورونه ئې بندیان کړه چې یوازې یو ورور «بهرام شاه» ئې ځان وژغوره او خپل ماما سلطان سنجر سلجوقي ته ورغی، سلطان سنجر هغه وخت د خپل ورور محمد بن ملکشاه له خوا د خراسان والي و.

بهرامشاه د سلطان سنجر په ملګری او مرسته د غزنی د نیولو په نیت بست ته ورسید او د سیستان والي ابو الفضل نصر هم دده لښکر سره یو ځای سو .

ارسلان شاه خپله مور چې د سلطان سنجر خور وه د دو ولکو دینارو او نورو ډیرو ډیرو سوغاتو سره سلطان سنجر ته ولیږله او روغه ئې وغوښتله، سلطان سنجر غوښته چې بیرته وګرځي او روغه ومني خو بهرامشاه هغه ونه منله او دو نې اصرار ئې وکښ چې سلطان سنجر ئې مجبور کښی چې د غزني خوا ته لښکر وباسي، د غزني یوه فرسخ ته چې ورسید، ارسلان شاه هم د دیرشو زرو سپرو او پلیو او پوسل او شپیتو پیلانو سره

دجګړې نه ګرته ورووت، خوځنګه چې دسیستان دامیر ابوالفضل لښکر هم د سلطان سنجر سره یوځای سوی و، دارسلان شاه لښکر ماته وکړه، او سلطان سنجر د (۵۱۰ هـ) کال د کوچنی اختر دمجاشتې (شوال) په دریمه دغزني په ښار ننه ووت، خوخپل لښکر ئې له چوراو چپاو څخه منع کئی څلوېښت ورځې ئې په غزني کې تیرې کړې او دسبکتګین دکهالهخزانې ئې خپلې کړې، بیائې نودا هیواد بهرامشاه ته پرېښووه او پخپله خراسان ته ولاړ، اوارسلان شاه چې دسلطان سنجر په بیرته تګ خبر سو نود هندوستان له سیمو څخه ئې یو لوی لښکر راټول کئی او دغزني خواته راو خوځېد، بهرامشاه چې دمقاومت توان نه درلود، دبامیان خواته ولاړ، اوله هغه ځایه ئې بیا دسلطان سنجر په مرسته پرغزني یرغل وکئی، ارسلان شاه بیاغزني پرېښووه، خود سنجر لښکر په هغه پسې ولاړ، هغه ئې ونیو او بهرامشاه ته ئې بوت بهرامشاه خپل ورور په (۵۱۲ هـ) کال کې ووژه او خپلواکه پاچا سو.

ارسلانشاه د دې پرځای چې خپله پاچهي ټینګه کړي د خپلې کورنۍ د بربادۍ سبب سو، خپل ورونه یې بند یان کړه، ځینې یې ووژل او ځینې یې رانده کړه، یې له یو بهرامشاه څخه چې ځان یې ځیني وژغوره او خپل ماما سنجر سلجوقي ته یې پناه وروړه او هغه یې دې ته وګماره چې دغزني خواته لښکراوباسي او دلوسړي ځل دپاره دغزني پرمنبرو دسلجوقیانو نوم یاد سي.

ابن اثیر په الکامل کې لیکي چې: «د ۵۱۰ هـ کال د کوچني اختر دمیاشتې پر شلمه ارسلانشاه وتښتید اوسنجر سلجوقي دغزني په ښار ننه ووت، خو دمخه تر هغه بهرامشاه دسنجر سره دا فیصله کړې وه چې که یې غزني ونیو نو ازي بهرامشاه به دا حق لري چې دسلطان محمود پر تخت کښېني خو په خطبه کې به لومړې د خلیفه نوم او تر هغه وروسته به دسلطان محمد سلجوقي نوم، او بیا به د سنجر او بهرامشاه نو مونه ویل کیږي، نو هغه وخت چې سنجر دغزني ښار ته داخلیده دی سپور و، او بهرامشاه یې په مخ کې پلی تی خو چې تخت ته نژدې ورغئ بهرامشاه

تحت ته وخوت او پر تخت کښېنوست، اوسنجر خپل قرارګاه ته ولاړ، او چې خطیب په خطبه خوله پورې کړه سنجر یې پاچا وباله او بهرامشاه یې د هغه د پلرودستت پراساس د«سلطان» په نامه یاد کړ (۱)

دابن اثیرپه قول په دې پېښه کې خوراډېر سالونه دسنجردسپاهیانولاس ته ورغلل، که څه هم سنجردوی له چوراوچپاو څخه منع کول اوغوښته یې په دارهم وڅړول، خو بیا یې هم حتی د سلطنتي ما نیواو شخصي کورو له دیوالو څخه د سپینو زرو لوحې راکښلې اوهم هغه سپین زرچې د ښکلا او زینت دپاره د سلطنتي با غودو پالو په منځ کې تعبیه سوي و، راغونډ کړه او ټول یې له ځانو سره یووړه.

په دې پېښه کې پنځه تاجه او یوزراو دری سوه زرینې او مرصعې توتې او اوولس تخته طلا اونقره د سنجرلاس ته ورغلل. ابن اثیروایي چې دیوه تاج بیه یې دوه زره وازه زرد ینارو وه.

لکه فرخي چې په د سلطان محمود غزنوي دفتوحاتو د ستا ینې دپاره اوږدې قصیدې ویلې د سنجر د دربارشاعر معزي بیاد سنجر دغزني دفتح په ستاینه کې یوه اوږده قصیده ویلې، چې په «سلطنت غزنویان» کې رانقل سوې ده.

مسعود سعد سلمان دهغه وخت نامتو شاعر یو ه قصیده دارسلانشاه په ستاینه اودبو نصرفارسي دخیر په یادونه کې ویلې وه چې لو مړی بیت یې دا دی:

اين عقل در يقين زمانه گمان نداشت

کز عقل راز خويش زمانه نهان نداشت

او په هغه ترځ کې وايي:

هرگونه چيز داشت جهان تا بپاي بود

ملکي قوي چو ملک ملک ارسلان نداشت

آن جود و عدل دارد سلطان که پيش از اين

آن جودو عدل حاتم، نوشیروان نداشت

هنگام کر و فروغا تاب ز خم او

شیرژیان نداردو پیل دمان نداشت

ای پادشاه عادل و سلطان گنج بخش

هرگز جهان و ملک چو تو قهرمان نداشت

مأخذونه: ۱ — دد عخدالغتنا مه — ۱۸۳ مخ

۲ — طبقات سلاطین اسلام — ۲۶ رر

۳ — دیوان مسعود سعد — ۷۶ رر

۴ — سلطنت غزنویان — ۲۵۴ مخ

۵ — تاریخ دیالمه وغزنویان — ۳۶ مخ

۱۱۶۲-ارسی شاه نیمروزی: د نیمروز داوق د سیمی له نومیالیو امیرا نو څخه و ، چې د نیمروز د خسرو ملک معظم نصیرالحق والدین له خوا په (۶۶۱ه) کال دزرو تنو غوری او هراتی او اسفزاری او نیبی او فراهی سپرو او پلیو سره هلته گمارلی سوی و .

د(۶۶۷ه) کال په محرم کی ئې دنیمروز د صفدر ملک علاءالدولة والدین څخه په یوه جگړه کی ماته وکړه اود سمور کلاته ئې پناه یووړه ، اود (۶۶۷ه) کال د کوچنی اختر په میاشت کی ئې داوق د نورو امیرانو سره دزره پر سمه برغل وکی ، درمندان ئې ورو سیځل او کلی ئې چور کړه .

مأخذ: تاریخ سیستان — ۴۰۱ مخ

۱۱۶۳-ارغون امیر: امیر ارغون دامیر ذوالنون زوی په (۸۸۴ه) کال چې هرات دارالسلطنت و ، د کندهار دولایت والی وټاکل سو ، اوترده وروسته چې د کندهار دولایت حکومت وروورو هراتی اوخپلوا کئ شکل وسونددده زوی محمد مقیم د کندهار والی سو ، اوبل زوی ئې چې «شجاع بیگ» نومید اوبه «شاه بیگ تهتهه»

مشهورو ، دسند ولایت هم د کندهار پهولایت پورې وتښلاوه، اوترشجاع بیگ وروسته د کندهار حکومت دهغه زوی «شاه‌حسین» ته وسپاره سو، چې هغه‌بیا دخپل پلار د یوه مقتدر منصبدار له‌خواچې میرزا عیسی نوسیدله حکومته ایسته کړه‌سو، او دار غون د کورنی حکمرانی له‌منځه ولاړه .

ماخذ : آریانا مجله — ۲ کال- ۱۱ گڼه – ۱۳ مخ

۱۱۶۴- ارهنی بلخی : د څلرمې هجری پېړی له نومیالیو محدثانو او پوهانو څخه و،چې په‌بلخ کی‌ئی دشیخ الاسلام‌اودقضاو دمشرحیثیت درلود .

ماخذ : فرهنگنامهٔ نفیسی —۱۱۷ مخ .

۱۱۶۵- اریارق : دسلطان محمود غزنوی‌له خورا نومیالیو سپهسالارانو څخه و، چی د هندوستان دولتی چاری‌ورسپارلی سوی وی، اوهلته تر دی‌حده‌دبرم او دبدبی خاوند سو چی زیاتره به‌ئی دغزنی دمرکز امرونه نه‌منل، او هغه‌وخت چی سلطان محمود راوغوښت‌پهمی و کړې او رانغی ، هغه و ، چی سلطان محمود مړسو اوچی امیر محمد دهغه پرځای دپاچهی پرتخت کښېنوست هم‌ئی اریارق‌غزنی ته راوغوښت او د هغه امر ئی هم ونه مانه او داسې جواب ئی ورته راولیږه :

« ولیعهد پدرامیرمسعود است ، اگروی رضادهد بنشستن برادر ، وازعراق قصد غزنین نکندآنگاه بخدمت آید » (بیهقی ۲۲۳ مخ)

بیا چی سلطان مسعودپاچا سوهغه له هراته پیغام ورولیږه چی د ستر خواجه احمد بن حسن میوندی‌سره چی‌هغه وخت‌په‌هند کی بندی و، بلخ ته راسی ، او خواجه احمد میوندی‌ورته‌وبلی‌و،چی :« پرتا باندی‌بدنوم ایښوو لی‌سوی‌دی نوښه داده‌چی‌زماسره‌ولاړسې‌اوپاچاووینی زه‌به هم هغه‌چې‌پوهیږم‌ستاپه‌باب کی‌پاچاته ووایم دخلعت‌سره به‌بیرته راوگرځې »اریارق‌هم دخواجه په‌خوله وکړه ورسره راغی ، او خواجه احمدمیوندی چی بیا وزیرسو، نو څنگه چی له‌خوائی دغزنی‌دامپراطوری دچارو د اداری مسئولیت پرغاره و،اود هندوستان دچارو واگی ئی باید مستقیماً غزنی

دمر کزی دولت په لاس کی ټینګی ساتلی وای او له بلی خوائې دار یارق سره دسپار ښتنی وعده کړې وه نو له یوې خوائې سلطان مسعود ته وویل چی :« که هندوستان په کار وی نو اریاق باید هلته ولاړ نه سی» او له بله خوائې سلطان ته وویل چی :«اریارق دسلطان محمود په امر راغی ، سستی او تنبلی ئې وکړه او بیا امیر محمد ته هم جواب ورکی اوچی ستاسی نوم ئې واروېد له ما سره راغی ، اودلته ، ئې تر اوسه څه داسی تهوراوبی طاعتی نه ده کړی چی په هغه سړی زړه مشغول کړی ، نو د پاچا ایالتونه ډېر دی او دکار سړ یوته ضرورت دی نوار یارق باید له لاسه ورنه کړه سی» سلطان مسعو دهم ورسره ومنله ، او اریا ق ئې ډېر وناز اوه ، ده اوغازی سپهسالار ته چی هغه هم دسلطان محمود وخلو سپهسا لا ر و خلعتو نه او ډالۍ ېته ورکړه چې بیهقی ئې داسی لیکی :

«وخواجهٔ بزرگ هردو سالار را بستود ونیکوئی گفت . ایشان گفتنداز خد اوند همه دل گرمی ونواخت است، وماچا نهافدای خدمت داریم ولیکن دل ما را مشغول میدارند و ندانیم چه باید کرد. خواجه گفت : این سودا است وخیالی باطل ، هم اکنون از دل شما بردارد ، توقف کنید چندانکه من فارغ شوم وشماهان را بخوانند . و تنها پیش رفت وخلوتی خواست واین نکته باز گفت ودر خواست تاایشان رابتازگی دل گرمی باشد ، آنگاه رای خداوند راست وآنچه بیند وفر ماید. امیر گفت :بدانستم. وهمهٔ قوم را باز خواندندومطربان بیامدند ودست بکار بردند و نشاط بالا گرفت و هر حدیثی می رفت .چون روز بنماز پیشین رسید ، امیر مطربان را اشارت کرد تا خاموش ایستادند ، پس روی سوی وزیر کرد وگفت :«تا این غایت حق این د و سپاه سالار چنانکه باید فرموده ایم شناختن ، اگر غازی است آن خدمت کرد بنشابور - وما باسپاهان بودیم - که هیچ بنده نکرد ،واز غزنین بیامد وچون بشنید که ما ببلخ رسیدیم ، ایارق باخواجه بشتافت و بخدمت آمد .و می شنو یم که تن چند

بباب ایشان حسد می نمایند ودل ایشان مشغول می دارند، از آن نباید اندیشید، برین جمله که ما گفتیم اعتماد باید کرد که ما سخن هیچکس در باب ایشان نخواهیم شنید.»

خواجه گفت : «اینجا سخن نماند ونواخت بزرگتر ازین کدام باشد که بر لفظ عالی رفت.»

وهر دو سپاه سالار زمین بوسه دادند وتخت نیز بوسه کردند وبجای خویش بازآمدند وسخت شاد کام بنشستند . امیر فرمود تا دو قبای خاص آوردند هر دو بزر، و دو شمشیر حمائل مرصع بجواهر چنانکه گفتند قیمت هردو پنجاه هزار دینار است ، و دیگر باره هر دو را پیش خواندوفرمود تاقباها هردو پس پشت ایشان کردندوبدست خویش ببستند ، وامیر بدست خود حمایل در گردن ایشان افکند، ودست وتخت و تخت وزمین بوسه دادند وبازگشتند وبر نشستندوبر فتند همهٔ مرتبه داران درگاهها ایشان تا بجایگاه خود باز شدند . . .»

خود اریارق معاند او چې دسلطان مسعود په دربار کې ئې لوی لاس اوقدرت درلود قل به ئې دده په باب کې سلطان مسعود ته کېږې خبرې رسولې او د هغه بدګماني به ئې دده په حق کې را پاروله ، څوچې سلطان مسعود ئې پر بدګمانه کې او د اریارق له منځه وړلو ته ئې تیت و کې لوبړی ئې دنشې په حال کې بندروه او چل دربارته وغوښت،بیائې بندی کې،اوبندی ئې غزنی ته او څه وروسته ئې له غزنی څخه غور ته بندی واستاوه او هلته ئې کار تمام سو.

په بلخ کې د اریارق نیول د(۴۲۲هـ) کال دلومړي خور(ربیع الاول) پهنولسمه د چارشنبې په ورځ وه،چې د هغه تفصیل د تاریخ بیهقی (د دکتر غنی او داکتر فیاض چاپ) په(۲۲۰ مخ کې تر ۲۳۱ مخ پوری) د«ذکرالقبض علی اریارق الحاجب

صاحب جیش الهندو کیف جری ذلک الی ان قتل بالغور رحمته الله علیه» تر عنوان راغلی دی.

د ده تر بندیگرت وروسته سلطان مسعود د ستر خواجه احمد میوندی او غازی سالار د داډینی او قناعت د پاره دوی ته په خلوت کی وویل:

«حال این مرد دیگر است وحال خدمتکاران دیگر دیگر. او مردی گردن کش و مهتر شده بود بروزگار پدر ما، بدان جای خونهای نا حق ریخت و عمال وصاحب برید ان رازهره نبود که حا ل وی بتما می باز نمودندی که بیم جان بود که راهها بگرفتندی و بی جواز او کس نتوانست رفت، و بطلب پدر ما نیامده بودی از هندوستان و نمی آمدی و اگر قصد او کردندی بسیار فساد برانگیختی، و خواجه بسیار افسون کرده است تاوی را بتوانست آوردن. چنین چاکر بکار نیاید....»

خو ستر خواجه احمدی میوندی په هغه کار په زړه کی خواشینی سوی او ابونصر مشکان ته ئې ویلی و، چی: «این ترک بدگمان شد که گریزو داهی است و چنین چیزها برسر او بشود. و دریغ چون اریاق که اقلیمی ضبط توانستی کرد جز هندوستان و من ضامن او بود می، اما این خداوند بس سخن شو آمد، و فرو نگذارند او را واین همه کارها زیروزبر کنند... »

او هم ئې د درباریانو تر منځ د نظر د اختلاف په باب ئې ابو نصر مشکان ته زیاته کړې وه چی:

«قومی ساخته اند، از محمودی و مسعودی، و با غراض خویش مشغول. ایزد عز ذکره عاقبت بخیر کناد»

مأخذ: تاریخ بیهقی- د دکتر غنی او دکتر فیاض چاپ- ۱۶۳، ۱۳۹، ۸۳، ۲۲۰ تر ۲۲۳ پوری - ۲۲۶ تر ۲۳۲ پوری

۱۱۶۶- ازرقی هروی: حکیم ابوبکر زین الدین د اسماعیل وراق زوی دغزنی وخت له قومیالیو فاضلانو او د دری ژبی له شاعرانو څخه و، او په اشعارو کی

ئې «ازرقي» تخلص کاوه. دده پلار د فردوسي معاصر و، او هغه وخت چې فردوسي له غزني څخه طوس ته تی، او هرات ته ورسید شپږ میاشتې دده په کور کې اوسید.

عوفي په لباب الالباب کې دازرقي لقب «شرف الزمان ابوالمحاسن» او دحبیب السیر مؤلف خواند میر بیا «افضل الدین» ایکلی دی او هم دده په مجینو بیتو کې ځان «جعفری» بللی لکه په هغه خطاب کې چې ئې د الب ارسلان سلجوقي زوی طغانشاه ته کړی وایی:

خسرو اجانم ازتو وتنگدل دارد همی
زیستن در بینو ائی بودن اندر یکدری

سر دوسوزان اندر آمدباد آذرمه زدشت
تیره گون شد باغ آزاری زباد آذری

گر بزر جعفر د ستم نگیری خسر وا
بینوا ئیهاو سر ماها خورم من جعفری

دده قصیدې زیاتره ددوونو سلجوقي شهزادګانو په ستاینه کې دي چې یو شمس الدوله طغانشاه دالب ارسلان زوی او بل امیرانشاه دقاورد زوی و، او قاورد د کرمان د سلجوقي امیرانو لوسړی امیر تیر شوی دی. څنګه چې دقاورد بل زوی سلطانشاه په (٤٧٦ ه) کال سړدی او امیرانشاه لاتر هغه دمخه سړ و، نو دازرقي ژوند هم د (٤٦٠ ه) په شاوخوا کې اټکل کیدای سی، او لکه څنګه چې دهخدا ایکلی د قرائنو څخه څرګندیږي چې ازرقي باید دالب ارسلان دزوی سلطان ملکشاه تر جلوس (٤٦٥ ه) دمخه مړ وي.

دهخدا لیکي چې: «ازرقي په غریبو تشبیهاتو او عجیبو تخیلاتو او دغیر موجودو شیانو په تصویر کې لوی لاس درلود او زیاتره شعرونه ئې پر همدی سبك او اسلوب دی»

رشیدالدین وطواط پخپل کتاب حدائق السحر کې دتشبیه په صنعت کې لیکي

«والبته نیکو و پسندیده نیست اینکه جماعتی از شعرا کرده اند و می کنند چیزی را تشبیه کردن بچیزی که در خیال و وهم موجود باشد نه در اعیان چنانکه انگشت افروخته را بدریای مشکین که موج او زرین باشد تشبیه کنند و هرگز در اعیان نه دریای مشکین موجود است و نه موج زرین و اهل روزگار از قلت معرفت ایشان بتشبیهات ازرقی مفتون و معجب شده اند و در شعر او همه تشبیهات ازین جنس است و بکار نیاید.» د ریحانة الادب مؤلف لیکي چې: «ازرقي د سلجوقیانو د دولت په اواسطو کې یې ژوند کاوه د شیخ عبدالله انصاري هروي سره یې ارادت درلود، او د باطن په تصفیه کې یې زیار ویست. د سلطان طغانشاه ابن مؤید ندیم و، او هغه ډیر د عنایت په سترګو ورته کتل. او هم د سلطان د قوة باه د کمزوري د علاج دپاره د الفیه و شلفیه صورتونه اختراع کړه او په هغه وسیله یې د سلطان د ناروغۍ علاج وکی. د شعر په فن کې یې هم د سلطان له خوا د ملک الشعرائي منصب ورکړه شوی و، او د «سندباد» کتاب ده له منظوماتو څخه دی. په (۵۲۶ ه) کال مړ دی.»

خو عوفي د ازرقي له خوا د سلطان طغانشاه د ناروغۍ علاج داسې مفصل لیکي

«الاجل الحکیم شرف الزمان ابوالمحاسن الازرقی الهروی رحمه الله که فلک ازرق از رشک علو سخن او کبود وار مبتلا شدی و ادوار سعود سپهر از زادن مثل او عقیم ماندی شاه سپاه بلاغت و ماه آسمان براعت و از مخصوصان حضرت شمس الدوله والدین طغانشاه بود و بفر اقبال او بر ممالک بیان سالک شده و شمس الدوله از ملوک آل سلجوق در علم و حیا و وقار و وفا مستثنی بوده است و او را علتی حادث شد که بسبب آن علت قوت مباشرت که سرمایه معاشرت است فتوری گرفت و نقصانی در آن راه یافت و از اقتضاض ابکار که فحول رجال را هیچ لذت ورای آن نتواند بود محروم گشت و چندانکه اطبا در آن معالجت کردند البته فایده نیفتاد، حکیم ازرقی بخدمت عرضه داشت که بنده عرضه کند پادشاه بر آن برود، شرف اجابت بدان پیوست، حکیم ازرقی الفیه و شلفیه را بنظم کرد تا آنرا بخط پاکیزه نبشتند و مصور کرد و گفت تا غلامی از خواص پادشاه را با کنیزکی عقد کردند

سلطان محمود هم پر خپل امر پښېمانه سوی و، او چې خبر سو چې ستر خواجه هغه ته دی
وژلی ډیر خوشاله سوی و.

بله یادګیرنه: د ستر خواجه د معاندانو پر له پسې چغلیو د سلطان محمود نیت د ده ته
وا ړاوه، او په (٥ ، ٤ ھ) یا په (٦ ، ٤ ھ)

کال یې ستر خواجه احمد میوندی له وزارته عزل کی او د کشمیر د کالنجر کوټ
یې بندی ولیږل، او سلطان محمود د ژوند تر پایه هلته بندی و. ابونصر مشکان وایي
هغه وخت چې د خواجه احمد کار و بچار سو نو له دیوانه یې و یوست او کور ته یې
ولیږه او ډیر و کلان یې ور باندی وګمارل، د ده اولادونه او خپلوان او دوستان یې
ټول ونیول، او د دروا غو شاهدان یې راوستل او ډېره ناحقه شاهدي چې به یې د ستر
خواجه په باب کې اداکړه هغه منله کیدله، او «علي دایه» په دې باب کې ډیر زیار و
یوست چې ستر خواجه له منځه واخلي، او بیا یې خواجه احمد «سارغ» ته وسپاره چې
خپل ولایت ته یې بوزي او هلته تشتمني او د ارائې ټیمنی ضبط کړي، خو سلطان پټ
«سارغ» ته ویلی و، چې دې خبری ته دې متوجه وي چې د خواجه ځان ته ضرر نه
رسېږي، تر هغه وروسته یې دانشمند صابوني ور ولیږه او خواجه یې جامع مسجد ته
حاضر کی او قسم ئې ورکی چې د ځمکې پر سر او تر ځمکې لاندې له ناطق او صامت
څخه هیڅ څیز ده ته پاته نه دی. بیا یې ستر خواجه له میونده د ګردیز کوټ ته
راوست او هره ورځ به سلطان د ده په باب کې عتاب کاوه او لیکلی پوښتنی به یې
ور لیږلې، او ستر خواجه به د لایلو او په درشتې جوابونه ورکول چې ټول به ورته هیښ
پاته کیدل.

ځکه چې مخالفینو د دلایلو له لاری و نه سوه کولای چې د هغه زړور او مدبر
وزیر مغلوب کړي نو سلطان ده ته وویل چې ستر خواجه ته ولیکی چې:

«داسې موو بلل چې هر څه چې ستا په حق کې ویلی سوي دي ټول دروغ دي
او د پوښتو جوابونه دي هم وویل او تیر سول خو یوه موضوع پاته ده چې هغه موږ

و ایشان را در حرم حجره دادند که مشبکی بود و منظری داشت و پادشاه را فرمود تا حرکات ایشان را مطالعه کند چنانکه ایشان آگاه نباشند و کتاب پیش ایشان نهادند تا بدان نهاد از مباشرت داد معاشرت بستانند و آن دو جوان نوعهد که حرارت غریزی ایشان با رطوبت جوانی دست در هم زده بود و آتش شهوت در آب حیا تمکین نمی کرد در کار شدند و پادشاه بنظارهٔ آن مشغول می بود و مطالعهٔ آن سلسله شهوت او را می جنبانید و دواعی نفسانی در کار می آمد و آواز نیاز قوم و انیثا ملاح یا ایها النائمین در گوش صوفی خفته در می داد و قوت طبیعی مر او کل ارادت را تحریک می نمود تا آخر الامر حرارت غریزی مر آن مادهٔ فاسد را که مانع قیام آلت مولده بود منقطع گردانید و بر مثال پنیرمایهٔ منجمد و منعقده از منفذ احلیل بیرون آمد و آن زحمت بعد از آن حکمت بکلی زایل گشت و حکیم ازرقی از الطاف شاهانه آن یافت که در ضمیر آرزو نگشته بود و هم تمنی بخواب ندیده ...»

او ده د قصیدو او د یوان داسی ستاینه کوی.

«و قصاید غرا که در مدح آن شاه پرداخته است هر یک در متانت و عذوبت از صفا آب زلال و لطف باد شمال نشان دارد ، و دیوان او خود بتمامت غریب و عجیب است و تشبیهات نوادر او دلفریب »

د مجالس النفاس مؤلف هم د «الفیه شلفیه» کتاب ده ته تصنیف بولی .

خو علامه محمد قزوینی د خپلو تاریخی څېړنو په اساس دا خبره نه ده منلې چې د «سندباد نامه» او د «الفیه شلفیه» د کتابو مؤلف ازرقی دی او وایي چې دا دواړه کتابونه د ازرقی تر وخت دمخه موجود وو ، البته دا د منلو وړ ده چې د ابوالفوارس قناوزی د سندباد نامه ترجمه ئې چې هغه د امیر نوح سامانی (۳۶۶ – ۳۸۷هـ) په فرمان له پهلوی څخه په دری ترجمه کړې په نظم کړې وی او یا ئې د هغې نظم ته فکر کی و ، لکه چې دده په دې بیتو څخه انګل کیږی چه د طغانشاه په ستاینه ئې وائی:

شهر یا را بنده اندر مدحت فرمان تو — گر تواند کرد بنما ید معنی ساحری

هر که بیند شهر یارا پند های سندباد

نیک داند کاندرا و دشوار باشد شاعری

من معانیهای اورا یاور دا نقش کنم

گر کند بخت تو شاها خاطرم را یاوری

همدا راز د «الفیه» کتاب دازرقي تر وخت دمخه لیکلی سوی او د سلطان محمود غزنوي په وخت کي د هغه زوی امیر مسعود په هرات کي د الفیه کتاب له مخي د ملاو په پټه خانه یوه مخصوصه د بڼو او تصویرونو کوټه جوړه کړې وه، چي بیهقي ئې پخپل کتاب تاریخ بیهقي کي داسي راوړي:

در کوشک باغ عدناني فرمود تا خانهٔ بر آوردند خواب قیلوله را و ان را مزملها ساختند وخیشها آویختند چنانکه آب از حوض روان شدی و بطلسم بر بام خانه شدی و در مزملها بگشتی وخیشها را تر کردی، واین خانه را از سقف تا بپای ز میں صورت کردند، صورتهای «الفیه» از انواع گرد آمدن مردان با زنان، همه برهنه، چنانکه جملهٔ آن کتاب را صورت و حکایت و سخن نقش کردند، و بیرون این صورتها نگاشتند فرا خور این صورتها، و امیر بوقت، قیلوله آنجا رفتی و خواب آنجا کردی، و جوانان را شرط است که چنین و مانند این بکنند.»

نو ځکه دالفیه د کتاب د تألیف نسبت ازرقي ته خطا دی، خو ښایي چي د هغه پخوانی کتاب له مخي ئې لکه عوفي چي وایي نظم کړی او ده ئې مصور او تذهیب کړی وي.

(د دې تفصیل دی د دهخدا د لغتنامې په ۹۷۹ مخ کي او پر چهار مقاله باندي د علامه قزویني د حواشي په ۱۷۳ مخ و لوستل سي)

ازرقي د طغانشاه د پرگران و، وايي یوه ورځ طغانشاه د احمد بد سره د نرد لو به کوله، د لوبي ورلو شرط اسو ژروته و، سید امیر شو غښتل دوه شپږ راسي خو دوه یو راغله، د نوبه قهر سو او نژدي و، چي توري ته لاس واچوي، په دې وخت کي

ازرقي پاڅېد، مطربانو ته نژدې سو، او دا بيتونه ئې ووېل:

گرشاه دو شش خواست، دو یک زخم افتاد

تا ظن نبری که کعبتین داد نداد

آن زخم که کرد رای شاهنشه یاد

در خدمت شاه روی بر خاک نهاد

نظامي عروضي په چهار مقاله کې ليکي چې: دې دوو بيتو امير طغانشاه دوني په نشاط راووست چې ازرقي ئې پر سترگو مچ کړ، پنځه سوه ديناره ئې راوغوښته او د ازرقي په خوله کې ئې وا چول.

ازرقي د طغانشاه په ستاينه کې اوږدې قصيدې ويلې دي چې د هغو له جملې څخه يوه داده چې ددې د لوړ ادبي فکر او بکر تشبيهاتو يوه نمونه هم بلله کېدای سي:

ز نور قبهٔ زرین دایرهٔ تمثال

زمین نهفته فرو پوشد آینه ز سؤال

فروغ چتر سپهری بکند درخشیدن

بسنگ ریزه اندر زند نگاه زوال

در رچو لاله شود لعل در دهان صدف

چو آب موج زند سهم در مسام جبال

درخت برگ گل سنگ بود پروین شکل

چو شکل پروین بر آسمان کشید اشکال

ز خوید سبز نگردد همی بدین گوزن

ز لاله سرخ نگردد همی سرون غزال

طیور رنگ بر بدن ز قوت خورشید

همی کشند بصفا ز آتش از پر و بال

ز نور تابش خورشید لعل فام شود　　سرون آهوی دشتی چو آتش خلخال

چو گرم گردد آب از هوای آتش طبع
بشیزه نرم شود در مسام ماهی وال

گمان بری که برفتن سموم آتش زخم
ز زخم شاه کند بر زمانه استعجال

گزیده شمس دول شهریار کهف امم
طغانشه ابن محمد سپهر مجد و جلال

ستوده ملکان آنکه خواندش گردون
خدایگان عجم شهریار خوب خصال

ز گنج او بسوی زایران درگه او
بهر سوی بر گذر خاک راه پوید مال

ز جود دست وی اندر نگین خاتم او
همی گشاده شود چشمهای آب زلال

هلال شکل ز نعل سمند او گیرد
ازین سبب ز خسوف ایمنست شکل هلال

ستاره الفظش خوانند و آسمان مرکب
بگاه قول و معانی بروز جنگ و جدال

فرو گرفتن و بیرون گذاشتن عجبست
ستاره از سر کلک آسمان بتاب دوال

ا پادشاهی که بهنگام کین رسول اجل
ز خنجر تو برد روزنامهٔ آجال

بدست قابض ارواح تیغ هندی تو
چنانکه نقش نگین تو مقصد آمال

مگر که از دل اشاره حکم رزق و اجل
نگین تیغ ترا داد ایزد متعال

گر اژدها برود بر طریق لشکر تو
نهان کند ز نهیب تو مهره در دنبال

دو روی تیغ تو اندر دو چشم دشمن تو
دهان کشاده نماید نهنگ مرگ خیال

بران گهی که چو دریا یلان آهن پوش
برون شوند خروشان همال پیش همال

پلنگ و شیر بجنبند بر هلال علم
تن از نسیج یمنی و جان ز باد شمال

ز بهر کین زره تنگ حلقه در پوشند
بجای پوست در ارحام مادران اطفال

مبارزان و یلان چون ستارگان فلک
همی کنند بدر پای خون درون اذیال

صدف ز بیم یلان در جهد بکام نهنگ
ز رنگ خون چو یواقیت سرخ کرده لآل

زمین چو پشت کشف پر ز خیمه و جوشن
هوا چو قوس قزح پر علامت ابطال

هوا چو پیکر الماس گردد از شمشیر
زمین چو پیکر مفلوج گردد از زلزال

شجاعت تو اگر تیر در کمان راند
چو خارپشت سر اندر کشد بتیر نصال

ر و ز چنگ پیکسیل چشم دشمن تو ز عکس خنجر تو بشکند چو بسته سفال

ز ضربت تو الف وار قد دشمن تو
دو نیمه گردد و باز افتد چو صورت دال

پس از نبرد تو در خستگان تیغ ترا
بجای خون رود الماس زیره از قیفال

چو گرم گردد از آشوب جنگ مرکب تو
بجای خوی ز مسامش برون جهد پر و بال

ستاره در روش چرخ آید بخروش
زمین بتارک ماهی فرو برد بنعال

سخا لغت ننهد تیغ آبدار از دست
وگرچه تیغ شود در سخا لب تو وبال

گمان برد که اگر اشک او کمی گیرد
ز آب تیغ کند چشم خویش مالامال

بروز حرب مجوف کنی بیک فرسنگ
بنیزه ز زره تنگ حلقه نقطهٔ خال

سپهر چنبری از خدمت تو جوید نام
سعود مشتری از چهرهٔ تو گیرد فال

هزار دریا در یک سخاوت تو ضمین
هزار گردون در یک کفایت تو عیال

ز همت تو کم از نقطه ایست جرم فلک
ز سیرت تو کم از ذره ایست کل کمال

هزار جای فزون گفت عنصری که ملک
بروز جنگ به از خان و قیصر و جیپال

بدولت پدران تو صد هزار ملک   نگون شدند چو جیپال و خان بروز قتال

ایا شهی که زجد تو شیر شادروان
زدست خویش پدید آن برون کند چنگال

اگر بدولت محمود می پدید آمد
ز طبع عنصری آن شعرهای سحر مثال

مرا بفر تو باید که در ترازوی نظم
خواطر شعرا کم بود ز یک مثقال

بحق حق تو سخنهای چا یک اندیشم
نه طبع ایشان زر بود و آن من صلصال

اگر ز خاطر من ابر قطره بر دارد
بجای گل سر طوطی برون دمد ز نهال

فغان من همه زین شاعران خیره سخن
غریق بحر جهالت ز طبع تیره خیال

ولیکن ارچه چنین است هم پدید بود
حسک ز لؤلؤ مکنون و روبه از ریبال

فریب تشنگی این قوم را برآورده
ز آفتاب تخیل بصد سراب محال

گیاه سبز وز مرد برنگ هم باشند
ولیک زین بنگین دان کشند وزان بجوال

خدایگانا طبع لطیف خواهد شعر
لطیف زود پذیرد تغیر احوال

چو مشتری بدر فشدگه فزونی عز
چو حال تیره نماید بگاه زشتی دجال

خدایگان اگر این چند بیت پسند د   مرا بباغ طرب شاخ سرو گردد نال

۱

چنان شود سخن من که در معانی او
بخیره گی گذرد طبع جادوی محتال

وگر بخدمت آن صدر آفتاب آیین
بکام دل رسم ورسته گردم از اهوال

ز فر دولت شاه از برای خدمت من
فلاده بر نهد از شاه نو ملک بقدال

همیشه تا نشود عود بید و براجان سنگ
همیشه تا نشود عود و عود سفال

بشادکامی بنشین ببین مخالف را
بدام مرگ مقید بداغ ننگ شکال

زآب تیغ تو آتش گرفت جان عدو
زموج دست توگوهر فشانده ابرنوال

او دا قصیده ئې هم دامیر طغانشاه د ښکلي بڼ او هغې ما ښې په ستاینه کې و یلی
چې طغانشاه په هغه بڼ کې و دانه کړې وه :

گوئې که ماه و مشتر از جرم آسمان
تحویل کرده اند بباغ خدایگان

وز ماه و مشتر یست همه خاک پرنگار
نور عجیب صورت وشکل بدیع سان

نې نې که ماه ومشتری ازوی ربوده اند
در روشنی فزونیو در نیکوئی توان

گوئې که بوستان بهشتست بر زمین
رضوان بماه ومشتری آکنده بوستان

مرجان عودسوز درو شاخ نسترن
مینای مشک سای درو برگ ضمیران

باد اندرو بزیده ز پهناء آبسکون
ابر اندرو گذشته ز بالای قیروان

در دست باد عنبر سارای بی قیاس
در چشم ابر لؤلؤ لؤشهوار بی کران

از سیم خام برگ بر آورده نسترن
باز ر پخته گونه بدل کرده اقحوان

زلف بنفشه عنبر این سوده در شکم
رخسار لاله لؤلؤ آن کرده در دهان

در زیر سرو نغمهٔ کبکان رود زن
بر شاخ بید نعرهٔ مرغان شعرخوان

نسرین و ارغوان ز سر لشکر سمن
بر آسمان کشیده علمهای پرنیان

آن آب نیلگون بعکس گمان بری
مالیده کرته ایست ز پیروزه پهرمان

از دانش وز جان اثری نی درو ولیک
از نیکویی چو دانش و روشنی چو جان

وآن قصر کوه پیکر انجم نقا درو
پهنای خاک دارد و بالای آسمان

ز آسیب چنبر فلک اندر فراز او
بر کنگره خمیده رود مرد پاسبان

از صحن باغ کنگرهٔ را چو بنگری
زان هر یکی خیال خیالی کند عیان

گوئی که خرد بچه سیمرغ بپرد
بر کرده اند تیزی منقار ز آشیان

وان گردش مزمل زرین شگفت را
آبی روشنی چو روان اندرو روان

پیروزه همچو سیم کشیده فرو رود
از گوشه مزمل زرین در آبدان

گوئی ز زر پخته همی سیم بفگند
ثعبان سیم پیکر پیروزه استخوان

باغی بدین نشانی و حوضی بدین صفت
پاکیزه تر ز کوثر و خرم تر از جنان

جمشید وار شاه نشسته میان باغ
دربسته آدمی و پری پیش اد میان

شمس دول ستوده یام فخر ملک
تیغ خلیفه سایهٔ اسلام شه طغان

در پیش او نشسته و بر پای صف زده
شاهان کارد یده و گردان کاردان

دوران خود سپرده بفرمان او سپهر
واشکال خویش دیده بتوقیع او جهان

با حلم او زمین گران چون هوا سبک
با طبع او هوا سبک چون زمین گران

یاقوت ناب در کف او گشته آفتاب (؟)
پیغاه سبز بر سر او گشته سایه بان

بر کف نهاد لعل مئی کز خیال او
اندیشه لاله زار شود دیده گلستان

ساتلي وه چې که هيڅ پلمه پاته نه سوه نو تاپه په هغه نيسو، او هغه داده چې ديو ه وزير چې صاحب سال تر ديرشو زرو درسو پخه تيرسي په سر کې داوي فساد فکرلري، تراوسهٔ پوري تا پهه ديرش زره درسه رسولي او ديرش زره دي هم نور په پټه خزانې ته رسولي، او چې ستاسال سصا دره کې نهه او يا زره درسه ئې ستا خخه و نيول »

ستر خواجه د هغه ايلك پرشا داسي جواب ورته و ليکه چې ،

«بندگان که سال و آلت سازند خاصه بندهٔ کهٔ اين شغل دارد که بنده داشتم نکو نامي وجاه خداوند راسازند. بنده بي نواخاصه وزير بکارنايد ومن بنده هميشه ازخداوند درخلوت ومجلس شراب مي شنيدم حديث ري وآن نواحي، که مجا لست آنرابدون زنگك وگردي فراخ شلوران بگذاشتند وميدانستم که چون راي عالي قصد ري کندنه آن مرد است که عنان تا بغداد باز کشد که در آن ديار کسي نمانده است که پيش نعمت او بچيزي ارزد ، ونيز عادت خداوند دانسته بودم که باك ندارد و در مجلس بمراد خويش دويست و سه صد هزار دينار بخشد - من اين سالها از بهر آن جمع کردم که تا چون خداوند قصد آن ديار کند ازآن جمله با خويشتن برم ودرتشييد ملك و نيکونامي وي خرج کنم - نگويم که بدوخواهم بخشيد که بهر ديناري که از آن خويش دادمي دو سه بار استدمي چنانکه خزانه را زيان نداشتي - من راست بگفتم اگر دشمنان من ديگر تاويل کنند سرو کار ايشان با خداي عزوجل است وهنر بزرگتر آنست که خداوند الحمدالله بيدار تر مردم روي زمين است وچهل سال است تا بنده را مي بيند ومي آزمايد جان خشك که مانده است بدو بماند خداوند بچشم بزرگي خويش نگرد وبسخن اين عاجز درمانده نه بخشم حاسد ان ودشمنان والسلام» (۱) سلطان دستر خواجه جواب ولوست خو بيا يې شم سره له هغو تولو خدمتو عزل او بندي کې .

---

(۱) سلطنت غزنويان - ۲۸۵ ، ۲۸۶ مخونه .

از مشک و لعل شعری و پروین کند پدید
شعری برنگ بسد و پروین برنگ بان

گر بگذرد پری بشب اندر شعاع او
از چشم آدمی نتواند شدن نهان

ساقی ز نور عکسش گوئی سیاوشست
آتش پناه ساخته از بهر امتحان

خوش بوی تر ز عنبر و رنگین تر از عقیق
روشن تر از ستاره و صافی تر از روان

جامی چو بحر ژرف کزو بگذرد کند
عنقا بزخم شهپر و کشتی بباد بان

شاهان چنان مئی بچنین جام کرده نوش
از دست سیم ساق بتی نوش نا روان

از صوت شعر خوان سر افلاك پر خروش
وز زخم رود زن دل مریخ پر فغان

ای خسروی که نام ترا بندگی کند
در حد روم قیصر و در خاك ترك خان

از پای همت تو همی تابد آفتاب
وز دست حشمت تو همی گردد آسمان

گر طبع جود شکل مکان گیرد اردی
جود ترا هزار فلك باید یمکان

برکان ز ز دست توگر صورتی کنند
زر نقش مهر گردد و بیرون جهد زکان

بر سکه گر نگار کنی شکل دست تو
بر زر رقم شود که ببخشید رایگان

از حرص آنکه خواستهٔ بخشی بخواستن
خواهی که موی بر تن سایل شود زبان

هر چه آن گمان بری تو قضا هم بدان رود
گوئی ز کیمیای قضا کرده گمان

ز آن پاید ارمانده ستاره که روز جنگ
از عکس خنجر تو بپاید همی نشان

در خاک هند رمح ز بیم سنان تو
بگداخت شاخ شاخ و لقب کرد خیزران

روزی که آب و آتش خیزد ز رمح و تیغ
بیجاده روید آ ز سر پیروزه گون سنان

در باد زخم ژاله زند ابر هندوی (؟)
بر درع لاله کارد و بر جوشن ارغوان

از هیبت استخوان مبارز چنان شود
کز خوردنش همای کند قصد زعفران

از نیزه های رمح دگر عالمی کنند
در دامن ستاره بر افعی و افعوان

مالك كشان كشان سوی دوزخ کشد نگون
آنرا که زخم تیغ تو باز افگند ستان

بیرون فگنده نیزهٔ خطی ز روی دست (؟)
واندر کشیده کرهٔ ختلی بزیر ران

پیدا شود ز چهرهٔ دشمن بچند میل
برگوهر بلارک تو گنج شایگان

پیکان بقبضه در کشد از بهر جنگ تو
در روی زه خدنگ برون پرد از کمان

ای اختر سخا که بسیر نوال خویش
هر روز بر سپهر تفاخر کنی قران

دشمن چو بحر آتش بیند جهان ز تو
در موج او نهنگ سرتیغ جان ستان

آب حیات خورد سنان عدوی تو
کش هر که خورد زنده بماندست جاودان

ای خسروی که از کف رادتوزایرت
پرصد هزار گنج فزونست قهرمان

رمح ترا یقین خلیلست روز جنگ
کز آتش سنان تو ناید بدو زیان

گر چشمهٔ زگوهر تیغ تو بر کشند
صد جان زنگ خورده برون برد از میان

فردوس را بمجلس تو سرزنش کنند
آنها که در سرای تو بودند میهمان

من بنده از زمانه نژند زمانه ام
ار جو که گردم از همم شاه شادمان

بیرون نکرد خواهم تا عمر من بود
مهرت ز جان مدیح زدل خامه از بنان

تا ارغوان نثار بود خاک نوبهار
تا زعفران نثار بود باد مهرگان

افزون ز روزگار ملک شادمان زیاد
در نعمت ستوده و در دولت جوان

ارزرقي دامير طغانشاه دمهربانيو سره سره بيا هم پورورې و. اوله پو بخيل سړي

ښخه چې پورنې نحيني اخيستي دي داسې شکوه کوي:

يک نيمه عمر خويش به بيهودگي به باد

دادم ساعتي نشد بم از زمانه شاد

يا روزگار کينه کش از مرد دانش است

يا قسم من ز دانش من کمتر افتاد

اين طرفه تر که من قدري وام کرده ام

از مرد کي بخيل سبک سار بد نژاد

زان پيشتر که چشم بمالم زخواب خوش

در خانه گيرد م بقا ضاي بامداد

چون کوه بيستون بنشيند به پيش من

بر جاي خواب تکيه زند همچو کيقباد

تا شمگه روي تيره نشينم به پيش او

برخشم از او چو کودک بدفهم از اوستاد

گويد هر آنچه خواهد و من در سزاي او

دارم بسي جواب ونيارم جواب داد

هر چند مبغض است و بخيل و ناکس است حق است ورد از او است گريزان نيم ز داد

مأخذونه: ۱ـ لباب الالباب ـ ۱/۳۱۸ مخ

۲ـ " " " ـ ۲/ ۸۶ "

۳ـ ددولتشاه تذکره ـ ۷۲ "

۴ـ د دهخدا لغتنامه ـ ۱۹۷۸ "

۵ مجمع الفصحا ـ ۱/ ۱۳۹ "

٦ – حبیب السیر – ۲/ ۳۴۴ مخ

۷– چهار مقاله –

دلیدن چاپ – ۴۳ مخ

۸ – پر چهار مقاله باندی

د محمد قزوینی حواشی – ۱۷۴ مخ

۹– تاریخ بیهقی–

دد کتر غنی او د کتر فیاض چاپ – ۱۲۱ مخ

۱۰– ریحانة الادب – ۱/ ۱۰۹ مخ

۱۱– مجالس النفائس – ۳۲۵ مخ

۱۱٦۷–ازهر سیستانی: د یحیی زوی، د زهیر لمسی، د فرقد کړوسی، د سلیمان کوسی او د سیستان کوز وی دیعقوب بن اللیث دا کازوی د سیستان له زړ ورو، او پوهو امیرانو او ښواد پیانو او نومیالیو پهلوانانو څخه و، چی په عین حال کی ټوکی او ازاد مشر به سړی هم و.

د تاریخ سیستان مؤلف نی داسی ستاینه کړي ده: «ازهر مردی کرد ی و شجاع بود با کمال خرد و تمام مردی و دبیر و ادیب بود و مملکت بیشتر بر دست او گشاده شد، خویشتن کانا ساخته بود، چیز هائی کرد که مردمان از آن خندیدی و تواضعی داشت از حد بیرون» ساده ژوندئې دراود، خو په همدې ساد گی کی لوی سړی او ستر سالار او پر یعقوب بن لیث دیرگرانو. هغه وخت چی یعقوب بن لیث نوی میدان ته راوتلی و، دهمدې ازهر په سرسته او ترغیب دخوارجو زرتنه د یعقوب په خدمت کی حاضر سول، او یعقوب د هغو مشران و نازول او وروته وې ویل چی:

«ستاسی هرهوك چی سرهنگ وی هغه به امیر کړم، او چی سپوردی هغه به سرهنگ کړم، او چی پلی دی هغه به سپور کړم»

همداسې ازهر په ډېرو جنګو کې د یعقوب سره او پر ډېر و ډګرو بریالی سوی و، په (۲۵۳ هـ) کال چې یعقوب د کرمان د والي علي بن حسین د لښکر سره جنګېده هم دې ازهر د علي بن حسین د لښکر د سالار «طوق» په کمند را کښېښ او بندي ئې کې، چې په هغه سبب د علي لښکر ماته وکړه.

د زنبیل په جګړه کې هم چې د مقابل له خوا پیل د یعقوب پر لښکر حمله وکړه او نژدې و، چې د یعقوب لښکر مات سي، خو ازهر د هغه پیل شونډک په تور ه پرې کې او زنبیل مات سو. نو په (۲۶۱ هـ) کال د برات په ۱۲ دشنبې په ورځ چې یعقوب د پارس خواته تی ازهر پې په سیستان کې پر ځپل ځای خلیفه پر ېښوو، او تر یعقوب وروسته د عمرو بن لیث په وخت کې هم سپه سالار و. خو سره له دې تو او بیا هم ډېر متواضع سړی او د ټو کو ډېر حکایتونه لري - مثلا یوه ورځ ئې د یعقو بې مانۍ دوره په سوري کې ګوته ننه سوې او پرسیدلې وه، خلګو پېښر او غوښت اوګو ته ئې ورایله کړه، بله ورځ ئې بیا په هغه سوري ګوته ومنده او بیا بنده سوه، خلګو ورته وویل: بیا ولې؟

ازهر وویل: کتل مې چې دا سوري لوی سوی دی که نه؟

دقیقي د دری نامتو شاعر دا موضوع په دې بیت کې داسې راوړې ده:

بر آب گرم در ماندست پایم ... چو در زرین در انگشت ازهر

بل وخت د بغداد د خلیفه استازی سیستان ته راغلی و، او یعقوب هغه د ازهر په کور کې کښېنه کړی و، استازي له ازهر څخه پوښتنه وکړه چې: «ته دامیر څه یې»؟

ازهر ورته وویل: «زه ئې غاتروان (ستوربان) یم» استازی په قهر سو، چې د ډوډۍ سترخوان ته ورغی: وې لیدل چې ازهر د یعقوب سره پر سترخوان ناست دی. استازي یعقوب ته وویل چې: «د مخه سې قهر راغلی و، او اوس تعجب کوم».

یعقوب پوښتنه وکړه: «ولې؟»

استازي وویل چې: «زه دې د غاتروان په کور کې کښېنه کړی یم، او اوس هغه غاتروان ستا سره پر سترخوان وینم».

یعقوب پوه‌سو چې ازهرغه ورته ویلې دي، خدمتني و ر ته‌ونه و وېل، چې سترخان تول سوامرنې وکی چې دوه جنګې غوايې راولي، غوايې ئې په‌جنګ سره واچول او سخت ښکرپه‌ښکر سول، یعقوب ازهرته وویل چې: «ورسه‌دا دوه‌غوايې سره‌بېلا کړه!».

ازهر ورغی په‌یوه لاس ئې د یوه غوايي ښکراوپه بل لاس ئې دبل غوايي ښکر ونیول غوايې ئې سره بېل کړه. یعقوب ورته وویل چې: «چه بې که! ازهر یو غویی لیری و غورځاوه برابرخ غوځا رسو، او پر بـل غوايـي ئـې تـوره راویستلـه دوه ټوکړه ئې کی. استازی هیبتی حیران ورتـه پاتـه سـو. یعقـوب ورتـه وویل: «که غاتروان هم وی ددې سرانی په‌سبب ئې بايد حرمت وساتل سي، او زماسره پر ستر خان کښیني، ځکه چې داسې میړه مړی په کار راځي، او ته چې سی دده په ګور کی کېښته کړی بې داهم دعزت او درناوی له‌مخې و، ځکه چې دی غاتروان نه‌دی زما داګازوی او ډېر هوښیار دی. خو هغه‌دا سی خبری کوی» بیا استازی خوشاله سو.

ماخذ: تاریخ سیستان ـ له ۳۰۲ مخ څخه تر ۳۰۳ مخ پوری.

۱۱۶۸ - ازهری هروی: جمال الدین محمد ازهری د دری ژبی شاعرو، دا بیتونه دده له‌هغې قصیدې څخه دي چې د سراج الملک تاج الدین محمد په‌ستاینه کی ئې ویلې ده:

ای در غم تو گشته مرا چشمه سار چشم
تا خورده‌ می چراست تر ا پرخمار چشم

خونم هدر مکن که بسیلا بهای خون
خود می نهد جزای من اندر کنار چشم

جانی رسیده کار که بیوصل روی تو
با هجر تو بکشتن من گشته یار چشم

دادی بوصل و عده و گفتی ز روی طنز
چیزی که کس نیافت تو از ما مدار چشم

گر وعدهٔ وصال تو جانا روا نشد
باری مرا سفید شد از انتظار چشم

گر تیره گشته چشم دارم روا از آنک
بی روی تو نباید ما را بکار چشم

نی نی چراست تیره که هر روز می شود
روشن ز نور طلعت فخر کبار چشم

صدریکه صیت یوسف جاهش بخاصیت
روشن کند جهان را یعقوب وار چشم

در ملک شاه خواجه صاحبقران تو ئی
زانسا نیکه بر حواس بود شهریار چشم

بر میکشد ز دشمن جاهت بدست قهر
چرخ زمردی چو زمرد زمار چشم

رستم صفت چو قهر تو افگند ناگهان
بر ظلم و فتنه از قبل کارزار چشم

اهن را بدشنه کرد چو سهراب کرده چاک
وآن را بتیر خست چو اسفندیار چشم

ماخذونه: ۱ - مجمع الفصحا - ۱ / ۸۸ مخ
۲ - دد مخد القنا سه - ۱۹۹۷ مخ

۱۱۶۹-ازهری هروی: محمد د احمد زوی دالازهر طلحة نمسی، د نوح کروسی او د ازهرهروی کوسی نومیالی شافعی مذهبه فقیه عالم او مشهور لغوی امام و.

دا بی جعفرله زوی ابی الفضل محمد منذری لغوی ،اوله ابی العباس لاحاجب او نورو څخه ئې روایتونه درلودل. بغداد ته تللی او هلته ئې د دریدله زوی ابابکر

سره لیدلی، خو له هغه څخه ئې روایت نه دی کړی .

د نحو علم ئې د عرفته له زوی ابو عبدالله ابراهیم ملقب په نفطویه، او داسری له زوی ابی بکر معروف په ابن سراج څخه زده کړی و . دلغتو په لټون پسې ئې زیاتره عربي هیوادونه ګوښتي وو . دا تالیفونه ده دی :

۱- کتاب التهذیب : لس ټوکه - په لغة کې ډیر مستند کتاب دی .

۲- کتاب فی غریب الاالفاظ التی استعملها الفقهاً - د هغو لغاتو د مشکلاتو په تفسیر کې د فقهاوو مستند دی چې دفقه سره اړه لري .

۳- تفسیر.

۴- دابی تمام د دیوان تفسیر .

۵- داسماء الحسنی شرح .

۶- کتاب الحیض .

ازهري په (۲۸۲ ه) کال زیږیدلی او د (۳۷۰ ه) کال په پای کې - یاد (۳۷۱ ه) کال په سر کې په هرات کې مړ دی .

ماخذونه : ۱- لغتنامه – ۱۹۶۶ مخ

۲- ابن خلکان دتهران چاپ - ۲ ر ۷۹ مخ

۳- الاعلام - دزرکلی - ۱ ر ۲۷۰ مخ

۴- معجم الادبا - ۶ ر ۲۹۷ رر

۵- ارشاد الاریب - ۶ ر ۲۹۷ رر

۶- لباب الالباب - ۱ ر ۲۱۱ رر

۷- تاریخ الحکمای قفطی - ۳۲۳ رر

۸- عیون الانبا - ۲ ر ۷۲ رر

۱۱۷۰- اسامة سجزی : د سفیان سجزی زوی د سیستان د ساګزو له نومیالیو نحویانو او شاعرانو څخه و، ابوالحسن بیهقی په خپل کتاب «الوشاح» کې د

ده یادونه کړې ده ـ دا اشعار دده دي:

أبی النأی الا ان یجد دلی ذکری
لعن ود عیني و هی لا تملک العبرا

وقالت رعاک الله ما خلت انني
اراک تسلی او تطبق لنا هجرا

وکانت تری فرط العلاقة ساعة
تغیبها عنا وان قصرت شهرا

و تجزع من و شک الفراق فما لنا
علی فرقة الاحباب ان تظهرا لصبرا

نور اشعار ئې د دهخدا پخپله لغتنا مه کې له معجم الادبأ څخه را نقل کړی دي.

مأخذونه: ۱ ـ لغتنا مه ـ ۳ ـ ۲۰۱ مخ
۲ ـ معجم الادبأ ـ ۲/۱۷۲ رر

۱۱۷۱ـ استاد اسمعیل هراتي: په هرات کې د سردار محمد ایوب خان غازي دوختونا ستو قنداغ جوړوونکی استادو، او په ۱۲۹۸ ه ق کال چې سردار محمد ایوب خان دامیر عبدالرحمن دلښکو سره په جګړه اخته وو، دا استادهم د سردار په اردو کې ورسره و.

مأخذ: عین الوقایع ـ ۲۰۸ مخ

۱۱۷۲ـ استاد قاسم هروي: په کمانګری او جما قګری کی دخپل وخت استادو، او په جګکارګی ئې هم لوی لاس درلود. ښې لیندۍ ئې جوړولی. په دری ژبه ئې شعرهم وایه. هر څېلولیند یو باندی به ئې د ابیت لیکه.

آنکه اولاد علی را شاد ست
خاک راه درد مندان قاسم است

مأخذ: تحفۀ سامی ـ ۱۹۰ مخ

خلاصون: دسلطان محمود تر مړینې وروسته چې سلطان مسعود پا چا سو هغه دهیواد ددولتي چارو دبهبود د پاره دستر خواجه وجود ته ضرورت احساس کئې اوله هراته يې دهغه د ايله کېدو فرمان دبهرام نقيب په لاس کشمير ته و لېږه، ابو الفضل بيهقي دا خبره داسې ليکي :

«. . . و بهرام نقيب را نامزد کرد بو سهل زوزني بامثل توقيعي فسوی«چنگی» فرستاد بدر کشمير تا خواجهٔ بزرگ احمن حسن را رضی الله عنه در وقت بگشا يد و عزيزاً ومکرماً ببلخ فرستد که سهمات ملک را بکار است . وچنگی باوی بيايد ناحق باوی بيا يد تا حق وی بگزارده آيد » (۱)

بل ځای بيهقي دسلطان مسعود له خولې ليکي چې :

«. . . مادرين هفته حرکت خواهيم کرد بر جانب بلخ تا اين زمستان آنجاباشيم و آنچه نها دني است با خانان ترکستان نهاده آيد، واحوال آنجانب را مطا لعت کنيم وخو اجه احمد حسن نيز در رسدو کار وزارت قرار گيرد ، آنگاه سوی غز نين رفته آيد » (۲)

بيا په هغه ليک کې چې سلطان مسعود دترکستان قدر خان ته دخپلې پاچهۍ په سر کې ليکلی و، هم يې دستر خواجه داسې ستا ينه کړې وه :

«... ونامهٔ توقيعی رفته است تا خو اجهٔ فاضل بو القاسم احمد بن الحسن را که بقلعت چنگی باز دا شته بود ببلخ آيد باخوبی بسيار ونواخت، تا تمامی دست محنت از وی کوتاه شود و دولت ما بر ای وتدبير او آراسته گر دد »(۲) .

بلخ ته رارسيدل او دوزارت په باب خبرې:

هغه و، چې ستر خواجه خو بس بلخ ته راغئې، سلطان مسعود يې ډېر تود هر کلې و کړ، او تر ډرو ورځو استرا حت وروسته سلطان مسعود هر څو پيغا مونه

---

(۱) تاريخ بيهقي - دد کتر غني او د کتر فياض چا پ ٦٥ مخ .

(۲) (۲) تا ريخ بيهقي - ۷ ۷ ، ۸۳ مخو نه .

۱۱۷۳-استاد میرزای هراتی: په هرات کې د سردار محمد ایوب خان غازي په وخت کې ناستو قداغ جوړوونکی استاد و، او په (۱۲۹۸ ه ق) کال چې سردار محمد ایوب خان دامیر عبدالرحمن خان د لښکر سره جګړه کوله دا استاد هم په اردو کې ورسره و.

ماخذ: عین الوقایع - ۲۰۸ مخ

۱۱۷۴-استاسیس-یا-استادسیس باد غیسی: دافغانستان د باد غیس له تومیالیو قاندینو او مشرانو څخه و. په (۱۵۰ ه ق) کال د عربو د سلطې پر خلاف پاڅید او د ریوه زره آزادي غوښتونکي مړونه ورباندي راغونډ سول.

طبري سورخ د (۱۵۰ ه ق) کال د پېښو په تریخ کې لیکي چې: د دې کال له پیښو څخه یوه هم د هرات او باد غیس او سیستان او د خراسان د نورو ښارو د خلکو سره د استادسیس خروج او پاڅیدنه وه.

وایي چې د استاسیس سره د ریوه زرو ته نژدې جنګیالي مړونه وه، او چې پر خراسان یې بری وموند نود مرورود خواته ولاړ، اجثم مرورودي یې د مرورود د خلکو سره مخ ته راووت، سخته جګړه ونښته، اجثم ووژل سو، او د مرورود ډیر خلک هلاک سول، او موشمیر مشرانو یې چې معاذبن جبل او جبرئیل بن یحیی، او حماد بن عمرا و ابوالنجم سیستاني او داود بن کرا زهم پکښې وو، ماته و کړه.

منصور چې پدې وخت کې په «بردان» کې و، خازم بن خزیمه یې مهدي ته ولیږه او مهدي هغه د استادسیس جګړې ته وګماره او څو نور سرداران یې هم ورسره کړه، او خازم په بشپړ واک د استادسیس سره جګړې ته چمتو سو، خندقونه یې وکیندل، او په حربي خدعه یې لاس پوري کې، کله به له یوه ځایه بل ته، او کله به له یوه خندقه بل خندق ته تې، څو چې په یو ځای کې یې پر خپل لښکر د اسې خندق راوګرځاوه، چې څلور وروته یې درلود ل، او په هر وره کې یې څلور زره تکړه جګړن وګمارل.

له بلې خوا د استادسیس لښکر په بوسانو او کلنګانو هغه خندق ته به سوري کولو

لاس یوړی کی ، مخنې جګړی و نښتې او د استادسیس اویاړرو ته آزادی غوښتونکی ووژل سوه او خورلس زره هم د خازم دلښکرپه لاس کښیوتل ، او استاد سیس د هوررو تنوسلګرو سره یوه غره ته پناه یوړه . خازم د هغو څورلس زرو بندیانو سرونه هم پریکړه او په استاد سیس پسی و لاړ او استاد سیس په غره . کی محاصره کی، استاد سیس د هیرشورزرو تنوسره حکم ابی فرعون ته پناه وروړه اوحکم ابی فرعون هم پناه ور کړه .

دلته مورخان مختلف روایتونه لری ، ځو ک وایي چی حکم ابی فرعون استادسیس مهدی ته وا پیږه او هلته ووژل سو ، ځینی لیکی چی بخپله خازم وژلی دی .

په هر حال استاد سیس دافغانستان یوه پرلوسیالي او ننګیالي آزادی غوښتونکی وه او ځینی شرق پیژندونکی دی له ځغو سوء وداتو څخه ګڼي چی د هغوطهور په زردشتی مذهبو کی انتظارا یستل کیږی ، او لیری نه ده چی د هغه وخت زردشتیانو دی د «هوشیدر» او «هوشیدرماه » او «سوشیان» په څیر یوموعود تلقی کړی وی .

دمجمل التواریخ مولف لیکی چی : استاد سیس له سیستانه راو تلی وه او ابن اثیر یا په کاسل التواریخ کی لیکلی دی چی استادسیس دمامون د مور «مرا جل» پلاررو ، خو ځینو یاد اخبره باوروړ نه ده بللي .

مأخذونه: ۱-لغتنامه-۶-۲۱۰ مخ

۲- کامل التوار یخ - ۶ رچ ۲۰۱ رر

۳- طبری - ۳ رچ ۳۰۰رر

۴- مجمل التو اریخ و القصص-۸ ۳۲ رر

۵- تاریخ سیستان- ۱۴۳ رر

۱۱۷۵-اسحاق ابو بکر جامی: د مولانا عبدالرحمن جامی له اولادي څخه د خپل وخت له ښو خطا طانو څخه و . دبه خط لیکلو یوه دسته کامیږی درلود له . ځه موده له خراسانه کردستان ته تللی او په سلیمیه مدرسه کی ئی ځای نیو لی و . د خط ټول انواع

بی‌په‌لیکل ، په‌تیره‌بیا په‌نستعلیق کی‌لوی‌لاس درلود-او‌په (۱۰۷۷ هـ) کال کی مړ دی.

مأخذ: احوال و آثار خوش نویسان - ۱ ر۲۳ مخ

۱۱۷۶- اسحاق بستی: ابی‌محمد‌اسحاق‌دابراهیم‌زوی‌او دعبدالجبار نمسی دبست له نومیالیو حافظانو‌او‌قاضیانو څخه‌و.له قتیبه‌او ابن راهویه څخه‌یې‌روایتونه کړی‌او دمسندخاوندو .په(۳۰۷ هـ) کال کی‌مړ دی .

مأخذ: دده‌خدا لغتنامه -۲۲۲۵مخ

۱۱۷۷- اسحاق بیگ: دهرات له‌امیرانو څخه‌و، اوده (۹۲۷ هـ) کال‌په پسرلی کی چی‌عبیدالله‌خان‌اوزبك پرهرات یرغل‌وکی اسحاق بیگ اوده هغه ورور مقصود‌بیگ دهرات‌دښار دحصارپه ساتنه مامور‌ول .

مأخذونه: ۱- حبیب‌السیر-۳ر. ۳۸ مخ

۲- لغتنامه - ۲۲۵۳رر

۱۱۷۸- اسحاق‌سیستانی: دابراهیم زوی اود الحضین دسیستان له نومیالیو څخه‌و، چی‌دهرات دطاهریانو ددولت‌په‌وخت کی دسیستان «سیاری»نومی حکمران‌د طاهرد زوي‌عبدالله په‌امرله‌سیستانه دیوی ډلی سره‌خراسان ته‌و لیږه‌اود هری‌په کلاکي بندی‌کړه سو، خوچی ترڅه‌سودې وروسته‌عبدالله‌بن طاهرپیرته‌ایله کی‌اخلعت ئې‌ورو‌باخښه‌اود هرات ولایت ئې وروسپاره.

مأخذ: تاریخ‌سیستان -۱۸۰، ۱۸۹، ۱۹۱ مخونه

۱۱۷۹- اسحاق‌فاریابی: د ابراهیم‌فاریابی زوی د ابو نصر اسماعیل فاریابی اکاو ، لوی عالم او مؤلف و. «دیوان الادب اللغویان» دده له تالیفاتو څخه دی .

مأخذ: معجم البلدان- ۲/ ۲۱ مخ

۱۱۸۰- اسحاق فاریابی: ابو ابراهیم د ابراهیم فاریابی زوی د خپل وخت نومیالی عالم و، یو کتاب ئې د «دیوان الادب» په نامه تالیف کړی، او په (۳۵۰ هـ) کال کې مړدی .

مأخذ: لغتنامه - ۲۲۵۲ مخ

۱۱۸۱- اسد ابوسعد هروی: د رستم زوی، د احمد نسوی او د عبدالله کروښي د حدیثو عالم و، حدیثونه یې په بغداد کې چې تر حج وروسته هلته تللی و، د اسحاق له زوی محمد قرشي څخه لوستي، او بیا له ده څخه د عبید الله زوی ابویعلی عبدالواحد کتبي، او د ده خوریي د علي زوی ابوسعید حسن زده کړه کړې وه.

ده په ۳۸۲ هـ ق کال د بغداد په جامع المنصور کې تدریس کاوه .

مأخذ: تاریخ بغداد - ۷/۲۰ مخ

۱۱۸۲- اسد خان لودی: اسد خان لودی د ډهلي د پاچا (ناصرالدین سلطان محمود) له امراؤ څخه و . سلطان محمود د «سنبهل» واک د ده په سپارلی و. د ۸۱۰ هـ کال د دریمې خور په میاشت چې د جونپور پاچا سلطان ابراهیم له قنوجه د ډهلي نیولو ته وخوځېد، په لاره کې ئې پر «سنبهل» بریدوکی، اسد خان چې ئې د مقابلې توان په ځان کې نه لید، تردوو ورځو کلا بندی وروسته ئې ور پر پرېښود او ډهلي ته ئې تر پښې. سلطان محمود چې خبر سو د ۸۱۰ هـ کال دمیاشتې په میاشت کې ئې لښکری «سنبهل» ته راو بهولې، سنبهل ئې د سلطان ابراهیم د حاکم له لاسه وکیښ او بیرته ئې لودی اسد خان ته وسپاره .

مأخذونه: ۱- لودی پښتانه — د استاد رشاد لیکنه - ۳۵ مخ

۲- تاریخ فرشته — ۱/۱۶۱ مخ

۱۱۸۳- اسد خلیل: اسد خان مشهور په فتح خان په خټه خلیل پښتون په هند کې د دری او اردو ژبو شاعرو، او په شعر کې یې «اسد» تخلص کاوه . د اعظم ګړه په چکله کې او سېد، او همهلته د ۱۲۶۲ هـ ق کال د ذیقعده په ۱۷ د یکشنبې

په ورخ مړ دی . دی «دګلشن همیشه بهار» دمؤلف نصر الله خویشګی ساما و، او دهغی تذکری دلیکلو پر وخت (۱۲۵۷ﻫ) یې عمر تر ۶۰ کالو زیات و.

ددری ژبې دشعر نمونه ئې داده

سی خلد در سینه هردم تیر مژگان کسی
تا قیامت به نگردد زخم پیکان کسی

سرو را باقامت دلدار نسبتمی دهند
سرو یک چوب است با رعنائی شان کسی

جا ن بلب آمد زیبتابی ولی حاصل نشد
ای اسد یک قطره ازچاه زنخدان کسی

صدا پردرد آهی سرد وچشم زارباستی
ترا سوزی وسازای دل چو موسیقاربا ستی

اگر می آمدی یارم به گلگشت چمن ای سرو
باستقبال تعظیمش تر ارفتار با ستی

آ هوی چشم تو ز گلشن حسن
سنبلستا چر یـد ه سی آ یـد

ای اسد ا ز رسا ئی طبعت
هر کلامت رسیده می آید

مأ خذ: گلشن همیشه بهار — ۴۶ مخ

۱۱۸۴- اسدسامانی بلخی: دسامان زوی او دسامانیانو دکهاله ددولت دمؤسس «احمد» پلارو. پلار ئې «سامان» دابومسلم خراسانی سره، ده ته دطاهر ذوالیمینین دخراسان دامیر له خوا نجیبی مهمی دو لتی چاری ورسپارلې سوی وې، چې بیا تر ده وروسته دمأمون خلیفه له خوا و فرغانه اوسمرقند ولا یت دده زامنو احمد او نوح ته وسپاره سواو پاچهي ته ورسېدل او دآل سامان د ولت تر ۳۹۰ﻫ کاله

پوری دوام وکړ. له اسد څخه څلور راس پاته سوه چې نومونه ئې داوه: نوح، احمد، او الیاس.

مأخذونه: ۱– الاعلام – دزرکلي – ۱ / ۲۹۰ مخ

۲ – لغتنامه – د دهخدا – ۲۲٦۲

۱۱۸۵- اسد بن عبدالله قسري: دی د هشام بن عبدالملک خلافت په وخت کی له (۱۰٦ ه – ۷۲۴م) څخه تر (۱۰۹ ه = ۷۲۷م) پوری او بیا له (۱۱۷ ه – ۷۳۵م) څخه تر (۱۲۰ ه = ۷۳۸م) پوری دخراسان والي و، او د خراسان خلگ ځینی خوشاله وو.

دسامانیانو لومړی نیکه «سامان بلخي» دده پرلاس مسلمان سوی دی، او د خپل زوی نوم ئې داسد بن عبدالله قسري په نامه «اسد» ایښی و. (په دې کتاب کی دی اسد سامانی ته رجوع وسی)

عربانوچی دبلخ ښار وران کړی و، اسد بیرته هغه ودان کی، او په (۱۰۷ ه – ۷۲٦م) کال ئې خپل معسکر په «برقان» څخه چې له بلخ څخه دوه فرسخه لیری پروت و، هغه ښار ته نقل کی، او څه وخت وروسته دی پخپله هم هلته ورغی.

ماخذ: دائرة المعارف الاسلامیة – ۲ / ۳ ر ۱۰ مخ

۱۱۸٦- اسد قسري بلخي: د عبدالله قسري بجلي زوی دبلخ له زړورو او سخیانو امیرانو څخه و. په دمشق کی زیږېدلی، او هغه وخت چې دده ورور (خالد د عبدالله زوی) په (۱۰۸ ه) کال په خراسان کی والي و، دی هم هلته ولاړ، د بلخ ښار ئې نوی کی، او هلته ئې خپل عسکر میشته کړه، او پخپله هم هلته میشته سو. خلگ ورځینی خوشاله وو، او «سامان» دسامانیانو لومړی نیکه دده پرلاس مسلمان سو، او خپل زوی ئې دده په نوم ونوماوه «اسد» ئې تر کنبیبنووه.

په (۱۱۷ ه) کال ئې له ترکانو سره چې پر خراسان ئې برغل کړی و، جگړه و

ونښتله. ترجګړې وروسته په بلخ کې وفات سو.

ماخذونه: ۱- الاعلام- دزرکلی -۱ر۱۹۱ ۲سخ

۲- ابن اثیر- ۵- ۱۹ رر

۳- ابن خلدون-۳-۶۹ رر

۴- الطبری — ۸ ر ۳۴۷ رر

۱۱۸۷-اسدالله‌خان ابدالی: دعبدالله خان ابدالی زوی و. هغه‌وخت چې دایران صفوی دولت پر کندهار تېری وکی، اوګرګین‌خان یې هلته د خپل حکمران په حیث وګماره، نو عبدالله‌خان اونورو پر ابدالی پښتانه دګرګین دظلم له لاسه له کندهاره د ښوراوك اوبکوا سیموته وکوچېدل ،چې اسدالله خان هم د خپل پلار سره ولاړ

بیا چې په (۱۱۱۹ ه) کال کې سیرویس نیکه ګرګین ووواژه او کندهار یې د پردیو له لاسه وژغوره‌نو کیخسرو دصفوی حکومت‌سرلښکرچې د ۲۵ز روجګړنو سره‌دسیرویس نیکه‌مقابلې ته د کندهار پرخواراتی عبدالله‌خان یې ددې دپاره دځان ملګری کې چې د پښتنو په‌منځ کې نفاق‌واچوی‌اوعبدالله‌خان دسیرویس‌نیکه‌سره‌وجنګوی، خو عبدالله‌خان که‌څه هم د کیخسرو سره‌تر کندهاره‌راغی‌مګر هغه چې هوښیاراو زیرك پښتون و، بې له‌دې‌چې‌دسیرویس نیکه‌سره وجنګیږی کیخسرویې پریښوداو دهرات‌خوا ته‌دخپل زوی‌اسد الله‌خان سره‌ولاړ، اوهلته یې دصفوی متجاوزینو پرخلاف فعالیت‌شروع اوپه هرات کې یې‌خپل ملی‌حکومت‌اعلان کې ،اوچه‌صفوی حکومت‌د صفی‌قلی‌خان‌په مشری‌خورا لوی‌لښکر د هرات‌د نیولودپاره راواستاوه‌نو همدااسدالله خان دآزا دی غوښتونکو پښتنوسره دهغه‌مقابلې ته‌ووت، اود« کاریز» کلی‌ته نژدې ډیره خونړۍ جګړه‌ونښته چې‌په‌پای کې‌صفی قلی‌خان‌سخته‌ماته وکړه‌او اسدالله خا ن بریالی سو اوډیر غنایم‌یې لاس ته‌ورغلل (۱۷۱۹ م) بیانواسدالله‌خان ټول‌غربی خراسان فتح اوفراه‌یې آزاده کړه ،خوله‌بده مرغه‌په (۱۱۳۲ ه ق) کال چې شاه محمود هوتك د کرمان‌د خلاګوپه غوښتنه دلوی‌لښکر سره‌هغې خواته‌روان و، اسدالله خان دپردیو

دښمنانو په لښکرو او نغوته چې غوښته یې پښتانه په خپل منځ کې سره ووژني د فراه په شاوخوا کې یې د شاه محمود لښکر ته لاره ور نه کړه او د «خاش رود» پر غاړه د دوو پښتني لښکرو منځ نښته وسوه او له بده مرغه د ښمنۍ په شروع کې اسدالله خان ووژل سو.
دې غمجنې پېښې پر شاه محمود هوتک دونه ناوړه اغېزه وکړه چې د کرمان د تګ عزم یې فسخ کې، او بېرته پر غمجن زړه کند هار ته وګرځېد.

ماخذونه: ۱- تاریخ سلطاني – ۹۹ مخ

۲- حیات افغاني – ۱۲۷ مخ

۳- جهانکشای نادري – ۵ مخ

۴- د تتمة البیان ترجمه – ۸۳ مخ

۱۱۸۸- اسدالله خان لودي: د احمد خان لودي زوی و، چې د پلار تر مړینې وروسته د خپل اکا «محمد خان» سره په سرهند کې پر خپل جاګیر اوسېد. په ۹۴۷ هـ کال (۱۵۴۰ م) چې همایون پاچا د پښتانه شیرشاه سوري له توري هندوستان پرېښود، او په هند کې بېرته د پښتنو پاچهي ټینګه سوه، نو شیرشاه دی ورو غوښت، د ډېرو سپرو مشر توب ئې ورکی او په بهار کې ئې جاګیر ور وباخښه، تر ۹۶۰ هـ = ۱۵۵۲ م کال پورې چې «عدلي» پر پاچهي کښېناست، دی پر خپل منصب پاته و، خو څنګه چې «عدلي» پاچا سو د ده جاګیر ئې ځینې ضبط کی، اسدالله خان هم ځني خوابدی سو، د «عدلي» حریف سوري سکندر ته چې د پنجاب حاکم و، ولاړ، هغه ډېر ورنازاوه، او په درنه سترګه ئې ورته کتل، مګر ډېر ژر په ۹۶۳ هـ کال پخپله پر سلطان سکندر سوري باندې ماتې وسوه، بیا مغلو د هند پاچهي ونیوله، نو اسدالله خان خپل لږ پاته عمر په سرهند کې پر خپل پتې (جاګیر) باندې تېر کی او په همغه کال (۹۶۳ هـ = ۱۵۵۵ م) کې مړ سو.
ده دوه زامن درلودل چې یو رحمان خان او بل حقداد خان نومېد، رحمان خان «ماوي» ته ولاړ او هلته د هغې لتې د پښتانه پاچا باز بهادر په امیرانو کې داخل سو، او حقداد خان اګرې ته ولاړ او هلته د اکبر پاچا په لښکرو کې نوکر سو، په آګره ئې واده

پسی وکیءاو تر مرګه(۱۰۱۷ هـ - ۱۶۰۶م) کال پوری هلته په اګره کی پاته سو. حقداد خان یو زوی درلود چی رحیمداد نومید،د پلارتر مړینی وروسته د پلار منصب ورکړ سو،او په ۱۰۴۹ هـ - ۱۶۳۹م کال کی ومړ.

مأخذ: لودی پښتانه - د استادر شاد لیکنه - ۳۰۲ مخ

۱۱۸۹-اسد الله خټک: د افضل خان مشر زوی او د پښتو شاعر و، د شعر بشپړ دیوان ئې درلود.

۱۱۹۰-اسرار سبزواری: ملاعبدالهادی د سبزوار شیعه مذهبه شاعر اوتخلص ئې «اسرار»و،په ۱۲۸۹ هـ کال کی مړ دی.

یو کتاب ئې د «حکم الاسرار» په نامه لیکلی و.

مأخذ: هدیة العارفین-۱/۶۴۴ مخ

۱۱۹۱-اسراری خراسانی: مولانا یحیی شیبک یا سیبک د خراسان له فاضلانو څخه و. په دری ژبه ئې شعر وایه،او په شعر کی ئې څو تخلصونه درلودل کله ئې «اسراری» کله ئې «تفاحی» او«فتاحی»او کله ئې هم«خماری» تخلص کاوه. په ډیرو علومو او فنونو کی ماهر و،په تیره بیا د عروضو او د بـی صنایعو په فن کی تولو خلکو منانه،یو کتاب ئې«شبستان خیال»نومیده چی د ده اد بی قدرت ښه ځینی څرګندیږی - دا ئې مطلع د غزل په پای کی ئې«فتاحی» تخلص کړی دی:

ای که دور لاله ساغر خالی از می میکنی

رفت عمر این داغ حسرت را دوا کی میکنی؟

او دا مطلع ئې د هغی غزلی دی چی«اسراری»ئې پکښی تخلص کړی او د خواجه حافظ په اقتفا کی ئې ویلې ده:

ای فروغ حسن ماه از روی رخشان شما

آب روی خوبی از چاه زنـخدان شما

د«شبستان خیال»پر کتاب سربیره د«تعبیر خواب» په نامه یوه منظومه رساله

او د«حسن و دل» په نامه یو منثور اثر هم لري.

مولانا اسراري درویش مشربه او قانع سړی و،او څنګه چې په گوښه کې ناست و، نودده آثارو زيات شهرت نه دی موندلی، که نه امیر علیشیر نوائي وايي چې : «دعروض په فن کې د مولانا په واسطه شاگرد یم»

په(۸۵۲ هـ) کال کې مړ دی.

مأخذ: مجالس النفائس- ۱۸۸/۱۳ مخونه

۱۱۹۲-اسعد سوري : شیخ اسعد د محمد زوی و ، چې په(۴۲۵ هـ ق) کال د زمینداور په بغنی کې وفات سو. شیخ اسعد د پښتو ژ بې له پخوانیو قصیده ویونکو پخو شاعرانو څخه و ، چې په غور کې او سیداو دسوري کورنۍ په پاچهۍ کې د بر مخورو .

هغه وخت چې سلطان محمود غزنوي پر غور حمله وکړه او امیر محمد سوری دغور د آهنگران په کلا کې کلابند کی شیخ اسعد هم د آهنګران په کوټ کې و، بیا چې سلطان محمود پر امیر محمد سوري بري و موند او هغه یې بندي غزني ته وا ستاوه او هغه پرلاري له غیرتهځان وواژه نو اسعد سوري د هغه پر مړینه با ندې یوه له سوزه ډکه و یرنه (مرثیه) په یوه لویه قصیده کې وو یله او هغه دا ده:

د فلک له چا روڅه وکړم کو کار
زمولوی هرګل چې څا ندی په بهار

هر غټول چې په بید یا غوړیده و کا
ریژوي یې پا نې کا ندی تار په تار

د بر مخونه د فلک څپېړه شنه کا
د بر سرونه کاندې خاورو لا ندی زار

دوا کمن له سره څول پر بیا سی مړ سی
دبې ورځو وینی توي کاندې خونخوار

چې د وزارت په باب کې ورولیږل، سترخواجه ونه منل، اود بوسهل زوزني په خوله یې خپل عذر سلطان مسعود ته داسې لیږل و، چې:

«زه زوړ سوی یم ، دا کار په هیڅ توګه زما له لاسه پوره نه دي، نو وزارت دې تا (بوسهل زوزني) ته در کړي او عارض دې بوسهل حمدوی چې با کفا یته سړی دی وټاکي، زه به له لیرې مصلحت ګورم او مشوره به در کوم »

بوسهل روز ني ورته ویلي و: «زه دا هیله نه لرم اونه زه د دې کار وړیم» .

ستر خواجه وریا ده کړې وه چې : «سبحان الله هغه ته نه وې چې د ا مغا نه دې خان اسیر ته راورساوه ، اوپو هغه وخت کې چې د هیواد کارونه لانیمګړي وو، تا ټول کارونه کول ؟ نن چې د ی د هیواد پر تخت ناست او کارونه ټول بشپړ سوی دې ترهغه وخت لا بنه کار کو لای سې »

بوسهل زوزني ورته ویلي و، چې: «دا هغه وخت و، چې د پاچا سړه څو ګډنه و، او س چې ته راغلې نو زه څه یم اوساغونډي نور څه؟ دنمر په وړاندې ذره کله راوتلای سې؟ سوړ ټول باطل یو ، اوتاسې خداوند پر حقیقت ـ زمونږ ټولو لاسو نه لنډسول»

په پای ستر خواجه جواب ور کړی و، چې: «ښه، زه به په دې کې فکر وکړ م »

بیهقي لیکي چې په دوو درو ورځو کې، تقریباً پنځوس اوشپېته پیغامه په دې باب کې رد وبدل سوه، خوستر خواجه وزارت نه مانه، خو چې بوه ورځ دسلطان مسعود در بار ته ور غی، او هغه در بار خالي کړی، د ده سره یې یوازې په خبرو بیل و کی، ء:

سلطان مسعود ورته وویل: «ولې؟ خو اجه دې کارته غاړه نه ږدې ؟ او پوهیږې چې زما د پلار پر ځای دی ـ ډېر مهم کارونه په مخ کې لرو، باید چې خپل کفایت له سوړ ونه سپموی »

ستر خواجه ورته وویل : زه فرمان وړونکی بنده یم ، او د الله تعالی تر قضا وروسته تاسې خداوند ماته ژوند را کړی ـ خو زه زوړ سوی یم اوله کاره لویدلی یم، اوهم ما نذر ایښی اوسخته لوړه مې کړې ده چې نور هیڅ کارونه کړم ـ ځکه چې ماته

عبدالحی حبیبی دی چې قرآن عظیم یې د تجوید، صرف او نحو، فقه او ادبي علوم د مبادي یو سره له ده څخه لوستي وو.

مولوي صاحب د قرآن عظیم قاري، لوی فقیه، مفسر او محدث و، او په اسلامي علومو کې یې لوی لاس درلود.

د مسجد په حجره کې په تجرد، زهد او تقوی صایم النهار او قایم اللیل او سید، او د قرائت علم یې د بېلو بېلو مکتبو پر اساس تدریس کاوه، او د افغانستان د خپلواکۍ د بیا ګټلو په دوهم کال چې د څه وخت د پاره کندهار ته راغلی و، ذاتیا تنو طالبانو په شار خوا کې پر ده باندې د زده کړې د پاره راغونډ سوي وو، او د تجوید او د قرآن مجید د قرائت زده کړه ئې څیني کوله، چې بېرته هند ته ولاړ نو د تجوید په فن کې یې د «دلیل القرآن» په نامه په پښتو یوه رساله ولیکله او چاپ ئې کړه، او دوه زره ټوکه ئې افغانستان ته راولېږل چې تر اوسه یې طالبان په سبق لولي او څو واره نور هم چاپ سوي دي. پنځلس کاله وروسته بیا هم افغانستان ته راغی او دا ځل هم ډېرو شاګردانو زده کړه څیني وکړه او بیا بېرته د کن ته ولاړ، شپاړس کاله وروسته بیا هم کندهار ته راغی او ډېر سلاېان او پوهان یې له مجلسه مستفید سوه، وروستی ځل د ۱۳۴۹ ه ش کال په ووړي کې وطن ته راغی چې ترڅه موده وروسته بېرته د کن ته ولاړ.

د علامه ابوالوفا خورا ډېر آثار او کتابونه چاپ سوي دي چې زیاتره د دوی خپل تألیفونه او یا تعلیقات دي. وایي چې یوازې په مصر کې ئې دوه اتیا کتابه په مختلفو موضوعاتو کې چاپ سوي دي. هغه وخت چې ده په د کن کې استوګه غوره کړه نو هلته د «نظامیه مدرسې» استاذ وټاکل سو او سربېره پر هغه د «احیاء المعارف النعمانیه» د موسسې رئیس هم و، چې نادر نادر کتابونه ئې چاپول او د هغو کتابو تصحیح، تحشي او مقابله د ده پر غاړه وه.

چې له برمه یې زه‌ری ر ېي زنګلوکی
له ا وکو به یې ډا ری تیرو جبا ر
هم یې غشی مکنې ډا ل دژو بلو ر و
رستما ن څنې څغلا کا ندی په ډار

چې یې سلاوی نه کېږیږی په غښتلیو
دا فلک پرو کا څه کاری ګذا ر

په هوه‌ګرد ښت یې پر ېباسی له برمه
نه یې غشی، نه لیندی وی، نه یې سبار

څه تیری څه ظلم کا ندې اې فلکه !
ستا له لاسه نه دی هیڅ ګل بې له خار

په و یر ژلولور نکړې په زړه کرار یې
پر نتلیو او روی د غم نا تار

هیڅ روغې‌سې په زړه نسته ستا له‌خوره
پیلوې په ژ ړا ژړ مین له یا ر

له تیر یو دی اوښی څاڅي له اوریځیو
چینې ژاړی په ورت ورت ستا له شنار

نه به لاس و اخلې له‌خوره نه به لوري
نه به ملا کړې له بې و زلو له ترا ر

نه به‌ز ړه و سو ځوی په هیچا با ندی
نه به پر یو زی له ګر د ښته له مدا ر

نه به وصل کړی مین له بل سینه
نه به درملی ټپونه دا فګار

ستا به لاسه دي پرانه ژوبل زګروي کا
هر پلو ته نوی زړونه په ښار ښار

کله غوښې کا ندې سرانډی دړو ګيو
کله تیر باسي وګړي هسو بیدار

کله تکی وا چوي پر ناز و لښو
کله خیری کړي ګریوان د نمنځي چار

کله غور ځوي وا کمن له پلاړ زونو
کله کښينوي په ښاورو کي با دار

ژمنو پر زړو نودي نن پيا يو غشي و و پښت
ودي ژوبل په دي غشي هزار

په سور يو االدی وير پریووت له پاسه
محمد و اکمن چي ولاړي په بل دار

يو وار سوا سر په لاس د سرخمنو
انتقال يي وكړ قبر له بل وار

په سما ويي و د ان آهنګران و
په تيکنه و ، پر درست جهان اوښار

د محمودد ژوبلو زړو په لاس کښيووت
چي غزنه ته يي با تلي په تلوار

لنګوا ليولره قهد سر ينه د ه ځکه
سه يي والو تله هسك ته پردي لار

تر لري يي ځور مخا وري هډ يره کا
د ژمرو يوه بيړو کله وي خوار

په دې ویرنه غور وګړي تور نمري سول
په دې ویرنه تیاره سوله د ښار

ګوره ښاخې رنې اوښې له دې غروڼو
دا کړ ونګې ساندې لې په شور هار

نه هغه زرغاد غروڼو د بید یا ده
نه د زرکیو په سا دی کتهار

نه غټول بیا زرغونیږي په لا بتونو
نه بامې بیا مسیده کا په کهسار

نه له غرجه ښکاراځي کاروان د منکو
نه را ډروسي غور ته بیا جوینې د ښار

د پسرلي او ووتو دې اوښې تو ینه
مرغلري په نیسان نکړي نثار

دا په څه چې «محمد» ولاړ له نړیه
په ویرنه یې سو غور تول سوګوار

نه ښکاریږي هغه سورد سور په لتو
نه ځلیږي هغه لمر پر دې د یسار

چې به نجلیو په نڅا ښکې خندله
چې به پېغلو کا اتڼ قطار قطار

هغه غور په ویرنا تاردوا کمن کښینوست
هغه غور سو جاندم غندې سور آر

لاس دې مات شه اې فلکه چې و کا
محمد غندي زمري د سر ینی ښکار

شین زړګی فلکه ! ولی لاو لاړېږ ؟
اې د غوره‌وو به څه‌نسوی غبار؟
سخکې ! ولی په‌ربیدنو نه‌ړ یوزې ؟
لاندې‌ماندې‌سه ! چی‌ورکښې د اشعار
چی‌زمری غندی‌وا کمن‌نو،له جهانه
چی غوك نګړی به نړی با ندی‌ګر ار
سخ په‌تا اې محمده ! د غیر لمرېږې
په نړی به نه وی ستا د عدل سا ر
ته پرننګه‌وی‌ولاړ په‌ننګ کی سړسوې
هم پر ننګه‌دې په ننګه کامګان‌جار
که سوری‌دی به ننګ‌وېر کاندی‌و پر من‌سول
هم به‌و یاړی ستا په نوم ستا په تبار
په‌جنت کی‌دی‌وه‌تون‌زموږ وا کمنه !
هم په تا دی وی ډیر لو ر د غفا ر

شیخ اسعد سوری لکه چی دمخه ولیکل سوه په(۵۲۳هـ) کال د ز سیندا ور په بغنی کی مړاو هلته ښخ سو.

مأخذ : پټه خزانه - ۳۷ مخ تر ۴۷ مخ پوری.

۱۱۹۳ - اسکافی بلخی : ابوبکرمحمد داحمد اسکافی بلخی زوی حنفی عالم‌و، په (۳۳۳ هـ) کال کی مړدی، او په‌فروعو کی‌ئی دشیبانی پر جامع صغیر با ندی شرح لیکلی‌ده.

مأخذ : هدیة‌العارفین- ۲ ر ۳۷ مخ

۱۱۹۴ - اسلام‌خان افغان : د هوتکو پښتنو د پا چهی په دوره کی دشاه اشرف هوتک‌پوځ‌ښتلی جنګیالی اونوسیالی‌قوماندان و، په (۱۱۴۲ هـق)

کال چې شاه اشرف دنادرشاه افشار سره د«مهما ندوست» په سیمه کې جنګید ، او دنادر شاه لوی لښکر د هرمخ تنګ په حال کې و، اسلام خان افغان د پښتو زړو ښتو جنګیا لیو سره دنادرشاه پر لوی لښکر دوه واره سختې حملې وکړې څو چې نادرشاه مجبور سو پخپله دخپلې لویې توپخانې سره داسلام خان مقابلې ته ورزي .

اسلام خان دشاه اشرف له خوا دتهران دښا رحاکم و .

ماخذونه : ۱ — جهانکشای نادری — ۷۸ مخ

۲ — خورشید جها ن — ۲۴۳ مخ

۳ — هوتکیا ن — ۱۴۳ رر

۱۱۹۵-اسلام خان لودی: سلطان شه «اسلام خان» لودی دبهرام خان زوی اود احمد نمسی اود شا هو خان کړوسی د هند دلودی پښتنو له نوميا لیو امیرا نو څخه و .

دده پلار د کیمې له غرمڅخه ملتان ته تللې او هلته دملتا ن دوا کمن «ملک مروان دولت» سره نوکر سوی و، دهغه پنځه زامن پاته سول : ملک کا لا خان، ملک سلطان شه، ملک فیروز خان، ملک محمد اوملک خواجه .

په (۷۷۸ ه) کال چې دسلطان فیروز شاه له خوا دملتان واک نصیر الملک «خضر خان »ته وسپاره سو، نوسلطا نشه دهغه سره نو کر اود خو غښتلو پښتنو په مشر توب وتبا کل سو دده وفا ، تو ری او میرانې دده له پاره خضر خان ګرانښت اوو پساوړخ په ورځ زیا تو له .

په (۸۰۸ ه) کال چې سلطانشه دخضر خان غښتلی حریف« ملو اقبال خان لودی» ووا ژه نو خضر خان ډیر و نازاوه اوده ته ئې د«اسلام خان» لقب ور کئی.

په «۸۱۷ ه » کا ل چې خضر خان د ډهلی له دولت خان لودی څخه ونیو او د ډهلی ، پنجاب، دیپا لپور او ملتان پاچا سو ، نود (۸۲۱ ه) کا ل د رجب په

میاشت ئې خپل داتوریالی امیر «سلطانشه اسلام‌خان» د سرهنداو دوآبې حاکم وټاکه.

په (۸۲۲ هـ) کال چې یو سړی د سارنګ خان لودی په نامه خضر خان ته پورته سو، خضر خان دغه د سرکوټلو دپاره سلطانشه اسلام خان وګماره او دده په لاس سارنګ خان ته ماتې ورکړه، او اسلام خان د جمو د غرو او لکهي جنګل ترسوبې وروسته سرهند ته ستون سو.

په (۸۲۴ هـ) کال چې خضر خان د ډهلي پاچا مړ سو او پرځای ئې زوی «مبارکشاه» کیناوست، «جسرت ګکهړ» د کشمیر پروا کمن «شاه علي مردان» بری وموند، نوئې مخ د ډهلي ته راواړاوه، د ستلج تر سینده پورې ووت، په سرهند کې ئې د «اسلام خان» سره جنګونه وکړل هغه و، چې پخپله د ډهلي پاچا «مبارکشاه» د اسلام خان ملاتړ ته ورورسید او «جسرت» ماتې وکړه او د جمو غروته وتښتید.

په (۸۲۵ هـ) کال چې «جسرت» بیا پر لاهور برید وکئی د ډهلي لښکرې د ملک سکندر «تحفه» تر مشرتابه لاندې پسې راووتلې، اسلام خان هم د خپلو پښتني پوځو سره په سرهند کې ورسره مل سو، دا ځلا بیا جسرت غروته تښتېدلی وخوت.

د (۸۳۱ هـ) کال د سپانې په میاشت بیا «جسرت ګکهړ» د «کلان نور» ښار کلابند کی، د لاهور حاکم ملک سکندر «تحفه» ئې مقابلې ته ورووت، خو په ماتې لاهور ته ستون سو، او جسرت ګکهړ تر «جالندهر» پورې ټولې سیمې تالا کړې، مبارکشاه چې د ملک سکندر په ماتې خبر سو، اسلام خان ئې له سرهنده او «خیرک خان» ئې له سامانې څخه د ملک سکندر مرستې له وګمارل، خو ملک سکندر تر دوی د مخه برید وکی او جسرت ئې بیا غروته وځغلاوه.

په (۸۳۳ هـ) کال د «پتهر هندي» په کلا کې یو پولاد نامي یاغي سو او مبارکشاهي لښکرې ئې ماتې کړې، نوځکه مبارکشاه اسلام خان او کمالي خان او رای فیروز د پولاد جنګ له وګمارل، پولاد شپږ میاشتې کلابندي وګالله خو چې امیر شیخ علي

چې په کابل کې دګورګاني شاهرخ له خوا واکمن و، د ده مرستې ته وروز سېد اودی ئې په (۸۳۴هـ) کال له کلابندی څخه خلاص کې، تر دیپالپور پورې څوک دامیر شیخ علی سخې ته ونه در ېدلای سوه، څو چې له دیپالپوره ئې ملتان ته مخه وکړه دملتان په لس کروهې کې دجیلم د سیند پر غاړه اسلام خان مخ ورته ونیو، کلک جنګ ئې ورسره وکې د بر پښتانه ووژل سوه اسلام خان خیرآباد ته پرشا سو، هره ورځ به جنګ کېده خو سو به چانه وړه، څو چې مبارکشاه د ډهلی لښکری پسې راو بهولې، شیخ علی ماته وکړه او کابل ته ئې تر پلل.

د (۸۳۷هـ) کال درجب په میاشت چې سلطان مبارکشاه ووژل سو، او «محمدشاه» وراره ئې پر ځای کښېنو ست هغه هم هغه وخت چې د سلطا ن مبارکپور ته ورغی اسلام خان ئې ډېرو ناز اوه.

اسلام خان د (۸۴۰هـ) کال په شاو خوا کې په سرهند کې سړ سو، وایی چې په د غه وخت کې دده څېلی پښتنی لښکری دوو لسو زرو تنو ته رسېدلې.

اسلام خان چې سړ کېدو که څه هم زامن ئې درلودل خودپښتنو د برم سا تل د خپل وراره «بهلول» په سوبه کې ګڼل نوئې د پښتنو مشرتوب او د سرهندا و دیپا لپور حکومت «بهلول» ته وسپاره او خپل قوم ته ئې دده د منلوو صیت وکې.

مأخذونه : ۱- لودی پښتانه - دا ستادرشا دلیکنه - ۵ مخ

۲- خورشید جها ن - ۳۴ رر

۳- طبقات اکبری - ۱/ ۲۶۹ رر

۴- تاریخ فرشته - ۱۶۳ رر

۵- سیرالمتأ خرین - ۱۳۴ رر

۶- مرقع افغان -

۱۱۹٦- اسلام خان «والا» بدخشي : میرضیا الدین حسینی بدخشي مشهور په اسلام خان او متخلص په «والا» ددری ژبې شاعر و، او په هند کې د عالمګیر

پاچا سره دهغه دشهزادګۍ په وخت کې او سید، اوپاد همه دجانشینۍ په شخړه کې یې ددارا شکوه او شجاع پر خلاف په جګړه کې ګډون کړی و، او دعالمګیردپاره یې لوی لوی خدمتونه وکړه'عالمګیرهم ده ته په درنه سترګه کتل اود کشمیر داله آباد صو به داري یې ور کړي وه او په پنځه زري خطاب یې هم و یارلی و. په اشعاروکې یې «موالا» تخلص کاوه او دا بیتونه دده دي:

بی تو شام غمم بروز شبخون می زند
مردم چشمم زګریه غوطه در خون می زند

وسعتی پیدا کن ای صحرا که امشب در غمش
لشکر آه من از دل خیمه بیرون می زند

ماخذونه: ۱- بزم تیمور یه ۲۸۷ مخ
۲- مآثر الامرا ۲/۲۲۰ رر

۱۹۷ ۱- اسلام شاه سوري: دپښتون شهنشاه شیرشاه سوري زوی، معروف په «سلیم شاه» اوتر پاچهۍ دمخه یې اصلي نوم «جلال خان» و.

دشیرشاه تر مړینې وروسته څنګه چې ددهستر وروړ شهزاده عادل خان له مرکزه لیرې د «رنتهور» په کلا کې و، نود شیرشاهي دولت سخورو او مشرانو شهزاده جلال خان چې په پټنه کې و، د کالنجر کلا ته راوغوښت او په (۹۵۲ هـ) کال د پاچهۍ پر تخت کښېنا وه، سکه او خطبه یې دده په نامه جاري کړه او خان ته یې د «اسلام شاه» خطاب ورکا که، او خپل مشرورورته یې ولیکل چې: «سادقتنې او آشوب د آرامولو او سپاه دساتلو د پاره ما دا جرئت کړی دی، خو په حقیقت کې یې دامر له اطاعته بل منظور نسته»

هغه و، چې شاهزاده عادل خان هم له رنتهوره راشې او په آګره کې سره یو ځای شول او اسلام شاه خپل وروړ شاهزاده عادل خان ته وویل چې: «ترا وسه پښتنا نه له تفرقې څخه ساتل سوي دي، اوس یې تاته سپارم» مشرورور انکار وکې او اسلام شاه

یې ترلاس ونیوه پرتخت یې کښېناوه ، اولوړې ده ورته سپارلکې وو یله او پیاد ده نوروملګرو سرورته ټیټ کې .

اسلامشاه تر(۹۶۰ه) کال پورې په ډېره ښېرانه پاچهي وکړه ، اوځو جګړې چې یې د مخالفینو سره وکړې په ټولو کې بریالی و ،

غلام حسین خان طباطبائي په سیرالمتاخرین کې لیکي چې :« داتشنهٔ قوانین عدالت وقواعد سلطنت مانند پدر بذل جهد مرعی میداشت ، درعهد او دست اقویا بضعفانمی رسید ، ازبنګاله تا بنګاله درمیان سراها که شیرشاه احداث کرده بود یک یکسرای دیگر تعمیر نموده بدستور پدر برای مسافران طعام از سر کار خویش مقرر کرد ، قانونګویان پرګنات برای نګاهداشت سر رشته کاغذ ازتغیر وتقطیع و بیان حال رعایا درتدبیر آبادی وافزونی زراعات و دیده بانی ضبط حاصلات وګز ارش نیک وبد هرجا اختراع اوست ، ملک ګیر وجهانداری ومراسم معدلت وانصاف و انتظام مهام دراقل ایام بنوعیکه ازین پدر وپسر بظهور رسیده ازسلاطین ګذشته هند کمتر نشان می دهند ، مدت سلطنت او هشت سال ودوماه وهشت روز بود » .

ماخذونه : ۱ — سیرالمتاخرین — ۶۱۰ مخ .

۲ — طبقات سلاطین اسلام — ۲۶۹ رر

۳ — لغتنامه — ۲۳۸۰ رر

۴ — د تاریخ ادبیات ایران ترجمه — دبراون تالیف — ۱۳۵ مخ

۱۹۹۸ — اسلم خان بړیڅ : دفتح خان بړیڅ پلار او په خپل وخت کې د هیلمند دیښت دښتې مشر او حکمران و :

فتح خان د « فتح خان او رابیا » دتکل پهلوان دی اودوی تکل په پښتو کې خورا شهرت لري ، په هغه تکل کې څوناری اسلم ته هم منسوبېږي .

وایي هغه وخت چې فتح خان له پلار څخه دخوابدی په دول بېلېده او له بسته

د هند پر خوا رهي کیده ، او په نیمه شپه یې د کوچ نغارې وډنګولې نو اسلم خان داسې ناره پورته کړه:

«که څه کې څه کې، دا هو وي فتح خان څه کې؟ پر نیمه شپه یې نغارې وډنګولې خان پر کم اوري واته کې ؟» فتح خان د ګیلې په توګه پلار ته وویل :

«سلام د رواچاوه رابیادي نه کښې چې پر تخت د روخنم ځای دی رانه کې» بیا نو اسلم خان زوی د خپله پښېمانۍ داسې څرګند وي :

«په یوه لاس کې اتام په بل قران دی اسلم خان خوښې پر توره بل پښېمان دی» ددې نکل تفصیل د «ف» په ردیف کې د «فتح خان بړیڅي» تر نامه لاندې لوستلای شی.

ماخذونه : ١- ملي هنداره- لومړی ټوک

٢- پښتانه شعرا ١ - ر، ١٠٢ مخ

١١٩٩- اسلم لوڼ : محمد اسلم د دین محمد زوی د عبدالکریم لمسی په خته لوڼ پښتون د کندهار له هغو نومیا او شاعرانو څخه دی چې په پښتو او دري ژبو ښې شعرونه وېل. په پښتو کې یې دري مردف او بشپړ دیوانونه درلودل، په دري ژبه کې یې هم یو دیوان سته چې د روزرو پیتو ته رسیږي ، یو بل کتاب هم لري چې «د پښتو ژاړه لغات» نومیږي.

دا پښتون ادیب د کندهار د ښار د بامیزو په کوڅه په ۱۲۰۳ ، ه ق کال زیږیدلی او د ۸۷ کالو په عمر په ۱۲۳۲ ، هق کال د لومړي خور په شپږمه هلته مړ دی او پخپله لري یې هدیره کې چې د کندهار د ښار د «بروشا برج» پر برابري پر شاه ویالي پر لوړه ځای یې لاري لوبلا بزهلوته پرته ده ښخ دی.

وایي چې: محمد اسلم له کوچینوالي څخه شاعرانه ذوق او د علم او سلوک خوا ته هڅه درلوده ، چې لوی شو پلارني کسب او کار (سوداګرۍ) ته یې توجه ونه کړه دیوي بلایي اوسرې ګورنۍ نازولی زوی د نیرو آرزو وکانو پر خلاف د فقر او سلوک او علم او ادب لمن داسې ټینګه کړه چې د ژوند تر پایه یې پرې نښووله ، عمر یې په تجربه او تجرد کې تېر شو، یې مطالعه شعر ویلو، ریاضت او تفکره یې بل کار نه درلود

ډېرآزار را رسیدلی «دی سلطان ورته وویل: «ستا دلوړی (سوګند) کفارت به زه وفرمایم، خوسوربايد په دې خبره کی ډېر مخ ونه وهې»

ستر خواجه ورته وویل: «که ددې کار له منلو څخه چاره نه وي، نو که عالی رای به بې منی زه به په طارم کی کښېنم، هر پیغام چی سلطان اړې دیو معتمد په خوله دی عالی مجلس ته واستوی او جواب دی وا خلی، هغه وخت به دعا لي فرمان د سره سم کار وسی».

سلطان وویل: «دیره ښه! کم معتمدغواړی؟» ستر خواجه وویل: «بوسهل زوزني دی په منځ کی، وی خوښه داده چی بو نصر مشکان هم ورسره وی، ځکه چی سم سړي دی او پخوا هم زما په پیغامو کی دی و»

سلطان وویل: «خورا ښه!»

هغه و، چی ستر خواجه د رسالت دیوان ته ولاړ، او هلته یې د خواجه ابونصر مشکان سره یوازی خبری وکړې - بیهقی لیکی چی دابو نصر مشکان له خولې می واروېدل چی ویل یې:

«من آغاز کردم که باز گردم سرا ینشاند و گفت مرو- توبکاری که پیغامی است بمجلس سلطان، و دست از من نخواهد داشت تا به بیغوله بنشینم که سراروزگار عذر خواستن است از خدای عزو جل نه وزارت کردن».

خو، ابونصر مشکان ورته وویل: «زندگانی خداوند دراز باد، امیر را بهتر افتد درین رأی که دیده است و بندگان را نیز نیک آید، اما خداوند در رنج افتد، و مهمات سخت بسیار است وآن کفایت نتوان کرد جز بیدار ورأی روشن»

هغه و چی بوسهل زوزني راغی، او د سلطان داسی پیغام یې راووړ:

«زما د پلار په وختو کی خواجه ډېر آزارونه لیدلی دی او ملامتی یې ارسر وړی دي، ډېره عجبه ده چی دی یې څنګه ژوندی پرېښی دی؟

په عرفان او تصوف کې دومره ډوب و ، چې کله کله د سکر د جذب او استغراق حال هم ور پېښېده، او عشق یې پر عقل برې موند .

زړکیه ، ادبي ذوق ، ظرافت او حاضر جوابي یې په خپل وخت کې مشهور ه وه .

د اسلم د پښتو اشعارو مجموعه د پښتو ټولنې په کتابتون کې سته چې ۳۹۸ مخونه لري او په هر مخ کې یې دوه غزلې لیکلې سوې دي، او ۳۸۱ غزلې یې پر حاشیو ثبت دي هر غزل یې التزاما اووه بیتونه لري او د ټولې مجموعې بیتونه ئې شپږ وزره ته رسیږي چې مخمس ، ترجیع بند ، او څلوریځې هم پکښې سته .

د پښتو کلام نمونه :

ستا په لاسه تل جفا ستر ګه د لبر وړي
د شفق په ژړا و ینې هر سحر وړي

معشوقې دي په عالم کې شې رسوا کړي
سپوږ مي شمعه ستا د حسن د زېړ د روړي

هغه ستا د خولې خبر ی دي د لبره ؟
چې مخو لو کې د خو باتو ګل شکر وړي

له ما تو د ی د میو بنسه و لاړه
چې وهر زړه ته تیر ه د عشق نشتر وړي

زما د خیال د مرغه ځا له د ه سر بېره
ستا د عرش بر کنګر و با ند ی شهپر وړي

چې تا جد ا ره دي په مینه سې سجدا جه
ستاله کبره به د اسلم ځا ورې پر سرو ړي

ددري کلام نمونه :

چون لعل آن پری‌به پیاله نهاده‌است
یاقوت می شود بچکد گر شراب ما

تا از رحیل بانگ جرس شد بمحملم
فریاد دل کشید بپروا زخواب ما

ماخذ: ۱- پښتانه شعرا ۳ ر. ۵۰۰ مخ
۲- کابل مجله ـ ۹ ۲ کال ـ ۸۲ ـ ۳ گڼه د۱۳۳۸ ه ش دلیندۍ میاشت

۱۳۰۰-اسماخراساني : دابومسلم خراساني نوسیا لې لوروه . ابومسلم زوی‌نه درلود ، دوې لوڼې یې درلودلې چې‌دیوې نوم «فاطمه» اودبلې نوم «اسماء» و .

ماخذونه : ۱- لغتنامه ـ ۲۳۹۳ مخ .
۲- مجمل التواریخ و القصص ـ ۳۲۸ لر

۱۳۰۱-اسماعیل ابو بکر بلخي : دفضل زوی دموسی لمسی ، دمسمار کړوسی ، اودهاني کوسی چې کنیه‌یې ابوبکربلخي اوفضل د زوی عبدالصمدورور و ، په بغداد کې اوسېد ، اوهلته یې حدیثونه دحسن له‌زوی محمد ، اودعمر له‌زوی حسن اودسعید له‌زوی قتیبة ، بلخي ، او دعیسی په زوی اسماعیل عطار ، او دابراهیم له زوی اسحاق هروی ، اودنجد حوطي له‌زوی عبدالوهاب ، اود عبد الرحمن د مشقي له زوی سلیمان ، اودعلاء کوفي له‌زوی ابی کریب محمدنخه لوستي‌وه ، اوبیاله‌ده څخه دقانع زوی قاضي عبدالباقي اوابوبکرشا فعي روایتونه کړي دي . اوثقه محدث و .
د۲۸۹ ه کال په رجب کې مړ دی .

ماخذ : تاریخ بغداد ـ ۶ ر. ۲۹۰ مخ

۱۳۰۲-اسماعیل ابوالخیر بستي : دعبید زوی ، د محمدلمسی او د ابوالحسین کړوسی دبطیونه امیرو . ده دابن هیثم ترفراروروسته دابوالقاسم په اشاره خپل ورورمحمد سره بطیحه ونیوله ، او دده تر مړینې وروسته دده زوی ابو السید ، محمد

مظفرد هغه پرځای کښیناست .

ماخذونه: ۱-لغتنامه - ۲۰۱۸ مخ

۲- حبیب السیر- ۲ج ۱۹۶ رز

۱۲۰۳- اسماعیل ادیب هروی : نظامی عروضی په «چهار مقاله» کې

لیکي چې: «د ملکشاه او د ځینو په قول د سنجر په وختو کې په هرات کې یو فیلسوف وه چې هغه یې ادیب اسماعیل باله، خورا ډېر فاضل او کامل و، په طبابت یې ژوند گذاره کوله او په طبابت کې نادر علاجونه ځینې لیدل کېده - مثلاً یوه ورځ د قصابي په بازار کې تېرېده یوه قصاب پوسه قصابي کاوه او کله به یې یې د پوسه تر ته د تنه لاس اچاوه او تودې وازگې به یې را ایستلې او خوړلې به یې - خواجه اسماعیل چې هغه حال ولید نو یوه بقال ته چې د هغه قصاب مخامخ یې د کان و ، وویل: «که یوه وخت دا قصاب مړ شو د مخه تر هغه چې ښخ یې کړی ماخبر کړه -» بقال ورته وویل: «هر ستر گو!»

یوه ورځ سهار یغ شو چې قصاب په مفاجات مړ شو، بقال ادیب اسماعیل خبر کی ، او هغه ورغی ، د مړي نبض یې وکوت او بوته یې وویل چې: «دالکره واخله او پښې یې شایعنې پرېنه بوبی ووهه» ، ترڅه گړی وهلو ورومته یې وویل: «بس دی!» بیا یې نو د سکتې علاج شروع کی او دری بیه ورځ هغه مړی کښېنوست - که څه هم مفلوج شو ، خو ډېر کلونه ژوندی و .

ماخذونه : ۱- لغتنامه - ۲۵۳۶ مخ

۲- چهار مقاله - ۸۳ مخ د لیډن چاپ

۱۲۰۴- اسماعیل بیگ دولدی : د همایون پاچا په وختو کې د کندهار ترڅو وروسته د همایون له خوا د هیلمند د زمینداور ولسوال و، تیاکل شو، او بیا د کابل د کلابندی په ورځو کې د خضر خواجه خان سره د میرزا کامران د بو

نوکر(شیرعلی)نامی چې یاغی سوی و ،په نیولو مامور کړه سو، او غزنی ته نژدې د ،کر د سجاوند په کوتل کې ئې پر شیر علی بری وموند، بیا د همایون مخالف او د بدخشان د میرزا کامران پرخوا سو. نو هغه وخت چې همایون بدخشان هم ونه دی هم په لاس ورغی، ـ خو د منعم خان په شفاعت و بخښل سو، او د همایون پاچا سره هندوستان ته ولاړ.

ماخذ: ماثرا لامرا – ۱۰۰ – ۲ مخ (دری)

۱۲۰۵–اسماعیل تالقانی: د عدی زوی، د فضل نمسی او د عبیدالله ازهری تالقانی کړوسی و، د فقه زده کړه ئې په ماوراء النهر کې کړې ده، او احادیث ئې په بلخ او بخارا کې اوریدلی وه، هم فاضل فقیه او مفتي و .د (۵۰۰ ه) کال په شاوخوا کې مړ دی .

ماخذ: کابل مجله – ۳ کال – ۵ گڼه – ۶۲ مخ

۱۲۰۶–اسماعیل حنفي: د حماد زوی او د امام اعظم ابوحنیفه نعمان (کابلی الاصل) نمسی او د ثابت کړوسی او د زوطی کوسی او د ماه کوری د مامون خلیفه له خوا (چې په ۲۱۲ ه کې مړ دی) د بصرې قاضی تاکلی سوی و.

ده په وېل چې: «موږ د هغو آزادگانو زامن یو چې هیڅکله ئې مربوب نه دي سولی» (ددې کتاب په لومړی ټوک کې دی دی ابوحنیفه امام اعظم، باندې ته رجوع وسی) ده د دوو تالیفاتونو سونه دادی:

۱– الرد علی القدریه.

۲– کتاب الارجا.

مأخذونه: ۱– تاریخ سیستان –۲۸۳ مخ – علیه حاشیه

۲– لغتنامه – ۲۵۱۱ مخ

۱۲۰۷- اسماعیل خان افغان: په هند د بهار د ایالت نوښالي افغانو چې د غلجي بل سلګري عالم خان افغان په ملګرۍ یې په یو اتفاق پر شا هجهان پور او «کانت ګوله» باندې یرغل وکړ، اود کور ګانیا نو پر خلاف یې توري نه تیکو واېستلې، اوتر خونړیو جګړو وروسته چې ډېر تلفات ورکړي ورسیدل د (۱۰۸۶ ه) کال د برات د میاشتې په نهمه دادواړه پښتانه وژل شول، خو په ډېر درناوي داورنګ زېب دربار ته واستول شوه.

مأخذونه: ۱ — تاریخ بهار — ۲۵۶ مخ.

۲ — د هند په تاریخ او سد نیت کې د افغانانو برخه — ۸۷ مخ خطي نسخه

۱۲۰۸- اسماعیل خراساني: دابراهیم زوی او دشداد نسبي په خراسان کې د حد یثو عالم و.

مأخذ: تاریخ بغداد — ۶ / ۲۶۳ مخ

۱۲۰۹- اسماعیل سبزواري: حاج ابومحمد اسماعیل د سبزوار له خطاطانو څخه و، چې د محمد حافظ خان شاګرد او د محمد شاه هندي پاچا د دورې خوشنو یس و، او دلیو قتوب پر حال په ډهلي کې سر دی.

ده دا یکه یوه تو ته په متوسط خط د ډهلي دلرغوني پېژند نې په موزیم کې سته چې په پای کې یې لیکلي دي:

«کتبه الحاج ابو محمد اسماعیل السبزواري - ۱۱۰۱ ه»

مأخذ: احوال و آثار خوشنو یسان — ۱ / ۶۷ مخ

۱۲۱۰- اسماعیل سړبني: د بېټ نیکه زوی اود سړبن ورارو، سړبن زوی نه درلود، نو په یې خپل وراره بېټ نیکه ته شګابت کاوه - بېټ نیکه خپل دا زوی «اسماعیل» ځغه ورکړ او اسماعیل د سړبن په کور کې وروزل شو، خو چې یو زیاضت کښېوونکي روحاني شو او د «کسي» په غرو او دره و په سیمو کې یې ښه شهرت وموند. نعمت الله هروي په مخزن افغاني کې

دشیخ اسماعیل د اسی متا په کوی :

«شیخ اسماعیل سربنی قدس الله سره صاحب عبادت و ریاضت شاقه بود، مقتدای وقت، بعلوم لدنی کاشف اسرار طریقت وحقیقت بوده، درولایت روه».

دشیخ اسماعیل دژوند وخت یقینی څرګند نه دی خو مخزن افغانی د و نی لیکي چې دی دشیخ احمد ولد شیخ موسی او حضرت شیخ بهاء الدین معاصرو ؛ او شیخ احمد دشیخ موسی زوی خو مشهور سړی نه دی چې د قطب الدین بختیار بلاوږ څنګه چې قطب الدین په (۵۷۵ھ) کال کې زیږېدلی دی نو سوږ دده د بلار دژوند دوره تر (۵۰۰ھ) وروسته تاکلای سو. څنګه چې د شیخ بهاءالدین ژوند هم په دغو کلو کې و.

شیخ اسماعیل سربنی پر دې چې لوی سړی نه او زبرګ شیخ و، د پښتو ژبې شاعر هم و، ددی یو طبیعي خوندور شعر په «پټه خزانه» کې راغلی دی چې ده د خپل کاکا د زوی «خربنبون» په بېلتانه کې ویلی او هغه داسې دی:

که بون دی بون دی — سخ کي بیلتون دی
لسه کسې غره څخه — څې خربنبون دی

*****

کسه ورور د زوره — خربنبون د زوره
تسه چې بېلتون کړي — زما و یر ته ګوره

*****

چې څې سرغې لسه — تسورې کړغې لسه
څمزولسې پسا تسه — څسې څه برغې لسه

*****

د حسد ای ښه پسا ره — خړ ربنبون یا ره
چې څو سونه کړي — زسور کهول وا ره

*****

زه سي ر پسیږی — یار مې بېلیږي
بېلتون یې او ږدی — ځان په سو څیږي

د ده د دې شعر غبرګون هم د «خرښبون» له خوا وېلی سوی دی چې د «خرښبون»
تر نامه لاندې به را وړه سي.

د شيخ اسماعيل مزار د کسي په غره کې دی او ډېر خلګ يې زيارت ته ورځي.

مأخذونه: ۱- پټه خزانه - ۱۷ مخ -

۲- پښتانه شعرا - ۱/۵۲ رر

۳- مخزن افغاني - خطي

۱۲۱۱- اسماعيل شنيزی: د غزني وخت لوی روحاني عالم او په ختيځ ورډګ و - حکيم سنايي دده دا سې ستاينه کړې ده:

علم وحلم خواجه اسماعيل شنيزی

مـارا ز نه چيز برساند به چيزی

د ورډګو په ولايت کې يو بزونخی دده په نامه نومړی سوی دی.

مأخذ: د «زيری» جريده - ۱۷، کال (۱۳۵۴) ۲۷ ګڼه - ۳ مخ

۱۲۱۲- اسماعيل غزنوی: د سبکتګين کشر زوی و، او مور يې د الپتګين لور وه. په (۳۸۷ ه) کال چې سبکتګين مړ کېده اسماعيل يې خپل وليعهد و ټاکه او د غزني له اميرانو او مخورو څخه يې دده په نامه بيعت واخيست، او چې سبکتګين مړ سو نو اسماعيل بلخ ته ولاړ او د خپلې پاچهۍ اعلان يې وکړ، او د نوح ساماني زوی منصور ته يې د دوستۍ لاس وغځاوه، او پخپله يې په اسراف لاس پورې کړ، د پلار سپاهيان چې هر څه ورپاته وه هغه يې په عسکرو وويشل او په دې امېد وه چې که سلطان محمود ورور يې حمله وکړي دا عسکر به يې سخه و نيسي.

سلطان محمود چې د پلار په مړينه خبر سو او پاتايي واخيستله او اسماعيل ورور ته د ابوالحسين حمولي په لاس پاتا ليک (تعزيتنامه) ولېږه او داسې پېغام يې ورواستاوه «پلار چې د دوا يېوا حوادثو دافع و، له منځه ولاړ او ما ته زن په ټول جهان کې تر تا ګران بل څوک نسته، خو مشرتوب او د سردارۍ پرده تا يو د قدرت د ورڅو تجربې د اړوا بوي چې

د غزني تخت ما ته پرېښوول شي او بلخ به زه د ده و ځپارم — پلار که زما په غیاب کې
وصیت کړی وي د هغه سبب دا و چې (مسافې) لیري والی و، او بس — او که په تا کې لکه
څنګه چې ښایي د سردارۍ کفایت او لیاقت او عسکري تجربه موجوده وای، او د پلار تاج
او تخت نه تهدید په لاې نو ما د پلار له وصیت څخه انحراف نه کا وه »
خو اسماعیل د سلطان محمود خبرو ته غوږ و نه نیو او پر پاچهۍ یې ځان ټینګ کې.
ابوالحارث فریغوني چې د محمود خسر او د جوزجان والی و، په منځ کې شو، او ددې د پاره
چې په غزنوي دولت کې کمه فتنه پېښه نه شي نو دواړو ورونو ته یې نصیحت وکې چې
مخامخ سره کښېني او په دې باب کې خبرې سره وکړي محمود ومنله خو اسما عیل
نيته وکړه راضي نه شو، او د ابوالحارث وساطت یې د
غرض له مخې وګاڼه. عتبي لیکي چې په دې باب کې ما هم اسماعیل ته نصیحتونه وکړه
او د سیف الدوله حمداني بېتونه چې د ورورولۍ په حق کې یې ویلي و، ما ورته ولوستل
خو څه فایده یې و نکړه. ابوالحارث چې له اسماعیله مایوس شو نو محمود ته یې لیک ولیکه
او هغه یې د غزني پر لوري تګ او د تاج او تخت نیولو ته وپاراوه.
محمود د غزني خواته وخوځېد، او چې هرات ته ورسېد بیا یې ورور ته یو لیک ولیکه او هغه
یې روغې او ورورګلوۍ ته وباله خو بیا هم اسماعیل و نه منله، او محمود مجبور شو هغه څه
چې یې په قلم غوښته په توره یې واخلي.
محمود خپل آکا یغراجق هرات ته و غوښت هغه دستي ورغی، او چې د هیلمند بست ته
ورسېد د محمود بل ورور امیر نصر هم ورسره یو ځای شو او له بلې خوا ابوالحارث فریغوني
هم د خپلو ټولو قوا وسره د محمود ملاتړ ته ورورسېد. اسماعیل چې د غزني خواته د محمود
له خوځېدو خبر شو، دی په تلوار غزني ته ولاړ او د پلار پر تخت کښېنوست. محمود ډېر
زیار وویست چې اسماعیل ورور له جګړې څخه منع کړي خو فایده یې و نه کړه او د
غزني په دښت کې د دواړو ورونو ترمنځ سخته جګړه ونښتله او محمود پر اسماعیل بری و
موند او اسماعیل سره له هغه چې د وسوسه جنګي پیلان یې په منځ کې وه مغلوب شو

عنصري شاعردا بري دمحمو دله شهكار بو څخه، و يا له ا و په يوه قصيده كې يې وستايه چې څو بيته دا دي:

بجنگ غزني آن لشكري چوا هر سماه
همه سرا سر آ هن ستا ن و تيغ و سپر
ز گر د ا يشا ن چون شب هو اى ر وشن روز
ز صف ا يشا ن چو كوه د شت پهنا و ر
د و يست پيل د ر آن دشت هر يكى گو يى
بز ير پاى د ر آ و ر ده گـــر د گر د حجـــر
بحمله ملك شر ق آن سپا ه قوى
چو گر د گر د پر اگنده و ضعيف چوذ ر

هغه و ، چې اسماعيل تراوو مياشتو پاچهي وروسته خان محمود ته تسليم كى او محمود هم هغه ته امان وركى او مهرباني يې ورسره و كړې ـ خود غزني تولې خزانې يې بيرته څيني واخيستلې . ترهغه وروسته اسماعيل آزادانه ژوندون كاوه، څو چې د ۳۸۹ ه كال په پاى كې سلطان محمود پربد گمانه سواو بندي يې كى ، او بيايې پوښتنه څيني وكړه چې: « كه زه د غزني په جگړه كې ستا په لاس كښېوتلى واى څه دې راسره كولـه» اسماعيل ورته وويل چې: « ته سې بوې كلانه استولى او د راحت هغه څه چې ستا زړه غوښتله هغه مې درته تهيه كوله »

محمود هم دى د جوزجان كلانه وليږه

او هلته د مرينې تروخته بندي و، څو چې همهلته مړ سو.

اسماعيل د نرمي طبع خاوند ا و اديب منشه سړى و، په عربي او دري كې يې وړې رسالې درلودلې او په دواړو ژبو شعرونه هم ويل، او د خپلې لنډى پا چهي په دوره كې يې د جمعې د لمانځه امامت پخپله كاوه او خطبه به يې هم پخپله ويله او د دې پر ځاى چې په خطبه كې خپل نوم ووايي دا آيه يې وايه «رب قد آتيتني من

الملک وعلمتنی من تاویل الاحادیث فاطرالسموات و الارض - انت ولی فی الدنیا والاخره - توفنی مسلماً والحقنی بالصالحین»

مأخذونه: ۱- سلطنت غزنویان - ۲۱ مخ تر ۲۵ مخ پوری

۲- لغتنامه - ۲۵۱۳ مخ

۳- تاریخ یمینی - ۴۴۰ رر

۴- تاریخ گزیده - ۳۹۳/۱ رر

د لندن چاپ

۵- تاریخ بیهق ۱۳۰ رر

۱۳۱۴- اسماعیل کابلی الاصل: ابن حماد دامام اعظم ابو حنیفه زوی او د ثابت نمسی او د زوطی کابلی الاصل کروسی د خپل وخت له متبحرو پوهانو حافظانو او محدثینو څخه و.

د سکینة الفضلا مؤلف لیکی چی: «در نقل اخبار و روایت آثار و ضبط احادیث اعجوبۀ عصر واطروفۀ روزگار بود، و در معرفت رجال و انتقاد اسنا د و حفظ اصول از جملۀ فحول بشمار می رفت»

دی پر به خوی خاوند او رشتین سړی و، لکه چی مولانا عبدالحی په فوائد بهیه کی دی داسی ستایلی دی: «اسماعیل بن حماد کان بصیراً بالقضا، عارفاً بالاحکام والوقائع والنوازل، صالحاً، دیناً، عابداً زاهداً صنف الجامع فی الفقه والرد علی القدریة کتاب الارجا»

وایی چی اسماعیل دابایوسف سره اختلاف درلود او حال داچی فقه ئی له هغه څخه زده کوله.

په ذلمیتوب کی سړ دی. له محمد ابن انصاری څخه روایت دی چی د حضرت عمر له وخته بیا تر اوسه د اسماعیل بن حماد په څیر عالم نه دی لیدلی سوی حتی

دده ژوندی پاته کېدل ژسوړ دوخت دبېکلا دپاره. وه اوس باید چې دې کارته غاړه کښېږدي چې ستا غوندي حشمت په کار دی، شاګردان او نور ملګري سته چې ټول به ستا تر نظر لاندې کار کوي څو چې کارونه نظام پیدا کړي»

ستر خواجه وویل: «ماندو ایښې دي چې د سلطان هیڅ شغل ونه کړم، خو څنګه چې سلطان فرمایي چې زما د لوړې او سوګندونو کفاره ورکوي نو زه هم دې کارته غاړه ایښېږدم، خو دا شغل شرطونه لري، که زه هغه ټول شرطونه وغواړم او سلطان هغه ټول ومني، دا اوسنی خدمتګاران به ټول ماته پاڅي او زما سره به دښمنان سي او هغه لوټې به چې دامیر ماضي په وختو کې یې کولې بیا شروع کړي او زه به هم په لویه بلا کښېوزم، او نن چې زه دښمن نه لرم په زړه فارغ ژوند کوم، او که شرطونه ونه غواړم او هغه پر ځای نه کړم نو خیانت به مې کړی وي او عجزته به منسوب سم، او زه به د خدای عزوجل او د خداوند په نزد معذور نه یم. او که احیاناً ددې شغل چاره په ما کېږي نو زه بشپړ شرطونه لرم که هغه ومنل سي او تمکین وموسم هغه څه چې د نصیحت او شفقت له مخې واجب دي هغه به پر ځای کړم».

بوسهل زوزني او ابو ابو نصر مشکان چې د ستر خواجه دا پیغام سلطان مسعود ته ورساوه سلطان دوی ته وویل:

«بې له نشاطه او بې له شرابو او چوګان او جنګه نور ټول کارونه به ده ته سپارم او په نورو ټولو کارو کې به نور ټول دده کار کوي، او دده پر رایې به هیڅ اعتراض نه وي.» هغه وه چې ابونصر مشکان دا پیغام ستر خواجه ته ورساوه.

مواضعه (۱): دا پیغام چې ستر خواجه ته ورسېد، ستر خواجه وویل چې:

---

(۱) مواضعه: په هغه وخت کې د پاچا او وزیر تر منځ یو راز تړون وه چې وزیر به خپل شرطونه لیکل، پاچا به هغه منل، جوابونه به یې لیکل او لاسلیک کول به یې، او بیا به دواړو لوړه او سوګند کاوه چې له هغه تړون څخه به نه اوړي.

ویلی سوی دی‌چی حسن بصری هم‌دده درجې ته رسیدلی نه و،فقه ئې له خپله پلاره او له حسن ابن زیاد څخه هم لوستلې وه.

مأخذ: سکینة الفضلا- ۲۴ مخ

۱۴۱۴- اسماعیل قصری: د خپل وخت لەشیخانو او روحانیو څخه و. په قصر احنف(پنگی قلعه) کی اوسېد.د ابوالنجیب سهروردی مرید او خلیفه و.ډېر مریدان او مخلصان ئې درلودل‌چی یوله هغو څخه‌شیخ نجم‌الدین کبری و، چی د خلافت چوخه ئې هم د اسماعیل قصری له لاسه اغوستې وه.

په(۵۸۹ ه)کال کی مړ دی.

مأخذ: چراغ انجمن-۴۲ مخ

۱۴۱۵- اسماعیل هروی: حکیم اسماعیل هروی د خپل وخت ادیب او فاضل حکیم و،ښه په زړه پوری شعرونه بی ویل؛په حکمت او نورو علومو کی بی زیات تصنیفونه درلوده،د ابونصر د کتابو تدریس‌بی کاوه،ښه‌پوه شاگردان‌بی‌درلودل.

وایی چی یوه ورځ د هرات د خطیب‌ددەسره شخړه سوه، ده ته بی وویل چی:

«زه به د جمعې په ورځ دووخطبو تر منځ پر تاتفرین ووایم -»

ده جواب‌ورکی‌ء چی:«زه له هغه باک نه‌لرم دا ځکه چی تا په خپل‌ژوند کی هره جمعه دا دعا کړې‌ده چی:اللهم اصلح الامیر فلان بن فلان - خو خدای تعالی تراوسه هغه نه دی اصلاح کړی اوستاد عابی نه ده منلې،ډېر حکماً او فضلا بی شاگردان وو.

مأخذونه: ۱- تاریخ الحکما- ۷۱ مخ

۲- لغتنامه - ۲۵۶۳ رر

۳- تتمه صوان الحکمة - ۹۷ رر

۱۴۱۶ - اسماعیل هروی: دابراهیم زوی‌اودمعمرقطیعی‌نمسی‌اصلاً دهرات‌و،خو په بغداد کی اوسېد، اولوی محدث و.

د(۲۳۶ ه) کال د درهمی خور (جمادی الاولی) په‌میاشت کی‌مړدی .

مأخذ: کابل مجله _ ۳ کال _ لومړی گڼه _ ۵ ۲ مخ

۱۳۱۷ - اسمی هروی : ملااسمی په هرات کی زیږیدلی، بودرویش سړ به‌تلمراده طالب العلم او د دری ژبی شاعر و. دا معما ئې د«با»‌ با‌ بابهه نامه ویلې وه:

د پروز بمکتبی سرا بود گذار
دیدم همه د لبران خو رشیدعذار

هند و بچهٔ نشسته لوحی بکنار
میکرد برسم خود الف بی تکرار

دی دسلطان حسین میرزا په وختو کی ئې‌ژوند کاوه -دابیت‌هم‌دده دی :

میکنی‌جو ر و جفامهر و و فامیکو یی   تو چها میکنی ای شوخ و چهامیگو یی

مأخذونه: ۱ - مجالس النفائس - ۱۰۷ مخ

۲- تذکرهٔ حسینی - ۳۰ مخ

۳ - روز روشن - ۴۰ رر

۱۳۱۸ - اسیر بدخشی : شاه عبد الغیاث «اسیر» دشاه یوسف علی‌زوی دبد خشان په شغنان کی د دری ژبی شاعر و . .

په (۱۳۱۰ ه ق) کال په «او شان» کی مړ دی .

دا بیتو نه دده دی :

کسی کهٔ دیده رخ و عارض نیکوی ترا
ز سر بیرو ن نکند یاد وآ رزوی ترا

بجان‌خر ند عزیز ان‌بو ستان در باغ
نسیم اگر برسا ند عبیر کوی تر ا

مأخذ : د ښاغلی میر غلام محمدغبار یاداشت .

۱۳۱۹ - اشرف: دهغو شاعرانو څخه دی چی داشعارو دیوان بې له لهمنځه تللی ، یوازی دوې غزلی یی پادری هیوز په خپل کتاب «کلید افغانی» کی راوړی دی .

داسی ښکاریږی چی دعبدالقادرخان خټک له معاصرینو څخه و ، ځکه چی دهغه وخت په هغه مشهوره مشاعره کی یی گډون کړی و . چی قافیه یی پر «هسی» تمامیدله، اودده هغه شعر دادی :

دآشنا له تازه خط را معلوم شو مضمون هسی
د وصال دولت که تېر شوهم به تېرشیبیلتون هسی

عشق رهبر د عاشقانو د آشنا په لوری بیا یی
لکه عشق دی بل بهنه وی په دا لار رهنمون هسی

که ژوندون دی خو هغه دی چیدیار په یاد تیر یږی
چی بې یاده دیار دروی مکار نه دی ژوندون هسی

په و پشتو د ړو یوسترگو هرگذار بې رسالگی
چی هیچری خطا نهځی دلبرونیو زنگون هسی

بې سو زنه د مژگانو د زلفینو له تارونو
په آسان به رفو نه شی زړه می چاو ددی درون هسی

د ژوندون امید می نشته چی یو څوگامه وپایم
که همیش هسی گردش خوری لکه پان دی گردون هسی

څو که یی شاه ددست جهان کړ څو که گدای کچکول په لاس کی
د هر چا بخره چه ادهمسو سی هسی قارون هسی

لکه بازوا خلی کوتره په منگول هسی ستا سترگی
زړه زما بې له تن یو د رغم یی عقل سکون هسی

چې تا وی عبد القادر کوم پښتون په بې خوشحاله
داشان وایی«اشرف»ووی خدای پیدا کړ پښتون هسی
داهم باید وویل سی چی دا «اشرف» د«هجری» ختک پر ته بل شاعر دی .
ماخذونه: ۱ - کلید افغانی - ۸۰۰ مخ
۲ - پښتانه شعرا -۱/۲۹۷مخ

۱۳۳۰-اشرف جان کجوریوال محمد اشرف د فقیر محمد زوی دلغمان د کنړ د کجوری او سیدونکی اود پښتو ژبی شاعر و، چی په (۱۱۹۸ھ) کال زیږیدلی او په (۱۲۷۸ھ) کال کی سر دی. شعرونه یې عشقی او پرولسی او زانو ویل داشعر دده دی :

سبا اختر دی چی جانان بی له دیر و راځی
څه مسته بهار راځی

***

د کوځو خاوری په جارو کړم دښو په څوکو
په دغه لاری شنه توتیان د سر درو راځی
څه مسته بهارو راځی

***

روښاره ورشه خبروا خله د کاسیری تجلې
چی قدم اخلی شر نګهار بې د ګونګرو راځی
څه مسته بهارو راځی

***

کله کښینم کله پاڅیږم هیڅ طاقت می نه شی
خاونده خدایه محبوبه به څه نخرو راځی
څه مسته بهارو راځی

سبا اختر دی „اشرف جانه" خلکه سیل ته راځی
دتولې میری اعالم ستا په ننداروراځی
څمستبه‌بهارو راځی

ماخذ: پښتانه شعرا-۳/۷۲۷ مخ

۱۳۳۱-اشرف خان توخی: داحمد شاه بابا په وختو کی د کلات دتوخو مشر، اود نادرشاه له‌وختو دهغی سیمی واکول اود کلات د کلا کوتوال و. دپلار نوم یی خوشحال خان اودسلطان ملخی توخی له تبره و.

په ۱۱۶۰ هـ ق کال چی احمدشاه بابا په کندهار کی په پاچهی وټاکل سو، نوتر څو میاشتو وروسته دغزنی او کابل خواته رهی سو. کلات ته چی وررسید دهغه ځای واکوال او کوتوال اشرف خان توخی دده اطاعت ته غاړه نه کېښوو له، اود کلات دروازی ئی داحمدشاه بابا پرمخ وتړلی، احمدشاه بابا نه غوښتله دخپلو پښتنو ر ونو وینی توی کړی نو ځکه ئی ملا ادریس خان دخپل ځانګه اسام او د خپل لښکر قاضی دنصیحت دپاره اشرف خان ته ور ولیږه، اشرف خان دهغه نصیحتونه ماڼه، بیا نو احمدشاه بابا یوڅه جګړن وروليږل او اشرف خان مجبور سو ځان ئی تسلیم کی، او دصابر شاه ملنګ په‌شفاعت وبخښل سو، او احمدشاه بابا دی د ځان سره ملګری کی او د کلات حکومت ئی دده زوی ته‌وسپاره. خو اشرف خان بیا هم د احمد شاه بابا سره په زړه کی راست‌نه و، او له غزنی څخه ئی خپل زوی ته پټ پټ پیغامونه لیږل او هغه ئی د احمد شاه بابا پرخلاف پاراوه، هغه و، چی احمد شاه بابا هم دده زوی د کلات له حکومته عزل کی او د هغه پرځای ئی بل څوک دا کلات واکوال وټاکه او اشرف خان ئی دځان‌سره په لښکر کی وساته اود هند په‌لومړی غزالی‌ورسره و. خو بیا هم اشرف خان په پټه خپل وروراالله یارخان‌ته چی په‌خراسان کی و، خطونه‌لیږل او هغه ئی کندهار ته‌راباله.

هغه‌و، چی څه سوده‌وروسته چی داحمدشاه بابا وراره „لقمان خان" د ذوالفقار خان

زوی کېدل هارته را نې الله یار خان هم ور سره راغی او داشرف خان بوځی د احمد شاه بابا پرخلاف لاس پورې کېی څو چې احمدشاه بابا څه دواړه له منځه یوو ړل .

ماخذونه: ۱-تاریخ احمدشاهی -۳۷، ۳۸،۱/۸۰، ۸۱، ۸۲، ۲۱۲،
۲۱۳ مخونه

۲-تاریخ سلطانی -۶۰ مخ .

۱۳۳۳- اشرف خان هجری: د خوشحال خان خټک زوی او د پښتو ژبې لومیالی شاعرو، چې په اشعارو کې یې «هجری» تخلص کاوه، او د اشعارو پوښیر دیوان یې په (۱۹۵۸م) کال د بې په سیاشت د بناغلی همیش خلیل په اهتمام او ترتیب په پښور کې چاپ او خپور سوی دی.بناغلی همیش و ر باندی یوه مفصله مقدمه هم لیکلې ده.

اشرف خان هجری په (۱۰۴۴هـ ق=۱۶۳۵م) کال دا کوړې په «سرای» نومی ځای کې د خوشحال خان کره زیږېدلی، او د خوشحال خان دوهم زوی و، د خوشحال خان لومړی زوی «اکبر» نومېد چې د پیدا ښت په اووسه ورځ مړ دی.

په هجری کې زیاتره د خوشحال خان اوصاف څرګندوو، هم د قلم خاوند او هم د توری ښتن و، زیاتره ژوند یې د خوشحال خان په څېر په جنګو کې تېر سوی دی، او د خپل ولس پو زړور مشر ګڼل کېده، او هم یې د نور و ورو ټو په نسبت په خپل قوم کې رسوخ ډېر و .

هجری له یو ولس کلنی څخه د توری میدان ته د انګلی دی، او په (۱۶۵۲-۵۳م) کال یې د خپل پلار د تره «بهادر خان» سره د بنګښو د یو، مشر شیر محمد خان پرخلاف د «تری» او «بولاق» په جګړه کې یې ګډون و کې، او بنګښ یې سات کړه، او بیا په (۱۶۶۱م) کال کې یې د خپل پلار تر مشرتو ب لاندې او د خپلو ورڼو سعادت خان او بهرام خان په ملګری د یوسفزو سره توره را وویستله، او ورو-ته یې بیا څوځو ځلې د هند د ګورګانی حکومت د تېری کوونکو سره ډېری جګړې و کړې.

که څه هم په لویړی سر کې دخپل پلار په دهند دحکومت پر خوا و او ده هغه حکومت دپاره یې خدمت کاوه ، خو دپلار تر بندیگرت وروسته ،او همدا چې هجری د کورگلنی حکومت تجاوزونه او ظلمونه پرپېښتنو ولیدل نود هند دحکومت له خدمته یې زړه بدسو، او مخالفت ته یې ملاوتړله ، په تېره بیا هغه وخت چې په (۷۲ - ۱۰۷۱ ه) کال داورنگزیب عالمګیر په حکم خوشحال ختمک گرفتار اوبندی کړه سو، نو اشرف هجری دخپل پلار بې مشورې دهغه دخلاصون د پاره کابل ته راغی چې دخپل خدمت په اعتبار دهغه وخت د کابل دصوبه دار سید امیر خان خوافی په واسطه پلار له بنده خلاص کړی ، خو سید امیر خان ددی پرځای چې دخوشحال خان دخلاصون واسطه ېځپله «هجری» یې هم بندی کی .

هغه و، چې ددې پلار او زوی بندیګرت دختکو په سیمه کې خړ پړ تیا او نا آرامي پیدا کړه ،ځکه نو سید امیر خان مجبور سو چې دختکو دنیمګړی تسلي دپاره «هجری» ایله کړی ـخو هجری داوار په شکاره دهند د حکومت مخالفت ته ملا وتړلم ، څو کاله یې مبارزې وکړې ، څوچې په (۹۲ ۱۰ ه) کال په پیښور کې د اورنگ زیب دګمارلی سوی صوبه دار سید بهولا په لاس ددروه له لاری کښېووت او بندی یې هندوستان ته واستاوه ،څه موده په گوالیا ر کې بندی و،او بیایې ددکن «بیجاپور» ته ولیږه ، او تر څور لسو کالو بندیگرت وروسته په (۱۱۰۶ ه) ق - ۱۶۹۴ م) کال د پردیسی په حال کې وفات سو. آزاد خان شاعر دده د مړینی نیټه داسی نظم کړی ده :

دهجرت یې زوشل شپږ وو اشرف خان چې فوت شو یاره «غم اندوه»دده تاریخ دی که حساب کړې ویې شماره (۱۱۰۶ ه)

دهجری دبندپراتم کال(۱۱۰۰ ه ق - ۱۶۸۹ م)ددهپلار خوشحال خان رفات سوی دی

، چې ده بې په محبس کې د مړینې نېټه داسې په نظم کړې وه :

هغه کان د هنرسات شه ای خاطره
چې بهتر د پښتانه په نام چټک و

ذات وبود یې که ځیک و، دا دروغ نه دی
والې کل پښتون تنه د ی سر د ملک و

دوفات تاریخ یې ماله عقله وغوښت
په دا رنګ یې دجواب شان وسلک و

مهینه د و یمه خو راته و یشتم وه
چې یې روح په جمعه ورې پا ک سلک و

خا کې دار یې په هوس دارم پرې ایښې
غین و قا ف یې په عد د سا ل د ملک و
(۱۱۰۰ ه)

دهجری شاعري : ځنګه چې د هجري ژوندون ټول په ناآرامۍ، په ځګرو، په زندان او پردیسی کې تېر سوی دی نوځکه دده شاعري هم زیاتره له سوز او درده ډکه ده، چې دې سوز او درد دده شاعري ته یو خاص ا و په عین حا ل کې خوند وره بڼه ور کړې د ه . دی دخپل پښتو شعر په باب کې وا یې:

په پښتو ژ به مې سیا ل د شعر نشته
د معنو په جهان شاه اشرف ځیک یم

یادا چې:

د ا محا ل دی چې شا عر به په پښتو کې
بل « هجري» غو ندی په فن د شعر فردوی

یادا :

مدت بویه چې شاعر هسې پیدا کا
چې و دل هجري ځیک شو ندی مطبوع کا

هجری په فارسی هم شعر وایه لکه چی وایی:

په اشعار یی د پښتو فارسی تیری کا — که هجری په ذات ختټک دروه پښتون دی

اجتماعی افکار: اوس به د «هجری» د اجتماعی افکارو څو نمونې دده په اشعارو ولتموو، تر هر څه دمخه هغه څه چی دده پرافکارو ډیره اغیزه کړې هغه د وطن مینه او له پردیسی څخه کرکه ده، تاسی وګوری له خپلی پردیسی و بر شنکه څرګند وی:

پردیسی:

هغه ورځ د هجر غم لره سزا شوم
چی له یاره په ژړا ژړا جدا شوم

ما هله ما تم د ځان و کړ په و ینو
چی اټک وته می شا کړه په ژړا شوم

اوس به څه د وطن کانی بوټی ژارم
د رخصت سلام می و کړ ترې جدا شوم

لوی فلک په خندا شین شه له هوسه
چی هودی جبل په مخ زه ورته شا شوم

په محنت سی ی ورباض جوړ کا په دهر
لا می ګل بوی کړی نه ځینی جلا شوم

یو پارو په دکن نشته چی می دم کا
ګرفتار په کنج و کاو د اژدها شوم

نن به څه له هجره زار کوم و چا ته
ما پخپله غم خرید که چی اشنا شوم

زه ختټک دیار طلب کړم مونده نه شی
له ناکامه یی د غم سره سلیا شوم

دوطن یاد:

بې وطنه تنها پروت یم په غربت کې
زړه له ما سره همدم د صنم غم دی

د هیوا د آشنا په ستر گو لیده نه شي
که په خوب راته حاضر شي ډېر کرم دی

قاصدان له روغه نه راځي مدت شو
سلام باد را رسوي منت یې تم دی

د هند غندنه:

عندلیب ځنګک یې بند په هسې ملک کړ، چې طوطا یې ژبه وایي د غراب.

عاقل او جاهل

یو جاهل ویل وماته چې ځنګه!
څرخ په څه د رسره بد کاته عاقل یې

ما وې هیڅ سلامت نه یې نا خبره
له کلا مه دی معلوم چې ناقابل یې

فلک کله کینه کا له ابلها نو
ولې ته معتوته نه رسې جاهل یې

بشر:

نه سګان کا په مرداره هومره جنګ
نه غوایه هو سر شدت سره په ښد کا

نه لیوان په خوړو هسې حسد کاندي
نه حرص د نس د پاره هومره خر کا

نه په نس خپلدا ختنه هسې سباع دي
هومره حسد سره اولاد د ابوالبشر کا

«فرمانبر داریم،او تر سبا پوری به مواضعه ولیکم چی سبا بې د زاد الله علوآ عالی رایی ته وروړې ،

او د خداوند سلطان په لیک به بې جوابونه ولیکل سی،او د هغه په لاسلیك به بې تاکیدوسی،او دا کار داسې ماضی دوخت څېر سم سی لکه چی تاته ای بونصره معلومه ده او ته په دې کار پوهېږې» ابونصر مشکان د ستر خواجه دا پیغام سلطان ته ورساوه،سلطان وویل: «ډېر ښه سو، سبا باید دا کار تمام سی چی بل سبا خواجه د وزارت خلعت واغوندی»

بیانو سلطان له ابو نصره پوښتنه وکړه چی :

«خواجه به په مواضعه کی څه ولیکی؟»

ابو نصر ورته وویل: «دا بو دودی چی یو محتشم سړی ته چی وزارت ورکول کېږی هغه وزیر مواضعه لیکی او د خپل شغل شرایط غواړی او بیا خداوند (پاچا) پخپل لیك د هغه جواب ایکی او لاسلیك کوی بې،او په پای بې دلوی خدای نوم یادوی او وزیر هغه تر نظر لاندی نیسی او هم یوه سوگند ایك وی چی وزیر بې د ټولو شرایطو سره په خوله وایی او لاندی ورباندی لاسلیك کوی او شاهدان ورباندی نیسی،چی د هغه تړون سره سم به کار کوی »

سلطان وویل : «نو هغه څه چی د مواضعې په جواب کی زموږ له خوا لیکل کېږی باید ولیکل سی او هم داوړی پانه (سوگند نامه) باید ترسبا پوری تیاره سی چی بل سبا خلعت واغوندی ـ ځکه چی ټول کارونه ولاړ دی» ابونصر مشکان هغه لیکنی ترسازه د یگره بشپړی کړې ،سلطان اولوستلی او خوښی بې کړلې بله ورځ ستر خواجه د سلطان مسعود حضورته ورغې کښینوست ،بوسهل زوزنی او بونصر مشکان مواضعه وړاندی کړه سلطان مسعود کاغذ اوسشوانی وغوښتله او د مواضعې د هر باب جواب بې په خپل خط ولیکه او لاسلیك بې کی،او د هغه په پای کی بې لوړه وکړه اوقسم بې وخوړ،نو بیا بې هغه جوابونه ستر خواجه ته وړاندی کړه او چی هغه بې ولوستل نو ډېر پښو و درید او بیا بې

په دا حال ته جهالت د سړی گوره
چې بد نام په ډیر حرص خرو بقر کا

هجری بخل حسد لیری کړو له ځانه
دا خصلت په جهانیوکسی بهتر کا

ملا، شیخ، ملک:

ملا یان راضی د هیچا په مرگ نه دی
ولی زړه یې حرص کا غوښو خوړو ته

بل واښق په گورکی غوږونیسی په گوتو
د شیخانو حب چې وینی شکرانو ته

بل نصیب هوسره حرص هیچا مشه
څوّیې کا ملك د کلی نوالو ته

د غریب وینو ته هسی کوشش کاندی
چې گرگ نه کا د اجدل د چارمو ته

دغزلو نمونه:

غم ښادی د جهان با د گنه یا گرد
په دانه لری پروا آزاد مرد

آسد شد یې تر صباهم گړندی دی
تجربه مې کړه د دورگرم و سرد

هیڅ هوس د زمانیوخوانته مه کړه
یو لقمه بې غمه نه لری د خورد

په څورنگه نقش پیدا په یوه دم کا
د فلك د ور و نه تاس گنه د نرد

چا چې ازد زمانې په دورو کړه
په خندان کې زخم ورکا ندې پر درد

غم بنا دی که بې د هوښ په نظر گوري
د بقا عمر یې زیات نه دی تر درد

«هجري» بد عمل تر شا مخ په صفا کړه
چې په ورځ د محشر نه شې گونه زرد

***

دانا څکه د جهان له کاره سر دوی
چې الم یې لکه باد غو بنې یې گردوی

آه و سوز سې باطل مه گڼه د رویشه
سترگې هله کا ژړا چې زړه په درد وی

تخت و تاج ته په سر کوزد همت نه کا
چې په داد د هر پوه ازاده مرد وی

هغه مرد چې په د غل سود و سودا کا
په مجلس چې د حق و رشی مخ یې زرد وی

په حساب د فرزانه ترگدا و بتر دی
هر چه تل په فکر د وب د آب و خورد وی

گردنده گردون چکې سرې دانه شو
لا په زسکه قرار نه بدن یې اردوی

دا سجال دی شاعر به په پښتو کې «بل «هجري» ښوندی په فن د شعر فردوی

مأخذونه: ۱ ـ د هجري دیوان ـ د باغلي همیش خلیل د مقد مې سره
۲ ـ پښتانه شعراء ۱/۱٦۹ مخ

۱۲۲۳-اشرف غزنوي: د دري ژبې شاعر و. (د «ح» په رديف کې دی «حسن غزنوي» ته رجوع وسی)

مأخذ: لغتنامه ـ ۲۶۵۳ مخ

۱۲۲۴-اشرم خراساني: ابوبکر احمد دمحمد زوی د هاني خراساني نمسی چې په بغداد کې اوسيد دخپل وخت نوميالی محدث او حنبلي فقيه و ـ په (۲۷۰ ه ق) کال سړدی اودا کتابونه يې تصنيف کړي دي :

۱- کتاب التاريخ .

۲- کتاب السنن في الفقه على مذهب احمد وشواهد من الحديث.

۳- کتاب العلل فی الحديث .

۴- کتاب الناسخ و المنسوخ في الحديث .

مأخذ: هدية العارفين - ۱/۵۰ مخ

۱۲۲۵-اشك-يا-ارشك: دپارتيانو دپاچهي باني اوڅښتن و ،چې له خپل اصلي ټاټوبي «باختر» څخه يې دافغانستان دلمر لويدو خواته مهاجرت کړی او هلته يې دپارتيانو دپاچهي بنسټ ايښی دی، اودده او لادې تر پنځوسوو کالو پورې واکمني درلودله، اوپه (۲۵۰ قبل الميلاد) کال دسلوکيانو پر ضد پاڅيد او تر دوو کالو داخلي جګړو وروسته يووړخ دخپل يوونيز ۰ لرونکي جګړن له لاسه ټپي او بيا له هغه ټپه مړسو (۲۴۷ق.م) اودده او لادې ته اشکانيان وايي .

مأخذونه: ۱- لغتنامه ـ ۲۶۶۸ مخ

۲- تاريخ ايران باستان ـــ ۲۱۹۷ «

۳- د ستړابون ۱۱ کتاب ۹ فصل ۳ بند

۱۲۲۶-اشهبي بلخي: ابوالمکارم محمدد عمر زوی،د اميرجه نمسی دابي القاسم کروسي،دابي سهل کوسي او د ابي سعيد ميادا شهبي کودی په خپل وخت کې يې په فضل او محفوظاتو شهرت درلود.د خراسان د ښارو ترليدو وروسته

هند ته ولاړ، ډیر حدیثونه یې واوریدل او بحری سفرونه یې هم سلاوتړله - پښه تو کی سړی همو.

اشهبی په هرات کی له ابو عبدالله محمد بن علی بن محمد عبری اوله ابوعطا عبدالا علی بن عبدالواحد څخه او په نیشاپور کی له ابو تر اب عبدالباقی بن یوسف مراغی، اوله ابوالحسن مبارک بن عبیدالله بن محمد واسطی، او په بلخ کی له ربو القاسم احمد بن محمد بن جلیل او له ابو اسحاق ابراهیم ابن ابونصر او نورو څخه حدیثونه اروېدلی وو .

دی په (۴۶۶ ه ق) کال په بلخ کی زیږیدلی او د (۵۳۲ ه) کال د کوچنی اختر په میاشت کی مړ، او دبلخ دنوبهار دوره په هدیره کی ښخ دی.

ماخذ: لغتنامه - ۲۷۰۷ مخ

۱۲۳۷- اشیب خراسانی: ابوعلی حسن د موسی زوی مشهو ر په اشیب د خپل وخت لوی محدث اصلاً د خراسان و، خو په بغداد کی اوسید ، او بیاد شام دقضا چاری ورو سپارلی سوې. د محدیثونه له محمد بن عبدالرحمن ، اوشیبان بن عبدالرحمان نحوی ، او له حماد او ورقاء بن عمر ، له حماد بن طلحه ، اوله عبدالله بن لهیعه څخه اروېدلی وو، چی بیاله ده څخه احمد بن حنبل او ابوخیشمه او احمد بن منیع او رمادی او بشر بن موسی اسدی روایتو نه کړی دی. په بغداد کی د هارون رشید له خوا د موصل او حمص قضاور سپارله سوه، او د مامون په وخت کی بیرته بغداد ته ولاړ او مامون د طبرستان په قضاوګمارو هغی خواته ولاړ، او په ۲۰۹ ه کال د ربیع په میاشت په ری کی مړ سو.

ماخذ: لغتنامه - ۲۷۱۱ مخ

۱۲۳۸- اصغر (ملا): د اخوان د رویزه ورور ، او د پښتو ژبی شاعر او عم ملا و د (۹۵۰ ه) په شاو خوا کی یې ژوند کاوه، او دیوشعر دسریښت یې دادی:

واوری یار انونبی ناست په جماعت و

جبرائیل و ډ پرې راغلی لهٔ خدایه پری رحمت و

ماخذونه: ۱- کال کالنی -۱۳۲۲ ه

۲- د پښتو ادب تاریخ - داستاد رشتین -۳ م مخ

۱۲۲۹- اصغر سبزواری: دافغانستان د سبزوارد سیمی چی اوس ورته «شین ډند» وایی ددری ژبی شاعرو، اودابیت دده دی:

برنجه ساختن یکقدم نمرزیدم

مگر بخاك برابر نبود پستی ما

ماخذ: روز روشن -۵۲ مخ

۱۲۳۰- اصغری هروی: دغیاث الدین عزیز زوی او دسلطان حسین ترابامامسنجید میرزامعاصر اوددری ژبی شاعرو، دابیت دده دی:

بمیزان نظر حسن ترا با ماه سنجیدم

میان این وآن فرق زمین تا آسمان دیدم

ماخذ: تذکرهٔ حسینی -۳۹ مخ

۱۲۳۱- احم بلخی: ابوعبدالرحمن حاتم د عنوان زوی مشهور احم دبلخ لهٔ نوسیالیو زاهدانو څخه و، په زهداو نیکی یې شهرت درلود، اوهم په زهداو حکم کی مدون کلام ورځینې پاته سوی دی. له بلخه بغدادته تللی اوداحمدبن حنبل سره یو ځای سوی او ځینې جنگونه یې هم لیدلی و. دی پخپله نقل کوی چی: «ترکانو سره مخامخ سوم، یوه په غاړه کی رسی راواچوله اوزه یې له آسه راوغورځولم له خپل بوده څخه راکښته سو، زما پرتتر کښینوست له خپلی موزی څخه یې چاړه راویشتله اوزه یې له اوږدي ږیری ونیولم چی چاړه پر غاړه راتیر کړی اوما ووژنی، خو مسلمانانو هغه په غاړه کي په غشي وویشت او زما له تیتره ونو پد وزه پاڅیدم دده له لاسه مي چاړه واخیستله

او دی‌سی حلال کی «په ۲۳۷ ه کال واشجرد » کی مړ سوی دی.

مأخذونه: ۱- الاعلام -دزرکلی- ۲/ ۱۵ ۱مخ

۲- تاریخ بغداو د-۸/ ۲۴۱ - ۲۳مخ دا تاریخ بغدادلیکی چی: «حاتم الاحم لقمان هذه الامته».

۱۳۳۲- اصلی کابلی: ملا اصلی د دوولسمی هجری پیړی په پای کی د دری ژبی شاعرو، دده څو غزلی د مرحوم سیدعطامحمدشاه (معروف خطاط) په شخصی کتابتون کی پر یوه بیاض لیکلی سوی پاته دی، او دده له اشعارو ځرگندیږی چی د کابل و لکه وایی:

اصلیا امسال سوی قوفستسیر ملک هند

دل بزم صحبت یاران کابل بسته‌ایم

بل ځای وایی:

بود در دل اگر ذوق بدخشان و سمرقندم

بجز فرحت‌فزای ملک کابل ناخرسندم

د «اصلی» نوم معلوم نه سو، خو د بیاض لیکونکی دی داسی ستایی:

«جناب فضلیت مآب ملا اصلی» دده د وی غزلی دا دی:

از بس گزیده ام من رنجور پشت دست

شد آبله بصورت انگور پشت دست

بر سینه روی دست ز افسوس می زنم

گردی در آستین چو تو ستور پشت دست

بیهوده سوی آئینه سازی نظر چرا
بنموده مه بعارضت از دور پشت دست

یابم اگر زگردش چشم تو ساغری
خواهم زدن ببادهٔ انگور پشت دست

چون روز روشن از یدبیضا بکن جهان
بکره نمای در شب دیجور پشت دست

از رشک دست بر سر خود میزند پری
ظاهر نموده مگر ای حور پشت دست

زان نیشها که خورده‌ام از چرخ اصلیا
دارم چو نوش خانهٔ زنبور پشت دست

* * *

سیر گلزار و چمن ساخته داغم بیتو
نتوان یافت بجز لاله بباغم بیتو

ارغوان در نظرم دیدهٔ خونبار بود
بوی گلها شده است دود دماغم بیتو

دل تاریک مرا غم نگذارد روشن
برده است نور طرب را زچراغم بیتو

بزم عیشم زغمت بسکه مصیبت کده شد
پر زخوناب جگر گشته ایاغم بیتو

آه حسرت بلب و داغ بدل خاک بسر
این بود حاصل اسباب فراغم بیتو

طعنه ما زکس وفا کس شدءام از جورت
صد تو امیر سد از زاغ و کلا غـم بیـتو

بسکه در وادی سود تو «اصلی» گم شد
می کند کلفت وا ندوه سرا غم بیتو

ماخذ: یادی از رفتگان - ۸ مخ

۱۳۳۳ - اصیل ارغون هروی: د میرزا سلطان ابو سعید تیمو ر د دربار له امیرانو څخه و ، چې په ۸۶۳ هـ کال یې هرات ونیو - خواند میر لیکي :

« روزجمعه هشتم ماه صفر ۸۶۳ ه امیر سید اصیل ارغون وبهاوا نان حسین دیوانه از اردوی سلطان سعید به دار السطنهٔ هرات رسیده شهر و قلعه را متصرف گر دیدند . »

مآخذونه: ۱- لغتنامه - ۲۸۵۱ مخ

۲ - حبیب السیر - ۴/ ۷۵ مخ

۱۳۳۴ - اصیل الدین هروی نوم یې عبد الله و ، او خواند میر په حبیب السیر کې د سلطان میرزا بایقرا (۸۶۳ - ۹۱۲ هـ) د وخت په سادا تو ، ښـا یخواو پوهانو کې ده نوم یاد کړی دی او دی یې د «امیر سید اصیل الدین عبدا لله حسینی» په نامه ، او د «اصالت» او «وفور جلالت» او «قدمت دودمان» په صفتو یا د کړی دی ، اوده دیره پارسایی اودینداری اوپرهیز گاری ستاینې ده او تر نورو عالمانو او بزرگانو څه شمیرلی دی ، اوهم یې د تفسیر او حدیث په علوسو اودانشا او تالیف په فن کې یې ساری بللی دی ؛ اوهم لیکی چې دی له شیرا زه هرات ته راغلی او دلته میشته سوی دی او په هفته کې یې دو وارد «گوهر شاد آغا» په مدرسه کې خلکو ته وعظ او ارشاد کاوه ؛ اودهری لومړی خور (ربیع الاول) په سیا شت به یې د حضر ت پیغمبر د زیږیدنې په باب کې وینا کوله .

ده یو کتاب د«درج الدرر «په نامه دحضرت پیغمبر دسیر په باب کی لیکلی دی، اوبل اثر یې رساله ومزارات هرات» و ۰د(۸۸۳ھ) کال د دوهمی خور (ربیع الاخر په ۱۷ مړ دی، او سلطانحسین میر زادده اولادې ته سستمری وتا کله.

مأخذونه: ۱ - لغتنامه - ۲۸۰۲ مخ

۲ - حبیب السیر - ۴ / ۳۳۴ مخ

۱۲۳۵ صیلی هروی: د دری ژبی شاعرو، اوپه هرات کی او سید.

دا بیتونه د ده دی:

محبتی که مرا هست با تو از ازل است

محبت از ازل است آنکه خالی از خلل است

غنیمت است جوانی بگلرخی بنشین

که صحبت گل و فصل بهار بی بدل است

مأخذ: روز روشن - ۵۰۳ مخ

۱۲۳۶-اظهر خطاط: میر خواند دی دتیموریانو دعصر په خطاطانو کی یاد کړی دی، اوپه نسخ خط کی یې داین مقله او یاقوت سا ری بللی دی.

مأخذونه: ۱- لغتناوه- ۲۹۲۰ مخ

۲- حبیب السیر-۱۱۶»

۱۲۳۷-اعظم افغان: اعظم خان په ختمه پښتون او د دوو لسمی هجری پېړی دار دوژبی شاعر و، او په اشعار و کی یې اعظم» تخلص کاوه. په ډ هلی کی اوسید، په ظریف سړي هم و ، او په پای کی یې شاعری پرېښووله اودعلو موزده کړی ته ئې مخه کړه. دا بیتونه دده دی:

اسی مضمون سی معلوم او سکی سردمهری هي

جو اوس نې سجکو نامه کاغذ کشمیر پر لکها

درد دل از بس طبیبون سې نهان رکهتی هین هم

شمع آسا نبض زیرا استخوان رکهتې هین هم

مأخذ: سکنیته الفضلا – ۵۵ مخ

۱۴۳۸-افتخار الدین بلخی: عبدالمطلب دفضل زوی، دعبدالمطلب نمسی اود حسین هاشمی بلخی کړوسی دفقه دعلم پوهاند و.

د نسب سلسله یې عبدالله بن عباس‌ته رسیږی . په بلخ کې زیږیدلی اوهملته یې و دهسوندلې ده، په‌حلب کې مړ سوی‌دی، او دده دمړینې سره په حلب کې د حنفیه ریاست هم پای ته ورسید. په فقه کې د شیبانی پر جامع کبیر باندې یوه شرح اری چی چاپ سوې نه ده .

په (۵۳۹ ه) کال زیږیدلی او په (۶۱۶ ه) کال کې مړدی.

مأخذونه: ۱- الاعلام –د زرکلی – ۲۹۸/۴ مخ

۲-الجواهر المضیة – ۱/ ۳۲۹ مخ

۱۴۳۹-افسری هروی: ملاافسری ددری ژبې شاعرا و متواضع سړی و ،خوتعصب‌یې درلود، دنسطلع‌دده دی:

ای شوخ بیلی خنجر بیداد کرده ای

معلوم می شود که مرا یاد کرده‌ی

مأخذ: مجالس النفائس–۱۶۳ مخ

۱۴۴۰-افضل خان‌خټک داشرف خان هجری زوی او دخوشحال‌خان خټک نمسی د پښتوژبې‌نومیالی لیکوال اوشاعرو.

هغه وخت چی دده نیکه«خوشحال خان»داورنگ‌سره په‌جگړه‌اختی‌وافضل‌خان د پرغمل په‌توگه کابل‌ته بیول‌سوی، او تر(۱۰۹۸ ه) کال وروسته دو کال‌په کابل کې‌نظربندو ،خوچی تر(۱۱۰۰ ه) کال‌و روسته چې‌خوشحال وفات سو، دی‌بیر ته

مځکه سجده کړه او تخت ته نژدې ورغی او د سلطان لاس یې مچ کې. بیرته خپل ځای ته ولاړ، بوسهل او ابونصر دلوړې پاڼه (سوګندنامه) وروړاندې کړه، ستر خواجه هغه په خپله خوله وویله او بیا یې لاسلیک کړه، او ابونصر او بوسهل یې پر ځا ن شاهدان کړه سلطان چې هغه سوګند نامه واورید له ستر خواجه یې وستایه او به زیری ئې ورکړه، ستر خواجه بیا مځکه مچ کړه .

سلطان ورته وویل: «اوس ولاړ سه، سبا باید خلعت واغوندې چې کا رونه پر ځای ولاړ دې او د یر مهمات لرو، چې باید ټول سرته و رسیږي»

ستر خواجه وویل: «فرمان بردار یم! نو سواضعه یې د خانه سره یووړه، او دلوړې پاڼه (سوګند نامه) یې په (دوات خانه) کې کېښېښو له (۱) .

بیهقي لیکي چې: (نسخت سوګندنامه وآن سواضعه بیاورده ام در (مقامات محمودی) که کرده ام، کتاب مقامات، و اینجا تکرار نکردم که سخت دراز شدی (۲) .

له بده مرغه که څه هم د (مقامات محمودي) کتاب ورک دی، خو له نېکه مرغه د دې مواضعې متن له منځه نه دی تللی او په دوو ماخذو کې ضبط او ثبت پاتې شوی، چې یو ماخذ دابو نصر مشکان د مقامات باقي پاتې برخه ده چې استا د خلیلي په خپل کتاب «سلطنت غزنویان» کې یې هغه ته حواله ورکړې او هغه مواضعه یې له هغه ځایه رانقل کړې ده، او بل ماخذ د فصیحي خوافي کتاب (مجمل فصیحي) دی او داسې اټکل کېږي چې فصیحي د مواضعې متن د بیهقي له (مقاما ت محمودي) څخه کټ مټ راخیستی دی او له (مجمل فصیحي) دیوې کمیابې نسخې څخه بیا د تیر یز

---

(۱) دوات خانه: ښایي چې د هغه وخت د دولتي رسمي پاڼو د ساتلو ځای و، او دا اوسني آرشیف حیثیت یې د رلود .

(۲) دا پورتني مطالب د تاریخ بیهقي له ۵۰۱ مخ څخه تر ۵۰۳ مخ پورې په پښتو را اړول شوي دي .

دجلال آباد لەلاری دختکوسیمی تەولاړ ،اودخپل پلارترمړینیوروستەپەاکوړەکی کی د پښتنو پە مشرتوب وټاکل سو. کە څەهم بنا غلی هممش خلیل د«د هجری» دديوان پەمقدمەکیلیکی چی«افضل خان بیانیکەپسینضامپورتەلاړ ـدغە وارخوشحال دمشری پټکی افضل تەپە سر کړو، اوورتە یی ووی چی:«ستاپلار پخپلە خوښەسردار شوی د ی حا لا نکە د سر و رجو ړو لو ا ختیا ر ما تە دی ،سرا ر مقر ر کړی» د سراری پټکی پەسر ا فضل خا ن د نیکـــە ر ا و ا ړس شو، ا و خپل پـــلا رمره دنیلاب پە غړونوکی یوځای شوـافضل خان دخپلی سرداری ټولەقصە پلارتەتیره کړه، هجری چی واور یده ډیرخوشحال شو، اوافضل خان تەیې ووې چی:«داپټکی دتبرک پە طورو ساتە (۱)»

لە دې څخە څرگند یږی چی افضل خان دپلار او نیکەپە ژوندهم دمشرتوب او سر داری بگړ ی پر سر کړی وه او همدا سبب و، چی پە (۱۶۸۰م) کال چی خو شحال خټک لا ژوندی و، او لە بنگښو څخە د انتقام اخیستلو پە غرض تقر یباً اووه زره خټک راغونډ سوی وو، نودغو ختکودیوې دلی سالاریاو کمان افضل خان تە سپارلی سوی و ، چی افضل خان بیادبنگښو پر سیمە حملە وکړه اود شادی خیلو (کوهاټ) درې کلاوی یې ونیولې.

افضل خان تر یو شپیتو کالو پوری دخپل توم خپلواک مشرو ، اوهم د ختکو پە کورنی کی یولایق متدین عالم او ئو سیالی ادیب و .

د افضل خان آ ثار: دافضل خان ډیرمهم اومشهور اثرتالیف«تار یخ مرصع» دی چی دپښتنو دانسابواوتاریخی پیښو څه.معلومات پکښیستەدد ې کتاب څوفصلە پە (۱۸۶۰م) کال مستر راورتیی انگر یز پخپل کتاب «گلشن روه» کی چاپ کړی،

---

(۱) دا شرف خان هجری د دیوان مقد مە ـ د «ظ» مخ.

اوهم پادری هیوز انگریزپه «کلید افغانی» کی راوړی دی، خو بشپړه نسخه يې په (۱۳۵۳ ه ش) کال د حبیبي ښاغلی نامتولیکوال دوست محمد خان کامل مومند په مقابله، تصحیح په ۷۲۶ مخونو کې چې د توټیو او تعلیقاتو سره (۱۰۹۴) مخونه کیږي د پېښور د یونیورسټي بک ایجنسي له خوا په ډېر ښه چاپ خپور سوی دی. دا نسخه لومړی بشپړه نسخه ده چې د ښاغلی کامل د تحقیقي پانګې او تعلیقاتو سره چاپ او خپره سوې ده، چې په پای کې د ځایو او نومو فهرستونه هم لري.

دافضل خان بل کتاب «علم خانه د انش» دی چې د ابوالفضل «کلیله او دمنه» يې پښتو کړی اوده (۱۱۲۸ ه ق) کال د محرم په دیار اسمه بشپړه سوې ده.

دافضل خان بل مهم اثرد «اعثم کوفي» د تاریخ پښتو ترجمه ده، خو دا په ده معلومه چې دا ترجمه له اصلي عربي نسخې څخه ده او که د پارسي نسخې څخه؟ ځکه چې دا کتاب خواجه اعثم کوفي په (۳۰۴ ه) کال د «الفتوح» په نامه په عربي لیکلی اوپه (۵۹۶ ه) کال محمد بن احمد المستوفی الهروي له عربي څخه په پارسي ترجمه کړی اوپه (۱۳۰۰ ه) کال په بمبئی کې چاپ سوی دی.

د پښتو دا نامتو لیکوال او ادیب د (۱۱۸۳ ه) کال د برات په میاشت مړ دی او وده د مړینې نېټه د پښتو نوميالي شاعر کاظم خان شیدا داسې بیان کړې ده :

تاریخ يې دا رنګه د رحلت ووی
خرد و ماته میاشت د شعبان وه

کال د رحلت يې له ماته واروه
«بهشت يې ځای شه دعا کومه»

د افضل خان اشعار: دده داشعارویو دوې نمونې دادي :

په ژړا ژړا دریاب دی یا سیلاب دی
قرارونه کړي یودم ځای د ژړا دی

ستر گوتاسو په شماره ځاځگی راتوی کړل
د آشنا د آشنا یی د رد هم دادی.

***

صورت می هرڅو که ډیر زبون دی
که می د سر کی د لا ندی یون دی

زه به په لوری د آشنا خوخم
که یون می هرڅو په شوا خون دی

***

د کتاب په په خاتمه کی وایی :

نصیحت په غوږ کی کله ځای نیولی د کېږو دی؟
شنوا په پند ترې اخلی، دا کتاب د زمانو دی

شکر داچې دا نامه سی ترسر که وړاندې په انجام شوه
دانایان په دی پوهیږی چې جهان سرای دلیږو دی

ماخذونه : ۱- پښتانه شعراء ۱/۲۲۸ مخ

۲ – گلشن روه – له یوه تر ۵۳ مخ پوری

۳- کلید افغانی – له ۵۰۲ مخه تر ۳۲۳ « «

۴- د هجری د دیوان مقدمه – د ۵ظ ۵ مخ

۵- د لوی احمد شاه بابا د دیوان د مقدمې – ۳۳۱ مخ

۱۳۴۱ - افغان: نوم یې الف خان او د اردو ژبې شاعر و، د درویشۍ په توګه یې ژوند کاوه ـ دا دوه بیتونه د ده دي .

پهلی قدم میں عشق کی مرا توجی گیا
مجنون به چندروز بهلا کیونکه جی گیا

* * *

آئینه خوبی کا اپنی سب ساري تها لاف
هوگیا خجلت سی پانی دیکهه ومر خسار صاف

ماخذ: تذکرهٔ گلزار ابرا هیم-۳۵ مخ

۱۳۴۲-افغان: نوم یې هینګن خان او د اردو ژبې شاعر و، افغان یې تخلص کا وه د دخیل نوم او نسب سره سم د اسې وېل :

خسروسی ملی شیرین جب شیرو شکر هو کر
پتهر سی بهلک سر کو فرها د بهت رویا

ماخذ: تذکرهٔ شعرای اردو ـ ۹ مخ

۱۳۴۳ - افغان کندهاری: میر هوتک خان د زمان خان زوی، د حکیم خان لمسی، د مقیم خان کړوسی او د مشهور سردار خانجان خان واره په ختیه پو پلزی متخلص په «افغان» د تیمور شاه د وخت و له نومیالیو فاضلانو او د درې ژبې له پخوا شاعرانو څخه و .

په کندهار کی زېږېدلی او مور یې د استاد د میرسیف الدین مشهور په اشان صاحبه لور وه .

فطرتاً ذکی سړی و، او دادبیاتو سره یې مینه درلوده، څو چه پخپله هم د درې ژبې مشهور شاعر سو .

د تیمور شاه په دربار کی یې ډېر احترام کیده، د پا چا مشاورو او پخپله یې

د تیمورشاه سره مشاعرې کولې، او د شاه زمان په وخت کې د دېرو شاعرانو استاد و.

د تیمورشاه په پاچهۍ کې یې د داروغګۍ منصب درلود، او د شاه زمان په وخت کې هم څه موده داروغه و، او بیا د مملکت «هرکاره باشي ګري» ور وسپارله شوه.

د «روز روشن» د تذکرې لیکونکی چې د «افغان» معاصر دی د ده په باب کې داسې لیکي:

«میر هوتک افغان از منشیان شاه زمان است، در عصر اعلیحضرت زمانشاه چندی داروغګې دفتر و مدتی اختیارات اخباري را بعهده داشته و بالاخره «هرکاره باشي ګري» کلي مملکت بوی مفوض شده».

افغان په خپلو اشعارو کې د میرزا عبدالقادر بیدل پیرو، او په دې سبک کې د خپل وخت متاز شاعر و. له هغې قصیدې او مکتوبانو څخه چې ده یو دوست «ملا جز کابلي» ته بلخ کې د ده د استوګنې په وخت کې لیکلي دي داسې څرګندېږي چې د «افغان» یا «عاجز» په کور کې د بېدل مرګري سره راغونډ بېدل او د «بېدل» اشعار به یې لوستل او ارو بیدل.

افغان د کابل په قرغه کې اوسېد، او د ده د اشعارو بشپړ دیوان د ښاغلي حسن خان قرغه ئي سره سته چې د هغه ښاغلي په زیار له دو ونسخو څخه راغونډ او مرتب سوی دی چې ۳۱.۰ مخونه او ۹۲۳۸ بیتونه لري.

د افغان د یوان په (۳،۲،۰،۵) کال کې بشپړ سوی دی لکه دی چې پخپله وایي:

کتاب ما اګر جوید کسی تاریخ اتمامش

بګو افغان حساب او هم از «دیوان افغان» کن

دافغان دژوند زیاته برخه داستالف د«ایشان» سره چی دده د سور له خوا نیکه و، تېر سوی وه ، او دایشان ترمینځی ورسته حج ته ولاړ ، چی له حجه بیرته راغئی مړسو، او په استالف کی د«ایشان صاحب» په هدیره کی ښخ دی .

دا غزله دده ده :

گفتم که درد فراق توام جان شود نشد
یا مشکلی ز بند غم آسان شود نشد

یا بهتو مرگ چاره درد م کند نکرد
یا در دمن زوصل تو درمان شود نشد

یا در رهت بیاد فنا سر رود بزفت
یا کارم از وصال بسامان شود نشد

یا جان زدست تیرنگاهت رهد بزست
یا دل هلاک آن صف مژگان شود نشد

یا ره زه انتظار تو بیرون برد نبرد
یا دیده ام برای تو حیران شود نشد

یا دل بدست دامن صبرم دهد نداد
یا پنجه ام حریف گریبان شود نشد

یا غنچه لبت زوفا دم زند نزد
یا نرگست ز جور پشیمان شود نشد

یا نازت از محبت من دل کند نکند
یا چندگاه مایل احسان شود نشد

یا از نهال دوستیت بر خور د نخورد
یا غنچهٔ دلی ز تو خندان شود نشد

یا از غم فراق تو افغان سر د نمرد
یا یک قلم خلاص ز حرمان شود نشد

دا قصیده ئې د تیمور شاه په ستاینه کې ویلې ده:

نظام ملک اساس جهات شمع یقین
نهال باغ شریعت چراغ ملت و دین

جهان عدل سپهر کرم سحاب عطا
محیط گوهر عصمت شهی نکو آئین

سپهر مرتبه تیمور شاه نیک اختر
که سوده بر کف پایش ز بدر چرخ جبین

ز فیض گلشن مدحش بهشت فرصت دل
ز وصف شکر نا مش لب و زبان شیرین

ز خدمتش دل من راهزار بزم سرو ز
ز نقش فکر و یم طبع صد چمن رنگین

چگویم آن فلک جود را نمیدانم
کمال رنگ صفا تش گذشته از تحسین

زهی شهی که نهاد آفتاب از پرتو
سرتیا ز بخاک جناب او بر زمین

سزد که مطلع آن سرو قد سوزون را
اگر بمرع طو با نما یش تضمین

چه ممکن استشود کوه قاف هم سنگش
بکاه لنگر قدرش ببخشد از تمکین

بهر کجا که بخواهم بقای دولت تو
کنند اهل سماوات یلله قلم آمین

برنگ حیرت آئینه ات صفا فرش است
ز نور پرتو خورشید بر بساط زمین

غبار مقدم عزمش جبین بدخواهان
سینه مجمر او یاد چشم کوته بین

مأخذونه: ۱-تذکره روز روشن — ۶۱ مخ
۲-یادی از رفتگان-۹ مخ
۳-تیمور شاه درانی --۲۰۰ «
۴- سکینةالفضلا -۵۴ «

۱۳۴۴- افغان لودی: محمد سلیم خان لودی دخانجهان لودی له اولادې څخه ددری ژبې شاعرو، او په یوولسمه هجری پېړۍ کې په کابل کې اوسېده، روانه‌طبع یې درلودله او په‌اشعارو کې یې «افغان» تخلص کاوه — دادوه بیته ددهٔ دي:

گر خدا ناخواسته‌آهن شوی آئینه باش
هرچه خواهی باش اما با صفای‌سینه باش

نهال تخم مهر بتان زاده را
بدل کشتم ازسینه افغان برآمد

مأخذونه: ۱-روز روشن، ۶۱ مخ
۲-سکینه‌الفضلا -۵۴ «

۳- آریانا مجله – ۲ کال – ۱۱ ګڼه – ۴۵ مخ

۴- لودي پښتانه – ۳۴ »

۵- پښتو آریانا دائرة المعارف – ۲ ، ۳۴۶/۱ »

۱۳۴۵- اقبال خان لودي: د دوهم ظفرخان « دریا خان » زوی چې اصلي نوم يې «ملوخان» او په تاریخ کې د «ملو اقبال خان» په نامه شهرت لري په هند کې د لودي پښتنو له نومیالیو امیرانو څخه و، چې د (۷۵۹ هـ ق) کال د صفر د میاشتې پر اوومه زېږېدلی دی.

د (۷۹۶ هـ) کال په پای کې چې د ډهلي تغلق پاچا «سلطان ناصرالدین محمود» له ډهلي څخه ګوالیار ته ولاړ او امیر الامرا مقرب الملك «مقرب خان» يې په ډهلي کې پرېښود، نو ملوخان لودي له ګوالیاره ډهلي ته ولاړ، او مقرب خان ده ته د «اقبال خان» خطاب ورکی، او «سیري» کلا يې ور وسپارله.

(۸۰۰ هـ) کال د شوال په میاشت چې اقبال خان او مقرب خان سره خوا بدي شول نو اقبال خان له فیروزآباده څخه «نصرت شاه» د سیري کلاته راوغوښت، یوه هفته لا نه وه تیره چې اقبال خان او نصرت شاه هم سره ونه ښامل، نصرت شاه د خپلو لښکرو سره له سیري راووت، اقبال خان د شاله لوري ور باندې برید وکی، د پرشاهي سامان او پیلان يې په ولجه نیولي یووړل او نصرت شاه وتښتېد او خپل وزیر تاتار خان «د پاني پت حاکم» ته يې پناه یووړه او اقبال خان د فیروزآباد هم بسې ونیو، او تر پخوا پر خپلواک او واکمن سو، او تر ډېرو سوبو وروسته يې د امیرالامرا مقرب خان (چې په زاړه ډهلي کې و) جګړې ته ورودانګل، او درې میاشتې ورسره وجنګید، څو په پای کې يې روغه سره وکړه، خو دا روغه د زړه نه وه او لږې ورځې وروسته اقبال خان پر مقرب خان ناڅاپه یرغل وکی او هغه يې وواژه او د ډهلي د حکومت ټول

واکړ اقبال خان ته پاته سو ، او د سلطان ناصرالدین محمود د پاچهی تش نوم و .
اقبال خان د(۸۰۸ ه) کال دد ریمی خور په نولسمه داسلام خان لودی له خوا ووژل سو.
(اسلام خان ته دی رجوع وسی)

ماخذونه : ۱-لودی پښتانه-۳۳ مخ
۲-ماثر رحیمی -۱/ ۳۹۱ «
۳-روضة الصفا -۶/ ۱۰۷ «
۴-تاریخ فرشته -۱/ ۱۵۵ «

۱۲۴۶-قدسی خراسانی : میرزا اقدسی د میرزا محمدعلی قرابی سنګلاخ دخراسان له خطاطانو څخه و،نستعلیق خط بې په لیکه ، او په شکست خط کی یې هم لوی لاس دراود .
شعریې هم وایه ، اوپه (۱۲۷۰ ه) کال په اسفر این کی مړ سوی دی.

مأخذ: تذکرهٔ خطاطین — ۴۶ مخ

۱۲۴۷-اکبر خټک : دافضل خان خټک زوی اود پښتو ژبی شاعر و ، د خټکو په سیمه کی اوسېده .

مأخذ: د ۱۳۲۳ ه کال د کابل کالنی - ۲۹۵ مخ

۱۲۴۶-اکبر زمینداوری : اکبر د ګوډ تیمور په وختو کی په زمینداو کی اوسېد او د پښتو ژبی نوسیالی شاعرو.
زمینداور چی په تاریخ کی «داور» هم بللی سوی د هیلمند په ولایت کی پروت دی او دغوریانو او غزنویانو په وخت کی ډېر ودان او حتی دغوری پاچهانو د ژمی پایتخت و.
اکبر د پښتو ډېر پوخ شاعر تېر سوی دی خوله بده مرغه دده د اشعارو دیوان د

دا دپیاتو د دانشکدې په پوهنشریه کې پنځه ویشت کاله دمخه اقتباس شوی او له هغه ځایه بیا استاد حبیبي د ۱۳۲۹ ه ش کال د آریانا په مجله کې له یوې مقدمې سره خپور کړی دی خو داد وه متنه په لحیځو عباراتو کې توپیر سره لري او ایزاد او حذف پکښې شته، نو هغه چې د فصیحي متن بشپړ ښکاري، دلته هغه د دې کتاب په متن کې راوړو، او د هغه بل متن توپیر په حاشیه (فټ نوټ) کې ورسره لیکو.

د مواضعې متن: فصیحي خوافي (۱) داسې لیکي: (خلاص فرمودن سلطان مسعود بن سلطان الماضي محمود، خواجه فاضل احمد بن حسن المیمندی را از حبس پدر خود، واو را وزارت دادن وخواجه احمد مذکور برین موجب **مواضعه نوشت**، وهذا المواضعه، مضمون آنکه (۲): این مواضعه ایست که بنده نوشته، که وصول آن بر رای عالي زاده الله علواً، عرضه افتد (۳) وزیر هر فصلی جوابی باشد، تا بنده شغل
وزیر هر فصلی جوابی باشد، تا بنده شغل
وزارت را به دلی قوی پیش گیرد، وچون اساسی و دستوری باشد که به آن رجوع میکند، که بهر وقت ممکن نگردد بمزاحمت مجلس عالی تصدیع آوردن (۴).

---

(۱) فصیحي خوافي د پارسي ژبې له مورخانو څخه دی چې په نهمه هجری پیړۍ کې ئې ژوند کاوه.

(۲) په دوهم متن کې عنوان داسې دوی (الجواب المواضع).

(۳) په دوهم متن کې د (که وصول) پرځای (تا فصول) او د (عرضه افتد) پرځای (عرضه کنند) راغلي دي.

(۴) په دوهم متن کې د (وچون اساسی) پرځای (و آن اساسی) راغلي او هم د (دستوری) کلمه نشته او تر (ممکن نگردد) وروسته دا عبارت راغلی: (و هر حالی مجلس عالی را دام الله اشرفه درد سر آوردن — والله ولی الخیر والخیر مما فیها الفلاح لمنه وسعة فضله.

زماني دآناتو سپلیو له منخه وړی د ی یوازی یو څو زړې پا ڼی یې د هېلمند د سیند پر غاړه سوند سوی دی .

ده دژوند زمانه هم معلومه نه وه ، خو لدبنه سر غه چې ده پخپله په یوه بیت کی دګو ډ تیمور دلسی یاد ونه کړې ده:

دسغو لو تمر (۱) هسی په او ر و سو م
چې به هېر په دې سا تم زمیندا ور کړ م

له دې بیته ښرګند یږی چې اکبر دتیمور تاړا کونه لیدلی دی او څنګه چې دګوډ تیمور دوره له (۷۷۱ ﻫ) کاله بیا دده تر مړ ینی (۸۰۷ ﻫ) کال پوری وه نو د ا کبر ژوند هم د (۷۵۰ ﻫ) په شاو خو ا کی اټکل کیدای سی.

دا کبر د ا شعار و نمو نې: ده یوبدله پر ولسی وزن ویلې چې د بره خونده وره ده او دلته یې دنمونې د پاره راوړو:

زه چې په سینه معشوقو دبنګړو شرنګ لره ځم
زه د هجران دبېلتا نه دتورو جنګ لر ه ځم

• • •

زه اوړته یم په هجر ان سره قرا ر نه لر م
هجرسی اوېدسود وصال په امید کار نه لرم

بیلتون په خوله را کړې ځا پېړی زه لا عا ر نلرم
وام دمعشوق پرسینه پروت زه تورلونګ لره ځم

ځیني یې ولی څو ک عاشق څورنګ په توری کاندی
پر خو ا ر مین دښها هوسره هو ری زوری کاندی

---

(۱) دتیمور د ګلی زړه املاده .

بې نیازه نه کاچې پلو لهمخهلرې کا ندې
چې راوپاڅې په اخلاص چې خپل ځورنګ لره ځم
●●●●

اول خوته نجلې پر عشق باندې قرار سولې
اور دې راپورې کې نور کښېستې قرارهسولې
هیڅ ګفتګوی له عشقه نکوې بیزاره-ولې
یو وار خوووایه کرارخې دیارځنګ لرهځم

بله غزل:

د خپل ځان له حیرانیه څه و یل کړم
د عشق ویر به تل پخپله پتول کړم
ما مدام لکه بورا پر ګلاو ګښت کړ
اوس به ځم په سر تو رسر فراق دګل کړم
د غماز لړمون به زه په لمبه کسېږدم
خیال هم به دیار بزم ګل اوسل کړم
ځما د یارد سینی او رېه زړه کې بل دی
زه به سراو مال بښندم د ید به حاصل کړم
دبتلتون له و یره ژاړم او ښکی و ینی
زه «اکبر» پرخپل اشنا دسرښندل کړم

دهشدو ی بیتو نه: اکبر یو عاشقانه مثنوی لری چې څو بیتونه بې دادی:

زه که سخ په اوښو سور کړم
زړه کباب صورت تنو ر کړم
لا یق دا چې دا زه و کړم
څه تهمت به پر یار نه کړ م

ولی هرځای زه پیلتون کړم
بیاد سرو او ښور رژون کړم

هم آشنا خوار کړم هم ځان
بیا تهمت کړم پردوران

که نژ دې که پرهیواد یم
زه ددهٔ په خیال په یاد یم

چې دغه ښه دیدن یې یاد کړم
په تش خیال یې خاطر ښاد کړم

زه چې ژاړم مرادمې دادی
چې آشنا له ملاجلا دی

که سو به بیا سره خوشحال سو
چې محکوم زمونږ و صال سو

زه دیار سم یارمې خپل سي
زه بلبل سم یار مې ګل سي

په سپین مخ باندې تېږېږم
چې دې خاندې ترې جارېږم

د لیدو شربت یې نوش کړم
غم د هجر فراموش کړم

سره کښېنو په خندا سو
په دا تېر احوال ګویا سو

مأخذ : پښتانه شعرا - ۱/۶۵ مخ

۱۲۴۷-اکبر شاه: د پښتو ژبې شاعرو ، اود بونیر په جګړه کې یې ګډون درلود، او دهغې جګړې پېښې یې په نظم کړې دي .

مأخذ: د۱۳۲۲ ه کال- دکابل کالنی .

۱۲۴۸-اکرم جان: په خټه ترکاڼی پښتون دکونړ د«اسمار» اوسیدونکی د پښتو ژبې ولسي شاعرو.ده خپل اشعار زیاتره پرولسی او زانو ویلي دي چې په عین حال کې ساده اوخوند ور دي .

دی د(۱۳۰۰ ه ق) کال په شاوخوا کې سر دی

دده دیوې چار بیتي «سر» اولوسری بند دا دی:

شاه محبوبه شوه راښکاره له بنګلې
پلو یې مخ ته د شال نیولی

سره یې نتکی کوی په مخ تجلی
لکه ښاما رخوله کې یې لال نیول

• • •

شاه محبوبه راته ښکاریږي بدری
جامې یې واړه زر زري و نیمه

د سرو اوړی یې چاپیرتاو له سري
سترګې یې د واړه اثري و ینمه

په دروازو کې یې وښکلې مصری
خو کې د اران منزری و ینمه

دخوار وخلکو یې کړې غوښې کلې
خلقه ز سا یې سر و سال نیولی

مأخذ: پښتانه شعرا ۱ — ۵۵۲/۲ مخ

۱۳۴۹-اکرم خان امین الملک بامیزی: وزیر محمد اکرم خان ملقب په امین الملک دحاجی کریمداد خان پوپلزی بامیزی زوی داحمد شاه بابا د دربار عرض بیگی و، چې د نور محمد خان بابړ امین الملک تر مړینې وروسته دې منصب ته رسیدلی، او دمالیانو دفتر وناظم و، اوسجع مهر ئې داسې و: «دارد امید شفاعت محمد اکرم» دا امین الملک دشاه محمود او شاشجاع په وختو کې هم وزیر او امین الملک پاته و، او دده کورنی داعلیحضرت شاه زمان له ټینګو طرفدارانو څخه وه.

په ۱۲۱۱ هـ ق کال چې دشاه زمان ورور شهزاده محمود په هرات کې په بغاوت لاس پورې کې د امین الملک ورور زمان خان په هغه فتنې پاچا خبر کې او بیائې د محمود د لښکر مشر عطامحمد خان وواژه، او د محمود د ماتې او د هغه د لښکر د تیتیدو سبب سو.

په ۱۲۱۳ هـ ق کال کې بیا اکرم خان او ورور ئې زمان خان په هرات کې وو، چې ددوی په تدبیر شاه محمود هرات پرېښود او بخارا ته وتښتید او چې شاه زمان هرات ته ورغی دا دواړه ورونه ئې ونازول.

داسې ښکاریږي چې دشاه زمان تر ړندیدو وروسته هم دې امین الملک د شاه محمود په دربار کې هم لاز درلودله، ځکه چې په ۱۲۱۶ هـ ق کال چې شهزاده شجاع الملک له پېښاوره پاڅېد او ښو رښت ته ئې ملاو تړله نو دی دتیپیتو سپرو سره دشهزاده شجاع سره یو ځای سو، او په ۱۲۱۹ هـ کال چې شاه شجاع پر تخت کښیناست نو دی د هغه د«امین الملک» په لقب د هغه وزیر، او په لښکری کښی کی چې شاه شجاع له کابل او غزنی څخه دشهزاده کامران دمخنیوی دپاره کوابی امین الملک او غفور خان پوپلزی دقره باغ په سیمه کې د پنځو زرو شاهي سپرو مشرتوب درلود چې کامران ددوی له مقابلې څخه فرار ته وتښتید، او بیانو «امین الملک» له شاه شجاع څخه دوزیر فتح بارکزی عضوو غوښتلې، چې دهدی باب کې پخپله شاه شجاع لیکی:

«از انجا که پاس خاطر امین الملک» وخدمتهای او بغایت منظور نظر سعادت ظهور بندگان مابود . . . . . امین الملک برای عرصئه چندروز شرف ترخیص حاصل نموده، نامبرده راه استیلام عتبه خاقانی مشرف گردانید . . . (۱)

څنگه چې امین الملک شاه‌شجاع ته ډیر نژدی و، نو حافظ‌شیرمحمدخان مختاره الدوله دده سره رخه پیدا کړه او دشاه شجاع له اطاعته ئې سرو غړاوه، خوچې په همدی لاره کې دپښاور دشمال په یوه جګړه کې ووژل سو او په هغه جګړ کې امین الملک‌هم دشاه شجاع په رکاب کې جنګیده.

په ۱۲۲۴ ه کال چې شاه‌شجاع له پېښاوره دوولس زره سپاره دڅلورزوی شهزاد منصور سره کشمیرته لیږل دهغه لښکر په سالار انو کې یوهم امین الملک و او په همدی وخت کې د انګریزانو دولت لومړی سیاسی جرګه دمستر الفنستن په مشری د پېښاور په بالاحصار کې دشاه‌شجاع حضورته ورغله چې د همدی «امین الملک» له خوانی هر کلی وسو، اوتر خبرو اتروو روسته د ۱۸۰۹ م کال دجون په اوولسمه چې د۱۲۲۴ ه ق کال ددریمی خور(جمادی الاولی)دوهمه کیدله دشاه سره یوتړون وتاړه سو. امین الملک کشمیرته ولاړ، خودسردار مدد خان سره دنظر داختلاف په سبب هلته څه کارونه کړای سو او بیرته پېښاورته راغلی.

په دی وخت کې شاه محموداو وزیرفتح خان له کابله د شاه شجاع مقابلی ته ورتلل اودشاه شجاع لښکرله جلال آباد څخه وخوځیداو د «نمله» په سیمه کې سره مخامخ سو، اوامین الملک «چې دشاه‌شجاع په‌لښکر کې و، د وزیرفتح خان په توره ووژل سو شاه شجاع پېښاورته و تښتید، په دی توګه نو دوزیرمحمداکرم خان امین

---

(۱) واقعات شاه شجاع - ۳ ۲ مخ

الملک ژوند په ۱۲۲۳ هـ ق کال پای ته ورسید، او شاه شجاع دی «نمک حلال صداقت وفدویت آهنګ بللی دی.

مأخذونه: ادنوای معارك تعلیقات—د پوهاند حبیبی لیکنه—۱۱۸ مخ
۲—تیمور شاه درانی—۵۰۲ ۱ مخ
۳—سراج التواریخ ۱، ر۵۳ رر
۴—واقعات شاه شجاع—۳۲ رر

۱۲۵۰—الایی روښانی: میرمن الایی د جلال الدین ورښانی لور، او پیرروښان نمسی، او داحدادچی د جلال الدین مشرور، شیخ عمر زوی دی ماندینه، او یوه پوهه پښتنه میرمن وه.

د هند د کورګانی حکومت د متجاوزو کسانو سره ډیری جګړی کړی وی، او وروسته تر هغه چی احداد سر سواو جګړه ختمه سوه نود هند وستان کورګانی پاچادا میرمن د هغی دورو راو نور خپلوا نو سره هندوستان ته بوتلل. وایی چی میرمن الایی وصیت کړی و، چی: «که زه سره شوم نوز ما سری تیراته یوسی اود احداد تر څنګ می ښخه کړی»

او داسی هم وسوه، هغه وخت چی میرمن الایی مړه سوددی سړی تیراته راوړه سو حالنامه لیکی چی: میرمن الایی ډیره پوهه او عالمه ښځه وه، د «خیرالبیان» او «مقصود المومنین» کتابونه یی په سعنالو ستلی وو. الایی په سخا هم مشهوره وه، او پرغریبو خلکو یی ډیره مهربانی درلوده.

وایی چی دې میرمنی د متجاوزینو سره د جګړو په وخت کی خپل میړه احداد او خپل زوی عبدالقادر ته ګټوری مشورې ورکولې، اوفکری مرسته یی ورسره کولې، ځکه نواوس دافغانستان دولت ددې په نامه د ننګرهار په ولایت کی د ښځو یوه

لیسه، نومړې دده چې د «الایي لیسه» یې بولي.

مأخذ: د ننگرهار مجله ـ ۱ گڼه

۱۳۵۱ - الپوري حافظ: د پښتو ژبې نومیالی شاعر تېر شوی دی، نوم یې «معظم» و، د سوات د غرو د کاناغر بند د درې د الپوري په کلي کې اوسېده، او داسې ښکاري چې د احمد شاه بابا معاصر او د تیمور شاه په وختو کې هم ژوندی و، ځکه چې ده پخپل دیوان کې د تیمور شاه نوم یاد کړی دی، او له اشعارو یې معلومیږي چې تر سپین ږیرتوبه ژوندی و، دی وایي:

برگ شوه سپینه توره شوه د پیرۍ خزان لغړ کړم تیر لکه بریښنا شوې د ځوانۍ اردی بهشته د حافظ د اشعارو یو مدون او مرتب دیوان شته چې لومړی ځل په (۱۳۵۲ هـ) کال کې د کاکا صاحب له زیارته خپور شوی، ورو سته بیا دوهم ځل اصلي نسخه چې پخپله د حافظ په خط وه د کاناغر بند د حاکم معین الدین خان له خوا پیدا شوه او چاپ شوه.

د حافظ د دیوان د اشعارو شمېر درې زره پنځوس ته رسېږي، او د مضامینو له مخې ده د دیوان پر پنځو برخو وېشلی شوی دی:

۱ — د توحید او رسالت برخه.

۲ — د حقیقي عشق برخه.

۳ — د اهل سلوک د نصیحت برخه.

۴ — د مجازي عشق برخه.

۵ — دعا او نصیحت برخه.

د کلام نمونه:

هغه آشناچې له ماتللې دی یارا به نه شي
که د رست جهان پرانواتي کړم پخلا به نه شي

هغه طوطي چې چغوله بچه اراو س ولي نه کا
مرګي يې سهر په خوله وواهه ګويا به نه شي

سپین نېته بازې په سنګل ماست وه تا خاپه والوت
که د رست جهان پسې پره کړم مه پیدا به نه شي

په هره شپه پسې سبا قرین پیوست را د رومي
په ماد هجر شپه را پره شوه سبا به نه شي

لعل وګوهر زر له لاسه په دریاب نې توی شو
که درست سندونه پسې وچ کړم په لاس را به نه شي

دا زه «حافظ» چې مرور له خپله یاره ګرځم
څوک چې سبق د عاشقي وايي ملا به نه شي

ماخذ: پښتانه شعرا — ۱/ ۱۳٦ مخ

۱۲۵۴-البو انورستانی: د نورستانی پهلوان وو چې تر اسلام د مخه يې د پنجشیر د خاواک د دري په خوله کې د هغه ځای د اوسېدونکو سره جګړه کړې وه او بیا يې خپله اوږده تېنګه لګوله د پنجشیر په رود کې اېښې وه، او تر هغه وې رود غورخیدلی و، چې تر هغه وروسته د هغه ځای «البواېر» وباله سو.

ماخذ: خصوصي یاد داښت.

۱۲۵۴-الف ابدال بلخی: په خوش طبعه شاعر وو، په دري ژبه يې في البدیهه شعر وونه ویل — لومړی يې په اشعارو کې «سطیعی» تخلص کاوه او وروسته في د تخلص پرځای خپل نوم «الف» په خپلو اشعارو کې یاداوه.

دی . سلطان یعقوب له مصاحبانو څخه و، دده تو کې د سلطان سره یه خپل وخت کې مشهوره وی، بیا د سلطان ترمړینې وروسته د شاه طهماسپ صفوی ندیم شو.

دا دوه بیته دده دی:

چون «الف» چیزی ندارم در جهان
تا بدست آرم تدرو خوشخرام

ای دریغا کاشکی «ب» بودمی
تا بکی در زیر من بودی مدام

مأخذونه: ۱- تحفه سامی -۱۱۱ مخ
۲- روزروشن -۶۷ «

۱۲۵۴- الف بدخشی: میرزا عارف بیگ مشهور په الف بیگ د میرزا الغ بیگ بدخشانی زوی دډیر ښه شاعر و، او دهند په عظیم آباد کې اوسېده په معقولو علومو او وروسته اوه کتابو او د شعراو انشا په فن کې ېې لوی لاس دراود، او بنه رسا طبع ېې هم درلوده.

دا بیت دده دی:

زفرق تا بقدم جاوه گر بنور الله
برنگ مردمک دیده در لباس سیاه

په شعر کې ېې «الف» تخلص کاوه.

مأخذ: سفینه خوشگو-۳/۰۰۳ مخ

۱۲۵۵- الف خان: په اصل کې پښتون و، خو په اردو ژبه ېې شعر وایه، اوده فقیری په کالپو کې به گرځیده،

دا بیت دده دی:

فصل اول (۱)

برای خداوند عالم سلطان بزرگ والنعم (۲) پوشیده نباشد (۳) که اختیار بنده آن بود بود که باقی عمر زاویه گیرد، و بدعوات خواندن مشغول گردد (۴) که دولت عالی (۵) (۵) که بر بنده رحمت فرمود، و از قبض زحمت محنت بدان بزرگی خرید، و بنده پیر وضعیف گشته است (۶) وگاه توبه، ودست از تصرف شغل دنیا بداشتن آمد (۷) اما چون فرمان عالی زاده الله علواً ونفاذاً، بر آن جملتست که ناچار بشغل وزارت قیام باید نمود، جز فرمان برداری چاره نبود (۸) وبدین خدمت مشغول خواهد گشت، آنچه حد بندگی و نیکو خواهی باشد، در این ملك بجای خواهد آورد (۹)

---

(۱) د (فصل) پرځای (المواضعه) راغلی، او دا فصلونه ټول د ستر خواجه له خوا دی

(۲) تر (ولی النعم) وروسته (اطال الله بقاه) راغلی.

(۳) د (نباشد) پرځای (نمانده است) راغلی.

(۴) د (گردد) پرځای (باشد) دی (۵) تر (عالی) وروسته (شرفها الله) راغلی.

(۶) په دوهم متن د اعبارت داسی دی: (که بر بنده رحمت کرده اند، واز چنگ سختی بدان بزرگی خلاص کرده، اما چون بنده پیر وضعیف گشته است ...)

(۷) په دوهم متن کی داسی دی: (وگاه توبه ودست کشیدن از شغل دنیا آمده)

(۸) په دوهم متن کی تر (فرمان عالی) وروسته (زاده الله علواً و نفاذاً) نسته او هم تر (فرمان برداری) وروسته د (چاره نبود) پرځای (چه چاره است) راغلی دی.

(۹) په دوهم متن کی د (در این ملك) پرځای (اندرین کار بزرگ) راغلی دی.

پهلې قدم میں عشق کې میرا تو جی گیا
مجنون به چند روز بهلا کیون کې جی گیا

ماخذ: تذکرهٔ شعرای اردو-۹ مخ

۱۲۵٦-الفت خراسانی: میر عبدالله الفت به یوولسمه پېړۍ کې د دری ژبې شاعر و، له خراسانه هندوستان ته تللی او د جعفر خان سره اوسید. دنصر آبادي دتذکرې د مؤلف معاصر و. دا بیتونه دده دي:

مخور باده بیجا بفصل بهاران
که چون خون ناقص کشیدن ندارد

طلب دوباره خوش آیند نیست از سائل
کریم اگر همه عمر دو باره میبخشد

مأخذونه: ۱- دد هخدا لغتنامه - د الف دوهمه برخه - ۵۱ مخ
۲- تذکرهٔ نصر آبادی - ۳۹۷ رر

۱۲۵۷-الفت کابلی: سید مجتبی د سیداسماعیل زوی، د میر واعظ وراره او د مور له خوا دمیر زیور (د پای منار د پاچا صاحب) لمسی دد ری ژبې نومیالی شاعر و.

د تیمور شاه د پاچهۍ په وخت کې کابل ته راغلی، په تصوف او فقه کې لوی عالم وېچی له همدې امله د امیر دوست محمد خان په وختو کې محتسب او دامیر شېرعلي خان په زمانه کې د کابل ددار القضاة د محکمې امین و، او دری اتیا کلنی وفات سوی دی.

په اشعارو کې یې «الفت» تخلص کاوه، او د «سالک کابلی» تتبع یې کړې ده - دا

غزله د ده ده:

هردلی کواثر از نالهٔ شبگیر نداشت
راه در کوچهٔ آن زلف گره گیر نداشت

کرد پرگرد جهان گرچه بسی گردیده است
نوجوانی چو تو یاد این فلک پیر نداشت

سنگ را نالهٔ جانسوز من ازجا ببرد
دل سنگین تو را قوت تاثیر نداشت

آنزمان داشتم آن آیهٔ رحمت از بر
که خط مصحف رو یت ز بر و زیر نداشت

گرچه از کلک تو «الفت» شکر ناب چکد
چون نی خامهٔ ما لب لب شکر شیر نداشت

ماخذ: یادی از رفتگان - ۱۲ مخ

۱۲۵۸-الفتی بدخشی: د دری ژبی شاعر وا و څنګه چی ښي د خپل وخت د پوهانو سره د فرعون د ایمان داثبات په باب کی مناظره کوله نو د «وکیل فرعون» په لقب ملقب او مشهور و. په ۱۰۰۷ ه ق کال کی مړ دی.

ده پر فصوص الحکم او فتوحات مکیه باندی حواشی هم لیکلی دی. دا بیت د ده دی:

گفتی وفا کنیم بیا حباب یا جفا
ای شوخ! بندهٔ سخن اولیم ما

ماخذونه: ۱- دهخدا - د الف ۲ برخه - ۳۵ مخ
۲- روز روشن - ۶۹ رر

۱۲۵۹-الفتی کابلی: نسوم بی قلیچ خان او د دری ژبی شاعر و. د

احمد شاه بابا په وختو کی یی د غـونـډه مشری منصب درلـود ، د علم او حکمت
خا وند هم و.

دا بیتونه د ده دی:

کشتهٔ آن نرگس مستم که دو عین خمار
عالمی را کشته و خودرا بخواب انداخته
نیست در دل غنچهٔ پیکان آن قاتل مرا
بی لبش خونی که خوردم شدگره در دل مرا
دو ترک مست تو آشوب عقل و دین من اند
کمان کشید ز هرگوشه در کمین من اند

مأخذ: سکینة الفضلا - ۵۲ مخ

۱۳٦۰ - الف هوتکی: ملا الف هوتک د کندهار له نومیالیو پوهانو او
د پښتو ژبی له شاعرانو څخه و، د کلات (زابل) دا نغر په سیمه کی اوسید. د هغه وخت
متداوله علوم یی له ملا محمد عظیم اخوند څخه لوستلی وو، او په (۱۱۰۰ هـ ق)
کال یی ژوند یقینی دی.

دی د خپل استاد او په علم پسی د سفرو داسی یادونه کوی:

زه غریب پردیل وطن وم	پر هغه وطن مسکن وم
په هغه ملک کی یو ملا و	ملا یـانـو کی اعلا و
عـالـی شانـه و، فهیم	نوم یـی و، محمد عظیم

ملا الف دوه کتابونه په پښتو نظم کړی دی چی دیو نوم و نصحیت نامه او د بل نوم د
بحرالایمان و بحرالایمان د کتاب اکل یی د (۱۰۹۱ هـ ق) کال د محرم د میاشتی په خلاصه

دچارشنبې په ورځ بشپړ کړی و، خود نصیحت نامې نېټه یې ښکاره نه سوه .
اوس به د ده له دې دواړو کتابو څخه د ده د کلام نمونې راوړو .

له نصیحت نامې څخه :

بل که سړی یې خوته خلق محمدی کوه تل
شیرین زبان خلاند جبین دی احمدی کوه تل
پر طبیعت د هر سړی برابری کوه تل
چې حسن خلق به دی په کار سی نمیزانه سره

***

تل پر یتیم پر کونډه ښځه شفقت لره ته
هم پر مسکین پر مسافر ومرحمت لره ته
او خپل عیال به جامه پیاوپه نعمت لره ته
غرض کړه خدای ظاهر کوه له بندګانه سره

• • •

هولټ چې له خپلو سره بدوی او وصلت نکوی
یاوی د کورشر به کور کی شفقت نکوی
یادی سلک وی د خپل کلی عدالت نکوی
نو یې عمل تول حبطه ولاړ شی له خدایه سره

له بحر الایمان څخه :

راسه واوره ای فرزنده !
تا ته وایم ارجمنده !

قدد پاک نبی پرلار سه
د نبی پر لاره ولاړ سه

یو قدم له شرعی زو یه !
بیرون مه اخاه نیکخو یه

نصیحت کو مه تا ته
مه چاره زیه خوا ته

تاته وایم زما ځان یې
لاتر ځان را باندی ګران یې

زوږ پلاریو وو عمد مه
د غمه یسو با با آدمه

نور په حمحبله جدا یو
چی جدا پر بله خوا یو

مجلس ګړه د صالحینو
ناستی مه کړه د بې دینو

هر مجلس لری اثر دی
په حدیث کې دی باور دی

ماخذ: پښتانه شعرا – ۱ ر ۷۳ مخ

۱۳۶۱- الله داد: د پښتو ژبی شاعر و ، چی مستر راورتی یې د قاسم علی اپریدی د قصیدی په حواله د ده یادونه کړې ده .

مأخذ: ګلشن روه –

۱۳۶۲- الهدادخان لودی: الهدادخان د محمد نورخان زوی لوسری د انګریز حکومت له خوا اعلی ګړه ، کی مامور و ، د حاجی انګریزانو د ستلج د سیند د را په
دی خوار یاستو (لکه د پټیالی او نابهه ریاست) سره د سرحد اتو د تما کلمو د پاره یو جرګه

وګمارله الهداد خان هم په هغه جرګه کې و، او دنابهه د رياست بوی علاقی «اسلوه» ته ولاړ — په هغه وخت کې دنابهه رياست د مهاراجه جسونت سنګه د مېځې (راني چاند کور) ترسرپرستۍ لاندې و، ځکه چې «مهاراجا بهر پور سنګهه» لمسی ئې لا کمکی و .

«راني چاند کور» چې د الهداد خان لياقت وليدی نو ئې د «اسلوه» تحصيلدار وټاکه څو ورځې وروسته د «اسلوه» تهانه دار سو. په ۱۲۷۴هـ — ۱۸۵۷م کال کې چې دانګرېزانو پرضد د هند مسلمانانو او هندوانو راپاڅېدل او اوله ګوله ئې جوړه کړه ، انګرېزانو دلوديانې د سيمې انتظام د نابهه د رياست زلمي مهاراجا «بهرپور سنګه» ته وسپاره ، «مهاراجا بهر پور سنګه» چې کوم پوځ د لوديانې ساتنې لره وګماره ، الهداد خان د هغه پوځ مشر و ، هلته ئې په يوه جګړه کې ملي ياغيانو ته ماتې ور کړه او د غه غير قومي خدمت په بدله کې د نابهه د رياست جوړ پشل حاکم (د عدالتي محکمې مشر) مقرر کړه سو بيا د مهاراجا د خاصې عدالتي محکمې مشر منشي وټاکل سو ، څو چې په ۱۲۸۰هـ — ۱۸۶۳م کال مړ سو ، او دا درې زامن ئې پاته سول :

۱ — محمد اوصاف علي خان — چې د نابهه د رياست جوړ پشل حاکم و .

۲ — محمد منور علي خان — چې د پلار پر ځای د مهاراجا د خاصې عدالتي محکمې مير منشي مقرر سو .

۳ — محمد عبدالحکيم خان .

ماخذ: لودي پښتانه — د استاد رشاد ليکنه — ۳۰۴ مخ .

۱۳۶۳ — الهداد لودی (ملك): ملك الهداد لودی په هند کې د لوديانو له نوميالیو اسراؤ څخه و . په ۸۳۶ هـ کال چې د خضر خان زوی سلطان مبارکشاه له ډهلي څخه «پرسيوات» برید وکی دلاهور او جالندهر حکومت ئې هم له نصرت خانه څخه واخيست او ملك الهداد لودي ته ئې وسپاره ، ملك الهداد په لاهور

کښېنوست او جالندهر لا د نصرت خان په لاس کې و، چې مبارکشاه پاچا د پټهر،
هندي له کلا څخه چې د شیخا ګکهر کشر ورور «یاغي جسرت ګکهر» د شاهي پوځو
له بېرې په تښتېدلی و، د میوات خواته له لښکر وسره مخ ونیو، جسرت له کلا راووت او
جالندهر یې له نصرت خانه څخه ونیوا و د یوه لوی لښکر سره یې لاهور ته
مخه وکړه، پر ملک الهداد لودي یې هم بری ومونده. ملک الهداد چې دهلي ته راغلی
د مبارکشاه له خوا د «سنبهل» واک ور وسپارل شو.

په ۸۳۷ ه کال د رجب په میاشت چې مبارکشاه د ملک سرور الملک له خوا
شهید او وراره یې «محمد شاه» پر ځای کښېنول شو، ملک الهداد د سنبهل او د هار
حاکم و، او د بداون حاکم ملک چمن او ګجراتي امیر علي ور ته پورته شول، او
د محمد شاه وزیر «ملک سرور الملک» د کمال الملک په مشرۍ یو درونده پوځ د ملک
الهداد د جنګ له ره چې په دهار کې و، وګماره او خپل زوی خان اعظم سید خان او
سدارن یې هم ورسره کړل، دا پوځ چې له دهلي څخه «برن» ته ورسید د لښکر
مشر کمال الملک (چې د مبارکشاه د وژلو له امله، ملک سرور الملک ته ښورېدن
پروت و، او موقع یې پلټله) د سرور الملک د زوی او سدارن د وژلو په فکر کې شو.
ملک الهداد ته چې د کمال الملک فکر څرګند و، له خدایه وغوښتل او کرار په
دهار کې ناست و، مګر سرور الملک چې د کمال الملک په دغه تکل (عزم)
خبر شو خپل خاص مربي «ملک هښیار» یې له یوه غښتلي پوځ سره په ښکاره د کمال
الملک مرستې او په پټه د خپل زوی او سدارن ساتنې ته ور ولېږه په دغه ترڅ کې
د بداون حاکم «ملک چمن» هم دهار ته ورغلی، ملک هښیار، سدارن او د
سرور الملک زوی د شپې له مخې دهلي ته وتښتېدل. کمال الملک چې خپل
چاپېر له غلیمانو تش ولید ملک الهداد لودي، ملک چمن او نور امیران یې پر ځان
را غونډ کړل او د روژې په اوومه ورځ یې د یوه درانه لښکر سره د دهلي

ته مخ ونیو، سرور الملک د ډهلي د «سیري»
په کلا کې کلابند سو، کلابندي درې میاشتې پسې اوږده سوه، ورځ په ورځ د
کمال الملک ملګري ډېر بدل؛ څو په پای کې محمد شاه پاچا (چې د سرور الملک
سره کلابند و) پخپله پر سرور الملک راوغورځېد او د ۸۳۸ ه کال د محرمې پر اتمه
ئې سرور الملک وواژه او کمال الملک ته ئې د «سري» د کلا د اوښ وره پرانیستې،
د کمال الملک لښکري په کلا ور ننوتلې او سبائې د محمد شاه سره بیعت وکې،
کمال الملک د کمال خان په نامه وزارت الملک چمن د «غازي ملک» خطاب
و موند، ملک الهداد لودي (چې دغه تحریک لوېری سری و) د خان دپاره هیڅ
خطاب ونه مانه او د ډېر زور دپاره ئې د «دریا خان» لقب قبول کې.

مأخذ: لودي پښتانه - د استاد رشاد لیکنه - ۳٦ مخ.

۱۳٦۴ - الله یار اپردی: د پښتو ژبې شاعر و، او د «ږوب» د «بوري»
په سیمه کې اوسېده. په (۱۱۰۱ ه ق) کال زېږېدلی او تر (۱۱۴۱ ه ق) کال له
پورې ژوندی و.

د پښتو اشعارو ئې بو دیوان درلود چې دوه بیتونه ئې دا دي:

چې ستا په غم کې په دیوان یم را بهر به نشم
د بېلتون اوښې تویومه بې پرهر به نشم

رب دې لتاړ د عشق په غم کړه چې زما حال وويني
شنډه بې بره و نه عشق دې هیڅ په بر به نشم

په در دې پروت یم د ګدا په څېر نظر نکوې
که سر مې غم بې نیازه یاره ستا نظر به نشم

اور دې د مینې راته بل کا سېځې ورېت دې کړمه
ستا د وصال په اوبو سوړ سوې ځيګر به نشم

که جفا کاندي که وفا پروت دی وورەته یمه
ستا له د لیاره به سخ نکړم ، په بل ور به نشم
«اللهیار» ولاړ دی په دلیار نظر دی غواړی لیلی
که می هر څو ر تیپ شپې زه پر حذ ر به نشم

مأ خذ: پټه خزانه - ۱۳۳ مخ

۱۲۶۵ - الله یار خان ایشک آقاسی باشی : داحمد شاه بابا په دیوان اعلی کې ئې دا یشک آقاسی باشی منصب در لود ، اود هندوستان په غزاګانو او زیاترو نورو سفرو کې داحمد شاه باباسره ملګری و، اود پانی پت په جګړه کې ئې دوزیر شاه ولی خان او سردار خانجان خان او نورو پښتنو مشرانو سره اوږخ- پر اوږخ برخه اخیستی وه، چې محمود الحسینی د احمد شاه بابا د دربار منشی ئې پخپل کتاب کې هغه وخت چې دی دحافظ رحمت خان او نورو روهیله جنګیا لیو سرمشی او ملا ترته ورغلی داسی یادوی :

« الله یار خان ایشک اقاسی باشی دیوان اعلی که با عمله دردولتخانه بسمت میمنه بمحاربه قیام داشت از مشاهدهٔ صورت این حال نظر بتائید قادر ذوالجلال واقبال خدیو بیهمال نموده حرب کنان از پشت سر مخالفان ادبار نشان در آمده انبوه شقاوت پژوه آنها را میان بر کرده مثل برق خاطف که از میان ابر تیره درخشد ظلمات هجوم آن سیه روزان را از هم شګافته با رقه افروز تیغ آتش بار ګردید و دلهای مشوش سرداران روهیله از یمن اعانت خان مذکور بمقام اطمینان آمده استقامت ګزیدند »

ماخذ: تاریخ احمد شاهی - ۲ / ۹۹۱ مخ

۱۲۶۶ - الله یار خان توخی : داحمد شاه بابا په وختو کی په ایران کی داحمد شاه بابا دوراره «لقمان خان» دذوالفقار خان د زوی سره او سید ، هغه

وخت چې لقمان خان کندهار ته راغی دی هم ورسره راغی، خود خپل ورور «اشرف خان توخی» په لمسون ئې داحمد شاه بابا مخالفت ته ملاوتړله چې احمد شاه بابا مجبور سو دی دخپل عمل په سزا ورساوه (د «اشرف خان توخی» نامه ته دی رجوع وسی)

مأخذ: تاریخ احمد شاهی — ۱/۹۰-۲۱۲، ۲۱۲ مخونه

۱۲۶۷- الله یار خان داروغه: د احمد شاه بابا)ه و ختو کی ئې د صند و قخانې دداروغه منصب درلود او د هند وستان په غزاگانو داحمدشاه بابا سره تللی و، او په ۱۱۷۱ ه ق کال چې احمد شاه بابا د لاهور حکومت خپل زوی شهزاده تیمور ته وسپاره نو دالله یارخان هم د سردار خانجان خان په لښکر کی دشهزاده تیمور سره پاته سو، او په همهغه کال دمحمد دینو سره په یوه جگړه کی شهید سو.

مأخذ : تاریخ احمدشاهی-۲/۷۳۸ مخ

۱۲۶۸-الله یار خان غلجی: دنادر شاه افشار دلښکر لهمشرانو څخه و، چې دنادرقزلباش ورسته دابراهیم شاه سره یو ځای سو، اوپه پای کی ددرانی بلچا په امر په کندهار کی ووژل سو.

مأخذونه: ۱- مجمل التواریخ گلستانه — ۳۳مخ

۲ — دهخدا ـ دالف ۲ برخه ـ ۸۵۰ رر

۱۲۶۹-الله یار (ملا) الکوزی: ملا الله یار په ختیځ الکوزی د کندهار په جلدک کی اوسید او دپښتو ژبی لیکوال او یو عابد او عالم سړی و. دی د «شیخ صالح» شاگرد او مریدو، نودخپل شیخ او استاد په نامه یې یو کتاب کښلی و، چې «تحفهٔ صالح» نومید، اوپه هغه کی یې د خپل شیخ شعرونه او دژوند پیښی را غونډی کړی وې.

مأخذ: پټه خزانه - ۹۹مخ

و بنده نوازی مجلس عالی ، که اسباب تسکین ساخته است، واگر در بعضی از اشغال دیوانی تقصیری رود و بنده (را) اندرآن قصدی نباشد عتابی نرود (۱)

جواب(۲)

ما خواجهٔ فاضل را(۳) نه امروز می‌شناسیم ، که روزگار دراز است که وی را می‌بینیم ،و سیرت نیکوی وی درمنزلتی که بدان موسوم بوده ‌میدا نیم ، وحقهای وی برین دولت پوشیده نیست ، دل را بچنین ابواب مشغول نبایه داشت ، و در تمشیت امور وزارت جهد خویش می باید کرد، درجمله وتفصیل ازوی جزامانت و مناصحت متوقع نیست و بهیچ حال ما را باوی عتابی نباشد، وانکاری نرود در کاری که وی را درآن تقصیری نبود، والسلام (۴)

---

(۱) په‌د هم متن کی‌دا عبارت داسی دی: «که اگر تقصیری رود دربعضی از کارها که‌ویرا اندر آن گناهی نباشد باوی عتاب نرود»

(۲) ټول جوابونه د سلطان مسعود له‌خوا دده پخپل خط‌دی.

(۳) په‌دوهم متن کی تر «فاضل را» وروسته‌داعبارت راغلی‌دی: «ادام الله تائیده»

(۴) په‌دوهم متن کی‌داسی دی: « وآنچه جهدست می‌باید کرد، که ویرا جزامانت و مناصحت نیامده است وبه هیچ وقت وهیچ حال ماباوی عتاب نفرمائیم بکاری که وی را اندر آن میلی نیست »

۱۲۸۰- الهی کندهاری: دگورگانی بابرشاه په وختو کی د دری ژبی شاعرو. دا بیت د ده دی.

ماه عید ابرو نمود وخا طرم راشاد کرد
شکرلله کز غم سی روزه ام آزاد کرد

د اشعارو دیوان ئی هم درلود.

مأخذونه: ۱-روز روشن -۶۶مخ
۲- د هخدا- ۲ برخه -۱۱۸ رر

۱۲۸۱- الیاس تلی بلخی: دمحمد تلی زوی دخپل وخت نومیالی عالمو، او دبلخ په «تل» نومی ځای کی اوسیده.

مأخذ: معجم البلدان - ۲/۳. ۳مخ

۱۲۸۲- امام ابن حنبل خراسانی: ابوعبدالله احمد دمحمد زوی د حنبل نمسی دحنبلی مذهب امام او دولهخورو اساتو څخه و. پلار یې په خراسان کی دسرخس والی و،خودی پخپله په(۱۶۴ ه) کال په بغداد کی زیږیدلی، او په (۲۴۱ ه) کال کی مړ دی.

ده دعلومو په زده کړه پسی ډیر سفرونه کوفې، بصري، مکې، مدینې، یمن، شام، المغرب، الجزائر، عراقین، فارس، جبال او خراسان ته کړی دی.

په ونه جګ، غنم رنګه ښکلی سړی و. سپین کالی یې اغوستل، سراو ږیره یې په نکریځو رنګول. ډیر کتابونه یې تصنیف کړی دی چی مشهوره یې دادی:

۱- المسند: دا دده ډیر مشهور کتاب شپېرتوګه دی چی دیرش زره حدیث پکښې را غونډ کړه سوی دی.

۲-الناسخ و المنسوخ

۳-الرد علی من ادعی التناقض فی القرآن.

۴-التفسیر.

۵- فضائل الصحابة .

۶- المناسك .

۷- الزهد .

۸- الاشربة .

۹- المسائل .

۱۰- علل الحديث .

د بغداد د «المعتصم» «خليفه قرآن ته د خلق نه ویلو په جرم» امام ابن حنبل اتلس میاشتی بندی کی — په (۲۲۳ ه ق) له بنده خلاص سو، او دواثق بالله په وخت کی هیڅ ضرور پیښ نه سو، او هم د واثق تر مړینی وروسته د جعفر والمتوکل ابن المعتصم په وختو کی امام ابن حنبل ته په درنه سترگه و کتل سوه، هیڅ کار دده بې مشورې نه کیده او به همغه عزت کی وفات سو .

دده د سیرت په باب کی دا دوه کتابونه مشهور دی یو « مناقب الامام احمد» چی ابن الجوزي لیکلی او بل «ابن حنبل» چی د محمد ابی زهره تالیف دی.

مأخذونه: ۱- الاعلام — د زرکلی ۱/۱۹۲ مخ.

۲- صفته الصفوة - ۲/۱۹۰ مخ

۳- ابن خلکان - ۱/۷ «

۴- تاریخ بغداد - ۴/۴۱۲ «

۵- البدایه والنهایه - ۱/۳۲۵ «

۶- ابن عساکر - ۲/۲۸ «

۱۲۸۳- امام الدین: د پښتو ژبی قصه ویونکی شاعر، چی تر (۱۲۰۰ ه) کال وروسته ژوندی و، او د «جمجمه» په نامه یې یوه قصه په نظم کړې ده، او نظم یې سلیس مثنوي دی .

دده ددې قصې یاد ونه دمستر راورټی دپښتو ګرامر پهمقدمه کېسوې دی.
دا قصه یواساطیری رنګ لری، چې یوه ښځه سړی یوځای یوه د سر کوړی
ولیدله اودهغې سړهبې خبری وکړې ، په دې بیتو کی دهغی کوړی حال داسی
ښیی :

هغه ځای یو استخوان و	ګوره پروت د کوم زمان و
رژیدلی و کهتسه و	د کوم عصر د یرینه و

بیا هغه کوړی د خپلو اعمالو نتایج ترمړینی وروسته په دوږخ کی داسی
بیانوی:

زما واره اند اسونه	بې داور په زنځیر ونه
سره وترل بسته شوم	پهداغم کیخوارخستهشوم
دا عذاب په مادرازشو	نن ترغوږمی یوآ وازشو
وېې ځه د دنیا سدایته	بیا بې بوتم هغه ځای ته

مأخذ: پښتانهشعرا - ۲/۳۹۶ مخ

۱۲۸۴ - امام الدین (شیخ) : شیخ امامالدینمحمد عنایتالله د شیخ
کبیر بالا پیرزوی اودشیخ قاسم نمسی و. د (۱۰۲۰ ه ق) کالدمحرم په میاشت
دپېښاور په«بډنی» کی وزیږیداود(۱۰۶۰ ه ق کال دمحرم په۲۳ د چارشنبی په
ماښام مړسوی دی ، دمو ږ دوم بی « تاج بی بی» دسلکه دروېز لوروه شیخ امام
الدین دخپل وقتنولیا لی عالم او روحانی سړی ، او برسیره پرهغه مورخ هم و.
یو کتاب بید«تاریخ افغانی»په نامه پهدری ژبه لیکلی دیچی په هغه کی
ــبی دپښتنو تاریخ او تاریخی پیښی راوړی دی.

ماخذ : کابل کالنی ۲/د ۱۳۲۲ هش کال

۱۲۸۵ - امام وردی بیګ خراسانی : ددریژبیشاعرو،لهخراسانه

هندوستان ته تللی او هلته بی وده موندلی او په زلمیتوب کی مړ دی.

دمرآة الخیال دتذکری خاوند لیکی: «امام وردی بیگ منتخب اهل روزگار وسا ده گوبود» دامطلع دده دی:

دودل کرده غباردل افلاك مرا

این چه گرداست که برخاسته از خاك مرا

مأخذونه: ۱-مرآة الخیال-م ۲۲ مخ

۲-لغتنامه-الف ۲ برخه-۱۴۵ رر

۱۲۸۶-امام یزید: دکندهاردند دولسوالی جنوبی خواته د«ولکان» په کلی کی ښخ دی، دی دخپل وخت له نومیالیو رو ها نیونو څخه و.

دده پلار امام یحیی نومید چی دجوزجان په سرپل کی ښخ دی او دشهادت علت -یی دامویانو او عباسیانو اختلاف کڼلی سوی دی.

وایی هغه وخت چی امام یحیی شهید سو دده سر یی په نیزه پیلی ښار په ښار گرزاوه څوچی تالقان ته ورسید او دهغه ځای حاکم هغه سر په دیر احترام دامسیندته نژدي ښخ کی، چی اوس په حضرت امام مشهور دی.

امام یزید دهمهغه امام یحیی زوی دی چی اخون زاده عبد الحسین «خادم» دکندهار بودري ژبی شاعرد اسی ستایلی دی:

نورچشم مصطفی چشم وچراغ عالمین زیدبن یحیی بن زیدبن علی ابن الحسین

مأخذ: دکندهار مشاهیر-۱۱۲ مخ دښاغلی زلمی لیکنه

۱۲۸۷-امامی خراسانی: قاضی محمد امامی په نهمه هجری پیړی کی ددري ژبی شاعراو دخراسان قاضی القضاة.

په مجالس النفایس کی واغلی دی چی: امامی پوستدین او خوش طبع سړی و دامطلع دده دي:

گفتمش گل گل برآمد رنگ رخسارت زسل
غنچه او در تبسم شد که ازگلها چه گل

د(۸۳۸ هـ) کال د کوچنی اختر په سباشت دوباپه تارو ځی سر سو.

مأخذونه:

۱-د مجالس النفایس ترجمه—۱۴ مخ
۲-لغتنامه—دالف ۲ برخه—۱۴۶ رر

۱۲۸۸-امامي هروي: ابو عبدالله محمد دابي بکر زوی، د عثمان نمسی داووې هجري پېړۍ دلوړې نیمایي له نومیالیو شاعرانو څخه و ، او دخپل وخت ددري ژبې شاعرانو او استادانو په درنه سترگه ورته کتل .

دده شعر زیاتره دشپږ مې هجري پېړۍ دشاعرانو پر ډول و، او دهغو په څېر زبر دست ستاینډوی (مداح) او هم خوږ ژبی غزل ویونکی دی. دعرفان چاشنی یې په شعر کې سته ، اوده داشعارو د دیوان دبېتو شمېر دوو زروته رسېږي .

دده ډېره ښه ستاینه دده معاصر شاعر مجدالدین همگر په یوه څلوریزه کې کړې ده چې هغه څلوریزه یې دهغې منظومې پوښتنې په ځواب کې ویلې وه چې دمعین الدین پروانه او ملک افتخار الدین او نورالدین صدري او دشمس الدین ددیوان خاوند ده ته وړلېږلې وه ، اود سعدي او امامي اوده دخپلو شعري فضایلو په باب یې د ده رایه غوښتلې وه :

دمجد همگر څلوریزه داده :

ما گرچه بنطق طوطی خوش نفسیم
بر شکر گفته های سعدی مگسیم

در شیوهٔ شاعری با جماع امم
هرگز من وسعدی با مامی نرسیم

امامی بیا په جواب کی داغلوریزه ورلیږلې وه:

درصدر بلاغت ارچه با دستر سم
در عالم نظم ارچه سبوحا نفسم

دانم که بخاك درد ستو رجهان
سحبان زمانه مجد همگر نرسم

خو سعدی خپله خو اشیني په یوه غلوریزه کی داسی څرګنده کړې وه:

هر کس که بپا یگاه سامی نرسد
از بخت بد و سپا هکا سی نرسد

همگر که بعمر خود نکردم است نماز
آری چه عجب گر به اما سی نرسد

خود آتشکدهٔ آذر د تذکری لیکو نکی:

«آنچه مجد همگر درخصوص او (اما سی) و شیخ سعدی اعتقا د داشته با اعتقا د فقیر از برای او (امامی) زیاد است» ده په هرات کی ودم موندلی ده، او په اصفهان کی مړ دی، خو د مړینی په نیټه کی بې اختلاف دی: په مجمع الفصحا کی (۶۷۶هـ) او په قاموس الاعلام ـ ترکی کی (۶۸۰هـ) او د دکتر صفا په گنج سخن کی (۶۶۷هـ) کا ل لیکلی سوی دی.

دا غزله دده ده:

زدل بگذر، کرا پروای جا نست؟
حدیث دل حدیث کود کا نست

نشان دل چه می پرسی که از جان
درین ره یاد کردن بیم جا نست

مرا وقتی دلی بودی و عمر یست
که آن مانند دلبر بی نشا نست

چو با جانان و دلبر درشهو دم
دلم جانان و جانم دلستا نست

چنان مستغرقم زانفاس لطفش
که گویی آب ترکیبم روانست

چنان در حیرتم زا سرار عیشق
که گویی آشکارم در نها نست

نفس در کشف این اسرار شرکست
یقین در کوی این مذهب گما نست

با وگر هیچت ا یما نست خود را
زره بر گیر و بنگر کو عیا نست

مر اوقتی که در خود نیست گردم
ببین گر دیدهٔ داری که آنست

عبارت راخبر زین ما جرا نیست
«امامی» کا فرست ار در میا نست

اوداحکیمانه اشعار هم دده دی:

سحرگه در جهان جان، بعون مبدع اشیاء
مسافت قطع میکردم زلا تا حضرت الا

کواکب را چنان دیدم روان بر صفحه گردون
که از سیماب گویی چند در میدانی ازمینا

یکی چون کاسهٔ سیمین میان نیلگون وادی
یکی چون زورق زرین درون نیلگون دریا

یکی چون لعل فام آتش، ولی در آبگون مجمر
یکی چون زمردین ساغر، ولی پر ز آتشین صهبا

از ایشان چون گذر کردم بمعنی عالمی دیدم
که اجرام سماوی را مدبر بود زاستیلا

بساطش بی زمین خرم فضایش بی هوا دلکش
از اوهم بی خبر واقف از وهم بی صور زیبا

ورای آنجهان دیگر سپهری نامور دیدم
که بودی آفرینش را فرود قدر او ساوا

بقوت آخرین بجوهر اولین قوت
ببرهان علت معنی بمعنی علت اسما

باو قائم همه اعراض واو در معرض عرفان
همه محتاج عون او واو در عین استغنا

از آنجا چون گذر کردم زحیرت وادئی دیدم
زوال عقل را مولد کمال عشق را انشا

داغ لوریزی هم درده دی:
هرگه که دل خسته در آن می کوشد
کز ساغر غم می دو اعلت نوشد

عناب لبت مردمک چشم مرا
گوید: مگرت هنوز خون می جوشد

ای مطلع خورشید ز ه پیر هنت
شب د رشکن طرهٔ عنبر شکنت

گفتی شب هجر تو کنم رو ز وصا ل
دیدی که چو صبح اول آمد سخنت

ماخذونه: ۱-گنج سخن- ۲/۱۱۴مخ
۲-لغتنامه -دالف ۲بر خه- ۱۳۸ »
۳-مجمع الفصحا-دبرین چاپ -۱/ ۹۸ »
۴-آتشکده آذر-دشهیدی چاپ- ۱۵۱/۱ »
۵-تاریخ ادبی ادواردبرون
دعلی اصغر حکمت ترجمه- ۱۳۸ مخ
۶-مرآة الخیال -۵۴ »
۷-تذکر دو تشا هی - ۷۵ مخ

۱۲۸۹ - امان الله خان غازی (۱)

اعلیحضرت غازی امان الله خان دامیرحبیب الله خان زوی ودافغانستان یو و بیلی اوترقی غوښتونکی زلمی پاچا و چی د(۱۳۰۹ ه ق-۱۲۷۰ ه ش -۱۸۹۱م) کال

---

(۱) څنگه چی دغازی امان الله خان د ژوند د پیښو او دده د مترقی کار نامو مفصل حالات دیوبیل مستقل کتاب لیکل ایجابوی چی د دی کتاب مولف دهغه کتاب دپاره داپښتونو په راغونډولو بوخت دی، نوځکه دلته د دی د پاره چی دا کتاب هم دده له نامه څخه بی برخی پاته نه سی یوا زی د هغی لیکنی په راوړلوا کتفا وسوه چی د پښتو دائرة المعارف په څلور م ټوك کی چاپ او خپر ه سوی ده او مفصل حا لا ت یی هغه مستقل کتاب ته پر یږ د و .

دذ يقيدي دمياشتي په پنځمه او د دلوپه ۳ ۱ اودفبروري په د جمعه نيټه د پنجشنبې په ورځ په لغمان کې دزرګردري ته نژدې زيږيدلی، اود (۱۳۸۰ ه ق = ۱۳۳۹ ه ش – ۱۹۶۰ م) کال د ثور په ۵ او د اپريل په ۲۰ نېټه دد و شنبې په ورځ د «زوريخ» په ښار کې مړ، او سړی يې د افغانستان د ننګرهار ولايت په مرکز جلال آباد کې د پلار تر څنګه ښخ دی.

د پښتو آريانا دائرة المعارف په څلرم ټوك کې د ده تر نامه لاندی داسې ليکلي سوي دي. «له کوچنيوالي څخه د کابل په رسمي ښوونځی کې او هم له خپلو شخصي استاذانو څخه يې مروجه علوم زده کړل اوددغي روزنې او زده کړې په موده کې د تنوراو عالي افکار خاوند سو.

هغه وخت چې د امان الله خان پلار امير حبيب الله خان په (۱۲۹۷ ه ش – ۱۹۱۹ م) کال د ننګرهار د لغمان په «کله ګوش» کې ووژل سو، نو د هغه ورو رسردار نصرالله خان چې په جلال آباد کې و، د پادشاهي اعلان وکړ. امان الله خا ن چې د خپل پلار له خوا په کابل کې نا يب الحکومه و، د سردار نصر الله خان پادشاهي يې ونه منله او ده هم په کابل کې خا ن پاچا کې، خو سردارنصرالله خان چې له نفاق او کورينو جګړو څخه اندېښمن و، نو د ستی يې له سلطنت څخه لاس واخيست، تخت او تاج يې خپل وراره امان الله خان ته وسپارل.

اعلحيضرت امان الله خان د خپلې پاچاهي په ابتدا کې په ډېره بېړه له انګريزانو څخه د هيواد خپلواکي واخيستله، او د ديموکراسي ترينسټ اېښوولو وروسته يې د ملت او مملکت د چټک پرمختګ دپاره په اجتماعي اصلاحاتو اوتجدد پيل وکړ، او د ډېرښوونځي يې تاسيس کړل.

د پوهنې او معارف د پيشرفت سره يې داسې سينه د رلوداله چې دلويانو په کورس کې يې پخپله د يو معلم په حيث درس ورکاوه.

(فصل دوم)

برأی عالی پوشیده نباشد، که وزیرخلیفت (۱) پادشاه باشد،و هر چندفرمان دهنده خداوند جهانست؛ اما کارهاباشد، اندرین کەوزیر را بمحل آن دانند، که بی استطلاع رأی اندران مهم ایستادگی نماید، وصلاح دولت نگاه داردو چیزهای دیگراست که برأی عالی پوشیده دارند ودر پوشیدەداشتن آن فساد بزرگ باشد؛ وبه بنده واجب باشد باز نمودن و کشف حالات کردن،وایمن نیست ؛ کەحاسدان‌ودشمنان‌درتفسیر صورت بنده کوشند. اندرین هردو حال اگر رأی عالی بیند، برآنچەاصحاب غرض نمایند اعتماد نفرمایند (۲)

---

(۱) په دوهم متن کی د «خلیفت » پرځای «ضجیت » راغلی .

(۲) په دوهم متن کی دا فصل ددیرتوپیرلری‌نوځکه‌ئې بشپړ رانقلوواوهغه‌داسی‌دی:» (دبرأی‌عالی زادها الله‌علوا پوشیده‌نیست که‌وزیر ضجیت پادشاه است و ویرا در همه کارها مثال ناچار بایدداد خداوندعالم ادام الله‌سلطانه‌سلک و فرمانده‌است، اما چیزها باشد که‌مگر آنرا برأی عالی پوشیده نکنندوبنده بهیچ حال خیانت‌نتواند کرد ، ناچار آنرا باز بایدنمود و حاسدان ودشمنان بنده صورتی نگارند که بندەبرأی‌عالی‌اعتراض می کنند ویدان بازاری جویند و حیلتی سازند ، د رتغیرصورت باید که بنده از این ایمن باشد و مقرر گردد که آنچه باز نماید از چنین ابواب صلاح اندرا نست »

ده د ښار د صحي اصلاحاتو په غرض د کابل د ښار د نماینده په څېر د ښاروالۍ په مجالسو کښې شخصاً ګډون کاوه، او کوشش یې کاوه چې د مرضونو د شیوع مخه د صحي اصلاحاتو په واسطه ونیسي، او د کابل د ښار د پراختیا چارې یې هم په نظر کې نیولې وې.

ددغه اعلیحضرت په عصر کې د اقتصادي چارو د ښه سمښتګ د پاره هم جدي اقدامات وشول - په دارالامان کې د اورلګیت جوړولو یوه فابریکه چالانه شوه، او په جلال آباد کې د بورې د فابریکې سرشته کېدله، او د کابل له ښاره تر دارالامان پورې د وسپنې پټلۍ وغځوله شوله، او ترېنې ورباندې تګ او راتګ کاوه، او هم د مریانو (غلامانو) د پلورلو د منع قانون ترتیب شو، او د جرایدو خپرونې زیاتې او د هیواد ټولې چارې سم په اصلاح روانې او نوې نظامنامې جوړې شوې.

همدارنګه ستاینلي شوي اعلیحضرت د ملي ژبې پښتو سره هم علاقه درلودله، او همدا وجه وه چې پښتو ژبه یې د معارف په پروګرام کې شامله کړه، او د هیواد له ادیبانو او فاضلانو څخه یې د «پښتو مرکه» په نامه یو مجلس جوړ کړ، چې د هرې سیمې یو نماینده پکښې و، دې مرکې د پښتو ژبې په خدمت کې، ډېره ښه برخه واخیستله، د پښتو قواعد یې ولیکل، لغات یې راټول کړل، نوي نوي نوښتونه یې کښېښوول، او «پښتو پښتویه»، یوالحني پښتو» او دلغاتو یو وړوکی کتاب هم په دغه وخت کې خپاره شول ده په وخت کې د «طلوع افغان» اخبار په کندهار او د «اتحاد مشرقي» اخبار په جلال آباد کې جاري شول چې د پښتو مضامین به پکښې نشرېدل.

اعلیحضرت امان الله خان لس کاله پادشاهي وکړله، او دده د سلطنت د جریاناتو خپرول ځانته یو کتاب ایجابوي، خو لنډه یې دا چې دده دوره یوه د نهضت دوره ګڼله کېږي.

څه رنګه چې د اعلیحضرت امان الله خان انکشافي پلانونه د خارجي استعمار او داخلي مرتجعینو او نارسا وګړو له خوا ونه زغمل شو، نو ددغو عناصرو له لاسون

او گډون د (۱۳۰۷ هـ ش) کال د میزان په میاشت کې د ده پر ضد اله گوله او اغتشاش پېښ او په پای کې دی خلع شو، او ایتالیا ته ولاړ، هورې ته میشت، او تر ډېرو کالو وروسته د (۱۳۳۹ هـ ش-۱۹۶۰م) کال د ثورپه میاشت د اپریل پر ۲۵ د دوشنبې په ورځ په «زوریخ» کې وفات سو، او مړی یې افغانستان ته راوړل شو او په جلال آباد کې د خپل امیر حبیب الله تر څنګ خاوروته وسپارل سو»

مأخذ: د پښتو آریانا دائرة المعارف-۳ ټوک

۱۲۹۰-امانت ملیار: د پښتو ژبې شاعر و، او د یوسفزو په «منیا» نومې کلي کې اوسېد، په ولسي اوزانو یې شعرونه ویل د ښې قریحې خاوند و او دېوې چاربیتی یو بندیې دادی:

سا په ریبارو که اتبار څکه مې ځان ونه لید　　شیرین صورت مې د ګلرنګې یو زمان ونه لید
شینکی خال مې الوول په زنخدان و نه لید　　د کړېدو مې سر بکار ژوند مې ځان ونه لید

زړه مې بند شوی نن له هغې توری بلا څخه دی.

مأخذ: پښتانه شعرا-۲/۵۳۷ مخ

۱۲۹۱-امان ګجراتی: د پښتو ژبې شاعر و، او د پېښور په شاو خوا کې اوسېد، د «مقتول جفا» افسانه یې چې په اور دو ژبه لیکلې وه په پښتو ژبه په نظم د «افسانهٔ غم آلوده» په نامه اړولې ده. د شعر نمونه یې په لاس رانغله.

مأخذونه: پښتانه شعرا-۳/۹۰۲ مخ

۲- پښتونستان-۳۸۷ ر

۱۲۹۲-امان هروی: ملا امان الله د دری ژبې شاعر اصلاد قهستان و، خو په هرات کې اوسېد.

په لطیفه شعری طبعه یې درلودله او په اشعارو کې یې «امان» تخلص کاوه. په پرهیز ګاره او متقی سړی هم و.

دا بیت دده دی:

روز در فکرم که شب دل بیتو خون خواهد شدن

شب درین اندیشه ام تا روز چون خواهد شدن

مأخذونه: ۱-روز روشن - ۷۰ مخ

۲- تذکرهٔ حسینی - ۴۰ رر

۳- مجالس النفائس - ۱۴۹ رر

۱۲۹۳-امانی افغان: میرزا امان‌الله خان دمهتاب خان زوی په هند کی د شاجهان پاچا له پښتنو امیرانو څخه و - او په دری ژبه یې اشعار هم ویل او په اشعارو کی یې «امانی» تخلص کاوه، شعریې له لطیفه خالی نه دی .

پلاریې سپهسالار او دی څخپله د بنگالې د صوبې حکمران و.

دابیتونه دده دی:

بر دور جام ما بنویسند نام ما

تا نام ما بدور بماند ز جام ما

دوران اگر بکام نگردید گو مگرد

این بس که دور جام بگردد بکام ما

●●●●●

هر نفس از گریه می شویم دل افسرده را

شست وشو از آب حیوان میدهم این مرده را

●●●●

گهی شکاریم وگه شکار نغمه وچنگ

میان مطرب و ساقی بکشتنم جنگ است

●●●●

غیر پندارو بسر دستار زر پیچیده ام

این نه دستار است دردسر بسر پیچیده ام

ز پای تا بسرش هر کجا که می نگرم
کرشمه دامن دل می کشد که جا اینجاست

گرنیم مائل رخسار تو حیرانی چیست ؟
ورندارم سر زلف تو پریشانی چیست ؟

در ره عشق صلاح از من رسوا مطلب
کافر عشق نداند که مسلمانی چیست؟

جان برلب دارد«اماسن»چون چراغ صبحدم
جنبشی زان آستین باید که کارآ خرشود

ماخذ: سکینة الفضلا- ۵۵مخ

۱۲۹۴- امانی کابلی: د دری ژبې شاعر او د کابل له سیدانو څخه و. په (۹۸۱ هـ ق) کال د اکبر باچا په زمانه کې هندوستان ته تللی او په (۱۰۴۷ هـ ق) کال دجونپور په ښارکې مړ دی:

دی د تاریخ د ما دې په ویلو کې استاد و.

دا بیتونه دده دي :

سینه چاکست وجگر ریش ودل افکار مرا
کرد عشق تو بصد درد گرفتار مرا
آه صد آه که سوز جگر و آتش دل
کرد رسوای جهان عاقبت کار مرا

***

د کابل ستاینه کې وایي:

در بهاران کابل ازباغ ارم دم میزند
چون شودفصل خزان آتش بعالم میزند

دا بیتونه هم دده دی:

درین گلشن دل خون گشتهٔ پیدا نمی‌گردد

که از دست تو نبود لاله سان صدداغ باجانش

نشان گر زآن دهان خواهی دلا نیکو تأمل کن

که این مشکل معما یئست نتوان یافت آسانش

***

دل بفکر آن دهان درتنگنای حیرتست

حیرتش رو داده ازجائی که جای حیرتست

***

غافل از یاد توای شیرین شمائل نیستم

گرتو ازمن غافلی من از تو غافل نیستم

مأخذونه: ۱- لغتنامه - دالف ۲ برخه- ۱۵۲ مخ

۲- تذکرهٔ صبح گلشن- ۳۷ مخ

۳- قاموس الاعلام - ترکی - ۲/۱۰۳۳ مخ

۴- سکینة الفضلا- ۵۱ مخ

۱۲۹۵-امانی هروی: مشهور په «میرمیخچه» د لسمی هجری پیړی له شاعرانو څخه و، اوپه (۹۸۱ ه ق) کال کی مړدی. دالا ندی دتاریخ ماده چی د سلطان چغتای په مړینه (۹۵۳ ه) کی یې ویلي دده ده:

سلطان جغتا بو د گل گلشن خوبی   ناگه سوی رضوان اجلش راهنمون شد

تاریخ وی از بلبل ماتم زده جستم   درناله شد و گفت «گل ازباغ برون شد»

مأخذونه: ۱- لغتنامه - دالف ۲ برخه - ۱۵۳ مخ

۲- تذکرهٔ نصر آبادی - ۴۷۰ »

۱۳۹۶-امة خان اکوزی: د بایزید پیر روښان مجاهد ملګری و، چې د هند د متجاوز کورګاني حکومت د لښکر سره یې زیات جنګونه کړي دي .

(د «ب» ردیف د « بایزید روښان» نامه ته دې رجوع وسي)

مأخذ: پښتونستان – ۳۸۹ مخ

۱۳۹۷-امتی خراسانی: ابراهیم خراساني چې امتي یې تخلص کاوه، د لسمې هجري پیړۍ د دري ژبې له شاعرانو ، او د سلطان حسین میرزا کورګاني د دولت له معتمدانو څخه و. په (۹۴۱ هـ) کال کې مړ دی او دا بیتونه د ده دي:

منم آن میوه کز خامی به بستان هوس ماندم
ز بس ایام یامن کرد سردی نیم رس ماندم

من آن مرغم که هرگه کرد عشقم میل آزادی
نوای تازهٔ پرداختم تا درقفس ماندم

***

جان رفت و عمر هاست که در انتظار تو
د زدیده ام بدل نفس واپسین خویش

* * *

درچمن یار چو باآن قد و قامت برخاست
سرو بنشست ز دعوی و قیامت برخاست

مأخذونه: ۱- لغتنامه د الف ۲ برخه- ۱۶۷ مخ
۲- صبح گلشن- ۳۸ مخ
۳- روز روشن- ۷۱ مخ
۴- تذکرهٔ نصر آبادی- ۱۶۲ مخ
۵- نتایج الافکار- ۳۸ مخ

۶-قاموس الاعلام ترکی- ۲/۱۰۳۳ مخ

۷-ریحانة الادب- ۱/۱۷۵ »

۱۲۹۸-ام سلمته فاطمه سجستانی: دابی بکر عبدالله لور او دابی داود سلیمان سجستانی نمسی اودا شعث کروسی دڅلی وخت نومیالی محدثه وه، چې حدیثونه یې له خپل پلار څخه لوستلي وو، اوبه اله دی څخه دزوج الحرة محمد زوی ابوالقاسم عبدالواحداو نورو سمع کړی وه.

د تاریخ بغداد مؤلف لیکي چې: «ما دابی القاسم عبدالواحد بن محمد بن جعفر په کتاب کې دهغه په خط ولوستل چې موږ دام سلمته فاطمه بنت عبدالله بن سلیمان بن الاشعث سجستانی له یادونې څخه دابی اسحاق مزکی په کور کې په (۳۶۲ ه) کال حدیثونه ولوستل»

مأخذ: تاریخ بغداد- ۱۲/۴۴۲ مخ

۱۲۹۹-امضأ «سیاه»: سردار محمد حسن خان معروف په «سیاه» متخلص په «امضأ» دسردار محمد قلی خان زوی او دوزیر فتح خان نمسی دافغانستان ددیارلسمی هجری پېړۍ ددری ژبې شاعرو.

قبریې په غزنی کې د شیخ رضی الدین علی لالا په هدیره کې دوزیر فتح خان دقبر په څنګ کې دی.

دیوی غزلی مطلع یې دادی:

شوخ بیباکی که با اغیار ساغرمی زند

بردل افگارم هردم نوك خنجرمی زند

مأخذ: دباغلی غبار یادداښتونه

۱۳۰۰-امید خان قابوچی باشی: داحمد شاه بابا په وخت کې یې دقابوچی باشی منصب درلود، او دهندوستان په غزاګانو کې داحمدشاه بابا سره ملګری و.

په (۱۱۷۱ ه ق) کال چې احمد شاه بابا دلاهور حکومت خپل زوی شهزاده تیمور ته وسپاره نواسیدخان یې هم دسردار خانجانخان په لښکر کې پریښود، چې بیا دلاهور په یوه جګړه کې دمتمرد ینوله خوا شهید سو.

مأخذ: تاریخ احمدشاهی-۲ ر ۷۳۸ مخ

۱۳۰۱-امید هروی: دهرات ددری ژبې له شاعرانو څخه و. دا بیتونه دده دی:

دیده باز کن ای راهزن قافله ها
که گهر هاست نهان در صدف آبله ها

ازلب کم سخن و چشم تغافل نگهت
ورق نرکس وگل کوکه نو یسم گله ها

گاه دیوانه ز لفیم و گه آشفتهٔ خط
سر نکردیم برون هرگزا زین سلسله ها

مأخذونه: ۱-روزروشن-۱ ۲ مخ
۲-لغتنامه-۲۲۷ مخ

دالف دوهمه برخه-

۱۳۰۲-امیر: دپښتو یو نوموړکی شاعردی، دده د یو کوچنی اثرد «پښتانه شعرا» په لومړی ټوک کې معرفي سوی دی چې دمثنوی په ډول بحر کې ویلی سوی، او دقرآن مجید دتجوید په باب کې دی.

په دې اثر کې دتجوید دعلم ابتدایي قواعد او اصول په ساده ژبه په نظم سوی دی او داسې ښکاري څرګند یږی چې ناظم یې په عربی ژبه کې ښه مطالعه درلودله.

دامیر دتجوید منظومه رساله په (۱۲۰۳ هق) کال کې لیکلی سوی ده خو معلومه نه ده چې دده په خط ده که دبل چا ؟

دپښتو شمیری دری سوو ته رسیږی، ښکه چې دملا الف هو تک معاصرو، نوبه مثنوی

کی هم دهغه پیروګنل کیدای سی. ددي رساله په دی بیتو پیل کیږی:

تل ثناوایم شکرونه	د خاوند په نعمتو نه
چی قرآن یی راستولی	په سرور باندی راغلی
چی ایمان یی له عرفانه	مو ږ ته وښوو له قرآنه
صد هزار رحمت صلوة شه	پر سرور نبی لا زیات شه
چی پاك نوم یی سردفتردی	او سردارد بحر وبر دی
هم په آل او په یارا نو	په همه و پیشوا یـا نو

مأخذ: پښتانه شعرا — ۱ ر ۱۳۱ مخ

۱۳۰۳-امیر ابو اسحاق هروی: شیخ امیر ابوا سحاق انجو یه د امیر محمود شاه زوی دخواجه عبدالله انصاری له نسله ددری ژبی شاعرو، له هراته شیراز ته تللی، او دار باعی یی دعبدالله خان او زبک دتهدید دپاره ترکستان ته استولي وه:

عمرم همه درفراق وحرمان بگذشت
این عمرگرانمایه چه ارزان بگذشت

عمری که سزد صرف سمرقند وهری
افسوس که در اکره و یران بگذشت

د سلطان ابوسعید بهادرخان تر مړینی وروسته چی دامیر محمود شاه مشر زوی امیر مسعود شاه پر تول پارس پا چا سو، نو امیر شیخ ابو اسحاق یزد ته ولاړ، او د یزد حاکم امیر مبارزالدین محمد د شاه شجاع پلار ور ته ښه راغلی و و یل، او میلمه یې کی، او تر هغه وروسته یې کرمان ته وا ستاوه، خودی دیزد د نیولو په نیت بیا دیزد خواته ولاړ، دده او دامیر مبارزالد ین محمد ترمنځ جګړې وسوې، خو څه یې و له سوه کولای، څو چې په (۷۴۲ﻫ) کال د امیر پیر حسن له خوا چی دامیر

مبارزالدین محمد په مرسته یې دپارس دپاچهی واګی په لاس کی وې داصفهان په حکومت وټاکل سو؛ او هغه وخت چی ملک اشرف چوپانی پر امیر حسین غالب سو، نوشیخ ابو اسحاق شیراز ونیو اوملک اشرف یې مات کی او څه موده یې دامیر مبارزالدین محمد سره جګړه وکړه، خو ترڅورلس کالو پاچهی وروسته په اصفهان کی کلا بند سو، اوشاه سلطان په لاس کښېووت او امیر مبارزالدین محمدته یې ولیږه، اوهغه بیاپه (۷۵۷ھ) کال وواژه، او حافظ شیرازی په دی بیت کی پېښی ته اشاره کړې ده چی وایی:

راستی خاتم پیروزهٔ بو اسحاقی

خوش درخشید ولی دولت مستعجل بود

او دارباعی یې دخپلی ګرفتاری په وخت کی ویلی وه:

افسوس که مرغ عمر را دانه نماند

امید بهیچ خویش و بیګانه نماند

دردا، در یغا که در ین مدت عمر

از هرچه بګفتیم جز افسانه نماند

دا بیتونه هم دده دی:

بـا چرخ ستیزه کار مستیز و بـرو

با ګردش دهـر درمیا مـیز و بـرو

یک کاسهٔ زهراست که مرګش خوانند

خوش درکش و جرعه دررېز و برو

ماخذ: مجمع الفصحا - ۹ مخ - پخوانی دېرین چاپ -

۱۳۰۴-امیر ادهم بلخي: دمنصورزوی او د زید بلخی نمسی د مشهور ابراهیم ادهم پلار و. ناصر خسرو یې داسی یادوی:

جواب (۱)

ازین ابواب دل فارغ باید داشت وخویشتن راانذر شغل وزارت ونیابت دیوان حضرت متمکن ومحترم بایدڈانست ، و به دلی قوی و استظهاری تمام ، کار می باید راند ، و پیوسته صواب وصلاح اعمال ممالك ، و اولیا حشم و اصنا ف لشکر ، و اموا ل خزاین وآن قدر آسیا بی که تعلق به اغره دارد ، و آنچه بفرزندان متعلق باشد ، باید نمود ، چه آنچه وی گویند بسمع ما رساند ، بدان اعتماد ها باشد و کس را زهرهٔ آن نیست که درچنین ابواب مداخلتی کند و چیزی سازد تا د ل فارغ دارد . والسلام

---

(۱) په دوهم متن کی دا جواب داسی دی : « درین ابواب دل قوی باید داشت که حالها برما پوشیده نتواند کرد بدل قوی کار می باید کرد وپیوسته صلاح و صواب ما باز می باید نمود . هم درباب اولیا وحشم اصناف لشکر وهم درباب اعمال وا موال وهم درباب فرزندان عزیز و مهمات ملك ، که میدانیم آنچه وی بازنماید صلاح در آنست و کسی را زهره نه که درچنین ابواب سازان باشد تا دل ساکن داشته آید »

حسن کجا شد و کو با یزید بسطامی

اسیر ادهم و فرزند آن هنرپرور

مأخذ: لغتنامه - دالف ۲ برخه - ۲۳۱ مخ

۱۳۰۵ - امیر - افغان: نواب علی محمد خان افغان په هند کی اوسید اود اردو ژبی شاعرو، اوپه شعر کی یې «امیر» تخلص کاوه په شعر کی د«قیام الدین قایم» شاگرد ودا دوه بیتونه دده دی:

تیری گهر جانې سې بس اپنا توگهرجاتاهې

اې سری جان کې دشمن تو کد هر جاتا هې

هائې سرخی ترې رخار کی هنگا معتاب

جتنا بگړې هې تواتنا هی سنور جاتا هې

مأخذونه: ۱ - گلشن همیشه بهار - ۷۰ مخ

۲ - سکینته الفضلا - ۵۵ مخ

۱۳۰۶ - امیر - افغان: نواب محمد یار خان د نواب علی محمد خان امیر زوی د دری ژبی شاعر و، اوپه شعر کی یې د خپل پلار په څیر «امیر» تخلص کاوه. نازک طبعه، میرزا منشه او میر نی زلمی و. په هند کی اوسیداو په موسیقی کی یې هم لوی لاس درلود، دده دشعر استاد محمد قاسم نومید.

دطبقات الشعراء مؤلف مولوی قدرت الله شوق ورسره لید لی و، اوپه خپل کتاب کی یې دده ډیره ستاینه کړې ده.

مأخذونه: ۱ - طبقات الشعرا

۲ - دهند په تاریخ او مدنیت کی دافغانانو برخه - خطی - ۱۳۴ مخ

۱۳۰۷ - امیر اقبالی: ددری ژبی شاعراو دسلطان محمد (نبایی محمد د سلطان محمود غزنوی د زوی) ندیم و.

مأخذونه: ۱ - نقض الفضا - ۲۵۲ مخ

۲- لغتنامه - دالف ۲ برخه - ۲۳۱ رر

۱۳۰۸-امیر الامرأ: دبهادر خان لقب و، او بهادر خان د شاه حسین هوتک مشهوراو بریالی قوماندان و، شاه حسین ورته «ورور» او عواسوورته «امیرالامرأ» و یل (نور تفصیل یې د «ب» په ردیف کې د« بهادر خان» تر نامه لاندې راځي)

مأخذ: هوتکیان - ۱۳۶ مخ

۱۳۰۹-امیر بلند: دهیلمند له خورانو میالیور و حانیوڅخه و، چې د گرمسیر د «درویشان» په کلي کې ښخ دی اوعوام ډیره ښه عقیده ورته لري اوز یارت ته یې ورځي.

دوفات نیټه یې ښاغلي محدولي زلمي پخپل کتاب «د کندهار مشاهیر» کې دده دقبر د ښنو خواته دښنا ختی له مخې (۵٦۰ ه) کال لیکلې دی او هم ز یاتوي چې دده کورنی یې د حضرت رسول (ص) د اکا امیر حمزه زوی بولي.

مأخذ: د کندهار مشاهیر- ۱۵٦ مخ

۱۳۱۰-امیر بنجي غوري: دنهاران شنسبي زوی دغور له امیرانوڅخه و، چې دغورد یو بل امیر شیش د بهرام له زوی سره دهارون رشید دربارته ولاړ اود «قسیم امیرالمومنین» په لقب یې امارت په رسمیت وپیژندل شو ، او دغور وروستني امیران د همده له نسله دي.

امیر بنجي د منهاج سراج په قول د ښو اخلاقو خاوند و، او غور یانو د کورنی لو سړی سړی دی چې له هارون رشید څخه یې «عهد» او «لوا» هم راوړې وه.

(دده دژوند نوري پیښې د «ب» په ردیف کې د«بنجي غوري» ترنامه لاندې راځي)

مأخذونه: ۱- طبقات ناصری - ۳۲۴/۱ مخ

۲- افغانستان بعد از اسلام -۱/۱۳٦ رر

۱۳۱۱-امیر پو پلزی: دپښتوژ بې شاعرد کندهارد پنجوای دولسوالي

په «تلوکان» نومی کلی کی او سید . په عالم، فاضل اوو پښی پښتون و، او په شعر کی یې انتقادی او اجتماعی مضامین و یلی او په بذله‌گو یی او ظرافت کی یې هم شهرت درلود ــ په کندهار کی تر اوسه پوری دده ظریف او شوخ بیتونه د اد بی اشخاصو په خولو کی پاته دی.

دده دپښتو اشعارو مردف دیوان سته اود دری او عربی دیوانو دارلو په باب کی یې هم خبری کیږی.

دده ژوند د(۱۳۹۱ هق) کال په شاوخوا کی اتکل سوی او عمر یې تر ۹۵ کالو پوری رسیدلی و.

له دیوانه یې څرگندیږی چې دژوند وروستی کلونه یې د هلمند په گرشک تیر کړی دی: دا شعر دده دی ؛

منقلبی د دنیا تمامی چاری

شوې خرابی چې لیدې می هغه لاری

عربی اسان ما ره نه دی په لوخو

نیشکر، بادام وهی زوی د حماری

بلبلان، توتیان حیران پر صحرا گرزی

کارگان تو له پر گلزار وهی چیغاری

نادان ناست بیغمه عیش کوی «امیره»

هوښیاران دی مبتلا په سل د شواری

مأخذ: پښتانه شعرا ـ ۳/۸۲۷ مخ

۱۳۱۲ ـ امیر پولادغوری: د ملك شنسب بن خرنك له فرزندانو څخه دغور نوسیالی امیرو، چې دغور پر غرو یې حکمرانی کوله، او د خپلو پلرو نوم یې ژوندی وساته اوهغه وخت چې ابومسلم خراسانی منځ ته را ووت او د بنی امیه پر

خلاف پاڅيد امير پولاد هم دغورلښکرد هغه مرستی ته ورووست او دآل عباس په طرفداری يې ډير زيارويوست. څنگه چی ابومسلم د(۱۳۰ ه ق- ۷۴۷م) پهشاوخوا کی را پاڅيدلی و، نود اميرپولاد دامارت نيته هم په هغهوختو کی تپا کلاي سو.

د امير پولاد دامارت مرکز دغورپه «منديش» کی و، اود غور نور عرونه هم دده ترفرمان لاندی وو. دامير پولاد تر مړينی وروسته د غور امارت د هغه د ورور زامنو ته پاته سو.

مأخذونه: ۱- طبقات ناصری - ۱/ ۳۲۴ مخ

۲- افغانستان بعداز اسلام — ۱/ ۱۳۲ «

۳- پټه خزانه - ۲۹ «

۱۳۱۳- امير حسينی غوری: حسين دعالمزوی اود ابیالحسيننمسی د غوردگز او د کلی د ظاهری اوباطنی علومو عالم اوپه «اميرسادات» مشهوروه د «کنز الرموز» پهنامه يې يو کتاب ليکلی , او له هغه څخه څرگند يږی چی دی د شيخ بهاالدين ذکر يامريدو , خوپه ځينو کتابو کی يې ليکلی چیدیدشيخ رکن الدين ابو الفتح مريدوه چی هغه بياد خپل پلار شيخ صدرالدين اوهغه بياد خپل پلارشيخ بهاالدين ذکر ياي مولتا نی مريدو. ډير کتابونه يېليکلیو، چیمشهوره يی دا د:

۱ - کنزالرموز (منظوم مثنوی)

۲- زادالمسافرين (منظوم مثنوی)

۳- سی نامه

۴-طرب لمجالس

۵-نزهتهالارواح (په نثر)

۶-روحالارواح (په نثر

۷- صراط مستقیم (په نثر)

۸- داشعارو دیوان او کلیات چې یو نسخه یې په تهران کې دعلی اصغر حکمت سره وه په هرات کې یې د بریبروان او سر یدان درلو دل .

د(۷۱۸ ه ق) کال دشوال په ۲۹ ، مړاو دهرات دمیرزا عبدالله جعفرطیا رترګنبدې دپاندې ښخ دی .

مآخذونه: ۱- نفحات الانس-۷۰۵ مخ

۲- ازسعدی تا جامی -

دادوارد براون تالیف دعلی اصغر حکمت ترجمه-۱۸۸ مخ

۳- لغتنامه دالف ۲ برخه-۲۳۵ مخ

۱۳۱۴- امیر خان «امیر»: امیر خان افغان داردو ژبې شاعرو ، چې په اشعارو کې یې «امیر» تخلص کاوه اودهند دمراد آباد دبجنور دضلع د«نګینه»نومی ځای له افغانانو څخه و.

څه وخت دپلار سره په تجارت بوخت و، بنارس ته تللی او بیا د یوه نجیب آبادی تاجر سره نوکرو - دا بیتونه دده دی:

بهنساهې زلفاسین دل خط روئې یا رکې باعث
اسیر دام هې مرغ چمن ګلزار کې با عث

نشان عشق کب موقوف هې چهرې کی زرد پر
سدا هم سرخ روهین دیدهٔ خون با رکی با عث

مأخذ: ګلشن همیشه بهار-۷۱ مخ

۱۳۱۵- امیرخان بدخشي: ملاسیدامیرخان دبدخشان له سیدانو څخه و، دخپل وخت دمحققینو اوپوهانو په ډله کې یې لوړمقام درلود . دامیرحبیب الله خان په وختو کې دبدخشان دجرم دمحکمې قاضي و .

دشعر سره یې علاقه درلو دله اوپه اشعارو کې یې « کامل »تخلص کاوه - په (۱۳۱۰ ه) کال کې مړ دی .

ماخذ: ارمغان بدخشان -دمرحوم عبدالله بدخشي لیکنه .

۱۳۱٦-امیر خان جوانشیر: دولي محمدخان جوانشیر زوی د چنداولانو زلمی مشر داحمد شاه بابا په لښکر کې یې د «چند اولي» منصب درلود، او د هندوستان په غزاګانو کې د احمد شاه باباسره ملګری و، او په زیاتو جګړه وکې یې برخه اخیستې وه، په تیره یې بیاد هند د «هیجا» د دښت په جګړه کې ښه سرانه څرګنده کړې وه چې محمود الحسیني یې په خپل کتاب «تاریخ احمد شاهی» کې داسې ستایي:

امیر جوانشیر چون نره شیر
بمیدان «هیجا» روان شدد لیر

بر افروخته زاتش کین جبین
چو خورشید تابان بروی زمین

با برو کمان و ببالا بلند
زابرو و خشم آهوان در کمند

زند دام زلفش بلا را صلا
کند صید لها زدام بلا

بنفشه بتاب از خم موی او
زخجلت بود بر زمین روی او

زپشت سر دشمن بد گهر
چنان زد که بشکست او را کمر

له دې ستاینې څخه څرګند یږي چې امیر خان د پر زلمی و، ځکه چې په یوبل ځای کې هم لیکي:

«امیر خان چنداول باشي را که سر کردۀ ایل جوانشیر و در صغر سن جنگ آور بیهمال و

فایق برمعرکه آرایان کهن سال است با دستهٔ چنداولان امر با طفای تا یرهٔ شورش کافران نموده. . . »

مأخذ: تاریخ احمدشاهی-۲/ ۸۲۷، ۱۰۰۱مخونه

۱۳۱۷ امیر خلیل هروی: دخپل وخت له نومیا لیو خوشنو یسانو څخه اودی یي امیر خلیل قاندر هم باله. هغه و خت چې لومړی شاه طهماسب صفوی په خراسان کې و، امیر خلیل یې خپل دربارته وروغوښت، خوده هغه غوښتنه و نه منله اوهندته ولاړ، اوپه هند کې همایون پاچاورته په درنه سترگه و کتل، بیا له هغه ځایه اصفهان ته ولاړ او دشاه عباس توجه ورواوښتله. وایی چې د امیر خلیل او میر عماد ترمنځ رقابت اوسیالي وه، ځینو د امیر خلیل خط ترمیرعماد خوښا وه.

له اصفهانه بیرته هندته ولاړ او دکن په حیدر آباد کې میشته سو، او همهلته په (۱۰۳۵هق) کال مړ دی.

مأخذونه: ۱- آریانا دائرة المعارف -

۲- لغتنامه — دالف ۲برخه - ۲۳۶مخ

۱۳۱۸-امیر سبزواری: د نهمې هجری پیړی ددری ژبې له شاعرانو څخه و، او په هرات کې اوسید.

امیر علیشیر نوایی لیکي چې: «د سبزوار شیخ الاسلام و، او بشپړ صلاحیت یې درلود، او خط یې ډیر ښه لیکه»

په تذکرهٔ «روز روشن» کې امیر محمد د امیریمین الدین سبزواری زوی دشاعرانو په ډله کې راغلی، او ددهخدا اټکل دادی چې هغه همدا امیر سبزواری دی، او په

روز روشن کی دا بیتونه د امیر محمد سبزواری په نامه راغلی دی:

آشکارا کرده پیش از آفرینش رزق را

آنکه نتوانی نهفت از وی نهان خویشتن

هر که را بینی بعالم روزی خود میخورد

گر ز خوان تست دانش باز خوان خویشتن

پس ترا منت ز مهمان داشت باید زانکه او

میخورد بر خوان احسان تو دان خویشتن

مأخذونه: ۱- روز روشن- ۷۲ مخ

۲- لغتنامه - د الف ۲ برخه- ۲۳۷ رر

۱۳۱۹- امیر شاهی سبزواری: امیر آق ملک د جمال الدین زوی دنهمی هجری پېړی له نومیالو شاعرانو او هنرمندانو څخه و. پلاربې د غور په فیروز کوه کی زېږېدلی او څخپله دی په سبزوار کی دنیاته راغلی دی، ماما یې خواجه علی مؤیدو، چی نیکه گان یې د سربدارانو له نومیالیو امیرانو څخه و، او دامیر علیشیر نوایی په قول دی څخپله هم د سبزوار له سربدارانو څخه گڼل کیده.

امیر شاهی په سبزوار کی اوسېد، تیموری بایسنغر میرزا هرات ته وروغوښت، ډېره مهربانی یې ورسره و کړه، او څنگه چی د شاهرخ میرزا د امارت په وختو کی د امیر شاهی د کورنی مناسبات د حکومت سره ښه نه وو، نو شاهرخ میرزا د هغه د موروثی جایداد یوه برخه د سربدارانو د سرغړونی په وخت کی ځینی ضبط کړی و، نو په دې وخت کی چی امیر شاهی هرات ته ورغی د بایسنغر میرزا په زیار هغه ضبط کړه سوی جایداد بیرته و کړه سو، او بایسنغر میرزا دی د ځان ندیم وټاکه، او تر ډېره وخته معتبرو. بیا د دوی تر منځ خوابدی پېښه سوه او امیر شاهی له هراته بیرته سبزوار ته ولاړ، او هلته په بزگری او کرهنه بوخت سو.

د امیر شاهی د خوابدی په باب دوه رو اینه دی یو دا چې ځنګه چې مشهوره وه چې پلار یې په یوه ښکارګاه کې دسر بدا را نو د یوه امیر په چاړه وژلی سوی و، نوی‌وه ورځ چې د بایسنغر سره په ښکار تللی و بایسنغرهغه خبره وریاد کړې، او پر امیر شاهی‌ئې پره بسد ه لګېدلی وه اوله بایسنغره بیل سوی و، او بل روایت‌دادی‌چې‌بایسنغر میرزا دده‌ته ویلی و، چې: «د«شاهی»تخلص پرېږده،دا تخلص زمامره وړ دی»خو ده دبایسنغر خبره ونه منله، او څو ورځې وروسته چې‌بایسنغر د پوهانو او فاضلانو او شاعرانو او خوشنویسانو یو مجلس جوړ کړی و، او امیر شاهی غوښته هلته‌ورسی، خو پری نه‌ښو ول سو، اودی، وپوهید چې دا ممانعت د شهزاده په امر دی نو دادوه بیته یې‌و لیکل او شهزاده ته یې ورواستول:

ایکه در بزم طرب جام‌دمادم میزنی
خون‌دل ناخور ده چنداز عاشقی دم میزنی

میکنی محروم از این درشاهی‌درمانده را
دست رد بر سینهٔ یاران محرم میزنی

په هر حال امیر شاهی سربیره پر شعر دموسیقی، نقاشی خطاطی، رسامی اوتذهیب په هنروکی هم لوی هنرمندو،او په موسیقی کی یې څو رازه سازونه‌پغول،

وایی چې ابوالقاسم بابر دی د«گل افشان» د ماڼی دتصویرو دانځورد پاره استرآباد ته وروغوښت،او هلته و، څو چې په(۸۵۷ هـ) کال په داسی حال کی چې سن یې تر اویا کالوتیرو، مړ سو،او دده مړی دده د وصیت په اثر سبزوارته راوړه سو، او په خپله پلرنی هدیره کی د سبزوار تر ښار د باندی ښخ کړه سو.

دمجالس النفایس مؤلف لیکی چې‌بوخه موده یې‌داسترآباد دحکومت هم کړی‌و.

دده په ویرنه (مرثیه) دهغه وخت یوشاعر و یلی دی:

گو بشو زیروزبر از اشك وآهم سبز وار

زانکه شهر شاه بی شاهی نمی آید بکار

وایی چی امیر شاهی په شاعری کی دمولانا عبدالرحمن جامی استاد و. در یاض الشعرا خاوند لیکی چی: «اشعار بی وچ اولانده (غث اوسمین) زیات در لودل، خو جامی دشاگردی په نسبت دده له اشعارو څخه زربیته خوش کړی اونوریی په اوبو مینځلی دی» دادوه بیتونه دده دی:

زهی ازخطت نرخ عنبر شکسته

قدت سرو رادست بر تخته بسته

غباری است خطت نشسته بر آن لب

بلی خط یا قوت باشد نشسته

دامیر شاهی دیوان څوځلی چاپ سوی، او هم یی ددیوان ډیری ښکلی اوتذهیب سوی خطی نسخی دایران، هندوستان اواروپا په کتابو نوکی سته، یوازی د تهران په سلطنتی کتابتون کی یی اووه خطی نسخی موجودی دی.

دامیر شاهی غزلی ډیری لطفی اوخوندوری دی اوزیاتره ترپنځو بیتو تیری نه کوی.

دااشعار دده دی

زهی ازخطت نرخ عنبر شکسته

قدت سرو را دست بر تخته بسته

غباری است خطت نشسته بر آن لب

بلی خط یا قوت باشد نشسته

فصل سوم

بنده می‌بیند که چند تن را انبساط پیش تخت ملک یافته‌اند، ودر اعمال و اموال سخن می‌گویند، و هر تا مستحقی را عملها می‌سازند و مثالها و توقیعها می‌شناسند و محل خویش در تمکینی که دارند، بدان محکم میگردانند، که توفیری ـ نه از وجه خویش بهر وقت خزانه را می‌نماید، و ضرر آن سخت بزرگ است چه اگر در حال از طریق ظاهر، رای عالی را پسنده نماید و سودمند، از راه حقیقت بباید دانست، سرتابسر زشت نامی وزیبا نیست.

اگر رای عالی زاده الله علواً اقتضا کند، فرماید تا این در برهمگنان بسته دارند، واگر درین باب خواهند که خزانه را توفیری نمایند، با بنده اولا رجوع کنند، ووجوه آن باز نمایند تا آن توفیر از وجهی حاصل گردد، که ثانی الحال بفسادی و خللی ادا نکنند و السلام (۱)

---

(۱) په دوهم متن کی دریم فصل داسی دی: بنده می‌بیند که هر کسی گستاخی میکند پیش تخت ملك درباب اعمال و اموال سخن میگوید وسودمان را عملها می‌سازند، و مثالها و توقیعها می‌ستانند درباب اموال و آنکه توفیری نماید ضرر آن سخت بزرگ است چه آن ها چنان سازد که رأی عالی رانیکو نماید وسودمند. اما باید دانست که سربسر زشتی وزیبا نست، این واجب چنان است که همگان بسته گردیده، هر کسی که توفیری نماید باید که با بنده اندر آن رجوع کرده آید، تا صواب وصلاح آن بازنماید، که اگر برآن جمله که اکنون است بماند بسیار خلل ظاهر گردد، نه امروز بلکه فردا تا درین باب نیکو نگاه کرده آید.»

مولانا دافغانستان دپښتو ټولنې افتخاري غړی هم و ، او د پښتو دادب په باب کې به ئې خپل پاخه نظریات دغې موسسې ته رالیږل ، د پښتو ژبې او ادب سره ئې زیاته مینه درلوده ، او په پښتو ژبه ئې شعرهم وایه ښه نطاق هم و ، مجلس ئې پر چانه درنیدی ځکه چې ده هر کله دخپل مخاطب سویه په نظر کې نیوله ، دملا سره ملا او دادیب سره ادیب و ، او دعوامو سره ئې عامیانه خبری کولې . د وی به همیشه په خپل واس کې ځینې ناوړه او ناروا دودونه غندل او په دې لار کې بې دخلکو څخه دیوی پراخې مجالی غوښتنه کوله .

مولوی صاحب که څه هم یو مجرد ، زاهداو متقي سړی و ، خودوچ زهداوبیځایه تعصب څخه یې به ته راتله ، خو وارمحج ته تللی و .

مولوی صاحب دخپل هیواد په تیره بیا د کندهار دلویو عالمانو اوپوهانو سره بې تل رابطه ساتله اودافغانستان سره یې زیاته مینه درلوده ، اود (۱۳۰۵ هـ ش) کال راهیسې په ځوس کاله په هند کې په افغاني پاسپورت واوسید ، اوتل به یې په خپله پښتو اله اوروڼ تاریخ ویاړل او دافغاني مفاخر وڅخه به ئې دفاع کوله ، نو ځکه دهند دعالمانو په منځ کې په ((الافغاني)) مشهور و ، او کله به یې (حنفي امام) هم ورته ویل . دمولوی صاحب په مړینه دافغانستان او پښتونستان او هندوستان جرايد وخپل ویر اوغم څرګند کړی دی چې د نمونې په توګه د جریده (الحق) د ۱۹۷۵ م کال ددسمبر دلسمې ګڼې دهغو لیکو ترجمه راوړو - داجریده د پېښاور دختکو دا کوړې دحقانیه دارالعلوم څخه په اردو ژبه خپریږي اودمولانامفتي محمود دجمعیته العلماءاسلام سره هم اړیکې لري ، دا جریده لیکې :

(دهندوستان په حیدر آباد کې تیره میاشت حضرت مولانا ابوالوفا افغاني قدس سره وفات سو . مرحوم په علم ، تقوا ، زاهد ، ذاتي کمالاتو کې د زمانې طاق او دحنفي فقې د لویو امامانو څخه و ، چې خپل ټول عمر یې دحنفي امامانود آثارو دراژوندی کولو اودحنفي فقې د ماخذونوپه پېکاره کولو مصرف کړی دی . دهغو په

مبارك منزلی کان خانه را ماهی چنین باشد
همایون کشوري کان عرصه راشاهی چنین باشد

زرنج وراحت گیتی مرنجان دل مشوخرم
که آئین جهان گاهی چنان وگاهی چنین باشد

***

دارباعی یې دبا یسنغر په ویرته کې ویلې ده
درماتم تو دهر بسی شیون کرد
لاله همه خون دیده در دامن کرد

گل جیب قبای ارغوانی بدرید
قمری نمد سیاه در گردن کرد

ماخذونه: ۱-لغتنامه —۲۳۷مخ
۲-آتشکدهٔ آذر — ۱۴۰ «
دتهران چاپ
۳- تذکرة الشعرأ دولتشاه
دلیدن چاپ ۴۲۶ مخ
۴-ازسعدی تاجامی-داد وارد برون — دعلی اصغرحکمت ترجمه —۷۲۳ مخ
۵-احوال وآثار خوشنو یسان — ۱/۷۷مخ
۶-خط وخطاطان - ۸۵ مخ
دابوالقاسم رفیعی مهرآبادی

۱۳۲۰-امیر عالم بدخشی: دبدخشان د رستاق د«ولو الج»په کلی کې اوسید، روحانی سړی او دحال خاوند و. د شیخ اجل شیرازی له مریدانو څخه او د امیر خسرو معاصر و، او په (۷۱۰ هـ ق) کال دامیرخسرو سره لیدلی و.

مأخذ: چراغ انجمن -۵۲ مخ

۱۳۲۱- امیر علیخان: دجهانگیری په حسن خیلو کی د پښتوژبی ښه لیکوال اوشاعر و، له ده څخه دا اته خطی کتابونه پاته سوی دی:

۱- زړه خوږ مسلمان- په نظم.

۲- کچکول - دامام وردی دقصیدی ترجمه اوشرح ده.

۳- داخوان الصفا په نظم اونثر پښتوترجمه ده، چی (۳۳۷) مخه لری.

۴- سحر نی ستوری.

۵- مقامات امیر - د پښتومحاوراتو اولغاتو خزانه ده

۶- بی خبری - له عربی څخه ترجمه ده.

۷- سرحدی گل

۸- خوږ ور ور ولی

دشعری کلام نمونه یې دادری بیته ولولی:

دو دسته سلام جانان ته په سبا دسحرو ایه
دزخمی زړه ارمانونه د وفا په نظر وایه

دزمزم په بوه څاڅکی جام لبریزدی ماد یاره
لا به ولی زمانشی ای ساقی دکوثر وایه

علامه ما ټول علمونه دعرفان په نور نثار کړل ته ترعمره له استاده سبق زیداو بکر وایه

مأخذونه: ۱- د پښتو د ادبیاتو تاریخ د پو هاند رښتین - ۴۲۱ مخ
۲- د کابل مجله - ۱۷۹ گڼه دپاڅلی اجمل خټک لیکنه.

۱۳۲۲- امیر کروړغوری: امیر کروړ دامیر پولاد زوی مشهور په «جهان پهلوان» دملک شنسپ له اولادې دغور دسوری کهاله پو نوسیالی امرا و دپښتو ژبی ډیر پخوانی شاعر و.

دپټې خزانې مؤلف محمد هوتک دده په باب کې داسې لیکي :

«نقل کا : زبدة الواصلین ، شیخ کته متي زی غور یا خیل په خپل کتاب «لرغوني پښتانه» کښې ، چې دی نقل کا له «تاریخ سوري» څخه ، چې په بالشتان بې کتلي او موندلي و ، شیخ کته علیه الرحمه هسې وایي چې په تاریخ سوري کې را وړي :

چې امیر کروړ دامیر پولاد سوري زوی و ، چې په کال (۱۳۹) سنه هجری ، دغور په منډیش کې امیر شو ، او «جهان پهلوان» یې بالله .

وایي چې د غور کوټونه ، او د بالشتان او خیسار او تمران ساتي او بر کوشک یې تول ونیول ، او د رسالت له کهوله یې په خلافت کې ډیر کوښښونه وکړل .

نقل کا : چې امیر کروړ ډیر غښتلی او پهلوان و ، په یوه تن له سلو جنګاو رو سره جنګیده ، ځکه یې نو کروړ بالله – چې معنی یې ده کلک او سخت .

وایي چې : امیر کروړ به په د وبي «زمین د اور » کې و ، او هلته یې ماڼی درلوده چې کښېنت د منډیش په شان و ، او په دغه ځای کې یې ښکار کاوه او عشرت .

په تاریخ سوري کې را وړي چې : دا امیران له پېړیو په غور او بالشتان او بست کې و ، او دغه «سوري» نومی له اولاده ـ ی چې د سهاک له پښته و . امیر پولاد په هغه دعوت کې شریک و ، چې ابو العباس سفاح د بني امیه سره جګړه کړله ، او ابو مسلم یې هم سرستی و .

په تاریخ سوري کې محمد ابن علي البستي داسې کښلي دي چې : د عباسي دعوت په جنګو کې چې امیر کروړ ، ډېرې سوبې وکړلې نو یې دا بیتو نه وویل ، چې «ویاړنه» یې بولي ـ هغه دادي چې شیخ کته علیه الرحمه له تاریخ سوري را نقل کړي دي :

ویاړنه دامیر کروړجهان پهلوان

زه یم زمری، پردې نړۍ له ما اتل نشته
په هندو سندو پر تخارا و پر کابل نشته

بل په زابل نشته
له ما اتل نشته

***

غشی د من می ځي، بریښنا پر سیرخمنو باندې
په ژوبله یونم یرغالم پر تښتېدو نو باندې

پر ماتېدلو باندې
له ما اتل نشته

***

زما د بریو پرخول تاوېږي هسک په نمنځ و په ویاړ
دآس له سووی مځکه رېږدي غرونه کاندم لتاړ

کړم ایوادونه او جاړ
له ما اتل نشته

***

زما د توري تر شپول لاندې دي هرات وجروم
غرج وبا میان وتخار بولي نوم زما په اودوم

زه پېژندویم په روم
له ما اتل نشته

پر مروزما غشي لوني داري د ښن را ښخه
دهر يوا لرو دهر ګنډو څم تښتي پلن را ښخه

رېبي زړن را ښخه
له ما اتل نسته

***

دزرنج سوبه مي دتوري په مخسور وکړه
په باداري مي لوړ اوي دکول د سو رو کړه

ستر مي تر بورو کړه
له ما اتل نسته

***

خپلو وګړو لره لو ربيرزو ينه کوم
دوی په داننه بنه باسم بنه بي روزنه کوم

تل يې ودنه کوم
له ما اتل نسته

پر لو يو غروسي وينا درومي نه په ګنډو په تال
نړى زما ده نوم مي بولي پر دريځ ستا يوال

په ورځو، شپو، مياشتو وکال
له ما اتل نسته

***

شيخ کته عليه الرحمه، له «تاريخ سور» نقل کا چي: امير کروړ عادل او
ضابط او دښې وينا خاوند و. ده به هر کله شعرونه ويل، په کال سنه(۱۵۴)
هجري د پوشنج په جنګو کي مړ سو، او تر ده وروسته يې زوی امير ناصر ايوادونه

ضبط کړل، او دغور او سور او بست او زمینداور پر مځکو خاوند سو »

ماخذ: پټه خزانه - ۲۹ مخ

۱۳۲۳-امیر محمد انصاری: دمیرمحمدزوی د (۱۲۰۰ ه) په شاوخوا کې د هند په کلکته کې اوسیده اود پښتو ژبې لیکوال و .

په (۱۲۲۷ ه) کال یې دسعدی ګلستان په پښتو نثر ترجمه کړی چې د یوې نسخې (۱۲۹) پاڼې یې دلندن په موزیم کې ستته ، اود هغې نسخې د سرڅو جملې دادي :

«همه واړه ثناو صفت او کل احسان ومنت هغه لوی قادر څښتن تعالی لره چې طاعت یې سبب دقربت دی، او دده په شکر کښې زیاتی دنعمت - هره یوه ساه چې په ښکته دروسی اوپورلې دحیات ده او هر کله چې په پورته راشی خوشحالونې د ذات یعنی دځان ده پس په هره یوه ساکښې دوه نعمتونه موجوددی او په هره نعمت یې شکر واجب...»

مأخذونه: ۱- دپښتو دادبیاتو تاریخ- ۸۸ مخ

۲-فهرست بلوسهارت.

۱۳۲۴-امیر محمد سوری: د غورد سوري کورنۍ له نومیالیو امیرانو څخه و. هغه وخت چې سلطان محمود غزنوی پر تخت کښیناست امیر محمد سوری په غورکې خپلواك امیرو، اوځنګه چې یې دسلطان محمود غزنوی اطاعت ونه مانه ، نو سلطان محمود دلوي لښکرسره دغورخواته ورغی او امیرمحمد سوری یې دغور د «آهنګران» په کلا کې کلابند کی ، څوچې تراوږدې کلا بندی او سختو جګړو وروسته امیرمحمد د روغی له لاری له کلارا کښته سو ، اوسلطان محمود ته ورغی، او هغه دی اودده کشری زوی «شیش» غزنی ته واستول ،خوځنګه چې امیر محمد ډیر غیرتی پښتون و، نو دامارت نرژوندیې مرینه خوښه کړه او دمخه تر هغه چې

غزنی ته ورسیږی د «گیلان» نومی ځای په شاوخوا کی دخپلی گوتمی په واسطه چی دغمی شاته یې زهر پټ وه خپل ځان ووژه . قاضی منهاج سراج په طبقات ناصری کی دا پېښه داسی لیکی:

«. . . چون تخت باسیر محمود سبکتگین رسید امارت غوریان بامیر محمود سوری رسیده بود ، و ممالک غور راضبط کرده، گاهی سلطان محمود را اطاعت نمودی ، وگاه طریق عصیان سپردی، وتمرد ظاهر کردی، وآنچه از خراج اسلام مقرر بود بازداشتی و باعتماد قلاع متین وشوکت وعدت وافر مخالفت برز بدی، ودل سلطان محمود مدام بدان سبب نگران میبود وبسبب قوت وحدت و شوکت واجبال وحصانت ورفعت جبال ملتفت خاطر می بود، تا بالشکر گران بجانب غور آمد، و او در قلعهٔ آهنگران محصر شد و مدتها آن قلعه نگاهداشت وقتال بسیار کرد، وبعد از مدتها بطریق صلح ازقلعه فرود آمد وبخدمت سلطان محمود پیوست ، وسلطان اورا و پسر کهتر او که «شیش» نام بود بجانب غزنین برد ، بدان سبب که امیر محمد سوری پسر کهتر را دوست داشتی ، چون بحدود گیلان رسید امیر محمد سوری برحمت حق پیوست بعضی چنان روایت کنند: که او چون اسیر شد، از غایت حمیت که داشت طاقت مذلت نیاورد. خاتمی داشت در زیر نگین زهر تعبیه کرده بودند، آنرا بکار بردودر گذشت»

دامیر محمد سوری ترسرېنې وروسته سلطان محمود دهغه زوی شیش بیرته غور ته واستاوه ، اودغور امارات یې دامیر محمد مشر زوی امیر بوعلی ته وسپاره

اسعد سوری دپښتو ژبې دهغه وخت نومیالی شاعر دامیر محمد په سر بنه خورا پخه اواوږ دقصیده وویله (داسعد سوری نامه ته دی رجوع وسی)

ماخذ: ۱- طبقات ناصری - ۱ ر ۳۲۹ مخ

۲- پټه خزانه ۳۷

۱۳۲۵-امیر محمد کونړی: دپښتو ژبی اسی شاعرو، دکونړدنورپه دره کی د(۱۳۰۰ ه ق) کال په شاو خوا کی اوسید. وایی چی ده لیکه اولوست نه سو کولای خو خواږه شعرونه یې ویل. دده شعرونو ز یاتره صوفیانه بڼه درلودله - دده یو نظم چی دشیخ عبد القادر جیلانی په ستاینه کی یې و یلی د«پښتانه شعرأ» په دریم توک کی راوړه سوی دی چی د سر بیت یې دا دی:

توی شوه دچمن گلونه بادېږي د خزان راځی
څوک که پکښې څو ښې اری په چاپاندی څپگان راځی

مأخذ: پښتانه شعرأ - ۳/۷۸۲ مخ

۱۳۲۶-امیر محمد هروی: قاضی مولانا امیر محمد بدیع دقاضی اختیار زوی دهرات له نو میالیوعالمانو څخه و .

ډیره موده په هرات کی قاضی و، اوهم یې دعلومو تدریس کاوه، په اکثرو علومو کی یې تألیفات او تصنیفات درلودل .

د«مذکر الاحباب» دتذکری لیکونکی یې د «زبدة العلمأ» او «جامع الفروع والاصول» او «حاوی المعقول والمنقول» په القابو یادوی او هم دده په باب کی لیکی چی: «ای تو مجموعهٔ خو بی زکدا مت گو یم»

په دری ژبه یې شعرونه هم ویل اودانشأ په فن کی یې هم لوی لاس درلود.

مأخذ: مذکر الاحباب - خطی تذکره)

۱۳۲۷-امیر مسعود کابلی: په کابل کی ددری ژبی شاعرو، او په د وولسمه هجری پېړی کی یې ژوند کاوه - دادوه بیته یې و اله داغستانی په ریاض الشعرأ کی راوړی دی :

می سوزد از غمت دل وجان حزین مرا	رحمی بکن بگوشهٔ چشمی ببین مرا
تا د ربهشت کو یتو گلگشت میکنم	خا طر نمی کشد سوی خلد بر ین مرا

مأخذ: سکینة الفضلا - ۱۰۳ مخ

۱۳۲۸- امیر ناصر غوری: د امیر کروړ زوی وه چې د پلار تر مړینې وروسته (۱۵۳ هـ ق) د غور او د زمینداور او د بست د سیمو د امارت پر تخت کښیناوست.

مأخذونه: ۱- پټه خزانه - ۳۷ مخ

۲- افغانستان بعد از اسلام - ۱/۱۳۶ رر

۱۳۲۹- امیر ورضه باغی: د سردار محمد ایوب خان غازي د وروسرد احمدعلي جان همز کابه تو میالي سندرغاړی و مطرب و. په (۱۲۹۸ هـ ق) کال چې سردار محمد ایوب خان گرشک ته نژدې د امیر عبدالرحمن خان د لښکر سره جنگېده سردار احمدعلي جان هم چې بوعیاش ځلمی و، نو په سفر او حضر کې به مشهور سندرغاړی د ساز و سره ور سره وو، او هغه وخت چې د جنگ هنگامه تو د ه وه نو سوړی سردار د دې د پاره چې خان ثابت قدمه وښیي ځان بې په مسکراتو مشغول کې او «امیرو» مطرب ته یې امر وکې چې یو «ماهور» مقام ورته ووایي، خو چه «امیرو» خوله پرانیستله چې سر دار ته د «ماهور» مقام ووایی د مقابل لوري د توپ گولی راغله او په خوله کې یې ونښتله، له آسه راو لوید او سردار امرو کې چې د جگړې له میدانه یې فرار گاه ته یوسی او هلته یې تر علاج لاندې ونیسی.

ماخذ: عین الوقایع - ۲۰۸ مخ

۱۳۳۰- امیری بدخشي: مولانا امیری د دري ژبې شاعر و، په ختم ترکمن او د بدخشان په اوهنگ و سر کې بنخ دی. په دري ژبې یې د خواجه کمال جواب ویلی - دا بیت د ده دی:

روز قسمت هر کسی از عیش بخش خود ستاند غیر زاهد کو ریاضتها کشید و خشک ماند

په ترکي ژبه یې هم ښه شعرونه.

ماخذ: مجالس النفائس -۱۸، ۱۹۳ مخونه

۱۳۳۱-امیری هروی: ملا محمد یوسف امیری دری ژبې شاعر او د شاهرخ میرزا له مداحانو څخه و، په هرات کې اوسېده، او دا بیت د ده دی:

بتی که رونق مه بود روی رخشانش
ز پستهٔ تنگ شکر ریخت لعل خندانش

ماخذ: روز روشن - ۷۳ مخ

۱۳۳۲-امین الله خان لوگری: د افغانستان د نولسمې عیسوي پېړۍ له سترو فداکارو مجاهدینو څخه و، چې په (۱۱۹۷ هجري قمري) کال د لوګر په «برکی راجان» کلي کې زیږېدلی دی، پلار یې «میرزائی خان» نومېده او موربې د «کمال خان» خرم خیلي لور وه. د ده پلار تیمور شاه ابدالي په پاچهۍ کې په کشمیر کې مامورېت درلود، او هم هلته مړ او مړی یې لوګر ته راوړه سو. دی په نائب امین الله خان مشهور دی لومړنی زده کړه یې په عربي او دري په خصوصي توګه کړې وه او ښه با عزمه سړی و، د پلار تر مړینې وروسته د ابدالي دولت نظر ده خواته واوښت او ده د پلار معاش یې چې د کال د دوه سوه تبر یزی تومانه کېدل او د ځاورو زرو روپو سره معادل وو، په مستمرۍ توګه ده ته ورکاوه.

د زمانشاه د پاچهۍ تر سقوط وروسته چې شاه محمود سدوزی د لومړي ځل د پاره د کابل پر تخت کښېنوست امین الله خان ته یې د لوګر او بتخاک خاني وسپاوله. بیا چې شاه شجاع ابدالي واکمن سو، هغه بیا د لوګر د بتخاک حکومت هم ده ته وسپاره او د «امین الدوله» لقب یې ورکې.

نائب امین الله خان د خپل حکومت په دوره کې په لوګر او بتخاک کې ډېر کاریزونه وکیندل او د مځکو د اوبه خوړاو خړوبولو د پاره یې ښه خدمتونه وکړه، او ډېری ویالې یې ویستلې، او هم یې څو کلاوی ودانې کړې او ډېر پلونه یې جوړ

جواب

ما چون از اصفهان ، روی بدین دیار آوردیم ، وهنوز استقامتی وانتظام احوالی واعتماد ممالك را پیدا نیامده بود ، از شاگرد پیشگان و خدمتگاران هر جنسی مردم را پیش ما می رسانیدند ، و کاری چنانکه مقتضی وقت میگذاردند .

امروز حالی دیگر است والحمدلله که کار ملك برقاعده نظام گرفت ، همه دل مشغولیها بر خاست وفرمان یکرویه گشت . پس ازین هیچکس را تمکین آن نباشد که در پیش ما خارج حد خویش سخن گوید . چه فرمان ماراست.

وا ما گذشته خوجهٔ فاضل را و دیگران بندگان ما اند شاگردان وی ، و اگر کسی خواهد که از محل خود راستر (؟) شود ، بدان رضا داده نیاید ، واو را بوجهی که حاجت افتد ، زجر فرموده شود ، ماخواجهٔ فاضل را رخصت دادیم ، تا آنچه واجب آید در تلافی آن خللی که روی نماید بجای آورد (۱)

---

(۱) په دوهم متن کی داسی دی: «ماچون ازسپاهان روی بدین طرف آوردیم دل مشغولیها بسیار درپیش بود که آن وقت چنان می بایست که هر کس پیش ما گستاخي میکرد وسخن میگفت ماتیز مثالی میدادیم که کار ها قرار نگرفته بود ، امروز حالی دیگر ست بحمدالله که برقاعدهٔ اول نظام گرفت وهمه دل مشغولی بر خاست وفرمان دیگرگونه گشت ونیز کسی را آن تمکین نباشد که پیش ما سخنی گوید جز ازباب شغل خویش ، دل فارغ باید داشت که فرمان ماراست وچون از گذشت خواجهٔ فاضل را ودیگران بندگان ما اند وشاگردان وی ، اگر کسی خواهد که از اندازهٔ محل خویش وشغل خود بیرون شود آن نشنویم تاندانیم بهیچ حال رضاداده نیاید واگر تلبیس کنند برسخلبسی وبگوش خواجه رسد بدان رضا داده نیایدو اگر بسوی راست مارا باز نماید تاآنچه رای واجب کند درتلافی آن فرموده شود»

کړه، چې د دې اجتماعي خدمتو له لاري یې د خلګو په زړو کې ځای و موند، او د لوګر او ښخاک ولسي مشر هم وټاکل شو .

د ابدالي دولت تر انقراض وروسته د محمد زیو په دولت کې هم معتبر و، او امیر دوست محمد خان دلوګر او ښخاک ساپه د جاګیر په توګه ده ته ورېښوولـه او دا جاګیر دیـوې شرعي عهدنامې پـه واسطه تصدیق سو، او ده هم خپله یوه لور سردار محمد اکبر خان غازي ته ورکړه او بله یې سردار شمس الدین خان ته ورپه نکاح کړه.

نائب امین الله خان دا ته پنځوسو کا لو و، چې د افغانستان پر خاوره یې د پرنګیانو د تیري خبرو اورېد، تو له هغه و خته چې شاه شجاع کابل ته راورسید او د پرنګیانو لښکرو دافغانستان په پایتخت کې خیمې ونجلې، دی آرام نه کښېناست او د پردیو استعماری متجاوزینو دور کولو د پاره یې لو یې اقشې جوړولې.

البته دی په دې عزم کې یوازې نه و، بلکه د افغان ټول ولس دده سره فکري ملګری وو، تو ځکه ژر تر ژره د مجاهدینو ټولنه ژ یاته سوه چې نائب امین الله خان یې په لوړې ډله کې ولاړو.

د پرنګیانو لښکر د(۱۲۵۵ ه ق) کال د صفري په میاشت افغانستان ته داخل سو، او بل کال د افغانستا ن په هر ګـوټ کې د هغوی پر ضد خلګ پاڅیدل،او د ۱۲۵۷ ه ق=۱۸۴۱ م کال دنومبر په دوهمه سپار ملي غورځنګ او قیام شروع سو، او د دې ملي غورځنګ مشران په هغه ورځ خلور تنه وو، چې هغه عبدالله اڅکزی امین الله خان لو ګری، سکندر خان او عبد السلام خان وو. د دې خاورو مجاهـدینو د خـپل غـــو رځـــنګ او هـڅې نـقشه د عـبدالله خــا ن اڅــکزي په کور کې طرح کړې وه او دروژې د میاشتې په ۱۷ نیټه یې سهار وختي په ښکاره د جهاد اعلان وکړ ، او د(الکسندر برنس) د کور پرشاوخوا راوګرځیدل، «الکسندر» او

د هغه وروز «چارل برنس» بې ووژل او د پرنگیانو د تجارتي نماینده کورته بې اور واچاوه او د کابل عمومي غورځنګ او جنبش پيل سو، او د هغه غورځنګ رو پايڅ تر څو ورځو پوري د «شيرپور» په دګر او د «بي بي مهرو» په غوندي يو کي د غازيانو او پرنګيانو تر منځ د جګړې په شکل دوام درلود، څو چي د غزا په يوولسمه ورځ شير پو رد ميد ا ن فا تح عبدالله خا ن اڅکزی شهيد سو، او په دا بله ورځ سردار محمد اکبر خان له بخارا څخه کابل ته راورسيد او دجګړې په ميدان ورګډ سو.

هغه چي افغاني ملیو نو د شاه شجاع او پرنګیانو دګډ حکومت په شلوروکلو کي د پرنګيانو د لاس کښېنولې پاچانه مانه، نو نواب محمد زمان خان يې په موقتي ډول پاچا تاکلی و، او امين الله خان لوګری دهغه ددوهم نائب او حتي نائب السلطنه په صفت یادیده او په هغه مهم تاريخي ترون کي چه دافغاني ملي مجاهدينو او دانګريزانو دنمايندګانو ترمنځ دافغانستان د تخليې په باب د(۱۸۴۲ م) کال دجنوري په اوله د(۱۲۵۸ ه) کال دذيقعدي په شپږمه په کابل کي لاسليک سو نائب امين الله خان د(نائب الثاني رفيع مکانی والاجاه نائب امين الله خان) په صفت يادسوی او اد دی ستر مجاهدو يارخورالوی سند دی. د کابل ترتخليې اودجلال آباد خواته دالفنستن دلښکرتر کوچ وروسته، په داسي خال کي چي اميردوست محمدخان په هند کي د انګريزانو په لاس کي بندی و، اووزيرمحمداکبرخان په جلال آباد کي دجنرال سيل دلښکرپه مقابل کي تياری نيوله، او په کابل کي د شاه شجاع سدوزی او سردار محمدزمان خان بارکزی زمانشاه ترمنځ پرتاج اوتخت شخړه وه، اوله بلی خو اجنرال پالک د افغانستان له ولس څخه د کسا ت اخيستلو په عرض له پيښوره دجلال آباد خواته په راخوځيدوو، يواز يني سړی چي د شهزادګانواوسردار- انودرقابت اودانګريزانودتهديد اوتفتين په منځ کي په ډيري بي طرفی اودسرانديشی حالاتو څارنه کوله محمدانائب امين الله خان لوګری و، خو په دی ترځ کي دشاه

شجاع وژل کېدل او په جلال آباد کې د سردار محمد اکبرخان ماتې او د افغانستان خاورې ته د جنرال پالک راننوتل او ضاع د یره مغشوشه کړه، او د (۱۲۵۸ هـ ق) کال د دریمې خور رجب او برات په میاشتو کې د ملي مشرانو ترمنځ اختلافات پېښ سول، د کابل په بالاحصار کې د شاه شجاع زوی فتح جنګ د پاچهي اعلان وکې، او دده او نواب محمد زمانخان ترمنځ چې د پاچهي غوښتونکي و، جګړې پیل سوې او د فتح جنګ د طرفداري په سبب د نائب امین الله خان لوګری کورچور او چپاو سو، په دې وخت کې سردار محمد اکبر خان له جلال آباده کابل ته راغلی او د سرنجان په تپه کې یې د فتح جنګ سره جګړه شروع کړه، څو چې په پای کې د نائب امین الله خان په ګواښن دا سې فیصله سوه چې فتح جنګ دې پاچا او سردار محمد اکبرخان دې وزیر وي، او له همغې نېټې سردار محمد اکبرخان د وزیر په صفت شهرت وموند، خو له بده مرغه چې دې فیصلې په بوداسې وخت کې چې جنرال پالک لښکر کابل ته دراسیدو په حال کې و سلت او مملکت ته یې څه ګټه نه درلوده، ملي مجاهدین ز یاتره سره تیت او پرک سوي وو، وزیر محمد اکبرخان بامیان ته ولاړ، فتح جنګ د انګریزانو تر بیرغ لاندې سو نواب محمد زمانخان چې انګریزانو خپل دوست باله په خپل کور کې پټه خوله کښېنوست، یوازې کوم مجاهد چې په یوازسري د پروان د سیمې غازیان پر ځان راټول کړه او د استالف په غونډیو کې یې د ‹‹ سك کمسل ›› انګریز او د انګریزانو د متجاوزي قوي سره تر پایه مقابله کوله هغه د نائب امین الله خان لوګری و، چې انګریزانو دی د ځان لومړی درجه دښمن بللی دی، او حق لري چې مونږ یې هم د ستر غازي او مجاهد په صفت و پېژنو د دښمن لښکر لکه څنګه چې د ده آرزو وه له افغانستانه ووت، خو له بده مرغه چې د افغانستان داخلي سیاسي کشالو ده ته نورد خدمت موقع ورنه کړه، او د امیر دوست محمد خان د پاچهي په دوهمه دوره کې به (۱۲۷۴ هـ) کال په بالاحصار کې د هغه امیر له خوا بندي کړه سو، او به همغه کال د

د ۸۷ کالو په عمر په محبس کې مړ سوخدای دې وبخښي ، او ده د سړانې او ننګیالیتوت خاطره به ترابده د افغان ملت او ټولو پښتنو په تاریخي افتخار اتو کې ثبت پاته وي.

ماخذونه: ۱-رجال ورویداد های تاریخي ـ د ښاغلی کهزاد اثر ۱۰۰ مخ

۲-د ښاغلی غبار یاداښتونه

۱۳۳۳-امین بلخي: محمد امین د نهمې هجرې پېړۍ د دري ژبې شاعر او د بابر میرزا له نوکرانو څخه و. دی د «امیني بلخي» پلار، او په استرا باد کې مړ ، ۲۳او دا بیت ده دی:

ای سیه چشمان خطائی سرغ جان را با توانس

وزسیه چشمان دیگر همچو آهو دل برم

ماخذ: لغتنامه ـ دالف ۲ برخه ـ ۲۴۹ مخ

۱۳۳۴-امیني بلخي: د محمد علی امین بلخي زوی او د امیر علیشیر نوایي ده معاصرینو څخه و. په دري ژبه یې شعر وایه، او امیر علیشیر ده په باب کې لیکي:

« جوانی بسند یده و در نظم طبعش بغایت ملایم است »

دا مطلع ده دی:

یار د رسلسله نازو عتابم دارد

با دیوانگی عشق خرابم دارد

ماخذونه: ۱-مجالس النفایس-۷۵ مخ

۲-لغتنامه- دالف ۲ برخه -۲۵۱-

۱۳۳۵-امیني بلخي: ابو سراقه عبدالرحمن د احمد زوی او د نجارنمسی د غزنوي دورې له شاعرانو او د سلطان محمود غزنوي له مداحانو څخه و.

د همدې کتاب د «ابو سراقه» نامه ته دې رجوع وسي.

مأخذ: لغتنامه- دالف ۲ برخه - ۲۵۱ مخ

۱۳۳۶-امینی هروی: ابراهیم دمیرک جلال الدین قاسم زوی او دمیرک محمد امین نمسی مشهور او په صدرالدین امینی د «فتوحات خوارزم شاهی» مؤلف د هرات له نومیالیو عالمانو څخه و.

تر (۹۲۶ ه ق) وروسته مړدی، او دسلطان حسین میرزا له وزیرانو څخه و.

ماخذ: هدیة العارفین- ۲۶/۱ مخ

۱۳۳۷ انبیأ خان تایمنی: دامیرعبدالرحمن په وختو کی د تایمنی تبر مشر اولوی خان و. په (۱۲۹۸ ه) کال چی د سردارمحمد ایوب خان له اطاعته سر وغړاوه، خپل قوم او تبر یې بریښود د فیروز کوه غرونو ته و خوت او هلته یې ژوند تیراوه. هغه وخت چې یې دامیرعبدالرحمن خان د پاچهی او جلوسه وارویده نود تایمنی او فیروز کوهی خلکو په اتفاق د اطاعت یوه عریضه ولیکله اوددغ آن برحایشه یې مهرونه ولګول اود مزار د نائب الحکومه سردار محمد اسحق خان په واسطه یې امیرته واستوله، او امیر هم و باخښه.

مأخذ: سراج التواریخ - ۳/۳۸۰ مخ

۱۳۳۸-انتخابی خراسانی: نوم یې «وردی بیګ» او تخلص یې «انتخابی» د خراسان د دری ژبی شاعرو له خراسانه هند ته تللی، او هلته یې وده مو ندلې وه، خو په زلمیتوب کی مړ دی.

دا بیتونه د ده دی:

د و د دل کرده غبار دل افلاک مرا
این چه گردست که برخاسته ازخاک مرا
میکند ساقی ما باده بجام از سر زلف
خون دل میدهد ازشیشه رگ تاک مرا

عصمت آن‌روز که شد پرده‌نشین قسمت کرد
حسن را دامن پاک و نظر پاک مرا

***

موکمندی صید دام پیچ و تام کرده است
نو خطی استاد مشق اضطرابم کرده است

داغم از دلجوشی این مصرع صائب که گفت
«گرم خوی آتشین رویی کبابم کرده است»

●●●

شکایت نامهٔ ما را پر پروانه می باید
که نوک کلک ما چون شمع آتش برزبان دارد

مأخذ: شمع انجمن- ۶۰ مخ

۱۳۳۹-۱: نخر گل پیښوری: د پښتو ژبې شاعر و، د پېښور په شاو خوا کې اوسېد، اویه (۱۲۲۷ هـ ش= ۱۲۶۳ هـ ق) کال یې د «ترانهٔ محفل» په نامه یو کتاب له اردو او دري ځخه په پښتو را اړولی دی چې یو خوږ کیسه ده، نظم یې مثنوی دی او په دې کیسه کې یې د سلطان محمود غزنوی عدالت او د ښځو عفت بیان کړی دی - د کیسې په سرکې ترجمداو ثناوو سته خاتمه داسې وا یي:

لاس کړه پورې په کیسه باندې تلوار کړه سامعان يې د محفل تول خبر دار کړه
شپه تيره پوې لږ ساعت دی پکښې پاتې د رنګ ساعت له ماوغان باغ ته کړی
ماتې یخ نسیم به د سبا اوس جاري کېږي سرو ر گل به گلشن کی پخو لا کېږي
سرو کج گردن د باغ منځ کی ولاړه د بلبل دنه راتلو په زړه لتاړه صنوبر خواره کړه
لاس د بېر دی خوشاله همسري له دی چنار راغلی خواله شمشاد چوب په لاس ولاړ

منځ کې د باغ د بلبلو تول ته کله ورېږ دی زاغ سبزه رنګ توتا په غاړه کړ خپل طوق
ځې خدمت له یې ګلشن ته په ډېر شوق ته هم واخله خپل قلم و کړه تحریر حاضران
کړه د مجلس بوی [illegible] ز ډېر ددی کیسې پهلوانان «روښن بانو» او «نیک اختر» دی.

مأخذ: ادبی ستوری – مخ د ښاغلي رفیع لیکنه

۱۳۴۰ – اندالی: میرمن اندالی د افغان دویدی عصر (۲۰۰۰ _ ۱۰۰۰) کاله ترمیلاد مخه) شاعره وه ، چې اشعاریې دریګویدا دلسم کتاب په ۵ ۱۴۰ سرود کې راغلی دی او د یوه شعر دڅو بند و پښتو ترجمه یې داده : دسپیتنیبا د هم

sapetniloadhanam

په نامه :

-۱-

«زه داولیږم له سخکې راښکوم – داداسې بوټی دی چې دخو را لوی اثر قوه لري –
کېږد ای سې چې زه به هغه خپله بن مغلوبه اومېړه دځان کړم »

-۲-

«اې ښکلې وانیه ! اې د پسرو رو پا نو لرونکې – چې خدای را لېږلی یې –
ای بریالیه وانیه ! بن وشړه او مېړه مې یوازې زما کړه ! »

-۳-

«اې هغه څوک چې ته غښتلې یې ! اې تر هر وا کمن ، وا کمنه ! زه غښتلې
یم ، او زما بن تر ډېرو کښېنو ښځو کښېنه ده. »

-۴-

«د هغې نوم زه نه یاد وم – داله دې مېړه سره خوښه نه ده ، سو داین ډېر لېږی
لېږی شړو. »

-۵-

«زه بریالی یمه او ته ، ته هم بریالی او بریمن یې – نو چې د بری کاته زموږ خواته

دی موږ دواړه په زړه بن مغلو به کړو .

-٦-

«مور، ته لاس ته راوستلی یې - ته سی په ډیرغښتلی جادو په منګلو کی نیولی یې لکه غواچی دځپل سخوندرخو اته ځغلی - پرېږده چی ستا روح هم هغسی زمالوری ته راووځغلی دتند واوبو په څیر چی په ویاله کی منډی وهی، په ډیر تلوار زما خواته راوځغله!»

ماخذونه: ۱-پښتنی میرمنی- ۲۴ مخ

۲-آریانا مجله -۶ ګڼه

۱۳۴۱-انزله خان پوپلزی: داحمد شاه بابا له نومیا لیو سالارانو څخه و، چی «دنسقچی باشی» منصب یې درلود، اوهم داحمدشاه بابا دپاچهی په لومړیو کلو کی داحمدشاه بابا له خوادهرات واکوال ټاکلی سوی و .

په (۱۱۶۳ هـ ق) کال چی احمدشاه بابا دملی او سیاسی وحدت په لړ کی هرات دخپلی پاچهی په سر کزپوری ونښلا وه او د هغی سیمی وحدت یې ټامین کی، نو دهرات سرداری یې انزله خان ته وسپارله او دهرات بیګلربیګی یې درو یش علی خان هزاره وټاکه . بیا انزله خان دخراسان، بلوڅستان او هندوستان په ز یاترو فتوحاتو کی داحمدشاه بابا دلښکر په سالارانو کی و، او هغه وخت چی په هرات کی و، څو ځلی دخراسان دخواف دحاکم اسماعیل خان په بلنه د هغه مرستی ته ور غی او هغه یې دشاه رخ میرزا دلښکر له یرغله وژغوره ، او اسما عیل خا ن چی به هروارله احمد شاه بابا څخه سرسته غوښتله نو احمدشاه بابا انزله خان دلښکر سره ور لیږه .

په بلوڅستان کی چی نصیرخان بلوڅ احمدشاه بابا ته یاغی سوی و، هم دا انزله خان داحمدشاه بابا په لښکر کی و، او هندوستان دغزاګانو په وخت کی هم په (۱۱۷۴ هـ ق) کال لومړی پښتون سالار چی د ډهلی په ښارننه ووت انزله خان و .

ماخذ: تاریخ احمدشاهی - ۱/ ۶۵، ۲۶۵، ۱۳۰، ۳۴۰، ۲/ ۴۱۲ مخونه .

اودریم ۷۸۰، ۱۰۳۰ مخونه

۱۳۴۲-انسی-یا-انسی کندهاری محمد شاه انسی کندهاری -یا-انیسی کندهاری د کندهارله خانزادگانو څخه و،چې د ظهیرالدین بابر سره هند ته تللی او تر ډیره وخته د هغه دربار پېښې لیکونکی و، او هم د همایون په زمانه کې پېولو رو منصبونه ورسېده. په دري ژبه یې شعرو ایه، او په (۹۷۳ هـ) کال په لاهور کې مړدی او دا بیتونه د ده دي:

سرشکم رفته رفته بی تو دریاشد تماشا کن
بیا در کشتی چشمم نشین و سیر دریا کن

●●●●●●●●

خنجر بمیان تیغ بکف چین بجبین باش
خونریز جفاپیشه کن و برسر کین باش

●●●●●●●●

ازاهل وفا بیخبری را چه کند کس
مائل بجفا سیمبری را چه کند کس

ماخذونه: ۱-شمع انجمن - ۵۶ مخ
۲-تذکرهٔ حسینی " ۳۰ "

۱۳۴۳-انصاف خراسانی: میرزا محمد مقیم «انصاف» اصلاً د خراسان و، خو په هند کې اوسید - په شعری طبعه یې درلوده، او د مرءآة الخیال» د تذکرې د مؤلف معاصرو (۱۱۰۲هـ).

دیوې غزلی مطلع یې دادی:
بیا ای ساقی بزم دل از عشق تو مدهوشم
که شد خمیازهٔ پیمانه از یاد توآغوشم

مأخذ: مرءآة الخیال - ۳۰۳ مخ

۱۳۴۴-انصاف خراسانی: محمد ابراهیم «انصاف» ددری ژبی شاعر او اصلاً دخراسان و، خو وده یې په پنجاب کې کړې وه او د مولوی خان فطرت شاگرد و.

د(۱۲۰۰ ه) کال په شاوخوا کې سړدی او دا بیتونه دده دی:

حایل خورشید وحدت رنگ هستی های ماست
چون زمین از پیش بردارند روز وشب یکی است

●●●●●

دلم را جلوهٔ غیری نسازد غافل از یادش
بدست هرکه هست آئینه ام تمثال او دارد

●●●●●

با دلازی زیارت می کند خاک شهیدان را
که پندار ی گذر در خاطر هر آرزو دارد

●●●●●

مأخذ: نتایج الافکار-۵۳ مخ

۱۳۴۵-انگو خان هوتک: د یحیی خان زوی او د ملی قاید میرویس نیکه وراره و، چې د آزادی د تلو په زیاترو مبارزو او جگړو کې د خپل پلار او تره سره ملگری و.

دده اصلی نوم «محمد خان»، خو ده غه وخت په پښتو کې په «حاجی انگو» مشهور و، او یو څه موده هم د څختران حکمران و.

مأخذونه:

۱- حیات افغانی-۲۵۷، ۲۶۳ مخونه

۲- هوتکیان-۱۳۳ مخ

۱۳۴۶-انور: د پښتو ژبی شاعر او د مطیع الله شاعر معاصر و، دده شعرونه

فصل چهارم

د یوان عرض ودیوان وکالت دو دیوان بزرگست باید که متولیان این دو دیوان کسانی باشند که خداوند عالم آدم الله سلطانه ایشان را بشناسد و بنام و نان و جاه، کفایت ومناصحت وامانت معروف باشند، ومحاسبات ایشان، معلوم بنده میگردد بر ادوار روزگار، چه اندرین دوشغل گزافها رود، باید فرمود تا این هردو دیوان پس از فرمان عالی، اشارات ورای بنده را مقتدا دانند، وبرای خویش مستقل ومستبد نباشند (۱)

---

(۱) په دوهم متن کی دافصل د«الموضعه» ترعنوان لاندی داسی دی:

(دیوان عرض ودیوان وکالت دیوان بزرگست ومتولیان آن کسانی باید که خداوند عالم ادام الله سلطانه اختیار کند، کسانی که ایشان را ایام جاه وحشمت باشد، اما چنان باید که بر احوال حساب های کسان بنده واقف باشد که اندر این دو شغل گزافها نرود که رای عالی بسرآن نتواند رسید، فرمان باید درین معنی تا متولیان این دوشغل برحدو اندازه خود بایستند وگوش در فرمان عالی ومثال های بنده دارند تاخللی نیفتد - والله الهادی الی طریق الرشاد»

لاس ته نه دی راغلی خو مطیع الله پخپل یو شعر کی دده شاعری یاده کړېده چی وایی :

د «انور» د «قنبر» شعر به باطل که مطیع الله شکل را بع شه له ثنا جه

مأخذ: دپښتو داد بیاتو تاریخ - ۹۶ مخ

۱۳۴۷-انوری ابیوردی - بیا - بلخی : د شپږمی هجری پېړی په دوهمه نیمایی کی د دری ژبی د شعر له هغو سترو استادانو څخه وو چی دهغه وخت د دری ژبی د شعری سبک په بدلون کی یی څرگنده اغېزه درلوده .

نوم یې محمد، لقب یې اوحدالدین، تخلص یې لومړی «خاوری» او بیا دده داستاد «عماره» په اشاره «انوری» شوی دی .

پلار یې محمد - یا - علی د اسحق زوی نومېده، او د زېږېدو ځای یې دابیورد د «بدنه» کلی، او د مړینې او ښخېدو ځای یې د افغانستان «بلخ» دی .

ده خپله علمی زده کړه د «طوس» په «منصوریه مدرسه» کی بشپړه کړې وه او په ټولو متداولو علومو کی یې لوی لاس درلود، په تېره بیا په نجوم او ریاضی کی استاد وه وروسته یې شعر ته مخه واړوله او د هاتفی شاعر په وینا په دری شعر کی هم د پیمبری مرتبې ته ورسید. هاتفی وایی :

د ر شعر سه تـن پـیمبرا نـند   قـولی است که جملگی بر آنند

فــردوسی و انـوری و سعدی   هـر چند که لا نـبی بـعدی

او پخپله انوری هم وایی:

گرچه در بستم در مدح وغزل یکبارگی

ظن مبر کز نظم الفاظ ومعانی قـاصرم

بلکه از هر علم کز اقران من داند کسی

خواه جزوی گیر آنرا خواه کلی قادرم

منطق و موسیقی و هیات شناسم اندکی

راستی باید بگویم با نصیبی وافرم

در الهی آنچه تصدیقش کند عقل سلیم

گر تو تصدیقش کنی در شرح و بسطش ماهرم

نیستم بیگانه از اعمال و احکام نجوم

ور همی باور نداری رنجه شو من حاضرم

وز طبیعی رمز چند از چند بی تشویر هست

کشف خواهم کرد اگر حاسد نباشد ناظرم

این همه بگذار با شعر مجرد آمدم

چون «سنائی» نیستم آخر نه همچون «صابرم»

دولتشاه لیکي چې: «راوي دي چې سلطان سنجر د مرو په دروازه کې ولاړ و، انوري د مدرسې د دروازې ترڅنګ ناست وه، ویې لیده چې یو سړی په ډېر درناوي سره تېریده. ده پوښتنه وکړه چې: «دا څوک دی؟»

خلکو ورته وویل: «دا د دربار یو شاعر دی» (۱)

انوري وویل: «سبحان الله!

د علم د دې لوړې مرتبې سره زه داسې اسکېر لیاو مفلوک او دغه د شاعرۍ کښېتې مرتبې سره د مره محتشم ؟!

د ذوالجلال په عزت مې دې قسم وي چې تر نن وروسته به زه هم په شاعرۍ

---

(۱) مقصود د امیر معزي و.

چې زما سرانېو کښېنه ده، بوخت سم » او په همغه شپه يې يوه قصيده د سنجر په نامه وويله چې مطلع يې دا دی:

گر دل ودست بحر و کان باشد　　　دل و دست خدایگان باشد

او سبا يې سلطان سنجر ته ورو ړه ، د سلطان ډېره خوښه سوه، نو پوښتنه يې وکړه چې د ملا زمت شوق لري، او که د خه طمع د پاره راغلی يې ؟» انوري مخکښې سپږ کړه او ويې ويل :

جز آستان توام در جهان پناهی نیست

سر مرا بجز این در حواله گاهی نیست

همغه و ، چې سلطان سنجر يې ته　　　مناسب معاش او کار ور ته

ورنا که ،او انوري د سلطان سنجر د دربار ستا ينډوی سو .

خو ځيني خېړونکي دا خبره چې همغه قصيده دی چې انوري لومړی وار د سلطان سنجر په ستاينه ويلې ده، د ده لومړی قصيده وی له حقيقته لیری گڼی ، ځکه چې همغه قصيده د انوري له خورا پخو او غرا قصيدو څخه گڼل کیږی (۱) شبلی نعمان هم په شعرالعجم کی لیکي چې پخپله د انوري له وينا څخه څرګنديږي چې د اقصيده يې لومړی قصيده نه ده بلکه ترلسو کالو انتظار ور وسته يې ويلې ده، ځکه چې وايي :

خسروا ! بنده را چوده سال است که همی آرزوی آن باشد کز ندیمان مجلس ارنشود از مقیمان آستان باشد (۲)

شبلی نعماني زياتوي چې : د سلطان سنجر دربار ته د انوري د ورتگ کیفیت

---

(۱) تاريخ ادبيات در ایران- ۲/ ۶۵۹ مخ

(۲) دشعرالعجم دري ترجمه – ۲/ ۲۰۶ مخ .

داسې وچې، نه يوه سوده شعروايه ، خو دربارته بې ځان رسولای نه سو ، او عيب يې هم داو، چې د دربار ملك الشعراء امير معزي نه غوښتل چې كوم شاعر د سلطان نه نظر كې قدرمن سي ، او ځنګه چې يې يوه داسې قوي حافظه درلوده چې هره قصيده چې به يې يو ځل واروېدله په ياد وه به يې ، نو هر وخت چې به يوه شاعر يوه قصيده دربارته وروړه ځنګه چې امير معزي ملك الشعرا او ، نو لومړى به يې هغه ته اوروله ، او هغه به په يو وار اورېدلو په ياد كړه ، او چې شاعر به هغه قصيده سلطان ته واوروله امير معزي به ورته وويل چې : « دا قصيده ما ويلې ده ، او ټوله قصيده به يې له سره ترپايه په ياد سلطان ته بيا وېله ، او هغه شاعر خوار به خجل سو .

انوري چې له دې حاله خبر و ، يوه ورځ يې زاړه او څيرې پرې كالي واغوستل او ديوه بوله او پرېشان حاله سړي په څېر امير معزي ته ورغى ، ورته وې ويل : « زه شاعر يم او د سلطان په ستاينه كې مې يوه قصيده ويلې او د ځان سره مې راوړې ده ، غواړم چې هغه سلطان ته وړاندې كړې » .

امير معزي ورته وويل چې : « ته يې ولوله چې څه دي ؟ » انوري داسې پيل كړه :

زهي شاه و زهي شاه و زهي شاه

زهي مير و زهي مير و زهي مير

معزي ورته وويل : « كه دې داسې ويلې واى چې :

زهي شاه و زهي شاه و زهي شاه

زهي ماه و زهي ماه و زهي ماه

نو ديوې قصيدې مطلع كېده » انوري په چټياتو خوله پورې كړه - معزي وليده چې دى د دربار د مسخرګۍ د پاره ډېر ښه ور دى ، نو ورته ويې ويل چې : « سباته راسه ! »

بله ورځ چې انوري ورغى ، نو معزي د ځان سره سلطان ته ورولوست

او اشاره یې وکړه چې: «هغه قصیده چې د سلطان په ستاینه کې دی ویلې ده و اوریدله» انوري په شاعرانه لحن دغه قصیده په ویلو خوله پوري کړه:

گر دل و دست بحر و کان باشد

دل و دست خدایگان باشد

شاه سنجر که کمترین خدمش

در جهان پادشه نشان باشد

دا دوه بیته چې یې ولوستل نو یوه لحظه پټه خوله سو، او معزي ته یې وویل: «که دا قصیده تا ویلې ده نو نوره پاته برخه اې ولوله»

معزي څه ونه ویلای سوه، او انوري ټوله قصیده بشپړه ولوستله او د سلطان سنجر ډیره خوښه سوه، او دی یې د خپل دربار ندیم و ټاکه، څو چې د وني معتبر سو، چې سلطان سنجر د خپل هغه برم او جلال سره چې درلود یې دوه واره د انوري د لیدلو دپاره د انوري کور ته ورغی.

انوري د خپل ژوند زیاته برخه چې په خپله دا نوري په وینا د برش کاله کېده (۱) د سلطان سنجر په دربار کې تیر کړه، خو وروسته د یوې پېښې په سبب انوري نور ملازمت ونه شو باله، د سلطان سنجر دربار ریې پرېښود، او نیشاپور ته ولاړ،

هغه پېښه داسې وه چې انوري د میزان په برج کې داوو سیارو ستورو د یو ځای کېدو پیش گویي وکړه او وویل چې په هغو تاکلې ورځ کې به داسې شدیده سیلۍ را والوزي

---

(۱) لکه چې وایي:

خدمت سي سال را آخر بپا به حرمتي

خدمت سي ساله در حضرت نباشد سرسري

چې تړاوې ودانۍ او عمارتونه به ونړوي ، او ددې پېشګويي خبره ويه خلکو کې داسې وحشت پيدا کې چې زياتو خلکو ترهغې ټاکلې ورځې پورې تر مځکې لاندې داسو ګنې خاپونه وکيندل او په هغه ټاکلې ورځ په هغه کې پټ سول، خو په هغه ورځ اتفاقاً دونې باد نه و، چې حتى يوه نيوه سره کړي ، سلطان سنجر انوري ورو غوښت ، او وريانده ي په قهر سو ، خوده په جواب کې ورته وويل چې: د قرانانو احکام داسې نه دي چې فوراً عمر ګندسي ، او «فريد کاتب» شاعر دشعر داتو ته و ويله:

ګفت انوري که از جهت بادهای سخت   ويران شود عمارات و کاخ سکندري

در روز حکم او نوزيده است هيچ باد   يا مرسل الرياح تو داني و انوري

هغه و، چې نيشاپور ته ولاړ، مګر څنګه چې د انوري د شهرت اواز هر لوري ته خپره سوي وه، نو د شاو خوا ټولو اميرانو دى خپلو دبارو ته باله ، له هغه جملې څخه يو هم سلطان احمد پيروزشاه و، چې په (۵۲۳ ه) کال يې ده ته يو ليک واستوه او دى يې خپل دربار ته ور وغوښت خو چې بلخ ته ورسېد د جيحون ترسينده د پور يوتلو له بيري يې له هغه سلطان څخه عذر وغوښت او هم دلته په بلخ کې پاته سو ، خو څنګه چې ده په هجو ويلو کې هم لوی لاس درلود ، او په هجو کې به يې هم بکرا و لطيف مضمونونه ځای ول دی پخپله وايي :

سه بيت رسم بود شاعران طامع را   يکي مديح و دگر قطعه تقاضايي

اگر بداد سوم شکر و رنداد هجا   از اين سه بيت دو گفتم دگر چه فرمايي

نو ده مخالفو شاعرانو چې دده له هجو څخه په تنګ سوي وو، او يا يې رقابت ورسره درلود په دې وخت کې دده په نامه د بلخ هجو جوړه کړې او دا انوري په نامه يې په بلخ کې خپره کړې چې يوه هجو هم د «فتوحي» شاعر وه چې د «حکيم سوزني» په اشاره يې په بلخ کې خپره کړې وه ، او د بلخ خلک يې د انوري پر ضد پاروني وو، چې څو بيتونه يې دادي:

چار شهر است خراسان را بر چار طرف   که وسطشان بمسافت کم صد در صد نيست

گرچه معمور و خرابش همه مردم دارد   نه چنانست که آبستن دام و دد نيست

بلخ را عیب اگرچند باوباش کنند　　بهر بیخردی نیست که صدبخرد نیست

حبذا شهر نیشاپور که در ملک خدای　　گر بهشت است همین است وگرنه خود نیست

دی عجوبه بلخ د بهار خلک دونی راو باروی چی د انوری لاسونه بی وتړل او د بازار په بازار و بی وګرځاوه، حتی د ښځو لو پیرنی هم پیدا وه، خو چی د بلخ مشهور قاضی حمیدالدین د مقامات حمیدی ښه خاوند چی د ده په نزدی دوست و، د انوری په د دور میدی او د مرګ له خطره بی وژغوره. خو بختیله انوری ښو ځایه د بلخ له هجو نه ځینی انکار کری دی او هغه بی پر بخوا ن تهمت بالی دی، مثلاً د پورتنی قاضی حمیدالدین د ستاینی په قصیده کی وائی :

ای مسلمانان فغان از دور چرخ چنبری،
وز نفاق تیر و قصد ماه و کید مشتری

خیره خیرم کرد صاحب تهمت اندر هجو بلخ
تا همی گویند کافر نعمت آمد انوری

قبة الاسلام را هجو ای مسلمانان که گفت
حاش لله بالله ار گوید جهود خیبری

آسمان گر طفل بودی بلخ کردی دایگیش
بلکه داند کرد معمور جهان را مادری

افتخار خاندان مصطفی در بلخ و من
کرده ام اندر خدمتش عمر بوذری

با چنین مکان که گر از قدرشان عقدی کنند
فارغ آید چرخ اعظم از چه ازین زیوری

هجوگویم بلخ را هیهات یارب زینهار
خود توان گفتن که زنگارست از جعفری ؟

بالله ار بر من توان بستن بمسما ر قضا
جنس این بدمیرنی یامثل آن بدگوهری

خاتم حجت در انگشت سلیمان سخن
افترا کردن برود گیرد از دیو پری

با زبان آخر کلام من زمنحول حسود
فرق کن نفس الهی را ز نقش آزری

عیش من چون افترا تلخی گرفت و تو هنوز
چربك او همچنان چون جان شیرین میخوری

مرد را چون ممتلی شد از حسد کار افتراست
بدمزاجا افراقی افتد در مجالس از پری

خود بیا تا گر نشینم راست گویم یك سخن
تا ورق چون راست بینی از کتابه ها بهتری

چون مراد ر بلخ هم از اصطناع اهل بلخ
دق مصری چادری گردست ورومی بهتری

زیر سالکی چنان فارغ نباشد کس چو من
حبذا ملکی که باشد افسوش بی افسری

دی زخاك خاوران چو ذره مجهول آمده
گشته امروز اند رو چون آفتاب خاوری

با چنینها آنچنا نها زا بداز خاطر مرا
بس عجب ناز آب خشکی زا بداز آتش تری

اینهمه بگذار آخر عاقلم در نفس خویش
کادمی را عقل نیست از ممکنات اکبری

پس چه گویی خطه یی را هجو گویم کز درش
گرد را آید د بو بهدا ز برون سستکبری

هیچ عاقل این کند آنگه که یکسوا مگند
اصل نیکوا عتقادی رسم نیکو محضری

رو که از یاجوج بهتان رخنه هرگز کی فتد
خاصه در سدی که تاییدش کند اسکندری

خاك پای اهل بلخم کز مقام شهر شان
هست بر اقران خویشم هم سری هم سروری

په دې قصيده، كې چه اوږده قسمنامه هم د بلخ له هجو څخه د تبرا : باره لیدله کیږی، هغه وچې انوری سلطان احمد پیروز شاه ته یوه قصیده ولیږله چې څو بیتونه یې دا دی :

زین حال که در بلخ کنون دارم
از خوف پریشانی و گمراهی

زین پیش اگرو هم و گمانی بر دی
آن مخطی کو ته نظر شاهی

بر عبرهٔ جیحون نه به آسو زش
چون بط به طبیعت شد سی راهی

سلطان هم خپل یو باوری سړی انوری ته ورولیږه او هغه یې خپل دربار ته بوت ، چې

دا نوری د وینا سره سم د ده دا تکټ په (۵۴۳ هـ) کال کې و، لکه
چې وایي :

سال بر پانصدوسی وسه از تاریخ عجم
گفت برخیز که از شهر برون شد همراه

داسې هرګند پېرې چې انوري د بلخ تر بلې پيښې وروسته له هجو و بلو څخه
لاس اخیستی دی لکه دېوچا په جواب کې چې وايي:

دی‌مرا عاشقکی گفت غزل میگویی
گفتم‌از مدح وهجا دست بیفشاندم هم

گفت‌چون ؟ گفتمش‌آنجا لت گمراهی بود
حالت رفته دگرباز نیاید زعدم

غزل ومدح و هجا هرسه ازآن میگفتم
که مرا شهوت‌و حرص وغضبی بود بهم

آن یکی‌شب همه‌شب درغم‌واندیشهٔ آن
که کند وصف لبی چون شکر وزلف بخم

وآن دگر روز همه روز درآن محنت‌وغم
که کجا از که‌وچون کسب کند پنج‌درم

وآن سه دیگر چوسگ‌خسته تسلیش‌بدان
که ز بونی‌بکف آرد که ازو آید کم

چون خدا این‌سه سگ گرسنه راحاشا کنم
باز کرد ازسرمن بندهٔ عاجز بکرم

غزل ومدح وهجاگویم ؟ یارب زنهار !
بس که بانفس جفا کردم و برعقل ستم

جواب

رسم چنان رفته است ، که سخن در چنین ابواب باوزراء گویند ودر روزگار پدر سلطان ماضی همچنین معهود بوده است ، واین دو دیوان را هنوز ترتیبی داده نیامده است متولیان نامزد نفرموده ایم ، وتا این غایت کاری میراندند بر قاعده ، ومیخواسته ایم که دیوان وزارت را رونقی و قراری دهیم ، دیگر ابواب خود تبع آنست . اکنون چون این مهم از پیش برخاست ، و کار دیوان را نظمی وضبطی ونسقی پیدا آمد ، با خواجهٔ فاضل اندرین باب رای میزنیم ، واین دو شغل را دو مرد بکار آمد ه و با نام ، باستصواب خواجهٔ فاضل نامزد کنیم ، وفرمائیم ، تا بر مثال های وی کار کنند ، ودر دخل وخرج وحل وعقد وخفض ورفع با دیوان وزارت رجوع کنند ، تا خللی نیوفتد وتضییعی نرود ، چه اگر نه بدین جمله باشد ، وخواجهٔ فاضل اغماضی کند ، وبرسبیل مساهلت رود ، بهیچ حال رضا داده نیاید و باوی عتاب رود(۱)

---

(۱) دد وهم متن عبارت داسي دی: «رسم چنان رفته است که سخن در چنین ابواب باوزیر گویند وما چنین دیده ایم پدر بر پدران ماضی انار الله برهانهم مر آن دو دیوان را هنوز ترتیبی داده نیامده است ، متولیان نامزد کرده نشده ، که چنانکه آمد یم تا این غا یت کاری می راندیم وخواستیم که سخن کار وزارت انتظام داده شود که دیگر دیوانها تبع آنست ، اکنون چون کار قرار گرفت با خواجهٔ فاضل درین باب رای زنیم ، تا بدین دو شغل هم دو مرد کار آمده باید تا نام ستانده هر کس بدان کار قیام کنند ، هرچند ایشان چاکران وبر کشید گان ما باشند از شاگردان وبند ، بر مثال وي کار می باید کرد وخواجهٔ فاضل را از دخل وخرج وحل وعقد وقبض و و بسط ایشان آگاه می باید بود ، تا خلل نیفتد وتضییع نرود واگر نه برین جمله باشد وخواجهٔ فاضل مشاهده بکند بهیچ حال بدان رضا داده نیاید وباوی عتاب نرود »

انوری لاف زدن پیشهٔ مردان نبود
چون ردی باری مردانه نگه دار قدم
گوشه یی گیر و سر راه نجاتی بطلب
که نه بس دیر سراید بتو راین دوشه دم

او هم د اسی ښکاري چې د ژوند په وروستيو وختو کې له دربار و هم گوښه سوی دی او هغه وخت چې سلطان علاالدين غوری خپل دربار ته وبالله سده هغه بلنه ونه منله ،

او په جواب کې یې دا بیتونه ورولیږل:

کلبه ای کاندرا و بروز و بشب
جا یکی د ارم اندر و که ازاو
چرخ درعین رشک و تاب من است

هر چه در مجلس ملوک بود
همه در کلبهٔ خراب من است
وحل اجزا و نان خشک درو
گرد خوان من و کباب من است

قلم کوته و صریر خوشش
زخمه و نغمهٔ رباب من است
زخرقهٔ صوفیانهٔ اطلس
ازهزار اطلس انتخاب من است

هر چه بیرون بود ازاین کم و بیش
حالش للسامعین عذاب من است

خدمت پادشه که باقی باد
نه بیازوی خاکک وآب من است

زین قدر راه رجعتم بسته است
آنکه او مرجع و مآب من است

وین طریق ازنمایش است خطا
چه کنم این خطا صواب من است

نیست این بنده را از زبان جواب
جامه و جای من جواب من است

مړینه: انوری دژوند په پای کې په بلخ کې اوسید، او په بلخ کې سراو د سلطان احمد خضرویهٔ بلخي دمزار ارخ ته ښخ دی. خودمړینې په نیټه کې یې اختلاف سته:

دولتشاه سمرقندي یې په (٥٤٧ه) کال کې ګڼي، اود مجمع الفصحا خاوند «هدایت» یې په (٥٧٥ه) کې بولي اوحاجي خلیفه په کشف الظنون کې (٥٦٠ه) کال لیکلی، او لطفعلي بیګک په (٥٥٦ه) کال کې راوړي او امین احمد (٥٨٠ه) کال لیکلی او محمدعبدالغني په پخپل تذکرة الشعرا کې (٥٨٠ه) کال ضبط کړی او تقي الدین کاشي (٥٨٧ه) کال راوړی دی، په پای کې داکتر ذ بیح الله صفا ددې ټولونظر یاتوله مقابلې څخه دانتیجه اخیستې ده چې دامین احمد رازي کال (٥٨٣ه) یقین ته نژدې دی ـ خو«براون» بیا په (٥٨١ه) کال اوژوکوفسکي روسي د (٥٨٥ه او ٥٨٧ه) کالو په منځ کې بللې دی.

د کلام نمونی :

-۱-

باز این چه جوانی وجمالست جهانرا
واین حال که نوگشت زمین را وزمانرا

مقدار شب از روز فزون بود وبدل شد
ناقص همه این را شد وزائد همه آنرا

هم جمره برآورد فرو برده نفس را
هم فاخته بگشاد فرو بسته زبانرا

در باغ چمن ضامن گل گشت ز بلبل
آنروز که آوازه درافکند خزانرا

اکنون چمن باغ گرفتار تقاضاست
آری بدل خصم بگیرند ضمانرا

بلبل زنوا هیچ همی کم نزند دم
زان حال همی کم نشود سرو نوانرا

آهو بسر سبزه مگر نافه بیندا خت
کزخاک چمن آب بشد عنبرو بانرا

گرخام نبسته است صبا رنگ ریاحین
از عکس چرا رنگ دهد آب روانرا

خوش خوش زنظر گشت نهان رازدل آب
تاخاک همی عرضه دهد راز نهانرا

همچون ثمر بید کند نام و نشان گم
در سایهٔ او روز کنون نام و نشانرا

بادام‌دومغز است که‌از خنجر الماس
تا داده لبش بوسه سر اپای فسا ترا

گرا له سپر برف ببرد از کشف کوه
چون رستم نیسان بخم آورد کما نرا

که بیضهٔ کافور زیان کردوگهر شوه
بنگر که‌چه‌سوداست‌مرین‌مایه‌زیانرا

ازغایت‌تری که‌هواراست‌عجب‌نیست
گر خاصیت ابر دهد طبع دخانرا

گر نا پیژهٔ ابر نشد پاک بریده
چون هیچ عنان باز نپیچد سیلانرا

ورایه‌رنه دردایگی طفل شکوفه است
باز ان سوی ابراز چه گشا دست دهانرا

ورلالهٔ نورسته نه افروخته شمعست
روشن زچه دارد همه اطراف مکانرا

نی رمح بهارست که درمعرکه کردست
از خون دل‌دشمن شه لعل سنا نرا

پیروزشه عادل منصور معظم
کز عدل دگر باره بنا کرد جهانرا

آن شاه سبک حمله که در کفهٔ جودش
بی وزن کند رغبت او حمل گرانرا

د قصيدې ترپايه د سلطان پيروزشاه ستاينه ده.

...

-۲-

روز عيش وطرب بستانست
روز بازار گل و ريحانست

تودهٔ خاک عبير آميزست
دامن باد عبير افشانست

و ز ملاقات صبا روی غدير
راست چون آژدهٔ سوهانست

لاله بر شاخ زمرد بمثل
قدحی از شبه و مرجانست

تا کشیدست صبا خنجر بید
همه گلزار پر از پیکانست

فلک از هاله سپر ساخت مگر
با چمنشان بجدل پیمانست

میل اطفال نبات از پی قوت
سوی بالا بطبیعت ز آنست

که کنون ابر دهد روزیشان
هر کرا نفس نباتی جانست

باز بر پردهٔ الحان بلبل
مطرب بزمگه بستان است

گز بی بزمگه نورو زی
باغ را باد صبا مهمان است

شاهد باغ ز نشاطهٔ طبع
غرقه اندر گهر الوانست

چهرهٔ باغ ز نقاش بهار
بنکوئی چو نگارستانست

ابر آبستن دری است گران
وز گرانیش گهرار زانست

بکف خواجهٔ ماما ندراست
که برین دعوی آن برهانست

مضمر اندر کف این دینارست
مدغم اندر دل آن بارانست

کثرت این سبب استغناست
کثرت آن مدد طوفانست

بذل آن که بگه و دشوارست
جود این دم بدم و آسانست

گرچه پیدا نکنم کان کف کیست
کس ندانم که برو پنهانست

کف دستی است که بر نامهٔ رزق
نام او تا بابد عنوانست

مجددین بوالحسن عمرانی
که نظیرش پسر عمرانست

* * *

-۳-

آلودهٔ منت کسان کم شو | تا یکشبه در وثاق تونانست
ای نفس بر ستهٔ قناعت شد | کانجا همه چیز لیک ارزانست

تا بتوانی حذر کن از منت
کاین سنت خلق کاهش جانست

در عالم تن چه میکنی هستی
چون مرجع تو بعالم جانست

شک نیست که هرکه چیزکی دارد
و آنرا بهد طرق احسانست

لیکن چون کسی بود که نستاند
احسان آنست و پس نه آسانست

چندان که مروتست در دادن
در نا ستدن هزار چند انست .

***

-۴-

باغبانی بنفشه می بوئید
گفت ای گوژ پشت جامه کبود

این چه حالست از زمانه ترا
پیر نا گشته در شکستی زود

گفت پیران شکسته در هرند
در جوانی شکسته باید بود

***

-۵-

آن شنیدستی که روزی ابلهی با زیرکی
گفت کاین والي شهر ما گدائی بی حیاست

گفت چون باشد گدا آن کز کلاهش تکمه یی
صد چو سالار وزها بل سالها برگ و نواست

گفتش ای مسکین غلط اینک از ینجا کرده ای
آنهمه برگ و نو ادانی آنجا کجا ست ؟

در و مروارید طوقش اشک طفلان منست
لعل و یاقوت ستامش خون ایتا م شماست

او که تاآب سبو پیوسته از ما خواستست
گربجویی تابمغزاستخوانش از نان ماست

خواستن کدیه است خواهی عشر خوان خواهی خراج
زانکه گر ده نام با شد یک حقیقت را دواست

چون گدا یی چیز دیگر نیست جز خواهند گی
هر که خواهی گر سلیما نست و گرقا رون گداست

***

-٦-

رو بهی مید و ید در غم جان
رو بهی دیگر ش بدید چنا ن

گفت خیرا ست باز گوی خبر
گفت خر گیر می کند سلطا ن

گفت تو خر نه ای چه میتر سی
گفت آری و لیک آ د میا ن

می ندانند و فرق می نکنند
خرو رو با هشا ن بود یکسا ن

تو که

وایي چې انوري یوه ورځ برلاري تیریده، یوه سړي په لوړ آواز د انوري شعرونه

ویل اوداسي یې ښوول چې شعرونه دده دي .

انوري پوښتنه ځینې وکړه چې : تخلص دي څه دي ؟

هغه ورته وویل: «انوري »

انوري وخندل او وویل چې : د شعر غلامي اوریدلي وه، خو د شاعر غلامي

تراوسه اوریدلي نه وه.

ماخذونه : ۱ـ شعرولعجم ۱، ۲۰۵ مخ

۲ـ تاریخ ادبیات درایران ـ تالیف دکتور ذبیح الله صفا ـ ۲ ر ۶۵۲ مخ

۳ـ لباب الالباب ـ ۲ ر ۱۲۵ مخ

۴ـ کشف الظنون ـ ۱ ر ۷۷۷ رر

۵ـ مجمع الفصحا ـ ۱ ر ۱۵۲ رر

۶ـ تذکرة الشعراء ـ ۵۰ رر

۱۳۴۸ـ انوري بلخي : دخپل وخت له خوشنو یسانو او خوش طبعانو

شاعرانو څخه و، او دامیرعلي شیر نوايي (۸۴۱ـ۹۰۶هـ) په کتابتون کې یې کتابت

کاوه او «مولانا انوای» یې باله درياض الشعرآ خاوند ایکي چې انوري به زیاتره

په سیخانو کې اوسیده، او په مجالس النفایس کې راغلي دي چې ژوندن یې پریشانه

او مزاج یې سودايي و، او کله کله به سوداد وسره پر غالبه سوه چې دده مزاج به یې

دروغتیا له حاله واړاوه او په ډیر زحمت به ښه کیده ـ د ابیت دده دي :

ای زنابسی تراهر گونه بر دخسار گل سبزه باغ جمالت اندك وبسیار گل

ماخذو: ۱ـ مجالس النفایس ـ ۶۶ مخ

۲ـ احوال وآثار خوشنو یسان ـ ۱ ر ۸۱ رر

۱۳۴۹-۱ انیسی هروی: یولقلی بیگ شاملو د هرات د بیگلر بیگی علی قلی‌خان کتابوال و، په دری ژبه یې شعر وایه، یو مثنوی یې د «محمد دو اباز» په نامه منظوم کړی و، خو مشهور شوی نه دی. په شعر کې یې «انیسی» تخلص کاوه ډیر شکسته نفسه او خلیق زلمی و. دا یې تونه ده:

او عشق است اگر گریم سر اسغد ور دار
کوزه ما آب نادیده است نم بیرون دهد

گر نگویم پیش کس از غلیت آزرد گی است
زخم چون ناسور شد خونابه کم بیرون دهد

***

دارم دلی بر آتش حسرت سپند تو
افتاده ای بسان گره در کمند تو

خاطر بفکر کار دگر بود ناصحا!
معزور دار اگر نشنیدیم پند تو

بر خاك کشته تو ملك نور گو مریز
گردی کفایت است ز سم سمند تو

***

آنکو بوفا کرد رقم پیشه ما را
از مهر تو پرورده رگ و ریشه ما را

آن خشک گیاهیم که خون میچکد از ما
گر میکنی از باغ وفا ریشه ما را

فصل پنجم

اولیا وحشم نصرهم الله همگنا نرا، ولایت ونعمت بسیار وبیستگانی مشاهرهای گران هست، واز حسن رای عالی بهرمند، وآن انعام بدان سبب ارزانی داشته اند، تا دست کوتاه باشند، وحمایت نگیرند، وبرعایا ستم نکنند، واندر اعمال ولایت ها که برسم مقطعان باشد، نایبان ایشان را تصرفی نباشد، ودستها کوتاه دارند، و در آنچه دارند بحکم ومال بازایستند، وبدان قناعت کنند، واگر روا داشته آید، که نایبان ایشان دستها برکشایند، ولایت ورعیت رابعرض رسانند، ودرچنین ابواب توسطها کنند، ضرر آن به بیت المال بازگردد، وسخت بزرگ خللی باشد وولایت ویران شود، ورعیت مستأصل گردد، (۱)

جواب

در حمایت باقر زندان ما، برجمله اولیا وحشم بسته است، وبهیچ حال رضا داده نباید: که یک بدست زمین حمایت گیرند، خواجهٔ فاضل باید که درین باب اندیشه تمام دارد، و همدا ستیان نباشد که حمایت کنند، وحمایت گیرند، وآنچه واجب است اندرین باب تقدیم باید کرد، و نباید که هیچ ابقا

---

(۱) دو هم متن داسی دی: «اولیای حشم نصرهم الله ولایت همان ونعمت بسیار و مشاهره های گران دارند واز حسن رای عالی او زاد الله علوا ایشان را از بهر آن داده می آید تادست کوتاه باشند حمایت نگیرند وبامردمان ستم نکنند وباعمال ایشان را کار نباشد، دستها را فرو بندند در چنین ابواب تا هرکس بدانچه دارد اقتصار کند، که اگر روا داشته باشد که ایشان دستها برکشایند وتخلیط ها کنند ضرر آن به بیت المال بازگردد وسخت بزرگ باشد»

ما نشو و نما یافتهٔ باد سموم
جز شعله گیاهی نبود بیشهٔ ما را

ناصح نشود زخم من از پند تو بهتر
پیوند مکن زآب دهن شیشهٔ مارا

●●●●●●●●●●●●

نیا زبو الهوس را گرمحبت نام خواهی کرد
وفا راسست پیمان آرزو را خام خواهی کرد
سراپا آتشی امشب قدح گودیگری پر کن
که خواهد سوخت ساغر تاتو می درجام خواهی کرد

●●●●●●●●●●●

هغه وخت چی عبدالله خان اوزبك هرات ته راغی اوجی هندوستان ته ولاړ، او هلته یې دخان خانان په خدمت کی ډیر احترام درلود.

ماخذ: مجمع الخواص - ۱۰۷ مخ.

۱۳۵۰- اوجی هروی: دهرات دحاکم حسن خان شاملو سره او سېد، او ددری ژبې شاعر و - زیاتره یې دستاینې قصیدې دنوموړی حاکم په ستاینه کې ویلې.

د«شمع انجمن» دتذکرې مؤلف یې د اسې ستاینه کوی:

« فکربلندش طرفه اوجی داردوشعر آبدارش عجب موجی - میرزاصائب سخن اوراوی وسخن میرزا راتضمین کرده وگفته:

این جواب مصرع «اوجی» که وقتی گفته است «پادشاهی عالم طفلی ست یادیوانگی»

و«اوجی» نسبت به «میرزا» میگوید:

صائب نمود جوهر شعر مرا بمن
تیغ برهنه ام که جگر دار یافتم»

دا خو بیته هم دده دی:

گرشامگه شیب وگرصبح شبا بست
پوشیدن چشم از دوجهان یکمژهٔ خوابست

●●●●●●●●●●

نگه گرم عتابم صف دیدار کجاست
بوسهٔ بې ادبم کنج لب یار کجاست

●●●●●●●●●●●●

کی بآرایش ویرانهٔ ما می آید
آنکه در آئینه یك جلوه بصد ناز کند

●●●●●●●●●●●●

«اوجی» این قطرهٔ خونی که اجل خواهد ریخت
صرفه آنست که در گردن دشمن باشد

●●●●●●●●●●

مباش درپی آزار من که می شکند
هزار شیشهٔ دل از شکستن رنگم

●●●●●●●●●●●

صفای روی عرقناك یار را نازم
که صلح داد بهم آفتاب و شبنم را

ماخذ: شمع انجمن — ۲۰۸ مخ

۱۳۵۱- اوحد مستوفی سبزواری: خواجه اوحد مستوفی د سبزوار
نومیالی عالم اوددری ژبی به شاعرو، چی د «کدود» یا «کرود» په لقب بې شهرت
درلود. په ډیرو علوموا وفنونو پوهیده، اوپه تیره بیاپه ریاضی اوفلکیا تو کی مشهور
پوهاندو. میرعلی شیرنوایی ورسره لیدلی و، اولیکی چی: «این فقیر بصحبت آن بزرگوار
می رسید والتفات بسیار «د اشت» داشعارو مرتب دیوان یې درلود او ډیری ښې قصیدې

بې ویلی دی—مجر دانه ژوند بې کاوه، اوپه (۸۶۸ ه) کال کې مړ، اوپه سبزوار کې ښخ دی.

دامطلع دده دی:

ای زبستان جمالت چشم جان را زیب وزین

گشته برنرگس هواداری چشمت فرض عین

اودابیت یې دسلطانحسین میرزا په ستاینه کې و یلی دی:

شادباش ایدل که برما سایهٔ رحمت فگند

آفتاب آسمان سلطنت سلطان حسین

مأخذونه: ۱—مجالس النفایس—۲۶ مخ

۲— روز روشن —۸۱

۱۳۵۲- اودل: د پښتو ژبې له پخوانیو شاعرانو څخه و، چې سیدمحمدامین خانجې یې دخوشحال خان همسلکه بولی (۱) ده په پښتو یودیوان درلود چې پادری هیوز په کلید افغانی کې دده له دیوانه دوې بدلې را نقل کړې دی خواوس یې دیوان ورک دی.

اودل د پیښور دسیمې له پخو شاعرانو څخه و، او دعبداالقادرخان ختټک په مشهوره مشاعره کې یې گډون کړی دی — دده دمشاعرې بدله داده:

لکه زه یم ستا په غم کې د ک له ونیو لړ سون هسی

نه به پان نه به حنا وی پر په و پنو د رون هسی

ستاد حسن سپاه جوړدی په دا خط دی زره هوش شو

دعاشق کور به تالا کاددې خط دی مضمون هسی

(۱) منجم العمران دمعجم البلدان مستدرک مصر چاپ- ۳۳۵ مخ

په ازل به دېوانه وې په عالم به افسانه و
بل به څوک دد ه په څېر شي دانصيب د مجبون هسې

چې مېن په دلبر باشوم په مثال گل رعنا شوم
په ظاهر زيږی لېده سم اندرون به م پرخون هسې

خط په مخ د ښايسته وصف بندي وکړه د برهشو
د ښايست د کان به لوټ کاچې بې وکړشبخون هسې

عشق هاتي دی که زمری دی په هر چاد ده برې دی
شيخ زاهد په پنجه واخلي نو پرې کېږدي زنگون هسې

عشق وعقل سره گوره څه جگړه کازما ورو ره
عقل شرم حيا غواړي عشق دی خوښ په جنون هسې

څه افسون کاد يار شونډې چې کوی چا ته خبرې
دل ودين ترې دواړه يوسی چې پرې وکړی افسون هسې

ستا محواب «عبدالقادره» په ښه شان دی «صدر» کړی
هم «أودل» دی محواب وکړچې پيداشو پښتون هسې

●●●●●●

دابدله هم د ده ده :

زه هزار محله صدقه شم تر د ر د من
که مجنون دی که فرهاد غوندی کوهکن

ددر د منو تر خولې تل آ عوند خيژی
په ژړا ژړا په دوو ستر گو ليچن

تل د خیال په براق سپوریم پسی گرځم
نه می سلک د چا په کاردی نه وطن
ستا د زلفو بوی همه وا ړه خجل کړی
که هزار هزار نافې وی د ختن

د چمن په سیل هرڅوک مسره دروی
چی ته نه یې بې تا څه کوم چمن
ستا غمزو و ژلی واړه شهیدان دی
شهیدان واړه ښخیږی بی کفن

د ښایسته‌و، دیدن رنګ په رنګ پسرلی دی
باد خزان یې زه محروم کړم له دیدن
له هیچا سی ویره نه شی ستا په کوی کی
که رقیب څوندی هزار لرم د ښمن

په نور چا به څه تور بریش کوی دلیره
ستا د نازتو رته ما او نیو گردن
زه «اودل» به له غمونو هاله خلاص شم
که می سترگی دگل رخ پریږ دی دیدن

مأخذ: پښتانه شعرا ـ ۱/۲۹۳ مخ

۱۳۵۳ـ اهلی چغتا: د سلطان حسین مرزا له سترو امیرانو او د هغه وخت ددری ژبی له شاعرانو څخه و.

وایی چی په کم مذهب مقیدنه و، او په (۹۰۲ ﻫ) کال کی مړ، او دا بیت دده دی:

آهم چوگرد باد فنا می برد مرا   از کوی دوست آه کجا می برد مرا

مأخذ: روز روشن ـ ۸۳ مخ

۱۴٥۴-اياز ايماق: ابوالنجم اياز په ځته ايماق د سلطان محمود غزنوي له خورا مخورو مريانو او معتبرو سالارانو څخه و، چې په خپل فراست او هوښيارۍ يې د سلطان محمود په زړه کې ځای نيولی و، او د سلطان په دربار کې د اياز اعتبار دې اندازې ته رسيدلی و، چې د هغه وخت شاعرانو ورپورې منظومې افسانې جوړې کړې او د اياز او محمود د عشق او مينې داستانونه ليرې ليرې ځايونو ته ورسيدل.

د لسمې هجري پيړۍ شاعرانو خو ورپسې بشپړ کتابونه جوړ کړه چې مشهوره يې د «انيس شاملو» داستان او د «زلالی خوانساری» د شاه عباس صفوي د دربار د ملک الشعرا مثنوي دی چې دري زره او شپږ سوه بيتونه رسيږي او شروع يې داسې ده:

بنام آنکه محمودش ايا ز است — غمش بتخانهٔ نـاز و نيازست

نـه محموديم و ماوني ايازيم — غلام خانه زاد اسوش و نا زيم

د عروضي سمرقندي په قول که څه هم اياز په څهره ډير ښکلی او ښايسته نه و، خو ډير ذکي، هوښيار او په معاشرتي آدابو پوه زلمی و، چې تر ظاهري ښکلا يې باطني ښه والی د محمود زړه زيات وړی و، عوفي په جوامع الحکايات کې ليکي چې کوم ځيز چې د اياز په نسبت د محمود مينه ډېره زياته کړه هغه دا و، چې يوه ورځ په ښکار ځمي کې يو همای والوت او د سلطان ټولو ورسره ملگرو وغوښتل چې د همای تر سيوري لاندې ودريږي، خو يوازې اياز و، چې د سلطان محمود رکاب يې ټينگ ونيو، سلطان ورڅخه وپوښتنه وکړه چې: «دا څه کوې ؟ »

اياز وويل: «نور ټول د همای سيوري غواړي او زه د خدای سيوری»

ابوالفضل بيهقي د غزني د دربار نامتو مورخ هم د اياز په باب کې ډېرې خبرې لري او ليکي چې: «هيچگاه از موکب سلطان جدانشدی و همواره درحضور وی بودی!»

عوفي د سلطان محمود د لوی دبير ابونصر مشکان د مقامات په حواله ليکي

چې: سلطان محمود د اياز خور په نکاح کړې وه.

اياز سربېره پر دې چې ډېر ښه درباري سړی بلل کېده د جنګ د ډګر پهلوان هم و، او څنګه چې د غزني د دربار د شاعرانو له قصائدو څخه څرګندېږي اياز په ډېر جنګي ډګرو کې توری وهلي دي او بريالی سوی دی.

د سلطان محمود تر مړيني وروسته د سلطان مسعود په وختو کې د سالارانو سالار و ټاکل سو، او يو وار خو د سلطان مسعود له خوا د مکران او قزدار خراج او د بست ماليه و څلوېښت خرواره مسکوک زر ورو بخښل سول، چې د غزني د دربار توښيالي شاعر فرخي سيستاني يې داسې يادوي:

امیر جنگجو ایاز اویماق — دل و بازوی خسرو روز پیکار
سواره کز در میدان در آید — ز پای اندر فتند دلهای نظار
یکی گوید که آن سرو یست بر کوه
دگر گوید گلی تازه است بر بار
ز نازش پارسا از شوی گردند
یکا یک دیدن او را خریدار
دلیران از نهیبش روز کوشش
همی لرزند چون برگ سپیدار
اگر بر سنگ خارا بر زند تیر
بسنگ اندر نشاند تا بسوفار
امیر خیره بندو دل داد محمود
دل محمود را بازی مپندار
جز او در پیش سلطان نیز کس بود
چرا او سلطان غلامان داشت بسیار

اگرچون میر بکتین بود از یشان
نه چندان بد مرا ورا گرم بازار

خداوند جهان مسعود محمود
که او را زرعمی بخشد بخروار

جز او را از همه میران کرا داد ؟
بیك بخشش چهل خروار دینار

بجائی برد خواهد خسروا ورا
که سالاران بدو کردند سالار

بدو بخشید سال خطهٔ بست
خراج خطهٔ مکران و قزدار

بیهقی لیکی: کوم وخت چی سلطان مسعود غوښته ایازد خراسان په حکمرانی وټاکی نو ستر خواجه احمد بن حسن میمندی ته یې وویل :

که څه هم ایاز پېر ښاغلی او نعمت لوی سوی خو بیا هم «وی عطسهٔ پدر ما است»

داسی څرګند یږی چی ایاز دخپل عمر په پای کی دغزنی له درباره د هندوستان په سالاری ټاکلی سوی و، او څرنګه چی هغه وخت په هند کی دغزنویوا کوالانو ټاټوبی د لاهوربښارو، نوښایی چی ایاز هم په هغه ښار کی اوسید لی او همهلته مړ دی چی اوس یې هم په لاهور کی «رنګک محل» ته نژدې مزار شهرت لری.

ابن اثیر په الکامل کی لیکی چی ایا ز د(۴۴۹ ه ق) کال د لومړی خور (ربیع الاول) په میاشت کی مر او مزار یې په هند کی دی .

مأخذونه : ۱- تاریخ بیهقی - ۸۳، ۳۱۵ او نور مخونه
۲- سلطنت غزنویان- ۲۰۲ مخ

۳-چهار مقالهٔ عروضی — ۳۱ مخ
۴- جوامع الحکایات-۸۰ رر
۵- الکامل ابن اثیر—۹/۲۶۶ رر
۶ — دیوان فرخی — ۱۶۶ مخ
۷— د «نوای افغان »جریده
د کراچی چاپ- د ۱۳۳۵ کال دچنګایی میاشت لومړی تولد— ۵ ګڼه

۱۳۵۵-ایازی هروی: مولانا ایازی د میرعلیشیرنوائی معاصراوددری ژبی شاعرو- وایی چی عجیب او غریب شکل یې درلود، اود میرعلیشیرنوایی په وینا یې کړه وړه او ویل یې ترشکل هم عجیبتره او غریبتره وو.

میر علیشیر لیکی چی: «یووار ما دمالان دپله پر سرولیده چی دخلکو په منځ کی یې خپله یوه قصیده ویله، ما پر هغه وزن او قافیه او معنا یو بیت جوړ کی اوده ته می ووایه، ده چی واور ید حیران سو، تردرو کالو وروسته می بیا په باغ سفیددار کی ولید چی په یوه بل مجلس کی یې خپل شعر خلکو ته وایه، ما بیا پرهغه وزن، قا فیه او معنا یو بل بیت جوړ کی، و می وایه بیا حیران سو، څنګه چی یې ستر ګی کمزوری وې اوزه یې نه نسوای لیدلای نود مجلس څخه یې پوښتنه وکړه چی دا څوک دی؟ ما هیڅکله دا سی سړی نه دی ایدلی، خودرې کاله پخوا می د مالان پر پله باندی دده غوندی شعبده باز لیدلی و، غالباً چی دا هم هغه سړی دی»دابیت دده دی :

چادرشب خود رنګ مګس ریدایازی
بی جامه و بی موزه و بی کرته نمازی(؟)

مآخذ: مجالس النفایس - ۴۳، ۲۱۷ مخونه

۱۳۵۶-ایجاد غزنوی: میرزامحمداحسن په هندکی ددری ژبی شاعرو، چی نیکه ګان یې له غزنی څخه هند وستان ته تللی او دده دنسب سلسله شا مید

نورالد بن مبارک غزنوی ته رسیږی. دی په خپله د« سرهند » په« ساما نه» کی زیږیدلی و ، او متداوله علوم یې په ډهلی کی لوستی اوغه سوده دمیرزا بیدل سره او سیدلی او خپل شعرونه به یې دنوموړی مرحوم میرزاتر نظر تیرول، اودده تخلص هم میرزا بیدل ورته ټاکلی دی.

د شاه عالم بهادرشاه په وختوکی د آصف جاه نواب نظام الملک له خوا د شا هزاده په خد مت کی و، او دریو سو یز منصب یې درلود، اود محمد فرخ سیر پا چا په وختوکی د« معنی یاب خان» په خطاب سرلوړی سواو دتار یخ په لیکلو ما مورسو، اود هغه پا چا اوکلنی پیښی یې له جلوسه تروژل کیدو پوری په ډیر بلیغ اوفصیح نثر ولیکه چی بوززرو یې انعام ورکړه سو .

په(۱۱۳۲ ه ق) کا ل په اکبرآباد کی مړدی او داشعارو یو غټ دیوان یې پر ېښود، چی په هغه کی قصاید، غزل، مثنوی اورباعیات وو. داځوبیته دده دی:

بسکه پرگردیدگوشم ازصدای عندلیب
بوی گل گربشنوم دانم نوای عندلیب

گرسراغی گیری ازعاشق فغان آئینه است
د رغبار نا لهٔ من نقش پای عندلیب

شب نا له د و زخ شر ر م گر م ا ثر شد
خا کستر د ل با ل و پرا فسا نه سحر شد

طو ما ر هوا یکقلم ا ز شعله آ هم
چو ن کا غذآ تش ز د ه ا فسانه شررشد

وسامحت رود، نخست ازفرزندان ما، دربايد گرفت پس ازديگران، وازجائی تعذری رودبی‌حشمت بازبايدنمود، تا آنچه رای واجب داردفرموده‌شود (۱)

---

(۱) د اجواب په دوهم‌متن کی بې‌عنوانه د څلرم‌فصل سره‌ګډ داسی راغلی دی: «حسب الامردر حمايت گرفتن فرزندان پس برجمله‌او ليای چشم بسته است و بهيچ حال رضا داده‌نبايد که‌يکی‌بدست زمين‌حمايت گيرد. خواجه فاضل رادر اين‌باب انديشه نبايد داشت‌وهمد استان‌نبايد بود که‌حمايت گيرندوآنچه جواب‌است به‌تما می‌در ين‌باب بجای‌بايدآورد وبهيچ وجه القاومسامحت ببايد کرد واگردرباب قومی‌راست نبايدبی حشمت‌ما را بازبا يدنمود تاآنچه رای‌واجب کند فرموده‌آيد»

گرفتاری و زیبائی بیك انداز‌ه‌سی نازد
توگرا ز زلف‌میگوئی من از زنجیرمی گویم

●●●●●●

زتو بود چشم آنم که نظر کنی نکردی
بره‌تو خاك گشتم که گذر کنی نکردی

●●●●●

شد غبار آلوده کلفتهاز لال زندگی
مشت خاکی از بدن تابر سر ما ریختند

●●●●●

خروشان‌جستم واز خویش‌مانند شرر رفتم
باتش سوخت اول عشق‌وآخرداد‌ربادم

مأخذ: سفینهٔ خوشگو- ۹۶ مخ

۱۳۰۷- ایمل خان مومند: دمومندوپښتنو‌یوننگیالی اوتوریالی مجاهد و،چی په مومندو کی د«ایمل پاچا» او«ایمل غازی» په‌نامه شهرت لری . دی په مومندو کی کوکوزی ،خویزی ،میزی‌مومندی چی‌د مومندو دری په«هزارناو» کی‌اوسید ،اود خپل قوم‌دمشر توپ‌بکړی میاجان محمدصاحب چی د مومند ویورو خانی‌سړی‌و،فرهر سر کړی وه.

هغه‌وخت چی‌خوشحال‌خان‌ختك‌دهندد کورگانی‌حکو مت‌دمتجاوزینو پرخلاف دفاع ته ملاوتړله‌دایمل خان کورپه «هزارناو» کی و، اوتر هغه‌دمخه په «چکنور» کی‌اوسید .له «هزارناو» څخه‌په‌پی‌تل دهندد کورگانی حکومت دمتجاوزینود کار وانونمخه نیوله‌او دیرتاوان به‌یې وروراړاوه ،اوهم کورگانی حکومت څوځلی دده مقابلی‌ته لوی‌لښکرراولیږه‌او یووارخو‌یې‌دده کورهم ورو میځه‌لکه‌خوشحال‌خان ختك چی وایی: یوری‌په‌خو نه دایمل‌خان شو‌یه مول‌د خونی خان‌خانان شوداور

کهٔ وژنهٔ مړ دا یم ناري وهم پهٔ وار وار ږغوري په درست افغانانو څنګه چې ایمل خان او خوشحال خان دواړه د یو ملي مقصد د پاره د متجاوزینو سره جنګېدل نو ایمل خان خپل یو ملګری «دریاخان» خوشحال خان ته ولیږه، او په دې واسطه د خوشحال خان او ایمل خان یووالی ټینګ شو .

خوشحال خان خپلو ځلي ښکلو شعرو کې ایمل خان او د هغهٔ زړه ورتوب یاد کړی دی ـ مثلاً هغه وخت چې پښتنو د متجاوزینو فوج تالاکی، خوشحال خان وايي:

اپرید و شینوار و زړه په واجه به کړ ایمل خان مومند په ننګ پهٔ و اچه دواړه د خوشحال خټک په برخه خو یو ننګ دی تر نظر یوړي بې هیڅ ده دنیا واړه

بل ځای وايي :

ایمل خان دریاخان دواړه سر ګه بې سه وه
هیڅ تقصیر دواړو ونه کړ وار په وار

د خیبر دره یې سره کړه له وینو
په «کړپه» یې هم روان کړ دند و کار

تر کړه یې تر باجوړه سمې غړ و نه
په لړزه په زلزله شو په بسار بسار

په مومندو کې مشهوره ده چې ایمل خان باچاېر خړسن سکه وهلې وه او خپل راج يې قایم کړی .

په پای کې د پښتنو د دښمنانو په دروه او ټګی او درشوت په زور بې د کوم خائن په لاس سرنی ایمل خان ته زهر ورکړه او شهید شو. قبر یې د کونړ د «پشد» د «ساپا» په هدیره کې دی. خوشحال خان یې د هغه تر مړینې وروسته داسې یاد وي:

ایمل خان دریاخان دواړه په ننګ ولاړل اوس خو پاتې و مغول ته یو خوشحال دی

دایمل خان اولاده اوس هم دسومند درې په «هزاراو» کې په ایمل خیلومشهوره ده ،او دننگرهار دولایت دسوسند درې یو څو وتڅی دایمل خان په نامه نومړی دی.

مأخذ: پښتونستان — ۱۹۱ مخ

۱۳۵۸ - ایمنه اورمړه: داوی سپار زه عالم بایزید پیر روښان یو عه او عالمه سوروه ، چې د کابل دجنگلاک لوسر نی څو و تڅی د دې سیر منی په نا مه نو مړی سوی دی .

مأخذ: د «زیری» جریده — ۱۷ کال (۱۳۵۴ ش) ۲۳ گنه — ۳ مخ

۱۳۵۹ - ایوب هروی: دابوالبرکه زوی اود دریژ بی شاعر و.

میر علی شیرنوایی پخپل کتاب «مجالس النفایس» کې دده دپلا ر د اسې غند نه کړي ده : «چنان بد ذات وبیملاحظه بود که اهل خراسان از دست او فرار کردند وآواره شدند واین بیت را درحق وی گفته اند :

دیو شیطا ن صفت ا بو ا لبر که

با د جا یت بهشتهین د ر کـه »

خوزوی یې دپلار پر خلاف ښه مجلس آرا اوشوخ طبع سړی و، دا پښتونه د ده دی:

حدیث مذهب از رندان بامشرب چه می پرسی

زرندان حرف مشرب پرس ازمذهب چه می پرسی

●●●●●●●●●●

از غمزه بکش تیغ چه تر سی زقیا مت

ما را برهان از خود وخود ر از سلامت

●●●●●●●●●●

سوز پنها ن مرا داغ دل من د اند

حالت سوختهٔ ر ا سو خته خر من داند

از دولت خیال تو دوشم وصال بود
آنکو مرا رساند بوصلت خیال بود

مأخذ: مجمع الخواص -۳۱۲ مخ

دا د«مجمع الخواص» د مؤلف لیکنه وه، او د«تذکرهٔ حسینی» خاوند لیکی چی «ایوب هروی» دسلطان حسین میرزا د وختو فقیر مشر به سړی و، او دکراستی خولی به یې پرسر کوله، او دا بیت یې راوړی:

آنکه رفتم چواندیشهٔ رحم از یاد ش
شرمی از سابقهٔ بندگی ما باد ش

خود«تحفهٔ سامی» مؤلف بیاد «ایوب البرکهٔ هروی» ترنامه لاندی لیکی چی: په «بی پدر» مشهور، او ډیر بیحیا سړی و، مگر سره له ډیری بی حیائی بیا هم ښه شاعر گڼل کیده او ډیر توکی هم و - له هرات نه عراق ته تللی او په شیروان کی د شیخ شاه پادشاه ندیم و. او پورتنی بیت یې د کلام نمونه راوړی. ښایی چی د «تحفه سامی» مؤلف د ده او ده د پلار تر منځ اشتباه کړی وی، او یا دا «ایوب البرکه» او د میرعلی شیر او مجمع الخواص او تذکرهٔ حسینی «ایوب» سره بیل بیل وی.

مأخذونه: ۱-مجمع الخواص -۳۱۲ مخ
۲-تذکرهٔ حسینی -۳۹ «
۳-تحفهٔ سامی -۷۵ «

پا یښور

ددي توك په (۱۰۸) مخ کی د احمدشابابا د زیږیدنی دځای په باب څېړ نه سوې ده، خود هغی څېړ نی ترچاپ وروسته ماد «حافظ مرغزي» په «شاهنامه» کی چی د « شاهنامهٔ احمد شاه ابدالی» په نامه په پېښور کی چاپ سوې ده د احمدشاه بابا د مولد په باب د ا بیت ولوست :

په مولد یې خراسا ن په سزاج و، عالی شان

څنګه چی« حافظ مرغزي» د احمد شاه بابا دوختو شاعراود احمدشاه بابا سره د هند په سفرو کی ملګري و، نو ځکه باید د هغه وینا هم معتبره وګڼله سی — والله اعلم بالصواب.

(د شاهنامهٔ احمد شاه ابدالی - ۱۲ مخ

سمون

له محترمو لوستونکو څخه هیله کیږي چې ترلوستلو دمخه دی دا ناسمی سمی کړي :

مخ	لیکه	نا سم	سم
۱	۱	ابو الوحد	ابوالوا حد
۲	۲	خپل	د خپل
۲	۱۶	نور ویی	نورو څخه یی
۴	۷	مجالی زهدا	مجادلې زهد
۴	۱۳	رون	رو ڼ
۴	۲۱	زا هد	زهد
۵	۶	الجنتة	ا لجنة
۵	۸	حلقوکه	حلقو کې
۵	۹	مشیخنیت	مشیخیت
۷	۱	تصخیح	تشحیح
۷	۱۵	شینبانی	شیبا نی
۷	۱۹	دتعلیفاتو	دتعلیقا تو

۸	۲۱	کړی ده	کړی دی
۸	۲۳	آریائی	آر یا یی
۹	۱۱	د لمر دستا وړانگی	دلمر وړانگی
۹	۱۷	رگنی	اگنی
۹	۱۷	پیغمبرو	پیغمبر
۹	۱۹	چی هغه	چی په هغه
۹	۲۲	خوش	خو ښ
۱۰	۱۰	النفاس	النفا یس
رر	۱۷	نگیا لی	ننگیالی
رر	۲۰	په تیری کو نکو	دتیری کوونکو
۱۲	۳	ندسه وبا له	ښه و باله
رر	۱۹	تز کیبی	تز کیبی
۱۳	۱۱	امیر حبیب خا ن	امیر حبیب الله خان
رر	۱۴	ا اسطنه	السلطنه
رر	رر	سره و کتل	(اضافه دی حذف دی سی)
۱۴	۶	پخل	پخیل
رر	۱۳	وی	دی
۱۵	۲	ښکا یری	ښکا ر یری
۱۶	۲	ر نقل	را نقل
۱۸	۲	رحمد	احمد
رر	۵	ا ود	او دی
رر	۶	او	ا و د

۱۹	۱	او نور و څخه	او نورو
رر	۹	ډیو بر	ډېرو
۲۱	۱۴	الیخو یین	النحو یین
۲۳	۲۳	بد ود	بدو
۲۴	۷	نه ښي	نه شي
رر	۱۹	پوژ نینه	نه پوژ نینه
۲۵	۲۰	خرا سا نیو تا	خراسا نیا نو
۲۶	۲	جوز خانی	جوزجا نی
۲۶	۵	او هم	او هم بې
۲۷	۱۶	مکنی په ا و	ا و مکنی په
رر	۱۷	ابد له ویو نکی	ابدله ویو نکی
۲۸	۱۷	لیکی	لیکلی
۲۹	۱	یو و لسمی	دیو و لسمی
رر	۴	په دوهم	په دوهم توک
رر	۷	حضرت	د حضرت
۳۰	۲۲	تما	تما م
۳۲	۱۴	کړی و	کړې وه
رر	رر	کره	کړه
۳۳	۳	سیا ست	سیاست بې
رر	۷	کتات	کتاب
۳۵	۹	در بار	د د ر بار
رر	۱۰	بنا و ه	خو بنا و ه
رر	رر	طې	بې

رر	۱۷	محورد	خورد
رر	۱۸	محود	خود
۳۶	۲	سوسوی و	سوی و
رر	۶	بي بندي	ته بي بندي
رر	رر	ولیرل	ولیږه
رر	رر	او سلطان محمود	اودسلطان محمود
رر	۱۲	پت	پټ
رر	۱۳	ضرورنه	ضرر وته
رر	۲۱	د ه	د وی ته
رر	۲۳	پوښتو	پوښتنو
۳۷	۳	ستا مال	ستا مال دې
رر	۸	حدیت	حدیث
رر	رر	مجالست	مجالست
۳۸	۶	احمن	احمد
رر	۸	باوی بیا ید تا حق	(تکرار دی)
۳۹	۲	لیرل	لیږ لی و
رر	۷	د امغانه	له دا مغانه
رر	۸	او پو	او په
رر	۱۳	په پای	په پای کې
۴۰	۵	سمره سم	سره سم
رر	۷	دیرچه	ډیر چه
رر	۱۶	مرا اروزگار	مرا روزگار
رر	۲۰	يد يد ار	بد يد ار

ا بو نصر	ابو ابو نصر	۱۳	۴۱
سلطا ن	سطلان	۱۵	رر
دوخت په شهر	دوخت شهر	۳	۴۲
په پای کی بي	په پای بي	۱۲	رر
و لیکل	ولیکل	۱۷	رر
ډیر	ذیر	۷	۳
لەبنه سر غه	لدبنه سر غه	۱۲	۴۳
آنکه	آنگه	۹	۴۴
دایو و لسمو لیکه‌ته‌و له‌تکر ار ده		۱۱	۴۴
دی	دوی	۱۷	۴۴ ۳
فصل او ل	فضل او ل	۱	۴۵
اسبابی	آسیابی	۵	۴۸
اعز ه	اغره	۵	۴۸
چندتن ر ا ه	چندتن ر ا	۲	۴۹
هر نامستحنی	هر تامستحقی	۳	۴۹
سر تا بسر همه ز شت	سر تا بسروزشت	٦	۴۹
و قت بو د	و خت	۳	۵۰
خو اجهٔ	خو جهٔ	۸	۵۰
بر یدیها	یر یدیها	۲	۵۵
بن‌محمو د	بن‌محمد	۸	۵٦
بو ه‌اساسی	نو اساسی	۱۳	۵٦
ډیر ه	ډډیر ه	۱۳	۵٦

فصل ششم

رسم چنان رفته است: که صاحب بریدیها ومشرفیها که خداوند عالم ارزانی دارد بندگان و خدمتگاران را فرمایند، اما نایبان ایشان باید که از دیوان بنده روند تا کسانی باشند امین معتمد که بنده ایشان را بشناسد، و با عمال مطابقت بکنند در بیرون اسوال دیوان، ومتولیان این اشغال باید که برمشاهره که مطلق باشد اختصار کنند وزیادتی ومنافع خویش اندران خدمت بکار نبرند (۱)

جواب (۲)

برسمی که رفته است، درین باب زیادتی نتوان آورد، هم بران جمله که در عهد سلطان ماضی بوده قراری باید داد، وازرسم بیشتر تجاوز نباید کرد.

---

(۱) رسم چنان رفته است که صاحب بریدها ومشرفها خداوند عالم ادام الله سلطنته ارزانی دارد به بندگان و خدمتگاران و ایشان از دیوان بنده باید که داند تا کسانی باشند امین ومعتمد که بنده ایشان را که مطلع است اختیار کند تا اقتصار کنند وزیادتی نستانند منابع ایشان بگوید که تمامی بدیشان رسانند تا بکار برند »

(۲) شپږم جواب او اووم فصل د «سلطنت غزنویان» په کتاب کی نسته، او هم د سوګند نامې متن نه لري.

٥٧	٢	یو م القمة	یو م القیمة
٥٧	١٥	رایگان	رایگان یگان
٥٧	١٥	و این شرایط	و اگر این شرایط
٥٨	٩	ئیست	نیست
٥٩	٢	سیا	سیاه
ت ٦٠	٥	اجمین	اجمعین
٦١	١١	په‌مناسبت	په‌مناسبت بې
٦٣	٨	تنطیم	تنظیم
٦٣	٩	مغتشیت	مفتشیت
۳ق ٦٣	١٠	کین	کینې
٦٣	١٧	عزتوله	غزنوی
٦٤	١	او پیښو څخه	او پیښو
٦٤	٩	په‌ستر خواجه	له‌ستر خواجه
٦٤	١٥	لشکر	شکر
٦٤	٢١	سمه	سمه‌ده
٦٤	٢٣	سعدان	سعیدان
٦٥	٢٠	دقواعد	داقواعد
ډغر ٦٥	٢١	دغرو	دغزو
٦٥	٢٤	چی‌ووبل	چی‌ماووبل
٦٦	٢	خداوند	خداوندته
٦٦	٣	بل چه	بل څه
٦٦	١٦	زړورل	زړور

٦٦	١٦	آبتو نتاش	آلتو نتاش
٦٧	٧	داجمله تکرارده:	

«سخن گفت بتازی سخت نیکو درین معنی و اشارتی کرد در آن فصل»

٦٨	٣	وختو که	وختو کی
٦٨	٥	سره‌تور	سر تور
٦٨	٥	او و او یلا	او په‌و او یلا
٦٩	١٠	لیکبی‌دی	لیکلی‌دی
٨١	٧١ ٣	باستام	باستادم
٧١	٨	میو ندی‌ته	میو ندی کورته
٧١	٩	په پو ښتنی	د پو ښتنی
٧٢	١٢	دغز نوی	غز نوی
٧٣	٦	گنیت	کنیت
٧٥	٢٢	نعت	نعمت
٧٦	٢٣	بسیر	بسیار
٧٧	٢	خپلو	خپلو
٧٧	٧	فریغزن	فریغون
٧٧	٧	د کهال ٧٧ ٧	د کهاله
٧٨	٣	میرزاجعفر	دمیرزاجعفر
٧٨	١٥	سره‌لوړی	سرلوړی
٧٩	١٥	ادله	اوله
٨١	١٣	واقعه	واقعه
٨٢	٧	متجر	متبحر

٨٣	١٠	لیکلی	لیکل
٨٣	١٠	بیاشاهی	بیادشاهی
٨٣	٧	پەدریژ بە	پەدریژ بەبێ
٨٣	٢٣	بجور	بجو
٨٥	٢	پەکتابتون	پەکتابتون کی
٨٦	١	پەتش	پەتش‌عشق
٨٦	٥	ستاد	ستا
٨٦	٢١	پخوانی	پخوابێ
٨٨	٣	پر پاکیږ	پاکیږی
٣١	١٠	پرتول	پرتولو
٩٢	١٧	پەمنځ	پەمنځ
٩٢	٢٠	فائدائی	فایدەبێ
٩٣	٧	اخمد	احمد
٩٣	١٠	پیبنورکە	پیبنورکی
٩٣	٢١	اقتضا	اقتفا
٩٥	٣	اخمد	احمد
٩٦	١٣	قا	وفا
٩٦	٢٢	لکد	لکە
٩٧	١٢	کښبوله	کښبوله
٩٧	٢٠	پەهند	پەهندکی
٩٨	٣	پر ینبی	پر پښتنی
٩٨	١٨	داستوی	واستوی

۹۸	۲۲	تر شاه‌محمود	تر شاه‌محمود د مخه
۹۸	۲۳	دشاه‌زمان	(تکرار دی)
۹۹	۳	پل‌خشتی	پل‌خشتی
۹۹	۸	تیرته	بیرته
۱۰۲	۷	څخد	څخه
۱۰۳	۱۸	دا	د
۱۰۴	۵	نبنا	نبینا
۱۰۴	۶	المطفی	المصطفی
۱۰۴	۱۳	الحلیل	الجلیل
۱۰۹	۱۵	په حاشیه کی‌تر (این دو بیت را نیز در تاریخ	

جلوس او میسر اید:) وروسته دی دادوه بیته زیاتسی:

چو بنشست احمد شهٔ نامدار — بتخت خلافت بصد عظم و شان

ندا زد بشیر م زسال جلوس — بود تا بد این خدیو جهان

۱۰	۴	زرغرنه‌انا	زرغونه‌انا
۱۱۰	۵	نامه	نامه‌لاندی
۱۱۰	۱۱	خلطهٔ	خطهٔ
۱۱۱	۲	بهلول زوی	معروف دبهلول زوی
۱۱	۷	په پښیتی	په پښتنی
۱۱۲	۲	شتمن	شتمنی
۱۱۲	۲۰	هغه‌یی	هغه کی‌یې
۱۱۳	۲۱	آتحضرت	آنحضرت
۱۱۳	۷	پس	پس‌یې

٧ ١١٣	١٦×	كه كه	كه
١١٤	٥	وخت	وختچی
١١٤	٥	دا افغانستان	دافغانستان
١١٤	٦	«دوران»	«دردوران»
١١٤	١٧	ښگښو	پښگښو
ه١٤	٢٣	نومړی‌دی	نومړې‌ده
٥هه	٥	پابداتی	پاپدالی
٥هه	ه٥	(١)	(٣)
٥هه	ه٧	ووړو	وروړه
٦هه	٩	ووور	ورور
٦هه	٣ه	وجگنید	وجنگېد
٦هه	١٥	دخپل	خودخپل
ه١٦	١٥	بې‌اتفاقی	بې‌اتفاقی‌بې
ه١٧	٣	سپېږ	شپېږ
١١٨	١٧	احمدشاه‌شاه	احمدشاه
ه١٨	١٨	اکرڅوان	اکثراوان
١٢١	٣	دربار	ددربار
١٢١	١٠	کشیری	کشیری
١٢١	٢١	حون	چون
١٢٢	٣	کشیر	کشیر
١٢٢	٧	ډیره‌و	ډیرو
١٢٢	١٠	وژلونه	وژلوته

۱۲۲	۱۹	ازدو	اردو
۱۲۳	۷	کشیچیان	کشیکچیان
۱۲۳	۹	سرسیمه	سراسیمه
۱۲۳	۲۲	نشت	نشست
۱۲۵	۵	تدشیز	ترشیز
۱۲۸	۸	تل بچی باشی	توپچی باشی
۱۲۶	۱	نوتی	نواتی
۱۲۸	۱۲	دهیواو	دهیواد
۱۳۵	۱	پهوختو	پهوختوکی
۱۳۶	۱۱	اوبنیسره	اوبنېسره
۱۳۶	۰۸	دخوکلو	چی‌دخوکلو
۱۳۸	۲۱	کی‌سریو	کی‌بې‌یو
۱۳۹	۱	دبرشو	ددېرشو
۱۳۹	۷	زړورانو	زړورانوسره
۱۵۰	۱۹	وړاندی‌سول	وړاندی‌کړل
۱۵۳	۱۲	پهسرهند	چی‌پهسرهند
۱۵۴	۱۸	ودود	ورود
۱۵۴	۲۰	نودهرار	نودهزار
۱۵۶	۳	هغی‌خو	هغی‌خوا
۱۵۸	۳	پنجات	پنجاب
۱۵۸	۸	اوپهاوپه	اوپه
۱۵۹	۶	لاپهپه	لاپه
۱۵۹	۷	دېرسرهند	دسرهند

١٥٩	١٣	چرنی	چونی
١٦٢	٩	اجپوتان	راجپوتان
١٦٢	٩	و تبتبدل	و تبنتیدل
١٦٢	١٠	بار و ه و نکی	بارورونکی
١٦٢	١١	تیبنه	تېښته
١٦٢	١٥	خایه	ځایه
١٦٢	٢٠	افعانی	افغانی
١٦٣	١٦	کیدلو ر	کېدلو
١٦٣	١١	مر کز	مر کز و
١٦٦	٣	مکر ر	مقر ر
١٦٦	١٢	غلفت	غفلت
١٦٧	٢	بلوخو	بلو خو
١٦٧	١٣	خو تر ده	خو دده
١٦٧	١٨	لیګلی و	لیکلي و ه
١٦٨	١٣	پهمستنګ	چې پهمستنګ
١٦٨	١٥	خپل	چې خپل
١٦٩	٢	خایه	ځایه
١٧١	٢٢	بلکد	بلکه
١٧٢	١١	غو ړو نو نیو	غو ړو نه نیو
١٧٢	١٢	اذاظار	انتظار
١٧٣	٦	راتقصیر	رابه تقصیر
١٧٣	٦	خو یق	خو یش

۱۷۳	۱۱	کړي	کړه
۱۷۳	۳	ولو تیله	ولو تله
۱۷۳	۱۵	درانه	درانی
۱۷۳	۲۲	قعلرود	قلعه رود
۱۷۵	٦	د«تیاتو بی و »تر کلمې و روسته دی دا سی سم سی:	

«و لاړ ، انزل خان غو ښته چی د احمدشاه بابا له هدایت سر سم خان شاه رخ ته و وسوی او هغه ته د احمدشاه بابا له خوا اداو بنه و ر کړی» او بیادی هغه لیکه پیل سی چی:

خو شاهرخ ....»

۱۷۵	۱۱	نو ځکه	نو ځکه یې
۱۷۵	۱٦	نتیجه	نتیجه
۱۷۷	۱	دنیشاپو	دنیشاپور
۱۷۷	۱۹	قعله	قلعه
۱۷۸	۱۲	واوه	واوره
۱۷۸	۲۳	ښېر	ښار
۱۸۰	۱۸	او تېک	او اتک
۱۸۱	۱۰	قسطه	قسط
۱۸۲	۵	حی	چی
۱۸۳	۱	تاتادروم	تاتار و روم
۱۸۳	۵	په لښکر	په لښکر کی
۱۸۴	۱۰	په هندوستان	په هندوستان کی
۱۸۴	۱۵	و یوسف	و ست
۱۸۴	۲۳	د پښتو تاریخ	د پښتو تاریخ

۱۸۵	۹	اتنو ته	تنو ته
۱۸۵	۱۱	مقابلې	مقابلې
۱۸۵	۱۷	ددې	ددینی
و تشتگ ۱۸۶	۳	و تشتېد	و تبښتېد
۳ ۱۸۶	۳	سامانو ند	سامانو نه
۱۸۶	۸	جگړه	جگړه و کړه
۱۸۶	۱۲	دپاره	دپاره‌يې
۱۸۶	۱۷	په کندهار	په کندهار کی
۱۸۶	۲۲	خپش	خپښ
۱۸۷	۲۱	ایرا	ایزا
۱۸۸	۵	و خوځېد	و خوځېد
۱۸۸	۷	حضور	حضور ته
۱۸۸	۹	ددور	ددو و
۱۸۸	۲۰	خوابې	له خوابې
۱۸۸	۲۱	دډېر ېرو	دډېرو
۱۸۹	۱۱	په‌سار کی	په ښار کی
۱۹۰	۱۱	خدمت	خدمت ته
۱۹۰	۲۱	له‌قایه	له قاینه
۱۹۲	۳	سبزوار	سبز وار
۱۹۲	۸	ننواتو	په‌ننواتو
۱۹۲	۱۱	اوربند	او ربند
۱۹۳	۱۳	ضرونه	ضر رونه

۱۹۳	۵	بموجب	بیموجب
۱۹۶	۱	ورکړه	ورکړسوه
۱۹۶	۳	تللی	تللیو
۱۹۶	۵	سرلوړل	سرلوړی
۱۹۶	۶	وروته	وروته
۱۹۷	۱۰	خلگو	خلگوته
۱۹۹	۷	دنارشاه	دنادرشاه
۱۹۹	۱۲	سیمه	سیمی
۱۹۹	۱۳	کری	کړي
۱۹۹	۱۶	ونشلولې	ونښلولې
۱۹۹	۱۶	پهظاهره	پهظاهره
۱۹۹	۱۸	سرصیح	سرصح
۲۰۰	۲۲	۳۱۳مخ	۳۱۵مخ
۲۰۲	۱۰	ښپل	خپل
۲۰۳	۳	ښکه	څکه
۲۰۳	۵	کشکک	کشکک چې باشي بې
۲۰۴	۱	مالیالو	مالیاتو
۲۰۴	۲	وسپارلسو	وسپاره
۲۰۴	۶	لیږل دول	لیږدول
۲۰۵	۳	بهیدانه	بهیدله
۲۰۵	۶	په کتاب	په کتاب کې

فصل هفتم

هرچندبندگان راا گرچه محل قربت د ارند نرسد که ازخداوند فراغت کلی خواهد ودر تمشیت اعمال ومهامت وثیقت جویند، اما درحق اصحاب دیوان وزارت این رسم رفته است وناسعهود نیست ، اگر رای عالی ببیند، بنده را این تشریف ارزانی دارند تا بنده مستظهر گردد، وبانواع فراغ دل بدین خدمت مشغول باشد.

جواب

ماخواجه فاضل را بدین مسالت اجابت فرسودیم، وآنچه رسم است نوشتیم . همی گوید ابوسعید مسعود بن محمد که : والله الطالب الغالب الرحمان الرحیم که ابوالقاسم احمد بن الحسن را برین جمله نگهداریم، تا از وی درملك خیانت آشکارا پیدا نیاید رای نیکوی خویش را درباب وی نگردانیم، وسخن حاسدان ودشمنان را بروی نشنویم وخدای عزوجل رابرین جمله، گواه گرفتیم ، وکفی بالله شهیدا- (۱)

داوه دستر خواجه احمد میوندی اود سلطان مسعود ترمنځ «مواضعه» اویا دوزارت دسنلو تړون چې د هغه وخت د دربار داری اوضاع نو اساسی څنډه ډیره ښه ځینې ښکاریږي اودغزنوي دولت یوه په زړه پوري تاریخي وثیقه ده .

دلوړی «سوگند» متن:

دمواضعې یا تړون تر لاسلیك وروسته لوړی ستر خواجه احمد میوندی دخپلې وفاداری لوړه وکړه او بیا سلطان مسعود، چې دسلطان دلوړی مفهوم داووم فصل په جواب کې راوړه سو، اودستر خواجه احمد میوندی د لوړی (سوگند) متن داسی و:

---

(۱) آریانا مجله-۸ کال-۸ گڼه-۲ مخ- د ۱۳۲۹ کاڼوري

۲۰۶	۲	دهغه	هغه
۲۰۶	۷	راوړئېد	راوړسېدل
۲۰۶	۱۸	وتدړای	وړاندی
۲۰۶	۲۱	لوړه	لوړه‌وه
۲۰۷	۱۸	دسفر	دسفیر
۲۰۷	۱۸	ورستول	واستول
۲۰۷	۲۰	چی‌دسعادت‌خان	چی‌سه‌ادت‌خان
۲۰۷	۲۱	گاهی	گامی
۲۰۸	۳	سطوت‌وت	سطوت
۲۰۸	۱۰	سصافات	مصافات
۲۰۸	۲۲	گذشتن	گذاشتن
۲۰۸	۲۳	این‌خداداد	این‌دولت‌خداداد
۲۱۱	۵	او هم	او هم‌يې
۲۱۱	۱۳	روئی	اوله
۲۱۱	۱۵	ولجدنیال	ولجه‌و نیول
۲۱۱	۲۱	تاریخ	تاریخ
۲۲۱	۱	لوړسانی	لوړه‌سانی
۲۱۲	۶	لخند	خند
۲۱۲	۱۷	دپاوه	دپاره
۲۱۲	۱۸	محرم	دمحرم
۲۱۴	۳	واد	واده
شاه ۲۱۵	۹	شاهجان‌آباد	شاهجهان‌آباد
۲۱۵	۱۷	دپاچاله‌له	دپاچاله

٢١٦	٣	بزم	بزم
[illegible]	٢٥	سعيد	سعيد
٢٥٦	٢٥	خبان	جنان
٢١٨	٩	دپالەخوا	دپاچالەخوا
٢١٨	١٩	سعاوت	سعاودت
٢٢١	٦	بنتون	بینتون
٢٢١	٧	زور	زرو
٢٢١	١٠	بنه	بنه
٢٢١ ٢	١٩	وتبنبتله	ونبنتله
٢٢١	٢١	غورخنگم	غورخنگ
٢٢٢	١٧	هغه	دهغه
٢٢٢	١٧	خکەسی	خکەچی
٢٢٣	٨	وسرەتیر	سرتيرو
٢٢٣	١٣	الديخنان	الدين خان
٢٢٤	٨	احمشاەبابا	احمدشاەبابا
٢٢٤	١٣	خپله	خپلو
٢٢٤	١٦	پرورکبنپیشود	پرسرورکبنپبنود
٢٢٤	٢١	الماس	التماس
٢٢٥	٢٢	٢٧٠	٦٧٠
٢٢٦ ٤	١٣	مشسوت	مشسوب
٢٢٧	١٩	تاره	تازه
٢٢٨	٣	الغمره	العمره

۲۲۸	۵	سملکٔ	سملکت
۲۲۸	۱۳	بانضام	بانضمام
۲۲۸	۲۳	کر دو	گر دد
۲۲۹	۳	هندوستان	دهندوستان
۲۳۰	۲	څخه	څخه یې
۲۳۰	۵	هغه ځای	دهغه ځای
۲۳۰	۱۱	خلك	خلکٔ یې
۲۳۹	۱۷	جګړو	جګړو کې
۲۴۲	۳	زره ئې و اچاو	زړه یې و اچاوه
۲۴۳	۳	تجیب خان او	نجیب خان
۲۴۵	۱	وښي	وښیي
۲۴۷	۳	تښتېدله	تښتېدلې
۲۴۷	۱۵	و تښتېدل	و تښتېدل
۲۴۸	۲۲	پکښې	پکښې وو
۲۴۹	۸	اکبرآباد	اکبرآباد
۲۵۵	۲	او داه	او د
۲۵۶	۱۳	ډرنډی	ډونډی
۲۵۷	۷	کې	که
۲۶۰	۶	پرا	پر
۲۶۰	۸	ئی	تی
۲۶۰	۱۱	بله	بلله
۲۶۱	۸	په هندوستان	په هندوستان کې

۲۶۱	۱۱	سپکټ	سپکټ
۲۶۳	۱۳	کين	کيڼ
۲۶۴	۱۸	عدو د	عدو
۲۶۷	۱۶	پخله	پخپله
۲۶۸	۷	دسرار	سر دار
۲۶۹	۸	شمر	شمير
۲۷۰	۴	نگيالی	ننگيالی
«	۱۵	تيو رشاه	تيمو رشاه
۲۷۲	۳	دپزی‌هغی	دپزی‌نارو غی
۲۷۷	۱۶	دراغو بنتل	داراغو بنتل
۲۷۸ ۷	۳	و رو سته	و رو سته‌يي
۲۸۰	۱۰	پو ريزه	پو ړ يزه
۲۸۵	۱	له‌يوې‌خخه‌تر خلر مي‌ليکي‌پو ری‌نظم‌دی‌چی‌د	

نثر په‌تو گه‌چاپ‌سوی‌دی‌بايد‌داسی‌و لو ستل‌سی :

شاه‌و الاجاه‌احمدشاه‌در انی که بو د
در قو انين‌امو رسلطنت کسری‌منش
از نهيب‌قهر مان‌سطو تش‌در عهداو
شير آهو را بشير خو يش‌دادی پر و رش
سير سداز هر طر ف‌در گو ش‌بدخو اهاون‌او
از ز بان‌خنجر ش‌هر دم هز ار ان‌سر ز نش
چو ر و ان‌شدجانب دار البقاتار يخ بو د
سال هجری‌يکهز ار و يکصدو هشتادو شش

۲۸۵	۲۰	دەنە	دەنە
۲۸۶	۶	راغونەيدل	راغونەيدل
۲۸۶	۶	راغونەيل	راغونەل
	۲۱	كتاب	كتاب
۲۸۷	۹	فكير	فكر
۲۸۸	۲۰	خوښن	خوښ
۲۸۹	۱۳	مومن	مونز
»	۱۸	خوښ	خښ
۲۹۲	۱۱	کړی	کړه
»*	۱۳	كه	له
۲۹۵	۳	كاپ	كاپی
۲۹۷	۳	خواهی	خوابیم
۲۹۸	۸	۳۳۳۵	۳۲۳۵
۳۱۳	۲	ویلی ویلی	ویلی
»	۲۳	هنگر	آهنگر
۳۱۹	۲	احمدلو دی شیخ	دا نوم تکرار دی
۳۲۰	۳	دچکمن	چی دچکمن
»	۲۰	دیبولو	دنیولو
۳۲۶	۳۲۶ ۱۶	بنار والی	بنار وال
۲۸۳	۳	اعیای	اعیان
۳۲۸	۱۲	دهجری قمری او هجری شمسی خالی خایونه دی	

داسی د کښی:

١٢٨١ هش

١٢١٩ هق

٣٣٠ ١١ داليكه بايد د كتاب له متنه و ايستله سى او پسه حاشيه كى راو نه سى.

»	١٣	(١)	(٣)
»	٢٢	(١)	(٣)
٣٣٢	١٣	او خنجر خان	او د خنجر خان
٣٣٣	٣	له ديليكى	غخه تر و ليكى پورى نعر دى بايد

په ديترتيب و لوستل سى:

تا خطش طرح جهانگيرى طاؤسى ريخت

لشكر زنگ چو روسى بسر روسى ريخت

سر مه آلوده نگاهى كه بيادم آمد

كه سر شك شفقتى از مژه ام طوسى ريخت

شمع از اشك زخش بو قلمون سوخت بيزم

جاى اشكش همه خاكستر طاؤسى ريخت

بر در بتكده از ناله زارم ناقوس

همه تن آب شدو از لب ناقوسى ريخت

با سيديكه شو د جلوه گر آن سر و روان

خاك شد جبهه و در راه قدمبوسى ريخت

٣٣٥	٢	حديثر نه	حديثو نه
٣٣٨	١٥	الفنائس	الفنائس
٣٤١	٧	درده كره	دزده كړى

۳۴۶	٦	او مصاحب	او مصاحب و
«	۱٦	درازی	دروازې
۳۴۹	۳	پایخوړوی	پایخوړدی
۳۵۱	۱۵	پهلښکر	پهلښکر کی
۳۵۲	۴	اوارتگین	تکراردی
«	۱۲	لاارتگین	ارتگین
۳۵۴	۱۹	روسانی	روښانی
۳۵۵	۳	دپاره	دپارهبې
«	۱۱	دالیکهدیپهحاشیه کیو لکلهسی، دمتنلیکنهده.	
۳۵۵	۱۵	(۱)	(۲)
«	۲۰	(۱)	(۲)

۳۵۷ ۱۲او۱۳ لیکیشعر دیخو دکتاب پهمتن کیدنثر پهتوگـه ترتیبسوی دیبایدداسیو لوستلسی:

		دفقیر پښتون دیوان دی	دادیوانحقانیخوان دی
		دیریخته پهخلو رژبو	دیبیانپهخوالوان دی
۳۵۷	۱۷	دارزانی	(ارزانی)
۳۶۴	۱۱	دبدنی	دبدبې
«	۱۲	پلمې	پلمیبې
«	۲۳	لهخوا	لهیوېخوا
۳۶۵	۳	ارياق	اریارق
۳۶۹	۱۳	نارغی	ناروغی

«	١٨	بسبب	بسببب
«	٢٣	کنبړ کی	کنیز کی
٣٧٠	٥	شهرت	شهوت
٣٩٢	١٩	اسحاق‌فاریابی‌دانوم‌تکراردی تر ۱۱۸۰ گڼې لاندې‌دې ولوستل سی..	
٣٩٥	٢	تر الیاس‌دمخه‌دی«یحیی»نوم زیات سی.	
٣٩٥		—پەدی‌سخ کی‌دوه«اسد»نوسی‌نوسیالی‌راغلی‌دی چی پەحقیقت کی‌یوسړی‌دی	
٣٠٨	٥	داتشئید	درتشئید
«	٢٠	فتح خان	فتح خان
٣٠٩	٣	فتح خان	فتح خان
«	١١	لون	لوڼ
«	١٥	پەکوخە	پەکوخەکی
٣١١	٢١	١٢٧٢	١٢٠٢
٣١٢	١١	قصات	قصاب
«	١٣	او یوته	او یوه‌ته
«	١٥	او پښی	او دپښې
٣١٣	١	پەهند	پەهندکی
«	٢١	هغه	هغه‌ته
٣١٧	١	زەناسو	زەتاته
«	٣	تهدیدیەلای	تهدیدېدلای
٣١٧	٨	محمو	محمود

۳۱۸	۱۸	مجمود	محمود
۳۱۹	۲	القئی	الحقنی
»	۹	دانوم دمخه په (۲۰۶) گڼه کی هم راغلی او دواړه یو سړی دی.	
۳۲۶	۱	دخپل پلار په	دخپل پلار په شان
»	۳	زره	زړه
»	۷	هغد	هغه
»	۸	دوې: پر ځای	ددې پر ځای چې
		خوشخال خلاص کړی	
»	۱۳	پیسور	پېښور
»	۲۱	رفات	وفات
۳۲۸	۳	په‌اشعارو	په‌اشعارو کې
۳۲۹	۲۲	خبله	ځبله
۳۳۳	۲۱	اخوان	اخون
۳۳۴	۱۳	احم بلخی	اصم بلخی
»	۱۹	راویشتله	راویستله
۳۳۹	۲۰	اختی	اخته‌و
۳۳۹	۲۱	دو کال	دوه کاله
۳۴۰	۲	دهجری	هجری
»	۵	سرارمقرر کړی	او ماته‌سردار مقرر کړی
»	۶	دسرآری	دسرداری
»	۱۸	تألیف	او تالیف

۴۴۱	۱۰	دپارسمی	دپارسی
۴۴۳	۱۴	واره	وراره
۴۴۷	۱۵	طمع	طمع
۴۴۹	۱۷	زمینداو	زمینداور
۴۵۰	۳	لەښەمرغە	لەښەمرغە
〃	۲۰	کلی	کلمی
۴۵۴	۴	دفترو	ددفترو
〃	۵	محمداکرو	محمداکرم
۴۵۵	۱۱	بالاحصا	بالاحصار
〃	۱۷	وخوځېد	وخوځېد
۴۵۶	۷	ورښانی	روښانی
〃	۸	مشر	دمشر
۴۵۶	۱۰	سره	سرەیې
۴۷۲	۱۲	ستای‌ته	سرای‌ته
۴۷۳	۹	روهانیونو	روحانیونو
۴۷۸	۲۰	ښتو	پښتو
۴۷۹	۱	پنحښبې	پنجشنبې
۴۸۰	۱	اصلاتو	اصلاحاتو
〃	۶	جوړەلو	جوړولو
〃	۱۴	دېره	ډېره
〃	۱۶	پښتو پښتو یه	پښتو پښو یه
۴۸۱	۵	دخېل	دخپل پلار

«بسم الله الرحمن الرحیم، ان الذین یشترون بعهدالله وایمانهم ثمناقلیلا اولئک لاخلاق لهم فی الاخرة ولا یکلمهم الله، ولا ینظرالیهم یوم القمةولا یزکیهم ولهم عذاب الیم. با یزدویز نهارایزد، وبدان خدای که پیغمبررا علیه السلام براستی بخلق فرستاد، بدان خدای که نهان وآشکار راداند، که من که ابوالقاسم احمدبن الحسنم باخداوند عالم سلطان بزرگ ولی النعم ابو سعید مسعود بن محمود راست باشم، باعتقاد نیت ووجوه معاملت، و بادوستان او دوستی کنم، وباد شمنان دشمنی پیوندم ودرهر چیزی که بصلاح تن وملک و دولت وی ومصالح اسباب فرزندان واولیاء حشم واصناف لشکرو مال و ملک وی بازگردد، اندران سعی تمام کنم، ودر شغل وزارت که بر من اعتماد فرموده طریقهٔ امانت سپرم، وخیانت نکنم وخویشتن را اندر تضییع مال آن خداوند هیچگونه توفیر نکنم ونگیرم درجلب اموال و دخل ولایات وی، آنچه جهدو جد است، بجاي آورم، وبا فرزندان، سالاران، وکافهٔ حشم وی، مطابقت نکنم درچیزی که ضرران بوی وبملک ومال وی بازگردد، وهمچنان باد شمنان ومخالفان وی، چون خانیان وبانا سوافقان ومعاهدان ازسجاوران وملوک اطراف اگر سخنی باید گفت یا مکاتیبی باید کرد، بفرمان عالی کنم، وبرپوشیدگی کاری نپیوندم، که ازآن فسادی بملک وتن وی بازگردد، واین شرایط رایگان بجای نیاورم ازخدای عزوجل وحول قوهٔ وی بیزار باشم، وبر قوت وحول خویش اعتماد کردم، وهر نعمت وخواسته که دارم ازصامت وناطق و تاآخر عمر بسازم بسبیل، اگراین سوگندرا دروغ کنم هرزن که دارم وتاآخر عمر بخواهم بروی بسه طلاق باشند، واگراین سوگندرا دروغ کنم ویارخصتی جویم ویا استثنأ کنم این سوگندان ازسرلازم آید، و نیت من اندرین سوگندان که خوردم نیت خداوند عالی سلطان اعظم ابوسعید بن محمود است، وخدای عزوجل را برین سوگند که خوردم گواه گرفتم وکفی بالله شهیداوالسلام

دوزارت خلعت اغوستل: ابوالفضل بیهقی دمواضعي ترلاسلیک وروسته دسترخواجه احمد میوندی دوزارت دخلعت اغوستلو مراسم او دسلطان مسعود

	۲۰۳	میږ ته	میږ ته
۳۹۱	۸	محد	محمد
»	۱۲	بخجي غوري	بنجي غوري
»	۱۸	»	» » »
۳۹۳	۳۹۳ ۳	عروته	غروته
»	۲۰	لمجالس	المجالس
۳۹۵	۱۲	خشم	چشم
۳۹۹	٦	خوش	خوښ
	»	میبځلی	سینځلی
۳۹۹	۱۳	کتابو نو	کتابونو
۵۰۳	۸	ماتپدلو	ماتیدلو
۵۰۷	۲۱	خزین	حزین
۵۰۸	۷	سرداو	سردار
»	»	سرد	سردار
۵۰۹	۸	اوگر	لوگر
۵۱۰	۱۸	عبدالله	عبدالله خان
»	۲۲	الکبنر	الکبندر
۵۱۱	۳	روبایغ	پایغور
»	۱۹	عرض	غرض
»	۲۱	دمرانديشي	دوراندیشي
۵۱۲	۱۵	یواز	یوازې
۵۱۵	۱٦	لەدې لیکي څخه بیاتر شلمي لیکي پوري نظم دی	

دنظم په تو گه دی و لو ستل سی،

٥١٦ ـــ ددی مخ لومړی او دوهم او دریمه لیکه هم نظم دي خو سهوآ

دنشر په دول ترتیب سوی دی،

٥١٦	٥	دافغان	دافغانستان
٥١٨	٢	انسی	انیسی
»	٣	بد	په
٥٢١	١٣	دربا	دربار
٥٢٢	١٢	پهستاینه	پهستاینه کی
»	[illegible]	خکه	ځکه
[illegible]	[illegible]	ئهنظر	پهنظر
٥٢٣	٩	قشیده	قصیده
٥٢٦	٦	څخی	څخه
»	١٠	نقاق	نفاق
»	١٨	بو دزی	بو ذری
٥٢٧	٢	ازجعفری	ز رجعفری
٥٣٠	٢	ر دی	ز دی
»	٣	دو شه	دو سه
»	١٨	زخرقهٔ	خرقهٔ
٥٣٥	٢٠	قناعت‌شد	قناعت‌شو
٥٣٦	٧	لیکنن	لیکن
٥٣٧	٣	کجاست؟	از کجاسته؟

٥٣٨	٢	دانوی	دانوری
»	٦	انوای	انوری
»	٢٠	دخسار	رخسار
٥٣٩	٢	محمدواپار	محمودوایاز
»	٥	مغدور	معذور
»	٧	غلیت	غایت
٥٤٣	٢	مجبون	مجنون
٥٤٤	١٣	تورپریش	تورپریش
٥٤٥	١٢	دیر	ډېر
٥٥٢	٥	جنګلاك	جنګلك

یا د ونه: دا کتاب د ښاغلی حیات الله «عم
ښاغلی اور محمد نخي زاده» په زیار او اهتمام چاپ شو.

دپښتو دپیاوړ تیا او پر مختیـاد آمریت لەخوا خپاره شوی کتابونه:

١ـاوسنی لیکوال (دریم ټوك)

٢ـپښتو مثنوی

٣ـدملګرو ملتو منشور .

٤ـمجاهد افغان

٥ـپښتو لیکونه .

٦ـدنارنج ګل.

٧ـابو ریحان البیرونی.

٨ـد البیرو نی دسیمینار مقالی.

٩ـابدالی توره.

١٠ـجیبی سیاسیدایرة المعارف.

١١ـزما ژوند اومبارزه (باچاخان)

١٢ـزما اولس به ژوندی پاتیشی (لیلی خالد)

١٣ـدافغانستان نومیالی(دوهټوکه)

١٤ـپټه خزانه.

١٥ـخواجه عبداللهانصا ری اودده مناجاتو نه.

١٦ـلوی پیر غوث الاعظم.

پەدوو وروستيو پېړيو کې دپښتودڅېړنې شوو
آثارو دسيمينار پەوياړ خپاره شوي کتابونه

- دافغانستان لنډ تاريخ
- ګلشن روه
- کليد افغاني
- ګرېښتو ماتې
- درحمن بابا ديوان
- دپښتونخوا دشعرهار او بهار
- دستيج څخه ترتلويزيون پورې
- دقلندر اپريدي ديوان
- د حمشاه بابا داشعارو پښتو شرحه
- فرهنګ زبان وادبيات پښتو
- دزيري فوق‌العاده ګڼه ٦٠ مخه
- ساختمان وصرف پښتو .
- پەافغانستان کې دژورناليزم تاريخچه
- پښتو پانګه
- دطالب داشعارو مجموعه
- پښتوکتاب ښود
- پښتو څېړنې
- دافغانستان نوميالي
- پښتو څېړونې
- اولسي پوهه
- معرفة الافغاني
- سپوږمۍ
- نوي انديښنې
- دپښتو تاريخ
- ګلدن سټيت
- دنغمو کاروان
- دپښتو تاريخ

دولتي مطبعه

له خواده ته بشپړوا کټ اواختيارورکول او خپل د ستر گو ليدلی حال په تفصيل سره بيان کړی دی چی له هغه څخه د ستر خواجه مقام او منزلت اواحترام د سلطان مسعود په دربارکی ښه څرگندیږی - بيهقی ليکی :

«او بله ورځ د(۴۲۲ ه) کال دصفری د مياشتی په نهمه خواجه دربارته راغی اوورپاندی ولاړ، غتیان او مشران او مخور او سر هنگان او اوليأ اوحشم ئی مخی ته ورغلل او د خد ست دودئی پر ځای کی اوا مير، خواجه ته مخ واړاوه و يی ويل :

« خلعت وزارت بيا يد پو شيد که شغل در پيش بسيار دار يم، وبيايد دانست که خواجه خليفت ما ست در هرچه بمصلحت بازگردد، و مثال و اشارت وی روان است درهمه کارها، وبانچه بيند کس را اعتراض نيست»

خواجه مځکه سچ کړه اوويويل: «فرمانبردار يم» امير، حاجب بلکا تگين ته چی د حاجبانو مشرو، اشاره وکړه چی خواجه «جامه خانه» ته بوزی اوتر غرسی پوری نژدی هلته و، او دا وخت د فلک جاسوس (منجم) دده د خلعت اغوستلو طالع ښوولی وه، څو چی خواجه خلعت وا غوست » بيا نو بيهقی د خپلو ستر گو ليدلی حال داسی ليکی:

« خواجه خلعت بپوشيد و بنظاره ايستاده بودم، آنچه گويم از معاينه گويم و از تعليق که دارم واز تقويم - قبای سقلا طون بغدادی بود سپيدی سپيد، سخت خرد نقش پيدا، و عمامهٔ قصب بزرگ اما بغايت باريک و سرتفع و طرازی سخت باريک وزنجيرهٔ بزرگ وکمری ازهزار مثقال پيروزهادر نشانده، و حاجب بلکاتگين بدر «جامه خانه» بود نشسته، چون خواجه بيرون آمد بر پای خاست وتهنيت کرد و ديناری و دستارچه با دو پيروزه نگين سخت بزرگ بر انگشتری نشانده بدست خواجه دادو آغاز کرد تا پيش خواجه رود، گفت: « بجان و سر سلطان که پهلوی من روی، و ديگر حاجبان را بگوی پيش روند» بلکا تگين گفت: خواجه بزرگ مرا اين نگويد که دوستداری من پيدا ند، و ديگر خلعت خداوند سلطان پوشيده است، و حشمت آن ما بندگان را نگاه بايد داشت » و برفت در پيش خواجه،

ودوحاجب دیگر باوی بودند وبسیار مرتبه داران، وغلامی راازآن خواجه نیز بحاجبی نامزد کردند باقبای ونگین ، که حاجب خواجگان را د رسیا رسم نبا شد پیش وی برفتن ، چون به میان سرای برسید حاجبان دیگر پذیره آمدند واوراپیش امیر بردندو بنشاندند ، وامیرگفت :«خواجه راسبارک باد ؟»

خواجه برپای خاست وزمین بوسه داد وپیش تخت رفت وعقد ی گوهر بدست امیر داد . وگفتند ده هزار دینار قیمت آن بود . امیر مسعود انگشتری پیروزه، بر آن نگین نام امیر برآنجا نشته ، بدست خواجه دادوگفت :

(انگشتری سلك ماست وبتو دادیم تامقرر گردد که پس ازفرمان ماشالهای خواجه است» .

وخواجه بستد ودست امیر وزمین بوسه دادوبازگشت بسوی خانه، وباوی کوکبهٔ بود که کس چنان یادنداشت ، چنانکه بردرگاه سلطان جز نو بتیان کس نماند ، وازد رعبدالا علی فرودآمدوبخانه رفت ، وبهتران واعیان آمدن گرفتند ، چندان غلام ونثار وجامه آوردند که مانند آن هیچ وزیری راندیده بودند ، بعضی تقر یب را از دل وبعضی ازبیم ، ونسخت آنچه آوردند میکردند تا جمله پیش سلطان آوردند چنانکه رشته تاری ازجهته خود باز نگرفت ، که چنین چیزها ازوی آموختندی که مهذب تر ومهتر تر روزگار بود، وتانماز پیشین نشسته بود که جز بنماز برنخاست وروز ی سخت باتام بگذشت) (دتا ریخ بیهقی ۱۵۵ مخ) .

په دې توگه خواجه احمد میوندی ترشپږو کالو عزل او بندورو سته دسلطان مسعود له خوا بیا په ډیرشان اوشوکت دوزارت پرمسند کښینول سو، اوترسلطان مسعود راالاندې د هغه وخت دغزنوي د ربار لوړی وا کمن وزیر وتپا کل سو .

په کا ر پیل :ابوالفضل بیهقي لیکي چې د کار دشروع په لومړی ورځ چې دیوان ته راغی لومړی یې دو رکعته نمونځ وکی اوبیایې د هغهٔ وخت دوزیرانو پر عادت مشواني اوقلم وغوښتل اوپر کاغذ یې دخدای تر حمد اود پیغمبر ترستاینې

راژوندی کولو اوچاپولو کی یی همت کړی دی. ده تل په گمنامی او انزوا کی ژوند تیر کړی دی ، دده وفات د ټول عالم اسلام په زړاته بیا د حنفی فقی د مذهب پیروا نو ته یوه الم ناکه او یه سانحه ده ، خدای تعالی د ی ده لری د خپل قرب مقام ورعطا کړی (دالحق خلرم مخ) د ببی د (انقلاب) اورځپانه د ۱۹۷۵ م کال د اگست په دریمی گڼی د مولوی ابوالوفا افغان د مړینې په هکله داسی لیکی .

(د صدرالجنتهٔ د حیدرآباد د احیا المعارف النعمانیه د حضرت مولینا ابوالوفا صاحب افغان المناك وفات نه یوازی د هند او پاکستان د اهل علم په منځ کی بلکه د ټولی نړی په علمی حلقو کی په ډیر تاسف او خواشینې اوریدل سوی دی . د دغه استاد شریف شخصیت د مشیخیت او علمیت لطیف مزوج و ، چی نظیر یی لږ پیدا کیږی . د یوه پلوه درویش ، عابد ، زاهد او خدای پرسته و ، خو په عین حال کی زبر دست عالم او محقق و ، چی په عامی دنیا کی یی مسلم شخصیت درلود ، او د عالمانو او محققانو په لومړی صف کی شمیرل کېدی او پنځوس کاله یې د دکن په حیدرآباد د حنفی نادرو کتابونو په موندلو اوچاپولو او شاگردانو روزلو او علمی مشاغلو کی تیر کړل او په کلو کلود د کن د حیدرآباد د نظامیهٔ . مدرسی مدرس او د . دایرة المعاف النعمانیه مشر و ، چی د زرهاو نو وطبقو څخه یی پهاوړی مخلص شاگردان درلود ل ، په خپلو افغانی روایاتو ، زهد او تقوا ، ښو اخلاقو ، تواضع او عامی پاتنو سخت پابند و ، مجلس یی خوږ او پراخ و ، د خپلو تیرو صالحینو د علم او عمل ښه نمونه و ، مرشدانه شفقت محبت او مهربانی یی درلوده او ترځان وروسته یې یو شمیر لوی شاگردان ، پیروان او مخلصان پریښوول چی په حقیقت کی دده علمی ترکه ده (۱) .

د مولوی صاحب د پښتو یو شمیر اشعارد . کند هارد (طلوع افغان) دور ځپا نی د ۱۳۱۰ — او ۱۳۲۰ هـ ش کلو ترمنځ په گڼو کی خپا ره سوی دی او د لته

---

(۱) د انقلاب دورځپانی د ۱۸۲ گڼی ، اته دیرشم ټوك دریم مخ .

وروسته دشکر په نامه بې وزلو ، مسکینانو ته دلسو زرو درهمو ، اود لسوزر وډوډيو دغوښوسره ، اولسوزرو گزو کرباسو دخیرات ویشلو امرلاسلیك کی اود هغه امرمتن داسی و :

(بسم الله الرحمن الرحیم —الحمدالله رب العالمین والصلوة علی رسوله المصطفی محمد وآله اجمعین ، وحسبی الله ونعم الوکیل ، اللهم اغنی لما تحب وترضی برحمتك یاآرحم الراحمین . لیطلق علی الفقراوالمساکین شکراً لله العالمین منا لورق (١) عشرة آلاف درهم و من الخبز عشرة آلاف ومن اللحم خمسه آلاف ومن الکر باس عشره آلاف ذراع) دا امرېې (دویت دار) ته وسپاره چی د ستی اجراسو، بیایې نو متظلمان اودحاجتو خاوندان وروغوښتل ، د هغوعرضونه یې واورېدل او په دادیې ورسید ، خوشحاله یې رخصت کړه ، اوورته ویویل :

(ددیوان دمجلس اوسراې ورهر چاته پرانیستی دی ، هیڅ حجاب نشته ، هر څوك چی څه کارولری راتلای سی)

خلکو ډیری دعاوی ورته وکړی اوډېراسیدواره سول ، بیامستوفیان اود بیران ورته راغلل په ترتیب سره کښیناستل ، ستر خواجه مخ ورته راواړوه او ویویل :

(سبا باید داسی راسی چی د هرڅه چی زه پوښتنه وکړم تاسی یې جواب راکړای سی ، بل وخت یا بل چاته یې حواله نه کړی . تراوسه پوری کارونه په ډیره ناوړه توگه روان و ، هرڅوك په خپل شخصی کاربوخت و ، اوسلطانی کارونه ضایع پاته وو ، اواحمدحسن تاسی ښه پېژنی ، پرهغه ډول چی تراوسه واست تاسی نه پرېږدی ، باید بل پوست واغوندی اوهرڅوك خپل کار و کړی) .

هیچا څه ونه ویل ، اوټول وبیرېدل او وینی یې په رگو کی وچی سولی — ستر خواجه پاخید ، کورته ولاړ ، اوهغه ورځ ترماښامه خلکو ندرونه راوړل ، خوچی ماز دیگر سو نو سترخواجه هغه ټول بې اندازې ډېر مال چی زیاته زراونا سکښتی کالی او ډیر قیمتی ترکی سریان ، آسان ، اوښان اونوردشاهی تجمل اوښکلا ډېرسامانونه وو ، د هغو

دلست‌سوه سلطان مسعود ته ولیږل او اکه دمخه چي‌وویل سوه سره له دی چی ستر خواجه په‌دغه‌وخت کی‌ډیرڅه نه‌در لودل خوداتول مال‌یی دبیت‌المال حق وباله اوپه‌خپله یې یو(تار) هم ځانته ونه ساته هغه‌وخت چی د اتول مال سلطان ته ورسید هغه‌ډیر خوښ‌سو ،اوویویل: (خواجه مرد یا ست تهی دست ،چرااین باز نگرفت ؟ ».

نو هغه و،چی سلطان مسعود لس‌زره دینار ،او پنځه‌سوه زره د رمه اولس قیمتی ترکان مریان‌اوپنځه خاص سرکبه او دوې زینـــی غاتـــری اواس او ښان د عبدوس په لاس ستر خواجه تـه ورولیږل او ستر خواجه د سلطان مننه وکـړه او ډیری دعاوی ورته وکړې»

دلته به بی ځایه نه وی چی د هغه وخت د نوميالی شاعر فرخی هغه قصیده راوړو چی د ستر احمد میوندي د بیرته وزیر کېداو په مناسبت ویلی ده، او په هغه کی یې د ستر خواجه د کفایت او لیاقت‌او دده په غیاب کی‌د دولتی چارو دورانی او دده په بیرته‌راتگ‌د چارو د سمون ښه تصویر کښلی‌دی ـ او هغه قصیده داده:

ای ترك همی بازشود بدل بسر کار
آن خویله کرده‌است که‌ورزید همی پار
صد بارفزون گفت که تا کی‌خورم این غم
من زین دل بیچاره خجل گشتم هربار
شش‌سال‌دمادم غم‌وتیمارتوخورده است
و قت ا ست که او را برهانیم زتیمار
دستور ملك صاحب ابوالقاسم احمد
آن حمد و ثنارا بدل و د یده خریدار
تا سا یهٔ او دورشد از دولت محمو د
دیدی که جهان برچه‌نمطه‌بودوچه کردار

بی سایه و بی حشمت او ملك جهان بود
چون خانه که ویران شود آنراد رو دیوار
لشکر بخروش آمده و ملك بجنبش
وز روی دگر گشته خزانه همه آوار
بی آنکه در آید بخزانه درمی سیم
اندر همه گیتی نه درم ماند نه دینار
مالش همه لاشی شد و ملکش همه ناچیز
دشمن بفضول آمد و بدگوی بگفتار
اکنون که بدین دولت باز آمد بنگر
تا چون شود این ملك فرور یخته از بار
هر چند که ویرانست امروز خراسان
هر چند نمانده است در او مردم بسیار
سال دگر از دولت و از برکت خواجه
چون باغ پر از گل شود اندرمهٔ آزار
رأی و نظر خواجه چو باران بهار است
این هر دو چو پیوست بخندد گل و گلزار
عدل آمد و امن آمد و رستند رعیت
از پنجهٔ گرگان ربایندهٔ غدار
دندان همه کند شد و چنگ همه سست
گشتند چو کفتار کنون از پی مردار
شش سال بکام دل و آسانی خوردند
باید زدن امروز چو اشتر همه نشخوار
بسیار بخوردند و نبردند گمانی
کز خوردن بسیار شود مردم بیمار

آمد گه بیماری و لاغر شدن آن

آنرا که بلر زاند چون برگ سپیدار

ای صدر وزارت بتو باز آمده صاحب

رستی زغم وزاری وایمن شدی از عار

مهم کارونه او مشوري: ستر خواجه احمد میوندی د خپل دوهم وار د وزارت له شروع څخه بیا د خپل ژوند تر پایه پوری سلطان مسعود او د غزنی امپراتوری ته لوی او مهم کارونه وکړه، تر هر څه دمخه یې د لښکر تنظیم ته توجه وکړه، بوسهل زوزنی یې د لښکر د تنظیم دپاره وټاکه او بوسهل حمدوی ته یې چې له وزارته غزل سوی و، د هیواد د « اشراف » یعني عمومي مفتشیت وسپاره او دا دواړه په د ستر خواجه ښی لاس او کین لاس ته کښېنا ستل او دوی دواړو ته هم هر څه چې د نذر او سوغات په نامه راتلل دلست سره یې د دولت خزانې ته سپارل.

د داخلی چارو پرسمون سربیره یې د دباندینو هیوادو سره هم د دوستی روابطه ښه پسی ټینګ کړل، د بغداد د خلافت سره یې دوستانه مراسلات جاری وساتل، د ترکستان د خانانو سره په تیره بیا د «قدرخان» سره یې د غزنوی پاچهانو د کورنی خپلوی زیاته کړه، خواستازی یې ورولیږل، د قدرخان لوریې سلطان مسعود او د قدرخان د مشر زوی بغراتګین لوریې د سلطان مسعود زوی امیرمودود ته وغوښتله، او هم یې د خوارزم د امیر ابوالعباس خوارزمشا سره چې د سلطان محمود له خورنه د غزنوی شاهی کورنی خپین و، او د امیر سبکتګین لور «حره کالجی» یې په نکاح کی وه، لا ښه مناسبات ټینګ سوه، څوچې د ستر خواجه په ښه تدبیر په خوارزم کی د سلطان مسعود په نامه خطبه وویله سوه، او د ابوالعباس تروژنی وروسته خوارزم د غزنی په امپراتوری پوری ونښلول سوه (چې د دې پیښی تفصیل له دمخه چې یاده سوه د تاریخ بیهقی په ۶۷۰ مخ کی تر ۶۷۷ مخ پوری راغلی دی)

د ستر خواجه احمد میوندی د ژوند له پیښو څخه څرګندیږی چې دی د ګاوندیو

هیواد وپه حال اوسیاست اوپېښو څخه ډېرښه خبرو، اوپه دی باب کی یې سلطان مسعود ته ګټوری مشورې ورکولي اوهغه هم دی دپلار پرځای باله اودده مشورې یې زیاتره منلې، دمثال په توګه په (۴۲۲ ﻫ) کال چی سلطان مسعود له بلخه غزنی ته بریالی ورسید ترڅه مودې استراحت وروسته یې بیا دهځی او خوځیدلو نیت وکی نود ستر خواجه احمد میوندی او نورو مشرانو سره یې پټه مشوره وکړه چی پرکمه خوا ولاړ سی ؟

نوله هغی مشورې څخه چی سترخواجه ورکړې ده دده دسیاسی فکر پوخوالی ښه ښکاره کیږی. ابوالفضل بیهقی لیکی چی:

سلطان مسعود په یوه پټه غونډه کی په ستر خواجه احمد میوندی اوددربار له نوروغټانو څخه پوښتنه وکړه چی:

«پر کمه خواولاړ سو ؟»

سترخواجه ورته وویل: «دخداوند » رایه څه ده؟ اوڅه فکرېې کړی دی؟

سلطان مسعود وویل: «په زړه کی سی راګرځی چی ددې څونعمتونوپه شکرانه کی چی تازه بې زحمته سوپه برخه سوی دی دهندوستان خواته یوه غزا وکړم چی هم سو د پلارسنت تازه کړی وی اوهم سود خپلی میرانی په څرګندولو لشکر اداکړی وی، اوهم به سوپه هندوستان کی یولوی برم ښکاره سی اوپوه به سی چی که زسوږ پلار له د نیا تللی دی سوږهم دوی نه پریرو چی څه خوب ووینی» ستر خواجه ورته وویل: «خداوند ډېرښه فکر کړی دی اوبې له دې بل څه نه ښایی او ښه هم هغه ده چی عالی رایه یې وینی، خودلته یوه مسئله سته اوڅنګه چی خبره مشوری ته لوېدلې ده نوزه په هغه څه چی پوهیږم باید ووایم اوخداوندې ښه واروی اوداً بندګان چی حاضردی هم یې واروی چی زما خبره سمه که یه ؟ بیا هرڅه چی خوښه سوه هغه بایدوکړسی: خداوندیوناموتو سالار هندوستان ته ولېږه اوهلته چمتوتیار لښکر پروت دی، اودماوراءالنهر خلګ هم په راوتو او راتللو دی اودسغدان سره یوځای کیږی اوسږ کال به هلته هم ښه غزوه وسی

چې د خداوند د پلوه هغه ښه ده، او بل سالار د خراسان او «ري» لوري ته ولاړ، او یو څه وخت غواړي چې هلته کاروونه سم او ټینګ سي، او د هغه سالار ټینګښت او غښتلتوب پهدې کې چې خداوند په خراسان کې و اوسي ،

له بل پلوه علي تګین لکې پر یکړه سوی مار دی، وروړله کاره لویدلی او بې ملاتړه پاته دي، او له بل لوری د قدرخان سردد تړون خبری پیل سوی دی او څه استازي یورغلی دی، مناظره روانه ده او لکه چې استازو لیکلی تر اوسه لا مناظري قرارنه دی نیولی، نو که سلطان هندوستان ته د تګ نیت وکړی دا ټول کاروونه پاتیږي او ښايي چې پیچ پیدا کړي، او علي تګین بلخ ته نژدې دی، ډیر خلک ورسره دی او سلجوقیانو هم لاس ور سره یو کړی دی، او که د بلخ او تخارستان خوا ته نیت هم ونه کړی او د ختلان او چغانیان او ترمذ خوا ته راسی، او فساد جوړ کړی دا به بې آبی وي ـ زه دا ښه ګڼم چې خداوند دا ژمی په بلخ کې تېر کړي څو چې دده د حضور په برم استازي له ټینګو تړ و نو سره را وګرځي، او بل د علي تګین کاروونه په جګړه یا روغه سم کړه سي، ځکه چې د هغه په سر کې هغه وخت د غرور باد پیدا سو، چې خداوند د خراسان قصد وکی، او امیر محمد وروړ پر ځای و، او امیر ته یې سړی رالیږ لی و، چې ختلان دي د ده ته ور کړه شي او هغه هوس او ارمان یې لا په زړه کې پاته دی.

او بل دا چې له بغداده خبر را رسیدلی دی چې القادر بالله خلیفه نا روغه دی او کاروونه یې خپل زوی «قایم» ته سپارلی دی نو که د هغه د مړینې خبر را ورسیږي ښه داده چې خداوند په خراسان کې وي، او ګرګان ته هم استازي و. نو مړی سی، او دوی سره باید سواصمت (تړون) وسي، او بر دې سربېره نور کاروونه هم پیښیږي چې ټول فرائض دی، او چې د قواعد ټینګ او کاروونه سم کړه سو ل بیا نو که دلیری ځایو د غږ و نیت وکړه سی بل کال په فارغه زړه کېدا ای سي (په دې وخت کې یې حاضر ینو ته سخ وار اوه او یو ښتنله یې ځینې وکړه :) پهدې کې چې وو یل قاسي څه وایاست؟»

تولو وویل :«هغه څه چې ستر خواجه وینی اوپه پوهېږی موږ يې کله لیدلای سو؟ او کله په پو هېږو؟ او خداوند دده نصیحت او شفقت څرګند دی »

سلطان مسعود وویل :«سمه رایه همداده چې خواجه وویل ، اوبې له دې بل چه نه ښا یی ،او دی زموږ پلار دی،نو قرار دادی چې ولاړ سئ ،اماده ګی ونیسی چې په دې هفته کی به حرکت وی »

د غو نډی غړ يو ستر خواجه ته دعا وکړه اورخصت سول (دتاریخ بیهقی ۲۸۲ مخ) په دې توګه ستر خواجه احمد میوندی په تولو مهمو چارو او داخلی او خارجی پېښو کی سلطان مسعود ته لار ښوونه کوله او که به کله سلطان مسعود د خواجه احمد میوندې بی مشورې اویا د هغه په پټه کم کارنه اقدام وکی نتیجه بې بی له پښېما نی او بد نا می بل څه نـه وه لکه د امیر حسنک وژل چې د ستر خواجه دمشورې پرخلاف وسوه او دسلطان مسعود دژوند په پیښو کی یوتورټکی یا ته سو. د احکه چې ستر خواجه سلطان ته دامیر حسنک دوژلو په باب کی ویلی و ، چې :«وینی تو یو ل دلو بو کارنه دی اوهم بې دسلطان استا زې عبدوس ته تا کید کړی و، چې : «څو وکو لای سی سلطان دی وا داره کړی چې دامیرحسنک وینی توی نه کړی، که نه وی لویه بدنامی به وزیږوی »(دتاریخ ببهقی ۱۸۱ مخ) او یا د غزنوی د وربې دبر نا متو او زړور سپهسالار آلتو نتاش خوارزمشاه د بو سهل زوزنې دسیسه جوړول او دستر خواجه احمد میوندی په پټه دهغه دله منځه وړلو فرمان په سلطان مسعود لاسلیک کول ،چې دسیسه رسوا سوه او که بیا هم دستر خواجه مصلحانه تدبیر نه وای آلتونتاش دبل چاپه دلاسانه داوه کیدی (ددې پېښې تفصیل دتاريخ بیهقی په ۳۱٦ مخ کی تر ۳۳۳ مخ پوری را غلی دی ، که ئې لو ستو نکی ګو رې هلته دی رجـوع وکـړی)

دستر خواجه علمی او ادبی شخصیت : ستر خواجه احمد میو ندی سر بیره پر سیا سی او اداری لیا قت او کفا یت د علمی او ادبی

شخصیت خاوند هم و، په دري او عربي ادب کی بې لوی لاس درلود بلکه په دواړو ژبو (دری او عربی) بې شعرهم وایه. بیهقی لیکی: هغه وخت چی د بغداد خلیفه القادر بالله مړ سو او پر ځای بې القائم بامرالله کښېنوست او هغه خپل استازی د سلطان مسعود دربار ته راولیږه نو د هغه استازی د هر کلی په ورځ د سلطان مسعود په دربار کی ستر خواجه په ډېره فصیحه عربی هغه ته «ښه راغلی» ووېل، اولیکی ((خواجه بزرگ فصلی سخن گفت بتازی سخت نیکو در ین معنی واشارتی کرد در آن فصل سخن گفت بتازي سخت نیکو درین معنی واشارتی کرد در آن فصل سوی رسول تانامه را برساند - ۲۸۹ مخ)) منوچهری دپار سو ژبې نومیالی شاعر د هغې قصیدې په یوه بیت کی چی د ستر خواجه په ستاینه کی بې ویلې ده، د ده ښه خط (انشاء) اوتوره د واړه داسی ستا یی:

خواجه احمد آن رئیس عادل پیروزگر

آن فرید و ن فر کیخسرو دل رستم براز

هست با خط تو خط چینیان چون خط برآب

هست با شمشیر تو اقدام شیران خرگواز

د تاریخ یمینی په پارسی ترجمه کی د ستر خواجه داسی ستاینه سوې ده:

« شیخ جلیل ابوالقاسم در ایام امارت سلطان (مقصود سلطان محمود دی) بخراسان منشی حضرت بود ودیوان رسائل که مخزونهٔ مخزن اسرار است بدو مفوض وکرم نسب و شرف حسب وکمال تجربت و متانت رأی وروٰیت او در اطراف خراسان شعلهٔ آفتاب روشن وذکر فصاحت قلم و سجاحت شیم ونفاست همم وقلت التفات او بدینار ودرم در جهان شایع ودرخدمت حضرت سلطنت درمراتب ومناصب ترقی میکرد تادیوان بدو مفوض شد. (۳٦۲ مخ) عروضی سمرقندی هم په چارمقاله کی دده یوه مقوله راوړې ده چی وروسته هغه مقوله مثل سوی او هغه داده:

« الخراج خراج اداؤه دواه » یعنی ما لیات یوه دانه ده چې ادائی دوا ده.

او ددې مقولې شان‌نزول یې دا سې لیکي چې د سلطان محمود غزنوي په وختو که یوه شپه کفارو پرلغمانیا نو یرغل وکړ، ډیری ورانی یې ورپېښې کړلې، د دوی څو سپین ږیری او مجبور غزنی ته ولاړل، کالی یې پر ځان څیری کړه او سره تور سر او واویلاد غزنی په بازارکې سول، څو چې د سلطان دربارته ورغلل، په زاریو او بلغاکو یې خولې پوری کړلې، د ستر خواجه احمد میوندی زړه وریاندی وسو، او دهغه کال خراج یې ورو باخښه اوله دولتی عوارضو څخه یې معاف کړه، بل کال، بیاورغلل اوخپله سالی وضعه یې خرابه و ښووله، ستر خواجه بیا ددوی خراج ورو بخښه، دریم کال بیا ور غلل، خو څنګه چې ستر خواجه ددوی په چل پوهېدلی و، او خبر سوی و، چې دوی بدا یان او مالداران سوی دی‌نو ددوی‌ترعریضې لاندی یې و لیکل: «الخراج خراج اداؤه دواه» یعنی « مالیه یوه دانه ده چې علاج ادا ینه ده»

او ترهغه وروسته دا مقوله مثل سوه.

دستر خواجه دشعر نمونه: وموویل چې ستر خواجه په عربی اودری ژبو شعر وایه، دادی په دواړو ژبو کی دده د شعر نمونې:

الف: په عربی کې:

وسهفهف لدن المعاطف نصبه

فی حسن طاؤس یدرو بکاس

عانقته متمنطقاً بو دا عنا

لحسن به سن زینه ولباس

فتما یلت اعطافه متبختراً

فوقعت بالوسواس فی الوسواس

ب: دری:

این جوانی سرا نگر که چه گفت؟

گفت: ای پیر سن چه فرمایی

گفتم: ای دوست ساعتی بنشین

گفت: من رفتم وتو زود آیی

بشراب وکباب ورنگ خضاب

باز نایدگذشته برنایی

ستر خواجه او دپښتو دلیک دودسمون: لکه د «خیرا للغلت»

(۱) مؤلف قاضی خیرالله نوبهاري چې دخپل د غه کتاب دلومړی برخې داردو مقدمې په څلرم مخ لیکلي دي:

«داسلام تر را تګ پخوادغې ژبې لپا ره تهجي توري نه درلوده او پښتو پوازې دوېناژبه وه، خو د سلطان محمود غزنوي په زمانه کې دده و وزیر(احمدبن حسن میوندی)، قاضي سیف الله وګماره چې د پښتو ژبې الفبې جوړه کړي. نوموړي قاضي دعربي، پارسي او پنجابي ، سندي ژبو دالفباوو په مرسته د پښتو ژبې دږغونو دپاره توري وټاکل او په دې توګه لومړی وارد پښتو الفبې منځ ته راغله(۲)»

ددغه مطلب لنډ یز میاعلي قاضي عبدالحلیم اثر پخپل کتاب «د پښتوادب» کې هم را نقل کړی او د مرآت الانساب افاغنه حواله ئې ور کړې ده، میاعلی اثر داسې لیکلي دي:

«د پښتوژبې موجود رسم الخط چې دعربي ژبې په نسخ خط بناده ی بنادي د دې باني دسلطان

---

(۱) داکتاب په ۱۹۰۳ م کال کې چاپ سوی دی.

(۲) دپوهاند عبدالشکور رشاد ترجمه د خیر اللغات په حواله چې په ۱۳۵۳ ه ش کال د خیرالبیان د مقدمې په ٦٠ مخ کې چاپ شوې ده

ددې د پاره چې د دې فاضل عالم د پښتو د نثر لیکنې سبك او طرز سحتر مو لوستونکوته ښرګند سي نودده د پښتو تجوید (دلیل القرآن) هغه مقد سه چې په ۱۳۳۹ ه ق کال یې ډیره لنډه او په خوږ کربښو کې لیکلې ده دلته رانقلوو، دی ایکي:

(دصفتونو سزاوار هغه ذات دی چې مزکې ورته په سجده سرلګولې دی، آسمان ورته په رکوع ولاړ،غرونه په قعده ورته ناست دی، درختي په قیام ولاړې او بنی آدم یې دعشق په جوش وخروش کې سرګرم دی. د رحمت د نزول لا یق هغه ذات دی چې د تمام انسان د محبت زړاتولو د پاره رالېږلی سوی دی او درب کتاب یې ودانی موږ خاوروته راوړی دی چې وبې لولې او ایمان پرراوړي. پسې د رحمت وړ سحمد رسول الله(ص) دده اصحاب،اولاد او ازواج دی چې موږ ته یې دا قرآن په صحیح الفاظو سره را رسولی دي.

زه درب ورحم ته محتاج ابوالو فاد مولوی مبارك شاه اخند زاده(جنت دې ځای سي،زوی و درستو پښتنو ته خصوصاً د کندهار خلقوته عرض کوم چې دا یوه رساله ده په فن د تجوید کې نوم یې «دلیل القرآن» دی چې وړاندې تر دې په پښتو کې دا هسې کامله رساله نه ده تصنیف سوې،د پاره د فایدې ستاسې مې جمع کړېده ، خداوند جل وعلی شانه دی دخپل حبیب په برکت قبوله کړي»

مقدمه یې د رحمان بابا په دې بیتو پای ته رسولې ده:

چې کشور د افغانانو سعطر شي	د هر بیت مصراع مې زلفې دخوبان کړې
چې هر بیت مې د نافې په شان خوشبوی شي	برکت مې په جزدان په قلمدان کړې

الهي د خپل حبیب له بر کته

دا ساده انشا رنګینه د رحمان کړې

دمولوی ابوالوفا آثار: مولوی ابوا لوفا پر «دلیل القرآن» سربېره چې دده مستقل تألیف دی دا لاندې کتابونه ئې مستقیماً په خپل قلم تصحیح، تحشیه او ترتیب او چاپ کړي دي او یا دده د تر لاښو وني لاندې دده همکارانو او شاګردانو

محمود غزنوی علیه الرحمه وزیر (احمد بن) حسن میمندی گڼلی شی (۱)»
خو د «یوسفزی افغان» د کتاب مؤلف ښاغلی الله بخش یوسفی غزنوی د خپل
دغه کتاب د ۱۴۸ مخ په حاشیه کی لیکلی دی چی:
«ویل کیږی: د پښتو دغه اوسنی اصلاح سوی رسم الخط د سلطان محمود غزنوی
په زمانه کي شیخ ابو الفتح را ایستلی دی»
له شیخ ابو الفتح څخه مطلب ښایی چی ابوالفتح بستی وی چی د سلطان محمود
د پلار ناصر الدین سبکتگین منشی و، او د سلطان محمود په دربار کی ئې هم تر
(۴۰۰ ه ق) پوری منشی توب کاوه (۲)
د ښاغلی یوسفی له دغی لیکنی څخه څرګند یږی چی د سلطان محمود تر زمانې
(۳۸۷ - ۴۲۱ ه ق) پخوا به د پښتو الفبا وه، خو د سلطان محمود په زمانه کی
اصلاح سوې او نیمګړتیائې بشپړه سوې ده.
د پورتنیو خبرو څخه دا را وزی چی ستر خواجه احمد بن حسن میوندی نه یوازی
په عربی او فارسی ژبو کی استاذ و، بلکه د پښتو ژبی سره ئې هم د زړه مینه درلوده او
د ده په امر قاضی سیف الله د پښتو ژبی لیک دود سم کړي دي.
بارو غی: د (۴۲۴ ه ق) کال د محرم د میاشتی په لسمه دا نوسیالی شخصیت
په هرات کی سخت ناروغه سو، د وزارت دیوان ته تلای نه سو خو له خپله کوره
ئې بیا هم دولتی چاري اداره کولې په تیره ئې بیا د بیت المال په دیرښت او ساتنه
او د باقیا تو په اخیستلو کی ئې به ډیره سختګیری لاس پوری کړی، او ډیر معتبر
دولتی خلک ئې ترسخت فشار لاندی ونیول چی یو له هغو څخه «ابوالقاسم کثیر» د
خراسان د دیوان واکمن او د سلطان مسعود د دربار پخوانی مخور و. بیهقی لیکی:

---

(۱) د پښتو ادب - ۳۹ مخ.

(۲) د پوهاند رشاد لیکنه - د خیر البیان د مقدمې ۶۲ مخ.

«ابو القاسم کثیر را که صاحب دیوانی خراسان داده بودند در پیچید وفرا شمار کشید وقصد هاي بزرگ گرد چنانکه بفرمود تا عقابین وتازیانه وجلاد آوردند وخواسته بود تا بزنند ،او دست باستام زد وفریاد خواست - استادم بامیر رقعتی نبشت وبر زبان عبدوس پیغام داد که بنده نگوید که حساب دیوان مملکت نباید گرفت، وما لی که براو بازگردد از دیده ودندان او را بباید داد ، فاما چاکران وبند گان خداوند بر کشید گان سلطان پدر نبا ید که بقصد ناچیز گردند ،واین وزیر سخت نالان است و دل از خویشتن برداشته میخواهد که پیش از گذشته شدن انتقا می بکشد»

سلطان مسعود د بونصر مشکان او عبدوس دخواجه احمد میو ندي ته وراستول چی په پوښتنی په ترڅ کی دابو القاسم کثیر عذر هم وغو اړی . بیهقی لیکی:

«بو نصر گفت: خداوند چگونه می با شد ؟»

خوا جه گفت: امروز بهترم ولیکن هر ساعت مرا تنگدل کند این نسبهٔ کثیر، این مردک مالي بدزدیده است ودر دل کرده که ببرد و نداند که من پیش تا بمیرم از دیده ودندان وی بر خواهم کشید ومیفرمایم تا بر عقابینش کشند و می زنند تا آنچه برده است بازدهد»

بونصرگفت :«خداوند در تاب چرا می شود ؟ ابو القاسم بهیچ حال زهره ندارد که مال بیت المال ببرد، واگر فرمایی نزدیک وی روم وپنبه از گوش وی بیرون کنم»

په دي وخت کی دسلطان پیغام هم عبدوس ورته راوی‌ء چی :

«خداوند میگوید می شنویم خواجهٔ بزرگ رنجی بزرگ بیرون طاقت بر خویش می نهد و دلتنگ می شودوبا عمال ابو القاسم کثیر در پیچیده است از جهت مال، وکس زهره ندارد که مال بیت المال را بتواند برد،این رنج برخویشتن ننهد، آنچه ازابو القاسم می بایستد مبلغ آن بنویسدوبعبدوس دهد تا او را بدرگاه آرند وآفتاب تاسایه نگذارند تا آنگاه که مال بدهد»

هغه و ، چی ستر وزیر مستو فیا نو ته وویل چی دابو القاسم د باقیات لست

سلطان ته ولیږی، او پخپله ابوالقاسم ئې د بونصر مشکان په سپارښتنه خپل حضور ته
را وغوښت - بیهقی لیکی .

«خواجه گفت : «چرا سال سلطان ندهی ؟ »

گفت : «زندگانی خداوند دراز باد، هر چه بحق فرود آید و خداوند با من سر گران
ندارد بد هم» گفت : آنچه بدز دیدهٔ با ز دهی و با دوزارت از سر بنهی کس را بتو کاری
نیست »

گفت : «فرمان بردارم هرچه بحق باشد بدهم ودر سر باد وزارت نیست و نبوده
است، اگر بودستی خواجهٔ بزرگ بدین جای نیستی بدان قصه های بزرگ کردند در باب وی»

گفت : «از تو بود یا از کسی دیگر ؟ »

بو القاسم دست بساق موزه برد و کرد و نامهٔ برآورد و بغلامی داد تا پیش خواجه آنرا
برد برداشت و بخواند وفرومی پیچید بدست خویش ...»

دا هغه فرمان و، چې سلطان محمود دغزنوی د خواجه احمد میوندی د ښخه ورلو
دپاره لاسلیک کړی و، خوابوالقاسم کثیر ورته ویلی و، چې «دازما کارنه دی»
(ددې پیښې تفصیل دتاریخ بیهقي په ۳۶۲ مخ کې تر ۳۶۳ مخ پورې او د
ابوالقاسم کثیر دژوند نورې پیښې «دافغانستان نومیالی» د دوهم ټوك په ۲۰۱ مخ
کې راغلی دی)

ددې پیښې له یادونې ښخه مقصد دا و، چې دا نومیالی او ستر وزیر دناروغی په
بستر کې هم د بیت المال اودولتي چارو په غم کې و.

هر پښه : په دغه وخت کې چې ستر خواجه احمد میوندي سخت ناروغه و،
سلطان مسعود د(۴۲۴ ه)
کال دمحرم په اتلسمه له هراته نیشاپورته وخوځید، دصفری د میاشتې په اوله نیټه
په «شادیاخ » کې کښیناسو، اودشنبې په ورځ له هراته استازی راغی اوسلطان مسعود
ته ئې احوال راوړی چې تیره هفته ستر خواجه احمد بن حسن له دنیا ولاړ، سلطان مسعود

وویل :«دریغ احمد یگانهٔ روزگار، چنو کم یافته سیشو د »

دیر تلسف ئې وکړ او ویویل :«اگرباز فروختندی ما را هیچ ذ خیره از وی دریغ نبودی»

بونصرمشکان وویل: « این بنده را این سعادت بسنده است که درخشنودی خداوند گذشته شد »

بیهقي لیکي چې بونصر دیوان ته راغی یو دوه ساعته ډېراندیښمن و، او بیائې د احمد میوندی په ویرنه (مرثیه) کې په عربي ژبه یوه قطعه وویله، چې دقطعې نوربیتونه د بیهقي په نورو ورکوسو یو پانه کې ورك او دا یو بیت ئې په یاد پاته سوی و :

یانا عیاً بکسوف الشمس و القمر

بشرت یا لنقص و التسوید والکمد

بیهقي لیکي :«بمرگ این محتشم شهامت و دیانت و کفایت وبزرگی بمرد »

قبر : د ستر خواجه احمدبن حسن میوندی مړی له هراته میوند ته راوړل سوی دی او د کندهار په میوند کې ښخ دی، اود بیهقي له یوې لیکنې څخه څرگندیږي چې احمد بن حسن میوندی په میوند کې ډیرې شاهانه ودانۍ و دانې کړې وې، چې د (۴۲۸ ه) کال د دوهمې خور (ربیع الاخر) پنځمه و یشتمه د دوشنبې په ورځ چې سلطان مسعود میوند ته د ښکار د پاره تللی و ،د احمد میوندی زوی خواجه عبدالرزاق په هغو ودانیو کې چې پلار ئې ودانی کړې وې شاهانه میلمستیاور کړه بیهقي لیکي:

« وا میر رضی الله عنه روز دوشنبه بیست و پنجم ماه ربیع الا خر سوی یمن آ بادمیمند رفت بتماشاو شکار و خواجه عبد الرزاق حسن میمند میزبانی کرد چنانکه او دانستی کرد که در همهٔ کار هازیبا و یگانهٔ روزگار بود و ود ندان میز دبسزاداد و وکیلانش بسیار نزل دادند قومی را که با سلطان بودند و امیران بدان بناهای پادشاهانه که خواجه احمد حسن ساخته است رحمة الله علیه بمیمند. بماند — ۵۱۹ مخ»

اوس هم د ستر خواجه دقبر زره گنبده په سیوند کی سته .

دفرخي څو بیتونه: داحمد میوندی ستر شخصیت د هغه وخت زیاتو نـو میالیو شاعرانو ستا یلی دی، په تیره بیا فرخی دده په ستا ینه کی قصیدې لری چې د لته ئې یوا زې یو څو هغه بیتونه را ا خلو چې دده نوم ئې اخیستی دی ـ لکه :

ایا مصطفی سیر ت و مرتضی دل
که همنام و هم کنیت مصطفا ئی

* * *

صا حب سید آ فتا ب کفا ت
خواجه ابوالقاسم احمدبن حسن

* * *

کدخدای ملک مشرق وسلطان بزرگ
صاحب سید ابوالقا سم خور شیدز مان

* * *

صاحب سید احمد آنکه ملوک
نا م ا و ر اهمی برند نما ز

* * *

گفتم که نام صاحب ونام پدرش چیست
گفتا یکی خجسته یی احمد یکی حسن

* * *

جلیل خواجه آ فاق احمد آنکه بود
بز ر گوا ر بفضل و بد ا نش و بهنر

* * *

خواجه بزرگ شمس کفا ت احمد حسن
کا حسان او و نعمت او د ستگیر ماست

مأخذونه: ۱- تاریخ بیهقی: ۶۵، ۷۷، ۷۸، ۸۳، ۹۰، ۱۴۹، ۱۵۰، ۱۵۴، ۱۵۸، ۱۶۲، تر ۱۶۴-۱۶۷، ۱۶۹، ۱۸۱، ۱۸۴، ۱۸۸، ۱۹۷، ۲۲۰، ۲۲۱، ۲۳۱، ۲۳۴، ۲۴۵، ۲۴۶، ۲۶۲، ۳۳۷، ۳۳۸، ۳۴۱، ۳۶۲، ۳۶۴ تر ۳۶۷، ۳۷۵، ۳۸۹، ۳۹۱، ۴۰۰، ۴۰۱، ۴۰۶، ۴۳۰، ۵۱۹، ۶۷۰، ۶۷۱، ۶۷۶ مخونه.

۲- ددهخدا لغتنامه - ۱۱۵۰ څخه تر ۱۱۷۳ مخ پورې

۳- دستورالوزرأ - له ۱۳۹ څخه ۱۴۰ مخ پورې

۴- د تاریخ یمینی ترجمه - له ۳۴۷ څخه ۳۵۶ مخ پورې

۵- د خیرالبیان مقدمه - ۶۰ څخه ۶۲ مخ پورې

۶- خیراللغات - ۴ مخ

۷- د پښتو ادب - ۳۹ رر

۸- لباب الالباب - ۱/۶۳ رر

۹- تاریخ ابن اثیر - ۹/۲۸۳ رر

۱۰- سلطنت غزنویان - ۲۸۴ رر

۱۱- آریانا مجله - ۸ کال - ۸ گڼه - ۴ مخ

۱۲- کابل مجله - د ۱۳۵۰ کال لومړۍ گڼه - ۹ رر

۱۰۴۹- احمد بن عبدالله خجستانی: د خراسان له‌نو میا لیو امیرانو څخه و. عروضی سمرقندی په خپل کتاب «چهار مقاله» کې لیکي چې: له احمد بن عبدالله خجستانی څخه چا پوښتنه وکړه چې ته خو خربنده (خرکار) سړی وې څنگه د خراسان امیر سوې، ده وویل چې یوه ورځ مې په بادغیس کې د حنظلهٔ بادغیسی دیوان لوست، دې دوو بیتو ته را ورسیدم:

مهتری گر بکام شیر در است — شو خطر کن زکام شیر بجوی

یا بزرگي وعز و نعت و جاه — یا چو مردانت مرگ رویا روی.

زما په باطن کې یوه داعیه پیدا سوه چې په هیڅ توگه په هغه حالت راضی

کېدای نه سوم چې زه پکښې وم، نوخره سی خرڅ کړه آسان می رانیول، او لـه خپل وطنه ولاړم او د یعقوب بن اللیث د کشر ورور علی بن اللیث خدمت ته ورغلم، هغه وخت چې دجبال له لاری یعقوب له خـراسانه غزنی تـه ولاړ علی بن اللیث زه د سنګین له رباطه بیرته راوګرځولم او په خراسان کی ئې د خپلو سیمو ګـوټـوالـی راوسپارله، او د هغه له لښکر څخه زما سره سل سپاره وو، او شل می هم خپل سپاره درلودل، او د علی بن اللیث دوې سیمی وی یو د هرات د کروخ سیمه او بله دنیشاپور سیمه، څو چې کروخ ته ورسېدم فرمان می عرضه کیء هغه څه چې ماته راورسېدل هغه سی لښکر ته ووېشل، زمـا سپاره درې سوه سول' او چې خـواف ته ورسېدم او فرمان می عرضه کیء د خواف خواجګانو ونه مانه او وېویل: «مارا شحنهٔ باید باده تن» نوزما رایه پردې سوه چې د صفاریانو طاعت سی پرېښووه، او خواف می چورکی، او د بشت روستاته ووتلم او بیهق ته ننوتلم، دوه زره سپاره پرما راټول سوه، راغلم نیشاپور می ونیو او کارسی ورځ په ورځ ترقی کوله او پر مخ تی. څو چې ټـول خراسان سی د ځان کیء - نواصل سبب هغه دوه بیتونه وو» '

سلاسی په خپل تاریخ کی راوړی چې «احمد بن عبدالله کارداسی درجې تـه ورسېد چې په نیشاپور کی ئې یـوه شپه درې سوه زره دیناره او پنځه سوه اسان او زرجوړې کالی وبخښل، او نن په تاریخ کې له قاهره پاچهانو څخه یو دی دی»

ښاغلی قزوینی د«چهار مقاله» په حواشیو کی د دې تېرودوبیتو اروېدل او له هغو څخه دامارت فکرور پیدا کېدل دساسانیانو نیکه «سامان» ته منسو بوې، خـو د دهخدا په خپله لغتنامه کی هغه داسی ردوی:

«حنظلهٔ بادغیسی از شعرآ آل‌طا هر بو د ه است و اولین طا هر یا ن یعنی طا هر ذوالیمینین با اسد ابن سامان معاصر بوده ا ست وبعبارة اخری سامان قبل ازطاهر یه بوده است و حنظله معاصر ایشان پس شنیدن سامان اشعار حنظله راقرضی است که اگر غیر ممکن نباشد بسیر مستعبد است»

احمد بن عبدالله پخپل نامه سکه هم وهلی وه‌خو په (۲۶۸ه) کال په نیشاپور کی د خپلو سریانو له لاسه ووژل سو، دده امارت اته کاله و.

ماخذونه:

۱- دنظامی عروضی چهار مقاله د علی حصوری جیبی چاپ ۳۹ مخ

۲- ابن الاثیر- ۲/۳۰۲ رر

۳- ددهخدا لغتنامه- ۱۲۱۴ رر

۱۰۵۰- احمدبن فریغون جو زجانی: دفریغونزند کهال لومړی امیردی چی داسلامی دوري په تاریخ کی ئی پیژنو. آل فریغون په تاریخ کی یوه مشهوره کورنی ده چی دگوز گانان (جوزجان) دولایت وا کمنی ئي په لاس کی وه، اوصلح غوښتونکی اوعلم پالونکی وا کمنان یکښی پیداسوی وو، چی دهغی سیمی خلک دهغوی تر سیوری لاندی آرام وو. نرشخی وایی: په (۲۸۷هـ ۹۰۰ع) کال چی امیراسماعیل سامانی دعمر ولیث صفاري سره په بلخ کی جګړه وکړه، امیراحمد فریغونی دعمروليث له خوا دبلخ دحکمران په حیث هم ویپژاندسو.

قابوس نامه دی د آسانو دپیروګلو خاوندګنی چی دورهی ئي زرارزق رنګه پهلوانان راوړل.

دده زوی ابوالحارث محمددسلطان محمود غزنوی خسرو، اوهم ئي دسلطان محمود خور خپل زوی ابو النصر احمد ته کړي وه. (ابوالحارث ته دی رجوع وسی)

ماخذ: آریانا دائرة المعارف -۱۲۰۵مخ

(په‌دری ژبه)

۱۰۵۱- احمدبیګ خان کابلی: په‌خته چغتائی اوپلارئي د تیموری کهول سوروثی ملازم اوپه تیموری سلسله کی لوړومر تبوته رسیدلی و.

احمدبیګ خان پخپله دپروخت په کابل کی دمرزامحمد حکیم سره اوسیداود مرزاحکیم له زلمیو اوزرورو سالارانو څخه ګڼل کیده، او میرزاحکیم ورته په‌د رنه ستر ګه کتل او په «یکه تازه» مشهورو.

دمرزا محمد حکیم تر مړینې وروسته دا کبر باچا خدمت ته ورغی او او وه سوی زه منصب ورکړه سو.

په (۱۰۰۲ هـ ـ ۱۵۹۴ م) کال په کشمیر کې د جاگیر دارانو پر تنخاو ر کولو مقرر سو. او تر هغه وروسته ئې چې میرزا جعفر آصف خان خور و کړه نو ډیر ثروت او لوړ منصب ئې و سوند، او ډیر اعتبار خاوند سو؛ او د جهانگیر په زمانه کې دامارت رتبې ته ور سید، او د جهانگیر له خوا دري زر زه منصب او د «خان» خطاب ورکړ سو، او هم ئې د کشمیر حکومت ورو سپاره. تل به او وه سوه منتخب سپاره ورسره وو. خو د جهانگیر ی حکومت په دریم کال عزل او د ربار ته وغوښتل سو، خو چې څوور ځې وروسته ئې د دنیاله ژونده سترگې پټې کړ یې.

تر ده وروسته د ده توریالی زوی سعید خان بهادر ظفر جنگ لوړ و منصبو ته ور سید او د خپلې کورنۍ د ویا ړ او افتخا ر سبب سو، او د خپل کها له دلو یا نو نوسونه ئې لوړ او ژوندي وسا تل (چې دده تر خپل نامه لا ندی به معرفی سی).

د ده مشر زوی محمد مسعود د تیرا د پښتنو سره په یوه جگړه کې تپې سوه او بل زوی ئې مخلص الله خان افتخار خان و، چې د شاهجهان د جلوس په زمانه کې له پنځه سویز منصب څخه دوه زریز منصب او د زرو سپرو منصب ته ورسید او د «افتخار خان» په لقب سره لوړ ی سو، او دوه کاله وروسته د جمو سر فوجداری ورکړه سوه او ز رسپاره ور زیات سول. بل زوی ئې ابوا بقاو چې د شاهجهان د جلوس په پنځم کال د بنگښ تانه داری ورو سپارله سوه، او د شاهجهان د جلوس په پنځلسم کال هغه و خت چې د کندها ر کلا د شا هجها ن په لاس کښیو تله نو ده په هغه جگړه کې چې د قزلبا شا نو سره وسوه ښه خد متونه وکړه او د «افتخار خان» خطاب ورکړه سو.

ماخذ: مآثرالا مرا ـ اردو ترجمه — ۱/۱۳۵ مخ

۱۰۵۴ ـ احمد (د پچکی): احمد په خته خلیل د پښتو ژبې شاعر د ننگرهار د «سپینې ډبری» په پچکی نومی کلی کی اوسید. تر (۱۳۰۵ هـ) کال پوری ژوندی

و،ا و پهٔ همهغه کال ئي يو کتاب د«انيس الواعظين » په نامه منظوم کړی د ی.په بل کتا ب کی ئی د«جمجمه قصه» په نظم کړی ده د انيس الواعظين ز کتاب داسی شروع کوی :

چی سحر بلبل آو ا زکا — د هجر ا ن له با به سا ز کا
فلك څکه سرگردان سو — پيدا غم کی دا جها ن سو
چی آواز هم در باب سه — ډوب د هجر په دريا ب سه
ز ما د له تل گو يا سه — سر گرد ا ن لکـه آ سيا سه
اوس می تاته مقا لت د ی — چی د فـطر فضيلت د ی
راشه وگور ه کتاب کی — د کتاب په ښکلی با ب کی
چی ا نيس الو اعظين دی — په دا ا سم کی مبين دی

ما خذ : پښتانه شعراء-۲/۶۳۷ مخ .

۱۰۵۳-ا حمد تر خان سيد ی- يا-ا مير سيدی : دامیرتیمورگورکان په و ختو کی د هرات له نوميا ليو حکمرانانوا و شهزاد گانو څخه و ،او تر (۸۶۲ ھ) کال پوری دده نوم ياد سوی دی،اوحبيب السير په تاريخ کی څو ځايه دده يادونه سوې ده ،اوداسی ښکاري چی څه موده داندخوی والی هم و ، اد له هغه ځايه بياد هرات حکمران سوی دی .دحبيب السير مولف دميرزا رستم د پېښو په ترځ کی دی دشهزاده په نامه ياد کړی او ليکی :

«...بطرف کنارآب آمويه رفت و از آنجا به اندخود افتادوالی آن ولايت «سيدی احمدترخان شاهزاده را درمقام مناسب فرود آو ر د وکيفت حال بحضرت خا قان سيد عرضه داشت کرده آن حضرت ا زغايت مکر مت درباب سفارش ميرزا اسکندر نامه بمير زا پيرمحمد نوشت ونز د سيد ی احمد تر خان فرستاده پيغام داد...»

بيا چی شاهرخ دآذ ربا يجان دنيولو په نيت له خر اسا نه تی داسی ليکی .

«.. . بدستور معهودميرزا الغ بيگ گورکان بمحافظت ترکستان وما ورالنهر

په تصحیح،تحشیه اونظارت د «احیاءالمعارف النعمانیه» د ادارې له خوا چې دی ئې رئیس و، چاپ اوخپاره سوی دی :

۱- کتاب الرد علی سیرالاوزاعی .

۲- د امام ابو یوسف څخه دابی حنیفه او ابی لیلی اختلاف .

۳- د امام ابو یوسف الخراج والاشعار .

۴- شرح الصدرالشهید لکتاب النفقات علی الاقارب .

۵- الجامع الکبیر: د امام ابوحنیفه د شاگرد امام محمد بن حسن چی په ۱۸۹ ه ق کی مړ دی »

۶- النکت: د سرخسی شمس الائمه شرح .

۷- مختصرالطحاوی فی فروع الحنیفه: دامام ابوجعفر احمد چی په ۳۲۱ ه ق کی مړ دی .

۸- مناقب الامام الا عظم و صاحبه: د حافظ شمس الدین ذهبی(په ۷۴۸ ه ق) کی مړ دی .

۹- اصول امام شمس الایمه سرخسی: د ابوبکر محمد بن احمد.

۱۰- کتاب الاثار: د محمد بن حسن شیبانی چی په ۱۸۹ ه ق کی مړ دی .

۱۱- کتاب الاصل: د محمدبن حسن شیبانی .

۱۲- العالم والمتعلم: د امام ابوحنیفه.

۱۳- د صحیح البخاری فهارس- د مولانا شیخ رضوان محمد رضوان.

۱۴- کتاب الاثار: دامام ابو یوسف - د تعلیقاتو سره.

۱۵- د کافی فی فروع الحنیفه شرح: دامام ابی بکر سرخسی محمدبن محمد حنفی مشهور په صدر الشهید.

۱۶- الحجة علی اهل المدینة دامام محمدبن حسن شیبانی- په څلورو ټوکو کی

ومیرزا سیور غتمش بضبط کابل وغزنین و زابلستان تعیین یافته امیر سیدی احمد ترخان بحکومت دارالسلطنهٔ هرات مقرر گشت ...»

ماخذونه : ۱- حبیب السیر - ۱۸۰ مخ
۲- دد هخدالغتنامه - ۱۴۱۱ رر

۱۰۵۴- احمد تفتازانی هروی : شیخ الاسلام سیف‌الدین احمدحنفی د یحیی زوی، دسعدالدین مسعود نمسی (۱) او دعمر تفتازانی هروی کړوسی د نهمی هجری پیړی دپای‌اود لسمی هجری پیړی دسرله‌سترو پوها نو، محدثانو، او مفسرانو څخه و، اوځنگه‌چی دمحقق ملاسعدالدین تفتازانی له اولادې څخه و، نوپه «احمد حفید »ئي هم شهرت درلود .

د سلطا ن حسین میر زابایقراپه وختو کی دیرش کاله د هرات دقضا پرمسند ناست و، او نظام‌الدین عبدالعلی بیر جندی‌د هغه‌وخت‌نومیالی منجم اوجغرافیا پوهاند په ځینو علومو کی دده شاګردی کړې ده ،اودده‌علمی‌مقام‌دومره لوړو ،چی د هغه وخت سلاطینو اوامیرانو به‌دده سره مشوری کولي ،اوپه هرات کی‌ئی دتدریس لوپه‌مدرسه درلوده‌چی دمحمدخان شیبانی‌دپښتی په‌باب هم‌ملته دمشورې‌مجلس‌جوړ سوی‌و، اوهم به‌دشاهزادګانو نکاح ده تړله .

هغه وخت چی میرزا بدیع‌الزمان خپل پلارته یاغی‌سوی و، پلار ئې ځوتنه پوهان‌د هغه‌دپوهولودپاره وراستولی وو ،چی په هغو کی یو هم احمد تفتازانی و، چی‌هغه‌پښته دحبیب‌السیرمؤلف د اسی لیکی

«... قبل ازوقوع جنگ تشین بروزی چند خاقان سعادت قرین جناب شیخ الاسلامی سیف‌الملة والدین احمدالتفتازانی وشیخ جلال‌الدین ابوسعیدپورانی وسیدغیاث‌الدین‌محمد صدر رابجانب گرمسیر فرستاده‌بود تامیرزا بدیع لزمان را نصیحت نمود ...

---

(۱) په‌هدیة‌العارفین کی‌ئی نیکه‌«محمد» او ورنیکه ئې سعدالله بن . بنوولی‌سوی

وشنیدند که سلطان بدیع الزمان میرزا برسبیل ایلغار لشکر بسر پدر نامدار کشیده است بنا بران شیخ الاسلام عنان مراجعت بدار السلطنهٔ هرات انعطاف داد ...»

بل وخت چې مظفر حسین میرزا هرات ته ننوزی له ده څخه مرسته غواړی چې په حبیب السیر کې هغه پېښه داسې راغلې ده :

«. . . ومظفر حسین میرزا در جوف لیل بهرات درآمده بباغ شهر خر اسید و شیخ الاسلام مولانا سیف الدین احمد التفتازانی وامیرغیاث الدین محمد ابن امیر جلال الدین یوسف الرازي و قاضی اختیارالدین حسن را طلبیده در باب محافظت هرات از ایشان استعانت جست جواب دادند که نگاهداشتن شهر بلشکر میسر می شود . . . . »

په دې توګه څرګند یږی چې مولانا احمد تفتازانی په دولتی چارو کې هم لوی لاس درلود ، اوهم دده مدرسه دنوسیا لیو ساداتواوقضاتو اومشورتیا ئو ځای و ـ لکه په حبیب السیر کې چې لیکلی سوی دی:

«. . . صباح روز جمعه هشتم ماه محرم الحرام (۹۱۳ ھ) سادات و قضاة واکابر واعیان هرات در مدرسه شیخ الاسلام جمع آمده درباب واقعهٔ که روی نموده بود قرعهٔ مشورت درمیان انداختند وخواطر اکابر واصاغر بر سلوک طریق اطاعت وانقیاد محمد خان شیبانی قرار یافته راقم حروف را فرمودند تاعرضه داشتی مشعر باین معنی در قلم آورد »

اوهم دحبیب السیر دخاوند له لیکنی څخه داسې ښکاری چې د ده مجلس د خلکو دمشکلاتو دحل ځای هم و ، لکه چې لیکي :

« . . . دراوائل جمادی الاول سنه ست عشر وتسعمأة در بعضی از محلات دار السلطنهٔ هرات از ضعیفهٔ پسری متولد شد که چهار چشم ود و بینی و دو دهان داشت و در دهانش دو دندان رسته بود وبرپشت اوپارهٔ گوشت زیادتی بود مانند کوهان شتر ودر وقتی که راقم حروف درمجلس جناب شیخ الاسلامی مولاناسیف الدین

احمد التفتازانی بود این طفل را بعد از آنکه مرده بود بدانجا آورد ند و آ ن جنا ب متغیر گشته گفت: وقوع امثال این صور از جملهٔ علامات انتقال ملک است . . . »

اوده له خوا دشهزاده گانو دنکاح ترلو په باب حبیب السیر دامی لیکی :

« . . . دراوائل سنهٔ اثنی وتسعین وثمانمأة بساعتی مسعو دوز مانی محمو د سادات وقضاة وعلمأ درمجلس اشرف اعلی اجتماع نمو ده جنا ب شیخ ا لا سلا می مولانا سیف الدین احمد التفتا زانی آن دوگوهر بحر کامر انی را بایکد یگر عقدبست»

دا ستر عالم د(۹۱۶ ه) کال د روژې په میاشت دشاه اسما عیل صفوی په فرمان دځینو نورو پوهانو سره په هرات کې وو ژ ل سو .

ده پر څو کتابو شرحې لیکلې دي چې دځینو نوسو نه دادی :

۱ ـ رسالة الصید : دخپل نیکه سعدالدین تفتازانی دتلخیص پر شرح حا شیه لیکلې ده .

۲ ـ دخپل نیکه پر «تهذیب المنطق» باندی ئې په (۸۸۲ ه) کا ل شرح لیکلې د ه .

۳ ـ پر «مطول » ئې شرح لیکلې ده.

۴ ـ پر «فرایض السرا جیه» با ندی شر ح .

۵ ـ په کلام کی ئې دنسفیه پر شرح عقاید با ندی تعلیقه لیکلې ده .

۶ ـ مجموعهٔ فوائد متفرقه : چی د درو سوو په شاوخوا کی فائدې پکښې راغلې دی .

۷ ـ شرح ا لعقا ئد العضدیه .

۸ په فروع کی دمرغنیان پر هدایه باندی پایخور (تعلیق)

۹ ـ پر لوامع الاسرا ر باندی شرح.

۱۰ پر مطلع الا نوار باندی شرح . په منطق او حکمت کی .

۱۱ ـ دصدر الشریعة پر شرح وقایه با ندي حا شیه .

۱۲ ـ الفوائد والفرائد .

مأخذونه : ۱ ـ حبیب السیر ـ ۲۶۴ ، ۲۷۷ ، ۳۱۱ ، ۳۱۷ مخونه .

۲ ـ د دهخدا لغتنامه ـ ۱۳۸۴ ، ۱۴۱۲ مخونه .

۳ ـ ریحانة الادب ـ ۳ / ۲۹۳ مخ .

۴ ـ هدیة العارفین ـ ۱ / ۱۳۸ مخ .

۱۰۵۵ ـ احمدجان اخونزاده : مولوی احمد جان اخونزاده په خته توخی اود کندهار د زابل دتوخو په سیمه کی‌اوسید،به‌متبحر عالم‌اودخپل وخت لوی مدرس و، په‌منقولو او معقولو علومو کی‌ئې لوی لاس‌دراود .

دامیر حبیب‌الله په‌وختو کی کابل ته راغیء اوپه هغه جمعیت کی شامل شوچی‌دینی کتابونه ئې لیکلی، اوبیاشاهی مدرسې‌مدرس سو ، ډیر شاگردان ئې درلودل اودامیر حبیب‌الله‌د دربار له عالما نو څخه گڼل کیده ،او په همهغه عصر کی مړسو .

مأخذ:

۱۰۵۶ ـ احمدجان« تاجر» : مولوی‌احمد جان«تاجر» دکندهارله نوسیالیو پوهانو اوشاعرانو څخه‌و، چی‌دامیر عبدالرحمن خان دپاچهی‌په‌وخت کی ئې ژوند کاوه . په‌ادبی علومو ، عربی، دسیاق په فن او رقم ښه پوهید .

دی په (۱۲۶۰ هـ ـ ۱۸۴۴ م) کال په کندهار کی زیږیدلی او د (۱۳۲۰ هـ ـ ۱۹۰۲ م) کال په‌شاوخوا کی په‌کابل کی‌مړ دی .

یوه دری خطی تذکره دده په‌باب داسی لیکی : «مولوی احمد جان متخلص به تاجر ازقوم الکوزی کندهار است‌که درعلوم ادبی وفقه حنفی و قضا دارای مطالعهٔ وصلاحیت کافی بود وبرای تنظیم اجرآت قضائي افغانستان‌مصدرخدمات شایانی گردیده است ـ »

په دفتـرداری هـم ښـه پـوهـېـد ، او د ولـتـی‌حسابونه ئې کنترولول ، او یو کتاب ئې د «اساس القضأ»په‌نامه‌دامیرعبدالرحمن خان

په امر لیکلی و، چې چاپ سوی هم دی او په هغه کې ئې په شرعی محاکمو کی دقضا قواعد بیان کړی دی، او داکتاب ئې په ۱۳۱۱ھ - ۱۸۹۳ م کال تالیف کړی دی.

ده په دری ژبه ډیر ښه شعر وایه او دهغه وخت له غښتلیو شاعرانو څخه ګڼل کېده، په عراقی او هندی سبکو ئې شعرونه ویل، ښې قصیدې او خوږې غزلې ئې ویلې دی. په شعر کی به ئې کله دحافظ او سعدی او کله به ئې دصایب پیروی کوله. په دری ژبه یو خطی دیوان سته.

مأخذ: دکندهار مشاهیر - دښاغلی زلمی لیکنه - ۲۴۵ مخ

۱۰۵۷- احمد جان خان طبیب: دامیر عبدالرحمن خان په وختو کی د برګیډ په رتبه د عسکرو طبیب و.

فیض محمد مورخ د (۱۳۰۸ ھ ق) کال د پېښو په تر څ کی لیکی چی:

«ومقارن این حال احمد جان خان طبیب که آخر الامر از حسن خدمت و قابلیت کار وسلوک نیک خویش بمنصب برګد اعزازی مفاخر ومباهی ګشت از حضور اقدس مامور معالجهٔ مریضان فوج مقیم لعل پور شده از کابل براه آدمیت نزد سپهسالار غلام حیدر خان رفته واز ونیز رخصت حاصل کرده در لعل پوره شده بخدمت مرجوعهٔ خویش مواظب ګشت واز پاکی نیت و راستی طینت رفته رفته بمدارج عزت ومکنت ارتقا یافت» برګډ احمد جان خان طبیب یو منظوم اثر په دری ژبه د «نظم الفرايد فی العقايد» لری چی په (۱۳۱۶ هق) کال یې نظم کړی دی. دی پخپله ددي اثر په پای دهغه دبشپړېدو نیټه داسې ښیی:

چو خواهی نام این ګنج

بګو «نظم الفرايد فی العقايد»

ز«احمد» یادګار امت اهل دین را

بجور تاریخش از نظم الفرايد»

(۱۳۱۶ھ)

دا اثر خطي دی ،او دمو لانا محمد یعقوب نورزی فراهی په ښکلی خط د پو هاند عبد الشکور رشاد په کتابتون ستة چی۲۶ مخه اری.

ماخذونه : ۱-سراج التواریخ — ۳/۷۱۳ مخ

۲— نظم الفراید—خطی

۱۰۵۸- احمدجان کاموی : دپښتو شاعرو، او دننګرهارپه کامه کی اوسید .تر (۱۳۰۰ ه ق) کال وروسته مړ دی.

ماخذ: دننګرهارشاعران -خطی — ۸۷ مخ

۱۰۵۹- احمدجان٠(ملا) پیښاوری : ملا احمد جان دپښتوژبی شاعر او دخپل وخت په ستد اولو علومو کی عالم سړي و،په (۱۳۳۲ هق) کال. دپیښور دمړ دانه په علاقه کی او سید. دقصو دنظم کولو سره یې زیاته دلچسپي درلود له ،اوپه نظم کی دملا نعمت الله پیرو دی.

داقصې ده په پښتو نظم کړی چی ټولی چاپ سوی هم دی :

۱— شهزاده شیر ویه (په مثنوي -۱۳۳۲ ه)

۲- ورقه و ګلشاه

۳— ممتاز

۴- شهزاده بهرام وګل اندام

۵— امیرحمزه

۶ — یوسف وزلیخا

دابدله هم دده ده :

ستا غمو نوسی په زړه کی وطن ونیو
مستی او رته می دی څنګه بدن و نیو
تا چی غوږ درقیب خولې وته نژدې کړ
ما په ځان پوری پخپله کفن و نیو

په تش د بی وصاله ملا مت شوم
غلی ئې ځکه په رڼا له ما ځبتن و نیو
چی په غوته خوله دی ووی یاری نکړم
سا سفر د هندوستان د دکن و نیو
چی خوره پرې خوشبوئی ستاد دګیسو شوه
خوشبوئی دی وا ره ملک دختن ونیو
د چرې لا ندی دی ساه اخلم محبوبی
په هجران کې می ستاهسی زیستن و ینو
چی دی شمعه د سپین مخ کړه و رته بله
احمدجان لکه پتنګ و رته تن و ینو

ماخذ: پښتانه شعر اء -٢/٦٢٨ مخ

١٠٦٠-احمدجان (ملا) توخی: ملا احمدجان توخی دامیرعبدالرحمن خا ن دوختو یولوی نامتو عالم و، چی د کلات (اوسنی زابل) په «لیکک» نومی ځای کی اوسید، اوځنګه چی په ټولو پخوانیو عقلیه او نقلیه علوسو کی یې لوی لا س درلود، او هم یې په ظاهری او باطنی ښو اعمالو شهرت درلودنود (١٣١١ هق) کال د لوسړی خور (ربیع الاول) په اته ویشتمه دامیر عبد الرحمن خان په فرمان کابل ته راوغوښت سو، چی کابل ته ترسیدو وروسته دد ریمی خور (جما دی الا ولی) په دوولسمه امیرعبدالرحمن خان خپل حضور ته وغوښت او شاهی مدرسې کی یې د وفات سوی مدرس ملا ابوبکر ساګزی کندهاری پرځای د پخوانیو علوم مدرس و تاکه او د شاهی مدرسې د طالبانو هغه اووه حجرې یې وروسپارلې چی پخوانې ملا ابوبکرساګزی ته سپارلې وې خو یوه موده وروسته دا ملا احمدجان په د ولتی چارو کی د مداخلت په سبب چی توخو خلکو ته یې د پاچهی د قانون پرخلاف یولیک لیږلی و، له مدرسی عزل سو، او بیرته وطن ته ولاړ.

مأخذ: سراج التواريخ- ۳/۹۴۲، ۹۵۱ مخونه

۱۰۶۱-احمدجان منشي: د اوسني پېړۍ له نوميالیو نثرليکونکو څخه و، چې په پښتو ژبه يې پوخ نثر ليکه، او ډېر وخت په پېښور کې انګريزانو ته د پښتو ژبې ښوونکی و.

د انګريزانو د زده کړې د پاره يې ډېر کتابونه په پښتو ليکلي او يا يې ترجمه کړي دي.

ليکنه يې ډېره ساده او خوندوره ده، جملې يې لنډې لنډې او عبارات يې سليس او روان دي.

دی په (۱۳۳۰ هـ ش) کال په پېښور کې مړ دی، او دده مشهوره آثار د ادي:

۱- تاريخ افغانستان: چې د ميلسن د کتاب ترجمه ده، او په (۴۲۲) مخو کې په (۱۹۳۰ م) کال چاپ او خپور سوی دی.

۲-د قصه خوانی ګپ: دا هم چاپ سوی دی.

۳-هغه دغه: دا هم چاپ سوی دی.

مأخذونه: ۱- پښتانه شعرا- ۲/۶۸۱ مخ.

۲-د پښتو د ادب تاريخ- ۱۱۹-

۳- پښتونستان- ۳۸۳-

۱۰۶۲-احمدجان وردګ: د ننګرهار د کامې په ګيج کلي کې زېږېدلی او هلته لوی سوی دی. پلار ئې محمدجان او نيکه ئې ميرباز وردګ و. ويل کېږي چې احمدجان د خپل تره «ګل جان» پر لور «رابيا» مين و، او هغې هم ورسره مينه درلودله، او دې مينې احمدجان د شاعرې لورته راکيښی او د رابيا په بيلتانه کې به ئې غزلې ويلې، خو چې مينه ئې رسوا سوه او دده تره ګل جان په خوابدی ځينې خاص کونړته کډه سو، څه موده وروسته احمدجان کونړته ورسی ولاړ او خپل اکا ئې د لور په ورکړه راضي کې او بيرته د خپل اکا سره ګيج ته ولاړ او د ژوند تر پايه هلته ميشته و، په ۱۳۰۹

ه ق کال کې سر سو. قبر ئې دمحتشم بابا په هدیره کې دی چې هغه هدیره د گنج لوید یزې خواته پرته ده. دا دده د کلام نمونه ده :

لیدلی سی کتاب کی هم دغسی مسئله ده
چی زړونه پرې پر یا کیږ کلمه طیبه ده

* * *

لید لی سی کتا ب کی په سر ئې بسم الله د ه
همیش په صدق وایم لااله لاالله ده

غافل سی سو قایل پری یادو م نو م دمو لاده
هرچاچی ده لو ستلې ده سوند لې سرتبه ده

ترپا یه پوری....

مأخذ : پښتا نه شعرا -۳/۸۹۳ مخ

۱۰۶۳ احمد جمال الدین غزنوی : احمد د محمد او د نوح قابسی غزنوی نمسی سلقب په جمالدین د خپل وخت حنفی عالم و، یو کتاب ئې د الحاوی القدسی فی الفروع » په نامه لیکلی، او د (۶۰۰ ه) کال په شاو خوا کی سړدی .

مأخذ : د دهخدالغتنامه- ۱۳۴۲مخ

۱۰۶۴ احمد جو باری هروی : دعبدالله تیمی هروی زوی د هرات د جوبارد کلی وضاع او کذاب محدث و، او د عبدالحمید زوی جریر او دموسی زوی فضل او نور وته ئې حدیثو نه منسوبو ل.

مأخذ : د دهخدا لغتنامه — ۱۲۱۳ مخ

۱۰۶۵ احمد جی اخو نز اده : د پښتو ژبې صو فی مشربه شاعر او دخیشکی له نوی کلی څخه د شینوارو سیمی ته راغلی و، او په «قصبا به» نومی کلی کی اوسید .

د علم او بصیرت او صوفیانه سلوك او معرفت خاوند و، او په شینوارو کی ئې

په «باباجي صاحب» شهرت درلود، او د هغه ځای د ځینو خلکو روحاني پیشواو. دی د(۱۲۶۰ ه ق) کال په شاوخوا کی شهید کړه سوي او مزار ئې د«شهید باباجی» په نامه په قصابه کی مشهور دی.

د ده دا یو نظم ښاغلی عبدالحلیم اثر د کوم کتاب په حاشیه کی موندلی دی چی وایی:

بلبلا نوږبی وسهر دې چغار که
د صباح په لوری واړه انتظار که
که رنګین نقاب ئې پورته کړله مخه
په روڼا به راښکاره تازه ګلزار که
د بلبل په دودیې تاوته زاری ده
چی ښکاره راته دعین یقین لار که
چی سر کوز کړم په داخپل ګریوان کی ګورم
ټول ګنه وې څودز ړه سترګی می ښکار که
په خپل نفس کی شرمنده ترحده تېریم
کوم عمل دی چی سیا په می په کار که
غرض دا بې ستاله مهره بل څه نشته
چی مخ توربنده پرې خپل خاطر قرار که
تش ئې مه پرېږده په بیرته ای کریمه
مختورن که حاجت غرض ستا په دلبار که
دغه تیری غلطی می کړه معافی
دحبیب په روی قبول می استغفار که
د شیطا ن له غلبی می نګهبا ن شه
ما په لار د شریعت کی استوار که

مأخذونه:

۱- دلیل القرآن- مقدمه

۲- د«کندهار» د مجلی د ۱۳۵۴ کال د تلی د میاشتې په لسم مخ کې د باغلی وهران لیکنه.

۳- د«هیواد» ورځپاڼه د ۱۳۵۵ کال د چنگاښ ۲۰، ۲۱، ۲۲ نېټه اووم مخ.

۱۰۰۶ ابی بکر احمد بلخی: د محمد زوی او د عباس بزاز نمسی د خپل وخت امام او د بلخ مفتی و، چې ه(۳۲۲ ه) کال په شاوخوا کې ئې ژوند کاوه.

مأخذ: د دهخدا لغتنامه- ۳۹۶ مخ.

۱۰۰۷- ابی بن الحضین سیستانی:

د المتعصم با لله د خلافت په وخت کې د سیستان د خوارجو آزادی غو ښتو نکو له مشرانو څخه و، چې په (۲۲۰ ه) کال د سیستان د والی حسین بن عبد الله سیاری پرخلاف چې د المعتصم له خوا راستولی سوی و، پاڅېد او د پر آزادی غوښتو نکی خلک پر راټول سول. هغه و، چې حسین سیاری پخپله د خورا لوی لښکر سره د هغه مقابلې او جګړې ته ورووت، او ابی حضین ماته وکړه او ملګری ئې تیت او پرک سول.

مأخذ: تاریخ سیستان- ۱۸۴، ۱۸۵ مخونه

۱۰۰۸ ابی خراسان محمد خراسانی: د احمد زوی او د السکن نمسی معروف په «ابی خراسان» د حدیثو عالم و. حدیثونه ئې د مخلد له زوی ابا عاصم ضحاک، او د جواب له زوی احوص، او د محمد مروزی له زوی حسین او نورو څخه اوریدلی وو- چې بیاله ده څخه د ابی داود زوی ابو بکر، او د محمد زوی یحیی، او د اسماعیل محاملی زوی اسماعیل او نورو د حدیثو روایت کړی دی.

مأخذ: تاریخ بغداد- ۱/۳۰۵ مخ

۱۰۰۹- اپالا: برهمن اپالا د افغانستان د آریائی دورې د ویدی عصر یوه

ستا دمینی رنځ مي کېږده په وجود کې
دغفلت له خوابه خو به مي بيد ار که

علايق د کلي واړه ـ سوجـو دا تو
بې له تا چې وي له تولو مې و بېزار که

زړه مي صاف لکه آئين کړه له اغيارو
بله ژبه مي جا ري په ښه گفتار که

له دنيا مي چې د کوچ نغاره کېږي
غني خدايه خپل ايمان راسره يار که

چې سر بوښ مي گورستان کاندي په خاور و
منکر نکير په سو ال کې مي هو ښيار که

هغه ورځ چې د محشر شي هيبتنا که
اقـارب پـه اجتناب سره اختيار که

په خـاطر د مخلصا نو د رنه غو ارم
دا خـراب بنده د نيکو پـه قطار که

چې خپرې د عملونـو ور کـول شي
په ښې لـوري سر فراز د اگنهگار که

د نيکې لوري مي درو ند که په ميزان کې
په تو لې د عرصات کې مي رو يدار که

خصوصاً چې په صراط مي بيا گذا روي
په خپل فضل مي له برقه تيز رفتار که

چې په ډيره خطر نا که لار روان يم
د رحمت باران په ما با ندې نثار که

قد سبوس د مصطفی مې کړه رحیمه

هم رو زې مې په جنت کې خپل دیدار که

«احمدجې»ورته محکم په طمعه ا وسه

د مطلوب نور به روښان درته سز ار که

مأخذ: تیر هیر شا عران ۱۸۳ مخ

۱۰٦٦-احمدچشتي: خو اجه احمدچشتي دخو اجه سو دو د چشتي زوی او دیوسف نمسی دخپل وخت له سترو عارفانو څخه و.دی په(۵۰۷ ه) کال زیږیلی دی او چې دودی سن ته ورسید نو د هـرات په چشت کې د خپل پلا ر د طریقت پر سجاده کښېنوست او د مریدانو په معنوی روزنه بوخت سو. خلکو ورته په د ر نه ستـر گـه کـتـل او دی هـم پـر تـو ل مهربـا نـه و. یوه شپه ئې حضرت محمد(ص) په خوب و لید چې و ر ته و ا یې :«ای احمده! که ته زموږ مشتاق نه یې موږ ستا مشتا ق یو»ځکه نو چې سهار راوپښ سو د مدینې خواته ئې مخه و کړه، شپږ میاشتې ئې د حضرت محمد د روضې مجاورت و کې،بیاتر حج وروسته بغداد ته ولاړ او هلته دشیخ شهاب الدین سهرو ر دی په لنگر (خانقاه) کې کښېنته سو،شیخ دده ډېر تعظیم او احترام و کې،او د بغد اد خلیفه ناصر هم د هغه خوب له امله چې لید لی ئې و،دده زیات احترام پر ځای کې،او ده هم خلیفه ته ښه په زړه پوری نصیحتونه وکړه چې خلیفه هم هغه ټول ومنل او ډېر سوغاتونه ور کړه خو ده هغه ټول پر غریبانو وویشل او خر اسان ته وارهی سو.

دی په(۵۷۷ ه) یا(۵٦۷ ه) کال کې مړ دی.

مأخذونه: ۱- نفحات الانس-۳۷۴ مخ

۲- حبیب السیر-۱/۳۱۴ رر

۳- دد هخدالغتنامه - ۱۱۸۷ رر

۱۰٦٧- احمدچشتي : دخواجه اسماعيل چشتي ورور دخپل وخت له نوميالیو عارفانو او شيخانو څخه و.

دی ترخواجه ابواحمدا بدال چشتي وروسته اوترخواجه احمد بن خواجه مود ودچشتي دمخه دی، شيخ الاسلام خواجه عبدالله انصاری ئي ليدلی و، او شيخ الاسلام د ده په باب کی ويلی دی چی: «ماتر احمدچشتي هيڅوك دامامت په لاره کی قوي تر او کاملتر. نه دی ليدلی اوتول چشتيان همداسی وو ـ له خلق بی باك اوپه باطن پاك اوپه معرفت او فراست کی چالاك وو، په شرح کی ئي هيڅ دول سستي نه درلودله»

همدا راز شيخ الاسلام ويلی و، چی: «احمدچشتي دپر بزرگ و، اوزمائي دونی تعظيم او حرمت کاوه چی بل هيچانه دی کری، اوهغه چاچی خپل و پهتان زما په پېنو کی سوبېل هغه دی و»

دا بيت له ده څخه اروېدلی سوی دی: دريغا کت ندانستم همی پنداشتم دانم از ين پندار گوناگون وزين دانش پشيمانم

ماخذونه : ۱ـ نفحات الانس ـ ۳۸٦ مخ ۲ـ دد هخدا لغتنامه ـ ۱۴۱۹ »

۱۰٦٨- احمدچشتي : خواجه احمد د چشت له نوميالیو عارفانو څخه و. دی په (۲٦۰ هـ) کال کی زېږېدلی دی، اووايي چی: دی په شل کلنی کی يوه ورځ دخپل پلار سره چی دچشت حاکم و، ښکار ته ولاړ، دښکار په وخت کی له پلاره بيل سو، او ديوه غره په سرکی ئي وليدل چی څلويښت تنه رجال الله پر يوه دېرمو لاړ دی اوشيخ ابواسحاق شامي ئي په منځ کی دی ـ د دمحال واوښت، له آسه کښته سو، اودشيخ په پښو کی ولوېد اوتر هغه وروسته ئي رياضت ته مخه کړه او د درو يشانو ورپن گالي ئي وا غوستل پلار چی ئي هرڅه زيار و يوست چی زوی را وگرځوی څه فائده ئي ونه کړه څوچی په پای کی ئي پلار هم د ده پرلاس تو به وکړه.

دحبیب السیر مؤلف لیکي چي: «خوا جه احمد راو لدی بود محمدنام وسید محمد درسن بیست وچهار سالگی تکمل علوم دین کرده ومعارف نفسی را اخذ فرموده درسنه احدی و عشرین وار بعمائه از عالم انتقال نمود »

محرګندمنه سوه چي دا سنه ددهٔ دمړینی ده که دد ه دزوی ، که دده دمړ ینی وي نودی په (۱٦۱) کاڼي کي مړدی .

ماخذونه : ۱-حبیب السیر-۱/۳۰٦مخ ۲ددهخدالغتنامه -۱۰۹۸»

۱۰٦۹-اخمد محدران: دسلطان زوی اودنور محمد نمسی په ختہ محدراڼ دافغانستان دپکتیا له محدرانو ښخه دپښتو ژبې شاعرو .له پکتیا ښخه دبغلان ولایت نارین ته تللی اوبیا په (۱۳۱۱ ه) کال کي ئې بهبور ته سفر کړی او هلته مېشته سوی دی.

دا شعارو یو مجموعه اری چي په پښور که چاپ سوې ده،اوزیاتره ئې رباعی،غزلی اوچاربیتي دي اود کتاب په پای کي څو دري نظمونه هم لري-دځان په باب کي وایی

زما حمد یو ګل یم،له باغه د کابل یم

ګل بن د شمل یم،بوستان دی دورود

او د خپل نسب داسي ښيي:

محدراڼ کي سلطان خپل یم،په خپل خود خپل یم افضل کي غني خپل یم،یم نمسی د نور مخمد تر یوزر دري سوه او شپږ وېشتم هجری قمری کال پوری ژوندی و.

دده د شعر نمونه داده:

هغه چاري چي زما په زړه کي شوري

شیخ ئې نه وینی دبل ملا په توری (۱)

حبیب السیر-مزارات -هرات اوابواحمدابدا ل دی و کتل شی

(۱)دا غزل د تلوګان د ملا حسن آخون په اقتضا ویلي سوې ده چي وایي :

هغه چاري چي زما پر خاطر اوری شیخ ئې نه وینی په خواب ملا په توری

ته چې مامنعهٔ کوې له خپله یـا ره
اې واعظه اوس مې بولې په کوم لوری
عـاشقي یـوه عـطا ده لـه ازلــه
هسې نه چې څوك پیری یائې پلوری
ته چې ما په نصیحت سره چار باسې
گویا غواړې په زمین د آسمان ستوری
یوزه نه یم چې د عشق قصې کومه
پتنگ ځان په اور له سرگه کله ژغوری
دوست له دوسته گیله من دی یار له یاره
هغه یار چې داغیار و خولې ته گوری
زما د زړه للمه چې داسې لاله زار شوه
دا باران لـدونې و ر با ندی اوری
زه احمد د فـراقت گرمې کرم ولـې
نـه رسېږی د وصال په ساړه سوری
* * *
نن مې زخم دزړه جوړشو جوړ دې وی
دا شنا په دیدن سور شو سور دې وی
چې مدام ئې د ځوانی لافې وهلې
هغه ځوان دېمن چې زوړ شو زوړ دې وی
که رقیب مې په تېره توره حلال کړ
دېر زما زړگی پرې سوړ شوسوړ دې وی
په خریف کې دخزان دامې پریشان یم
شکر وخت دبهار څوړ شو څوړ دې وی

چې په هر زمان عالم ځني ازارو
د غضب په تبرو ور شو وورد ی وی
خوارا حمد چې تل رنځور دیار په غم و
د فراق له درده جور شو جور دی وی

ماخذونه: ١- پښتانه شعرا - ٣/ ٧٩٠ مخ
٢- دِاحمد دیوان - ٣٣،٦٩،٧٧،٩٢ مخونه
٣- د کابل د«زیري» داخبار پرله پسې ١٥٨ ٣ گڼه د ١٣٥٤ کال د زمري ٨

١٠٧٠- احمد حاجي: شیخ احمد حاجي د خواجه عبدالله انصاري له پیرانو څخه و،شیخ حصري ئې لیدلی،او ابوالحسن طرزي او نورو مشایخو له ده څخه حکایت کړی دی.

ماخذ: نفحات الانس - ٣٨٨ مخ

١٠٧١- احمد خار باني بلخي: د محمد خارباني زوی دحدیثو عالم و،د حدیثو علم یې د عبدالملك مروزي له زوی محمد څخه لوستلی و.

ماخذ: معجم البلدان - ٣/ ٣٨٦ مخ

١٠٧٢ احمد خان افغان: دملا شفیع زوی د هند په بریلي کې اوسېد او د دري ژبې شاعر،او د حافظ رحمت خان روهیله له دوستانو څخه و.څه وخت په لکنهو کې کې اوسېد،او هملته مړ دی.

ماخذونه: ١- تهن تذکری - د طبقات الشعرا په حواله - ١٨٥ مخ .
٢- دهند په تاریخ او مدنیت کې د افغانانو برخه - خطی - ١١٧ مخ

١٠٧٣- احمد خان بنگښ: د محمد خان بنگښ زوی د هندوستان د فرخ آباد له پښتنو خانانو څخه و ، چې له(١١٦٣ ه)څخه بیاتر (١١٨٥ ه) پورې ئې هلته حکومت کړی و،او هغه وخت چې احمد شاه بابا دریم کرت هندوستان ته سفر وکړ،همدا احمد خان بنگښ د شلو زرو سپرو او پلیو او توپخانې سره له خپله ځایه

د احمد شاه بابا حضورته ورغی او ور سره یو ځای سو.

مأخذونه : ۱- دد هخدا لغتنامه - ۱۳۲۴ مخ

۲- مجمل التواریخ - ۹۸، ۱۰۲ رر

۳- تاریخ احمد شاهی ۱/۱، ۳۵، ۳۸۱ رر

۱۰۷۴ - احمدخان (سردار) : سردار احمدخان دامیردوست محمد خان دوهم زوی د دری ژبی ښه شاعر و، اودا شعار ولوی دیوان ئې درلود، او دوه نور کتابونه ئې هم لیکلی و، چې یو یې «گلشن حیرت» او بل ئې «گلشن مجد دی» نوم ایښی و، لومړی کتاب ئې دحضرت محمد دشمایلو شرح ده او دوهم ئې دنقشبند یې دسلسلې مناقب اومجددی حضرتانو خوارق او حالات دی.

دی په (۱۲۳۵ ه ق) کال زیږیدلی او په (۱۳۱۵ ه ق) کال د پېښاور په ښار کې مړ دی.

دیوه مناجات مطلع ئې داده :

یا ز خم فکر تسم آ مد بجوش   دا د بمستا ن فا جـا م نـو ش

مأخذونه: ۱ - آریانا مجله - ۲ کال ۱۳۲۳، ۱۱ گڼه .

۲ - دپښتو ټولنې غړی میر غلام محمد غبار ریاد ښتونه .

۱۰۷۵ - احمد خان (شیخ) : دپښتو ژبې شاعر و، اود (۱۲۰۰ ه) کال په شاوخوا کې د لغمان د ز یارت په کلی کې اوسېد. داعلیحضرت تیمورشاه له خوائې رتبه او معاش هم درلوده. په عربی ژبه ئې هم شعرونه ویل، اود پښتو اشعار ئې په سلې آهنګ او و زن باندی جوړول چې په «شیخ احمدخانی شعر» شهرت لری.

دقرآن کریم تفسیر ئې هم په پښتو نظم کړی دی، اود تیمورشاه په وخت کې سراودلغمان دمهتر لمک په هدیره کې ښخ دی. دا شعرد ده له اشعارو څخه دی:

کمیس ئې شین اغوستی شته لګد کوتره ګرځی

په شنه جلګه راغله له یار سره اوتره ګرځی

دخدا د که خوله دا شکلې ناز پروره کړمې
یو ئې شین خال دی ننداريې د جهون کړمه

***

زه شین طوطی یم د تیرا په شنو کمرو گرځم
په شنو بنونو ستا دحسن د لاو ره گرځم
گله چمن کی، گله هسک په دې نښترو گرځم
شینکی تو کیږی، سیل بیا د شین زمون کړمه

***

زه «احمد خان» بیا د شنو کړمه شین یار لرمه
نور ور نگو سره می څه دی شین په کار لرمه
په شاعرانو کی عجب شیرین گفتار لرمه
شا ه جفا کاندی زه ئې د وب هجران په سین کړمه

***

مأخذ : پښتا نه شعرا ۲ / ۳۰۹ مخ .

۱۰۷۶ - احمد خان کښواله : د بیگخان کښوله زوی یو افغان مؤرخ او د «مجمع التواریخ» لیکونکی دی. دا کتاب د «مخزن افغانی» له مأخذو څخه دی او س ئې قلمی نسخه معلومه نه ده ، خو نعمت الله هروی د مخزن افغانی مؤلف لیکی چی په هغه کی د پښتنو احوال را غلی دی .

د احمد خا ن ژوند په (۱۰۲۰ ه) کال کی یقینی دی .

مأخذونه : ۱ - د مخزن افغانی خطی نسخه
۲ - کا بل کا لنی - د ۱۳۲۲ کال

۱۰۷۷ - احمد خان لودی : د شیر خان لودی زوی و، هغه و څت چی ئې پلار مړ شو نو سلطان سکندر لودی دی په هند د ژرو سپرو مشر (غونډ مشر)

وتا که، اودسلطان ابراهیم په پاچهی کی‌هم له ابراهیمی امیر انو څخه و .

په ۹۳۲ ه کال ئې دسلطان ابرا هیم ترڅنګ د پانی پت‌دجګړی پر سیدا ن

پریښې ننګه سر ور کیء .

مأخذ : لودی پښتانه ـ داستاد رشاد لیکنه ـ۱۰۳ مخ .

۱۰۷۸ ـ احمد کابلی : د دری ژبی شا عرو ، او په د وو لسمه هجری پیړی کی‌ئی ژوند کاوه ،په شعر کی ئې‌ښه سلیقه د ولو دله ـدا بیتو نه دده دی :

د نیـا کـه دمی نیست‌قرا را ند روی
هستی ست زنیستی شما را ند ر وی

د نیا طلبا ن بیقرا راند روی
چون کاغذ سو خته شرارا اند روی

مأخذو نه : ۱ ـسکینة الفضلا ـ ۵۳ مخ .

۲ ـ روزرو شن ـــ۳۲ مخ .

۳ ـ آ ریا نا مجله ـــ ۲ کا ل ـــ ۱۱ گڼه ـــ ۵۴ مخ .

۱۰۷۹ـاحمدخان لودی : دمبارك خان لو دی زوی‌په هند کی‌دلکهنوتی حا کم‌و، په ۹۰۵ ه کال‌سلطان سکندرلودي ته‌خبرورسېد چی‌احمدخان له‌کفاروسره دېر‌کښېنی ولاړیږی اونژدي‌ده چی‌له‌اسلامه وګرزی،سلطان دده کشوروور «محمد خان»وګماره چی‌بندی ئې‌اګري‌ته‌داستوی .

مأخذو نه : ۱ـلودی‌پښتانه ـداستاد رشاد لیکنه ـــ۲۳۲ مخ

۲ـ تاریخ فرشته ـ ۱/۱۸۵ رر

۱۰۸۰ـاحمدخا ن لو رزی : دشاه‌محمود سدو زی د پا چهی په‌و خت کی نومیالی‌سردارو، ترشاه‌محمودی‌ی دشاه‌زمان په لښکر کی‌ئی د «هراول» منصب‌در لود، خو هغه‌وخت چی‌شاه‌زمان دشاه‌محمود دسخنیوی د پاره‌له کابله د کندهار

خواته ولاړ، تود «سرآسپ» په ړاو کی چی احمدخان دمقدمة الجیش په توګه تر شاه زمان دمخه و، دخپلو ورسره ملګرو سره دشاه محمود خوا ته واو وښت په ۱۲۱۹ هق کال چی په کابل کی دشیعه ګانو او سنیانوتر منځ شخړه پیښه سو او میر واعظ دپل خشتی په جامع مسجد کی د شیعه ګانو پر قتل عام فتوا ورکړ او شخړه پسی تو ده سوه نو شاه محمود دغه سردار احمدخان نورزی دشیر محمدخان مختار الدوله سره دغی فتنی د آرامولو دپاره وګماره (د ۱۸۰۳ م دجون پنځمه) بیا دشاه شجاع په وخت کی دشاه شجاع له خوا په کندهار کی د شاه زمان د زوی شهزاده قیصر سره دوزیر په حیث وټاکل سو ـ شهزاده قیصر اوس دغه بندی اوبیا یی تیرته ایله کی او د کندهار حکومت یی هم ورو سپاره.

ماخذونه : ۱ - دنوای معارك تعليقات ـ ۲۰۸ مخ د کراچی چاپ

۲ - دپښتنوتاریخ - ۱ / ۱۹۹ ، ۱۷۷ مخو نه

۱۰۸۱ - احمد خراسانی : مولانا احمد خراسانی د دری ژبی خوش طبعه شاعر و، او دامیر علیشیر نوائی په وخت کی په هرات کی اوسید د شر ابو سره یی زیا ته مینه در لوده ، چی د مهغوړ و برو شکلوشخه ناروغه او مړ سو .

ما خذ : مذاکرالا حباب ـ خطی نسخه

۱۰۸۲ - احمد خراسانی : د محمد رخراسانی عربیی زوی د حد یثو عالم و، چی عمران مرزبانی زوی ابوعبید الله محمد په الموشح کی له ده څخه روایت کړی دی.

ماخذونه : ۱ - الموشح ـ دمصر چاپ ـ ۳۰۵ مخ

۲ - د دهخدا لغتنامه - ۱۱۳۱ رر

۱۰۸۳ - احمد خضر ویه بلخی : دخضر زوی مشهور په «خضر ویه بلخی» د خپل وخت له نوميالو اوسترو صوفیانو څخه و . دده دژوندانه حالات ددې کتاب دلومړی توك په ۱۲۶ مخ کی «ابوحامد احمد بلخی» ترنامه لاندی راوړه سوی دی او د کراما تو قصې یې د مو لانا جلال الدین بلخی د مثنوی سره چی د «حاو اخریدن شیخ احمد خضر ویه بجهت غر یمان بالهام حق تعالی» تر عنوان لاندی یې ویلی دد هخد اد لغتنامې نه

نو میالي شاعره وه ،چې د (۰۰۰ ۲- او ۰۰۰ ۱ قبل المیلاد) ترمنځ ئې ژوند کاوه.

دریګو ید اپه کتاب کې ددې سپر منې شعرونه راغلي دي ، چې د لته ئې د نموني په توګه دیوه شعر ترجمه راوړو ، دا شعر دریګو ید دا داتم کتاب په ۱۰۹ سرود کې راوړ سوی او په هغه کې «اګنی» ته خطاب دی :

«ای روحانی ! دهغه (وا کمن) دپاره سیګساري کوه چې د غښتلو آسا نو په په خیر د جګړې ولجې او ګټې وړي ، او د میترا په شان و ګړی سره یو کوي دهغه خور سرود چې سیګساري ئې تیاره کړې ده ستالورته درګرځي او تر لانده باد د مخه خپل ځان د ر رسوي او تاته درځي -

اوهغه څوک چې شین مقدس وابه چې درې لایه نغښتي سوي دي ده تد په یوه غیر محدود صورت غوړ یږي ، او او به خپل ځای په هغه کې لټوي د غني خدای تاته بی ددې دی چې ددہ په مرسته لکه دلمر دستاوړانګی ټول شیان له عیب او فسا د څخه خوندي کیږي

اګنی : خدایه ! دمقد سو غوړ وبه تحفو کې دبرم او جلال سره ځلیږې ، ته د هغو ارباب الانوا عو را و ستو نکی یې چې ستا یل کیږي

ارباب الانوا عوته دمینه وبه خیر پیدا کړی ، اې تل ترتله روحاني !

اې انګیراسه ANGTRAS اې هغه څوکه چې زموږ تحفې آسمان ته وړې ! ښکلي رګني ! خدای ته را ستولې چې یولوی روحاني او ډیر نجیب پیغمبر و واوسې ، او زموږ تحفې یوسې زه هیڅ غوانه لرم چې هغه زه دځان وبولم ، هیڅ تبر سی په لاس کې نسته چې هغه کار و کړم ، خو بیا هم هرڅه چې د لته ستا هغه زه تاته نثار او وړاندې کوم

اې اګنی ! هغه لرګی چې تا ته ږدم ، هرڅه چې وی هغه وسه ، او په هغه خوش او سه اې هغه خدایه چې تر هر چا په زاهیتوب اوځوانی ډ که یې !

هغه څه چې سپین وینه خوري او هغه څه چې سیریان ور باندې ګرځي ، هغه

احمد ارسلان غزنوی ۴۰
احمد باد غیسی ۳۰
،، ،، ،،
احمد بشتی خراسانی ،،
احمد بغوی ۳۱
،، ،، ۳۲
احمد بلخی ،،
،، ،، ،،
احمد بن الحسن بلخی ۳۳
احمد بن حسن میوندی ،،
احمد بن عبدالله خجستانی ۷۵
احمد بن فریغون جوزجانی ۷۷
احمد بیگ خان کابلی ،،
احمد (دہچکی) ۷۸
احمد ترخان سیدی ۷۹
احمد تفتازانی هروی ۸۰
احمد جان اخونزاده ۸۳
احمد جان تاجر ،،
احمد جان خان طبیب ،،
احمد جان کاموی ۸۵
احمد جان (ملا) پیشاوری ۸۵
احمد جان (ملا) توخی ۸۶

احمد جان منشی ۸۷
احمد جان وردک رر
احمد جمال الدین غزنوی ۸۸
احمد جوباری هروی رر
احمد جی اخونزاده رر
احمد چشتی ۹۱
رر رر ۹۲
رر رر رر
احمد محمد ران ۹۳
احمد حاجی ۹۵
احمد خاربانی بلخی رر
احمد خان افغان رر
احمد خان بنگبی رر
احمد خان (سردار) ۹۶
احمد خان (شیخ) رر
احمد خان کنجوله ۹۷
احمد خان لودی رر
احمد کابلی ۹۸
احمد خان لودی رر
احمد خان نورزی رر
احمد خراسانی ۹۹
رر رر رر

احمد خضرویه بلخی — رر
احمد خطابی بستی — ۱۰۱
احمد خطیب پوشنگی — ۱۰۳
احمد رضا خان خان بریخ — رر
احمد زابلی — ۱۰۵
احمد زاهد اندرابی — رر
احمد سراج سبزواری — ۱۰۶
احمد سرماری بلخی — رر
احمد سعید مجددی — رر
احمد سیستانی — ۱۰۷
احمد شاه شمس الدین غزنوی — رر
احمد شاه وکی هروی — رر
احمد شاه بابا — ۱۰۸
احمد شرف خیر بلخی — ۲۹۵
احمد صاقانی بلخی — ۲۹۶
احمد طشت دار — رر
احمد عبدالجلیل سگزی — ۲۹۷
احمد عبدالصمد — رر
احمد علی خان لودی — ۳۰۲
احمدعلی لویتیکین غزنوی — ۳۰۳
احمد عمروتالقانی — ۳۰۵
احمد غزنوی — رر

رر رر	۳۰۶
رر رر	رر
احمد فرید کافی	رر
احمد قطب الدین آهی هروی	۳۰۸
احمد کندهاری	۳۰۹
احمد گل	۳۱۱
احمد گل حسن خیل	رر
احمد گنه پور	۳۱۶
احمدلر هروی	۳۱۷
احمد انگر در پابلخی	۳۱۸
احمد لودی	رر
احمد لودی (شیخ)	۳۱۹
احمدلودی (د وهم شیخ)	»
احمد سکهٔ بدخشی	»
احمد مشتاق	۳۲۰
احمد معشوق کندهاری	۳۲۱
احمد منوفی هروی	»
احمد (مولوی)اشنغری	۳۲۲
احمد(مولوی) کندهاری	۳۲۳
احمد نظام‌الدین خواجه	۳۲۵
احمدهروی	۳۲۶
احمدی	»

احمد هروی	۳۲۷
احمدیار خان روهیله	«
احمدیارخان سدوزی	۳۲۸
احمدیارخان عاشق	«
احمدینالتگین غزنوی	۳۲۹
احمدیارخان یکتاغزنوی	۳۳۲
احمدین طالب	۳۳۳
احولی سیستانی	۳۳۴
احمدابوسعید بلخی	۳۳۵
اخباری بلخی	۳۳۵
اخترخان زمینداوری	«
اخترنیکه کاکړ	۳۳۶
اختیارخان بامیزی	۳۳۷
اختیارالدین غوری	«
اختیارخان لودی	«
اختیارالدین هروی	۳۳۸
اخطب هروی	۳۳۹
اخفش اوسط بلخی	۳۴۱
اخلاص قلی خان هوتك	۳۴۴
اخمشاد غزنوی	«
ادریس بلخی	«
ادریس (ملااوقاضی)	«

ادی پیر	۳۴۹
ادیب پشاوری	»
اذاجا آخوند	۳۵۱
ارباب بدخشی	»
ارتگین سالار	»
ارجمند آزاد بدخشی	۳۵۲
اردو شاه غرجستانی	۳۵۳
ارزام هروی	۳۵۴
ارزانی روبهانی	»
ارسلاخان کاسوی	۳۵۹
اسلا سواتی	»
ارسلان‌جاذ ب	»
ارسلان شاه غزنوی	۳۶۰
ارسی شاه نیمروزی	۳۶۳
ارغون امیر	»
ارهتی بلخی	۳۶۳
اریارق	»
ارزقی هروی	۳۶۷
ازهرسیستانی	۳۸۳
از هری هروی	۳۸۶
» »	۳۸۷
اسامة سجزی	۳۸۸



د افغانستان نوميالي

مؤلف :
[illegible]الروف بینوا

د اطلاعاتو او کلتور وزارت
د پښتو د پرمختيا او پياوړتيا د آمريت له خوا

استاد اسمعیل هراتی	۳۸۹
استاد قاسم هروی	»
استاد میرزای هراتی	۳۹۰
استاسیس بادغیسی	»
اسحاق ابوبکر جامی	۳۹۱
اسحاق بستی	۳۹۲
اسحاق بیگک	»
اسحاق سیستانی	»
اسحاق فاریابی	»
« «	۳۹۳
اسد ابوسعد هروی	»
اسدخان لودی	»
اسد خلیل	»
اسد سامانی بلخی	۳۹۴
اسد بن عبدالله قسری	۳۹۵
اسد قسری بلخی	»
اسدالله خان ابدالی	۳۹۶
اسدالله خان لودی	۳۹۷
اسدالله ختک	۳۹۸
اسرار سبزواری	»
اسراری خراسانی	»
اسعد سوری	۳۹۹

اسکافی بلخی	۴۰۳
اسلام خان افغان	۴۰۳
اسلام خان لودی	۴۰۴
اسلام خان والا بدخشی	۴۰۶
اسلام شاه سوری	۴۰۷
اسلم خان بریخ	۴۰۸
اسلم لو ن	۴۰۹
اسماعیل ابوبکر بلخی	۴۱۱
اسماعیل ابو الخیر بستی	"
اسماعیل ادیب هروی	۴۱۲
اسماعیل بیگ دولدی	"
اسماعیل تالقانی	۴۱۳
اسماعیل حنفی	"
اسماعیل خان افغان	۴۱۴
اسماعیل خراسانی	رر
اسماعیل سبزواری	رر
اسماعیل سهرنی	رر
اسماعیل شنیزی	۴۱۶
اسماعیل غزنوی	رر
اسماعیل کابلی الاصل	۴۱۹
اسماعیل قصری	۴۲۰
اسماعیل هروی	رر

رر رر	رر
اسمی هروی	۳۲۱
اسیر بدخشی	رر
اشرف	۳۲۲
اشرف جان کجوریوال	۳۲۳
اشرف خان توخی	۳۲۴
اشرف خان هجری	۳۲۵
اشرف غزنوی	۳۳۲
اشرم خراسانی	رر
اشکک ــ یاــ ارشکک	رر
اشهبی بلخی	رر
اشیب خراسانی	۳۳۳
اصغر (ملا)	رر
اصغر سبزواری	۳۳۴
اصغر هروی	رر
اصم بلخی	رر
اصلی کابلی	۳۳۵
اصیل ارغون هروی	۳۳۷
اصیل الدین هروی	رر
اصیلی هروی	۳۳۸
اظهر خطاط	رر
اعظم افغان	رر

افتخار الدین بلخی	۳۳۹
افسری هروی	رر
افضل خان ختک	رر
افغان	۳۴۳
افغان	رر
افغان کندهاری	رر
افغان لودی	۳۴۷
اقبال خان لودی	۳۴۸
اقدسی خراسانی	۳۴۹
اکبر ختک	رر
اکبر زمینداوری	رر
اکبرشاه	۳۵۳
اکرم‌جان	۳۵۳
اکرم خان امین الملک	۳۵۴
الایی روښانی	۳۵۶
الپوری حافظ	۳۵۷
الښوا نورستانی	۳۵۸
الف ابدال بلخی	رر
الف بدخشی	۳۵۹
الف خان	رر
الفت خراسانی	۳۶۰
الفت کابلی	رر

الهی بدخشی	۳۶۱
الفی کابلی	رر
الف موتک	۳۶۲
الله داد	۳۶۳
الهداد خان لودی	رر
الهداد لودی (ملک)	۳۶۵
الله یار اپردی	۳۶۷
الله یار خان الشیک آقاسی	۳۶۸
الله یار خان توخی	رر
الله یار خان داروغه	۳۶۹
الهیار خان غلجی	رر
الله یار (ملا) الکوزی	رر
الهی کندهاری	۳۷۰
الیاس تلی بلخی	رر
امام ابن حنبل خراسانی	رر
امام الدین	۳۷۱
امام الدین (شیخ)	۳۷۲
امام وردی بیگ خراسانی	رر
امام یزید	۳۷۳
اماسی خراسانی	رر
اماسی هروی	۳۷۴
امان الله خان غازی	۳۷۸

امانت ملیار	۳۸۱
امان گجراتی	رر
امان هروی	رر
امانی افغانی	۳۸۲
امانی کابلی	۳۸۳
امانی هروی	۳۸۳
امته خان اکوزی	۳۸۵
امتی خراسانی	رر
ام سلمه فاطمه سیستانی	۳۸۶
امضاء سپاهه	رر
امید خان قابوچی باشی	رر
امید هروی	۳۸۷
امیر	رر
امیر ابواسحاق هروی	۳۸۸
امیرادهم بلخی	۳۸۹
امیر افغان	۳۹۰
امیر افغان	رر
امیر اقبالی	رر
امیر الامرا	۳۹۱
امیر بلند	رر
میربخچی غوری	رر
امیر پوپلزی	رر

0006819

دافغانستان نومیالی

دریم ټوک (۱۳۵۹) تنه

مؤلف

عبدالرؤف بېنوا

۱۳۵۶

داطلاعاتو او کلتور دوزارت دپښتو دپرمختیا او پیاوړتیا آمریت

امیر پولاد غوری ۴۹۲
امیر حسینی غوری ۴۹۳
امیر خان امیر ۴۹۴
امیرخان بدخشی رر
امیرخان جوانشیر ۴۹۵
امیرخلیل هروی ۴۹۶
امیر سبزواری ۴۹۷
امیرشاهی سبزواری ۴۹۷
امیرعالم بدخشی ۵۰۰
امیرعلیخان ۵۰۱
امیر کروړ غوری رر
امیرمحمد انصاری ۵۰۵
امیرمحمد سوری رر
امیرمحمد کونړی ۵۰۷
امیرمحمد هروی رر
امیرمسعود کابلی
میرناصر غوری ۵۰۸
امیرورو ضه باغی رر
امیری بدخشی رر
امیری هروی ۵۰۹
امین الله خان لوگری ۵۰۹
امین بلخی ۵۰۳
امینی بلخی رر
امینی بلخی رر

امینی هروی		٥١٣
انباخان تاېخی		رر
انتخابی خراسانی		رر
انځر گل پیښوری		٥١٥
انداني		٥١٦
انزله خان پوپلزی		٥١٧
انسی کندهاری		٥١٨
انصاف خراسانی		رر
رر	رر	٥١٩
انگو خان هوتك		رر
انور		رر
انوری ابیوردی ــ یا بلخی		٥٢٠
انوری بلخی		٥٣٨
انیسی هروی		٥٣٩
اوجی هروی		٥٣٠
اوحد سبزواری		٥٣١
اودل		٥٣٢
اهلی چغتا		٥٣٣
ایاز اپماق		٥٣٥
ایازی هری		٥٣٨
ایجاد غزنوی		رر
ایمل خان سومند		٥٥٠
ایمنه اورسره		٥٥٢
ایوب هروی		رر

فروشگاه کتاب شاه محمد
چاراهی صدارت تلفون ۲۳۸۹۶

دافغانستان نوميالی دلړی دريم ټوک

« دافغانستان نوميالی » دکتابونو لړی دريم ټوک هم په دوو وروستيو پيړيو کی دپښتو دچاپ شويو آثارو د سيمينار په مناسبت دا طلاعاتو او کلتور دوزارت دپښتو د پرمختيا او پياوړتيا دآمريت له خوا چی ددی لړی د پيل کوونکی ویاړ لری . له چاپ څخه راووت.

ددی لړی په تيرو دوو ټوکونو کی دافغانستان (۱۰۰) تنه نوميالی پيژندل شوی وو چه د دريم ټوک په خپرو لو سره د هغو شمير (۱۳۵۹) تنو ته رسيږی زموږ د پاره چی دجمهوری دولت د کلتوری پاليسی له مخه دملی کلتور د سالمی ودی او پرمختيا هڅی سوه خی ته رسيدلی او هغه کوچی خپل سلی مفاخر د زمانو له دوړو او گردونو څخه راوباسو دامی يو اثر چاپيدل خاص ارزښت لری .

دا چی د دی لړی، کتابونه د هيواد د تکړه ليکوال ښاغلی عبدالروف بينوا په قلم ليکل شوی د کتاب ارزښت لازياتوی .

د افغانستان نوميالی د کتابونو لړی چی د شکل او محتوی په لحاظ د افغانستان د ملی او فرهنگی شخصيتونو د پيژندنی د پاره د « څوك ، څوك دی ! » د په زړه پوری لړی بڼه لری پخپله يو گټور او ضروری اثر بلل کيږی .

باید وویل شی افغانستان د تاريخ دسترو نوميالو او اتلانو د روزنی او پالنی ځانگووه ، ده، اووی به، د داسی يومنل شوی حقيقت څخه او دخپل اولس له علمی او فرهنگی پس منظر څخه زموږ دځوان نسل خبرتيا يوحتمی کار دی او په يقينی توگه (دافغانستان نوميالی) دلړی کتابونه په دی برخه کی ښه مرسته کولای شی

البته دافغانی نوميالیو پوره پيژندنه ډير زيار ، کار او وخت ته اړه لری خود ښو

فروشگاه کتاب ... چاراهی ...

مننه — او — یادونه

د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د مقام او د دغه وزارت د پښتو د انکشاف له آمریت او په تیره بیا د دغه آمریت د مشر ښاغلي عبدالجلیل وجدي څخه مننه او تشکر کوم چې «د افغانستان نومیالي» کتاب دریم ټوک ته یې د چاپ او خپریدو موقع مساعده کړه. او د پښتو ژبې د خدمت په لاره کې دوی ته لا زیات بري غواړم.

***

او هم ګرانو لوستونکو ته د یوه ګوڼ عذر یادونه وړاندې کوم او هغه دا چې د دې کتاب د لومړي ټوک په سریزه کې لیکلي سوي و، چې د دې کتاب په هر ټوک کې به پنځه سوه تنه نومیالي وي - حال دا چې په دې ټوک کې هغه وعده پر ځای سوې نه ده له دړو سببو:

لومړی دا چې دا ټوک «په دوو وروستیو پېړیو کې د پښتو د چاپ سویو آثارو د سیمینار» په مناسبت باید پر ټاکلي وخت چاپ ته چمتو او لیږل سوی وای نو کافي وخت نه و، چې تر دې د زیاتو نومیالیو د ژوند پېښې چاپ ته چمتو سوې وای

دوهم دا چې که نوري پاڼې ئې زیاتې سوې وای د دوو تېرو ټوکو په تناسب د دې کتاب بیه والی هم زیاتېده

او دریم دا چې په دې ټوک کې د «الف» ردیف بشپړ سوی دی، نو دا ښکاریده چې څلرم ټوک دې د «ب» په ردیف پیل سي —

ځکه نو د ګرانو لوستونکو څخه هیله ده چې د دې کتاب د لیکوال دا ګوڼ عذر ومني.

بینوا!

د دې کتاب د نوميالیو فهرست

نوم	مخ
ابو الواحد هروی	۱
ابو الوفا	۱
ابوالوفا افغانی	۲
ابی بکر احمد بلخی	۸
ابی بن الحصین سیستانی	رر
ابی خراسان محمد خراسانی	رر
اپالا	رر
اتائی بلخی	۱۰
اجری بلخی	رر
احداد روښانی	رر
احراری غزنوی	۱۲
احسن خان افغانی	۱۵
احمد	۱۶
احمد	رر
احمد	رر

احمد ابو احمد جوزجانی ۱۷

احمد ابو بکر پوشنگی ۱۷

احمد ابو بکر خواشتی بلخی ۱۸

احمد ابو بکر کوفانی هروی رر

آحمد ابو حامداو بری بلخی رر

احمد ابو حامد غوزمی هروی رر

احمد ابو ذراند رابی ۱۹

احمد ابو سعد مالینی هروی رر

احمدبوطاهر سفیانی هروی رر

احمد ابو العباس ثعلب خراسانی رر

احمد ابو عبدالله اشنغری ۲۲

احمد ابو عبدالله مالانی هروی، ۲۵

احمد ابو محمد مفضلی هروی رر

احمد ابو نصر جوزجانی ۲۶

احمد ابی بکر غورجی هروی رر

احمد بی سعد منشوری رر

احمد ابی سلیمان بستی ۲۷

احمد ابی العباس سوستانی رر

احمد ابی عبید باشانی هروی ۲۸

احمد اخوند ۲۹

احمد اخون خیل رر